

# نیمه پېړۍ یون

## دویم ټوک

(راټولونې)

**محمد اسمعیل یون**

۱۳۹۶ل



نیمه پېړۍ یون

دویم ټوک (راټولونې)

(څوارلس ټوکه)

۲

www.melitahrik.com
د تحریک د خپرونو لړ: (۱۳۹)

## یون څوک دی او څه یې کړي؟

پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې یو زړور ملي، ټولنیز، سیاسي او فرهنګي شخصیت دی، د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه یې د ژوند نیمه پېړۍ پوره کړه او دېرش کاله یې پخه لیکوالي وکړه. د خپلو نورو همفکره ملګرو په مرسته یې په ټولنیز ډګر کې تر (۱۰۰۰) زیات بېلابېل ګټور کارونه ترسره کړل، په سیاسي برخه کې یې د ملي تحریک بنسټ کېښود، تر (۸۰۰) بېلابېلې غونډې او تر (۵۰) زیاتې سوله ییزې مظاهرې یې وکړې. په فرهنګي ډګر کې یې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار ټولنې ته وړاندې کړل، تر (۱۲۰۰) عنوانو زیاتې لیکنې، مرکې او ویناوې یې وکړې، د درېو مجلو مدیریت یې وکړ، د نورو لیکوالو تر (۲۰۰) عنوانو زیات اثار یې ایډېټ کړل، تر (۴۰۰) عنوانو زیاتو ته یې د چاپ زمینه برابره کړه او تر (۱۱۰۰) زیاتې فرهنګي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړل. د (ژوندون) په نامه یې یو رسنیز مرکز پرانیست او د (کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې یې اساسي نقش ولوباوه، د (افغانیت او اسلامیت) د ملاتړ لپاره یې زړوره مبارزه وکړه او د هېواد د کورنیو او بهرنیو دښمنانو په مقابل کې لکه سپر ودرېد.

اوس چې تاسې دا (۱۴) ټوکه او نږدې (۱۴) زره مخه کلیات ګورئ، دا د یوه ډېر ستړي خو هدفمن ژوند ثمره ده. دې ته کولای شو د نړۍ په کچه څکه یو ریکارډ ووایو چې زموږ په څېر په بل هېڅ بې ثباته هېواد کې داسې یوه بېلګه نه شته. زه له څلور دېرشو کلونو څخه یون له نږدې پېژنم، زما هېڅکله یاد ته نه راځي چې هغه دې کومه ژمنه او خبره وکړي او بیا دې عملي نه کړي. په تېرو دېرشو کلونو کې د هغه فکري او عملي مبارزه زموږ د دې خبرې ښه ثبوت دی. زه نه غواړم د یون پر شخصیت زیاتې خبرې وکړم، دا اثار په خپله د یون د پېژندنې تر ټولو ښه وسیله ده. یون یو څو اړخیز شخصیت دی، ډېر دردېدلی، کړېدلی، سوځېدلی، خو یو هوډمن، مصمم او هدفمن شخصیت، د فکر او نظر، د خبرې او عمل سړی دی، زه خو یې چې ګورم، نو د وزیر محمد ګل خان مومند او ستر خوشال مینه مې پرې ماتېږي. نیمه پېړۍ یون خو یې ډېر ویاړمن و، خدای دې وکړي چې دا بریمن ژوند یې پوره سلیزې ته ورسېږي.

درناوی
ډاکټر شېر ولي شېر
جرمني- کولن

# Half Century Journey

By: Prof. Mohammad Ismael Yoon

www.melitahrik.com
د تحریک د خپرونو لړ: (۱۳۹)

## په دې څوارلس ټوکیزو کلیاتو کې

**لومړی ټوک (پنځونې او ژباړې):** متکور، په اورونو کې سندرې، د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه، د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه، فلسفه او فلسفي بهیر (۱- ۹٦۹) مخونه.

**دویم ټوک (راټولونې):** هیلې، نیمګړې ارمانونه، د لوونو فصل، سیندونه هم مري او د پښتو ادب لرغونې دوره (۹۷۰- ۲۱۱۳) مخونه.

**درېیم ټوک (راټولونې):** د نازو انا یاد، د استاد الفت نثري کلیات (۲۱۱۴- ۳۲۱۰) مخونه.

**څلورم ټوک (یونلیکنې):** د اماراتو سفر، که یون دی یون دی، د پنټاګون تر څنډو، د کرملېن په زړه کې (۳۲۱۱- ۴۲۷۴) مخونه.

**پنځم ټوک (یونلیکونه):** د ډیلي تخت هېرومه، درې ورځې د افسانو په وطن کې، د خدای(ج) تر کوره (۴۲۷۵- ۵۳۱۹) مخونه.

**شپږم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود، ساینسي پرمختیاوې، هیله د خپلو سریزو په لمن کې، د کتابونو په وړمو کې (۵۳۲۰- ٦۱۳۳)مخونه.

**اووم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** فرهنګي فقر، له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل، د افغانستان فرهنګ ته اووښتي زیانونه، مرکه او مرکې، کلتوري یون، جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (٦۱۳۴- ۷۱۱۹) مخونه.

**اتم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** بېړنۍ لویه جرګه: ولسواکي او زورواکي، افغانستان په سیاسي کړکېچ کې، د سمون په لټه (۷۱۲۰- ۸۱۴۷) مخونه.

**نهم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** که نړیوال ماته وخوري؟، نجات څلی، د زماني په کړکېچ کې، ملي هویت او ملي عزت (۸۱۴۸- ۹۳۰٦) مخونه.

**لسم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** ملي درسونه، د ارګ نا ویلې خبرې (۹۳۰۷- ۱۰۳۴۹) مخونه.

(پاتې د پښتۍ ۳ مخ)

**یوولسم ټوک (تحصیلي اثار؛ لسانس- ماسټري):** د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته یوه کتنه، خوشال په خپل ایډیال، افغاني اوسنۍ رسنۍ (۱۰۳۵۰- ۱۰۸۲۲)مخونه.

**دولسم ټوک (تحصیلي اثار؛ دوکتورا):** کتاب الشعر، د خادم نړۍ لید (۱۰۸۲۳- ۱۲۰۵٦) مخونه.

**دیارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنیار- پوهندوی):** د پښتو شعر هندسي جوړښت، اندیال خوشال، پښتو لیکنۍ سمون (۱۲۰۵۷- ۱۲۵۷۱)مخونه.

**څوارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنوال- پوهاند):** کره کتنه، ادب تاریخ (۱۲۵۷۲- ۱۳۵۹۸)مخونه.



## مننه او کورودانی

د افغانستان ملي تحریک له قدرمن ورور او فرهنګپال شخصیت
**ښاغلي پوهنمل غلام نبي فراهي**
څخه د زړه له کومې مننه کوي چې ددې اثر د دویم ټوک د چاپ لګښت یې پر غاړه واخیست. یو ځل بیا ورڅخه مننه کوو او کور ودانی ورته وایو
درنښت یې په برخه شه

**د پښتۍ ډیزاین:** سپین سهار
**چاپځی:** اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

# نیمه پېړۍ یون

## دویم ټوک

## (راټولونې)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ لمریز کال

بسم الله الرحمن الرحيم

# نیمه پېړۍ یون

## دویم ټوک

(راټولونې)

راټولوونکی: محمد اسمعیل یون
خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک
ډیزاین: فیاض حمید
چاپکال: ۱۳۹۶ لمریز
چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۳۹)
وېبپاڼه: www.melitahrik.com

د دې کتاب د چاپي او انلاین خپرولو ټول حقوق له خپرندوی سره خوندي دي

ډالۍ:

د افغانیت، اسلامیت او انسانیت رښتینو

لارویانو ته!

# نیولیک



| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| • | د استاد یون پنځوس کلن یون | ۹۸۸ |
| • | زما د نیمې پېړۍ یون | ۱۰۰۳ |
| | هیلې | |
| ۱ | د ځوانو شاعرانو دا ((هیلې)) | ۱۰۱۳ |
| ۲ | یادښت | ۱۰۱۸ |
| ۳ | دشعر دا تنکي ګلان | ۱۰۱۹ |
| ۴ | ددې جونګ د شاعرانو لنډه پېژندګلوي | ۱۰۲۴ |
| ۵ | ملت | ۱۰۲٦ |
| ٦ | غزل | ۱۰۲۸ |
| ۷ | د خیال په ځنو | ۱۰۲۹ |
| ۸ | د هوس په شونډو | ۱۰۳۰ |
| ۹ | غزل | ۱۰۳۱ |
| ۱۰ | امن او جنګ | ۱۰۳۲ |
| ۱۱ | د وطن مینه | ۱۰۳۴ |
| ۱۲ | بې ننګ زړګي ته | ۱۰۳۵ |
| ۱۳ | غزل | ۱۰۳۷ |
| ۱٤ | د حیا په اور | ۱۰۳۸ |
| ۱۵ | د مینې دنیاګۍ | ۱۰۴۰ |
| ۱٦ | د خزان غېږ | ۱۰۴۲ |
| ۱۷ | کله نا کله | ۱۰۴۴ |
| ۱۸ | د محبت ګلونه | ۱۰۳۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۹ | تپوس | ۱۰۳٦ |
| ۲۰ | د سولې لمر ته | ۱۰۳۷ |
| ۲۱ | غزل | ۱۰۳۹ |
| ۲۲ | کسات | ۱۰۵۱ |
| ۲۳ | د اور څپې | ۱۰۵۳ |
| ۲٤ | د لېمو په لار | ۱۰۵۴ |
| ۲۵ | دحسرت شغلې | ۱۰۵۵ |
| ۲٦ | غزل | ۱۰۵٦ |
| ۲۷ | د زړه درد | ۱۰۵۷ |
| ۲۸ | غزل | ۱۰۵۹ |
| ۲۹ | د زړه خبرې | ۱۰٦۰ |
| ۳۰ | غزل | ۱۰٦۱ |
| ۳۱ | غزل | ۱۰٦۲ |
| ۳۲ | غزل | ۱۰٦۴ |
| ۳۳ | غزل | ۱۰٦۵ |
| ۳٤ | غزل | ۱۰٦٦ |
| ۳۵ | غزل | ۱۰٦۷ |
| ۳٦ | پښتني انداز | ۱۰٦۹ |
| ۳۷ | غزل | ۱۰۷۰ |
| ۳۸ | غزل | ۱۰۷۱ |
| ۳۹ | پښتنه مینه | ۱۰۷۲ |
| ٤۰ | غزل | ۱۰۷۳ |
| ٤۱ | دا کور یوازې ستا دی | ۱۰۷۵ |
| ٤۲ | غزل | ۱۰۷۷ |
| ٤۳ | د وطن هجر | ۱۰۷۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ٤٤ | غزل | ۱۰۸۰ |
| ٤٥ | غزل | ۱۰۸۱ |
| ٤٦ | غزل | ۱۰۸۲ |
| ٤٧ | غزل | ۱۰۸۳ |
| ٤٨ | شاهين نظر | ۱۰۸۴ |
| ٤٩ | غزل | ۱۰۸۵ |
| ٥٠ | پسرلی شو | ۱۰۸٦ |
| ٥١ | غزل | ۱۰۸۷ |
| ٥٢ | د اوښکو پیغام | ۱۰۸۸ |
| ٥٣ | د محبت کلی | ۱۰۹۰ |
| ٥٤ | د ارمان غېږه | ۱۰۹۱ |
| ٥٥ | غزل | ۱۰۹۳ |
| ٥٦ | غزل | ۱۰۹۴ |
| ٥٧ | سوې سواره | ۱۰۹۵ |
| ٥٨ | غزل | ۱۰۹۷ |
| ٥٩ | غزل | ۱۰۹۸ |
| ٦٠ | د ښايست اثر | ۱۱۰۰ |
| ٦١ | توده مینه | ۱۱۰۱ |
| ٦٢ | شهید ته | ۱۱۰۲ |
| ٦٣ | د وینو ویالې | ۱۱۰۳ |
| ٦٤ | امتحان | ۱۱۰۴ |
| ٦٥ | دکاڼو باران | ۱۱۰۵ |
| ٦٦ | غزل | ۱۱۰٦ |
| ٦٧ | کاږه کاته | ۱۱۰۷ |
| ٦٨ | د هیلو کاروان | ۱۱۰۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ٦٩ | دهیلو غوټۍ | ۱۱۱۱ |
| ۷۰ | ای هېواده | ۱۱۱۳ |
| ۷۱ | پښتني حیا | ۱۱۱۵ |
| ۷۲ | نرگس لیمه | ۱۱۱٦ |
| ۷۳ | کتل | ۱۱۱۷ |
| ۷٤ | آه | ۱۱۱۸ |
| ۷۵ | ازمون | ۱۱۱۹ |
| ۷٦ | د ماضي خندا | ۱۱۲۰ |
| ۷۷ | د اوښکو جنازې | ۱۱۲۱ |
| ۷۸ | متکور | ۱۱۲۳ |

## نیمگړي ارمانونه

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د دویم چاپ سریزه | ۱۱۲۷ |
| ۲ | یادښت | ۱۱۳۳ |
| ۳ | سریزه: هرسهار... | ۱۱۳۴ |
| ٤ | بېلابېل شعرونه | ۱۱۴٦ |

## د لوونو فصل

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د دویم چاپ سریزه | ۱۲۰۵ |
| ۲ | پیلامیه | ۱۲۰۹ |
| ۳ | دا کلی مه ورانوئ | ۱۲۱٦ |
| ٤ | د میلاد په شپو کې | ۱۲۱۸ |
| ۵ | دوه پوښتنې | ۱۲۲۰ |
| ٦ | غزل | ۱۲۲۱ |
| ۷ | دادگناهو خبرې | ۱۲۲۳ |
| ۸ | هیله | ۱۲۲۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ۹ | دقبر عذاب | ۱۲۲٦ |
| ۱۰ | رښتينى انځور | ۱۲۲۸ |
| ۱۱ | گل سپرلى | ۱۲۲۹ |
| ۱۲ | ژوندي يادونه | ۱۲۳۱ |
| ۱۳ | دمينې يادگار | ۱۲۳۴ |
| ١٤ | د اوبو رنگ | ۱۲۳۵ |
| ۱۵ | دمينې اور | ۱۲۳۷ |
| ١٦ | سپينتې | ۱۲۳۹ |
| ۱۷ | د پرون سندرې | ۱۲۴۰ |
| ۱۸ | اپت | ۱۲۴۲ |
| ۱۹ | جکړ | ۱۲۴۴ |
| ۲۰ | زما برخه | ۱۲۴٦ |
| ۲۱ | وروستۍ سلگۍ | ۱۲۴۸ |
| ۲۲ | د زنگ پتري | ۱۲۵۰ |
| ۲۳ | د مورليک ته | ۱۲۵۱ |
| ٢٤ | د پېړۍ گاليله | ۱۲۵۳ |
| ۲۵ | غوټه ونه | ۱۲۵۵ |
| ٢٦ | غزل | ۱۲۵۷ |
| ۲۷ | د زهروپيالې | ۱۲۵۸ |
| ۲۸ | دنظرباران | ۱۲۵۹ |
| ۲۹ | د تېغونو لو | ۱۲٦۰ |
| ۳۰ | د حجرو شهادت | ۱۲٦۰ |
| ۳۱ | اوښکې | ۱۲٦۴ |
| ۳۲ | غزل | ۱۲٦٦ |
| ۳۳ | غزل | ۱۲٦۷ |

| | | |
|---|---|---|
| ٣٤ | د رڼا نیالګي | ۱۲٦۸ |
| ٣٥ | ژوبل دردونه | ۱۲۷۰ |
| ٣٦ | دنور وړي | ۱۲۷۲ |
| ٣٧ | دځنګل جنازه | ۱۲۷۴ |
| ٣٨ | پردی ساقي | ۱۲۷۵ |
| ٣٩ | دمحبت ګلونه | ۱۲۷٦ |
| ٤٠ | دحقیقت ډولۍ | ۱۲۷۸ |
| ٤١ | غزل | ۱۲۸۰ |
| ٤٢ | مخه ښه | ۱۲۸۱ |


## سیندونه هم مري


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ددې اثر دویم چاپ | ۱۲۸۸ |
| ۲ | یادونه | ۱۲۹۰ |
| ۳ | سریزه | ۱۳۰۲ |
| ٤ | ننګیال د نورو لیکوالو له نظره | ۱۳۲۴ |
| ٥ | هغه شپې هغه کلونه | ۱۳۲۸ |
| ٦ | خیبري تنده | ۱۳۲۹ |
| ۷ | طلایي ماهیان | ۱۳۳۰ |
| ۸ | ښکاري ته | ۱۳۳۱ |
| ۹ | ځار | ۱۳۳۴ |
| ۱۰ | ګناه | ۱۳۳۵ |
| ۱۱ | غزل | ۱۳۳٦ |
| ۱۲ | تشې هوجرې | ۱۳۳۷ |
| ۱۳ | د سرو وینو د شپو ځانګې | ۱۳۳۸ |
| ١٤ | شپه | ۱۳۴۰ |
| ۱٥ | نصیب | ۱۳۴۱ |

| | | |
|---|---|---|
| ١٦ | انګازې | ۱۳۴۲ |
| ١٧ | ژوند ته ژړا | ۱۳۴۵ |
| ١٩ | درشل | ۱۳۴٦ |
| ٢٠ | لوونه | ۱۳۴۷ |
| ٢١ | مات خوبونه | ۱۳۴۸ |
| ٢٢ | کوټنۍ | ۱۳۵۱ |
| ٢٣ | باور | ۱۳۵۲ |
| ٢٤ | د مسکو پېغلې ته | ۱۳۵۳ |
| ٢٥ | سترې مور مې | ۱۳۵۴ |
| ٢٦ | سترې شعرونه | ۱۳۵٦ |
| ٢٧ | راشئ او وګورئ | ۱۳۵۸ |
| ٢٨ | شومه دم | ۱۳٦۰ |
| ٢٩ | شمشاد شمله،زېړې خبرې | ۱۳٦۱ |
| ٣٠ | د خاورین کلي ناوې | ۱۳٦۲ |
| ٣١ | فصل | ۱۳٦۴ |
| ٣٢ | ښکاري نظر | ۱۳٦۵ |
| ٣٣ | زړه سوی پر غوټۍ | ۱۳٦٦ |
| ٣٤ | د بې لارو پل | ۱۳٦۸ |
| ٣٥ | سیلۍ | ۱۳۷۰ |
| ٣٦ | د شهادت کیسې | ۱۳۷۱ |
| ٣٧ | درې نومونه | ۱۳۷۳ |
| ٣٨ | د ماضي پاڼه | ۱۳۷۴ |
| ٣٩ | حاصل | ۱۳۷۷ |
| ٤٠ | دا ستوري هم تويې شول | ۱۳۷۸ |
| ٤١ | هغه ورځ | ۱۳۸۰ |

| | | |
|---|---|---|
| ٤٢ | که سپوږمۍ نه وای | ۱۳۸۲ |
| ٤٣ | لمبې په دام کې | ۱۳۸۴ |
| ٤٤ | ښېرې په مالت کې | ۱۳۸۸ |
| ٤٥ | آس (۱) | ۱۳۸۹ |
| ٤٦ | هیلې | ۱۳۹۰ |
| ٤٧ | سلامونه | ۱۳۹۲ |
| ٤٨ | غلا | ۱۳۹۴ |
| ٤٩ | ماښو ته سرود | ۱۳۹۵ |
| ٥٠ | لاس راکوې او که نه؟ | ۱۳۹۹ |
| ٥١ | موسم | ۱۴۰۱ |
| ٥٢ | زما لیلا | ۱۴۰۳ |
| ٥٣ | ستا وفا | ۱۴۰۵ |
| ٥٤ | کیسې | ۱۴۰٦ |
| ٥٥ | لکه سپېڅلې لوگوس | ۱۴۰۸ |
| ٥٦ | ږلۍ | ۱۴۱۰ |
| ٥٧ | دا کلی مه ورانوئ | ۱۴۱۱ |
| ٥٨ | د سفر په لاره | ۱۴۱۳ |
| ٥٩ | د میلاد په شپو کې | ۱۴۱۴ |
| ٦٠ | د چړې په څوکه کې | ۱۴۱٦ |
| ٦١ | د رڼا کلي ته | ۱۴۱۸ |
| ٦٢ | د شپې پر بام | ۱۴۱۹ |
| ٦٣ | د رڼا مرگ | ۱۴۲۰ |
| ٦٤ | ته لکه لمر | ۱۴۲۲ |
| ٦٥ | سپرلي ته | ۱۴۲۳ |
| ٦٦ | څاڅکي څاڅکي | ۱۴۲۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ٦٧ | پسرلی، ږلی، باران | ۱۴۲٦ |
| ٦٨ | لیک | ۱۴۲۸ |
| ٦٩ | سیوری(۱) | ۱۴۳۱ |
| ۷۰ | شناختې | ۱۴۳۳ |
| ۷۱ | گامونه قدمونه | ۱۴۳۵ |
| ۷۲ | توپیر | ۱۴۳۸ |
| ۷۳ | کلی | ۱۴۳۹ |
| ۷٤ | چغه | ۱۴۴۲ |
| ۷۵ | د پښتو خبرې | ۱۴۴۳ |
| ۷٦ | د ویر مالت | ۱۴۴۴ |
| ۷۷ | پسرلی | ۱۴۴۵ |
| ۷۸ | کلیزه | ۱۴۴۸ |
| ۷۹ | عبدالباري جهاني ته د هغه د شعر په ځواب کې(۱) | ۱۴۵۱ |
| ۸۰ | تاک | ۱۴۵۷ |
| ۸۱ | دلبرې | ۱۴۵۹ |
| ۸۲ | ازادي | ۱۴٦۰ |
| ۸۳ | (څو منثور شعرونه) زموږ مړینه | ۱۴٦۳ |
| ۸٤ | درد | ۱۴٦٦ |
| ۸۵ | پیغمبران هم ژاړي | ۱۴٦۷ |
| ۸٦ | برخه | ۱۴٦۹ |
| ۸۷ | دنیا | ۱۳۷۱ |
| ۸۸ | مساپر | ۱۴۷۲ |
| ۸۹ | پیاله | ۱۴۷۳ |
| ۹۰ | لاره | ۱۴۷۴ |
| ۹۱ | کب | ۱۴۷۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ۹۲ | مينه | ۱۴۷۷ |
| ۹۳ | خانګه | ۱۴۷۹ |
| ۹٤ | زه او غر | ۱۴۸۰ |
| ۹۵ | د غنمو وږی | ۱۴۸۳ |
| ۹٦ | کښت | ۱۴٦۸ |
| ۹۷ | عبدالباري جهاني ته! (۲) | ۱۴۸۷ |
| ۹۸ | وينې پر کاله | ۱۴۹۰ |
| ۹۹ | بيديا | ۱۴۹۱ |
| ۱۰۰ | ګيله | ۱۴۹۳ |
| ۱۰۱ | شيخ | ۱۴۹۴ |
| ۱۰۲ | ګړی | ۱۴۹٦ |
| ۱۰۳ | پوښتنه | ۱۴۹۸ |
| ۱۰٤ | دا کلی دا وطن | ۱۴۹۹ |
| ۱۰۵ | جنازې | ۱۵۰۲ |
| ۱۰٦ | کلی- دېره | ۱۵۰۳ |
| ۱۰۷ | ګلونه | ۱۵۰۵ |
| ۱۰۸ | د ((ادم)) وصيت | ۱۵۰٦ |
| ۱۰۹ | د احمق په لټون | ۱۵۰۹ |
| ۱۱۰ | بادشاه او معشوقه يې | ۱۵۱۴ |
| ۱۱۱ | پر قبر مې | ۱۵۱۸ |
| ۱۱۲ | بزګر | ۱۵۲۰ |
| ۱۱۳ | بنګړيواله | ۱۵۲۱ |
| ۱۱٤ | غچ | ۱۵۲۴ |
| ۱۱۵ | ښاپېرۍ | ۱۵۲٦ |
| ۱۱٦ | سيلاني بلبلې | ۱۵۲۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۱۷ | روږده | ۱۵۳۱ |
| ۱۱۸ | تنده | ۱۵۳۲ |
| ۱۱۹ | ویرنه | ۱۵۳۳ |
| ۱۲۰ | داسې لور داسې لوونه | ۱۵۳٦ |
| ۱۲۱ | نه جام نه څادر | ۱۵۴۰ |
| ۱۲۲ | سیوری (۲) | ۱۵۴۳ |
| ۱۲۳ | کور مې | ۱۵۴۷ |
| ۱۲٤ | غزل (۱) | ۱۵۵۱ |
| ۱۲۵ | رحمان | ۱۵۵۲ |
| ۱۲٦ | سیند | ۱۵۵۵ |
| ۱۲۷ | کرونده | ۱۵۵٦ |
| ۱۲۸ | کچل | ۱۵۵۹ |
| ۱۲۹ | یو رنگ یو باد | ۱۵٦۴ |
| ۱۳۰ | غر (۲) | ۱۵٦۷ |
| ۱۳۱ | غزل او خنجر | ۱۵۷۰ |
| ۱۳۲ | کجاوې | ۱۵۷۱ |
| ۱۳۳ | چوپتیا | ۱۵۷۵ |
| ۱۳٤ | زه هم درځم | ۱۵۷٦ |
| ۱۳۵ | مور ته مثنوي | ۱۵۸۳ |
| ۱۳٦ | زېری (۱) | ۱۵۸۷ |
| ۱۳۷ | نیمگړی غزل | ۱۵۸۸ |
| ۱۳۸ | شپېلۍ (۱) | ۱۵۹۰ |
| ۱۳۹ | د زردشت خوب | ۱۵۹۲ |
| ۱٤۰ | راته وناڅه هندارې | ۱۵۹۴ |
| ۱٤۱ | درځنې لاړم کلیه | ۱۵۹٦ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۴۲ | دروغ | ۱۶۰۰ |
| ۱۴۳ | غزلبولې | ۱۶۰۲ |
| ۱٤٤ | سیند ته غزل | ۱۶۰۳ |
| ۱٤۵ | غزل | ۱۶۰۵ |
| ۱٤٦ | شپېلۍ (۲) | ۱۶۰٦ |
| ۱٤۷ | غوښتنه | ۱۶۰۸ |
| ۱٤۸ | د وینو غزل | ۱۶۰۹ |
| ۱٤۹ | غر (۳) | ۱٦۱۱ |
| ۱۵۰ | غر (٤) | ۱٦۱۳ |
| ۱۵۱ | آس (۲) | ۱٦۱۵ |
| ۱۵۲ | خوب | ۱٦۱٦ |
| ۱۵۳ | غر (۵) | ۱٦۱۷ |
| ۱۵٤ | دا کښتونه او بادونه | ۱٦۲۰ |
| ۱۵۵ | غزل | ۱٦۲۴ |
| ۱۵٦ | اورنی پر درمندونو | ۱٦۲۵ |
| ۱۵۷ | زیږدا | ۱٦۲۸ |
| ۱۵۸ | زیږی (۲) | ۱٦۲۹ |
| ۱۵۹ | بې نښې | ۱٦۳۰ |
| ۱٦۰ | غر (٦) | ۱٦۳۲ |
| ۱٦۱ | خوب ته سرود | ۱٦۳۳ |
| ۱٦۲ | تش صدف | ۱٦۳۵ |
| ۱٦۳ | جامِ جم | ۱٦۳٦ |
| ۱٦٤ | له خوشاله تر ننگیاله | ۱٦۳۷ |
| ۱٦۵ | یاسر نه مري | ۱٦۳۸ |
| ۱٦٦ | د چغو تصویر | ۱٦۴۰ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱٦٧ | غر (۷) | ۱٦۴۱ |
| ۱٦٨ | خوب په ایینه کې | ۱٦۴۳ |
| ۱٦٩ | له ابلیس سره | ۱٦۴۴ |
| ۱۷۰ | هغه غر هغه سیوری | ۱٦۴٦ |
| ۱۷۱ | وېره مینه | ۱٦۴۷ |
| ۱۷۲ | مینه او ژوند | ۱٦۴٨ |
| ۱۷۳ | کوچی په باران کې | ۱٦۵۰ |
| ۱۷٤ | کله چې لمر گل وکړي | ۱٦۵۱ |
| ۱۷۵ | د باغ غزل | ۱٦۵۳ |
| ۱۷٦ | یو شین انځور | ۱٦۵۴ |
| ۱۷۷ | بیه | ۱٦۵۵ |
| ۱۷٨ | دوه پربنتې | ۱٦۵٦ |
| ۱۷٩ | ونه | ۱٦۵٨ |
| ۱٨۰ | دا جل دا برسات | ۱٦۵٩ |
| ۱٨۱ | د خوب کوترې | ۱٦٦۰ |
| ۱٨۲ | مات لمر | ۱٦٦۲ |
| ۱٨۳ | هغه دار هغه چنار | ۱٦٦۳ |
| ۱٨٤ | مینې ته | ۱٦٦۵ |
| ۱٨۵ | شپه | ۱٦٦٨ |
| ۱٨٦ | غزل | ۱٦۷۰ |
| ۱٨۷ | ژوند | ۱٦۷۱ |
| ۱٨٨ | دا هوجرې او دا شملې | ۱٦۷۳ |
| ۱٨٩ | لیک | ۱٦۷۵ |
| ۱٩۰ | مړوند | ۱٦۷۷ |
| ۱٩۱ | د لور غزل | ۱٦۷٩ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۹۲ | غزل | ۱۶۸۰ |
| ۱۹۳ | زما د چم ونه | ۱۶۸۲ |
| ۱۹٤ | یو سیوری یو گل | ۱۶۸۴ |
| ۱۹۵ | گناه | ۱۶۸۷ |
| ۱۹٦ | کله چې لمر شین شي | ۱۶۹۰ |
| ۱۹۷ | غزل | ۱۶۹۵ |
| ۱۹۸ | یو باد یو منصور | ۱۶۹۷ |


## د پښتو ادب لرغونې دوره


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د پښتو ادب د نیمې پېړۍ ادبي پېښه | ۱۷۰۲ |
| ۲ | د پښتو لرغونې ادبي دورې کرونولوژي | ۱۷۱۰ |
| ۳ | د پښتو لرغوني ادب د کمیت د کمښت علتونه | ۱۷۱۴ |
| ٤ | په پښتو لرغونو ادبیاتو کې عرفان او تصوف | ۱۷۱۷ |
| ۵ | پښتو لرغونې شاعرۍ کې د ځینو متروکو.... | ۱۷۲۵ |
| ٦ | د قصیدې پېژندنه او د شیخ اسعد سوري قصیده | ۱۷۳٦ |
| ۷ | په لرغونو ادبیاتو کې ساقي نامه | ۱۷۴۷ |
| ۸ | پښتو لنډۍ او کاکړۍ | ۱۷۵۱ |
| ۹ | په پښتو ادبیاتو کې لومړنۍ ژباړه | ۱۷۷۴ |
| ۱۰ | په پښتو لرغونو ادبیاتو کې قصیده | ۱۷۷۹ |
| ۱۱ | د پښتو لرغونو ادبیاتو ځانگړي اثار | ۱۷۸۹ |
| ۱۲ | په لرغونو ادبیاتو کې پښتو غزل | ۱۷۹۸ |
| ۱۳ | پر پښتو لرغوني ادب د عربي ژبې اغېزه | ۱۸۰۳ |
| ۱٤ | په پښتو لرغوني ادب کې ملي وزنونه او فورمونه | ۱۸۰۷ |
| ۱۵ | د میندو سندرې او پښتو نکلونه | ۱۸۲۱ |
| ۱٦ | په لرغوني دوره کې د افسانوي کیسو اخلاقي بڼه | ۱۸۳۴ |
| ۱۷ | په لرغونو ادبیاتو کې ملتپالنه | ۱۸۳۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ١٨ | پښتو غزل د خپل پیدایښت او پایښت په... | ١٨٣٦ |
| ١٩ | د سلیمان ماکو تذکرة الاولیا | ١٨٥٥ |
| ٢٠ | په لرغونې ادب کې د نظم او نثر انډول | ١٨٦٧ |
| ٢١ | په پښتو لرغوني ادب کې ویرنه | ١٨٧٠ |
| ٢٢ | په پښتو ادبیاتو کې نکلونه او ملي هنداره اثر | ١٨٧٣ |
| ٢٣ | د پښتو لرغونې دورې د شاعرۍ عامې ځانګړنې | ١٨٩٠ |
| ٢٤ | پښتو ادب کې متلونه | ١٨٩٤ |
| ٢٥ | د پښتو لرغونې دورې ادبي شخصیتونه | ١٩٠٢ |
| ٢٦ | د پښتو لرغونو ادبیاتو محتوایي فورمونه | ١٩١٥ |
| ٢٧ | په پښتو لرغونې شاعرۍ کې څلوریزه (رباعي) | ١٩٢٧ |
| ٢٨ | په لرغونې دوره کې پر پښتو ژبه او شاعرۍ... | ١٩٣٢ |
| ٢٩ | د پښتو لرغوني ادب په پرمختیایي بهیر کې... | ١٩٣٥ |
| ٣٠ | په پښتو ادبیاتو کې ساندې او د ښادۍ سندرې | ١٩٤٢ |
| ٣١ | د پښتو ادبیاتو فالونه او چیغان | ١٩٤٩ |
| ٣٢ | په پښتو لرغونو ادبیاتو کې مشاعرې | ١٩٥٧ |
| ٣٣ | په پښتو ادبیاتو کې سروکي او نارې | ١٩٦٣ |
| ٣٤ | په لرغوني ادب کې سیاسي پېښې | ١٩٧٢ |
| ٣٥ | د امیر کروړ د شعر لغوي څېړنه | ١٩٧٦ |
| ٣٦ | د پښتو ادبیاتو پر پراختیایي بهیر کورنۍ او ... | ١٩٨٢ |
| ٣٧ | په پښتو لرغونو ادبیاتو کې حکایت | ١٩٨٨ |
| ٣٨ | په پښتو لرغونو ادبیاتو کې نږه پښتو کلمې | ١٩٩٦ |
| ٣٩ | د پټې خزانې پېژندنه | ٢٠٠٤ |
| ٤٠ | د امیر کروړ د شعر ویپپانګه | ٢٠٠٩ |
| ٤١ | د پښتو ژبې شعري فورمونه | ٢٠١٥ |
| ٤٢ | په پښتو لرغوني ادب کې ویاړنه | ٢٠٢١ |

| | | |
|---|---|---|
| ٤٣ | د پښتو ادب د لرغونې دورې پیل او پای | ۲۰۲۹ |
| ٤٤ | د پښتو لرغونو ادبیاتو فزیکي جغرافیه | ۲۰۳۲ |
| ٤٥ | د لنډیو لرغونتوب | ۲۰۳٦ |
| ٤٦ | په پښتو لرغوني ادب کې سیاسي څېرې | ۲۰۴۴ |
| ٤٧ | په لرغونې ادبي دوره کې قطعه | ۲۰۴۹ |
| ٤٨ | په لرغوني ادب کې د مثنوي ارزونه | ۲۰۵۳ |
| ٤٩ | د هند لودي واکمنان او پښتو لرغونی ادب | ۲۰۵٦ |
| ٥٠ | په پښتو لرغوني ادب کې عشقي روحیه | ۲۰٦٥ |
| ٥١ | د امیر کروړ او ملکیار هوتک د شعرونو تاریخي... | ۲۰۷۰ |
| ٥٢ | د پښتو ادبیاتو په لرغونې دوره کې نثر | ۲۰۷۷ |
| ٥٣ | د لرغونې او منځنۍ دورې د ادبیاتو ترمنځ توپیرونه | ۲۰۸۴ |
| ٥٤ | په پښتو لرغونو ادبیاتو کې جغرافیایي نومونه | ۲۰۸۸ |
| ٥٥ | په پښتو لرغونې شاعرۍ کې رزمي روحیه | ۲۰۹۳ |
| ٥٦ | د پښتو لرغوني نظم قافیوي څرنګوالی | ۲۱۰۰ |
| ٥٧ | د شیخ اسعد سوري د قصیدې هنري ارزښت | ۲۱۰۵ |

# د استاد یون پنځوس کلن یون

ښاغلي پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زماني په تېره بیا د سختو حالاتو یو مخکښ فکري مبارز دی. ده د افغانستان د کورنیو او بهرنیو مخالفینو، جنگسالارانو او فسادگرو پر وړاندې د مبارزې یوه ځانگړې لاره، چې د قلم، ژبې او جرئت لاره وه، غوره کړه. دا یې د خپل ولس او خلکو د اوږدو مبارزو تر ټولو غوره، بریالۍ او ژغورندویه لاره او مبارزه وبلله. دی که په کابل کې و او یا هم په نورو ولایتونو کې، خپلو ملي او فرهنگي هلو ځلو ته یې دوام ورکړی، همدا علت و چې افغانانو دده د مبارزې پر حقانیت، رښتینولۍ او زړورتیا باور پیدا کړ، ډېری افغانان په ځانگړې توگه ځوانان یې تر څنگ ودرېدل او دې مبارزې ته یې لا نور ځواک وروباښه. یون ددې ځوانانو په راټولېدو سره پرځان لا باوري شو او خپلې دې مبارزې ته یې په سیستماتیک ډول دوام ورکړ.

که وویل شي چې یون د افغاني ټولنې، ملي تفکر او د مظلوم اکثریت د غږ پورته کولو یو بریالی ویاند دی، نو مبالغه به مې نه وي کړې. ددې لپاره چې ښاغلی یون په بشپړه توگه وپېژنو، نو غواړم دلته یې د ژوند، اثارو او افکارو پر بېلابېلو برخو لنډه رڼا واچوم:

**۱-زوکړه:** محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی او د هدایت خان لمسی دی، پر (۱۳۴٦ل) کال د کب پر (۱۸) مه نېټه د لغمان ولایت د الینگار ولسوالۍ د (الوخېلو) په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی. یون لا د شپږم ټولگي زده‌کوونکی و چې پلار یې وفات شو، د کور سرپرستي او د ژوند نورې چارې خپله ده ته ورپرغاړه شوې. خو په دې سختو شرایطو کې یې هم خپل هوډ قوي وساته، هم یې د کورنۍ سرپرستي کوله او هم یې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ.

**۲- زده کړې:** محمد اسمعیل یـون پـر (۱۳۵۳ل)کـال د الینگـار ولسوالۍ د (سلینگار) په لومړني ښوونځي کې، چې د یون له کوره په پـلي مزله یې نږدې یو نیم ساعت واټن درلود، په لومړي ټولگي کې شامل شـو، یون یـو کـال د سـویې ازموینـه ورکـړه او یـو ټـولگی یـې ارتقـا وکـړه، پـر (۱۳۵۷ل)کال دې ښوونځي ته نوې ودانۍ جوړه شـوه او د یـون کـور تـه نږدې ساحه کې اباد شـو. پـر (۱۳۵۸ل) کـال دا ښـوونځی د حکومـت د مخـالفینو لـه خـوا وسـوځول شـو، یـون د نـورو زده کوونکـو پـه شـان لـه ښوونځي څخه بې برخې شو، یون له درس سره د خپلې مینې او د کورنۍ د موافقې پر اساس کابل ته راغی او دلته پر (۱۳٦۱ل) کال یې د کابـل پـه (ده خدایداد) او بیا په (ده یحیی) لېسو کې خپلې زده کړې پسې تعقیـب کړې. پر (۱۳٦۲ل) کال د کابل پـه خوشـال خـان لېسـه کـې شـامل او پـر (۱۳٦٦ل) کال تـرې پـه دویمـه نـومره فـارغ شـو، (۱۳٦۷ل)کـال د کابـل پوهنتون په ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې شـامل او پـر (۱۳۷۰ل) کـال تـرې اول نومره فارغ شو، پر (۱۳۷۰ل)کال یې د یاد پوهنځي پښتو څانگې کـې د کدر ازموینه ورکړه، په یـاده ازموینـه کـې بریـالی او پـر همـدې کـال د (نـامزد پوهیـالي) پـه رتبـه د پښـتو څـانگې د کـدر غـړی شـو. یـون پـر (۱۳۸۵ل)کال د کابـل پوهنتـون د ژبـو او ادبیـاتو پـوهنځي پـه ماسـترۍ پروگرام کې شامل او پر (۱۳۸۷ل)کال کې ترې فارغ شو.

یون د (کابل پوهنتون) علمي مجلې موسس هم دی او درې کاله یـې ددې مجلې مدیریت هم ورپرغاړه و.

محمد اسمعیل یون پر (۱۳۹۲ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د دوکتورا (PhD) پروګرام کې شامل شو او د تحصیل دا پړاو یې هم پر (۱۳۹٦ل) کال په بریالیتوب سره بشپړ کړ.

یون پر پورتنیو زده کړو سربېره د لنډ مهاله کورسونو، ورکشاپونو او سیمینارونو لپاره په کور دننه او بهر په ځینو برخو کې زده کړې کړې دي او لنډ مهاله کورسونه یې هم تعقیب کړي دي.

یون له (۱۳۷۰ل) کال څخه چې د کابل پوهنتون په کدر کې شامل شوی، بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په منظم ډول تدریس کړی او په دې یاده موده کې یې له (نامزد پوهیالي) څخه نیولې بیا تر (پوهاندۍ) وروستۍ لوړې پوهنتوني رتبې پورې ټولې رتبې په ترتیب سره بشپړې کړي او د هرې رتبې لپاره یې له پوهنتوني مقرراتو سره سم ځانګړی اثر لیکلی دی.

**۳- دندې:** یون چې کله په ښوونځي کې د څلورم، پنځم او شپږم ټولګي زده کوونکی و، نو د ښوونځي د ترانې د ټیم غړی و، سپورت سره یې هم مینه درلودله، په ښوونځي کې د خپل عمر په هلکانو کې د والیبال ټیم غړی و، یون چې کله له لغمان څخه کابل ته راغی، نو دلته په (خوشال خان) لېسه کې د ادبي انجمن مشر شو. یون د ثانوي زده کړو پر مهال (۹-۱۲) ټولګي پورې موده کې له یو شمېر اخبارونو او مجلو سره قلمي همکاري درلودله او د ځینو چاپي خپرونو له خوا ورته حق الزحمه هم ورکول کېدله. یون په کابل پوهنتون کې د تحصیل پر مهال هم د

لیکوالو د ټولنې غړی، د ځوانو لیکوالو د ټولنې د مشرتابه غړی، د خوشال فرهنګي ټولنې د ځوانانو د برخې مسول او یو شمېر نورو فرهنګي ټولنو غړی پاتې شوی دی.

یون لا په (۱۲) ټولګي کې و چې د (هیلې) په نامه یې د لرو او برو افغانانو د ځوانو شاعرانو یوه شعري ټولګه راټوله او پر (۱۳۶٦ل) کال یې چاپ کړه.

د پوهنځي پر وروستي کال یې دوه اثار: د خپلو شعرونو ټولګه (مټکور) او د ولسي شاعر (محمد عالم حیران) د شعرونو ټولګه (نیمګړي ارمانونه) چاپ کړل.

یون د تنظیمي جګړو پر مهال کله په کابل او ځینې وختونه په پېښور کې اوسېده، هلته په پېښور کې یې (هیله) مجله چاپوله، د (معارف) مجلې همکار و، په جرمني کې د دوو افغاني کلتوري ټولنو؛ (د افغانستان کلتوري ودې ټولنه) او (د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې) استازی هم و.

محمد اسمعیل یون د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته پر (۱۳۸۱ل)کال لومړی په ختیزو ولایتونو کې د ملګرو ملتونو د مرستو د ځانګړي دفتر یوناما (UNAMA) مشاور او ډېر ژر په یادو ولایتونو کې د بېړنۍ لویې جرګې لپاره د انتخاباتو د دفتر مشر شو. یون دا دنده هم په ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۲ل)کال د ببړنۍ لويې جرگه چې نږدې (۱۶۰۰) تنو په کې له ټول افغانستان څخه گډون درلود، غړی و، د جرگې د مشرتابه لپاره ټاکنې وشوې او يون د رايو په اکثريت سره د ببړنۍ لويې جرگې د لومړي منشي په توگه انتخاب شو، د منشيتوب دنده يې هم په ښه ډول ترسره کړه او بيا يې د يادې جرگې په باب (ببړنۍ لويه جرگه- ولسواکي او زورواکي) تر نامه لاندې يو ځانگړی اثر هم وليکه.

يون پر (۱۳۸۵ل)کال د افغانستان او پاکستان تر منځ د (امن گډې جرگې) لپاره د افغانستان له لوري د منشي په توگه غوره شو او دا دنده يې هم په ښه ډول ترسره کړه.

يون پر (۱۳۸۵ل)کال د جمهور رييس حامد کرزي د يوه ځانگړي فرمان له لارې د امنيت شورا دفتر د فرهنگي چارو د رييس په توگه غوره شو، اوه کاله يې دا دنده پر مخ يوړه او جمهور رييس حامدکرزي ته يې په ډېرو ملي او فرهنگي مسايلو کې خپلې مشورې ورکړې.

يون پر (۱۳۹۲ل)کال په حکومت کې د ولسمشر له خوا جنگسالارانو او فسادگرو ته د زياتو امتيازاتو له ورکړې سره د مخالفت له امله له خپلې دندې استعفی ورکړه او پر همدې کال يې (د افغانستان ملي تحريک) په نامه د يو ازاد، فرهنگي، مدني، ټولنيز، ملي او سياسي حرکت بنسټ کېښود.

## ۴--کورنی ژوند:

استاد يون پر (۱۳۷۴ل) کال له (اريـن مومنـد) سره واده وکړ، اوس څلور اولادونه لري (هيله، سمسور، سوله او ودان). (هيله) او (سمسور) دا

مهال (۱۳۹٦ل کال) پر لوړو زده کړو بوخت دي، (سوله) او (ودان) د ښوونځي زده کوونکي دي او مېرمن يې (ارين يون) په ولسي جرگه کې د ننگرهار د خلکو منتخبه استازې ده.

## ۵-فعالیتونه:

**الف- ټولنيزه برخه کې:** یون له (۱۳٦٦ل)کال څخه بيا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په ټولنيزو چارو کې زيات کارونه ترسره کړي دي، په ياده موده کې يې په سلگونو زرو هېوادوالو سره ليدنې کتنې کړي دي، په سلگونو ټولنيزې غونډې يې جوړې کړي، د خلکو مشکلاتو ته يې ځان رسولی، د نورو ملگرو او ملي تحريک د ملگرو په مرسته يې مصيبت ځپلو خلکو ته مرستې وررسولي. په کابل، کندوز، بغلان، بدخشان، فارياب، بلخ، هلمند، ننگرهار، پکتيا، خوست، لغمان، کونړ او د هېواد په نورو سيمو کې يې زلزله ځپلو، سېلاب ځپلو، جنگ ځپلو او نورو مصيبت ځپلو هېوادوالو ته د ملي پانگوالو مرستې رسولې دي، د دولت او خيريه ټولنو پام يې هغو ته واړولی او له دې لارې يې خلکو ته په مستقيم او نامستقيم ډول د ميليونونو ډالرو مرستو د ور رسولو زمينه برابره کړې ده. د مصيبت ځپلو خلکو لپاره يې لوی رسنيز کمپاينونه هم ترسره کړي او دا کار ددې سبب شوی چې هم دولت او هم خيريه ټولنې غمځپلو سيمو ته ځان ورسوي. د جگړې ټپيانو ته د وينې د ورکړې لپاره يې څو پروگرامونه جوړ کړي او همدارنگه يې د خلکو مدني او اعتراضيه غونډو ته لاره هواره کړې ده. د مسجدونو او کلينيکونو په جوړونه کې يې ونډه اخيستې، د صحي اوبو لپاره يې د ژورو څاگانو په کيندنه او د چاپېريال د پاک ساتلو لپاره يې

هم د هېوادوالو مرستې اړمنو هېوادوالو ته رسولې دي. په مجموعي ډول د ټولو هغو خیریه او ټولنیزو کارونو شمېر چې یون په تېرو (۳۰) کلونو کې ترسره کړي تر (۱۰۰۰) گټورو او مرستندویه کارونو زیاتېږي.

**ب- سیاسي برخه کې:** محمد اسمعیل یون سره له دې چې له کوم سیاسي گوند سره تړاو نه لري او نه یې غړیتوب لري، خو په خپله یې له نورو روښنفکرو افغانانو سره په گډه (د افغانستان ملي تحریک) په نامه د یو ملي، مدني، خدماتي، ټولنیز، ملي او سیاسي حرکت بنسټ ایښی دی. ددې تحریک له لارې یې په هېواد کې یو شمېر سیاسي فعالیتونه ترسره کړي دي.

یون له یو شمېر نورو افغانانو سره په گډه په هېواد کې د ولسواکۍ د ټینگښت، د جنگسالارانو او فسادگرو د زور کمونې، له منځه وړنې او همدارنگه د عادلانه سیاسي نظام د ټینگښت لپاره گڼ شمېر لاریونونه ترسره کړي او په ځینو نورو دا ډول مظاهرو کې یې گډون کړی دی. دا مظاهرې ټولې سولییزې او هدفمنې وې. د ټولو هغو غونډو، لاریونونو، جرگو، مرکو، سیاسي سیمینارونو او ورکشاپونو شمېر چې یون په مستقیم او نامستقیم ډول او د نورو هېوادوالو په مرسته جوړ کړي په تېرو (۳۰) کلونو کې تر (۸۰۰) بېلابېلو غونډو اوړي.

د ملي او اسلامي هویت د خوندیتابه لپاره یې ټینگه او متواتره مبارزه د ملي او سیاسي مبارزو یوه بېلگه ده.

**ج- فرهنګي برخه کې:** یون د یو خپلواک لیکوال په توګه په تېرو دېرشو کلونو کې ګڼ شمېرفرهنګي، علمي او اکاډمیک خدمتونه ترسره کړي،په ګڼو چاپي، رادیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د و اقعیتونو او حقایقو د څرګند بیان له امله د خلکو په زړونوکې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي؛ د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي، منفي غبرګونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرګونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو یون په دغسې سختو اغزنو او تنګو شرایطو کې بیا هم خپلو فرهنګي، سیاسي او ټولنیز کارونو ته دوام ورکړی دی.

د ټولو هغو لیکنو، مرکو او ویناوو شمېر چې استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې د هېواد په داخل او بهر کې له چاپي، غږیزو، لیدنیو او برېښنایي رسنیو سره کړي تر (۱۲۰۰) عنوانو لیکنو، مرکو او ویناوو اوړي.

د استاد یون اوسنی فرهنګي کارونه، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول ګورئ، د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې ترسره شوي دي. استاد یون په تېرو (۳۰)

کلونو کې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار لیکلي چې نږدې ټول یې چاپ شوي، دا اثار یې هم په برېښنایي ډول، هم په کتابي ډول او هم په (CD) کې لوستونکو ته وړاندې کړي دي. استاد یون پر خپلو فرهنګي کارونو سربېره د ګڼو فرهنګي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توګه هم خپل فرهنګي رول ادا کړی دی، په پېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنګي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او(د پښتني فرهنګ  د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توګه د بېلابېلو لیکوالو په لسګونو اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي. دغه راز یې د سلګونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو په جوړونه کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په سلګونو مشاعرې،سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

په رسنیزه برخه کې یې د (ژوندون) په نامه یو رسنیز مرکز جوړ کړی چې ژوندون راډیو ټلویزیون په کې فعالیت لري، دا راډیو ټلوېزیون د ټول هېواد په کچه نشرات لري او د سټلایټ او وېبسایټ له لارې یې هم ټولې نړۍ ته نشرات رسېږي.

په اکاډمیکه برخه کې یون د ( کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې اساسي نقش لوبولی دی او اوس دا دواړه پوهنتونونه په زرګونو محصلین لري، دغه راز  د یو شمېر خصوصي ښوونځیو او پوهنتونونو په جوړونه کې یې هم مرسته کړې ده. یون د (هیلې، شمشاد او کابل پوهنتون) په نامه د درېو مجلو د مسول مدیر په توګه هم خپله دنده اجرا کړې ده. پر خپلو کتابونو سربېره یې د بېلابېلو لیکوالو نږدې (۴۰۰) عنوانو بېلابېلو اثارو ته د چاپ زمینه برابره او د یو شمېر نورو د سمون چارې یې هم پر مخ وړي دي.

په سیمه ییزه او ملي کچه یې د (۳۰) کلونو په بهیر کې تر (۱۱۰۰) زیاتې ادبي، علمي او فرهنګي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه جوړ کړي دي.

## چاپ شوي اثار یې په دې ډول دي:

## الف- پنځونې:

کتاب نوم　　　　　ځرنګوالی　　　　　چاپکال

- مټکور　　　(لومړۍ شعري ټولګه)　　دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- په اورونو کې سندرې (دویمه شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.

## ب- راټولونې:

- هیلې (ګډه شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- نیمګړي ارمانونه (د حیران شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د لوونو فصل (ګډه شعري ټولګه)دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د نازو انا یاد (د سیمینار د لیکنو ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د الفت نثري کلیات (د استاد الفت نثرونه) درېیم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- سیندونه هم مري (د اسحق ننګیال شعري منتخبات) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو ادب لرغونې دوره (لومړۍ ټولګی) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه، د (پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه (د نینسي دوپرې اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.

- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه(د پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- فلسفه او فلسفي بهیر (د استاد افغانیار اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## د- یونلیکنې:

- د اماراتو سفر (د اماراتو یونلیک) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که یون دی یون دی (د اروپا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دپنتاګون ترخنډو (د امریکا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د کرملین په زړه کې (د روسیې یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- د ډیلي تخت هېرومه (د هند یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- درې ورځې د افسانو په وطن کې (د هلمند یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د خدای تر کوره (د حج یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمدګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي ژبانونه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو شعر هندسي جوړښت (علمي اثر) شپږم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.

- ساینسي پرمختیاوې (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- بېړنۍ لویه جرګه ولسواکي او زورواکي (سیاسي څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- اندیال خوشال (د څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې (د تحلیلي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- کلتوري یون(د ادبي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- فرهنګي فقر (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- مرکه او مرکې (له بېلابېلو لیکوالو سره د مرکو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- خوشال په خپل ایډیال (د څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دکتابونو په وږمو کې (پر بېلابېلو اثارو د لیکل شویو سریزو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- پښتو لیکنی سمون (ژبنی څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- اوسنۍ رسنۍ(څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که نړیوال ماته وخوري؟ (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د سمون په لټه (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کتاب الشعر (د علمي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کره کتنه (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

- ادب تاریخ (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ملي درسونه (د سیاسي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ل کال.
- د نجات ځلی (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ ل کال
- د ارګ نا ویلې خبرې (سیاسي څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- د زمانې په کړلېچ کې (څېړنیز او تحلیلي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- ملي هویت او ملي عزت (څېړنیز او تحلیلي اثر) ۱۳۹٦ل کال.
- د خادم نړۍ لید (څېړنیز اثر) ناچاپ ۱۳۹٦ل کال.

استاد یون د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه په تذکره کې د لیکل شوي عمر له مخې پوره پنځوس کلن شو، ژوند یې د نیمې پېړۍ وروستي حد ته ورساوه. خو دا نیمه پېړۍ له منډو، ترړو، ستونزو، کړاوونو، جنجالونو او همدارنګه له بریاوو سره مله وه. له لومړي ټولګي څخه مخکې دوران خو بېخي د ماشومتوب دوران وي، په هغه کې انسان له زیاترو مسوولیتونو څخه بې غمه وي. له لومړي ټولګي څخه بیا تر دولسم ټولګي پورې د زده کړې زمانه وي، یون سره له دې چې په دې دوران کې د پلرنۍ مینې له نعمته محروم شو، د کور د سرپرستۍ دروند مسوولیت ورپه غاړه شو، خو دې سره سره یې خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ، په همدې بهیر کې یې ادبي پنځونې وکړې او د (۱۲) ټولګي په بهیر کې یې د خپلو ادبي هڅو یا راټولونو لومړی ثمر (هیلې) ګډه شعري ټولګه چاپ کړه. د ژوند درېیم پړاو یې د تحصیل دوره ده چې د څلورو کلونو په ترخ کې یې په ښه ډول ترسره کړه. په دې بهیر کې یې (مټکور)، (د لوونو فصل)، (نیمګړي ارمانونه) او (د نازو انا یاد) اثار ټولنې ته وړاندې کړل. د ژوند بله مرحله یې د ګټو خدمتونو مرحله ده چې له (۱۳۷۱ل) کال څخه پیل بیا تر دې دمه (۱۳۹٦ل) کال پورې رارسېږي.

دا نو د ګڼو خدمتونو مرحله ده چې پوره شپږ ويشت کاله وخت يې ونيو او ده هم په کې ښې ډېرې هلې ځلې وکړې چې موږ يې دمخه يادونه وکړه.

که يوازې په فرهنګي برخه کې د تېرو ديرشو کلونو په بهير کې موږ د استاد يون له خوا ټول ليکل شوي، ژباړل شوي او راټول شوي اثار محاسبه کړو، نو تر (۱۵۰۰۰) کتابي مخونو يې شمېر اوړي او دا بيا که دده د ليکوالۍ پر (۳۰) کلن عمر وويشو نو د ورځې لږ تر لږه يو نيم مخ کار کېږي. يانې استاد په (۳۰) کلونو کې يوه ورځ هم بې له ليکوالۍ نه ده تېره کړې. دا په داسې حال کې ده چې په سلګونو بېلابېل ليکل شوي پيغامونه، ويناوې، مرکې، مباحثې، مناظرې او لکچرونه لا په دې کميت کې شامل نه دي. ددې ترڅنګ هغه په سلګونو غونډې، مظاهرې، ټولنيز او سياسي خدمتونه ترسره کړي، چې موږ يې دمخه يادونه وکړه، هغه لا له دې فرهنګي کار څخه جلا دي، که دا ټول کارونه سره محاسبه کړو، نو ربښتيا هم سړی فکر کوي چې دا دومره کارونه د هر چا په وس پوره نه دي. هغه چا چې استاد يون سره له نږدې کارونه کړي وي، هغو ته د استاد د کار اوسپله، زغم، هوډ او اراده معلومېږي. هر سړی ورسره کار هم نه شي کولای، يو ستړی، ستومانه او سرګردانه خو ګټور او مثمر ژوند لري، زه ورسره له (۱۳۸۳ل) کال راهيسې کار کوم، د کار او فشار کچه يې ماته تر هر چا زياته معلومه ده. د همدغو کارونو برکت و چې افغانستان کې د ملتپالنې يوه نوې جذبه، روحيه او ولوله راپيدا شوه. داسې يو وخت هم دلته تېر شو چې د واکمنو جنګسالارانو پر وړاندې چا سوئ هم نه شو

کولای، خو استاد يې په مقابل کې ودرېد، ځوانانو يې ملاتړ وکړ او بيا يې ولس هم ملاتړ ته راودانګل. د هېواد ملي او اعتقادي هويت په خطر کې و، د ملي هويت تذکرو کې د (دين) او (ملت) د سترو ارزښتونو د ليکلو مخنيوی کېده، خو استاد يون او ملګرو يې د اسلاميت او افغانيت غږ اوچت کړ او ان د کرزي او غني حکومتونو هم د دې رسا غږ او داعيې مخه ونه شوه نيولی. په داسې حال کې چې افغانستان پرديو ايډيالوژيو سخت زيانمن کړی و، د يوه ملي فکر رغول او ځلول اسانه کار نه و، خو د استاد يون او دده په شان د ځينو نورو شخصيتونو برکت و چې د ملي هويت، ملي فکر او ملي وياړونو ولولې تر هرې بلې ايډيالوژۍ زياتې ځلېږي. زه نه غواړم دا ليکنه تر دې زياته اوږده کړم، ځکه د استاد مبارزه دده په فعاليتونو او همدارنګه د استاد په ټولو اثارو کې انځورېږي. خو ددې ځو ټکو يادونه مې ځکه وکړه چې زموږ راتلونکی نسل د استاد د ملي او فرهنګي مبارزو او د هغه د زمانې له چاپېريال څخه خبر شي.

استاد يون ته د اوږد عمر او لا زياتو برياوو په هيله

ضياء الرحمن ضياء

کابل- ژوندون راډيو ټلوېزيون

(١٣٩٦ل) کال د کب، (٢٧)مه نېټه

# زما د نیمې پېړۍ یون

ژوند یو سفر دی، پیل، منځ او پای لري. د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه زه د تذکرې د رسمي سن له مخې پوره پنځوس کلن شوم. په دې مانا چې په دې نړۍ کې مې پوره پنځوس کاله مزل وکړ. دا مزل به گوډ و مات و، له ستونزو او کړاوونو به ډک و، هدفمن او بې هدفه به هم و، خو هر څه چې و، ژوند و نو. له کومې ورځې چې مې ښي او کيڼ لاس پېژندلی، کوښښ مې کړی چې هدفمن ژوند ترسره کړم، خو ټول کارونه د انسان په وس پوره نه دي، چاپېریال کله پر سړي داسې کانې وکا چې د ژوند بهیر او د فکر مسیر یې وربدل کا. له کومې ورځې چې مې قلم گوتو کې نیولی، نو بیا پر ځان پوه شوی یم چې نه هر څه چې وي، هر څومره ستونزې چې وي، وي دې، ملت ته باید یو څه وکړم. د شعر په لیکلو مې شعور نور هم وده وکړه، خوشال بابا وایي چې شعر مشتق دی له شعوره، نو کېدی شي شعور مې وده کړې وي او احساس مې ځورېدلی وي چې د ژوند دې بلې نړۍ ته یې هم متمایل کړم. د ښوونځي په لسم ټولگي کې وم چې د وخت په اخبارونو کې مې شعرونه چاپ شول، دا زما د زیاتې هڅونې سبب شول. پر همدې مهال په خوشال خان لېسه کې د ادبي انجمن مسول وم. دې سره مې د خپل وخت له ځینو اخبارونو سره قلمي همکاري پیل شوه او په دې ډول مې په رسمي ډول ادبي سفر هم پیل شو. خو له شعر او شاعرۍ سره مې مینه ان له هغه وخته وه چې په ښوونځي کې شامل شوم.

په دولسم ټولګي کې وم چې د (هیلې) په نامه مې د لرو او برو پښتنو افغانانو د ځوانو لیکوالو یوه تذکره یا غورچاڼ برابر کړ او پر (۱۳۶۶ل) کال چاپ شو، د پوهنځي پر وروستي کال مې د (نیمګړي ارمانونه) ، (د لوونو فصل) په نامه دوه راټولونې او هم مې د خپل شعرونو ټولګه (متکور) چاپ کړې. په دې ډول نو له (۱۳۶۶ل) کال څخه بیا تر (۱۳۹۶ل) کال پورې چې پوره دېرش کاله کېږي، ما له فرهنګي دایرې بهر ژوند نه دی کړی او که د چا خبره ووایم چې یوه ورځ هم له فرهنګي کار او روزګاره بهر نه یم پاتې شوی، مبالغه به مې نه وي کړې. البته په دې تېر دېرش کلن بهیر کې ځینې سیاسي کارونه له ناچارۍ څخه راباندې تحمیل شوي او ځینې ټولنیز کارونه مې په خپله خوښه ترسره کړي، خو دا کارونه مې هم د خپل ولس د سوکالۍ، د ملي واکمنۍ د ټینګښت او د فرهنګي کارونو د ملاتړ لپاره ترسره کړي دي. په (۱۳۸۵ل) کال زه د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو رییس وم. دا مهال زما له منظم فرهنګي کار څخه څه باندې دوه لسیزې عمر تېر شوی و، په څنګ کې د نورو هڅو ملي، سیاسي او ټولنیزو کارونو پر وړاندې چې ما یې د سرته رسولو هیله لرله، سخت خنډونه موجود وو، له خپلو ملګرو؛ ضیاءالرحمن ضیاء او وفاالرحمن وفا سره مې مشوره وکړه چې راځئ فرهنګي کار ته اړم شو، دا کارونه جانبي عوارض نه لري او که لري یې هم کم دي، تنګنظره سیاسي اشخاص ورسره ژر حساسیت نه ښیي او که دوی حساسیت ښکاره هم کړي، نو موږ به خپل کار ترسره کړی وي. ددې فرهنګي کار لپاره مو یو پلان جوړ کړ، په څه باندې دوو کلونو کې مو د نږدې دوویشتو کلونو په ترڅ کې شوي فرهنګي کارونه راټول او منظم کړل. زما له خوا ټول

پخواني لیکل شوي کتابونه او راټولونې مې له سره منظم او تر سمون وروسته مو چاپ ته تیار کړل، دا کار که څه هم ډېر ستونزمن و، خو پخې ارادې مو ډېر خپل هدف ته ورسولو. ټول (۳۳) عنوانه بېلابېل اثار مو پر یوه وخت چاپ کړل. (۱۳۸۷ل) کال زما لپاره د فرهنګي کارونو یو غوره کال و. د خوږې خاطرې په توګه مې په ذهن کې دی. هغه وخت مې هم په یادښتونو کې لیکلي او ملګرو ته مې هم ویلي وو چې هېواد کې حالات ترینګلي دي، پر ژوند یوه شېبه هم باور نه شته، نو هر چا چې هر څومره فرهنګي کارونه کړي یانې اثار یې لیکلي دي، باید په خپله یې راټول او چاپ کړي.

زما کار یوه نوې تجربه وه، ځینو نورو لیکوالو هم هڅه وکړه دا تجربه تکرار کړي، خو په لاره کې ټکني شول، خپل کارونه یې بشپړ نه کړای شول. زما د خپلې تجربې له مخې ترڅو چې کار ته کار ونه وایې او خپله یې ترسره نه کړې، کارونه په خپل سر نه خلاصېږي. کله چې مې د عمر نیمه پېړۍ مزل وواهه، نو یو ځل بیا مې زړه کې راتېره شوه چې د خوشال بابا په وینا چې د عمر اساس پر باد ایښی دی، نو بیا خو پرې اعتماد هم په کار نه دی، راځه دا ځل د خپل ټول فرهنګي ژوندانه کړي کارونه چې دا وخت پوره دېرشو کلونو ته رسېږي، بیا له سره منظم او کلیاتو په بڼه چاپ کړه. له دې کار څخه مې هدف دا و چې په ژوند کې مې نه دي غوښتي څوک راڅخه ازار شي او یا د چا د اوږو پېټی شم، هسې نه چې تر مرګ وروسته زما لیکنو او اثارو پسې، ښه دي، که خراب، کمزوري دي که قوي، هنري دي که ناهنري، څوک سرګردانه شي او پر

راټولونې یې ځان سترې کړي. له خدایه شکر کاږم چې ژوند یې راته د نیمې پېړۍ وروستي حد پورې راورسوه، دا د هغه لوی ذات پېرزوینه ده، که نور یې راته وغځوي، نو هم لویه مهرباني به یې وي او که نه برخلیک یې راته وخته لیکلي وي، نو ژوند خو د هغه لوی ذات ډالۍ ده، هر وخت یې اخیستلای شي. په دې خاطر مې یو ځل بیا پر ټولو پخوانیو چاپ او وروسته پر ځینو ناچاپو اثارو گوتې ووهلې او د محتوايي وېش له مخې مې سره منظم کړل، ټول پنځوس عنوانه شول چې راټولونې، پنځونې، ژباړنې او څېړنې ټولې په کې شاملې دي. دا ټول پنځوس عنوانه بیا د شکل او محتوايي وېش له مخې په (۱۴) بېلابېلو ټوکونو کې تنظیم شول او (نیمه پېړۍ یون) نوم ورته ورکړل شو.

دا پنځوس بېلابېل اثار چې بڼه مې پورته ورته یاده کړه زما د نیمې پېړۍ په تېره بیا (۳۰) کلونو فرهنگي سفر پایله او ثمره ده چې خپلو قدرمنو هېوادوالو ته یې وړاندې کړم. که چېرې په هېواد کې جگړه او ناورین نه وای، نو کېدی شول تر دې زیات کار ترسره شوی وای، خو موږ بدمرغه نسل وو چې له ډېر تنکي زلمیتوبه مو جگړه پیل شوې او دادی تر نږدې سپینږیرتوبه لا دوام لري. زه د ښوونځي په شپږم ټولگي کې وم چې جگړې د پلار له خواږه نعمته محروم کړم. له هغې ورځې بیا تر دې لیکنې پورې (۳۸) کاله تېرېږي، خو د پلار مرگ مې د پرونۍ ورځې د ترخې خاطرې په شان په ذهن کې انځور دی. ما غوندې په ملیونونو افغانانو د جگړې ټپونه او دردونه لیدلي دي.

نږدې دوه نسلونه په جګړه کې راګیر شول او لوی شول. د جنګ نسل د فرهنګ نسل نه دی. جګړه ډېره بدمرغه پدیده ده، د فرهنګ او تمدن د عمرونو مېوه او ثمره په یوه ساعت کې پوپناه کړي، نو په داسې یوه جګړه ییز چاپېریال کې چې هر څوک د ټوپک تر واکمنۍ لاندې د قلم د حاکمیت لپاره کار کوي، له اور سره د لوبو په مانا دي. له دې معترضه جملې څخه مې هدف دادی چې زموږ راتلونکی نسل باید پر دې پوه شي چې که ما او زما د عمر ټول پښت راتلونکي نسل ته څه ډېر بډایه فرهنګي سوغات نه دی ډالۍ کړی، نو په دې کې زیات قصور د زمانې دی. خدای(ج) دې وکړي چې زموږ راتلونکی پښت زموږ په شان د ډول ډول انقلابونو د ژرندو تر پلونو لاندې ګیر نه شي، چې د غنم د دانې په شان یې ژوند محوه شي او یا یې هم اغزن چاپېریال د ژوند مېوه پخېدو ته پرې نه ږدي. الله تعالی دې وکړي زموږ راتلونکی پښت زموږ د زمانې له تاوجن چاپېریال څخه ښه پند او عبرت اخیستی وي او د یوه سوکاله ژوند او پرمختللي افغانستان لپاره ورته مناسب فرصتونه برابر شي.

ددې لیکنې په دې برخه کې غواړم د خپل ژوند په پنځوس کلن بهیر او په تېره بیا په (۳۰) کلن فرهنګي ژوند کې له ټولو هغو دوستانو څخه مننه وکړم چې په یو نه یو ډول یې زما د فرهنګي مبارزې لاسنیوی کړی دی. خپل مرحوم پلار ته د دعا لاسونه پورته کوم چې زما مزل یې تر شېږم ټولګي پورې راورساوه او بیا یې د خپل ابدي سفر لمنه ونیوه، خو ما یې د جنازې بازو ته اوږه ور نه کړای شوه او نه مې د مرګ پر مهال د هغه مبارکه څېره ولیده، د پلار قبر مې معلوم نه دی. د ژوند یو ارمان مې دا و

چې کاشکې یې قبر معلوم وای چې لکه د مرغۍ د بچي په شان مې پرې وزرې غوړولای وای، څو شېبې ورسره ارام غځېدلای وای، د هغه د هغو مهربانیو قدر مې کړی وای چې زه یې پر اوږو گرځولای وم. بازار ته یې بیولی وم، مېلې ته یې بیولی وم، ډاکتر ته یې بیولی وم، پټې به یې جیب کې راته پیسې ایښودلې، له نورو پټې. اوس مې نو له خدایه لویه هیله همدا ده چې تر مرگ وروسته مې لومړی ملاقات له خپل پلار سره وشي، په پښو کې ورته ورغړم راورغړم او خپله مینه پرې ماته کړم.

مور مې راسره ډېره په تکلیف شوې، د ژوند ټول ارمان یې خپل زوی ته و، زه یې د یوازیني زوی په توگه ډېر نازولی یم، ځان یې په تکلیف کړی، خو زه یې سختو ته یې نه یم پرې ایښی، ماته یې د تعلیم زمینه برابره کړې، د ټیکري په پیڅکې پورې تړلې پیسې یې راته رالېږلې، خو زه یې بې خرڅه کړی نه یم، بختور وم چې د مور جنازې ته مې په خپله اوږه ورکړه، د وفات پر وخت مې د هغې جنازې ته ځان ورساوه، لکه د مرغۍ بچي چې د خپلې مور پښو ته رغړي، داسې ترې تاو راتاو شوم، سترگې مې ورته ښکل کړې، سترگې یې رڼې وې، لکه چې د خپل یوازیني زوی لیدو ته په طمع وې، مور مې ډېر وخت غېږ کې ونیوله، داسې چې زه به یې کلک غېږ کې نیولی وم، ایا څوک به وي چې د داسې یوې صحنې پوره انځور وکاږي.

له جلال اباده تر لغمانه مې د مور د تابوت سر ته ناست وم، ډېر مې ورته وکتل، په لیدو یې نه مړېدم، له حج څخه مې ورته کفن راوړی و، د خدای په کور مې موښلی او د زمزم په اوبو مې مینځلی و.

له خپلو خوږو خویندو مې هم ډېره مننه کوم چې زما په روزنه او پالنه کې یې ډېر زیات زیار گاللی، له مشرانو او کشرانو خویندو ټولو څخه ډېره مننه، خو ما یې لا د خدمت حق نه دی اداکړی، له خپلو ټولو استادانو څخه چې له لومړي ټولگي څخه بیا د دوکتورا او پوهاندۍ تر کچې یې گام پر گام زما معنوي ملاتړ کړی، له خپلو ټولو هغو دوستانو، ملگرو، لیکوالو، د مال او عزت له خاوندانو څخه هم ډېره مننه چې په دې نیمه پېړۍ کې یې له ماسره مادي مرسته او لاسنیوی کړی دی.

له خپلې مېرمنې او اولادونو څخه ډېره مننه کوم چې په تېرو (۲۲) کلونو کې یې راسره د ژوند ډېرې سړې او تودې وگاللې او زما فرهنگي چارو کې یې له ما سره تر وروستي بریده مرستې وکړې.

له قلموالو، لیکوالو او نورو هغو دوستانو چې زما د اثارو په کمپوز، سمون او چاپ کې یې په یو نه یو ډول مرسته کړې له ټولو مننډوی یم، خدای(ج) دې ټولو ته اجرونه او ثوابونه ورکړي، که ددغو ټولو دوستانو مالي او معنوي ملاتړ نه وای، نو خدای خبر چې زه د دغومره کارونو د سرته رسونې جوگه شوی وای او یا دغه اثار تر تاسو دررسېدلي وای او هم نور فرهنگي، ټولنیز او ملي کارونه ترسره شوي وای.

له ټولو یوه نړۍ مننه

ستاسو د ټولو یون

(۱۳۹٦ل) کال د کب (۱۹)مه

کابل- افغانستان


Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري بنسټ
هیلې
(د ځوانو شاعرانو ګډه شعري جونګ)
راټولوونکی
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ ل

# هیلې

## ( د ځوانو شاعرانو ګډ شعري جونګ )

راټولوونکی

محمد اسمعیل یون

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: هیلې

راټولوونکی: محمد اسمعیل یون

خپرندوی: یون کلتوري یون

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

لومړی چاپ: ۱۳۶۷ل کال

دویم چاپ: ۱۳۸۷ل کال

دراټولوونکي

پرله پسې نومره: (۱)

د خپرندوی

پرله پسې نومره: (۱)

کمپوزر: ضیاالرحمن ضیا

## د دویم چاپ سریزه:

# د ځوانو شاعرانو دا ((هیلې))

د شعرونو دا جونـګ چـې ستاسـو پـه لاس کـې دی، دا د کـوزې پښتونخوا یا لر افغانستان او بـر افغانسـتان د ځوانـو شاعرانو د شعرونو د بېلګو یوه ټولګه ده. دا ټولګه ما له نن څخه نـږدې (۲۱) کالـه دمخه (پـر ۱۳۶۶ ل کـال) راټوله کړې وه او پر ۱۳۶۶ل کال (وروستیو کې) د هغـه وخت د ځوانانو سازمان لـه خوا د زرګونو ټوکو په شمېر چاپ شوې ده. هغه مهال زه



د خوشال خان لېسې د دولسم ټولګي زده کوونکی وم او تخلص مې لا هم نه و غوره کړی. د تعلیم او تحصیل په بهیر کې چې د چا د شعرونو، لیکنو او یا بل کوم ځانګړی اثر چاپ شي، نو دومره کیف لري، چې سړی یې بل مثال نه شي وړاندې کولای، په تېره بیا په هغسې حالاتو کې چې د چاپ وسایل هم په نشت حساب و او اقتصادي تنګسیا هم تــر حــده زیاته وه. زه لا د خوشال خان لېسې د یوولسم ټولګي زده کوونکی وم، چې ددې لېسې د ادبي انجمن د مشر په توګه وټاکل شوم، د دوو کلونو په بهیر کې مو په لسګونو غونډې او مشاعرې جوړې کړې او پــه نــورو ناشمېره ادبي غونډو، مشاعرو او سیمینارونو کې مو ګډون وکړ، دا مهال په خوشال خان لېسه کې د ځوانو شاعرانو داسې یوه څپه راوټوکېدله، چې د دې ښوونځي تر شمېره وتو زده کوونکو شاعرۍ او لیکــوالۍ تــه مخه کړه. هغه وخت د اوس په شان د شعرونو او لیکنو چــاپ، عــادي خبره نه وه، کتاب خو د ډېرو مطرحو او خال خــال شــاعرانو چاپېــده، شخصي چاپخونې نه وې او په خپلو پیسو د کتابونو چاپ هم ډېر دود نه و، یوازې دولت د لیکوالو اثار چاپول او یوازې دولت ددې وس درلود، نو دا مهال د ځوانو شاعرانو د شعرونو او لیکنو چاپ، د هغوی پــه ادبــي ژوندانه کې ډېر مثبت تاثیر درلود. د همدې دولسم ټولګي په بهیر کې ما یوه هڅه پیل کړه، د هغو ځوانو شاعرانو، چې دا مهال ما سره په لېسه او ادبي انجمن کې و، د هغو د کلام بېلګې مې غونډې کړې، تر لېسې بهر د ځینو نورو ځوانو شاعرانو؛ ښځینه وو او نارینه وو، د کلام بېلګــې مــې

انتخاب او همدارنګه په کوزه پښتونخوا کې د يو شمېر ځوانو شاعرانو له چاپي او ناچاپه شعري ټولګو څخه مې هم ځينې بېلګې غوره کړې او په دې ډول مې د هغه وخت د ځوانو شاعرانو د شعرونو يــو غورچــاڼ يــا منتخب ورڅخه جوړ کړ. په دې مجموعه کې په ټوليز ډول د هغه مهال د (۴۰) تنو ځوانو شاعرانو د کلام (۷۴) بېلګې خونــدي شــوي، دا هغــه شاعران دي، چې تر دې مهاله د يوه هم په مستقل ډول د شعرونو ټولګه نه وه چاپ شوې، خو په ځينو اخبارونو او ګډو شعري مجموعو کې يې يو يا څو شعرونه خپاره شوي وو، ځينې په کې داسې شاعران هم شته چې د لومړي ځل لپاره يې په همدې شعري جونګ کــې شــعرونه خونــدي شوي دي. په يوه لښتليک کې د شاعرانو د زېږېدو ځــای او نېټــه هــم کښل شوي، چې له  يو درې څلورو تنو پرته د نورو اکثره، د زېږېدو پــر کال مطمين يم، خو ځينو يې چې وروسته بيا په نورو ټولګو کې خپــل ځانونه معرفي کړي، د زېږېدو کال يې همغه نه دی ښودلی، چــې هغــه مهال يې ماته راکړی و. ددې شعري جونګ تر چاپ وروسته د شلو کلونو په بهير کې په دې مجموعه کې ځينې راغلي شاعران اوس د ګڼو چاپي او ناچاپه اثارو خاوندان او په ټولنه کې مطرح ليکوال دي، خو ځينو يې له دې فاني نړۍ نه کډه کړې او ځينې نور هم له خپل هېواده مهاجرت ته اړ شوي دي. کله چې مې پر (۱۳۶۶ل) کال کــې دا شــعري جونــګ ترتيب کړ، نو بيا يې د چاپ په لټه کې شوم، هغه وخت په خوشال خان لېسه کې د زده کړې ترڅنګ د ((درفش جوانان)) اوونيزې قلمي همکار

**هم وم، له هغې لارې مې د هغه وخت ځوانانو سازمان ته مراجعــه او د دې کتاب د چاپ هیله مې ترې وکړه، هغوی تر دې دمخه ځینې ادبــي کتابونه چاپ کړي وو، خو اکثره یې په دري ژبه وو، دې کار ماته ښه پلمه په لاس راکړه، نو په ټینګار سره مې د خپلې ژبې د استحقاق له مخــې ددې مجموعې چاپ پرې ومانه، هغه وخت د چاپ دا ډول عصري وسایل نه وو، هغوی دا جونګ په لاسي ټایپ، ټایپ کړ او بیا یې په افیسټ ډول، په سپین کاغذ کې چاپ کړ، د کتاب کاغذ ښه و، خو څرنګه چې مــتن ټایپ شوی و، نو چندان ښه نه برېښېده، خو بیا هــم د هغــه وخــت د امکاناتو په حدودو کې یې چاپ ښه او مناسب و.**

**کتاب مې د (۱۳۶۶ل) کال په د لیندۍ میاشت کې هغوی ته ورکړی و او هغوی هم د همغه کال په وروستیو او یا هم د (۱۳۶۷ل) کال په لومړیو کې، چې زه د کابل پوهنتون محصل وم، چاپ کړ او په زرګونو ټوکه مې بیا ځوانو لیکوالو ته په وړیا ډول ووېشه. دا دی ددې اثر تر لومړي چاپ پوره شل کاله تېرېږي، هغه وخت زه د دولسم ټولګي زده کوونکی وم او دا دی اوس چې د (۱۳۸۷ل) کــال وروســتۍ میاشــتې دي، زه د کابــل پوهنتون استاد او د پوهندوی علمي پوړۍ ته رسېدلی یم، دا کتاب یــو ځل بیا چاپوم او د هغه وخت خاطرې او ارزښتونه بیا راتازه کوم. د تېرو شلو کلونو فرهنګي زیار او کار مې داسې په یاد دی لکه دا تېره ورځ چې تېره شوي وي. فرهنګي کار په ډېره مینه، صداقت او احساس ترســره کېږي، کومه مینه چې شل کاله دمخه لــه ماســره د خپــل فرهنــګ د**

غوړېدلو لپاره وه، هغه اوس هم راسره ملګرې ده او هر ځای ته راســره بدرګه روانه ده. که له فرهنګ ، خپلې ژبې او خپل ملت سره د مینې زور نه وای، نو دا شلکلن فرهنګي مزل مې نه شو وهلای.

اوس چې زه د خپل تېرو فرهنګي کارونو پر بیا سمون او راټولېدنګ بوخت یم، نو د ځوانو شاعرانو دا اثر د خپل دې پیل کړي کار د لــومړي اثر او هیلې په توګه یو ځل بیا خپروم، ما خپل فرهنګي کار پر ((هیلې)) پیل کړی او له هیلو سره به پایم، له نورو درنو لیکوالو څخه هــم هیلــه لرم، چې تل هیله من اوسي او خپل زړه ته د نهیلۍ بــلا پرېنــږدي، پــه همدې هیله دا ((هیلې)) ستاسو په مخکې ږدم او د لوستلو بلنــه یــې درکوم.

په درناوي

پوهندوی محمد اسمعیل یون

د (۱۳۸۷ل) کال د سلواغې (۳)مه

کابل- افغانستان

# یادښت

اوس زموږ د هېواد د ادبیاتو په نړۍ کې د ادب ځوانې غوټې غوړېږي او د شعر چینې خوټېږي، چې دا کار زموږ له هیلو ډکو زړونو ته خوښي وربښي، د (هیلې) په نوم د شعرونو دغه جونګ چې ستاسو په لاس کې دی، د دې ګلبڼ د تنکیو سرو غونچو د خندا یــوه ځپــه ده، چــې پــه غوړېدو به یې زموږ امیدونه تازه او تنده به مو پرې ماته شي.

د نوي او زاړه ادب ترمنځه د نږدېوالی غټه وسیله او رابطه هم داده، چې د ځوانو شاعرانو تازه اشعار د چاپ ډګر ته راووځي، په دې لړ کــې غواړو، چې د قبایلي ځلمیانو د اشعارو خوږه مجموعه، چې د ښــاغلي اسمعیل له خوا راټوله شوې ده او د کوزې پښتونخوا ځوان شاعر ان یې هم له یاده نه دی ایستلي، د قدر وړ بولو.

د ا. ځ. د. س. مرکزي کمېټه به په راتلونکي کې هــم د لــرې او بــرې پښتونخوا، د ځوانو شاعرانو او لیکوالو د استعدادونو د غوړېدلو په هیله، د داسې شان مجموعو په خپرولو کې خپل هاند او هڅه ونه سپموي.

په دې هیله چې زموږ د ادبیاتو په ګلبڼ کې د ځوانو شاعرانو ګرمــه وینه وچلېږي، خپلې خبرې پای ته رسوم.

په درنښت

د ا. ځ. د. س. مرکزي کمېټه

# د شعر دا تنکي ګلان

د شعرونو دا مجموعه، زموږ د ګران هېواد افغانستان او پښتونخوا د یو شمېر ځوانو او تنکیو شاعرانو او ناظمانو شعرونه او نظمونه په غېږ کې نیسي. بې له شکه، دا اثر به د برو او لرو ولسونو له پیوستون سره مرسته وکړي او د ځوانو شاعرانو په تشویق کې به بې اغېزې نه وي.

د دې مجموعې موضوعات، عشقي، ملي، اجتماعي او انتقـادي دي، خو د فورم له پلوه زیاتره په غزل کې راځي، ازاد شعرونه او نظمونه هم لري.

په دغه مجموعه کې هڅه شوې ده، چې په لومړي ګام کــې د هغــو کسانو شعرونه او نظمونه راټول شي، چې تراوسه پورې یــې زمــوږ پــه مطبوعاتو کې د چاپ او نشر لږ چانس موندلی دی. زمــوږ پــه عقیــده، مطبوعات د ځوانانو د استعدادونو د روزنې او ودې ډېره ښه وسیله ده، مطبوعاتي نړۍ د زده کړې ځای او د ځوانو هیلو د غوړېدو ډېره غــوره سرچینه ده. په دغه پراخه جهان کې شاعران او ادیبان نه یوازې د ادبي مالیارانو په توګه د ګلو کر کوي، بلکې د دغې زړه راښکونکې دنیــا لــه څپاند سیند څخه یو یو څاڅکی هم راپورته کوي او خپله تنــده پــرې ماتوي.

ادبي نقادان دنده لري، چې د ځوانو شاعرانو پر شعرونو د دې پرنسیپ له مخې چې څنګه یې باید ولیکي!؟ ښوونیزه کره کتنه وکړي. د لوناچارسکي د وینا له مخې: (( نقادان د لیکوالو او شاعرانو استادان دي، خو دوی حق نه لري، چې ځانونه استادان وبولي، ځکه چې که لـه ادبي نقادانو څخه په نقد کې تېروتنه وشي، نو همدغه شاعران تر بل هر چا څخه زیات د هغوی تېروتنې ورسمولای شي!)) زه دغو شاعرانو ته په عمومي ډول سپارښتنه کوم، چې د هېواد د مجربو او نوښتګرو شاعرانو شعرونه په ژوره توګه ولولي او د نړۍ د هغو شاعرانو اثار هـم مطالعـه کړي، چې په پښتو او دري ژبو ژباړل شوي دي. زموږ د ګران هېواد ځوان شاعران او لیکوال باید یوه ګړۍ هم د کرغېړنو افکارو په چاپېریال کې ونه اوسي، ځکه هغوی یې په پړاوونو شاته پرېږدي، د نمونې په توګه: که کوم شاعر خپله ټوله شاعري یوازې او یوازې د یوې نجلۍ د ښکلا لپاره وقف کړي، نو هغه به نه یوازې د ځورېدلو پرګنو پر وړاندې خپل تاریخي رسالت لکه څنګه چې ښایي هماغسې سرته نه وي رسولای، بلکې پـه جرئت سره دا ویلای شو، چې د تکامل له بهیر څخه به په پړاوونو بېرته پاتې وي او باید د خپلې شاعرۍ پر سرنوشت باندې له سره غور وکړي او د وخت او زمان له هیلو او غوښتنو سره سم پیوند ورکړي. زموږ عقیده دا ده، چې داسې شاعران دې د خوبانو ښکلا وستایي، خو خپل لوڅ او بربنډ ولسونه دې هم نه هېروي. په دې ارتباط کارل مارکس څـه ښـه وايي: (( که چېرې څوک یوازې د ځان لپاره کار وکړي، ښايي لوړ شاعر،

د پوهې ښندتن او نامتو شخص شي، مګر هېڅکله نه شي کولای چې بشپړ شخص او په رښتیني توګه ستر وي!)).

کارل مارکس: (( په استثمار ګره ټولنه کې ترقي له یوه کرکجن اورپالونکي رب النوع سره تشبه کوله، چې نه یې غوښتل خپل نوشادر د مړو له کوپړیو پرته په بل شي کې وڅښي!)) تاریخ ددې خبرې شاهد دی، چې کلونه کلونه او حتی په پېړیو یو شمېر شاعران او لیکوال د پاچایانو، سپاه سالارانو او شاهانه دربارونو په خدمت کې وو، خو د خلکو د پرګنو نه ایلېدونکې ارادې ته یې په خپلو ایجادیاتو کې ځای ور نه کړ او له دې نه بې خبره وو، چې د ولس د ځپل شویو ارادو او هیلو انعکاس هغه تلپاتې پیغام دی، چې د خلکو شاعر یې د تل لپاره له ځانه سره لري. دوی په دې هم نه پوهېدل او که پوهېدل نه یې غوښتل چې رښتینی قدرت په وسلو او د شاهانو په تاجونو کې نه، بلکې د بېوزلو پرګنو په لوړ او اوچت مقام کې پروت دی.

د ژمنو شاعرانو افکار که د زماني په کړلېچونو کې په تیره هم واچول شي، نو د شنه کېدلو او غوړېدلو امکانات یې ډېر او د تل لپاره به د وخت او زمان په سرو منګولو کې د سرو جنډو په څېر وربېږي او وځلېږي، ځکه تاریخ پر هغوی باندې د صحت مهر لګولی دی او تر پایه پورې به د مهربانۍ مور په شان په خپله پسته، خو له حوادثو څخه په ډکه غېږ کې ځای ورکړي. هېڅ ډول بې بنسټه تورونه به د هغوی پر وړین تندي

باندې د مړو ایرو ګرد هم ونه شي پاشلی او دا ځکه چې دا د خلکو مال دی او د هغوی پرون، نن او سبا پورې تړلی دی، نو ځکه یې له لاسه هم نه ورکوي او د بلې ډیوې غوندې یې وړانګې لا پسې خورېږي، تر پولو او سرحدونو څخه اوړي او د ځمکې د کُرې د هر ګوټ تیارې رڼا کوي. دا د شعري نړۍ یو اړخ دی.

ددې په مقابل کې زموږ د معاصر شعر او ادب په ځوانه ادبي پروسه کې منفي تمایلاتو او بېګانه پدیدو، نه یوازې زموږ نوی او مترقي شعر او ادب خوړ او ښکلی نه کړ، بلکې خپل ناولی سیوری یې هم پرې وغوړځاوه.

د هر ملت د مترقي ادبیاتو په بهیر کې منفي تمایلات ددې سبب کېږي، چې د هغې دورې ادبیات په موقتي توګه په ولس کې تجرید کړي او د هماغې ادبي دورې جریان د بې لارۍ لور ته سوق کړي. د دې لپاره چې زموږ ځوان شاعران او ادیبان د بېګانه پدیدو ښکار نه شي او د هغوی له پیروۍ څخه ځان وژغوري، نو باید د سبا په هیله د خپل شعر په بڼ کې بې مېوې نیالګی کېننوي او باید د هغه چا په شان هم نه شي چې د اوبو په ډکه ویاله کې د تېرېدلو لپاره یوازې څو لوټې وغورځوي او یو ځلې پرې تېر شي، خو د دویم ځل لپاره نه دده په درد خوري او نه هم د نورو لارویانو!

په هر حال مهمه خبــره داده چــې د ((درفــش جوانــان)) نشــراتي موسسې تقریباً د خپل (۸) کلن نشراتي کار په ترڅ کې د لومړي ځــل لپاره د یوې ځانګړې پښتو مجموعې د خپرېدو لپاره تکل کړی دی، نــو ځکه یې دغه کار د ستاینې وړ بولو.

موږ چمتو یو چې په راتلونکي کې ډېر ارزښتناک اثار د درفش جوانان د نشراتي موسسې د مسوولینو په واک کې ورکړو، څو یې دغه موسسه په خپل وخت کې د مینه والو خدمت ته وړاندې کړي. همــدا راز د دې مجموعې د ترتیبوونکي ځوان شاعر اسمعیل زیار ګټور بولو او د نېکــو هڅو پلوی یې کوو.

په مینه

محمد نبي صلاحي

## د هغو شاعرانو لنډه پېژندګلوي
## چې په دې شعري جونګ کې شامل دي:

| ګڼه | نوم | د زېږېدو کال | د زېږېدو ځای |
|---|---|---|---|
| ۱ | عبدالمالک بېکسیار | ۱۳۴۰ل | میدان وردګ |
| ۲ | الله داد روښان | ۱۳۴۴ل | ژوب |
| ۳ | کریمه لمبه | ۱۳۳۹ل | کونړ |
| ۴ | اختر خوشال | ۱۳۴۵ل | جنوبي پښتونخواکویټه |
| ۵ | صفیه صدیقي | ۱۳۴۲ل | ننګرهار |
| ۶ | محمد ریاض | ۱۳۴۳ل | پېښور |
| ۷ | ممتاز | ۱۳۴۵ل | کونړ |
| ۸ | نادیه مینه | ۱۳۵۱ل | ننګرهار |
| ۹ | فیروزشاه | ۱۳۴۵ل | سوات |
| ۱۰ | صدیق الله بدر | ۱۳۵۲ل | ننګرهار |
| ۱۱ | محب الله خپلواک | ۱۳۴۹ل | کونړ |
| ۱۲ | زهره څپه | ۱۳۵۱ل | میدان وردګ |
| ۱۳ | محمدیوسف قدردان | ۱۳۴۳ل | جنوبي پښتونخوا پښین |
| ۱۴ | جمشید | ۱۳۵۰ل | کونړ |
| ۱۵ | علم | ۱۳۴۳ل | غزني |
| ۱۶ | پلوشه ساپۍ | ۱۳۴۳ل | لغمان |
| ۱۷ | تېمورشاه بهار | ۱۳۴۳ل | جنوبي پښتونخوالورلایي |
| ۱۸ | عطامحمد | ۱۳۵۰ل | کونړ |
| ۱۹ | عبدالله پانوس | ۱۳۴۹ل | کونړ |
| ۲۰ | شفیق احمد بدر | ۱۳۴۹ | جنوبي پښتونخوا-لورلایي |
| ۲۱ | ساجده عبدالله | ۱۳۴۹ل | لوګر |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۲ | حبیب الرحمن قربانخېل | ۱۳۴۸ل | غزني |
| ۲۳ | عبدالغني مبارز | ۱۳۴۲ل | جنوبي پښتونخوا-لورلایي |
| ۲۴ | محمدظفر تنی | ۱۳۴۹ل | خوست |
| ۲۵ | ملوک هوس | ۱۳۴۵ل | باجوړ |
| ۲۶ | فیض محمد شهزاد | ۱۳۴۲ل | پښین |
| ۲۷ | ظاهرشاه ظاهر | ۱۳۴۹ل | کونړ |
| ۲۸ | احمد تکل | ۱۳۴۳ل | وردګ |
| ۲۹ | فریده هوډ | ۱۳۴۰ل | ننګرهار |
| ۳۰ | سرزمین اسرار | ۱۳۴۳ل | سوات |
| ۳۱ | ملالۍ ساپۍ | ۱۳۴۵ل | کاپیسا |
| ۳۲ | فیض محمد تصور | ۱۳۴۵ل | کونړ |
| ۳۳ | عطیه افق | ۱۳۴۴ل | کندهار |
| ۳۴ | امان الله غلجي | ۱۳۴۵ل | ګومل |
| ۳۵ | عالم زېب | ۱۳۴۶ل | سوات |
| ۳۶ | لعل پاچا | ۱۳۵۰ل | ننګرهار |
| ۳۷ | محمدقاسم هیله من | ۱۳۴۰ل | ننګرهار |
| ۳۸ | لاهور ټکر | ۱۳۴۰ل | خوست |
| ۳۹ | شفیقه رڼا | ۱۳۴۰ل | کندهار |
| ۴۰ | اسمعیل | ۱۳۴۶ل | لغمان |

# ملت

ځنګه په سوچو يــې کــړم نــاز دې لــه خنــدا ســره
جوړ له لوړو غرو يې کړم نــاز دې لــه خنــدا ســره

نن چې د اغيار پلــو، ســترګو کــې موســکی شــولې
دود د ســپېلنو يــې کــړم نــاز دې لــه خنــدا ســره

ځيرې ګرېوان، وينې مې خپل، پــردی، اشــنا او يــار
شمار په لېونــو يــې کــړم نــاز دې لــه خنــدا ســره

سرې سترګې مې نه ګــوري، نښــه د عمــرو شــوګير
ډوب په نيمو شپو يې کړم نــاز دې لــه خنــدا ســره

هېڅ په خود کې نه يمــه، ګــرځم بېګانــه لــه ځــان
خدايږو د پــردو يــې کــړم نــاز دې لــه خنــدا ســره

څه چارې دې وکړې را، وړم چې نــاز د کـــس نــاکس
څنګه بې پښتو یــې کــړم نــاز دې لــه خنــدا ســره

اوس نو راته خانده ته، څــو چــې دې هــوس کېــږي
سر په زنګونــو یــې کــړم نــاز دې لــه خنــدا ســره

دا پــه بېکســیار بانــدې، ســتا منــت د عمــر شــو
ګډ پــه غزلــو یــې کــړم نــاز دې لــه خنــدا ســره.

عبدالمالک بېکسیار

# غزل

راګــوري چــې قــدم ږدمــه پــه څوکــو د ازغــو
پرهــر د زړګــي ســم ږدمــه پــه څوکــو د ازغــو

سپرلیه چې بیا نه کړې ګل په وینــو کــې غرقــاب
ورځمــه پــرې قســم ږدمــه پــه څوکــو د ازغــو

چــې هــر وارې درګورمــه اشــنا زخمــي ســینه
د ګل پــه خېــر هــردم ږدمــه پــه څوکــو د ازغــو

لا اوس هم په نظــر ویشــتلی زړه وایــم چــې روغ
ســاده یمــه ملهــم ږدمــه پــه څوکــو د ازغــو

رقیبــه د ارمــان څلــي تــه خېــږم بېکســیار
خپل ژوند کې یو وخت هم ږدمه په څوکو د ازغــو.

عبدالمالک بېکسیار

# د خیال په څنو

ګـــوره زړه د خیـــال پـــه څنـــو مـــه زانګـــه
هســـې د وصـــال پـــه څنـــو مـــه زانګـــه

ســـتړی تصـــور مـــې درختـــی نـــه شـــي
بـــس نـــو د هـــلال پـــه څنـــو مـــه زانګـــه
غبـــرګ کـــې بـــه دې خـــدایرو کـــه څـــوک ونیســـي
هســـې د وبـــال پـــه څنـــو مـــه زانګـــه
ځنـــډ بـــه دې نظـــره وهـــي ګـــرد غونـــدې
ګلـــې د مســـال پـــه څنـــو مـــه زانګـــه

روغ یـــې بېکســـیاره کـــړې پـــه مـــړو حســـاب
ډېـــر د چاپېریـــال پـــه څنـــو مـــه زانګـــه.

**عبدالمالک بېکسیار**

# د هوس په شونډو

تا د سرو ګلو په ساحل کې
د وړمو په اوږو
سرې تلې ایښې نرمې
او د غوټو په ژبه
د څپو مستې نغمې
تکرار وي په ناز ناز
او
د انکار په سترګو برندې برندې
ګوري اوبه اوبه
مینو زړو کې
د سترو هیلو پښېمان جهیل ته
او لکه شوي چې وي
د خوشالو جام له ازله یو د تا په برخه
په لاهو شوو
باندې خاندې د هوس په شونډو.

عبدالمالک بېکسیار

# غزل

ناســـت یـــم غمـــزده نـــن د اشـــنا غـــزل لـــیکم
گـــورم یـــې تصـــویر تـــه پـــه ژړا غـــزل لـــیکم

د مینـــې کـــور ودان و پـــه کـــې گرځېـــدم خوشـــال
اوس وران د مینې کور شو چـې تنهـا غـزل لـیکم
په ښـار کلـي کوڅـه کـې پسـې گـرځم شـاوخوا
وفـا نـه شـته مجبـور یـم پـه جفـا غـزل لـیکم
تـه زمـا د سـترگو تـور او د زړه سـر یـې دلربـا
له تـا مـې گیلـه نـه شـته پـه دنیـا غـزل لـیکم
گرېوان مې تراټې تراټې شو په اوښـکو بانـدې لونـد
پـــه ســـرو گلـــو ژړېـــږم پـــه ژړا غـــزل لـــیکم

اخـــر بـــه پـــرې یـــادېږم زه روښـــان دلتـــه ضـــرور
پر وخت د زنکـدن بانـدې چـې سـتا غـزل لـیکم.

الله داد روښان

# امن او جنګ

باز: زه يــو ســور شــهباز يمــه لــوړ پــه پرازونــو كــې
تــه ســپينه كــوتره يــې كښــته پــه ســيلونو كــې

کوتره: ګرځمــه پــه تــړو كــې پــل پــه اســمان ويــنم ســتا
ځكــه اوس پــرواز كــوم زه پــه دې دښــتونو كــې
زه ياغي كــوتره يــم هــېڅ څــوك مــې نيــوی نــه شــي
ځكــه الوتــل كــوم لــوړو غــرو رغونــو كــې

باز: دا خــوني پنجــه بــه زه، ســتا پــه وينــو ســره كړمــه
بيــا بــه الوتــل نــه كــړې هېڅكلــه پــه غرونــو كــې

کوتره: زه د ســولې لــور يمــه، لــوړ مــې دی ارمــان همــېش
څوك چــې ځغلــي مــا پســې مــري بــه ارمــانونو كــې

باز: امـــن امـــن څـــه کـــوم امـــن د بېوســـو کـــار
زه خـو هغـه بـاز یمـه ځـای مـې دی پـه غرونـو کـې

کوتره: ډېر په ځان مغرور یـې تـه، سـر پـه سـر سـرونه شـته
چـا چـې سـوله نـه غوښـته وسـول پـه اورونـو کـې

باز: هر څو که نعرې کـړې تـه نعـرې دې څـوک نـه اوري
لاړه بـه لــه مانــه شــې تــه پــه اســمانونو کـــې

کوتره: واوره ای روښـــانه تـــه، زور او ظلـــم پـــای لـــري
زه د امـــن چغـــې کـــړم ټولـــو ولســـونو کـــې.

الله داد روښان

# د وطن مينه

چــې پــه درد د خپــل وطــن هرڅــوک ســوزېږي
ژونــدي پــايي کــه ظــاهر کــې فنــا کيــږي

چـــې مـــين وي د وطـــن پـــه کـــانو، بوټـــو
قربـــانۍ تـــه د فرهـــاد غونـــدې درېـــږي
چـــې شـــهيد شـــي د وطـــن پـــه خـــدمتونو
نـــوم يـــې تـــل پـــه تـــاريخونو کـــې ځلېـــږي
ســـزاوار د دغـــې مينـــې هغـــه څـــوک دی
چـــې پـــه مينـــه د وطـــن ســـر نـــه تېرېـــږي
د وصـــال شـــپه کـــې شـــهيد تـــابوت چـــې راوړي
مېړنـــو کـــې قهرمـــان اتـــل يـــادېږي

کريمـــه بـــه قهرمـــان شـــعرونه لـــيکم
اتلوالـــه اتلانـــو تـــه رســـېږي.

کريمه لمبه

# بې ننګ زړګي ته

زمـــا ملګـــري د پنجـــاب پـــه زولنـــو کـــې پراتـــه
بې ننګ زړګیه ستا فکرونه شـــوندېو ســـرو کـــې پراتـــه

شوندې به څه کړم چې د خپلـو خلکـو وینـې ویـنم
پښتنې خویـنـدې ســـر ســـرتورې بـــې پړونـــې ویـنم

زمـــا د خوینـــدو عزتونـــه د بـــل پـــه پښـــو کـــې پراتـــه
بې ننګ زړګیه ستا فکرونه شـــوندېو ســـرو کـــې پراتـــه

چا چـــې پـــه ژونـــد کـــې یـــو ارمـــان د ازادۍ درلـــوده
د پښـــتونخوا د لـــوی وطـــن د خپلـــواکۍ درلـــوده

هغـــه ملګـــري بـــې کفنـــه هـــدیرو کـــې پراتـــه
بې ننګ زړګیه ستا فکرونه شــونډو ســرو کــې پراتــه

څوک چې په خپل ښکلي وطن کې د بل چا نــوکر وي
په خپل شتمن وطن کــې وږي لــه هــر څــه نهــر وي

وایــم د هغــو دي هــر څــه پــه جنګېــدو کــې پراتــه
بې ننګ زړګیه ستا فکرونه شونډو ســرو کــې پراتــه.

اختر خوشال

# غزل

ســـتا د حســـن تقاضـــې دي شـــي بـــه تېـــرې
دا څـــو ورځـــې دې نخـــرې دي شـــي بـــه تېـــرې

دا بـــې تاجـــه پاچـــاهي بـــه دې پـــه شـــا شـــي
د غـــرور دې دا څـــو شـــپې دي شـــي بـــه تېـــرې
پـــه ژړا او پـــه فریـــاد درتـــه شـــوم ویلـــې
هـــر نفـــس کـــې مـــې ګیلـــې دي شـــي بـــه تېـــرې
افغـــان ســـر مـــې ســـرو ګولیـــو تـــه ټیـــټ نـــه شـــو
خیر کـــه تـــا تـــه مـــې ســـجدې دي شـــي بـــه تېـــرې
ســـاقي مســـتې پیـــالې ورکـــړه چـــې نشـــه شـــي
د خوښـــۍ یـــې دا شـــېبې دي شـــي بـــه تېـــرې

ستا ښکاري سترګې مې ښکار کـړې زه خوشـال یـم
دا د مینـــې مرحلـــې دي شـــي بـــه تېـــرې.

اختر خوشال

# د حیا په اور

د یو اختر په ورځې

له انتظاره لرې

سترګه په سترګه شولو

ما خو هم ستا په سترګو

خواږه، خواږه خیالي خوبونه لیدل

په دواړو سترګو کې مو

د زړه درزا جوته

خو!

زما له بده بخته

دونه حیا په پښتنه غېږه کې

بېواکه ونغښتله

هله مې سترګې د حیا له اوره

لکه د شمعې ویلې شوې اوښکې

پر ځمکه پرېوتلې

پرهر په زړه پاتې شو

ځکه مې تاته د اختر د ورځې

مبارکي ونه ویل!.

صفیه صدیقي

# د مینې دنیاګۍ

همدا چې په سـینه کـې مـې غمونـه نـه ځـایېږي
د سـترګو پـه کاسـو کـې مـې اورونـه نـه ځـایېږي

ګرېوان اختیار بـایللی مـې سـیلو تـه دی د اوښـکو
ماشوم زړه کې مې خـدایږو دا رنځونـه نـه ځـایېږي

رېبـاره یـار تـه وایـه چـې د خـدای لپـاره راشـه
محـل کـې مـې د مینـې پېغورونـه نـه ځـایېږي

تصویر د چا د عشق مې تصور کې ځای پـر ځـای دی
دا ځکه مې پـه سـر کـې نـور فکرونـه نـه ځـایېږي

کـه سـل راتـه عـالم د لېونـو پـه سـترګه ګـوري
د مینـې لېونتـوب کـې مـې عقلونـه نـه ځـایېږي

دا ولــې مــا پــه مینــه کــې ملګــرو ګرمــه بــولۍ
رښــتینې دنیــاګۍ کــې مــې رســمونه نــه ځــایېږي

پرون چــې مــې اشــنا راتــه وعــده د دیــدن راکــړه
د زلفــو پــه کمځــو کــې مــې ګلونــه نــه ځــایېږي

چې ماتې هتکړۍ مې کــړې د مینــې پــروا نــه شــته
خــاطر د لېونــو کــې مــې جېلونــه نــه ځــایېږي

سرخي وینم شــفق کــې دا یــې زړه پــه مــا ســېزلی
پــه شــعر د صــفیې کــې نــور غمونــه نــه ځــایېږي.

صفیه صدیقي

# د خزان غېږ

تـــا چـــې یادومـــه نـــو ګرېـــوان پـــه اوښـــکو ولامبـــي
یـــاره انتظـــار کـــې دې هجـــران پـــه اوښـــکو ولامبـــي

واخله ژونده واخله ستا خوښـــي شـــه مبـــارک درتـــه
پرېږده چې سینه کې مې خپګان په اوښـــکو ولامبـــي

دې زاړه ګوګـــل کـــې دې زړې زړې کیســـې پرتـــې
ځوانې شئ ای هیلو چې حیران پـــه اوښـــکو ولامبـــي

تـــا بـــه پـــه ګرېـــوان یـــا د وربـــل لـــه پاســـه وســـاتم
پټ په زړه کې ښه یې چې ګلان پـــه اوښـــکو ولامبـــي

پرېږده چې مې مینه د هر چا پــه زړه کــې وغــورځي
پرېږده حسرتو کې مــې اســمان پــه اوښــکو ولامبــي

پرېږده چې دا څیرې ګرېوان نور هم پسې څیرې کــړم
څو سوي ګوګل کې مــې ارمــان پــه اوښــکو ولامبــي

ګل د پسرلي وم د خزان پــه غبــرګ کــې مــړاوی شــوم
پرخه د سهار شه چــې خــزان پــه اوښــکو ولامبــي.

**صفیه صدیقي**

# کله نا کله

پــه زړه کــې د لیمــو چــې اوســېدې کلــه نــا کلــه
د اوښــکو پــه بــاران بــه لمبېــدې کلــه نــا کلــه

که هلته به ځای نه و د زړه کور کې بــه مېشــته وې
توپــان کــې د اهونــو ورکېــدې کلــه نــا کلــه
ارمان چې دې د هجر تورو شــپو تــه تنهــا پرېښــوم
که نــه زمــا ترخنــګ بــه ســوځېدې کلــه نــا کلــه
شي شپه په سودا تېره او ســپېدو تــه مــې نظــر وي
په سترګو کې چــې هلتــه خندېــدې کلــه نــا کلــه

اشــنا چــې مــې منلــې جفــا ګــانې خپــه نــه وم
له هجــره بــه مــې اوښــکې بهېــدې کلــه نــا کلــه.

صفیه صدیقي

# د محبت ګلونه

مالي ګلونه کره

په هغو زړونو کې چې

د ښارو دښتو په شان، وچې سپېرې پرتې دي

په ځېر د کاڼو دي، دوی چې الفت نه پېژني

د دغو کلکو زړونو، ددې سپېرو ډاګونو

هوا بدله کړه ته، فضا بدله کړه ته

ورته رڼا وښښه د رنګارنګ ګلونو

بیا به یو لاس شو سره

کاڼي به وچوو موږ

د هغو زړونو ښارو دښتو ته به

د محبت له ویالې، اوبه په لپو راوړو

بیا به خړوب شي هغه

په کې به وټوکېږي

د محبت ګلونه.

**صفیه صدیقي**

# تپوس

ســترګو نــه دې وپوښــته دا کتــل کتــل څــه دي؟
غشي په ګوګل زما ســر پــه ســر ویشــتل څــه دي؟

ستا د محبت په تــور ښــه شــوه چــې تورنــه شــوم
سترګه د ســبا ښــه یــم اوس نــو پتېــدل څــه دي
چا ویلې چې ستا د عشق، ګــل راشــوکوی نــه شــم
سر په ســر ګلونــه مــې یــاره پــه وربــل څــه دي؟
رنځ د خــوږې مینــې دې پــټ پــه زړه کــې ســاتمه
اوښکو ته حیرانــه یــم داســې ویــر کــول څــه دي؟
پرخــه شــومه پرېــوتم پښــو تــه دې اشــنا پــرون
خاورې شوم ایرې شومه اوس دې نــو ژړل څــه دي؟

زړه د صــــفیې درتـــــه پټــــې دعاګـــــانې کــــړي
لوړ همت مې لوړ ښه دی جار باندې ویــل څــه دي؟

صفیه صدیقي

# د سولې لمر ته

ته راته خاندې خاندې
شونډې موسکۍ دې وینم
دا ستا په سترګو کې یو زېری د خوښۍ وینمه
ښایي چې ماته یې پیغام راوړی
ښایي چې ماته یې د اوږد ویر انجام راوړی
که نه خو دا سترګې غمجنې وې تل
که نه خو دا زړګی غمجن و مدام
که نه خو جنګ و تل جګړه وه
د ګولیو ډارونکی غرړ و
که نه خو ویر و تل ماتم و او ژړاوې به وې
تل به ځوانان په وینو رنګ و دلته

**تل به وې بورې او ویر جنې میندې**

**دلته وې کونډې یتیمان بې شمېره**

**دلته خوښي**

**دلته خندا**

**هېڅ نه وه**

**اوس چې ته خاندې، خاندې**

**شونډې موسکۍ دې وینم**

**دلته د جنګ ورځې ختمېږي نورې**

**ځکه ددې وطن د مور په غېږ کې**

**هر څوک چې وینمه په شونډو یې**

**د سولې نغمه**

**خوره، خوره ښکاري.**

**صفیه صدیقي**

# غزل

ګـــران د بېلتـــون راتـــه وختونـــه ښـــکاري
پـــر زړه زمـــا ســـوي داغونـــه ښـــکاري

دا ســـــتا د مینـــــې د خـــــاطر لپـــــاره
ماتـــه خارونـــه هـــم ګلونـــه ښـــکاري

خـــدایږو یـــوه کـــه مـــې ارزو پـــوره شـــي
د حســـن نیـــت کـــه فریبونـــه ښـــکاري

چـــې پـــه کـــې ســـتا دښـــکلا ذکـــر راځـــي
ځکـــه خـــوارۀ مـــې ټـــول شـــعرونه ښـــکاري

چـــې نظـــر وکـــړم لېـــونی مینـــې تـــه
خوشـــې عبـــث راتـــه خوبونـــه ښـــکاري

چـــې وړي دیـــدن اوس د اغیـــار کلـــي تـــه
خـــاورې بـــه خـــود زمـــا امیدونـــه ښـــکاري

نراشـــــه ورشـــــه د یـــــادونو چـــــم تـــــه
څه دې پـه زړه کـې نـن خیالونـه ښـکاري.

محمد ریاض نراش

# کسات

زه د ارزو په مخ
د زخمي ژوبل شهید شوي احساس
له نا امیده او نا ښادو
وینو
یو څو خالونه کېږدم
خو ته حسرت یې
د غرور په الماسینو نوکو
د چا د مکر د تسل لپاره
بې لوره وشپېلوي
او بیا د خیال

د ناوې

سپېرې، زړې ډولۍ ته

په کوڼ نظر وګورې

او په کړس، کړس وخاندې

خو

رنګ دې ژېړ شي

ژړغونې شې ته!

ممتاز

# د اور څپې

ما د لمرین حسن د اور په څپو
د پېغلو، پېغلو او ناښادو هیلو
د بې درملو نامرادو ارمانو په خاطر
لکه
لیتکی
ځان ډوبول غوښتل
خو
د بې لورې
او بدنامې بوډۍ
د تورې شپې بچیو
زموږ په کلي
د سکروټو باران وورواوه
او
ان کوڅه کې
د حسرت په څاڅکو وڅڅېدم.

ممتاز

# د لېمو په لار

پــه مينــه کــې مجنــون شــه د فکــرو پــه لاره مــه ځــه
منصــور شــه ابــدي شــه د شــېبو پــه لاره مــه ځــه

د سرو شونډو موسکا شه په هوس، هوس مې ښــکل کــړه
احساســـه لېونيـــه! د لېمـــو پـــه لاره مـــه ځـــه
د شمعې څنګ کې کېنــه ژونــد کــول ورځنــې زده کــړه
پتنګـــه ځوانيمرګـــه د لمبـــو پـــه لاره مـــه ځـــه
قـــدم ګـــوره پښـــتون ړده چـــې ګـــودر د پښـــتنو دی
غـــروره! مـــاتوي دې د پـــردو پـــه لاره مـــه ځـــه
د مينـــې ســـرو لمبـــو تـــه لـــه تکـــل ســـره رادانګـــه
تنکيـــه! ګلاليـــه د نخـــرو پـــه لاره مـــه ځـــه

خفـــه نـــه شـــې ګرېوانـــه زړه حـــره د قلنـــدر ده
غمونـــه چـــې راتلـــه نـــو د ګيلـــو پـــه لاره مـــه ځـــه.

ممتاز

# د حسرت شغلې

کلـــــه منـــــزل کلـــــه ډیـــــوې وســـــوزي
کلـــه شـــفق کلـــه ســـپېدې وســـوزي

د حیـــرت تـــاو کـــې د حســـرت د شـــغلو
کلـــه لمبـــې کلـــه ایـــرې وســـوزي
فطـــرت یـــې ســـیزي د غربـــت پـــه لوګـــو
کلـــه نصـــیب کلـــه وعـــدې وســـوزي
حســـنه! چـــې تـــا پـــه مـــړو کتـــو ووینـــي
عشـــق اوریـــن شـــي ارادې وســـوزي
د وخـــت نـــادودو کـــړم لـــوګی غـــرور تـــه
کلـــه مـــې ســـر کلـــه پښـــې وســـوزي
چې د حســـرت د خیـــال کـــوڅې تـــه درشـــي
زمـــا د ذهـــن زلزلـــې وســـوزي

د احساس سترګو کې تکـذیب تهـذیب شـي
تـــالو مـــې وچ شـــي او ګیلـــې وســـوزي.

ممتاز

# غزل

د درد په هر یو ټال کې مـــې ښــکاره شــه تــه اشـــنا
ستي ســتي زړګــي تــه مــې نغمــه شــه تــه اشـــنا

د تـــا د یــــاراني غمونــــه ډېــــر لــــرم پــــه زړه
لیدو تــه یــې لــږ شــان پــه تماشــه شــه تــه اشـــنا

نشــه د میــو شــرم کــړي نشــو نــه ســتا د عشـــق
د زړه د عشق دېره کې مـــې مېلمــه شــه تــه اشـــنا

د مینـــې پــه انګـــار زه مینــه اوړم ســـتا پــه عشـــق
امیــد او ارمـــانو تــه مـــې اســـره شـــه تــه اشـــنا.

ناديه مینه

۱۸/۸/۱۳۶۶

# د زړه درد

د زړه درد مــــــې لازیــــــاتېږي حیرانېـــــــږم
لــه دې خپلــې بــې خبــرۍ نــه، نــه خبرېــږم

ســــتا د زړه د تـــــور توپانــــه نــــه ډارېــــږم
زه پښـــتون یــم د ننــګ اور کـــې خوشــالېږم

د خپـــل وار چـــې منتظـــر وم وار زمـــا دی
او زمـــا د وار نــــه تــول جهـــان اګـــاه دی

مـــا کلونــه ســتا تــر جبــر لانــدې تېــر کــړل
تــا بچـــي مـــې د اولـــس یتیمـــان ډېــر کــړل

ولـــې تـــا د پښـــتون دا روایـــت هېـــر کـــړل
دښـــمنانو کلـــه هـــم پښـــتانه زېـــر کـــړل؟

ګورئ ورونـو دی چـې نـن زمـا پـه خـوا دی
ده ویـــل بـــه دا کـــافر د پښـــتونخوا دی

نــن زړګــی مــې د پښــتون پــه درزېــدو دی
چې له خوبه مې هــر ځــوان پــه ویښــېدو دی

لـــه وطنـــه مـــې دښـــمن پـــه تښـــتېدو دی
کــړئ پــرې چغــې اباســین پــه خندېــدو دی

په چمن کې چــې هــر ګــل یــې پــه خنــدا دی
ای فیــروزه دغـــه ښـــکلی وطـــن ســـتا دی.

فیروزشاه

# غزل

بخت مــې د مينــې هســې خــوار ويــنم
اغيار پــه څنــګ کــې چــې د يــار ويــنم

زړه پـــه ګوګـــل کـــې نـــاقراره شـــي لا
يـــار مـــې پـــه لار چـــې د اغيـــار ويـــنم

هر څــه بــه تېــر شي خــو زمــا زړګيــه!
خيــر کــه خنــدا د عشــق پــه دار ويــنم

لکـــه بلبـــل د ګـــل پـــه مينـــه بانـــدې
مـــدام ســـينه کـــې د ګـــل خـــار ويـــنم

بـــدره! دا ســـتا د اميـــدونو کـــور کـــې
د ســـرو ګلونـــو ســـور بهـــار ويـــنم.

صديق الله بدر

۱۳۶۶ جدي

# د زړه خبرې

چــې راتــه کلــه کــړي پــه خولــه خبــرې
ماتـــــه معلــــومې شـــــي د زړه خبـــــرې

وړوکـــی نـــه یـــم چـــې بـــه هېـــره شـــې تـــه
هېرېـــــدل تـــــــل وي د واړه خبـــــرې

وړی دا ســـتا د مینـــې مـــوږ بـــه نـــه شـــي
مینـــه کـــې نـــه کـــړم د مـــاړه خبـــرې

وایــم چــې تــل وای خــوا پــه خــوا راســره
چــې مـــو کـــولای د هـــر څـــه خبـــرې

مـــین زړګـــی چـــې راتـــه نـــه ژړوي
بـــدره مـــه کـــړه د بېلتانـــه خبـــرې.

صدیق الله بدر

۱/۱۰/۱۳۶۶

# غزل

زه چې شرابي یم لــه نشــو ســره ملگــری یــم
یم چې مین شوی شونډو سرو سره ملگری یــم

ماتـــه د دوزخ د لمبـــو څلـــه یادونـــه کـــړې
دلته د جانان د مــخ شــغلو ســره ملگــری یــم

لار د ژوندانه مــې لــه غمونــو ســره ســتړې ده
ځکه تل د ژوند له اندېښــنو ســره ملگــری یــم

ځم چې د ساقي د حال پوښتنه خو هم وکړمــه
تل یې له نشــو ډکــو جــامو ســره ملگــری یــم

راز زما د مینې چې په زړه کې تل ســاتي بــدره
هسې لــه راز ډکــو زمــانو ســره ملگــری یــم.

صدیق الله بدر

# غزل

د حســـن تـــال تـــه ورختمـــه زنګېدمـــه پـــه کـــې
د ګړنګونـــو بـــه لوېدمـــه مګـــر تلمـــه پـــه کـــې

د چـــا پـــه نـــاز خنـــدا خـــرد لـــه مانـــه لاس واخیســـته
د جنـــون اور کـــې ســـوزېدمه اوســـېدمه پـــه کـــې

د زړه پـــه وینـــو ګـــوره هســـې اوښـــکه ځـــان بـــدلوي
د ګرېـــوان ډنـــډ کـــې ډوبېدمـــه ورکېدمـــه پـــه کـــې

د هجـــر ګوتـــو یـــې زمـــا د زړه ارمـــان ځیـــرې کـــړ
ســـر پـــه صـــحرا بـــه ګرځېدمـــه کړېدمـــه پـــه کـــې

ســاقي پیـالې دې ډکــوه چــې نــن یــې وار راغلــی
ډېــر یــې پــه تمــه تاوېدمــه څورېدمــه پــه کــې

دا ســتا د عشــق پــه ســوزونکي اورنــۍ بټــۍ کــې
لکــه نینــه بــه جګېدمــه لګېدمــه پــه کــې

دا د ارزو د شــونډو ســره دې چــې پرهــر ښــکلوي
د حســرت اوښــکې پاکومــه خندومــه پــه کــې

ســتا د رخســار او اننګــو لــه قــاروني خزانــې
خــالي کچکــول راووتمــه ژړېدمــه پــه کــې.

محب الله خپلواک

۴/۳/۱۳۶۶

# غزل

اسـمان تـه زه د خیـال پـه سـر درو کـې وختـم
سپین مـخ تـه د اشـنا چـې پـه کمڅـو کـې وختـم

توبې خـو مـې زاهـد تـه لـه پخـوا نـه وې وېسـتلې
تقـدیر دی چـې پـه لیکـه د پیـالو کـې وختـم

پښتو غیرتي هوډ به مې هـېڅ وخـت تغیـر ونـه کـړي
منـزل تـه کـه پـه څوکـو د چـړو کـې وختـم

قسمت که مې ښه بولئ نو له دې نه بـل څـه نـه شـته
بـس دا چـې پـه نامـه د پښـتنو کـې وختـم

د حسن په زنځیر چې نن د عشق زنـدان کـې بنـد دي
محبـه! نـور نـو هغـو لېونـو کـې وختـم.

محب الله خپلواک

۱۳۶۶ل کال

# غزل

زما د هیلو سره ګـلان بیـا پــه خنــدا ښــکاري
ځکه رقیب بیا پــه غمــو کــې پــه ژړا ښــکاري

خمونه تــش جامونــه تــش دي د یــارانو زمــوږ
ځکه خو ورانه میخانه نن خوا په خــوا ښــکاري

کله چې کېږدي په چمن کــې قــدم مینــه زمــا
د ګل په ښکلو ښکلو سترګو کې حیــا ښــکاري

نن مې په لاس کې د ساقي پیاله د مــی ولیــده
ځکه شراب راته جــامو کــې پــه نڅــا ښــکاري

کله چې ګورم د اشنا سترګو تــه مینــه بانــدې
په کې امید او سور ارمان مــې د ســبا ښــکاري.

زهره څپه

# غزل

یــو وار مـــې تـــه پـــه مړونـــدو ویـــده کـــه
بیـــا مـــې پـــه خـــاورو او ایـــرو ویـــده کـــه

زه د مـــودو پـــه لمـــرو ســـوی یمـــه
تـــه مـــې د زلفـــو پـــه کمڅـــو ویـــده کـــه
زه د ګلشـــن ګلونـــه نـــه غواړمـــه
خزانـــه تـــه مـــې پـــه اغـــزو ویـــده کـــه
ګوندې ربـــاب مـــې ســـتا کـــې درد در قـــرار
مطربـــه لـــړ مـــې پـــه نغمـــو ویـــده کـــه
ولـــې دې لـــرې کـــړم لـــه ځانـــه څخـــه
لـــړ مـــې پـــه خپلـــو زنګنـــو ویـــده کـــه

زه قـــدردان پـــاس پـــه هـــوا چـــې راغلـــم
مـــا لکـــه زېـــرى پـــه بڼـــو ویـــده کـــه.

محمد یوسف قدردان

# غزل

چې د وینـــو مـــې ښــکاره ســره فــوراه شــي
غیـــر ددې نـــو ای دلبـــره څـــه چـــاره شـــي

دا پرهـــر دې پـــه تصـــویر کـــې د خیـــالونو
کــه د هیلــو غــوټۍ خانــدي راښــکاره شــي

ای د مینـــې رقیبـــانو ځـــان تـــه ګـــورئ
دا کارونـــه بـــه د خلکـــو تماشـــه شـــي

نښـــه شـــوی چـــې وي تیـــر کـــې د اهونـــو
رنځېـــدلی، در پـــه در او اواره شـــي

چې ښکاره شوه زما اوښــکو کــې شــوه پټــه
ارمـــاني یمـــه ترڅـــو چـــې دوبـــاره شـــي

صـــبر نـــه لـــرم پـــه عشـــق کـــې نـــه پـــوهېږم
په دې کار کـــې مـــې زړګـــی پـــاره پـــاره شـــي

کـــه تـــه یـــو ځلـــې نظـــر وکـــړې دلبـــره!
د جمشید ځای به تـــابوت نـــه ګهـــواره شـــي.

جمشید

۲۱/۱۰/۱۳۶۶

# پښتنې انداز

ســـتا کــه پــه وعــدو پســـې وعــدې نــه وای
جـــوړې بـــه د اوښــــکو قــــافلې نـــه وای

مــا بـــه بـــې شـــک هلـــه بـــل نیـــولی وای
یـــار مـــې کـــه ولاړ منګـــولې ســـرې نـــه وای

خیر کــه ســتا د عشــق پــه اور کــې ســوی وای
بـــل کـــه د اغیـــار پـــه اشـــارې نـــه وای

ژونـــد بـــه حوصـــله وختـــه خـــوړلې وه
ســـتا دغـــه ترخـــو کـــې کـــه خـــوږې نـــه وای

مـــا بـــه درتـــه هلـــه برنـــد کتـــل کـــاوه
ســـتا کـــه هـــر انـــداز د پښـــتنې نـــه وای.

علم

# غزل

اخلـــو بـــه قـــدم د اور پـــه مـــخ بـــه ځـــو
نـــه بـــه كـــوو غـــم د اور پـــه مـــخ بـــه ځـــو

ســـتورو تـــه بـــه ګـــورو لنـــډوو منـــزل
نـــه بـــه كـــوو دم د اور پـــه مـــخ بـــه ځـــو

وايـــو بـــه ملګـــرو دا يـــوه او بـــس
كـــور تـــه د صـــنم د اور پـــه مـــخ بـــه ځـــو

ځـــو بـــه د منـــزل تـــر رســـېدو پـــورې
اخلـــو بـــه قســـم د اور پـــه مـــخ بـــه ځـــو

پوه كه مې پښـــتون اشـــنا پـــه دې نـــه شـــو
ســـوځو بـــه قلـــم د اور پـــه مـــخ بـــه ځـــو.

علم

# غزل

ســـتا کـــه د زلفــو سلســـلې خــورې ورې پرتـــې دي
دلته له غــم نــه ډکــې شــپې اوږدې اوږدې پرتـــې دي

راشه تــه وګــوره د زړه خونــه چــې څــه دي پــه کــې
ډېـــرې خبـــرې او ګیلـــې نـــوې زړې پرتـــې دي
ټــول امیدونـــه شـــول بـــدل پـــه حســـرتونو بانـــدې
ځکه مــې اوښــکې پــه ګرېــوان د میکــدې پرتــې دي
مــا ســره څــه دي ای رقیبــه نــور مــې مــه ځــوروه
ستا د کــردو مــې پــه زړګــي ډېــرې ترخــې پرتــې دي
کلــه چــې راشــمه لــه خــوده بــې خــودۍ دنیــا تــه
بس هــره خــوا کــې خوشــالۍ دي او مــزې پرتــې دي

دا ابتـــــدا ده د منـــــزل لا انتهـــــا چېـــــرې ده
د یار درشل ته خــو لا ډېــرې ورځــې شــپې پرتــې دي.

علم

۳/۲/۱۳۶۶

# پښتنه مینه

د زړه محفل کې مې ســتا مینــه پــه نڅـا ښــکاري
ځکــه ویجــاړه راتــه دا ښــکلې دنیــا ښــکاري

ســتم جفــا دې د زړه کــور راتــه پخــوا وران کــړی
که راته خانــدې مــا تــه هــم ظلــم، تعــدا ښــکاري
هر دم مې هیلې ارزوګــانې د زړه کــور کــې ګرځــي
په هرې هیلې کې قسم دی چې نــوم ســتا ښــکاري
که د حسرت اوښکې په مخ مې بارانونه جــوړ کــړي
ماتــه د یــار پــه درد او غــم کــې لا دوا ښــکاري
د زړه قطرې مې ســتا د مینــې نــاکردو تــه ورکــړې
زخمي زخمي زړه تــه مــې دا مینــه شــفا ښــکاري

د پښتني مینــې د ننــګ او پــت ســاتو پــه خــاطر
د پلوشــې مینــه کــې یــو جهــان حیــا ښــکاري.

پلوشه ساپۍ

د کاکاجي صنوبر حسین د غزل په اقتضا

# غزل

بیـــا کـــه مـــې لـــه زړه وتـــې چغـــارې دي
خـــدایږو چـــې د مینـــې داســـې چـــارې دي

زړه چـــې مـــې زخمـــي شـــو د جفـــا پـــه تېـــغ
ښـــکاري چـــې دې ســـترګې لا خونکـــارې دي

کلـــه بـــه یوځـــل هـــم خطـــا ونـــه کـــړي
دا پښـــــــتني ســـــــترګې حیـــــا دارې دي

تـــــه راشـــــه د اوښـــــکو قافلـــــه ګـــــوره
ســـتا راتلـــو تـــه ناســـتې انتظـــارې دي

زه خــو ســتا د عشــق څپــه کــې خوښــه یــم
ځکـــــه اندیښـــــنې رانـــــه فـــــرارې دي

هم چې مې په ســترګو کــې ســتا عشــق ســاتم
دې کـــــې د پښـــــتو ســـــپېڅلې لارې دي

کـــړی مـــې تکـــل د مینـــې لار کـــې دی
خیـــر دی پلوشـــې تـــه کـــه دشـــوارې دي.

پلوشه ساپی

# دا کور يوازې ستا دی

ما ستا په سترګو کې دنيا وليده

د مينې دنيا

د هيلو کور مې په کې جوړ کړ

ستا عشق په کې مېلمه و

او مېلمه به مې ساتلو

ما ويل چې

دا مېلمه مې خفه نه شي

دنيا به مې د مينې ونړېږي

**خدای مه کړه**

**چې کورګی دا ستا د مینې**

**ویجاړ شي په غمونو**

**دردونه ژړاګانې به ترې واخلم**

**بس ته په کې مېشته شه**

**دا کور زما د هیلو**

**ستا د مینې ستا د عشق دی**

**یوازې ستا پښتونه!**

**ستا پښتو زما حیا ده**

**بس ته په کې اوسېږه**

**دا کور یوازې ستا دی.**

**پلوشه ساپی**

# غزل

وختــــه تــــا لــــه ورځــــو شــــپو ســــره اشــــنا کــــړم
تــــا د ژونــــد لــــه تقاضــــو ســــره اشــــنا کــــړم

مــــا یــــوازې مســــافر ګنلــــو ځــــان خپــــل
مســــافت لــــه قــــافلو ســــره اشــــنا کــــړم
هســــې مــــا بــــه بــــې مقصــــده قــــدم واخیســــت
خــــو تــــاریخ لــــه فیصــــلو ســــره اشــــنا کــــړم
په خپل خیــال بــه مــې هــدف ځــان تــه نــږدې کــړو
اوس منــــزل لــــه فاصــــلو ســــره اشــــنا کــــړم

کــه هــر چــا مــې لار جــدا کــړه جــدا نــه شــوه
اخیـــر وینـــې لـــه نســـلو ســـره اشـــنا کـــړم
چـــې کیـــدې پـــه کـــې خبـــرې ســـتا د حســـن
عشـــق لـــه هغـــو محفلـــو ســـره اشـــنا کـــړم

زمــا بهــار پــه قــابو خپــل نــه دی خپــل زړه هــم
وایـــه څنګـــه سلســـلو ســـره اشـــنا کـــړم.

تیمورشاه بهار

# د وطن هجر

چـې افغـان لـه بـل افغـان نـه جـدا کېـږي
د نفـــاق ډېـــوه بـــه نـــوره هـــم بلېـــږي

نـو راځــئ ورونــو راځــئ چــې ســره يــو شــو
پــه بېلتـــون بانـــدې وطـــن تـــول خرابېـــږي

د وروری لاســـــونه ورکــــــړئ وطنوالـــــو
پــه وروری بانــدې هــر څــه زمــوږ جــوړېږي

بل د جنگ لمبې د عشق په اوبـو مـړې کـړئ
د ژونـــدون جـــرس پـــه دغـــه ښـــه غږېـــږي

دغــه خـــوږ وطـــن تـــه راشـــئ عطـــا وايـــي
چـــې دا خـــوږ وطـــن پـــه هجـــر کـــې کړېـــږي

عطامحمد

# غزل

د زلفــو تسلســـل کـــې چـــې تیـــارو تـــه رســـېدم
پـــه جګـــو ټیټـــو لارو امیـــدو تـــه رســـېدم

دا ټول ښایسته چمــن شــولو زمــا پــه وینــو رنــګ
چـــې زه کلـــه دا ســـتا د زلفـــو غـــرو تـــه رســـېدم

مـــات نـــه شـــولو نـــن مرګـــه دا زمـــا پښـــتني هـــوډ
قاصـــده پـــه همـــت خپلـــو وعـــدو تـــه رســـېدم

ماڅان کړلو پیـــدا ســـتا د ښایســـت پـــه تصـــور کـــې
پیـــدا مـــې نـــه کـــړې تـــه کـــه زولنـــو تـــه رســـېدم

پـــه اور د جـــدایۍ شـــوله ځـــواني زمـــا لـــوګی
پـــه طمـــع د وصـــال وم ســـرو لمبـــو تـــه رســـېدم

اشـــنا د ښایســـته او د خـــوږې مینـــې لـــه لاســـه
کـــه نـــه زه کلـــه دې شـــاړو مېـــرو تـــه رســـېدم.

عبدالله پانوس

۱۳۶۶/لیندۍ/۲۵

# غزل

چــې د يــار پــه ښــادۍ ښــاد وي اغيــار نــه دی
وفــادار دی ســـتا لـــه مينـــې بېـــزار نـــه دی
دا تيـــارې د انتظـــار پـــه مـــا خـــورې دي
کـــه د هجـــر تـــوره شـــپه ده ســـهار نـــه دی
خلـــک ولـــې لېـــونی وماتـــه وايـــې
لېونـــو ســـره خـــو هېڅـــوک غمخـــوار نـــه دی
کـــه مـــې وليـــدې پـــه ويښـــه نـــو ديـــدن دی
د خوبـــو ديـــدار حســـاب پـــه ديـــدار نـــه دی
انتخـــاب مـــې د يـــو ګـــل وکـــړ ګلشـــن کـــې
چـــې يـــو يـــار لرمـــه بـــل مـــې پـــه کـــار نـــه دی
د غمونـــو پـــه يرغـــل کـــې شـــو يـــوازې
کـــه بـــدر د خوشـــالۍ طلبګـــار نـــه دی.

**شفيق احمد بدر**

# غزل

د هجـــران پـــه تـــورو شـــپو کـــې مـــا ژړل
پـــه اهونـــو اســـوېلو کـــې مـــا ژړل

تـــه د چـــا شـــې د رقیـــب شـــې کـــه زمـــا
ټولـــه شـــپه پـــه دې ســـوچو کـــې مـــا ژړل

بـــې لـــه هجـــره څـــه دی کـــار د مینـــانو
د وصـــال پـــه اندېښـــنو کـــې مـــا ژړل

اشـــنا څنګـــه بـــې خبـــر وې زمـــا لـــه حالـــه
چـــې پـــه اوښـــکو شـــوګیرو کـــې مـــا ژړل

تـــه د چـــا د وربـــل ګـــل یـــې نـــه پـــوهېږم
ســـتا پـــه یـــاد ترخـــو شـــېبو کـــې مـــا ژړل.

ساجده عبدالله میلاد

# غزل

تېولــــه شـــپه غـــم د جانــــان مــــې ژړوي
تـــورې ســـترګې اوچـــت شـــان مـــې ژړوي

پـــه ژړا او پـــه غمـــو شـــوه ځـــواني تېـــره
هـــر یـــو دم غـــم د هجـــران مـــې ژړوي

د احســـاس د اور پـــه غبـــرګه کـــې لـــوبېږم
د یتـــیم ځیـــرې ګرېـــوان مـــې ژړوي

تـــول عـــالم شـــو خبـــر دار زمـــا لـــه مینـــې
چـــې خبـــر نـــه دی جانـــان مـــې ژړوي

زمـــا مینـــه زمـــا هیلـــه زمـــا ژونـــد دی
ســـتا یادونـــه ســـتا ارمـــان مـــې ژړوي.

ساجده عبدالله میلاد

# شاهین نظر

حســـــنه پـــه لېمـــو مـــې ولـــې تـــه ولـــې
دومـــره پـــه تېغـــو مـــې ولـــې تـــه ولـــې

غـــوټ دې کـــړه نظـــر رانـــه شـــاهین نظـــر
بـــس دی پـــه پنجـــو مـــې ولـــې تـــه ولـــې

خیـــر کـــه تـــه برېښـــنا مـــې تـــر نظـــر شـــولې
نـــور پـــه تهمتـــو مـــې ولـــې تـــه ولـــې

مـــا کـــه ګناهکـــار د خـــم پـــه غـــلا نیســـي
بـــس نـــور پـــه توبـــو مـــې ولـــې تـــه ولـــې

پرېـــږده د عقبـــی خبـــرې هلتـــه کـــړو
دلتـــه پـــه ښـــېرو مـــې ولـــې تـــه ولـــې.

حبیب الرحمن قربانخېل

# غزل

د زړه په سر باندې اشعار لیکمه
په کې ښایست ستا د رخسار لیکمه

کله ګلشن کې له ګلونو سره
زه افسانې د ګل او خار لیکمه

سپېرو بادو کې د خزان زه مدام
خواره بیتونه د بهار لیکمه

تل دا ستانونه به زه ستا د جفا
د بېلتانه په هره لار لیکمه

شرمېږې ته زما په خړو جامو
ستا به دغه پېغور و عار لیکمه

زه مبارز د زړه په وینو باندې
د خپل جانان شرین ګفتار لیکمه.

عبدالغني مبارز

# پسرلی شو

د وطــــن پــــه جګــــو غرونــــو
نــــوی ســــاز زمزمــــه کېــــږي

د ســـیندونو پـــه موجـــو کـــې
د ژونـــدون نغمـــه تـــاوېږي

د ســـپېرو خـــاورو لـــه منځـــه
ســـره ګـــلان پورتـــه جګېـــږي

وچـــې دښـــتې شـــوې ګلونـــه
بلبل خـــوښ دی او خنـــدېږي

د مرغـــــــــانو کتارونـــــــــه
د ګلشـــن پـــه لـــور خـــوځېږي

مصـــــلحت کـــــړی ګلانـــــو
غـــــر او ســـــمه زرغـــونېږي

پـــــه بلبلـــــو بوراګـــــانو
حقیقـــــي اختـــــر جـــــوړېږي.

**محمد ظفر تنی**

# غزل

شـــېبې شـــېبې د اوښـــکو وروې چـــې رانـــه ځـــي
چـــړې مـــې پـــه زخمونـــو ښـــخوې چـــې رانـــه ځـــي

د نـــاز خنـــدا چـــې وکـــړې پـــه نـــازکو نرمـــو شـــونډو
غـــوټۍ د ســـرو ګلونـــو غـــوړوې چـــې رانـــه ځـــي
ویده ټپونـــه ویښ کـــړې چـــې د نـــاز پـــه قـــدم راشـــې
نـــرۍ، نـــرۍ پـــرې مـــالګې دوړوې چـــې رانـــه ځـــي
د هیلـــو بـــڼ مـــې وســـپړې ګلونـــه پـــه خـــزان کـــې
د ســـترګو پـــه بڼـــو یـــې رژوې چـــې رانـــه ځـــي
ځیګـــر خـــو مـــې لا هلتـــه پـــه ټوپونـــو بانـــدې راشـــي
په تګ کې چې دې ســـترګې جنګـــوې چـــې رانـــه ځـــي

سور داغ دې د سرو شونډو د هوس پر شـــونډو پرېـــږده
یو ځل خـــو بـــه مـــې ګلـــې ښـــکلوې چـــې رانـــه ځـــي.

ملوک هوس

۱۳۶۶ل کال

# د اوښکو پیغام

ای د یــار خیالــه رانــه ځــې او کــه نــه؟
لــږ پــه قــراره مــې پرېــږدې او کــه نــه؟

ځــه رانــه لاړ شــه نــور مــې مــه ځــوروه
تــه چېرتــه کــور کلــی لــرې او کــه نــه؟

د زړه لــه حالــه خــو مــې تــه خبــر یــې
مغــرور اشــنا هــم خبــروې او کــه نــه؟

د زړه پــردې مــې لــه زخمــو ډکــې دي
یــو ځــو پټــۍ پــرې لګــوې او کــه نــه؟

چــې یــو پیغــام درتــه د اوښــکو درکــړم
هغــه مــې یــار تــه رســوې او کــه نــه؟

وختــه بلــد شــوم لــه غمونــو ســره
پــه مــا دې زور نــور ازمــوې او کــه نــه

هوســه! تــش خــو دې کــړ زړه پــر کاغــذ
نــور دې غــزل اوس ختمــوې او کــه نــه.

**ملوک هوس**

**۱۳۶۶ل کال**

# د محبت کلی

د ښـــکلا ګـــل دې د کمڅـــو پـــه څوکـــو
د هـــر عاشـــق پـــه زړه داغونـــه وهـــي

د حســـن تېـــغ دې د مـــین پـــه زړګـــي
څرخـــي راڅرخـــي او ټپونـــه کـــاږي

د نـــاز چـــاړه دې هوســـېږي دې تـــه
چې مې د زړه پردې ســوری ســوری کـړي

تـــور لـــونګین دې د ســـینې پـــه دښـــته
پـــه اوږدو لارو کـــې کـــاروان څغلـــوي

ځـــان رســـوي د محبـــت کلـــي تـــه
چـــې ورتـــه یوســـي د خوښـــیو زېـــرې.

ملوک هوس

۱۳۶۶ل کال

# د ارمان غېږه

باداره پرې مې ږده چې مړ شم د ارمان پـه غېـږ کـې
لکه بېوسه یـو انسـان د بـل انسـان پـه غېـږ کـې

د سـرو ګلونـو پـه موسـم کـې راتـه ګـوره خدایـه
زه لکه ژېړه پاڼـه پـروت یـم د خـزان پـه غېـږ کـې

ستړي فکرونـه پـه ځـانګو کـې د حسـرت ځنګـوم
لکه چې کونډه ځنګوي خپل یتیمـان پـه غېـږ کـې

د ژوندانـــه فلســـفه څـــه ده دا و چاتـــه معلـــوم
په دغه باب کې حقیقـت پـټ د زبـان پـه غېـږ کـې

د لېوني غونـدې همـېش و وخـت تـه ژاړې څـه لـه
د وخت خوړلي نـه جـوړېږي د لقمـان پـه غېـږ کـې

زمـا همدغســي مســکن او منــزل نــه دی معلــوم
لکه حالات چې خوري څپې تل د خفګان په غېږ کـې

**ګومـــان کـــول کـــه نـــاروا دي خـــو عالمـــه دلتـــه**
**فکـــر ټالونـــه خـــوري اکثـــره د ګومـــان پـــه غېـــږ کـــې**

**لکه توپان چـــې ســـیمه ړنګـــه کـــړي ســـېلاب راولـــي**
**داسې مې اوښکې نن ورغړي د چشمان په غېـــږ کـــې**

**هېڅ رحماني نظر چې خدایه پـــه شـــهزاد ونـــه کـــړې**
**ښه دی چې ګرځي لېونی ستا د جهان پـــه غېـــږ کـــې.**

**فیض محمد شهزاد**

# غزل

د زړه په سـر سـودا خـو مـا پرېښــوده
اشــنا کــه تــا راتــه رښــتیا پرېښــوده

خــود بــه ځنګېــږي د غــرور پــه نیلــو
مــا د تــورتم پــه ســر رڼــا پرېښــوده

د امیــد ګــل راتــه اغــزي اغــزي شــو
ســـلګو د اوښـــکو مـــې ژړا پرېښـــوده

ملامــت نــه یــم ســرې لمبــې دي اشــنا
د خـــاطرو لمنـــه تـــا پرېښـــوده

ظاهر غلط شـو سـتا پـه ښـکلې موسـکا
دې فیصـــلې تـــه یـــې دنیـــا پرېښـــوده.

ظاهر شاه، ظاهر

۱۳۶۶

# غزل

راپـورې بلـې سـرې لمبـې شـي چـې ځـې
د اميـدو ډېـوې مـې مـړې شـي چـې ځـې

خپـــل لبـــوني زړگـــي تـــه څـــه ووايـــم
ستا نه يې ډېرې شـان ګيلـې شـي چـې ځـې

د ببلتانـــــه پـــــر هـــــر رغبـــــړې کلـــــه
د غـم شـبېې راتـه نـږدې شـي چـې ځـې

جرګـــــه د خيـــــال مـــــې چاتـــــه ولېږمـــــه
چـور مـې دهيلـو قـافلې شـي چـې ځـې

ظـــاهر تنهـــا دجنـــون کلـــي کـــې شـــو
په اوښکو سرو يې سترګې سرې شي چې ځـې.

ظاهر شاه، ظاهر

۱۵/۱۰/۱۳۶۶

# سوې سواره

نور نو کروندې ته د ګودر له لارې نه ځمه

بیا به د کوځې په ملا کې ستا سترګو ته نه ګورم

په مړاوي غلچکي نظر

نور به دې نامه سره په شونډو کې

مړاوې موسکا نه راځي

پرېږده د غنمو درمند وسوځي

پرېږده چې د ګلو دلۍ اور واخلي

پرېږده چې ډېران شي د ارمان کلی

پرېږده د ځېړیو ځنګل وسوځي

**چې سوې**

**خوله مې خاورې کړې!**

**دلته يوه دنګه څېرۍ ونړېده**

**خاورې شوه**

**مځکو ته مې مه راځه**

**سوې سواره ده وږي نه شته دي**

**سترګو ولې نه ژاړئ په مينې پسې؟**

**احمد تکل**

**۲۰/۶/۱۳۶۶**

# غزل

په زړه پر هــار دی رالــه خــوب نــه راځــي
خپه دا خــوار دی رالــه خــوب نــه راځــي

شــېبې د شــپو چــې پــه راتلــو شــمېرمه
لرې یې شمار دی رالــه خــوب نــه راځــي

طبیبــــه ســــتا د راتلــــو لارې څــــارې
روح مې بیمار دی رالــه خــوب نــه راځــي

لارې پــردۍ دي پــه هــر لــور چــې ګــورم
پردېس نګــار دی رالــه خــوب نــه راځــي

د شــپو تنــدي کــې چــې رڼــا ښــکارېږي
راروان یــار دی رالــه خــوب نــه راځــي.

فریده هوډ

# غزل

وژنمـــــه دي نـــــن راتـــــه اشـــــنا ووې
مـــا وې زه منمـــه څـــه چـــې تـــا ووې

لـــږ خـــاطر بـــه کـــړې د رقیـــب مـــخ کـــې تـــه
ډېـــر پـــه احتـــرام مـــې ورتـــه دا ووې

عشق کـې مـې مـرګ خـوښ پـه څـو څـو وار دی
ماتـــه کـــه یـــې تـــش دا پـــه ادا ووې

بـــې تـــا نـــه مـــې مـــرګ د رب پـــه کـــار نـــه دی
دروغ دي کـــه صـــنمه تـــا رښـــتیا ووې

دار بانـــدې منصـــور چـــې خپلـــه وخاتـــه
تـــا د امتحـــان څنګـــه نـــن بیـــا ووې

اور تـــه د غـــرور چـــې عشـــق ورودانګـــل
عقـــل و حیـــران چـــې راځـــه مـــا ووې

خپـــل زړه کـــې دوکـــه او فریـــب نـــه لـــرم
ځکـــه مـــې الفـــاظ ســـاده صـــفا ووې

ودې شـــود غـــزل اســـراره طـــرح کـــې
خیـــال دې د حمـــزه پـــه ملګرتیـــا ووې.

سرزمین اسرار

# د ښایست اثر

چې سترګې د یار ګورمــه جامونــه راپــه یــاد شــي
و مخ ته يې نظر کــړم ســره ګلونــه راپــه یــاد شــي

د سترګو په کتو يــې زه بــې خــوده پــه نشــه شــم
چې شونډو ته يې ځیر شم سره لالونه راپه یاد شــي

دا حســـن دا ښــکلا او دا جمــال چــې د یــار ګــورم
دا ښــکلې پوښــتنې دا اســمانونه راپــه یــاد شــي

دا تــورې زلفــې ګورمــه پــه څــټ يــې را اړولــي
میــدان د پــاڼوګرو کــې مارونــه راپــه یــاد شــي

ښایسته دا دنګــه ونــه دې مثــال د تنکــۍ لښــتې
اثر يې په ما زیات دی چې شــعرونه راپــه یــاد شــي.

ملالۍ ساپۍ

۱۳۶۴ل کال

# توده مینه

که مینــه غــواړې د وطــن مینــه درنــه مینــه ده
تر ډېرو ښــکلو د وطــن مینــه ښایســته مینــه ده

دا هسې مینه ده چې هېڅ یــې هېرولــی نــه شــم
زمــوږ د ګــران وطــن ســپېڅلې پښــتنه مینــه ده

د وطــن مینــه کــې وفــا ده ای پښــتونه وروره
ژر شــه وردانګــه دا د حــورو عجیبــه مینــه ده

پــه مینــه ســرور کــول دا د هــر مــین دنــده ده
د خپلــواکۍ تینګــول زمــوږه دیرینــه مینــه ده

رب نه مې غوښتي چې په دې مینه کامیابــه شــمه
د ملالــۍ لــه جوشــه ډکــه دا تــوده مینــه ده.

ملالۍ ساپۍ

# شهید ته

شــهیده لــه ســپېڅلې عقیــدې نــه دې ځــارېږم
د وړو، وړو بچیــانو لــه نــارې نــه دې ځــارېږم
د غیرت په اور کې تاوې دې جذبې نــه دې ځــارېږم
پــه ګولیــو بهېــدلې وینــې ســرې نــه دې ځــارېږم

مــا قســم کــړی دی ســتا پــه اســوېلیو
چې دښمن بــه دې هــر ځــای کــې زه پــه دار کــړم
د دوزخ د اور لمبــو تــه بــې ګــذار کــړم
پــه نــازک تټــر بــی بــل د اور انګــار کــړم

کــه مــې نــه کــړې ډېــوې ســتا د ارمــان بلــې
بیا مې مــه بولــه پښــتون، لــه پښــتنو بــه نــه یــم
شال راپه سر دجنکــو کــره لــه زلمــو بــه نــه یــم.

**فیض محمد تصور**

**۱۳۶۵ل کال**

# د وینو ویالې

د جنـــګ پـــه اور کـــې ســـوزېدلای نـــه شـــم
نـــور نـــو د خلکـــو غـــم زغمـــلای نـــه شـــم
اوښـــکې تـــویېږي بـــې بهـــا د خلکـــو
دا مرواریـــد ارزانـــولای نـــه شـــم
زړه مـــې چـــاودلی پـــه غمونـــو کـــې دی
دا خـــوار زړګـــی زهیـــرولای نـــه شـــم
د ځوانـــو هیلـــو ځوانیمرګـــه ځوانـــان
پـــه ســـره کفـــن کـــې ښـــخولای نـــه شـــم
بـــس بـــوره مـــور او ځوانـــه کونـــډه نـــاوې
د غـــم پـــه تـــال کـــې زنګـــولای نـــه شـــم
نـــور د افغـــان پـــه ښایســـته وطـــن کـــې
ویـــالو د وینـــو تـــه کـــتلای نـــه شـــم
پرېـــږدئ افـــق د خوشـــبختۍ وځلـــي
د غمـــو پېتـــی پـــه شـــا وړلای نـــه شـــم.

عطیه افق

# امتحان

خیـــال یـــې و زړه تـــه تســـلا راولـــي
مــــړو امیـــدو تـــه مســـیحا راولـــي

مینـــې خـــو داســـې چـــارې وکـــړې پـــه مـــا
چـــې هـــر نفـــس تـــه نـــوم دا ســـتا راولـــي

پرېـــږده د ســـترګو ننـــداره دې وکـــړم
د زړه تیـــارو تـــه مـــې رڼـــا راولـــي

وخـــت امتحـــان د مینـــې اخلـــي راځـــم
ځکـــه بېلتـــون راتـــه بیـــا بیـــا راولـــي

پښـــتنې اوښـــکې بـــه جرګـــه کـــړم ورتـــه
کـــه مـــې یـــو ځـــل راتـــه اشـــنا راولـــي.

عطیه افق

# د کاڼو باران

وربښــــمین تارونـــه بــه د زلفـــو څـــه کــړم
څیــرې ګرېــوان چــې پــرې ګنــډلی نــه شــم
د خـــولې خبــرې خـــو دې ډېـــرې وکـــړې
خـــو پـــه عمــل کــې څـــه لیــدلی نــه شــم
دا خپــل لاســونه بــه مړونــد کــې غــوڅ کــړم
چـــې د قصــاب زړه پــرې راکښــلی نــه شــم
رنــګ تــه مــې وګــوره پــه خپلــه پــوه شــه
حـــال د زړګـــي درتـــه ویلـــی نـــه شـــم
هســـې مـــې ســـېزې پـــه لمبـــو کـــې ولـــې
زه یـــو قـــوت یـــم ورکېـــدلی نـــه شـــم
وخـــت دې بـــاران د کـــاڼو وکـــړي پـــر مـــا
زه یـــې پښـــو تـــه ټیټېـــدلی نـــه شـــم.

**امان الله غلجی**

**۱۳۶۴ل کال**

# غزل

محفل کې شــول د ســیمې عاشــقان لمبــه لمبــه
په شمع چــې شــي څنګــه پتنګــان لمبــه لمبــه
ښایست دې د سپوږمۍ غوندې ځلېږي پــه جهــان
پــرې ځکــه شــول د کلــي هلکــان لمبــه لمبــه
راځه چــې یــو تربلــه کــړو د مینــې دنیــا جــوړه
چې عشق باندې مو شي ټول غمــازان لمبــه لمبــه
اوس بس کړه لړ خــو پرېــږده د جفــا لمــن دلبــره
ستا حسن مې د زړه کــړ ټــول ارمــان لمبــه لمبــه
تر څو به درته ناست زه عــالم زېــب یــم پــه امیــد
خوښي مې ټوله کړلــه ســتا هجــران لمبــه لمبــه.

عالم زېب

# کاږه کاته

پتنګــــه! عشـــق تـــه پـــه لمبـــو وګـــوره
شـــــمعې! ژړا تـــــه پـــــه نخــــرو وګـــوره

دلتـــه د نـــاز پـــه خوبـــو ســـر نـــه شـــې تـــه
د مینـــــې کـــور تـــه پـــه درنـــو وګـــوره

کـــاږه کتـــل پـــه ســـترګو ونـــه کـــړې تـــه
لــــيلا ښايســــت تـــه د پښــــتو وګـــوره

نظـــر د بـــدو پـــه زړه څلـــه ســـاتې
دا هـــــديره د پښـــــتنو وګـــــوره

لري غيرت پښــتون پــه ســر کــې همــېش
جبــــل تــــه روان پــــه زولنــــو وګــــوره

دلتـــه مېړانـــه د خوشـــال پرتـــه ده
دا لـــه غيـــرت ډکـــه زانګـــو وګـــوره

دا د پښـــــتو د حســـــن ډکـــــه کـــــلا
يـــو ځلـــې بيـــا پـــه تـــاريخو وګـــوره.

لعل پاچا

# د هیلو کاروان

د سوي زړګـــي حـــال مـــې لـــه تصـــویر نـــه وپوښـــته
نیمګـــړې ارزوګـــانې مـــې تقـــدیر نـــه وپوښـــته

د هیلـــو کاروانونـــه مـــې منـــزل تـــه نـــه رســـېږي
د اوښـــکو ســـېلابونه مـــې ضـــمیر نـــه وپوښـــته

مـــا جـــوړ ورلـــه امېـــل کـــړو مرغلـــرو نـــه د اوښـــکو
اشـــنا پـــروا ونـــه کـــړه دې تقصـــیر نـــه وپوښـــته

تنکۍ هیله د زړه نه مې په شونډو کې ســـلګۍ شـــوه
سلګۍ بېرتـــه ســـتنه شـــوه دې تـــاثیر نـــه وپوښـــته

د سترګو په ګرداب کې مــې د وینــو جــوړ ډنډونــه
دنیــا پــه کــې غرقېــږي اوس تــدبیر نــه وپوښــته

د خیال نیلــه یــې ونښــته د زلفــو پــه ولــول کــې
خلاصی یې ترېنه نه شــته لــه زنځیــر نــه وپوښــته

د یار په غېږ کې خوښ دی هیله من د وصــال تــږی
هجران ځپلــې ســترګې لــه شــوګیر نــه وپوښــته.

محمد قاسم هیله من

۱۸/۱۰/۱۳۶۵

# د هیلو غوټۍ

هلته د دنګو پر تمناکو غرونو
لویې ورشو او زرغونې لمن کې
د ګڼو ونو
د تریخ سیوري لاندې
یوه هسکه کېږدۍ
د ازادۍ او خپلواکۍ په وړانګو
لکه د لمر داسې روښانه ښکارې...
یوه سپوږمۍ د کېږدۍ خوا کې ناسته
سترګې (یې) په لوړو څوکو
د لویو غرو لګېږي
ورته ناپایه دښته
د لمر په وړانګو ښکلې
څپه څپه ښکارېږي
او لکه:
تانده غوړګه
د پسرلي په موسم
ورو ورو غوړېږي

**او بیا ټوله ګل شي...**

**داسې د پېغلې په ماشوم زړګي کې**

**یوه د هیلو غوټۍ**

**د غوړېدو په خاطر**

**سر راوباسي له ګرېوانه وايي:**

**کاشکې ما هم د یو ناپایه دریاب**

**د ځهرجنو څپو**

**ماتې کښتۍ ته د ساحل په هیله**

**لار ښوولای!**

**محمد قاسم هیله من**

# ای هېواده!

ای هېـــواده زه پـــر تـــا بانـــدې مـــین یـــم
ستا په مینـــه کـــې د زړه پـــه ســـر خـــوږمن یـــم

ستا ښـــادي زمـــا ښـــادي ده غـــم مـــې غـــم دی
ســـتا د مینـــې پـــه اور ســـوی لـــوغړن یـــم

لافـــې نـــه وهـــم واقعیـــت درتـــه وایـــم
ستا په سر زه تېر له خپـــل ســـرمال او تـــن یـــم

لـــه امـــو تـــر ســـمندره زمـــا کـــور یـــې
ستا د عشق په اور کبـــاب پـــه ټـــول بـــدن یـــم

ستا لـــه مینـــې پـــه هېڅکلـــه منکـــر نـــه شـــم
زړور یـــم داســـې نـــه ده چـــې ډارن یـــم

عقیـــده مـــې ده کاملـــه پـــه دې پـــوه یـــم
چې زه ستا په هر دښـــمن بانـــدې ســـوبمن یـــم

ستا له هر رښتیني دوست سره دوســـت اوســم
ستا له هر وحشــي دښــمن ســره دښــمن یــم

په یو لاس کـې مــې قلــم بــل کــې مــې تــوره
ښـــه هرچـــا وتـــه څرګنـــد پـــرون او نـــن یـــم

ته مې ساه یې ته مې ژوند تــه مــې وجــود یــې
ســـتا پـــه لار کـــې باعزتـــه او پـــتمن یـــم

لـــه هغـــي لارې چـــې تـــه پـــرې زرغـــونېږې
وابــه نــه وړمــه هــم تــل بــه پــه رفــتن یــم.

**لاهور ټکر**

# پښتني حیا

اوس چــې مــې پــه زړه کــې اندېښــنې راځــي
وایــي چــې جانـــان ســبا دلــې راځــي

لارې بـــه جـــارو پـــه خپــل بڼــو کړمـــه
ګـــوره چـــې د ورځـــې کـــه د شـــپې راځـــي

بیـــا بـــه پخـــوانۍ مینـــه تـــازه کړمـــه
خیـــر کـــه مـــې حیـــا د پښـــتنې راځـــي

راشـــه کـــه راځـــې تـــه د زړه کـــور تـــه مـــې
کـــور کـــې د زړګـــي مـــې ولـــولې راځـــي

ســـتا پـــه انتظـــار کـــې زه رڼـــا یمـــه
اوښــکې مــې پــه ســترګو کــې رڼــې راځــي.

شفیقه رڼا

۳/۱۰/۱۳۶۵

# نرګسي لېمه

دا سـتا د نظـر یـاد مـې پـه خیـالونو کـې رانـاځي
هـوس مـې د زړګـي پـه پیونـدونو کـې رانـاځي
د هجـر تـوره شـپه کـې د وصـال شـمع لګېـږي
پتنـګ لـه ډېـره شـوقه غورځنګونـو کـې رانـاځي
حیـا د پښـتنې ده چـې پلـو ونیسـي مـخ تـه
رخسـار یـې د حیـا پـه سـروګلونو کـې رانـاځي
د سـترګو پـه نګـاه بانـدې دې زړه زمـا زخمـي کـړ
هـر زخـم د زړګـي مـې خنجرونـو کـې رانـاځي
خـزان د بېلتانـه مـې د خوښـۍ پسـرلی یـوړ
نـرګس غونـدې لیمـه پـه بـارانونو کـې رانـاځي
رڼـا شـوله ځپـه ځپـه د مینـې سـمندر کـې
د عشـق هـره ځپـه یـې پـه موجونـو کـې رانـاځي.

شفیقه رڼا

# کتل

ستا په یاد کې یاره عالمونه هېرومه
د زړه په درد او غم کې پرهارونه هېرومه

په وخت د سحرګاه باندې شبنم په ګلو پرېوزي
ارمان د وصل را چې خپل دردونه هېرومه

د زړه مرغۍ مې والوته اسمان ته بې وزره
دیدن سره د یار دا پروازونه هېرومه

ته ګل د بیابان شولې و هرې خواته خاندې
د ګل په دې خندا کې ستا غمونه هېرومه

د مینې ګل خزان شو د ظالم بېلتون له لاسه
خزان ته د هر ګل مې خپل اهونه هېرومه

دا ستا کتل مې یاره ټول وجود راته لمبه کړ
رڼا ته د لمبې مې خپل اورونه هېرومه.

شفیقه رڼا

# آه

د اسمان په مخ دا آه دی که زړګــی دی پـاره شــوی
دا شــفق دی پــه اســمان کــې پــه وینــو دی لړلــی

یـــا اثـــر دی پـــاتې شـــوی د مظلـــوم شـــهید د وینـــو
یا لمن د کــوم خونخــوار ده کــه فریــاد دی راوتلــی

یا غوغا ده د مظلومو د اسمان سترګې ســرې شــوي
یا نګاري مخ سور کــړی کــه عاشــق یــې دی وژلــی

یا د پېغلې پښتنې مخ لــه حیــا څخــه ســور شــوی
یایې سور سالو په سر دی کــه پلــو یــې دی نیــولی

د اسمان لمنه سره ده که شین شوی لالــه ګــل دی
یا یې ټیک پر تندي ایښی که مــین پــه زړه داغلــی.

شفیقه رڼا

# ازمون

عقـــل مــې د عشـــق پــه تکــل اور کــې پــه لمبــو رغــړي
مینـــه مــې خـــوږلن کـــې پـــه انګـــار او پـــه ایــرو رغـــړي

نـــن راتـــه پـــه ســـترګو کـــې لمبـــه د قهـــر تـــاوه کـــړه
هیلـــه مـــې لـــه دې هـــم د ســـکروټو پـــه ســـرو رغـــړي
څـــومره د امیـــد پـــه مینـــه نـــازي مـــې ګوګـــل کـــې زړه
عشـــق بانـــدې پـــه مـــالګو کـــې پـــه خپلـــو پرهـــرو رغـــړي
چـــا د اور پـــه ســـترګو کـــې لیـــدلې د اوبـــو مینـــــه؟
عقـــل بـــې احســـاس دی پـــه لمـــن کـــې د پـــردو رغـــړي
بیـــا نـــازکو نرمـــو لـــه ازمـــون نـــه پښـــې وکښـــلې
مـــوږه متکـــورو ســـره چېرتـــه پـــه اغـــزو رغـــړي

ښکل بـه مـې امیـد کـړي د سـره حسـن اننګـي پـه عشـق
ځکه چـې نـن وخـت ورتـه پـه پښـو کـې پـه توبـو رغـړي.

اسمعیل

# د ماضي خندا

د آه پـــــه تـــاو عشـــــق لېـــوني وخنـــــدل
شـــوندېو د ګـــل کـــې چـــې اغـــزي وخنـــدل

عقـــل بـــه ونـــاځي احســـاس تـــه خجـــل
حســـن د غـــم کـــې کـــه ښـــادي وخنـــدل

دود شــــو تکـــــل د اســــوېليو پـــــه اور
ورتـــــه پرهــــر زړه ارمــــاني وخنـــــدل

د ګــــل خنـــــدا يـــې پـــه لمبـــو ونيـــوه
ســـيلۍ پـــه مينـــه د ســـپرلي وخنـــدل

نـــور د ســـبا د حســـن شـــونډې مښـــي
پـــه تونـــد شـــمال بانـــدې ماضـــي وخنـــدل.

اسمعیل

۲۰/۶/۱۳۶۶

# د اوښکو جنازې

پـر سـوي مـخ مـې دي روانـې سلسـلې د اوښـکو
راتــه خنــدېږه او كــوه مــې تماشــې د اوښــكو

چا مـې پـر شـونډو د خنـدا د څپـې ځـل ونـه لیـد
عشــقه ګــرم نــه یمــه راغلــې مرحلــې د اوښــكو

د كوم احساس له خـولې نـه وځـي د زګېرویـو كتـار
چې د شعر سترګو نه مې خوشې دي ویـالې د اوښـكو

څـومره د مكـر تخیـل تـه كښـته شـوی نـرم؟
په نـوم د میـو راتـه مـخ كـې ږدي پیـالې د اوښـكو

دا بـه تصـویر د چـا د ویـر وي انځـور كـړی قلـم
ځكـه یـې نـوكې نـه تـویېږي ترانـې د اوښــكو

ښنګـه بـه ګـاتې مټكـور نـه شـي د سـترګو زمـا
چې شپه او ورځ ترینه تـاوېږي سـرې لمبـې د اوښـكو

شي به کړې د يــار مغـروري ســترگې عقلــه کــه نــه؟
چې ورتــه يوســم ســتړې شــوې انديښــنې د اوښــکو

ســتا د لــذت نــاظر دې ســېزي د عشــق هيلــه زمــا
اخــر بــه وړم د خنــدا کــټ کــې جنــازې د اوښــکو.

اسمعيل

۲/۲/۱۳۶۶

# متکور

زه د ارمان لپاره

لکه د جوارو دانه

د اور بټۍ کې

د ازمون په ګوتو

په مینه مینه

په اور واوښتم راواوښتلم

خو د لمبو له تاوه

سپینه پولۍ نه شولم

او د خوږې مینې د عشق له زوره

د اور لمبو کې

متکور پاتې شوم.

اسمعیل

۲۷/۱۲/۱۳۶۵


نیمګړي ارمانونه
(د محمد عالم حیران د شعرونو ټولګه)
سریزه او راټولونه
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ل

# نیمګړي ارمانونه

(د ولسي شاعر محمد عالم حیران د شعرونو جونګ)

راټولوونکی

محمد اسمعیل یون

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| د کـــتــاب نـــوم: | نیمګړي ارمانونه |
| شــاعر: | محمدعالم حیران |
| راټــولوونکی: | محمد اسمعیل یون |
| خــپرنــــدوی: | یون کلتوري یون |
| چـــاپـــشمـېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لــومــــړی چاپ: | ۱۳۶۹ل کال |
| دویـم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د راټــولـوونکي | |
| پرلــه پسـې نومره: | (۲) |
| د خپــرندوی | |
| پرله پسې نومره: | (۲) |
| کمپوزر: | ضیاالرحمن ضیا |

# د دویم چاپ سریزه

دا شعري ټولګه چې ستاسو په لاسو کې ده، دا د لغمان د یو متوفی شاعر، خدای بښلي (محمدعالم حیران)، د هغو شعرونو مجموعــه ده، چې له نن څخه (۱۹) کاله وړاندې پر (۱۳۶۹ل) کال، ما راټوله کړې او پر همدې کال مې په کابل کې چاپ کړې ده. د حیران دا شعرونه ما د نږدې یو کال په بهیر کې هماغه مهال له بېلابېلو لارو، چې ددې ټــولګې پــه سریزه کې ورته اشاره شوې، راټول کړل او پر همدې (۱۳۶۹) ل کال مې د هغه وخت د حکومت د فرهنګي موسسو بېلابېلې دروازې وټکــولې، چې دا شعرونه پرې چاپ کړم، خو د چاپ امکان یې برابر نه شو. هغه وخت له دولتي چاپي امکاناتو پرته نور امکانات نه وو، شخصي چاپ هم ډېر دود نه و، تر دې دمخه په ټول افغانستان کې فکر کوم د چــاپ پــه دومره اوږده بهیر کې، یوازې دوه یا درې عنوانــه پښــتو کتابونــه پــه شخصي لګښت چاپ شوي وو، نور په شخصي لګښت د چــاپ کلتــور بېخي دود نه و.

زه چې ددې ټولګې د چاپ په برخه کې له دې موسسو نهیلی شوم، نو د شخصــي چــاپ مفکورې مـــې په ذهن کې غځونې وکړې، هغه

وخت د شخصي لګښت پيدا کول هم څه اسانه خبره نه وه، ډېر هلــې ځلې مې وکړې، په دې برخه کې هم پاتې راغلم، خو په پای کې مې په خپل ټولګيوال (پښتون بهرامزي) سترګې خوږې شوې. (دا مهال زه د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې د درېيم ټولګي محصل وم.) پښتون بهرامزی زما ټولګيوال هم و او زما نــږدې ملګــری هم، په درس کې په منځنۍ کته ګورۍ کې راته، خو د پښتونولۍ او ملي احساس له مخې په لومړۍ درجه اشخاصو کــې و، اقتصــاد يــې هــم ترمنځنۍ کچې لږ لوړ و. دده نيکه (بهرام خان) د مشروطه غوښتونکو






د غورځنګ فعال غړی و، نو ځکه ده خپل تخلص د پلار پر ځای، نيکه ته منسوب کړی و، لنډه دا چې دی پر پښتو ډېر مين ځوان و، تل بــه يــې ماته ويل: ((پښتو ته د فکري او فرهنګي کار سرته رسول ستا کار دی،

خو که چېرې خبره د خرپ او ترپ، پیسو او یا هم د زور راغله، نو بیا ته ورړ ورته پرېږده...)) کله چې ددې کتاب د چاپ خبره راغله، نو ما ورتــه وویل، چې فکري کار خو ما ترسره کړ، اوس نو راځه دا بل کار ستاســو دی، هغه وویل: ((راځه داسې به وکړو چې پر نورو کسانو به وګرځو، که څوک پیدا نه شــول، نو بیا به خپل زور ووهو)). ډېره لټه مو وکړه، خو څوک پیدا نه شول. په پای کې دی مجبور شو خپله هغه پانګه چې له کوره یې هم پټه وه، راوباسي او د کتاب د چاپ غم وخوري، کله چې چاپخونې ته لاړو، په هغو پیسو هم چاپ ناشونی و. څو ورځې نور هم د پیسو په لټه کې شو، له خپل یو بل ملګري څخه مې یو مقدار پیسې د احسن پور په توګه واخیستې، نو په دې ډول د کتاب چاپ لګښت پوره شو. بیا مې له ښوونې او روزنې وزارت څخه، (په شخصي لګښت د کتاب چاپ) امر واخیست، هغوی خپلې چاپخونې ته ولیکل چې کــه چېــرې دوی په خپل لګښت کتاب چاپوي، ورته چــاپ یــې کــړئ! د پــوهنې چاپخونې رییس ښاغلــی (عبدالکبیر کاکړ) مې پېژندګلــوی و، د لغمان و، فرهنګي سړی و، د محاسبې رییس یې راوغوښت او ورته یې وویــل، چې موږ سره مرسته وکړي او ډېره ګټه راباندې ونه کړي، د څو ورځو په بهیر کې مو په حروفچیني ډول د کتاب د چاپ کار خــلاص او د یــو زر ټوکو په شمېر مو کتاب چاپ کړ. د کتاب پښتۍ ساده، پر لومړي مــخ د کتاب عنوان او پر څلورم مخ د ښاغلي پښتون بهرامزي عکس او له هغه څخه شوې مننه چاپ شوي وو.

د کتاب تر چاپ دمخه ما او بهرامزی صیب داسې تړون کړی و، چې کله کتاب چاپ شو، نو د خرڅلاو له لارې به یې ده ته خپلې او زموږ بل ملګري ته خپلې پیسې بېرته ورکوم او که چېرې یې پیسې زیاتې شوې، په هغو به نور کتابونه چاپوم. کله چې کتاب چــاپ شــو، زه او پښــتون بهرامزی له خوشالۍ نه په کالیو کې نه ځایېدو. د یوې میاشتې په بهیر کې مو په زور او رضا پر لیکوالو او د شعر پر مینوالو دا اثــر خــرڅ کــړ، عاشق الله فریاد او اکبر کرګر موږ سره په دې برخه کې ډېــره مرســته وکړه، دکتاب تر خرڅلاو وروسته د پښتون بهرامزي پیسې هــم پــوره شوې او زموږ د هغه بل ملګري پور هم خلاص شو، خو څرنګه چې ځینې کتابونه له مــوږ څخه په وړیا ډول تللــي وو، نو د بل کتاب چــاپ ته څه تــرې پاتې نه شول، خو موږ ته یوه لویه لاره خلاصه شوه او هغه دا چې په شخصي لګښت کتابونه چاپولای او بېرته یې لګښت هــم راکښــلای شو، دا یو فرهنګي انقلاب نه و، خو د یو فرهنګي انقلاب د پیلامې لپاره یې موږ ته د جرئت وزرونه جوړ کړل، بیامو همدې لړۍ تــه دوام ورکــړ، هغه وخت اکثرو خلکوزموږ ددې هڅې ملاتړ وکړ، خو ځینو به اعتراض کاوه، چې ولې یې د لګښتوال عکس چاپ کړی او مننه یې ترې کــړې، خو موږ به ورته ویل، دا د هغه حق دی، هغه چې د یو کتاب لپاره دومره لګښت ورکوي، نو له موږ څخه په یوه مننه، څه شی کمېږي؟ دې سره به نور خلک هم تشویق شي، چې همدې لړۍ ته دوام ورکړي. اوس چې له هغه وخته نږدې شل کالـــــه تېرېږي او خپله زما په لاس، تر ســـو

عنوانو زيات هغه اثار چاپ شوي، چې لګښــت يــې زمــوږ هېوادپــالو فرهنګپالــو افغانانو ورکړی دی. موږ پرې زيات خوشاله شوي يــو او دا کار يو فرهنګي انقلاب ګڼو. ان د دې کتاب تر چاپ نــږدې شــل کالــه وروسته بیا هم دا اثر په شخصي لګښت چاپېږي، خو هغه خوند او مزه چې ددې کتاب پر لومړي چاپ ما څکلي، تراوسه يې زما فرهنګي مينه تازه ساتلې ده، نو ددې کتاب د بیا چاپ پر وخت لازمه ګڼم، لــه ټولــو هغــو فرهنګپالو څخه چې ددې کتاب او نورو اثارو د چاپ په برخه کې مرستندوی شوي، مننه وکړم، په تېره بیا له ښاغلي پښتون بهرامــزي څخه. ښاغلی بهرامزی د تنظیمواکۍ د جګړو پر مهال د يــوه خــونړي تنظیم له خوا بندي شو، خو خدای خبر چې د خدای مخلوق ته د ده د کومې ښېګڼې له امله روغ رمټ، له دې وژونکو وژغورل شو، زما خو زړه دا وايي چې کېدی شي، د ګڼو ښېګڼو تر څنګ يې د فرهنګي خدمت دا يوه ښېګڼه هم مخې ته ودرېدلې وي. بهرامزی اوس په ډنمارک کې ښه ژوند لري، خو څومره چې زه هغه پېژنم د حیران کتاب د چاپ خاطره به يې اوس هم په ذهن کې همداسې تانده وي.

له دې داستان څخه مې هدف دا و چې د هېواد فرهنګ ته کار کول له دغسې ستونزو، کړاوونو، دردونو، خو ډېرو خوندونو سره مل دی. که څوک د زړه له تله خپلو هېوادوالو سره مینه ولري، نو خــدای(ج) يــې ضرور د بري مقام ته رسوي. ما خپله فرهنګي مبارزه له همدغو حالاتو راپیل کړې، اوس د نورو لويو فرهنګي کارونو، چې ترسره کول يې زما په

وس کې نه دي، خو د بریالیتوب په لته کې یې یم او د زړه له کومي ورته کار کوم، له خپلو هېوادوالو هیله لرم، مور ته د دعا لاسونه پورته کړي، چې خپل هېواد د پردیو له کلتوري او فکري یرغل څخه وژغــورو او د نړیوالو په کلتوري تصویرونو کې، مور هم د خپل کلتور ځلانده تصویر په خپلو سترګو وګورو.

**په همدې هیله**

**پوهندوی محمد اسمعیل یون**

**د ۱۳۸۷ال کال د سلواغې ۵مه**

**کابل – افغانستان**

# یادښت

د خوښۍ ځای دی، چې د ښوونې او روزنې مطبعه د خپلو بنســټیزو دندو، یانې د هېواد لوښو او زامنو ته د درسي کتابونو د چاپولو په خوا کې یو ځل بیا ددې بری ترلاسه کړ، چې د یو ځوان او تکړه شاعر محمدعالم حیران، د شعرونو مجموعه چاپ کړي.

محمد عالم حیران په یوې غریبې کورنۍ کې سترګې پرانیستي، خپل خوږ عمر یې خلکو ته د خدمت په لار او د خپلې مــورنۍ خــوږې ژبــې پښتو په پاللو او روزلو کې تېر کړی دی.

د حیران د شعرونو دا مجموعه د ښاغلي محمد اسمعیل یون په زیار او هڅه راټوله او چاپ ته تیاره شوې ده. د حیران شعرونه یو خاص خوند او کیفیت لري او لکه څنګه چې له زړه نه پاڅېدلي په زړه لګي او هغه ته قوت ښښي. د ښوونې او روزنې مطبعه په داسې حال کې، چې ښاغلي یون ته د هغه د کار او زیار په لار کې ستر بریالیتوبونه غــواړي، خپلــه دنده بولي، چې د هېواد د بډای فرهنګ په ژوندي ساتلو کې د هــر راز علمي، ادبي او هنري اثارو په چــاپولو او خپرولــو کــې خپلــه ملــي او هېوادنۍ دنده سرته ورسوي.

په درنښت

ډیپلوم انجنیر عبدالکبیر کاکړ

د ښوونې او روزنې د مطبعې رییس

## سریزه:

**هر سهار چې د چمن کونج او کنار لټوم**

**زه په هغو ګلځېرو کې مخ د یار لټوم**

ولسي شعر او شاعرۍ د هرې ټولنې د ادبیاتو یوه ځانګړې او غــوره برخه جوړوي او د ادبیاتو د نورو برخو تر څنګ په ډېر ژور ډول د ټولنې د حالاتو او پېښو انځورنه کوي.

په ولسي شاعرۍ کې د ټګۍ برګۍ او تېر ویستلو نښې او نښانې نــه لیدل کېږي، له یوه پاک زړه څخه راوتلې وي د هر چا د زړونو تــل تــه ننوزي. په ولسي شعر کې د کوم واکمن ستاینه او د هغه د زور تر برچې لاندې د هغه توصیف نه لیدل کېږي او نه دا شاعري د بازار پــه تلــه د ورځې په نرخ خرڅېږي، بلکې ولسي شعر او شاعرۍ د ټولنې تاریخ دی، د هغې د ماضي هنداره ده او د راتلونکي لپاره الهام.

او ښه خو لا داده چې زموږ د پښتو ژبې ولسي شاعري ډېره غني او پراخه ده او زموږ د ټولنې او د هغې د روحیاتو د پېژندنې یوه ځلېدونکې پاڼه ده. ولسي شاعري خپله په ولس کې د زېږېدونکو شاعرانو زېږنده ده او د پردیو له هر ډول اغېزې څخه لرې پاتې ده.

یو لیکوال وایي: (( د خلکو سندرې هغو خلکو ویلي دي چې ســواد یې نه درلود. لیکل او لوستل یې په عمومي توګه نه وو زده او دا سواد نه

لرل باعث شوې ده، چې عامیانه شاعران د هر ډول بهرني تاثیراتو څخه محفوظ پاتې شي. دوی کومه نمونه، نه درلوده چې د هغه څخه تقلید وکړي د شعري قواعدو کوم اقتدار نه و، چې د هغه څخه پیروي وکړي. نو دوی مجبور وو، چې د خپل شخصي ابتکار څخه کار واخلي او نوی شعر خلق او ایجاد کړي او دې مجبوریت داسې ادب راپیدا کړی دی، چې لوړ شعري ارزښت لري او په واقعي توګه د یوه ولس روح منعکسوي.[1]

یو بل پوه وایي: (( د عوامو هنر همېشه ساده وي، زیات تجمل او سینګار نه قبلوي او د ژوند له حیاتي اړتیاوو سره پیوستون لري.)) [2]

د پښتو شاعرۍ زیاته برخه د پښتو په ولسي شاعرۍ پورې تړلې ده. هغه خوند او زور چې زموږ په ولسي شاعرۍ کې لیدل کېږي او د خلکو زړونو ته ښه رسېږي، زموږ په معیاري شاعرۍ کې چې د باسوادو یا د تحصیل لرونکو شاعرانو زېږنده ده او د هغوی له خوا رامنځته شوې، نه لیدل کېږي. اوس هم په زیاتو کورونو کې حتی د ښارونو په زیاتو کورونو کې د سیمه ییزو او محلي سندرغاړو کیستونه اورېدل کېږي او دا ددې ښکارندويي کوي، چې زموږ ولسي شعر زموږ د خلکو پر زړونو ښه لګېږي او له هغه څخه خوند اخلي.

[1] پوهاند دوکتور مجروح، وږمه مجله، ۱۳۵۴ل کال، ۴ګڼه، ۲۷مخ.
[2] محمد صدیق روهي فولکلور پېژندنه، د علومو اکاډمي، ۱۳۶۵ل کال، ۱۲۸مخ.

د پښتنو زیاتې او یاکه ووایو ټولې سیمې له ولسي شاعرانو څخه ډکې دي، خو په ځانګړي ډول د هېواد ختیزه سیمه د پښتو د ولسي شعر او هم د معیاري شعر او ادبیاتو د یوې سترې زېږندویزې سیمې حیثیت لري. دلته داسې شاعران زېږېدلي، لوی شوي او ژوند یې له لاسه ورکړی، چې کلونه کلونه به یې د شعرونو انګازې زموږ د خلکو په زړونو کې تاوېږي. د ملنګ جان، محمدنور، شیخ احمد خان، حنان او له داسې نورو نومونو سره زموږ خلک ښه بلد دي او پر زړونو یې ښه لګېږي، خو موږ دلته پر یو بل ولسي شاعر محمد عالم حیران چې ده به هم د هغو ځای نیولی وای خو ژوند ورسره یاري ونه کړه او په ډېره ځوانۍ کې یې ورژاوه او له شعرونو ډک زړه یې ګور ته کښته کــړ، خبرې کوو. خــو بیا هم ده د ژوند په ډېره تنګه او لنډه مــوده کې د خلکو په زړونو کې خپل ځان ته لاره پرانیستله او په خپلو خوږو شعرونو او اواز یې تل تر تلــه د خلکو په زړونو کې د اوسېدو ځای پیدا کړ. دی د لغمان ولایت د الینګار په ښکلې شاعرانه سیمې، هغه سیمه چې طبیعت یــې شــاعرانه دی، جوړښت یې شاعرانه دی او خلک یې شعر مزاجه دي، زېږېدلی دی، نو باید حیران ښه شعرونه ووایي او خواږه یې ووایي.

یوه لیکوال، هغه وخت چې حیران ژوندی، و د هغه په باب لیکلــي: ((محمد عالم حیران د محمد ســالم زوی د لغمــان ولایــت د الینګــار ولسوالۍ په کټل کې پر ۱۳۳۰ل کال زېږېدلی دی. نوموړی شاعر له ډېرې غریبې کورنۍ څخه دی، کسب یې نجاري دی، سربېره پر دې چې تکړه

نجار دی په زړه پورې هنرمند هم دی، ډېر کیستونه لري. نوموړي شاعر مکتب نه دی لوستی، سواد یې له خپلو همزولو څخه زده کړی دی.

حیران د شعرونو دوه مجموعې لري، چې دده د وینا له مخې یې د شعرونو تعداد (۲۲۰۰) ټوټو ته رسېږي، اکثره شعرونه یې عشقي دي. د ښاغلي حیران ځینې شعرونه د ورځپاڼو له خوا چاپ شوي او ځینې شعرونه یې په راډیو او ټلویزیون کې د هنرمندانو له خوا ویل شوي دي)).[۱]

کله چې حیران پنځه کلن و، نو له خپل پلار سره یې په نجارۍ کې مرسته کوله او کله چې یې د خپلو ملګرو او په مسجد کې د کتابو د لوستلو په واسطه سواد زده کړ، نو له شعر او شاعرۍ سره یې هم علاقه پیدا شوه او په لږه موده کې یې پر شعر ویلو پیل وکړ او پر (۱۳۴۵ل) کال یې خپل ځینې شعرونه محلي هنرمندانو ته ورکړل او د هغو له خوا زیات تشویق شو. حیران پر (۱۳۶۱ل) کال د کابل د تلاشۍ په کنډک کې سرتېری شو، څه موده وروسته له هغه کنډک څخه جنایي کورس ته معرفي کړای شو. پر (۱۳۶۲ل) کال له کورس څخه فارغ شو، د همدې کال د میزان په میاشت کې یې د وظیفې پر اجرا کولو پیل وکړ او د همدې کال د جدي میاشتې پر لسمه نېټه د لغمان ولایت د ((ده زیارت)) په کلي کې په یوې مخامخ جګړه کې شهید شو. روح دې ښاد وي.

[۱] الینګاري شاعران، عزیز تحریک، ناچاپ.

**له محمد عالم حیران څخه دوه زامن او دوه لورګانې پاتې دي. اوس راځو د حیران د شاعرۍ څرنګوالي او څومره والي ته!**

**حیران د خپل ټول (۳۲) کلن ژوند په موده کې هر څه چې یې له لاسه کېدل ویې کړل او ښه خو لا داده، چې د ژوند سختیو او کړاوونو د شاعرۍ پر لاره بوته او په کومې بلې لارې یې د تلو تکل ونه کړ. سعدالله جان برق وایي: (( په هر چا چې غم ډېر شي نو دریو شیانو ته به مخه کوي. یا به لېونی کېږي، یا به شرابو ته پناه وړي او یا به شاعرۍ ته مخه کوي.)) [۱]**

**که موږ د ژوند د سختیو پورتنیو دریو نتیجو ته وګورو، نو ښه به هغه څوک وي، چې شاعرۍ ته مخه کړي او یا شاعري ورته مخه کړي او دوه نورې خو یې انسان د ټولنیز ژوند له عادي بهیر څخه باسي. خو حیران هم ښه په دې دی، چې شاعرۍ ته یې مخه کړې او په دې توګه یې د ژوند له سختیو سره د مبارزې لاره نیولې ده. حیران د خپل ځوان او لنډ عمر په موده کې وکولای شول، په خپلو ځوانو شعرونو سره د ژوند او د خپلې ټولنې مختلف اړخونه راوسپړي او د شعر او نظم په ژبه یې د موسیقۍ څپې هم له شعر سره یوځای کړي، چې وکولای شي د خپل زړه کوکې په لا ښه ډول خلکو ته ورسوي.**

**هغه په ډېره تنکۍ ځوانۍ کې پر شعر لیکلو پیل کړی و، کله چې د هغه شعرونه محلي سندرغاړو د موسیقۍ په څپو کې ولوستل، نو دده**

---

[۱] لاس او ګرېوان، د عبدالرشید رشید خار د شعرونو جونګ، د سعدالله جان برق سریزه.

پېژندګلوي هم له هغو سره زیاته شوه، ترڅو چې دی یې هم له خپلــو شعرونو سره یوځای د موسیقۍ زړه راکښونکي سمندر ته کش کړ او دې کار خو د حیران شاعري او شهرت ته دومره ځواک ورکړ، چې نــن یــې موږ هم دې ته مجبور کړو، چې قلم راواخلو او د هغه د ژوند او سندرو په باب تر وسه وسه څه ولیکو. حیران د خپل ژوند تر وروستي بریده د څومره والي او څرنګوالي له پلوه د کتنې وړ شعرونه لیکلــي او پــه دې موده کې یې په خپل اواز په سلګونو کیستونه ثبــت کــړي دي. خپــل شعرونه یې هم د موسیقۍ په څپو کې ویلي او د نورو هم.

د حیران ټول شعرونه د موسیقۍ په څپو برابر دي، چې دا کار زموږ د ولسي شعر یوه غوره ځانګړتیا ده او برابر خو باید ځکه وي چې هغه په خپله یو مین هنرمند و او پر موسیقۍ پوره بلد و. اوس په لغمان ولایت کې داسې کور کوم یو که پیدا شي چې دی ټیــپ غــږوي او د حیــران کیسټ دې ورسره نه وي، ما هم د هغه زیات شعرونه د هغه په خپل اواز او هم د نورو سندرغاړو له خولې له کیستونو څخه د کاغذ پر مخ کښلي دي.

د حیران د شعرونو د زور څپې نه یوازې د یوې محدودې سیمې لــه پولو څخه رابهر شوې، بلکې زموږ د یوه معیاري شعر په توګه یې په ټول هېواد کې انګازې وکړې او ډېر ځله به مو دا شعر د راډیو افغانستان له څپو څخه د مشهورو سندرغاړو له خولې اورېدلی وي، چې وایي:

هر سهار چې د چمن کونج او کنار لټوم

زه پــه هغه ګلځېرو کې مــخ د یار لټوم

حیران سره له دې چې ښوونځی نه و لوستی او تحصیل یې نه و کړی او نه یې د شعر او شاعرۍ په باب کومه علمي څېړنه او پلټنه کــړې وه، خو څرنګه چې د شاعرۍ زیاته زېږندوینه پر فطرت ولاړه ده، ده هم له خپل فطري لیاقت او ذکاوت څخه په کار اخیستلو سره داسې شعرونه وزېږول، چې مړینه به یې ډېر کلونه په بر کې ونیسي او د ځینو مړینــه خو به یې تر هغه چې زموږ ولس ژوندی وي، ناشونی کار وي.

حیران د شعر په بېلابېلو فورمونو کې شعرونه کښلي، خو ده خپــل زیات شعرونه همدغه د پښتو د ولسي شعر په چوکاټونو. یو شمېر یې د غزل او یو شمېر نور یې په پښتو کې باب له عربي ژبــې څخــه راغلیــو چوکاټونو کې لیکلي دي. شعري ژبه یې نرمه، ساده او روانــه ده او لــه تجمل، پېچلتیا او تېروستنې څخه خالي ده. داسې ښکاري چې خپــل ټول شعرونه یې له پاک زړه څخه راکښلي او هېڅ ډول کینې ته یې پــه کې ځای نه دی ورکړی، چې دا هم زموږ د ولسي شعر یــوه بلــه غــوره ځانګړنه ده.

څرنګه چې حیران پر موسیقۍ پوره بلد و، نو شعرونه یې د موسیقۍ له څپو سره ډېر ښه ویل کېږي او په ځینو وختونو کې خو په ســېلابي سیستم پسې هم دومره نه دی ګرځېدلی مقصد چې له موسیقۍ سره برابر راغلی، په همغه یې بسنه کړې ده، ځینې شعرونه یې که د کاغذ پر مخ همداسې ووایو نو شاید له سکتې سره به مخامخ شــو، خــو کــه د موسیقۍ له څپو سره یې یو ځای کړو، ډېر خوند بــه ورڅخــه واخلــو، وګورئ دا شعر له موسیقۍ سره څومره ښه راغلی دی:

ســــترګو دې بیــــا نــــاغې پیــــدا کړلــــې غمجنــــې دي
چــــا نــــه ګــــیلــــه مــــنې دي د زړګــــي ســــره

خـــاطر دې بيــا ولـــې مــلال دی د زړه ســـره زمـــا
ســترگې دې بيــا نـــاغې نـــاغې شــوې نـــاز پـــروره زمـــا
چاتـــه لـــه درده غـــاښ چيچـــی لـــرې دلبـــره زمـــا
پــه مــخ دې مــړې اوښــکې خــورې ســلگۍ غمجنـــې دي
تر پایه...

او يا هم دا شعر:

د زړگي پټ زخمونه وښيمه چاته

سل کړم د مينې سودا

د محتوا له مخې د حيران په شعرونو کې ملي، وطني او د ځـانگړي انساني مينې روحيه زياته ليدل کېږي، خو په دې کې بيا انساني مينې ته ځانگړی ځای ورکړ شوی دی.

د حيران د شعرونو يوه بله غوره ځانگړنه په دې کې ده، چې دی سره له دې چې په يوې داسې شاعرانه سيمې کې زېږېدلی، چې شاوخوا يې ټوله ولسي شاعرانو نيولې وه، خو دی هېڅکله د هغو تر اغېزې لاندې نه دی راغلی. کله چې په کيسټ کې د هغه شعر د کوم هنرمند او يـا پــه خپله د هغه له خوا ويل کېږي، سړی له ورايه پوهېږي چې دا د حيــران شعر دی. حتی ډېر خلک چې سواد هم نه لري، له نورو شاعرانو څخه يې شعرونه بېلولای شي او دا ځکه چې دده په شعرونو کې يو ځانگړی درد پروت دی. که د شعر پېژندنې او اروا پوهنې له مخې د حيران پر شعرونو

سوچ وکړو، نو دی له ژوند څخه ناراضه او نا امیده ښکاري. زما په فکر او گومان دده دا نهیلي له دوو وجو کېدی شي ده ته پېښه شوې وي:

په لومړي گام کې د ځانگړي انساني مینې له کبله چې شاید چا سره یې مینه درلودلــه او بیا خپلې هیلې ته نه دی رسېدلی او په دویم گام کې د اقتصادي ستونـــــزو له کبله، ځکه چې دی له کوچنیوبه له سترو اقتصادي ستونزو سره مخامخ و.

خو بیا هم په شعر کې یې دومره زیاته نا امیدي نه لیدل کېږي چــې سړی حکم وکړي، چې دی په مطلق ډول په نهیلۍ کې غرق دی، خو له اواز څخه یې داسې برېښي چې د ژوند شېبې پرې چندان ښې نــه دي تېرې شوي. حیران د خپل عمر په ډېره لنډه موده کې په دې بریالی شو، چې ډېر شعرونه یې زموږ له معیاري شعر سره سیالي وکړای شي او که د موسیقۍ له څپو سره یې برابربښت په پام کې ونیسو، زمــوږ تــر ډېــرو معیاري شعرونو ښه برېښي، وگورئ دا غزله:

زه چې ژړېــږم اشنا هم ژاړي

ټوله دنیا زما پــه غـــــم ژاړي

زما د ژوند صحنه قلم لیکلې

که حیران نه ژاړي قــلـم ژاړي

اویا هم دا غزله:

ما ته په کعبه د چا قسم مه راکوه

مینه مې حرم دی بل حرم مه راکوه

دغه راز دحیران په شعرونو کې د ځانگړې ژمنې روحیه هم ښه ځلېږي، هغه له نن څخه لږ تر لږه پنځه لس کاله وړاندې په خپل شعر کې وچو شونډو، په اوښکو لندو سترگو، زگېرويو او سلگيو ته ځای ورکړی دی، خو زموږ ځینو ځوانو شاعرانو اوس قلم تېره کړی دی او پر دې شیانو خپل وخت تېروي.

ملگریه ستایه خط و خال ستایه

ښکلا د ښکلو د جمال ستایه

په اوښکو سپینې سترگې څه کړې پرېږده

د تورو سترگو ناز و خیال ستایه

تر پایه...

همدا ډول حیران د ټولنې د هغه وخت د روان ژوند په باب او په هغې کې داشخاصو د چلند په باب هم په ښکلې بڼه انتقادي نظمونه لیکلي او د خلکو غوږونو ته یې رسولي او پر خلکو هم ډېر ښه لگېدلي، دا ځکه چې خلکو دا کارونه په خپلو سترگو لیدل او ورسره پوره بلد وو. سره له دې چې دده دا ډول لیکنې به پر هنري ارزښتونو ولاړې نه وي، یانې شعري ځانگړنې به په کې په پوره ډول نه وي مراعات شوې، یانې نظمونه دي، خو خلکو او ولس ته یې تر ډېرو شعرونو زیات ارزښت درلود، دا ډول

نظمونه د هر شاعر په شعرونو کې موجود وي، هېڅ داسې شاعر نه شــته چې د هغه ټوله شاعري دې پر هنري معیارونو ولاړه وي.

خو د حیران دا نظمونه پر خلکو ښه لگېدل، وگورئ دا نظم یې:

درد مې پــه زړه دی تــه گــولۍ راکــې د ســر مامــا
مــرض تــه گــوره بیــا نســخه راکــړه ډاکتــر مامــا

او یا هم دا نظم:

د الینگـــــار مــــوټر کـــې مـــه ځــــئ غــــورازه ده
تــړلــــې جنــــازه ده ځــــان ســــاتئ گــــوره خلکــــو

یوه بله خبره چې د یادولو وړ ده، هغه داده چې هنرمند ته زموږ پــه ټولنه کې تل ترتله په ټیټه سترگه کتل شوي. حیران هم دې خبرې ته متوجه دی او وایي:

د جاهلانو خندا اورمه ځورېږم

خلک مــې ولې کچه بولي

هنر زما پیشه ده

دغه راز یو بل ټکی چې د حیران په شعرونو کې د یادولو وړ دی هغه دادی، چې په شعرونو کې یې ځینې کلمې له محاوروي شکل سره سمې راوړې دي، یانې ښنگه چې په ورځني ژوند کې د خلکو له خوا کــارول کېږي.

**لکه:**

**درد مې په زړه دی ته ګولی ((راکی)) د سر ماما**

**دلته د (راکوې) فعل د (راکی) په بڼه راغلی دی.**

**په هر حال حیران شاعر و او ښه شاعر و او شعرونه به یې تـر ډېـره وخته زموږ د ولس او خلکو په زړونو کې پاتې وي. په پای کې له درنـې خور ځوانې شاعرې پلوشې ساپی، ګران ورور ځوان شاعر لعل پاچـا او ګران شاعر عاشق الله فریاد څخه د زړه له کومې مننه کوم، چې له مـا سره یې د مرحوم حیران د شعرونو په راټولولو کې مرسته وکـړه او پـه همدې هیله چې خدای ښښلي حیران ته خدای اته واړه جنتونه ورکړي او روح یې ښاد وي، خپلو خبرو ته د پای ټکی ږدم.**

**په درنښت**

**په ټوله پښتنه مینه**

**اسمعیل یون**

**۱۳۶۹ال کال**

٭

هـــر ســـــهر چـــې د چمـــن کـــونج و کنـــار لټـــوم
زه پـــه هغـــه ګـــل څېـــرو کـــې مـــخ د یـــار لټـــوم

مـــا د مینـــې فیصـــلو کـــې یـــو اشـــنا غـــوره کـــړ
محبـــت مـــې د ګلرخـــو پـــه دنیـــا غـــوره کـــړ
اوس د مینـــې پـــه ســـاحو کـــې وفـــادار لټـــوم

ژونـــد مــې مینـــه مـــرګ مـــې مینـــه ســـودا مینـــه ده
مـــا د زړه پـــه ســـر ښـــکل کـــړی رښـــتیا مینـــه ده
اوس پـــه مینـــه د خـــوږې مینـــې دلـــدار لټـــوم

ســـتا د زلفـــو زولنـــو کـــې زړګـــی ګیـــر دی زمـــا
نه مې خوب شته نـه خنـدا شـته مـدام ویـر دی زمـا
ســـتا د تـــورو زلفـــو څـــوکې تـــار پـــه تـــار لټـــوم

رنګ مې تور دی وچې شونډې سودايي غونـدې شـوم
کـــور او کلـــی رانـــه پـــاتې صـــحرايي غونـــدې شـــوم
زه حیـــران د تـــورو غـــرو څـــوکې ناچـــار لټـــوم.

✵

پاکـــه ربـــه نـــن د مینــــې اشـــنا نـــه شـــته
ځمکه نه شته اسـمان نـه شــته دنیــا نــه شـته

پــرون جـــوړې منظـــرې وې پـــه ســـرو ګلـــو
نـــن خـــورې ورې کبـــړدۍ پـــه بیـــدیا نـــه شـــته

پـــه ســـرو ګلـــو بـــه غوغـــا وه د بلبلـــو
هغـــه ســـوز و ســـاز بلبلـــې بـــورا نـــه شـــته

کـــاني بـــوتي راتـــه لیـــې لیـــې ژاړي
وایـــي ښـــکلې نـــازولې لـــیلا نـــه شـــته

بېهـــوده د وفـــا تمـــه کـــړي حیرانـــه
ګلرخـــانو کـــې یـــو تکـــی وفـــا نـــه شـــته.

✵

د زړګـــــي پــــټ زخمونــــه وښــــیمه چاتــــه

سل کړم د میني سودا

خاونــده هېڅــوک مــې غــوږ نــه نیســي ژړا تــه

سل کړم د میني سودا

د بـــېلتانـــــه پـــه تــــور مـــاتـــم کــې

ځـــان رانـــه ورک دی پـــه عـــالم کـــې

څــه وکــړم لاس مــې نــه رســېږي بلــې خواتــه

سل کړم د میني سودا

نور به په څه زړګی خـــــوشال کړم

را چـــې پـــه خپله ځان حلال کړم

څـــو بـــه ســـړې ګیلـــي کـــوم اشـــنا تـــه

سل کړم د مینې سودا

په تندي تـــــــل خورم ګوزارونه

وهم د سرو وینو غـــــړپـــــونـــــه

عالمـــه څـــه بـــه مـــې پېښـــېږي انتهـــا تـــه

سل کړم د مینې سودا

وینې دې ډنډ ګـــــــرځي ګـــــوګـــــل کې

لـــــه نـــاروا بـــه څـــه حاصـــل کـــې

حیرانـــه څـــو بـــه لاس پـــه نـــام یـــې بېوفـــا تـــه

سل کړم د مینې سودا.

✵

د ژوندون په سرمایو مې تالان راغی
په ګلشن زما د وصل خزان راغی

یو پرهار نه دی چې غم د تشخیص وخورم
مرګنی د یار له لوري پیکان راغی

پرورش مې د خاطر په وینو ورکه
اوس خزان مې په هغه ګلستان راغی

د زړه وینې مې شراب ورته نیولي
ښه چې بیا مې نازولی جانان راغی

که په سترګو د وفا ورته نظر کړې
په امید د وصال سوی حیران راغی.

یاره داسې خوار زار شې لکه زه
په غمونو ګرفتار شې لکه زه

خدای دې اور د عاشقۍ په تندي بل کړه
چې خبر د عشق په کار شې لکه زه

چې دا هومره اجتناب کړې له عاشقو
هسې ګیر په ګل رخسار شې لکه زه

د غمجنو غم هوس مه بوله پوه شه
له غمجنو خبر دار شې لکه زه

زه حیران به نو نور څه وایم دلبره
د غمونو سزاوار شې لکه زه.

✵

ستا د غم غشـی مـدام د زړه پـه سـر خـورم
ناست په ویر یم مـدام وینـې د ځیګـر خـورم

دا خـــو ســـتا د زېبـــا حســـن ګـــدایي ده
جـــاهلانو تندکونـــه در پـــه در خـــورم

کـــه د یـــار لـــه لاســـه زهـــر او زقـــوم وي
پـه مـزه یـې لکـه شـات او یـا شـکر خـورم

زه حیران به عاقبـت ځـان پـرې قربـان کـړم
پـه ډیـوه د مـخ څرخونـه برابـر خـورم.

طبیبــه نــه روغېږمــه مشــکل مــې شــو عــلاج
لــه تشــې تبــې نــه یمــه د ســل مــې شــو عـلاج

بې ځایه خواري مه کـړه زه پـه خپـل مـرض پـوهېږم
قسم زما په رب دی نـور پـه هـېڅ شـي نـه روغېـږم
د یار دیدن عـلاج دی نـه چــې بـل مـې شـو عـلاج

دوه سترگې راښکاره کړه نور مې هېڅ پـه ارمـان نـه شـته
درمان زما د رنځ دی اشنا، بـل څـه درمـان نـه شـته
بس دا تسکین د رنځ دی تل تـر تـل مـې شـو عـلاج

د نـــاز پـــه کرشـــمو کـــې دې یـــو بـــل عجیـــب اثـــر دی
ارمـــان د ناچـــار عمـــر او تســـل مـــې د ځیګـــر دی
خـــوږو ســـترګو ســـتونه موســـېدل مـــې شـــو عـــلاج

لاســـونه را تـــر غـــاړه موســـکه خولـــه پـــه خنـــدا ډکـــه
ابتـــــره ســـــاه نیـــــولې وار خطـــــا ده څکـــــه پکـــــه
حیرانه په رښـتیا چـې اوس ببلکـل مـې شـو عـلاج.

✵

کله چې دمينې ډکه ښکلې دنيا ورانه شوه
بيانو د عاشقو زنده گي په رښتيا گرانه شوه

زړه په يار مين شو سترگې ژاړي گرېوان څيري شو
ټوله رسوايي مې له ټوټې ټوټې گرېوانه شوه

زه ملامت نه يم ما دمينې قانون ومنه
ښه ده چې خطا او سهوه ټوله له اشنا نه شوه

زه به د غمجنې زنده گۍ شکايت چاته کړم
واړه بې رحمي مې له دې بې رحمه جانانه شوه

حال زما د سوي، له دې سوو اوښکو وپوښته
دغه افسانه د تمام عمر له حيرانه شوه.

✵

ملګريــــه ســــتايه خـــط و خـــال ســـتايه
ښـــــکلا د ښـــــکلو د جمـــــال ســـــتايه

په اوښکې سـپينې ســترګې څـه کـړې پرېـړده
د تـــورو ســـترګو نـــاز و خيـــال ســـتايه
زمـــا پتـــري د وچـــو شـــونډو خـــوښ دي
تـــه دې پـــه ســـرو شـــونډو زلال ســـتايه
زه بـــه زګېرويـــو تـــه ســـلګۍ وهمـــه
تـــه کـــوم بـــې غمـــه زړه خوشـــال ســـتايه
زه تـــــومتي د زولنـــــو لايـــــق يـــــم
تـــه نـــن د ښـــکلو زلفـــو جـــال ســـتايه

زه بـــه تقـــدير پســـې بيـــديا لټـــوم
د نـــاز حـــرم کـــې تـــه وصـــال ســـتايه.

✵

سپینې سپوږمۍ څار دې شم ما سره ناکام کوه
حال مې دزړګي وایه یار ته مې سلام کوه

ناست یم یکتنها په غم، سترګې مې په اوښکو نم
ډک مې له ګیلو سره دا رنګین پیغام کوه

زړه شو په لمسون د چا، لاړه په لټون د چا
تاته نیمه خوا درځي ګرانې لږ پرې پام کوه

لاس په نام دقت سره، ورشه محبت سره
سوال مې د وصال سره ښه په احترام کوه

وېسه د حیران پیغام، دا د مینې ډک سلام
نور نو د ښکلا صفت ګوره لاس په نام کوه.

✵

د نــــازولو پـــــه یـــــاد خیـــــال و ســـــودا شـــــومه زه
څیـــــرې ګرېـــــوان ګرځمـــــه رســـــوا رســـــوا شـــــومه زه

زمـــــا د زړه پیمانـــــه، لـــــه غمـــــو ډکـــــه شـــــوله
خیـــال و ســـودا مـــې پـــه، ســـر نـــن بـــې درکـــه شـــوله
د هرچـــــا ګوتـــــه راتـــــه، د تومـــــت لکـــــه شـــــوله
لاړم د غـــرو څوکـــو تـــه ســـر پـــه صـــحرا شـــومه زه

مـــا د زړګـــي شیشـــه کـــې، اشـــنا لیـــدلی دی
د خـــــورې مینـــــې پـــــه راز، مـــــې پېژنـــــدلی دی
د خیلـــــه لاســـــه مـــــې اور، ځانتـــــه لړلـــــی دی
خیـــر کـــه پتنـــګ پـــه شـــانې دود پـــه ښـــکلا شـــومه زه

سترګو کې بیا د اوښکو، جـوړې جرګــې غونــدې شــوې
ستا د دیدن فیصــلې، پــه کــې خــوږې غونــدې شــوې
اشــنا د زړه ســتنې مــې، درتــه کــږې غونــدې شــوې
درځــم د مــرګ پــه لاره خیــر کــه تــالا شــومه زه

ســتا پــه یــارۍ کــې اشــنا، رابانــدې دا راغــی
د کــور و کلــي پوزخنـــد، د لېونتیـــا راغـــی
وایـــي حیـــران لېـــونی، هغـــه ده بیـــا راغـــی
خبـــر لـــه ځانـــه نـــه وم انګشـــتنما شـــومه زه.

غــــم دې پــــه مـــــا زور و پـــټ پـــټ مـــې ژړل
زه وم د غــــم کـــــور و پــــټ پــــټ مــــې ژړل

جــــوره قتـــــل ګــــاه وه مینـــــې ژړېـــــدې
هــــر طـــرف غوغـــا وه ســـرې لمبـــې ختـــې
بــــــل د هجـــــران اور و زړونـــــــه داغېـــــدل

خولــــه پـــه خنـــدا ډکـــه وه ښـــکلې بـــې پـــروا
ناســـته څکـــه پکـــه وه ســـپین مـــخ یـــې زیبـــا
تـــــور زلفــــان یـــــې خــــور و، ورو ورو رپېـــــدل

خیـــال د اشـــنا یـــاد شـــو لاړم لاس پـــه نـــام
زړه پـــه دیـــدن ښـــاد شـــو ومـــې کـــه ســـلام
بخـــــت د حیـــــران تـــــور و یــــار کلـــه کتـــل.

✱

مـــا چـــې ولیـــده د یـــار بـــکلی بشـــر
لکـــه خـــاص چـــې وي پـــه مـــا بانـــدې اختـــر

تـــورې زلفـــې یـــې پـــه نـــاز شـــانه کـــولې
لـــور تـــر لـــوره کښـــته پورتـــه و معطـــر

کرشـــمو کـــې یـــې یـــو بـــل عجـــب اثـــر و
زمـــا خـــوار زړګـــی یـــې خـــوار کـــړ یـــو نظـــر

بې پروا مې خوا نه تېـره شـوه موسـکۍ شـوه
اور یـــې بـــل کـــړ د حیـــران د زړه پـــه ســـر.

✵

څــو بـــه ارمانونـــه د زړه تنـــګ ســـاتم
نـــوره بـــه دې لار لکـــه ملنـــګ ســـاتم

تا چې په سرو وينو ســترګې ســرې کړلـــې
زه به لیمې ســرې پــه وینــو رنــګ ســاتم

ســـترګو مـــې د ســـترګو لار څـــارلې ده
غوږ کــې د اشــنا د پــاولو شــرنګ ســاتم

درد د ړنـــدو ســـترګو لـــه دوا شـــوله
ځکـــه تـــورې خـــاورې د پتنـــګ ســـاتم

زه حیـــران بـــه اوس زړګـــی تســـل کړمـــه
دا ګیلـــې بـــه یـــار تـــه پـــه پالنـــګ ســـاتم.

٭

په ســترګو کــې د مینــې پــټ اســرار مــزه لــري

نــازو نــه کرشــمې د خپــل دلــدار مــزه لــري

بــــورا دی کــــه بلبــــل

صــــفت کــــوي د ګــــل

مثـــال نـــه لـــري بـــل

خــوږې خــوږې خبــرې د ربېــار مــزه لــري

خوبان که جنګ وقار کـړي

د شنو لښـتو ګـوزار کـړي

عاشق پـرې افتخـار کـړي

د ښــکلو اخ و ډب کــې دنــدو کــار مــزه لــري

وعــده چـــې د وصـــال وي

د مینـــې پـــرس و پـــال وي

غمونـــه ټـــول پايمـــال وي

عالمـــه هغـــه شـــپه د انتظـــار مـــزه لـــري

د مینـــې داســـې کـــار وي

هر څوک چـــې ګرفتـــار وي

حیرانـــه خـــوار و زار وي

ټـــول ژونـــد د عاشـــقانو نـــاقرار مـــزه لـــري.

✵

د بــدو بــد د ښــو بــه ښــه يــادېږي
وايــه اشــنا د تــا بــه څــه يــادېږي

هر څه به تېر شي مګر هېر بـه نـه شــي
د خـــوږې ژبـــې بـــه خـــواږه يــادېږي

هــر څــه كــوې خــو نــاروا مــه كــوه
داسې خـو نـه چـې دا بـه نـه يـادېږي

ترخــه ترخــه وي تــريخ تــاريخ جــوړوي
د نـــن ترخـــه ســـبا ترخـــه يـــادېږي

سترګې نږدې كـړه د حيـران زړګـي تـه
ستا خوږې ســترګې يــې د زړه يـادېږي.

✵

لېـــونۍ مینـــې دې هســـې لېـــونی کـــړم
چـــې همـــه واړه عـــالم کـــې خنـــدنی کـــړم

مستې ســـترګې دې د ســـرو لبـــانو ســـت کـــړي
بې صبري دې سپینې خـــولې تـــه هـــولنی کـــړم

چې د مخ ډیـــوې دې بلـــې پـــه تـــور تـــم شـــي
هغـــه دم بـــه ځـــان و جســـم ســـپېلنی کـــړم

تېر خـــو هېـــر دي پـــه حیـــران د ســـبا پرېـــږده
کـــه یـــو ځلـــې دې رایـــاد لا پرونـــی کـــړم.

✵

زما ژوند د یار لــه غــم ســره مــزه کــه
لکــه ګــل د اوبــو نــم ســره مــزه کــه

د زېبــا حســن کتــو لایــق دې نــه یــم
پیغمبــر لــوح و قلــم ســره مــزه کــه

پاکــه مینــه د حیــران پاکــه اشــنا ده
ځکه مینه مــې صــنم ســره مــزه کــه.

شیرینه یـاره نــو پــه خولــه بــه څــو ګیلــې کومــه
پرېــږده چــې مینــه کــې ســلګۍ وړې وړې کومــه

یو خوا دې غم د تورو سترګو کړم زخمي پــه ځیګــر
بــل دې هجــران پــه زړه را ومنــډه د ظلــم خنجــر
خلاصه مینې دې په غــم کــې کړمــه شــام و ســهر
درتــه ګیلــې بــه نــو د کــومې قبیلــې کومــه

زړه مې مجنون شــو رانــه غــواړي د لــیلا ســترگې
لکه ماشوم یــې کړلــې ســرې نــو پــه ژړا ســترگې
نه شته نیازبینه کــه ړنــدې شــوې د دنیــا ســترگې
خاونــده چــا نــه بــه تپــوس اوس د لیلــې کومــه

ســوی حیــران یــم ســوی آه ســوی فریــاد کومــه
ژړا لــه غمــه ســتا د دوه ســترگو پــه یــاد کومــه
وړې ســـلگۍ بـــه د مجنـــون او دفرهـــاد کومـــه
دا مـــې پـــه برخـــه دی ســـلگۍ وړې وړې کومـــه

✵

زړگیـــــه تـــا تـــه لـــیلا بیـــا یـــاده شـــوه
ماتـــــه جفـــا د بـــــې وفـــا یـــاده شـــــوه

غـــوټۍ پـــه موســـکه خولـــه خنـــدا کولـــه
بلبلـــــه ســـــتا مـــــې واویـــــلا یـــاده شـــوه

شـــــبنم لـــــه گلـــــه بېلېـــــده ژړل یـــــې
ځکـــــه مـــــې سمدســـــتي ژړا یـــاده شـــوه

حیرانـــــه حـــــال مـــــې د پتنـــــگ ولیـــــده
ماتـــــه د مینـــــې نـــــاروا یـــاده شـــــوه.

✸

نیمــــه شــــپه وه دخیــــالونو ولــــولې راغلــــې
د غمونــــو ډلــــې ډلــــې قــــافلې راغلــــې

نیمــه شــپه وه چــې د هجــر لمبــه بلــه شــوه
دا د غــم لمبــه مــې تــاوه لــه ګوګلــه شــوه
زړه زخمي شو شنې لوخړې مې له خــولې راغلــې

سترګې پټې خیال کې ډوب د خپــل اشــنا شــومه
لاس مې پــاس پــه تنــدي کېښــود پــه ژړا شــومه
لــه هیبتــه مــې پــه مــخ ســړې خــولې راغلــې

تنهـــا ناســـت یمـــه فریـــاد د یـــار پـــه یـــاد کـــوم
ســـوی ســـوی اســـوېلی ســـوی فریـــاد کـــوم
هـــرې خـــوا نـــه د هجـــران د غـــم لمبـــې راغلـــې

نور څـــه نـــه و تـــوره شـــپه وه یـــو حیـــران غریـــب
یک تنها په غم کې ډوب کم بخت پرېشـــان غریـــب
ځکه خولې ته مـــې نیمګـــړې څـــو ګیلـــې راغلـــې.

✵

پــه زړه مــې د ژونــدون هغــه نازونــه ټــول ارمــان دي
د تـــورو تـــــورو ســترګو
ارمـــان مــې هر زمان دی ، د تـــورو تـــــورو ستـــرګو

ســــوری ســــوری ځیګـــر دی، د مینـــې انتظـــار کـــې
پــه زړه مــې جــوړ محشــر دی، د مینـــې انتظـــار کـــې
یـــو مینـــه زمانـــه ده اشـــنا ډېـــر دې عاشـــقان دي
د تورو تورو ســترګو
څـــوک ســـر وهـــي ژړیـــږي، اختـــه پـــه اندېښـــنو
څـــوک زړه مېښـــي ځـــوریږي اختـــه پـــه اندېښـــنو
لـــه اوښـــکو وینـــو ډک یـــې انتظـــار دواړه چشـــمان دي
د تورو تورو ســترګو
نـــن تېـــره پـــه ســـبا شـــوه، تـــر څـــو بـــه لا حیـــران یـــې
ســـبا د غـــم ســـودا شـــوه، تـــر څـــو بـــه لا حیـــران یـــې
رنګ ژېړ پـــه یارانـــه کـــې وچـــې شـــونډې د حیـــران دي
د تورو تورو ســترګو.

✵

هســـې غـــم کړمـــه د ښـــکلو بـــې اختیـــار
پـــه رڼـــو ســـترګو مـــې ورکـــه کړلـــه لار

نـــه پـــوهېږم چـــې دا څـــه رابانـــدې شـــوي
چـــې نـــه یـــار شـــم پېژنـــدلی نـــه اغیـــار

سرې لمبـــې شـــوې رانـــه تـــاوې پـــه کـــې ســـوځم
راتـــه اور شـــو نـــو ښایســـته ښـــکلی ګلـــزار

کـــه د ټـــول جهـــان خوبـــان ټـــول وفـــادار وي
پـــه قســـمت د خـــوار حیـــران دی جفـــا کـــار.

ودې ســـوم جانانـــه ســـترګو کـــې اثـــر لـــرې
زړه مــې شــو قلــم قلــم څــه خیــالي بشــر لــرې

راشــه ســاه مــې خبــږي روح مــې تاتــه انتظــار دی
ای د زړګي ســره نــور پــه دې کــې بــې اختیــار دی
مرمـــه بـــې لـــه تانـــه چـــا بانـــدې نظـــر لـــرې

رنځ زما مشکل شو ساه مې خبــږي درد مــې زور دی
ای د رنــځ طبیبــه! رارســـېږه حـــال مـــې نـــور دی
ای د درد درمانـــــه راشـــــه کـــــه خبـــــر لـــــرې

مینــــه دمـــین وي خـــو پالنـــه وي دنیـــا کـــې
بیـا بـه پـس لـه مرګـه وفـا څـه کـوم عقبـا کـې
هلتــه بــه شــي ګرانــه خیــال کــه د محشــر لــرې

زه دا ستا حیران یم څـه مـې کـړې رضـا دې خپلـه
ســرو مــال مــې ســتا عشــق کــې بـایللی لـه ازلـه
ګرانـــه مهربانـــه تـــه اختیـــار پـــه ســـر لـــرې.

✵

روېبــاره یــار تــه وایــه زمــا ســوال منــې کــه نــه؟
د مینــې پــه دنیــا کــې مــې وصــال منــې کــه نــه؟

دوه سترګې دې کړه پورته زه خیال ستا د لیــدو کــړم
رښــتیا وایــه محبــوبې دغــه خیــال منــې کــه نــه؟

د ګـــل قـــدر بلبـــل کـــړي د جمـــال بـــه عاشـــقان
تعظـــیم د عاشـــقانو د جمـــال منـــې کـــه نـــه؟

یــو ځلــې دې خولــه راکــړه پــه ډېــره خــوږه مینــه
د مینـــې ارزوګـــانې هـــر مهـــال منـــې کـــه نـــه؟

حیران د ارزو ګلــه لــږ پــه بــد حــال مــې خبــر شــه
نیمګــړې التجــا مــې د بــد حــال منــې کــه نــه؟.

ځوک راته سلګۍ که ځوک مــې ځــای پرځــای وژلــي دي
مــا چــې پــه ملالــو ســترګو هــرې خــوا کتلــي دي

زه چې سترګې تورې شونډې سرې اوربل شانه کړمــه
تورې زلفې نورې پــه ســپين مــخ دانــه دانــه کړمــه
ښــايي چــې تمــام عــالم بــه واړه دېوانــه کړمــه

سترګې به رندې وي پــه ليــدو چــې مبــتلا نــه شــي
هغه زړه دې وچوي چــې پــه يــو نظــر تــالا نــه شــي
ويني به يې سپينې په هر رګ کې په جوش رانه شــي
زړونه مې د مينې پــه ســيخ اړخ پــه اړخ داغلــي دي

ډېر زما لــه غمــه حــال زبــون څیــرې گرېــوان ژاړي

هر خواته چــې گــورم لېــوني خــواره پرېشــان ژاړي

بل مې د خــولگۍ پــه تمــه تــل ســوی حیــران ژاړي

ډېـــر راتـــه راغلـــي بېنـــوا راځنـــې تللـــي دي.

رانـــه هېـــر کـــړو دېـــر یادونـــه دا ســـتا یـــاد
چـــې رایـــاد شـــي بـــس زړګـــی شـــي پـــه فریـــاد

افـــرین دې پـــه دا هســـې یارانـــه شـــي
زه دې غـــم کـــړم صـــبح و شـــام و تـــه عنـــاد

ســـتا پـــه مینـــه چـــې زه هغـــومره صـــادق یـــم
پـــه جهـــان بـــه نـــه مجنـــون و نـــه فرهـــاد

پـــس لـــه مرګـــه کـــه ښـــادي راشـــي لحـــد کـــې
څـــه فایـــده ده چـــې پـــه ژونـــد نـــه شـــومه ښـــاد

نـــه د رب پـــه رضـــا لاړه نـــه روغېـــړي
پـــه حیـــران بېچـــاره وشـــو څـــه فســـاد.

پــه ښــکلو ارمــانونو بــه دا ســوی زړګــی ســوړ کــړم
وطنــه! تــا بــه جــوړ کــړم وطنــه تــا بــه جــوړ کــړم

زمــا ښایســـته وطنـــه ولا ښـــه بـــه دې ســـینګار کـــړم
دا تــورې ســپېرې دښــتې بــه دې ښــې ګــل و ګلــزار کــړم
ښایســته ښــکلي زلمیــان بــه دې راپورتــه پــه تلــوار کــړم
دا وږي یتیمــان بــه دې هــر یــو پــه ګېــډه مــوړ کــړم

ړانــده، کانــه بچــي بــه دې بینــا پــه زېربنــا کــړم
بیــرغ بــه دې راپورتــه پــه چــک چکــو پــه هــا هــا کــړم
زمــوږ ملــي نــاموس یــې تــول بــه تــا ځنــې فــدا کــړم
قربــان بــه دې خــدمت کــې نــر او ښــځه ځــوان او زوړ کــړم

د پـــــوهې لمــــــر ختلــــــی معلومــــــداره ښــــــکاره لار ده
تیــــارو د نــــاپوهۍ نــــه یــــو وتلــــي اوس ســــهار ده
منــــزل و هــــو روان یــو خپــل هــدف تــه مــو تلــوار ده
قسم دی چې بـدخوا بـه دې پـه ډېـر ارمـان کــې ســوړ کـړم

ستا ناوې بــه ســینګار شــي لــور تــر لــور بــه خوشــالي شــي
حیرانــه بیــا بــه هلتــه تــول جهــان ســره ســیالي شـــي
ازبــک و هـــزاره افغـــان بـــه کلکـــه وررولـــي شـــي
هــر خــوا بــه کــور پــه کــور درځنــې ورک ملــي اروړ کــړم

✵

تر څو په خــوب ویــده دي د وطــن ښایســـته زلمیــان
راپورتــه شـــئ بیـــدار شـــئ لــږ څـــه وپېژنـــئ ځـــان

وطن زموږه کور دی په خپــل کــور کـــې نــا محــرم یــو
چې نوم د وطــن واخلــو نــو پــه دې ولــې مجــرم یــو
څــه وجــه ده ځوانـــانو ســـپېړ خـــور دهـــر ظـــالم یـــو
بیګـــاه ســـبا پـــه ســـر د ظالمـــانو خـــورو ســـوکان

نه مو ښې جامې په تن کړې نه په نس باندې مــاړه شــو
د یــو څپــک جــواري پــه ارمـــانونو کـــې زاړه شـــو
نه هېڅکله د خان صــاحب د قــرض څنــې ســاړه شــو
تــر څـــو بـــه دوی خانـــان وي مـــوږه وږي مـــزدوران

جهان کې کونج په کــونج ورک شــوی نــوم د اســتعمار
اختر دی مساوات دی هر یو بوخت دی پــه خپــل کــار
تبعـــیض لـــه منځـــه تلـــی د مـــزدور او د بـــادار
تراوســـه زمـــوږ غوښـــې خـــوري ناترســـه بـــاداران

پــه دېــره شــتمنۍ کــې مــوږ ولــې خــوار و زار یــو
دا څکه چې حق غــواړو بــس کــافر شــو ګنهکــار یــو
ملا صــاحب کــړو امــر دوزخیــان شــو معلومــدار یــو
حیرانـــه وایـــه مـــوږه بـــه شـــو کلـــه جنتیـــان.

✵

د جـــاهلانو خنـــدا اورمـــه ځـــورېږم
خلـــک مـــې ولـــې کچـــه بـــولي

هنر زمـا پيشــه دی

عقـــل، شـــعور لـــرم انســـان يـــم
ځـــواني طاقـــت لرمـــه ځـــوان يـــم
د قـــام د هيلـــو ترجمـــان يـــم
د ګـران ولـس پـه خـدمتونو نـه شـرمېږم

هنر زمـا پيشــه دی

مـــین پـــه خپـــل ملـــي کلچـــر یـــم
پـــه اهلیـــت کـــې ښـــه خبـــر یـــم
مســـخره نـــه یـــم بـــا هنـــر یـــم
خیر که خلک خاندي زه خو ډېر په دې نـازېږم

هنر زمـا پیشــه دی

بشـــر خـــو تـــول مغـــه بشـــر دی
یـــو اراده یـــو یـــې مصـــدر دی
کـــه خـــوار غریـــب کـــه معتبـــر دی
پـه کـور او کلـي کـې زه ولـې بـد یـادېږم

هنر زمـا پیشــه دی.

✵

ماتــــه پـــه کعبـــه د چـــا قســـم مـــه راکـــوه
مینـــه مـــې حـــرم دی بـــل حـــرم مـــه راکـــوه

مینــــه خـــو پېغـــور نـــه دی د مینـــې لېونیـــه
ماتـــــه پېغورونـــــه د صـــــنم مـــــه راکـــــوه

خیر دی که د یار له غمه مـرم حکیمـه ودې مـرم
بـــس د زړه زخمـــو تـــه مـــې ملهـــم مـــه راکـــوه

دا زه حیران له غمه لېـونی او غمجــن خــوښ یــم
غم مې د یار خــوښ دی بــل یــو غــم مــه راکــوه.

ابتـــــره راغلــــــه ســــــاه نیـــــولې قســــــم
بــــې پـــــروا تېـــــره شـــــوله غلـــــې قســــــم

بېګـــــاه مــــې خـــوا نــــه بــــې پـــروا تېـــره شـــــوه
غـــــره د حســــــن پــــه ښـــــکلا تېـــــره شـــــوه
لـــــه قــــاره شـــــنه ښــــکلې لــــیلا تېـــره شـــــوه
بیـــــا کـــــوم ناترســــــه قــــــارولې قســــــم

یـــــوه شـــــغله وه راښـــــکاره غونـــــدې شـــــوه
د عاشـــــــقانو ننـــــــداره غونـــــــدې شـــــــوه
کــــــږه وږه شـــــوه کنــــــاره غونـــــدې شــــــوه
شـــــوخه هوســــــۍ چــــــا ځغلــــــولې قســــــم

پـــه ښايســـته مـــخ يـــې ســـره ګـــلان کرلـــي
پـــه ســـپينو لېچـــو يـــې مـــاران روزلـــي
پـــه کرشـــمو يـــې عاشـــقان وژلـــي
د زړونـــو ښـــکار تـــه راوتلـــې قســـم

حيرانـــه خيـــال وکـــه ســـودا د مينـــې
دا کـــوم مثـــال دی پـــه دنيـــا د مينـــې
يـــا حقيقـــت بـــه وي لـــيلا د مينـــې
کـــه مـــې پـــه خـــوب چېرتـــه ليـــدلې قســـم.

✵

ســترګو دې بیــا نــاغې پیــدا کړلــې غمجنــې دي
چانــــه ګیلــــه منــــې دي د زړګــــي ســــره

خــاطر دې بیــا ولــې مــلال دی د زړه ســـره زمــا
سترګې دې بیــا نــاغې نــاغې شــوې نــازپروره زمــا
چاتــه لــه درده غاښــچیچي لــري دلبــره زمــا
په مخ دې مړې اوښکې خورې ســلګۍ غمجنــې دي

زړګی دې ډک دی له ګیلو په خوله ویلـې نــه شــې
د اندېښــــنو توپـــان د زړه تســــلولی نــــه شـــې
د خواشینۍ ســـلګۍ پـــه شـــوندېو پټـولی نـــه شــې
د غـــم ســــلګۍ دې بیـــا بـــې واره لغـــوړنې دي

د بڼو څـــوکې دې ابتـــرې شـــوې تســـل بـــه غـــواړي
له اوښکو ډکې چاته برې شـــوې تســـل بـــه غـــواړي
د حیران خواتـــه برابـــرې شـــوې تســـل بـــه غـــواړي
لـــه ګیلـــو ډکـــې کرشـــمې دې اندېښـــمنې دي.

مخ مې د هجران په لمبــو ســوی ســکور دی
دا زبېښلی رنګ مــې ګــوره څــه لــه غمــه تــور دی

هسې ناکردې چې دې زمــا پــه ژونــدون کــړې دي
ستا خمارو ســترګو مــې د ژونــد ســرمایې وړې دي
ستا له ظلمــه زوره مــې اعضــا د بــدن ســتړې دي
هســــې دې پـــه مـــا را اړولـــي د غـــم خـــړې دي
زه په فریاد ناست یم ستا خوښې او لــړې چــړې دي
دود مې له سر خېږي بل مــې زړه کــې دغــه اور دی

حـــق ویلـــی نـــه شـــم راســـره د هجـــران وېـــره ده
تا چې په ما کـــړې اوس مـــې هغـــه کـــرده هېـــره ده
دا تعـــدا لا څـــه کـــوې چـــې تېـــره لا پـــه تېـــره ده
خیـــر دې عاقبـــت وي راتـــه دا ظلـــم لا چېـــره ده
دا څنگـــه یـــاري ده چـــې لـــه مینـــې جفـــا ډېـــره ده
ښاد په وصال نه شـــوم د هجـــران اندېښـــنه زور دی

زه پـــه ژړا ناســـت یـــم تـــه زمـــا پـــه ژړا خانـــدې
چاته ستا له لاســـه دا زخمـــي زړگـــی کـــړم وړانـــدې
هسې نـــاکردې چـــې تـــه زمـــا پـــه ژونـــدون کانـــدې
خود دې زه حیران په اور ستي کـــړم لانـــدې بانـــدې
ما په سر گـــاللي ســـتا لـــه خـــوا نـــه ترخـــې تانـــدې
خیر که ستا له لاسه مې خـــراب د زړگـــي کـــور دی.

✵

زه چـــې ژړېـــږم اشــــنا هـــم ژاړي
ټولـــه دنیـــا زمـــا پـــه غـــم ژاړي

د یـــار لـــه غېـــږې پـــه ژړا پرېـــوتم
لکـــه پـــه ګـــل کـــې چـــې شـــبنم ژاړي

زړګیـــه ویلـــی شـــه ټـــوټې ټـــوټې شـــه
چـــې نـــازولی پـــه حـــرم ژاړي

زمـــا د ژونـــد صـــحنه قلـــم لیکلـــې
کـــه حیـــران نـــه ژاړي قلـــم ژاړي.

چاتـــه ښـــکاره کړمـــه د زړه زخمونـــــه
اشـــنا پـــرې ایښـــي دجفـــا داغونـــــه

زمـــا لـــه غمـــه دفترونـــه جـــوړ شـــول
نـــه شـــته د یـــار دغـــه عمـــده عرضـــونه

یـــو مـــې لـــه ځایـــه زړه پـــه غـــم ســـتي و
ســـترګو پـــرې ښـــخ کـــړل د بڼـــو ســـیخونه

زړګـــی مـــو مـــوړ دی پـــه نعمـــت د مینـــې
ســـبا بېګـــاه خـــورم د وصـــال غمونـــه

حیرانـــه زړه دې پـــه جفـــا تســـل کـــړه
د عاشـــقانو وي نصـــیب دردونـــــه.

✵

هغــه یــار د مینــې بــې وفــا و پــر ســتم و خــوت
چاتــه فریــادي شــم جفــا کــار زمــا صــنم وخــوت

څو بــه ســتا لــه لاســه نــازنینې د زړه وینــې خــورم
ستا د بېرحمۍ څپېــړې زړه بانــدې ســنګینې خــورم
دغه زما حال دی اندېښــنې دا ســتا د مینــې خــورم
وکړه یو نظر د مینې ستا پــه خیــال مــې دم وخــوت

نــور عــالم کــل واړه زنــدګي لــري خنــدا ســره
دا خــو بخــت زمــا دی الــوده غــم و ســودا ســره
زړه زمــا بلــد شــو اندېښــنو ویــر و ژړا ســره
څه وکړمه خدایه په نصــیب مــې د یــار غــم وخــوت

**چاته ستا لــه لاســه دا زخمــي زړگــی شــکاره کړمــه**

**څوک به مې عرض واخلي که گريوان پاره پــاره کړمــه**

**ســتا د ظلــم و زوره بــه نگــاره څــه چــاره کړمــه**

**بس کړه ظلم پرېږده له زخمي زړگي مــې نــم وخــوت**

**زه حيران مجبــور شــوم فريــادي درتــه راغلــی يــم**

**اور مې پــه ســر بــل دی لکــه شــمع ســوزېدلی يــم**

**مرمــه نــه روغېــږم لــه ډېــر درده کړېــدلی يــم**

**ولــې دې غمــاز پــه در کــې مانــه مقــدم وخــوت.**

✵

درد مـــې پـــه زړه دی تـــه ګـــولۍ راکـــی د ســـر مامـــا
مـــرض مـــې ګـــوره بیـــا نســـخه راکـــړه ډاکتـــر مامـــا

وایـــم د غـــاښ معمـــولي درد لـــرم نســـخه کـــه راکـــړې
تـــه د اتـــو کـــالو لیکـــې راتـــه بســـتر مامـــا
معاینه خانه کـــې کښـــته پورتـــه ګـــورم هـــېڅ نـــه شـــته
خـــالي خلتـــې دي د ســـېرمو زوړ نیشـــتر مامـــا
همدغه وینې مـــې رګـــو کـــې وې چـــې تـــوی دې کړلـــې
دا پېچکـــاري وه کـــه د زوړ غـــویي وه ښـــکر مامـــا
پیســـه دار درولـــې غریـــب پـــه تېـــل وهلـــو باســـې
بیـــدار ولاړ دی دروازه کـــــې کمبـــــوډر مامـــا

حیران بـــه ځـــو درتـــه پـــه شـــعر ســـتایي د زړه دردونـــه
خـــدای دې غریـــب لـــه زړه نـــه خپلـــه کـــه خبـــر مامـــا.

✵

نه به ژوندی یم نه بــه بښــکلي لــیلا بیــا وویــنم
نه به یې سپینه خولګۍ ډکــه پــه خنــدا وویــنم

نه به ژوندی یم نــه بــه بیــا هغــه نازونــه کــوي
نــه بــه پــه تــورو ســترګو پــټ اشــارتونه کــوي
نه به یې سرې شونډې نازک نازک ســتونه کــوي
نــه بــه د بلــې معشــوقې داســې وفــا وویــنم

نه به ژوندی یم نه بــه بیــا هغــه خیالونــه کړمــه
نه به یې تــورې زلفــې بیــا د نــاز ټالونــه کړمــه
نه به یې بیا له سپینې غاړې تــاو لاســونه کړمــه
نه به په خوب کــې چېــرې هغــه تماشــا وویــنم

نه به ژوندی یــم نــه بــه بیــا هغــه اشــنا راشـــي
نه به مې بیا غېږې تــه مســته پــه خنــدا راشـــي
نــه بــه پــه مخــه نــازولې لــیلا بیــا راشـــي
نه به د مینې ډکې ســترګې پــه موســکا وویــنم

نه به ژوندی یم نه به بیــا زلفــې تــاوداري کــړي
نه به په ســپین جمــال خالونــه لارې لارې کــړي
نه به حیران ته راښکاره ســترګې خمــارې کــړي
پیدا به نه شي کــه څلــور کونجــه دنیــا وویــنم.


Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون
۱۳ ۸۷
دلوونو فصل
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷

# د لوونو فصل

(په شپېتمو کلونو کې د پښتو شعر څو بېلګې)

راټولوونکی

محمد اسمعیل یون

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:


| | |
|---|---|
| د کـــتـــاب نـــوم: | د لوونو فصل |
| راټـــولـــوونـــکی: | محمد اسمعیل یون |
| خـــپـــرنـــدوی: | یون کلتوري یون |
| چـــاپـــشمـــېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لـــومـــړی چاپ: | ۱۳۶۹ل کال |
| دویـــم چـــاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د راټـــولـــوونکي پرله پسې نومره: | (۳) |
| د خـــپرنـــدوی پرله پسې نومره: | (۳) |
| کـــمـــپوزر: | ضیاالرحمن ضیا |

# د دویم چاپ سریزه

پر (۱۳۶۹ل) کال زه د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د درېیم ټولګي محصل وم. دا وخت مې په ((شخصي لګښت د کتاب چاپ)) یو کوښښ او یو خوځون پیل کړی و او هڅه مې کوله یو شمېر هغه افغانان، چې له اقتصادي پلوه یې روزګار ښه و، دې ته وهڅوم چې په خپل لګښت علمي او هنري کتابونه چاپ کړي او په دې ډول د هېواد د فرهنګ په وده کې برخه واخلي. زموږ لومړۍ هڅه په دې برخه کې بریالۍ شوه او د خپل ټولګیوال (پښتون بهرامزي) په مالي لګښت مې ((نیمګړي ارمانونه)) اثر چاپ کړ. دا کار ددې سبب شو، زما نور ټولګیوال چې تر پښتون بهرامزي یې اقتصاد پیاوړی و، دې ته وهڅېږي، چې هغوی هم د اثارو د چاپ او نور فرهنګي چارو لپاره پانګه بېله کړي. په دې کې زما یو بل ټولګیوال (حاجي خان محمد) چې یوې ډېرې درنې پښتنې کورنۍ ته منسوب و، د یو بل اثر د چاپ ژمنه وکړه، دا اثر ((د لوونو فصل)) و، چې ما د همدې (۱۳۶۹ل) کال په بهیر کې ترتیب کړی

و. دا اثر اصلاً په شپېتمو کلونو کې د پښتو د څو نوموتو شاعرانو د کلام ځینې بېلګې دي، یا غورچاڼ دی چې اکثره د همدې لسیزې حالاتو انځورنه کوي او هغه وخت زما هدف او پلان دا و چې موږ باید د هرې لسیزې په پای کې د خپل ادب د بېلابېلو صنفونو منتخبات ترتیب کړو او دې سره به موږ ته په ډاګه شي، چې موږ له یوې لسیزې بلې ته په فرهنګي ډګر کې څومره پرمختګ کوو. د شعرونو دا غورچاڼ مې د






همدې مقصد لپاره ترتیب کړی و، غوښتل مې د لنډو کیسو یو منتخب هم ترتیب کړم، خو بریالی نه شوم. دې اثر ته مې هغه وخت ځکه د ((لوونو فصل)) نوم ورکړ، چې پر هغه وخت په افغانستان کې د سرونو لو ګډ و او موږ هیله لرله، چې د انساني سرونو د لو دا لړۍ باید بلې لسیزې ته وانه وړي او زړه کې مې ګرځېدله چې که بله لسیزه کې زموږ هېواد ارام و او ما د بلې لسیزې د شعرونو غورچاڼ چاپوه، نو بیا به پرې د

((ګلونو فصل)) نوم کېږدم، خو په خواشینۍ سره باید ووایم چې د ((لوونو فصل)) د شعري جونګ تر چاپ وروسته دادی نږدې دوه لسیزې تېرېږي، خو په افغانستان کې د سرونو لو همغسې روان دی. په دې تېرو دوو لسیزو کې زه بیا هم د دې جوګه نه شوم، چې د پښتو شعر او یا هم لنډې کیسې منتخبات چاپ او بیا له تېر سره پرتله کړم. خو اوس چې زه د خپل تېر کړي فرهنګي کار پر بیا راټولېدو او بیا کتنه بوخت یم، نو ددې اثر بیا چاپ او د انټرنټ څپو ته د هغه خوندي کول راته هم ضروري ښکاره شول. که چېرې زمونږ نور ځوان فرهنګیان په هره لسیزه کې د خپل شعر منتخبات ترتیبوي، نو دا اثر ورته  د هغه وخت د استوګن ادبي بهیر د یوه لس کلن شعري واټن څو غوره بېلګې په لاس ورکولای شي. دا چې دا کتاب هغه وخت زما د یوه ګران ټولګیوال (حاجي خان محمد) په مالي لګښت، د خوشال فرهنګي ټولنې د لومړني چاپي اثر په توګه ټولنې ته وړاندې شوی و، نو دلته لازمه بولم چې له ګران حاجي خان محمد او همدارنګه خوشال فرهنګي ټولنې څخه ډېره مننه وکړم، چې دا اثر یې همغه وخت د چاپ له لارې خوندي کړ. د یادونې وړ بولم چې حاجي خان محمد او خوشال فرهنګي ټولنې بیا تر دې وروسته ډېر نور فرهنګي خدمتونه هم ترسره کړي، چې پر خپل ځای یې باید یادونه او مننه ترې وشي.

زه په داسې حال کې چې اوس د خپلو اثارو د خوندي کولو پر کار بوخت یم، له نورو لیکوالو هم هیله کوم، چې خپل هغه اثار چې پر دویم

ځلي او يا څو ځلي چاپ ارزي، بيا راټول او چاپ كــړي او كــه چېــرې چاپوي يې هم نه، نو د كمپيوټر او انټرنټ حافظې ته دې وسپاري، چې د مرګ له دايمي خطر څخه وژغورل شي، فرهنګي شتمني د ټول ملــت مشتركه پانګه ده او موږ ټول يې د خوندي كولو مسوليت لرو. د همدې هيلې په هيله چې زموږ فرهنګي شتمني د هر ډول ناتارونو له خطرونو او ګواښونو خوندي وي، خپله دا سريزه رالنډوم، دا هم تاسې او دا هم په شپېتمو كلونو كې ((د لوونو فصل))، خداى دې وكړي زموږ په هېواد كې نور د سرونو دا لوونه بند شي، په همدې هيله.

څه لو دی د ګلاب ګلاب سرونو په وطن کې

یو اور خو خدایه بل کړې د لوګرو په وزرونو

په درنښت

پوهندوی محمد اسمعیل یون

کابل– افغانستان

۱۳۸۷ل کال– د سلواغې ۶مه

# پیلامه

د سقراط په باب دا خبره ویل شوې چې: ((هغه شعر له جنون سره یو شی باله)) ددغې خبرې تفسیر په لېونتوب سره نه کېږي، بلکې دا خبره کولای شو چې د یوه بل ادیبوه او شاعر (ملیتون) په یوې جملې سره تفسیر کړو هغه وایي: ((څوک چې غواړي شعر ووایي باید په خپله مجسم شعر وي)). ځکه نو شعر ویل څه اسانه خبره نه ده، هر څوک چې غواړي په ځان د شاعر نوم کېږدي، تر هر څه دمخه باید هغه د شعر ویلو شعور ولري، د هغه ذهن باید ددې توان ولري، چې ژوند، ښکلا او اړیکي د خپل ذهن د ازمېښتونو او تجربو په مرسته د شعور او تحت الشعور په دنیا کې ووینې څو یې هنري انځور زموږ د احساساتو پر ارامه حالت غوغا راګډه کړي. د یوه ښه شعر، انطباعي رمز په همدغه ټکي کې پروت دی. په پښتو ژبه او پښتني ټولنه کې هم شعر او شاعري ددغه قوم له اند او ژوند، هنر او ښکلا سره تلپاتې ملګرې دی، چې تراوسه یې خورا زیاته وده کړې ده، د پښتو شاعري د اوسنۍ پیاوړتیا یو دلیل دادی چې دغه شاعري لکه د نورو شرقي ملتونو د شاعرۍ په شان داسې کلاسیکه زېرمه لري چې شاعر یې د تاریخ په هر څرخ کې له هغې څخه

په کمي او کیفي لحاظ فیض او برکت موندلی شي. حمید ماشوخېل نن سبا نه یوازې د پښتو او پښتني شاعرۍ بلبل یـادېږي، بلکــې د خپــل کمال په سبب یې په ټوله سیمه او نړۍ کې د شــعري بهیــر رښــتیني کاروانیان پېژني او نن یې هم دده شعر دده موشګافي ته دده په خپلــه وینا د حیرت ګوته په غاښ نیولې ده. حمید په رښتیا هم د شعر نعمت یانې هغه تلپاتې لورېینه د پښتنو په برخه کړې، چې په هغــې ســره د پښتني او انساني اند او ژوند ټول اتموسفیر تسخیرولای شــي. د هغــه شعر زموږ د شعر او زموږ د شاعر لپاره هغه مثال دی، چــې د هغــه پــه مرسته د انسان د ضمیر په ائینه کې هم اوښکې لیدلای شو، هم شبنم او هم خنداوې. څکه:

د غفلت په خوب ویده خلق یې ناوري

کــه ((حمید)) نــارې وهــي لکه جرس

دېوان (۱۲۶) مخ

په همدې ډول  د رحمان بابا د شعر فیاض سمندر د ژوند د حقیقت او انساني معرفت په حقانیت کې یو بل ډول احساس او کیف لري چې بې ښه او بده پر زړونو او فکرونو اغېزه کوي او د تسلیمۍ غاړه یې د شــعر هنګامې ته ږدي:

بیــا دې مــخ دی جــار وتلــی څــه بــلا شــوه
دا بـــلا لـــه کومـــه لـــوری راپیـــدا شـــوه
دا زمــا پــه یــار کــې مهــر وفــا نــه شــته
کــه دنیــا واړه بــې مهــره بــې وفــا شــوه.

د رحمان بابا دېوان (۱۷۰)مخ

هو:

له مقدمې راتېرېږو او د ((لوونو فصل)) د کروندو پر درمندونو بانــدې وراوړو. زموږ د اوسني نسل په اند و ژوند کې دغه فصل داسې فصل دی، چې په عام ډول زموږ د ملت د اوسني عصر حماسه جوړوي، هو حماسه د لوونو حماسه، د درمندونو حماسه، د وینو حماسه او د غربت حماسه، دا ددغه اثر د شعر تګلاره ده او په عمومي لحاظ پــر همــدې واټ روان انځوریز کاروان دی. په دغه اثر کې د اوسني پښتو ((شعر)) د منشــور ټول هغه اړخونه چې د انعکاس قابلیت لري او له یوې رڼايي ســرچینه اخلي، په ډاګه کېږي، دغه شعري اثر که موږ د یوه منشور په توګه خپلې مخې ته کېږدو، کېدی شي د هرې ضلعې او هر اړخ په ترڅ کې بېلابېل خصوصیتونه مطالعه کړای شو، په دغه ښکلاییز انځور کې د اوسني شعر ځینې ډېر مهم او د پاملرنې خصوصیتونه لیدلای شو:

په اوسني شعر کې د پخواني شعر خلاف د یوه انځور مسئله هېڅکله نه ده طرحه، په پخواني شعر کې ډېر ځله داسې عنعنه وه چې یو شعر

باید یو انځور په ګوته کړای شي، معمولاً په پخوانیو ډېرو ښو شعرونو کې له دغه چال چلند څخه کار اخیستل شوی، مګر د اوسني شعر په ترڅ کې دا خبره ډېره نادره کار ګڼل کېږي. ځکه اوسنی شعر د انځور شـعر دی، کېدی شي په یوه شعر کې د انځورونو امېلونه ووینو او کېدی شي د اوسني شاعر په لسو شعرونو کې د پخوانو دېوانونو په اندازه انځورونـه ومومو، تر ډېره حده دا خبره ددغې مجموعې د شعرونو په برخه کې هم صدق کوي، راځئ دلته یو څو بېلګې په لنډېز سره لولو:

اشـــنا د موســـېدلو حـــق لـــه مـــورِ نـــه دی اخیســـتی
د خپـــل او د پـــردي پـــر مـــورِ د غـــم مهربـــاني ده
زما پـــه وران مالـــت ورانـــې جـــونګړې وران وطـــن کـــې
د مـــرګ او د ســـرو وینـــو دم پـــه دم مهربـــاني ده

د زړه د پرهرونـــو د ټکـــور امیـــد یـــې نـــه شـــته
چـــې نـــن پـــه رقیبـــانو د مـــرهم مهربـــاني ده.

که چېرې خبرې ته لږ دقیق شو، نو دې نتیجې ته رسېږو، چې زمـورِ اوسنی ((شعر)) په تېره بیا د هغه ځوانه برخه لـږ دقیقـې تشـریح او څېړنې ته اړتیا لري، ځکه دغه انځوریزې غوټې تراوسه هـم زمـورِ پـه

قلمونو او زموږ په وحشت ځپلو ارادو نه پرانیستل کېږي، همدا وجه ده چې په پورتنیو دریو بیتو کې یو د ((مهربانۍ)) انځور داسې پېچلې پدیده ده چې ددغه شعر په ترڅ کې په څو اړخونو سره کارېدلې ده او هر ځای خپل خپل انځور ښیي، چې یو اړخ له بل اړخ سره یو رنګي نه لري. په همدغو دریو بیتونو کې هره برخه یو ځانګړی او اوچت انځور موږ ته راښیي په داسې حال کې چې پخوانی شعر او شاعري په دې اندازه انځوریزه نه وه، دا هم ددغه اثر څو نورې بېلګې:

جېلوانه!

دا لمدې لښتې مې په ملا باندې په پام وروه
چې دا مې نوې د اختر کالي دي څیرې به شي!

***

مانۍ د باورونو مې تالا ځکه نن ښکاري
ملګري د یوې لارې یو ارمان معامله ګر دي
لیلا که د ښایست د سوداګرو سره لاړه
زموږ په زمانه کې مجنونان معامله ګر دي.

مخکې مو هم اشاره وکړه چې زموږ د ځوان نسل شاعري زموږ د عصر حماسه ده، هغه حماسه چې زموږ په ټوله شاعرۍ کې یې د شکل او محتوا په لحاظ ساری ډېر لږ لیدل کېږي، ځکه زموږ دغه حماسه زموږ د

**مظلوم ولس، زموږ د شهید ولس، زموږ مهاجر ولس او زمــوږ د بــریمن ولس ددغه عصر د ژوند هغه څه له ځانه سره لري، چې د مظلوم، شهید او مهاجر ولس د شاعر د زړه او فکر په ژورو کې حلاجي شــوی، انځــور شوی او شعر شوی دی. هو هغه څه چې د وینو په زړه کې یــې یــوازې حساسې سترګې ویني، هغه څه چې د غم د اوښــکو د ســمندرونو او سېلابونو تر غرونو هغه خوا یې یوازې همدغه ځوان شعر او شاعر ویلي، دغه څه په دغه اثر کې لیدلای او لوستلای شو.**

**دا کلی مه ورانوئ،**

**ګورئ چې هلته ددې تورې تروږمۍ له غېږې**

**ساړه زګېروي جګېږي**

**سوزمن اواز راځي**

**او امیدوارې میندې**

**د انتظار د بڼ د سرو ګلونو لارې څاري**

**دا کلی مه ورانوئ!**

**دا کلی مه ورانوئ! (څاځکی، څاځکی ۲۳ مخ)**

په هر صورت! ددغې مجموعې د شاعرانو پر وړاندې یو مهم مسئولیت هم شته، هغه دا چې: دغه کیفیت چې په دغو اشـعارو کـې او ددغـو شاعرانو په نورو شعرونو کې لیدل کېږي، باید نور هم لوړ کړای شـي او خپلې شاعرۍ ته باید نوره هم ښکلا او ځلا د تلپاتې ډالۍ په توګه ور په برخه کړي، نن سبا یو شمېر شاعران زموږ په افغاني ادبي بهیر (پښتو او دري) کې داسې هم شته چې بې وخته په وچ غرور ځنګه په پڅه سپاره شوي، نو بیا یې د کشمیر د لیدو او فتحې ناري بې له دې چې د زمان پر وړاندې امتحان ورکړي پورته کړي دي، په دې هیله چې زمـوږ ځـوان شاعر زمان او زماني ازموینه په خپله ایجادي برخه کې له یاده ونه باسي.

په درنښت

پوهنمل خالق رشید

د کابل پوهنتون د فرهنګي شورا رییس

## اسحق ننگيال

# دا کلی مه ورانوئ

**دا کلی مه ورانوئ!**

**دا کلی مه ورانوئ!**

**گورئ چې هلته د شنو ولو د شنو سيورو لاندې**

**گورئ د شنې ويالې ترڅنگه د جلگو دپاسه**

**يو کوچنی پروت دی**

**يو کوچنی ويده دی**

**او د وړې لوپټې لاندې**

**په خوب وړو سترگو**

**د ناز په غېږه کې کوچني شينکي خوبونه ويني**

**دا کلی مه ورانوئ!**

❋❋❋

**دا کلی مه ورانوئ!**

**گورئ چې هلته لکه زرکې زمونږ د کلي نجونې**

**گورئ چې هلته د بامو پر سر نورسې پېغلې**

**کتار کتار**

**د لمر تر وړانگو خپل پيکي جوړوي**

او په مينو ژبو

د پېغلتوب غوږ کې د ځوان هوس سندرې بولي

دا کلی مه ورانوئ!

❋❋❋

دا کلی مه ورانوئ!

ګورئ چې هلته له هغو سپېرو کوډلو ځنې

ګورئ چې هلته ددې تورې تروږمۍ له غېږې

ساړه زګېروي جګېږي

سوزمن اواز راځي

او اميد وارې ميندې

د انتظار د بڼ د سرو ګلونو لارې څاري

دا کلی مه ورانوئ!

دا کلی مه ورانوئ! [1]

[1] څاڅکي څاڅکي، د ليکوالو ټولنه، ١٣٦٨ل کال، ٢٢-٣٢مخونه.

**اسحق ننګیال**

# د میلاد په شپو کې

**ای! ددې شنه اسمان په غېږه کې خوب وړې سپوږمۍ!**

**ای! په دې شپو کې د پردېسو د سفر ډیوې!**

**ای! د ګلونو او د پېغلو، پېغلو وینو پرې!**

**ته راته ګورې؟**

**ته راته ګورې چې د کړیکو او تیارو نښه شوم؟**

**او د ساړه ژمي خوني او ګنهکار ابلیس**

**زما د ګلابو او نرګسو باغ کې اور وکاره!**

**ته راته ګورې؟**

**ته راته ګورې چې محل مې له کارغانو ډک شو؟**

**او په ویالو کې د هیلیو بچې وسوزېدل!**

او زمونږ د کلي میندې

د میلاد شپو کې (بې لاسو او پښو بچیان زېږوي)؟!

ته راته ګورې؟

❋❋❋

ته راته ګورې چې مې ټول کلی چاړه چاړه دی؟

خلک په نوکو او برچو د یو بل سترګې باسي!

او د مالت نجونې

په خپلو تورو تورو څڼو کې ځوزان ټک وهي؟

آه

آه نازولې سپوږمۍ!

آه د رڼا مورې! [1]

(۱) ښاڅکي ښاڅکي، د لیکوالو ټولنه، ۱۳٦۸ل کال، ۹۲-۹۳ مخونه.

**افضل ټکور**

# دوه پوښتنې

**مور تپوس راځنې وکړو**

**کوم څیزونه دې خوښېږي؟**

**ما ځواب کې ورته ووې:**

**درې څیزونه مې خوښېږي**

**چې دي:**

**ژوند، مینه او حسن**

**هغې بیا پوښتنه وکړه**

**کوم څیزونه دې بدایسي؟**

**ما ځواب کې ورته ووې:**

**درې څیزونه مې بدایسي**

**چې دي:**

**مرګ، وینه او ظلم، (1)**

(۱) ژوندون مجله ۱۳٦۸ ل کال، ۲-۲ گڼه، ٤۲مخ.

**افضل ټکور**

# غزل

پــــه مــــوره بدنصـــیبو د تـــورتم مهربــــاني ده
د یـــار د تـــورو زلفـــو پیچـــو خـــم مهربــــاني ده

دا موره جـل وهلـي یـې د ګـوټ پـه تمـه مـره شـو
پــــه غیـــر و غمــــازانو د صـــنم مهربــــاني ده

یــــارانو د دار لوبـــه خـــو لا نـــه ده ختمـــه شـــوې
چـــې نـــه مـــرو دا پـــه مـــوره د ســـتم مهربـــاني ده

دا اوښکې مې د سترګو څه ګیلـې څـه اسـوېلي شـي
د وخـــت رابانـــدې دا پـــه هـــر قـــدم مهربـــاني ده

اشـــنا د موســـېدلو حـــق لـــه مـــوږ نـــه دی اخیســـتی
د خپـــل او د پـــردي پـــر مـــوږ د غـــم مهربـــاني ده

زما پـــه وران مالـــت ورانـــې جـــونګړې وران وطـــن کـــې
د مـــرګ او د ســـرو وینـــو دم پـــه دم مهربـــاني ده

د زړه د پرهرونـــو د ټکـــور امیـــد یـــې نـــه شـــته
چـــې نـــن پـــه رقیبـــانو د مـــرهم مهربـــاني ده.(1)

(۱) له (پرهرونه او ټکورونه) شعري مجموعې څخه.

احمد تکل

# دا د ګناهو خیری

ویې مروړه یویې سه

دا د ګناهو خیری

چا به له پیالو سره غمونه اړولي وي

چا به د نیمرسې ګناهکارې له تتر نه شراب څښلي وي

دا د بېخودیو استفراق درسره ومینځه

اوه څپې،

اوه ګامه پسې پورته کړه

پرې مینځه...!

دغه د صادقو جنګیالیو د عورتو د لامبو خیری

**وروسته د گناه له یوې تورې شپې**

**ویې مرووړه یویې سه**

**دې قمارخانو نه د سگرټو پاتې شوي کاغذونه**

**دا غلیظ لوگي**

**اوه شپې**

**اوه گامه پسې پورته کړه**

**روڼ او پاکیزه کړه د پایتخت گوگل**

**له چل و قسمونو نه**

**له شک او گمانونو نه.**

۹/۳/۱۳٦۹

**احمد تکل**

## هیله

**جېلوانه!**

**دا لمدې لښتې مې په ملا باندې په پام اوروه**

**چې دا مې نوي د اختر کالي دي...**

**ښیرې به شي [1]**

**۱/۳/۱۳۶۹**

(۱) احمد تکل، قلم جریده، ۱۳٦٩ل کال، ۲ گڼه.

**ابراهیم شینواری**

## د قبر عذاب

**ماته ملا ویل: (عیسی دخدای رسول یوه ورځ**

**له هدیرې دوه مړي،**

**بیا راژوندي کړل او پوښتنه یې د حال ترې وکړه**

**نو پرهېزګاره مړي**

**چې یې له مرګ نه څو پېړۍ تېرېدې**

**ویل: (په ما عمر شو تېر لکه یوه خوله خندا او یا څپه د نسیم.)**

**خو ګنهکار مړي چې درې ورځې یې شوې وې لا**

**له دې نړۍ نه د تلو**

**ویل چې دومره ځورولی یم ((د قبر عذاب))**

**چې د پېړیو شمېر یې،**

**نه شم شمېرلی ټول عمر**

**موږ ته چې اوس د نړۍ ارته او پراخه سینه**

**شوله د ګور په شانې**

**او دا اوچت بې انتها زمردین اسمان چت**

**مو شوه تخته د لحد،**

**مورې چې د ژوند په نړۍ مړه شو د تیارو له لاسه**

**او دوه اړخیز فشار د ګور د دېوالونو په شان**

**موره زبېښي په منځ کې**

**او زمورږ څو ګړۍ ژوندون چې شو (د قبر عذاب)**

**نو دا په کومه ګناه؟**

**مورږ خو یوازې ژوند کې مینه کړې**

**او بېګناه یو اوسېدلي خپلواک!** (1)

(۱) اخبار هفته، ۱۳٦۸ کال، ۲۳ګڼه، ١٤مخ.

**ابراهیم شینواری**

# رښتینی انځور

**هر څومره چې تورې، تورې لړې**
**د غره خواوشا راتاوليې شي**
**ما د ځلېدونکي لمر شوخو پلوشو لاندې،**
**هغه وخت چې شین اسمان خندل ماته،**
**ټولې د غره ونې ببلې، ببلې ښې ليدلې دي**
**هلته ما په ننبه کړې**
**چې، تور نښتر يې زلفې وې،**
**سيند يې د اوبو پر مخ روان و په مستۍ او عشق**
**شنه بوټي خالونه وو د غرونو، ځلېدل ښکلي**
**نه وځي له مغزه نه مې،**
**هماغه رښتیانی انځور**
**او، څرنګه چې دي،**
**زه يې هماغه ډول پېژنم!!؛** [1]

**۳۰/۲/۱۳۶۷**

---

(۱) پلوشه جریده، ۱۳٦۹ل کال، ٦ګڼه.

**اسدالله اسد**

# ګل سپرلی

شـــونډې دې نشـــې نشـــې زلفـــې دې دامونـــه کـــړه
تېـــر لکـــه ورمـــه پـــه مـــا دا ســـپېره وختونـــه کـــړه

تـــاو دې لـــه بنـــو نـــه شـــم و لـــه دا تېـــره غشـــي
مځکـــه د زړګـــي زمـــا رنـــګ پـــه رنـــګ ګلونـــه کـــړه

تـــورو ګـــورو وربځـــو کـــې مـــخ د ســـتورو نـــه ګـــورم
جار دې شـــم وړې ســـلګۍ پورتـــه مـــې غړونـــه کـــړه

غواړه چې شېبه شېبه ستا د هر یو ګل رنا
دې تیارو ګوتېونو ته بل د زړه داغونه کړه

ای د زمانې د لاس ګل سپر لیه دا وایم
دا سپېره اغزي ګلان کاني مې لعلونه کړه

مرګ به په ما واړوي خاورې د ډېرو په څېر
ژوند یې د اسد خو بیا دوه سترګې جامونه کړه.[1]

(۱) ژوندون مجله، ۱۳٦٧ل کال، لومړۍ ګڼه، ۲۵ مخ.

باقي بریال

# ژوندي یادونه

د شپېو میاشتو کلونو

پاتې شوی یو انځور دی

لا یې اوس د زړه په سترګو

په تیارو کې ننداره کړم

هلته

دنګ دنګ چنارونه

پورته شوې هسکه غاړه

د ګلابو جونه هسې

پټه خوله په برم ولاړ دي

او

د دوبي په ماښام کې

د اسمان سپین مخې پېغله

**د ختیځ د غره له شانه**

**را اوچته په نخرو شوه**

**د کلا له دېوالونو**

**د چنار له هسکو څوکو**

**دا هغې ته، هغه دې ته**

**څه بې واره په کتو شوه**

**د ماښام تیاره خوره وه**

**هلته ستوري په ځلا وو**

**دلته بل وو مشالونه**

**زه د شنو ونو د لاندې**

**د اوبو غاړې ته ناست وم**

**د مرغانو اوازونو د ماښام چوپتیا**

**کړه ماته**

**او**

**وړمو له هره لوري**

ژوند ښښونکې سارا وړله

زما خو، ستومانه سترګې

لوبېدلې ښورېدلې

د سپوږمۍ په پلوشو کې

ګوندې دلته یې یادونه

راتازه شي د لیدلو

د هغې سپوږمۍ د وړانګو

چې یې اوس به ننداره کړي

دا سپوږمۍ او چنارونه! [1]

---

(۱) ژوندون مجله، ۱۳٦۷ ل کال، ٤ګڼه، ۱۸مخ.

## دوکتور حفیظ الله خوږلن

# د مینې یادګار

نــــه راتــــه نــــوم او نــــه نښــــان پــــاتې شــــو
یادګــــار د مینــــې لونــــد ګرېــــوان پــــاتې شــــو

چــــې پــــه ښــــېرو دې ځــــوانیمرګ نــــه شــــومه
ســــخت مــــې پــــه زړه دغــــه ارمــــان پــــاتې شــــو
څــــومره شــــتمن دې لېونیــــان د مینــــې
قــــیس نــــه میــــراث لــــوی بیابــــان پــــاتې شــــو
څــــه بېکســــي شــــوله راپېښــــه خدایــــه
زړه هــــم کوڅــــه کــــې د جانــــان پــــاتې شــــو

ســــتا د غمــــزو او اشــــارو لــــه لاســــه
نــــه راتــــه دیــــن او نــــه ایمــــان پــــاتې شــــو. [1]

---

(۱) نغري او سپېلني، ٤٤-٤٥ مخونه.

کاوون توپاني

# د اوبو رنګ

زه چې کوچنی وم، د اوبو په مانا نه پوهېدم
کله مې سترګو اوبه سپینې،
کله ژېړې
کله شنې لیدلې،
او همېشه به مې له ځانه پوښتل
چې اوبه څه رنګ لري؟
خو یوه ورځ
په ښوونځي کې
د کیمیا ښوونکي
زموږ ټولګي کې په تخته ولیکل:
چې: ( له دوه او اواچ) له جمعې نه اوبه جوړېږي
او اوبه،
رنګ نه لري،

خو په هر لوښي کې چې واچول شي

د هغه رنګ اخلي؛

او اوس

له ډېرو کلو وروسته

لټومه

د کیمیا ښوونکی

چې ترېنه وپوښتمه:

تا خو ویل چې اوبه رنګ نه لري،

زموږ د کلي

د ویالې

اوبه نو ولې

سرې

دي؟؟ [1]

(۱) وروستی ټکی، ۱۳٦۷ل کال، د لیکوالو انجمن، ۳۷-۳۹مخونه.

**کاوون توپاني**

# د مینې اور

لګېـــدلی مـــې پـــه زړه د مینـــې اور دی
ســـوزېدلی مـــې د ځوانـــو هیلـــو کـــور دی

ټولـــه شـــپه د تـــورو ســـترګو تصـــور کـــړم
رانـــه ورک مـــې د نمجنـــو ســـترګو تـــور دی

د خمـــار دود مـــې جګېـــړې لـــه لیمـــو نـــه
ســـاقي ګـــوره بیـــا مـــې خـــم دربانـــدې پـــور دی

په لمـــن کـــې ټولـــوم د تومـــت کـــاڼي
خدایـــه دا څرنګـــه مینـــه، څـــه پېغـــور دی

حـــوادث بـــه یـــې هېڅکلـــه غلـــي نـــه کـــړي
چـــې پـــه ســـر کـــې مـــې د چـــا د مینـــې شـــور دی

پـــه توبـــو مـــې پښـــې کېښـــودې زاهـــده
بیـــا مـــې عـــزم د مغـــرور اشـــنا پـــه لـــور دی. [1]

(۱) د تیږو په ذهن کې، ۱۳۶۳ل کال، ۱۳۶۱ کال، ۸۹مخ.

**لعل پاچا**

# سپېښتې

**دلته د هغې کوڅې ګوټ ته ګورئ**

**یو دوه جوار ګره ناست دي**

**او په تېرو، تېرونو کانو باندې، زموږ د تن غوښې کړي ببلې ځانته**

**نشه او مست مو دي د زړه په وینو**

**له خندا شنه دي او د سترګو په کونجو کې، سره ګوري خاندي**

**لاس کې نیولي دي زموږ د تن هډوکو سپېښتې**

**او پرې کوې زموږ د یار په لمسه**

**د سپېښتو، سپېښتو لوبه**

**یو بل ته ګوري سره**

**په مینه، مینه باندې**

**لو به روانه ده لا.** (1)

---

(۱) درفش جوانان، ۱۳۶۹ل کال، ۱٤ ګڼه.

**لعل پاچا**

# د پرون سندرې

اشـــنا زمـــا زړګـــی خـــو د پـــرون ســـــندرې وايـــي
دې نـــن تـــه پـــر ســـکروټو د ازمـــون ســـندرې وايـــي

مرګيـــه کـــډه وکـــړه نـــور زمـــوږ لـــه دې مالتـــه
چـــې دلتـــه تانـــدې لښـــتې د ژونـــدون ســـندرې وايـــي

د مينـــې پـــه وطـــن کـــې د مجنـــون پادشـــاهي ګـــوره
لاســـونه يـــې تـــک ســـره دي د قـــانون ســـندرې وايـــي

راځـــي بـــه دې تورتمـــه د لمـــن څیـــرې کېـــدو تـــه
پـــه لار کـــې د منـــزل مـــو ســـباوون ســـندرې وایـــي

یه وختــه څــه دې وکــړه د ښایســت بــڼ کــې زمــوږه
چې دلتــه هــر یــو ګــل نــن د جنــون ســندرې وایــي

زړګیــه ګیلــه مــه کــړه لــه پــردو ځنــې تــه هســې
نن دلته د پښــتو مــرګ تــه پښــتون ســندرې وایــي.

**ممتاز ارمان**

# اپت

**منم**

**غاتولو**

**د ازغو لو د پلوسو الماسي څوکې د لمر په وړانګو وسېزلې**

**او د نړۍ د هسکې څوکې**

**په هک، څک بام يې جندې د سپرلي ودرولې**

**خو لا سپوږمۍ**

**د شپې له تيو د ناز شونډې ايسته کړې نه وې**

**چې د کارغانو دوزخي وزرې وپړکېدې**

**او دخزان سرې سیلۍ د سهیل لوري ته راوبهېدې**

**نو ځکه،**

**دلته د رېدیو او شینلیو په دې شنه لمن کې**

**د مارکنډو او خرېړو واکمني**

**له توتکیو او له زاڼو نه د ژوند په بدل**

**غواړي وزرې**

**او د وینو پاڼې پاڼې ګلان.** (1)

**۷/۲/۱۳۶۹**

(۱) قلم جریده، ۱۳٦۹ل کال، ۱ گڼه.

**ممتاز ارمان**

# جکړ

خپلـــو ورتـــه څمـــلاوه پـــردو پـــه وینـــو ولاړه
پت خو د پښتو مې پښتنو مې پښـــتنو پـــه وینـــو ولاړه

دغـــه کوربنـــو خـــو د نغریـــو ســـوي وڅنـــډل
خـــدایږو چـــې ملګـــروا مېلمنـــو پـــه وینـــو ولاړه

څیرې لېونو خو هر چا خپـــل، خپـــل ګرېوانونـــه کـــړه
دا مالـــت ښـــاغلو او درنـــو، پـــه وینـــو ولاړه

جــوړ د غــم جکــړ و د چــا نــوکې د چــا کــوکې وې
هــم تنکــو ګلونــو هــم ازغــو پــه وینــو ولاړه

لـــور و د لـــوګري پـــه زړه ننـــوت بیـــا وواتـــه
یــو ځلــې ګنــاه او بیــا توبــو پــه وینــو ولاړه

څه پوښتې پامیر نــه چــې لمــن دې ولــې څیــرې ده
یــو ځلــې لېوانــو او بیــا ســپو پــه وینــو ولاړه.

۴/۴/۱۳۶۹

کابل

**ملوک رغون**

# زما برخه

چــې یــې زمــوږ د مینــې ســاه واخیســته
ځانتــه ســودا یــې د ګنــاه واخیســته

چــا ورتــه دومــره هــم ونــه ویلــې
چــې دې رضــا زمــوږ لــه چــا واخیســته

زړه خــوږې مینــې مــې د یــار لــه کتــو
خپلــو دردونــو لــه دوا واخیســته

نکــاح پــه پټــه، پــټ پــه پټــه وشــوه
لکــه چــې بــده دې مــلا واخیســته

رقیبـــــه یـــــاره! ددې زړه ((رنـــــا)) مـــــې
تـــا لـــه ســـینې ولـــې پـــه غـــلا واخیســـته

کلـــه چـــې زمـــوږ د جـــدایی نـــاره شـــوه
مـــا مـــې لـــه یـــار ځنـــې دعـــا واخیســـته

د خوشـــالۍ او غـــم د وېـــش پـــه ورځـــې
مـــا لـــه تقـــدیر ټولـــه ژړا واخیســـته.

ملوک رغون

# وروستۍ سلګۍ

پــــــه تیـــــاره تیــــاره ماښـــــام کــــــې
د زړې کــــوټې پــــــه ګــــوټ کـــــې
د شـــــلېدلي کـــټ پـــــه خــــوا کــــې
د ســــــرې چرګـــــــۍ پـــــه غـــــاړه
د نــــــاروغې بـــــــوډۍ ســـــــر تـــــه
نیمــــــــه ســــــوې غونـــــدې شـــــمه
پټـــــه خولـــــه پــــه چغــــو چغــــو
غلـــــې غلــــــې شـــــان ژړیـــــــږي
کلـــه یــــو خـــوا کلــــه بـــل خـــوا
شـــــــي کـــــره وره لـــــــه غمـــــــه
کلـــــه لپــــــې لپــــــې اوښـــــــکې

څڅـــوي پـــه ځـــان لـــه بـــره
کلـــه څـــر څـــر اواز وکـــړي
پتنګـــان پـــه ځـــان ســـتي کـــړي
کلـــه غلـــی شـــي غـــوږ کېـــږدي
د بـــــوډۍ پوښـــــتنه وکــــــړي
خـــو ناروغــــه بـــوډۍ هلتـــــه
ځنکـــدن کـــوي مـــړه کېـــږي
شـــمعه هـــم د بـــوډۍ خـــوا کـــې
پـــــه ژړا ژړا ســــــــــوزېږي.

۸/۱۱/۱۳۶۸

نظيف الله تکل

# د زنګ پتري

((سپرليه راشه)) په دې ګلو راشه
په شنو غندلو په بمبلو راشه
زمور د باغ په ونو
د کشمالو په څوکو
لا خو توپان د ژمي
لا خو خمار د وريځو
د توري شپې له زړه نه
بيمار، بيمار پاڅېږي
د سرو غوټو په شونډو
د لمر شغلو ته مخکې
پتري د زنګ وهي.
۸/۴/۱۳۶۹

کابل، خيرخانه

علي ګل پیوند

# د مور لیک ته

لیک مې د مور نه دی زده

چاته بې ویلي وي

چاته بی زاري کړي

چې راشه زما ګران زوی ته

ولیکه!

زه روغه یم ته څنګه یې!

یاد خوبه دې وي!

چې شنه پاڼه

زموږ د کور له ونې

په زوره چا شکولې وه

ژړل به دې

تاتی-تاتی دې ډېر وکړه

ویده شولې

نو ګرانه مینه ګرکی مې

راولیکه!

زه روغه یم، ته څنګه یې![1]

۴/۲/۱۳۶۱

(۱) سیلۍ، ۱۳٦۸ل کال، د افغانستان د لیکوالو انجمن، ۷۱-۷۲مخونه.

علي ګل پیوند

# د پېړۍ ګالیله

ما پخپلو سترګو ولید

هم هغه و

ببر سر ګرېوان څیرلی

لاس او پښو کې زنځیرونه

څوپاګانو یې خندلې

ویلې دا!

دا لېونی دی

پرپړدئ پرپړدئ چې ګونډه شي

په درنو درنو ورنونو

خو ده!

ده د ځمکې غوږ کې ((هو)) کړه

درته نه مې ویلې ګرانې!

ودې نه لیده څه وشو!

څه! ته څه! لنډوه لارې

((که زه وم که نه وم نه وم)).[1]

(۱) جرګه مجله، ۱۳۶۸ کال، ٦ ګڼه، ٤٩مخ.

علي ګل پیوند

# غوټه ونه

زما نیکه کیسه کوله
ویل دا لویه ونه ګورې
چې ترې لاندې شنه ویاله ځي
دا سپېرې دېرې وینې
د درنو ناستو وستل دی
د جرګو مرکو ځای دی
په پېړو پېړو کلونه
که به چا زموږ په سیمه
که به چا زموږ په خاوره
که به چا زموږ په لره
که به چا زموږ په بره
د تېري لاس اوږدولو
یا به یې شرم جوړولو
وو تاوده به وستلونه
زما یاد دي بچی دلته
ددې غټې ونې لاندې

**دغه څمکه زوښېدله**

**سره تړول وو ولسونه**

**چې څه تړه دلته وشي**

**((هو)) پې وشي د سپينږيرو**

**د خدای زور د خلکو زور شي**

**سا او وينې شي د نرو**

**کاشکې دې کيسې کولې**

**څه يې ويلې له پخوا نه**

**چې په ((گنه)) کې يادېږي**

**د وياړونو له انسانه.**[1]

(۱) باولی، ۱۳۲۸ل کال، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۳۸-۳۹مخونه.

**عبدالمالک بېکسیار**

# غزل

چې یې په سترګو کې ښکاره نه شولې
پوه شوم ارمانه چې پوره نه شولې
خیال مې د عشق ښکلی جهان په څه شو
اشنا چې ته په کې دېره نه شولې
یا خو څه شوي یا څه کېږي ګلې
نن په ګودر خوره وره نه شولې
که پښتو وي راکې نو بس دی همدا
ما چې در وکاته، ته سره نه شولې
دا خو پښتو مغله نه ده پاتې!
پښتون دې خرڅ کړ غرغره نه شولې
ستا په ښایسته خمارو سترګو مې څه
د بېکسیار په ننداره نه شولې.[1]

---

(۱) د نظر په څوکو له ناچاپه شعري مجموعې څخه.

**عبدالمالک بېکسيار**

# د زهرو پيالې

**پرون مې بيا،**
**د خپلې مينې په سپېره هديره**
**ستا د شهيدو وعدو،**
**د شناختو څنګ ته په شېبو وژړل**

❋❋❋

**او د ګودر خوا کې د وچې ونې**
**چې د چوغکو په بدل کې يې اوس،**
**په وچو پاڼو کې ساکښو خپلې ځالې کړي**
**د اوښکو سيند کړ جاري**

❋❋❋

**شېبې مې**
**يو بل پسې، لکه د زهرو پيالې**
**ستا په ترخو يادو کې**
**له ستونې تېرې کړلې.**[1]

---

(۱) د نظرپه څوکو له ناچاپه شعري مجموعې څخه.

**عبدالمالک بېکسيار**

# د نظر باران

**رابانـــدې بيـــا چـــې نـــن ازغـــي را اوري**
**د چـــا نظـــر مـــې پـــه زړګـــي را اوري**
**اوس مـــې د اوښـــکو چـــاره ګرانـــه شـــوله**
**لکـــــه بـــــاران د پســـــرلي را اوري**
**نـــامردې څنګـــه دې ښـــېرې شـــوې پـــر ځـــای**
**چـــې اشـــنايي مـــې پـــه تنـــدي را اوري**
**شـــيخه مهـــراب نـــه ســـر راپورتـــه نـــه کـــړې**
**د ګـــودر خـــوا کـــې شـــنه منګـــي را اوري**
**پـــر بېکســـيار غريـــب اســـرو کـــې**
**د ګـــل پـــر ځـــای همـــېش ازغـــي را اوري.[1]**

(۱) د نظر په څوکو له ناچاپه شعري مجموعې څخه.

## عارف خزان

# د تېغونو لو

نه...!

هېڅکله ذهن مې دا نه قبلوي

باور مې هم داسې منلی نه شي

چې ددې واټ دپاسه

د پښې دوکان کې هډو

د کر لپاره سپاره نه جوړېږي

**لکه چې ګرم نه یمه!**

**زه د رښتیا له څنډ نه**

**په خپلو دواړو غبرګو سترګو وینم**

**چې پښ په بېړه، بېړه**

**د تسپارونو پر ځای**

**دلته د کر، کیلې، باران موسم کې**

**د شنو تېغونو د رېبلو او د ((لو)) لپاره**

**له سرې اوسپنې نه ((لور)) جوړوي**

**او په ((لوګرو)) يې ارزانه پلوري.**

**۳۱/۴/۱۳۶۶**

**کابل**

عارف خزان

# د حجرو شهادت

زموږ د کلي له سپېرو نغرو نه

نور د اورونو لوګي

لکه بیرغ چېرته د بام دپاسه نه رپېږي

د چینو سترګې د حجرو د شهادت په ویر کې

له ډېره غمه ړندې شوي اوښکې نه تویوي

او کلی کوز له پاسه

جوړ د بادونو د مارانو د نڅا جشن ته

پـه ډېر هیبت

کنډر،

کنډر

ولاړ دی.

۲۸/۷/۱۳٦۸

کابل

عبدالباري جهاني

# اوښکې

څــــه تـــودې تـــروې اوبـــه دي
د ګرېــــوان پــــر لــــور بهېــــږي
ابـــدي ســـــکون تــــه درومــــــي
لـــه ژونـــدۍ ســــترګې بېلېــــږي

***

لـــه هــر څــاڅکي ســره ملــه وي
د مرمــــــوز جهــــــان غږونـــــــه
پــــر اشــــنا لارو وراخلــــــــي
نابلـــــــــده قدمونـــــــــــه.

د کمــــــزورې دنیـــــا ژبـــــه
د قـــدرت پښـــو تـــه ورلـــوېږي
د احســـــاس بیـــده نغمـــــه ده
پـــــه بـــانو غـــــړول کیــــږي

❋❋❋

دا شـــــربکه ګـــــونګې ژبـــــه
هــــر ې ســــترګې تـــه اشـــنا ده
دا د هــــــرې مینــــې کــــور دی
دا د هـــــر نفـــرت غوغـــــا ده.(۱)

(۱) له ورکې مینې څخه، ۸۲مخ، ۱۹۷۹م کال.

## عبدالهادي هادي

# غزل

دلته ويني هلته ويني ټول وطن زخمي زخمي شو
د ګلابو پاڼي ژاړي چې ګلشن زخمي زخمي شو
د وبا استازی ګرځي پرې کوي مري د حسن
د سپرلو ابۍ شوه بوره هر چمن زخمي زخمي شو
له اسمانه راوريږي دالله(ج) د غضب کاڼي
سمن سر ورته نيولی نسترن زخمي زخمي شو
پسرلی نه و وبا و چې هر باغ کې يې پل کېښود
هره ونه هر يو ګل او هر سمن زخمي زخمي شو
هادي اوس يې نو غمونه ښه په خلاصه ټنډه ګاله
دا خو ستاسو لېونتوب و چې هر تن زخمي زخمي شو.

۳۰/۲/۱۳۶۹

کابل

**عبدالهادي هادي**

# غزل

وختـــه کوڅـــه کـــې وو هـــر لـــور لېـــوني
اوس مـــو دېـــره شـــو لـــو پـــه کـــور لېـــوني

کـــه یـــې هـــر څـــو ســـرونه پرېکـــړه جـــابر
ګـــوره چـــې زېـــړي نـــوي نـــور لېـــوني

خدایه! محفـــل ورځنـــې تـــش شـــو څـــه لـــه
شـــړي مالـــت نـــه پـــه هـــر تـــور لېـــوني

هغـــــه د قـــــیس د مدرســـــې طالبـــــان
دلتـــه ژونـــدي شـــولو پـــه ګـــور لېـــوني

هـــادي هغـــو پـــورې بـــه ژاړو مـــوره
چـــې څـــو یـــادېږي دا څلـــور لېـــوني.

فضل الهي ګران

# د رڼا نیالګي

هره خوا جان او جانان دی کوه طور  دی کــوه طــور دی
یو بې حده خوږ جهان دی کوه طور دی کــوه طــور دی

عشـــق او وجــد دی مســـتي ده د انـــوارو دنیـــاګۍ ده
چې موسی ورته حیران دی کوه طور دی کوه طــور دی

تجلي مـــې د جانــان دي ددې زړه د عــرش لــه پاســه
مینه مینه کن فکان دی کــوه طــور دی کــوه طــور دی

ســتا د وحــې نــه قربــان شــم ای د عقــل جبرائیلــه!
لږ خو وګوره توپــان دی کــوه طــور دی کــوه طــور دی

میخواره مجنونــان واړه یــو لــه مخــې میزوبــان شــوه
اوس د مینې امتحان دی کوه طــور دی کــوه طــور دی

دې سرکش ناري جهان ته د مهــدي وتــل پــه کــار دي
څه ښایسته نوري ارمان دی کــوه طــور دی کــوه طــور دی

چا ویــل چــې د ګــران شــعر راپرېــوتی لــه اســمانه؟!
ګرانه ستا زړه څراغان دی کوه طور دی کــوه طــور دی.

۱۳/۶/۱۳۶۹

فضل الهي ګران

# ژوبل دردونه

اوښــــکو کــــې د چغــــو تندرونــــه ويښــــولی شــــم
سترګو نــه د کړيکــو تــول خوبونــه تښــتولی شــم

وينــې، وينــې چغــې د شــېبو مــې ژوبلــوي مــدام
چغــې د قلــم نــه لکــه وينــې غورځــولی شــم

ته که چاودې پوندې او شکېدلی ګرېوان نــه ګــورې
زه ژوبــل دردونــه د چــا کلــه هېرولــی شــم

دا ببــر ســرونه وچــې شــونډې او زخمــي هیلــې
تــل د عــاطفې پــه نرمــه غېــږه کــې نیــولی شــم

ســوزند فریادونــه او ویرونــه شــول لمبــه لمبــه
ژوند د بې احساســو پــه لمبــو کــې ســوزولی شــم

ټول ګلان د چغــو پــه وربــل کــې د خــوږې مینــې
دېــر پــه مینــه مینــه لکــه پېغلــې زنګــولی شــم

ونځــوه ګرانــه پــه غــزل کــې اورنــۍ چغــې
ژوبــل امیدونــه پــه نغمــو ټکــورولی شــم.[1]

---

(۱) د هیلو ګودرونه، ۱۳۲۵ل کال، د لیکوالو اتحادیه، ۱مخ.

**فاروق فردا**

## د نور وږی

**راشه زما،**

**د سوځېدلو امیدونو،**

**د باغچې**

**مړاو غوټیو باندې**

**د خپلو سترګو د موسکاوو**

**د عطرونو پرخې**

**په شپېبو وورو**

**چې مې د هیلو ګلان**

**د نور د وږو**

**نوراني لارو کې**

د غوړېدو په خاطر

ستا د موسکاوو سپینې لارې څاري

راشه زما،

غېږه کې وغوړېږه.

هر مازيګر

د لمر د شونډو په رنګ

د سره شفق په مخملینه پاڼه

ستا د بدن پرتابلو

د خپلې مينې انځورونو سره لوبې کوم

ستا د تابلو په غنمرګ بستر کې

ستا پر ورېښمینو مړوندونو باندې

د ستا د زلفو د عطرونو شال پر سر غوړوم.

۱۳٦۸ل کال، سلواغه

فاروق فردا

# د ځنګل جنازه

دا راتول شوي لوګي
پر خپلو سترو اوږو
غواړي زموږ د کلیوالو د ځنګل جنازه یوسي چېرې؟
د تورو وریځو شاته،
هلته چې ستوري د سپوږمۍ کاله کې
نور د ځنګل د شینکو ونو د شنو پاڼو شنه بویونه اورېدلی نه شي
اسمان نو چاته غوړوي لمنه؟
دا لمر لیدی شي که نه؟
په خپلو سپینو وړانګو؟
د کومې مینې مرثیې غږوې؟
توتکې زېرې د سپرلي راکوي
خو لا په شونډو کې یې
مات شوي نه دي د سکوت مهرونه.

**پروین فیض زاده ملال**

# پردی ساقي

کوځــــه هغــــه ده خـــو صـــنم نـــه شـــته
د زړه پرهـــر تــــه مــــې ملهـــم نـــه شـــته
رانجــــه ژړېـــــړي د بنـــــو پــــر څوکـــــو
چــې د جانــان مــې پــرې قــدم نــه شــته
د شـــوندو پـــانې شـــولې ترمـــې ترمـــې
ساقي پر دی، دی څــه یــې غــم نــه شــته
سپوږمۍ غمجنه شوه پــر بــام نــه راځــي
د ځلېـــدلو یــــې پــــرتم نـــــه شــــته
کــــږه وږه لکــــه د څـــانګې شــــومه
ســــپرلی بیــــده د وږو دم نــــه شـــــته.[1]

۱۳/۵/۱۳۶۷

(۱) ژوندون مجله، ۱۳۶۷ ال کال، ۴ګڼه، ۵۰مخ.

صفیه صدیقي

# د محبت ګلونه

ما د الفت څولۍ څولۍ ګلونه
د عقیدت له باغه بیا راوړي
بیا مې ګېډۍ جوړې د سرو ګلو کړې
ستا په پټکي په خپل وربل کې یې ږدم
پاتې ګلونه به غونچې غونچې کړو
د چا په دواړو پښو کې د دې غونچو ګېډۍ ګېډۍ به کېږدو
بیا به په ګډه ورشو
هغه مالي ته چې ګلونه کري
د همدردۍ او وفا د صداقت او مینې
خواږه تخمونه کري
مور به په ګډه ورته سلام ووایو

**ته د پتکي ګلونه زه د وربل ګلونه**

**سره جوړه به یې کړو**

**د زړه له کومي به یې د هغه پښو کې کېږدو**

**بیا ورته وبه وایو**

**مالي ګلونه کره په هغو زړونو کې چې**

**د شاړو دښتو په شان وچې سپېرې پرتې دي**

**ددغو کلکو زړونو ددې سپېرو ډاګونو**

**هوا بدله کړه ته فضا بدله کړه ته**

**ورته رڼا وبښه د رنګارنګ ګلونو**

**بیا به په ډېره مینه**

**د هغو زړونو شاړو دښتو نه به**

**د محبت له ولې اوبه په لپو راوړو**

**بیابه خړوب شي هغه**

**په کې به وټوکېږي د محبت ګلونه.**[1]

**۹/۵/۱۳۶۵**

(۱) لوپته، ۱۳۶۷ ل کال، د لیکوالو انجمن، ۸-۹مخونه.

صفيه صديقي

# د حقيقت ډولۍ

سترګې مې ستا د سترګو

د شنه اسمان په زړه کې

د وفا ستورى ګوري

زما دسترګو زړه کې

د اميدونو غوټۍ

په نخښېدلو شولې

د شنه اسمان په شاوخوا سيمو کې

غمازې وربځې راغلې

څو د باران پلمه شوه جوړه ورته

زما له سوي زړه نه

یوه سیلۍ پاڅېده

لاړله نېغه د اسمان زړه ته ورننوته

خو بیا یې ولیدله چې

نرۍ، نرۍ باران را وورېده

هغه ګلبوټي د غوټۍ شول خړوب

ګلان یې وسپړېدل

بیا د خیالو ناوې مې

د حقیقت ډولۍ کې

د واقعیت لویې وراوې سره

د نوي ژوند په کاله ننوته.[1]

(۱) اخبار هفته، ګڼه ۲۵، ۱۳۲۹ ل کال.

**تاج محمد یاري**

# غزل

زمـــا د اوښـــکو د محـــل خمونـــه مـــه مـــاتوه
د غـــم فنـــا د میکـــدې جامونـــه مـــه مـــاتوه

ګوره ټـوټې بـه یـې ونـه نیسـې کوشـېر د عـذر
په سـرو منګولـو کـې نیـولي زړونـه مـه مـاتوه

پرېـړده مـالي چـې لـړ د ګلـو ننـداره وکړمـه
د زړه په سر کـې مـې اغـزي غمونـه مـه مـاتوه

د ښه نظر په خاطر تل درځـي د سـر پـه سـترګو
د هیلو بـڼ کـې د احسـاس ښـاخونه مـه مـاتوه

ماته ښې یادې دي(یاري) ستا ټولې کـړې وعـدې
په یارانه کې دې هـېڅ وخـت لوزونـه مـه مـاتوه.

زرین انځور د هېواد ځوان نوښتگر لیکوال دی. سره له دې چې د لیکوالۍ زیاته برخه یې پر کره کتنې، کیسه لیکنې او څېړنې متمرکزه د ه، خو په وروستۍ لسیزه کې یې زموږ شعر ته د یادونې وړ خدمت کړی دی او کله کله شعر هم لیکي، دلته یې یو ټوټه شعر ددغې مجموعې د ښه اختتام لپاره راوړو.

**ټولو ته په مینه**

**زرین انځور**

## مخه ښه

**یوه شېبه ده**

**عجیبه نه ده، یو غزل د جدايۍ دی**

**یو غمگین شانته پرتم دی**

**عجیبه ده،**

**را وریږي د وصال له شنه اسمانه تندرونه**

او لګېږي،

پرې لګېږي د مینو ټول ناخواله امیدونه

خدایه خیر کړې، خدایه خیر کړې

یوه شېبه ده،

شېبه نه ده، د یو عمر پیلامه ده

یو عجب ټکی د کرښې

ورپسې بله لیکلې

خو لوستل ددغې کرښې

لا یې بله تماشه ده

هلته پټه

د سرسام زمان د پاڼو هدیره ده

بې لوستلو ډېرې پاتې

نالیکلې ډېر سپینې، سپینې پاڼې

دا شېبه، داسې شېبه ده

شېبه نه ده هدیره د یو ارمان ده

زما دا شېبه ناخوښه، دا عجیبه شان لحظه ده

لکه تي خور ماشوم جدا چې شي په زور د مور له تي نه

او رباب یو څوک راغلا کړي د ادم له خوږې غېږې

او یا لاړه ترې درخو شي، منډه وکړي

یا دنیا خوږه کیسه لا ختمه نه وي

چې یې ژبه ورګونګۍ شي

هر څه پاتې شي نیمګړي

یا یو خوار د بوډۍ زوی وي

یو مین وي

یوه ناوې یې په مینه وي راوړې

لا یې لاس نه وي وروړی

چې له خوب څخه راویښ شي

ړنګه بنګه یې دنیا شي د خیالونو

دا شېبه داسې شېبه ده

د ګونګې رباب نغمه ده

د بوډۍ شېبې اسره ده

چې پرته وي ځنکدن ته

یوه ړنګه شان لحظه ده

چې خبره په کې نه شته

خو له ورایه

د یو لاس یو اشاره ده

خدایه خیر کړې!

خدایه خیر کړې!

۲۵/۵/۱۳۶


Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون
سیندونه هم مري
(د اسحاق ننګیال د شعرونو منتخبات)
راټولوونکی
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ل

# سیندونه هم مري

## (د اسحق ننګیال دشعرونو منتخبات)

راټولوونکی

محمد اسمعیل یون

# بسم الله الرحمن الرحیم

**کتاب پېژندنه:**

| | |
|---|---|
| د کـــتـــاب نـــــوم: | سیندونه هم مري |
| شـــاعـــــر: | اسحاق ننګیال |
| راټــولـــوونـــکی: | محمد اسمعیل یون |
| خــــپــــرنــدوی: | یون کلتوري یون |
| چـــاپـشمــــېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لـــومــړی چاپ: | ۱۳۷۷ل کال |
| دویــــم چـــاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د راټــولـــوونکي پرله پسې نومره: | (۱۴) |
| د خـــپرنـــدو پرله پسې نومره: | (۱۴) |
| کـمــپوزر: | وفاالرحمن وفا |

# ددې اثر دویم چاپ

خدای بښلی اسحق ننګیال زموږ د اوسنۍ شاعرۍ یوه نومیالۍ څېره ده. که مرګي له موږه ژر نه وای بېل کړی، نو اوس به یې داسې نور ګڼ نوښتونه ترسره کړي وو. دا ټولګه چې ستاسو په لاس کې ده، د اسحق ننګیال د ټولې شاعرۍ کلیات نه دي، خو منتخبات یا تر یوه حده غورچاڼ ورته ویلای شو. ځکه چې نه یوازې هغه وخت دده اکثره ناچاپ شعرونه په کې خوندي شوي، بلکې له چاپي مجموعو څخه یې هم تر یوه ځایه غورچاڼ شوی او ځینې شعرونه ورسره یوځای شوي دي، نو ځکه یې د اسحق ننګیال د شاعرۍ منتخبات بللای شو.




البته د ننګیال په چاپي شعرونو کې نور ډېر ښکلي شعرونه هم شته، خو دا په دې مانا نه ده چې د هغه ټول غوره شعرونه همدې ټولګه کې راټول شوي دي. د المان مېشتې؛ (د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې) کور دې ودان وي، چې هغه وخت یې ژر دا ټولګه چاپ کړه او د مرګ له خطره یې وژغورله. اوس چې د چاپ امکانات تر پخوا زیات شوي او د انټرنټ څپو کې د ادبي، علمي او نورو

اثارو د خوندي کولو زياته اړتيا ده، نو ځکه مې ضروري وبلله، چې دا اثر يو ځل بيا له سره کمپوز او چاپ کړم. هم به يې د چاپ له لارې خلکو ته ورسوم او هم به يې د انټرنيټ له لارې خلکو ته د لوستو لاره چاره اسانه شي. هيله من يم، چې زموږ نور ليکوال هم خپل او د نورو ليکوالو تېر ارزښتمن اثار يو ځل بيا له سره کمپوز او هم يې بيا چاپ کړي او کـه د چاپ وس يې نه لري، نو لږ تر لږه خو دې د انټرنيټ څپو ته وروسپاري، چې هم ترې ګټه اخيستنه عامه او اسانه شي او هم د مرګ له خطـره وژغورل شي، بيا يې نو که د چاپ هيله او غوښتنه کوله، د چاپ کار به يې هم اسان شي.

په پښتو کې د برېښناييز کتابتون د چټک بهير د لا چټکۍ او پراختيا په هيله.

پوهندوی محمداسمعيل يون

ارګ، د جمهوري رياست ودانۍ

۱۳۸۷ل کال، د کب ۲۳مه نېټه

# یادونه

د تېرو دوو لسیزو په بهیر کې د پښتو شاعرۍ د څو مطرح څېرو لــه جملې څخه یو هم خدای بښلی اسحق ننګیال و. ده د ځوانۍ په شېبو (پنځوسمو کلونو په بهیر) کې شاعري پیل کړې وه، خو د ژوند تر پایــه پورې له هېڅ شي سره دومره خواخوږی او نږدې پاتې نه شو، لکــه لــه خپلې شاعرۍ سره. شعر په حقیقت کې د هغه د ټکلــي روح او روان د ټکورولو اغېزمنه وسیله وه. ننګیال لږ تر لږه د خپلې څلېرویشت کلنې شاعرۍ په بهیر کې د شاعرۍ دومره پخې تجربې ترلاسه کړې او بیا یې د همدې تجربو له کبله دومره ښکلي شعرونه وزېږول، چې پــه پښــتو شاعرۍ کې د ښکلو غمیو حیثیت لري او کولای شي د ننګیال نوم زموږ د ولس په ذهن کې تر ډېر وخته ژوندی وساتي. شاعر هم د بل هر انسان په شان په ټولنیزو، سیاسي، فکري او نورو مسایلو او چارو کې د بریــو ترڅنګ له یو لړ ښویېدنو، تېروتنو، هیلو او نهیلو سره مخامخېږي. کله چې پر ننګیال او دده پر شاعرۍ خبرې کېږي، نو ځینو ته ضرور د هغه د شاعرۍ ترڅنګ، د هغه د ټولنیز، سیاسي او اخلاقي شخصیت انځور هم تر سترګو کېږي. د هنرمند د پېژندنې لپاره خو تر ټولو غوره لاره داده، چې د هغه خپل هنر وکتل شي. د هنرمند تخلیق او زېږونه پخپله د هغه د ظاهري او تر زیاتې کچې د باطني شخصیت هنداره ده، نو کله چې د ننګیال پر شخصیت خبرې کېږي، مجبور یو د هغه د شعر نړۍ وګورو او هغه کلمه یوه یوه تر سترګو او فکره تېره کړو، چې د ننګیال له ضمیره یې سرچینه اخیستې او بیا د شعر پرښتې په خپلو اوښکو مینځلې او د مینې د نړۍ د ابدیت غېږې ته یې سپارلې ده. دا خبــره د منلــو وړ ده،

شاعر تر هغه پورې، چې د فکري بلوغ پړاو ته رسېږي، د فکر ستنې به يې يو او بل فکري لور ته کږېږي. تر هغه پورې چې شاعر خپله ذهني او فکري شتمني بشپړوي، تر هغه وخت پورې يې د فکري ښويېدنو اټکل کېدی شي.

ننګيال د خپلې ځوانۍ په درشل کې پر شاعرۍ پيل وکړ او دا هغه مهال و، چې نور نو ټول هېواد د ((عقيـدې د بحـران او د معنويـت د سقوط)) پر لور روان و. ګڼو فکرونو د بېلابېلو شعارونو تر پردې لاندې د هېواد د ځوان پښت د ذهنونو د خپلونې هڅه کوله. شعارونه يې خواږه وو، خو وروستي عملونه يې ترخه...

د ننګيال د ذهن يوه برخه هم د يو سياسي فکر د جال په کړۍ کـې ګير شوه، خو دې فکر لا د شاعرۍ پر بې تکلفې ښکلا خپل سيوری نه وغوړولی، چې د ناورين لومړی پړاو پيل شو. بياناورين دپاسه بل ناورين او غميزه راغلل، چې نه يوازې زموږ د هېواد او ولس د هر ډول شتمنۍ ستنې يې ولړزولې، بلکې له ګڼ شمېر متفکرو مغزونو څخه يې هم لاره ورکه کړه.

دې پړاو ډېر زيات دوام وموند او ننګيال هم په داسې يو جغرافيايي او مسلکي چاپېريال کې ژوند تېراوه، چې هلته د يو داسې فکر واکمني وه، چې د ننګيال د اصلي شاعرۍ له سپېڅلي روح سره يې ټګلوری په ټکر کې و. ننګيال په دې کلونو کې لکه د نـورو ګڼـو ليکوالـو او د فکـر د خاوندانو په څېر په داسې يو جال کې راګير و، چې تر دې دمه يې لا نه پوره سترګې رڼې شوې وې او نه يې د شعر د ښاپېرۍ وزرونو خپلـواک پروازونه کولای شول. په دې پړاو کې د ننګيال فکري بلوغ هم د خپـل

پوخوالي پړاو ته رسېدلی نه و، نو ځکه خو یې د هغه وخت په نظمونو ( نه په شعرونو) کې یو لږ فکري ښویېدنې لیدل کېږي، خــو پــر همــدې وخت بیا هم دده په شاعرۍ کې د فکري او انساني بغاوت او د عاطفي سیند د څپو یو پټ شور پروت و او داسې اټکلېده، چې یوه ورځ به دده ددې فکري تېروتنې پر ځای، دده د فکر او ضــمیر هغــه دننننــی نــړۍ راڅرګنده او د خپل شعر ناوې به پرې سینګار کړي.

کله چې شاعر د فکري او شعري بلوغ پر لوري بریمن ګامونه اخلي، نو تېل شوی، تصنعي او ناشعوري اندود یې هم ورو ورو له منځه ځي. کله چې لږ نوره رڼایي هم راغله او په کابل کې د یو زیــات شــمېر لیکوالــو سترګې رڼې شوې، نو هر چا د خپل هېوادني اند اصلي جوهر میندلو ته هڅه وکړه. ننګیال چې په پټ ضمیر کې یې همدا راز پټ و، له ځینو نورو څخه په دې لار کې څو ګامه دمخه شو. جرئت او رښتینولي یــې ددې مرغلرې د ځلونې او خپلونې لپاره امېل کړل. تر ۱۳۶۲- ۱۳۶۴ کلونــو وروسته وختونو پر مهال په کابل کې د مقاومــت د ادبیــاتو او د شــعر د شعري جوهر د پیاوړتیا لپاره په څرګند ډول هڅې پیل شوې. په همــدې کلونو کې په څرګند ډول د شعر او شعار ترمنځ پوله ډاګیزه شوه. د ادبي مبارزې په دې تاوده ډګر کې د هېواد د پیاوړي کــره کتــونکي او کیســه لیکونکي زرین انځور او بیا د تکړه کره کتونکي لطیف بهاند او نورو زیار او هڅې د یادونې او ستاینې وړ دي. دوی یو زیات شمېر هغه ځوان شاعران چې په شاعرۍ کې یې د ((شعاریت)) پر ځای د ((شعریت)) جوهر پیاوړی برېښېده او یا په کې د شاعرۍ تومنه څرګندېدله، دېته راوبلل چــې لــه شعارونو څخه خپله لاره بېله کړي. ننګیال یو له هغو ځوانو شاعرانو څخه و، چې تر ټولو لومړی له همدې پیل شوي بهیر سره یوځای شو. دا د شعر

د پوخوالي پر لوري د ننګيال د بريمنو هڅو د پيل کلونه دي. دې بهير تر ۱۳۷۱ل کال پورې خپل عمر ته دوام ورکړ.

په همدې واټن کې د ننګيال شاعري، دومره خوږه، سپېڅلې او عاطفي شوه، چې د هغه محبوبيت يې د هېواد د يو ستر عاطفي شاعر تر بريـده ورساوه. ننګيال د همدې کلونو په بهيـر کــې د خپلــو شــعرونو څلــور مجموعې (ډالۍ، سپېره ډاګونه او غوړېدلي بزغلي، هغه شپېې هغه کلونه او څاڅکي څاڅکي)) چاپ کړل. څرنګه چــې دده شــعر ورځ پــر ورځ د خوږوالي او کره والي پړاوونه وهل، نو پــه (۷۰) کلونــو کــې دی د خپلــو شعرونو له ځينو چاپي مجموعو، په ځانګړي ډول ((ډالۍ او سپېره ډاګونه او غوړېدلي بزغلي)) څخه څه ناڅه پښېمان و او هغه يې ((شعرونه)) نــه ګڼل. د ده شاعرۍ د پرمختګ بهير دومره ګړندی و، چې د خپلې دمخنۍ شاعرۍ زياتو شعرونو ته به يې خندل، سره له دې چې دده په شاعرۍ کې د شعر اصلي تومنه او جوهر له پيله ښکاره کېده، خو وروسته وروسته يې د خوږو کلمو يو زرين شال ور په سر کړ. کله چې د (۱۳۷۱ل) کال د غويي مياشتې پر (۸)مه نېټه په کابل کې د اسلامي انقلاب (!) په نوم يــو ســتر ستمي ناورين او غميزه پر افغانانو ور وتپل شول او د هېواد ټول نظام ګډ وډ شو، د ننګيال ژوند او ان دده فرهنګي کارونه هم له ســختو ســتونزو سره مخامخ شول. د سرو ګوليو په باران کې يې ايله دومره وکړای شول، چې خپله کورنۍ تر لغمانه پورې ورسوي، د کور شته يې ټول تيت و پرک شول او څو ځله په يوه ښار کې له يوه ځايه بل ځای ته مهاجر شو. د کور دکاليو په کيسه کې خو نه و، خو د کتابتون د چور او تالان له غمه يې له سترګو لمبې پورته کېدلې او همدا يې ويل: ((ياره پيرجانه افسوس چې دا کتابونه يې راځخه نه وای وړي)). د کتابونو غم لا نه و سوړ شوی، چــې د

یوې درنې ګولۍ ګوزار هم ورته ور ورسېد؛ د توپ یوه ګولۍ یې څنګ تــه ولګېده او څو ټوټو یې د بدن ځینې برخې غلبېل کړې. له ناروغۍ لا پوره ښه شوی نه و، چې بېرته یې د لیکوالو په ټولنه کې خپلې دندې ته ځان ورساوه. شپه او ورځ به همالته په ټولنه کې و. د لیکوالو انجمن یې هم کور و او هم د دندې ځای. څو میاشتې لا وتې نه وې، چې کوم چا ورته کــوم پنجشېری ولمساوه. تیاره ماښام و، ډیوه یې لا لګولې نه وه، چې د وره له ټک ټک پرته دا شخص له خپلو نورو ملګرو سره یوځای په کوټه ور ننوت. خدای‌ج خبر هغه په کوم فکر کې ډوب و، چې یــو ناڅاپــه یــې پــر دوی سترګې ولګېدې. ده لا هغو ته د ناستې او ست هیله لرله، چې یو ګــوزار دده ترمخه داسې راورسېد، چې دده یو غوږ یې هم د څه وخت لپاره بې حسه کړ او دا یې ورته وویل چې: (( ما چرم کن استم، سبا تا یی وقت این اتاقه ایله می کنی، دیگر ده اینجا نبینم ات، ای اتاق را ما برای چرم کنی کار دارم)). څو ورځې د هغه په سترګو کې له اوښکو او په څېره کې یې له یوې سترې نهیلۍ پرته بل څه نه لیدل کېدل او داسې یو حالت ته په هیله و، چې بیا په دې هېواد کې د یو ملي فکر د حکومت وزرې خپرې شي او د یو سوله ییز ژوند وړانګې هره خوا رڼا کړي. کال دوه لا وتي نه وو، چــې د طالبانو اسلامي غورځنګ پر کابل سپین بیرغونه ورپول. سهار د وختــه، چې لا ډېر خلک د کابل پر فتحې خبر نه وو، زموږ د کور ور یې ټک ټک کړ او په بېړنې ډول یې وویل: ((پیرجانه راوځه، طالبانو کابل نیولی او سقاوي ختمه شوه)). هغه د یو سپین سباوون په هیله و، خو شاعر لکه چې ازلي بدمرغه وي. ننګیال بیا خپلې دندې ته لاړ، خو دا ځل دا دنده بل ډول وه؛ نوي نظام د لیکوالو د ټولنې پخواني تشکیل ته بدلون ورکړ، خو ننګیــال بیا هم په همدې تشکیل کې پاتې شو. دا تشکیل د دولت لوړ مقام تــه د

منظورۍ لپاره ولېږل شو. تر هغه وخته چې د ننګیال د مقررۍ امر راته، په دې کې یوولس میاشتې تېرې شوې، خو په دې یوولسو میاشتو کې ننګیال هره ورځ د پخوا په څېر خپله دنده پرمخ وړله، یو ځل بیا یې شپې په همغه ټولنه کې شوې، چې ده ته ترې د وتلو امر شوی و. ننګیال دنده سرته رسوله، خو بې معاشه او بې امتیازه. ګڼ شمېر ځوان لیکوال او شاعران به ترې راتاو وو، خو یو وخت یې اقتصادي حالت دومره ویجاړ شو، چې د چا خبره د پولۍ ټک ته کېناست. څو ځله یې دا خبره زما تر غوږ تېره کړه: (( یاره پیرجانه د ماشومانو غمه مې که نه وای ما په نهره هم شپې سبا کولې، خو له کابله نه وتلم، کابل خو زما د دردونو، غمونو، برياوو او ماتو کور دی، زه دا کله یوازې پرېږدم. خو افسوس چې د ماشومانو غم دی)). بیا به یې یو سوړ اسویلی وکېښ او یوه ترخه موسکا به یې پر شونډو تېره کړه. نور یې د دندې د ساتلو لپاره پیسې او مالي لګښت نه درلود، چې دی پرې خپله دنده وساتي. لغمان ته راغی او بیا یې د پېښور مخه ونیوله. په پېښور کې هم تر ډېرو انتظارونو او کړاوونو وروسته ورته د بي بي سي د روزنیزې ډرامې د لیکوال په توګه دنده وسپارل شوه. د کلدارې معاش مزه یې لا څکلې نه وه، چې د مرګ پرښتو یې روح پر خپلو وزرونو د ابدیت پر لوري یووړ او بیا د بي بي سي راډیو له لارې داسې یو خبر خپور شو: (( په خواشینۍ سره مو خبر ترلاسه کړی، چې د هېواد نامتو شاعر اسحق ننګیال نن په پېښور کې د (۴۲) کلونو په عمر د زړه د درېدو له کبله په حق ورسېد)). ددې خبر په اورېدو سره د هېواد ټولو فرهنګیانو که په داخل کې وو او که په بهر کې داسې یو دردونکی ټکان وخوړ، چې د ټولو زړونو ته یې د غم لمبې ورسولې. دا د ننګیال د سرګردانه ژوند په باب څو یادونې وې چې دلته یې لنډیز راوړل شو. سره

له دې چې ننګیال د ژوند په اوږدو کې له ډول ډول کړاوونو سره مخامخ شوی، خو د تېرو شپږو کلونو کړاوونو هغه دومره ځورولی او ټکولی دی چې نور پر هېڅ وخت هغه دومره روحي، رواني، سیاسي، اقتصادي او نور فشارونه نه دي زغملي. د یو لیکوال په اند: (( غوره ادبیات د اختناق په حالت کې رامنځته کېږي)) او شاعر یا لیکوال د اختناق په مقابل کې له ادبیاتو څخه د یو روحي او رواني غبرګون په توګه کار اخلي.

هر څومره چې دا فشار او اختناق پیاوړی وي، عکس العمل یې هم هماغسې وي. د ننګیال د تېرو شپږو کلونو شاعري د همدغو ډول ډول ظلمونو او اختناق زېږنده ده، نو ځکه پکې سوز او درد دده تر پخوانیو شعرونو څه زیات دی.

د غم او درد په دې تېرو څو کلونو کې د ننګیال د شعر ښاپېرۍ لا پسې سینګار شوې ده. دده د فکري تګلوري لیکې او ستنې محکمې شوي او شاعر د شعر د پوخوالي، فکري ثبات او د بشپړو انساني ارزښتونو په پېژندنه او ځلونه کې بریالی شوی دی. په حقیقت کې د ننګیال د وروستیو کلونو شعرونه د هغه د ښکلې او اوچتې شاعرۍ رنګین او مانیز ګلابونه دي. (ښکاري ته) دده یو ښکلی عاطفي او انساني شعر دی چې ده د ۱۳۶۵ل کال د غبرګولي د میاشتې پر لومړۍ نېټه لیکلی دی. دې شعر نه یوازې په هېوادنۍ کچه زیات منښت پیداکړ او ډېر اغېز یې وشینده، بلکې د شمالي کوریا په هېواد کې د ځوانانو د یو نړیوال فیستوال په ترڅ کې، چې د افغاني سندرغاړو له خوا د موسیقۍ په څپو کې په سندریزه بڼه ولوستل شو، نو د ټولو اورېدونکو او مینوالو د منښت وړ وګرځېد او دې شعر هلته لومړی مقام وګټه، خو د ننګیال د شعري بهیر د پرمختګ په وجه، د مړینې پر نږدې وختونو کې هغه دا شعر ((پوره شعر)) نه ګاڼه او

ویل یې چې د ((شعاریت)) نښې په کې لیدل کېږي. ننګیال د تېرو اوو اتو کلونو په موده کې ښه ډېر شعرونه ولیکل، خو د ځانګړو مجموعــو او یــا مجموعې د چاپ امکانات ورته برابر نــه شــول. لــه دې کبلــه د هغــه د وروستیو کلونو شاعري د شعر د زیاتو مینوالو او لوستونکو له لیده لــرې پاتې شوه. ځکه نو کله چې به کوم لیکــوال او یــا کــره کتــونکي دده د شاعرۍ په باب ناسم نظر ورکاوه، نو دی به ډېر په قهرېده او ویل به یــې: ((دی نو زما له اوسنۍ شاعرۍ څخه څه خبر دی هغه خو ټوله له ما سره په کتابچو کې پرته ده...)).

د ده یوه ستره هیله همدا وه، چې د خپلو شعرونو ټولې مجموعې چاپ او په خپلو سترګو ووینې. د ننګیال په ژوند خو د هغه هیله پوره نه شوه، خو دادی د هغه تر مړینې وروسته، په جرمني کې د افغان فرهنګیــانو او فرهنګپالو په مالي مرسته د هغه دا ارمان پوره شو. ما چې کله د هغــه د ناچاپه شعري مجموعو د چاپ پر کار پیل وکړ، نو ننګیال مې یوه شپه په خوب کې ولید، خوله یې له خندا شنه وه او همداسې په خوشالۍ یې راته وویل: ((پیرجانه! زما مجموعې چاپېږي؟ بېشکه والله...)) ما ورته ویل هو ستا ټول شعرونه چاپېږي. په هغه شپه له خوبه راویښ شوم، تــر ســهاره خوب رانغی، لاټین مې ولګاوه او د ننګیال په چورت کې لاړم- یو ځل مې د هغه ټولې خاطرې تر نظر تېرې شوې.

کله چې مې د هغه د شعرونو توري لوستل، نو په هر توري، هر شعر او د شعر په هره پاڼه کې راته د ننګیال تصویر تر سترګو سترګو کېده. زه ددې شعرونو تر پایه په دې پوه نه شوم، چې زه په کوم حالت کې یم، لکــه یــو څوک چې په خلا کې روان وي.

د ننګیال د وروستیو کلونو، فکري او عاطفي شخصیت کټ مټ د هغه د اوسنیو شعرونو له مانیزې او عاطفي خوا سره منطبق و. هره پانه کې ننګیال و، په هر توري کې ننګیال و، دا هغه ننګیال نه و، چې د خپلې شاعرۍ په پیل کې او یا تر هغه وروسته د څو کلونو په شاعرۍ کې ځلېده. دلته یو بېل ننګیال و. هغه د خپلې مینې او عاطفي پر سپین آس سور او د ښاپېریو ښار ته روان و او لکه له هغه ځایه یې د خپل ستي او تپي ولس د درملونې لپاره د ښکلاوو ټکورونه راوړل. ما هره شېبه له ننګیال سره خبرې کولې او دومره خبرې، چې د هغه په ژوند به مې ورسره نه وي کړې او کېدی شي لوستونکي هم زما پر برخلیک اخته شي.

خو ددې سوچونو او فکرونو په منځ کې خوشاله په دې وم، چې د هغه د ټولو ناچاپه شعرونو غټ جونګ چاپېږي. کله چې دا مجموعه چاپ شوه، نو زه به یې د الینګار د ښکلې شاعرانه درې د بسرام په کلي کې د ننګیال پر قبر کېدم او مبارکي به ورته ورکړم. د هغه روح به څومره خوشاله شي او هغه ارمان چې دده پر ژوند پوره نه شو، وروسته تر مرګه به پوره شي. په همدې هیله مې د هغه شعري مجموعې چې په کور کې یې وې ترلاسه کړې. هغه یوه شعري مجموعه چې کاپي یې ده سره په کور کې وه انځور صېب ته هم لېږلې وه، هغه هم ترلاسه شوه. دا شعرونه چې ما وکتل زما په نظر کم ښکاره شول، ځکه ننګیال چې به کوم شعر ولیکه، نو د نورو شاعرانو په شان به یې خپلو ملګرو ته ضرور اوراوه.

حفیظ الله ګردش، صدیق الله بدر، نورمحمد لاهو او عبدالغفور لېوال ته مو د ننګیال صېب د هغو شعرونو په باب چې په دې مجموعو کې نه وو او په ځینو اخبارونو کې په متفرقه ډول چاپ شوي وو، وویل مور ټولو په اخبارونو او نورو خپرونو کې د ننګیال صېب هغه شعرونه پیدا کړل، چې

په تیت و پرک ډول چاپ شوي وو او په دې مجموعو کې نه وو راغلي، بیا هم ماته د خپل اټکل له مخې دا شعرونه پوره نه برېښېدل. د کتاب د تورو لوستل بشپړېدو ته نږدې شوي وو، چې یوځل بیا په لغمان کې د ننګیال صېب کور ته لاړم. د هغه مشر زوی (ارش) ته مې د ننګیال صـېب د یـو داسې عکس یادونه وکړه، چې تراوسه په خپرونو کې چاپ شوی نه وي او هم مې ورته وویل چې د ننګیال صېب کتابونه او پاڼې یو ځل بیا وګوري، ګوندې څه شعرونه یې ترلاسه شي. هغه ماته وویل: (( موږ څو ځله د خپل پلار کتابونه او یادښتونه واړول راواړول، څه چې وو هغـه مـو تاسـو تـه درکړل، خو موږ به یوځل بیا هم ټول کـور وګـورو)). پـه پېښـور کـې د مجموعې کار د بشپړېدو په وروستیو شېبو کې و، چې د ننګیـال صـېب زوی (ارش) په ډېرې بېړې له لغمان نـه ځـان راورسـاوه او د ننګیـال د شعرونو یوه بله کتابچه یې هم راوړه. ما چې د ننګیال صېب دا شـعرونه وکتل، دومره خوشاله شوم، چې د ټولو ستړیاوو بار مې یو ځل له اوږو لرې شو. بیا مې دا ټولې کتابچې له اخبارونو او خپرونو او په متفرقه ډول راټول شویو شعرونو سره پرتله کړې، تکراري شعرونه مې ترې لرې کړل، دغه راز مې دده له دوو چاپ شویو شعري مجموعو (هغه شـېبې هغـه کلونـه او ځاځکي ځاځکي) څخه یو شمېر شعرونه ورسره یوځای کـړل. اوس تـر زیاته بریده پر دې باوري یم، چې د ننګیال نور شعرونه به نه وي پاتې. دده له خپل ناوډلي (نامنظم) ژوند دود سره سره د خپلو شعرونو د ثبت انتظام ته ډېره پاملرنه کړې وه. له دې څخه دا څرګندېږي، چې ننګیال تر خپـل ځاني ژونده هم، له شعر سره ډېره مینه درلوده، ځکه چې هغـه د خپـل ژوند د ښېرازۍ مېړنی نه و، خو د ښکلې شعري شـتمنۍ څښـتن و. دده انځور صېب ته د یو لیک په ترځ کې لیکلي وو: (( څو شـعرونه مـې لـه

((سپنتا)) سپین ږیري سره پاتې شول او له ماسره یې اوس کوم نقل نــه شته، هغه غوښتل څه پرې ولیکي، خو حالاتو وخت ورنه کړ، که چېــرې مې بیا ومونډل نو در وبه یې لېږم)). له ((سپین ږیري)) څخه یې مقصــد (ښاغلی سلیمان لایق) دی چې ننګیال ورسره د شاعرۍ ښــه ملګرتیــا لرله. دا چې دا شعرونه به پیاوړي شاعر سلیمان لایق سره وي او که نه؟ زه خبر نه یم. د ننګیال صېب د شعرونو د کتابچو او د شعرونو د نېټه لیک له تسلسل نه داسې ښکاري چې د ننګیال صېب نور شعرونه به نه وي پاتې. دا لیک هغه انځور صېب ته له کابل نه د (۱۳۷۱ل) کال د زمري پر (۱۲)مه نېټه لیکلی و. تر هغه وروسته د څو کلونو په ترڅ کې هغه خپل شعرونه له سره په نویو کتابچو کې لیکلي وو او د هغو شعرونو بل نقل هــم ورســره موجود و، چې انځور صېب ته یې لېږلي وو، نو کله چې انځور صېب تــه د لېږلو شعرونو نقل وروسته ترتیب شوی، نو دغه راز به ښــاغلي ســلیمان لایق ته ورکړل شوي شعرونه هم بیا له سره په کتابچو کې لیکــل شــوي وي. بیا هم که ښاغلي لایق ســره دا شــعرونه موجــود وي او هغــه ددې مجموعې له شعرونو سره پرتله کړي او کوم چې پــه دې مجموعــه کــې راغلي نه وي، ترچاپ وروسته د هغو د خوندي کولو هڅه وشي، نو دا بــه پښتو ادب ته یو ډېر ګټور کار وي.

د ننګیال دا مجموعه (سیندونه هم مري) د هغه د (ښېرې په مالت کې، نه جام نه څادر، دا جل دا برسات، سیندونه هم مــري، ځینــې متفرقــه شعرونو او د چاپ شویو دوو مجموعو هغه شېبې هغه کلونه او څــاڅکي څاڅکي) له څو شعرونو څخه جوړه ده. ددې مجموعې چاپ د پښتو شعر په ځانګړي ډول ازاد شعر په برخه کې یوه ډېره پــه زړه پــورې، درنــه او ارزښتمنه ډالۍ ده. خو له دې درنې ډالۍ سره سره به مو دا ارمان تل پــه

زړه کې پاتې وي چې: ((کاشکې ننګیال ژوندی وای چې داسې نوري ښکلې او ارزښتمنې ډالۍ یې خپلې ژبې ته وړاندې کړې وای)). ننګیال ته دعاګانې.

په مینه او درناوي

محمد اسمعیل یون

۱۳۷۷ل کال- لیندۍ

پېښور- پښتونخوا

## سریزه:

# اسحق ننګيال

## دپښتو دنوي شعري بهير په يون کې

د پښتو د معاصرې او نوې شاعرۍ په يون کې ، اسحق ننګيال کله څوک هېرولی شي! ننګيال  د پښتو دنوي شعري بهير د ښايست يوه نښه وه، ننګيال زموږ د شعر د نوي کتاب يوه زرينه پاڼه وه، ننګيال هغه فقيــر، هغه ملنګ شاعر و، چې په همدغه لنډ او غم ځپلي عمر کې يې هم موږ ته د هنرونو د ښايستونو دومره شته راپرېښودل، چې  زموږ نوی ادبــي بهير پرې وياړ کولای شي، خو که هغه مرګي داسې بې وخته، يو ناڅاپي او په ډېره بېړه له موږ نه وای اخيستی، په دې کې هېڅ شک نه شــته،

چې زموږ د ولس ادبي هنري پانګه به یې نوره هم درنه کړې او ښــکلې کړې وای.
ننګیال د پښتو په اوسني شعري یون کې په عمومي توګــه، د یــولاس دګوتو د شمېر له نومیالیو او وتلیو شاعرانو څخــه ګڼلــی شــو او کــه دافغانستان د پښتو د نوي نسل د شعرپه حدودو کې، یوازې دوه کســه هم تر نورو زیات ځلېدونکي، پیاوړي او دپاملرني وړ وي، یو یې اســحق ننګیال دی؛ دا یو ستر ویاړ دی، یو لوی ارزښت دی، یو خورا مهم هنري ادبي دریځ دی.
دننګیال شعر، په افغانستان کې په ډېرو کړکېچنو، کړلېچنو او غمجنو شېبو کې اوج او شهرت ته ورسېد. سره لــه دې، چــې هغــه د لمریــزو پنځوسمو کلونو له پیلامې څخه شاعري راپیل کړې ده، خو د اوج کلونه یې د ثور له غمیزې او بیا د روسي سرو یرغلګرو، تر یرغل وروســته، را رسېږي، دا هغه کلونه دي، چې په شروع کې یې د افغانستان په شاعرۍ کې د هنري- ادبي ارزښتونو پرځای، دنظمونو او شعارونو بازار ښه ګرم دی او دغو وچو شعارونو او نظمونو پر وړاندې د هنري- شعري ارزښتونو لپاره  هلې ځلې، نه یوازې دا چې یوه لوړه هنري ادبي هڅه وه؛ بلکې د هغه وخت د حالاتو په رڼا کې په یو ډول سیاسي مبارزه هم بدله شــوې وه. د سرو نظمونو او سرو شعارونو پلویان د ګوندي او دولتي واکمنۍ د فرمانونو او دستورونو ناظمان وو او یوازې پر همدغه اړخ یې ټینګار کاوه، خو د دوی پر وړاندې د هنري-ادبي ارزښتونو لپاره هلې ځلې نه یوازې

دا چې د یو هنري تقدس لپاره ټینګار و، دګوندي- دولتي دستورونو او فرمانونو پروړواندې يې، د یو ټولنیز- سیاسي (ملي) ملي تقدس په توګه هم ارزښــت لاره، ننګیــال، ســره لــه دې چــې د شــعري ژونــد پــه څولومړیوکلونوکې يې د شعارونو او نظمونو ځینې بېلګې هــم وړانــدې کړې دي، خو له شعارونو او نظمونو څخه د شعري-هنري ښــکلاوو پــر لوري د هغه د ورېښمینې لارې سفر وروسته، کــه هغــه دمینــې شــعر لیکلی، که يې کومه عاطفي شېبه انځور کړې او کــه یــې کــوم بشــپړ سیاسي شعر لیکلی دي، تر ډېره زیاته حده يې له هنري-ادبي ځانګړنو او ارزښتونو سره نغاړلي دي.

اسحق ننګیال په وروستیو شلو کلونو کې، د افغانستان د شعري بهیر له څو فوق العاده او استثنایي شخصیتونو څخه دی. که د وروستیو شــلو خونړیو کلونو، غمجنو بهیرونو، موږ ته کومه ښه ډالۍ هــم راکــړې وي، ښایي یوه يې د ننګیال په څېر دیو شاعر ظهور وي، چې هغه یــې هــم یوازې یوه ورځ ورسته بېرته له موږه واخیست. داسې چې کــه ددغــې خونړۍ غمیزې پیلامه د ۱۳۵۷ل کال د غویي له اوومې پیل شــي، نــو ننګیال د ۱۳۷۷ل کال د غویي پر اتمه ځوانیمرګ کېږي.

دلته به زه، پر هغو ټکو، هغو ارزښتونو څو خبرې وکــړم، چــې اســحق ننګیال يې، زموږ په اوسني شعري بهیر کې، تر نورو ډېرو، زیات ځلولی او د پاملرنې وړ کړی دی.

**لومړي:** د افغانستان د وروستنۍ شل کلنې غمیزې انځورګري، ننګیال تر بل هرچاځخه په ښه ژوره، هر اړخیزه او شاعرانه توګه کړې ده. هغه غمیزه چې د ثور له اوومې پیل کېږي، د جدي پر شپږمه او ج ته رسي او ځوارلس کاله وروسته د ثور پر اتمه یو بـل نـوی غمجـن پـړاو تـه ور داخلېږي او د ننګیال تر مرګه هم لا دغه غمیزه پای تـه نـه رسـېږي، ننګیال ددغې غمیزې په زړه کې پروت دی. همدغه غمیزه د ننګیال زړه خوري او ځاځکي ځاځکي یې د ویرژړلیو شعرونو پـه توګـه څځـوي، ننګیال د همدغې شلکلنې غمیزې ډېر پیاوړی انځورګر شاعر دی. هغه د غم ددغو کلونو ډېره زیاته برخه  د افغانستان په زړه، کابل کې، تېروي او د ټولو غمجنو شېبو شاهد پاتې کېږي. دغه شېبې که غمګینې او له ویر او وینو ډکې دي، خو شاعرانه کېږي.  ننګیال د همداسې یو غمګین برخلیک شاعر دی او ځکه خو هغه د افغانستان د شلکلنې غمیـزې د ویناوال په توګه راڅرګندېږي.

دماښـــام ډمـــې مـــې بـــولي پـــه ژونـــدون د مـــرګ بـــدلې
ای د ویر پېغلې نغمــه شــه چــې دشــپو د جېـل بنــدي یـم
راتـــه وژنـــي خـــوب پـــه ګوتـــو د شـــوګیرپیغمبر راغـــی
مـــه ځـــه راســـتنه شـــه چـــې د شـــپو دجېـــل بنـــدي یـــم
غواړي ځان ته مې سجده کړي، زه پـه ټیـټ سـربلد نـه یـم
دغیـــرت نـــاوې شـــمله شـــه چـــې  دشـــپودجېل بنـــدي یـــم...(۱)

او یا داچې:

زما دکور هغه وړه هغه بېباکه فضا
زما دکور هغه زاړه هغه ختېین بامونه
چې ډوبېدل به دماشومو خنداګانو سین کې
زما د کور وړه باغچه کې د سپرلي ښاپېرۍ
دسرو ګلانو د شو پاڼو جنتي تخت نه یې
چې شنو موسکاوو کې ډک جام د بدمستۍ راکاوه
زما د کلي هغه لویې، ها پراخې کوڅې
زما د کلي هغه شنه، هغه سمسورباغونه
زموږ د نجونو حرم
زموږ دسپین ږیرو دېرې
زموږ د سترو کروندګرو د غرمو څپرې
د مرګ په ولو زانګې
اسمان د لویو خړو وریځو او باروتو لوګی
ځمکه دوینو او دمړو له کوپړیو ډکه
انسان د ویر او د دردونو او مرګونو کوربه
کور مې د مړاوو بېګناهو امیدو هدیره
دنیا مو ټوله نړوونکو توپانو نیولې
نو عقله!
نو عقله ای د توپانو دغلوپه لاس تښتول شوې بېړۍ
وایه چې چېرته لاړ شم؟

او پردې ځان څه وکړم؟(۲)

او:

ته راته ګورې چې محل مې له کارغانو ډک شو
اوپه ویالو کې د هیلیو بچي وسوزېدل!
او زمور د کلي میندې
دمیلاد شپوکې ((بې لاسو اوپښو بچیان زېږوي))
ته راته ګورې؟
ته راته ګورې چې مې ټول کلی چاړه چاړه دی؟
خلک په نوکو او برچو د یو بل سترګې باسي
او دمالت نجونې
په خپلو تورو تورو څنو کې ځوزان ټک وهي
آه،
آه نازولې سپوږمۍ!
آه درنا مورې!(۳)

ننګیال، په کابل کې د تنظیمي حکومت د ټوپکوالو د څلورنیمو کلونو د وحشت تر ټولو اوځار شاهد شاعر هم دی. د ننګیال د ناچاپې شـاعرۍ زیاتره برخه د دغو وحشتونو شاعرانه انځورګرۍ ته ځانګړې شوې ده. هغه د بدمرغیو په دغو بهیرونو کې د کابل ((مینې)) ته هم وایي، چـې نور درځینې شرمېږم. د ((انسان)) په نوم له دغـو (انسـاني)) اعمـالو شرمېږي اود ((افغان)) په نوم له دغو ((افغاني ضد)) اعمالو:

**مینې له شرمه در کتلای نه شم**

**نور مو د کلي د ګلونو په کاله کې**

**پېغلتوب دګل غوټیو چېرته هم نشته**

**او ابراهیم د خپلې ښکلې نازولې دجمال اودعفت**

**د لوټ کوڅو کې د غارت کیسې ته خوب وړی دی**

**نور مو دباغ نجونو ته ((هسکې)) او ((کږې)) شملې دښمنې ښکاري**

**مینې له شرمه درکتلای نه شم (۴)**

**او لکه چې هغه د ((کلي)) په نوم شعر په یوه برخه کې وایي:**

**نه پوهېږم، نه پوهېږم**

**ای دکلي مازیګره!**

**ها زموږ د کلي چم کې**

**هغه سپینه کېږدۍ څه شوه**

**هغه شنې څپرې څه شوې**

**ها لوګرې جبنۍ چېرې؟**

❋❋❋

**تاته یا د شي مازیګره!**

**هغه شنې دېرې دکلي**

**په کې هسک د شملو غرونه**

**په کې وربځې د چلمو**

❋❋❋

**نه نه وران دی**

کلی وران دی

یوه ځاله په کې نه شته

ها دښکلو توتکیو

یو نغری هم اباد نه دی

د ابیو د لاس نښه

❋❋❋

لښتي وچ شول

ویالې ورانې

سین د تورو کاڼو غرشو

اوس حیران یم چې د کلي

دا هیلۍ به چېرته لامبي.(۵)

ننګیال په خپلو دغه ډول شعرونو کې د جنګ هغه رښـــتینې وحشـــي څېره ډېره ښه تصویر کړې ده، چې زمونږ وطن خوري، زمونږ ولس وژني او زمونږ د هېواد ټولو ارزښتونو ته ګواښونه کوي. ننګیال د دغو غمیزو په انځورګرۍ کې شاعرانه او هنري ارزښتونو ته بشپړه پاملرنه کړې ده او هېڅکله یې د ښکاره، بربنډ او څرګندو شعاروي خبرو پــه څېــر دغــه مسایل نه دي راوړي، بلکې له شاعرانه ښکلاوو سره یې یو ځای کــړي دي او همدا د ننګیال ددغه ډول شعرونو دارزښت بنســـتیز ټکــی دی، همدغه خبره ده، چې شعر له عادي او خبري مسایلو راجلا کوي.

**دويم:** د ننګيال د شاعرۍ يوه بله د ارزښت وړ ځانګړنــه داده، چــې دهغه شعرونه له عاطفي شېبو ډک دي. د هغه شعرونه لکه د عــاطفې سيند، لکه د عاطفې سمندر، داسې دی. د هغه په زياترو شعرونو کې د يو خواخوږي، د يو زړه سواند ((انسان)) عاطفه په خپل اوج کې ځــان راځرګندوي. ډېرو شاعرانو او شعرپوهانو په شعر کې د ژورې عاطفې پر شته والي ټينګار کړی دی. عاطفه او په عمــومي توګــه احساســات د شاعرۍ له اساسي برخو څخه ګڼل کېږي او په دې کــې د پــاملرنې وړ خبره داده، چې څنګه دغه عواطف پــه شــعر کــې د انتقــال ځــواک پيداکړي؟ دننګيال په شاعرۍ کې دغه ځواک وينــو. د (( دا کلــی مــه ورانوئ)) د شعر يوې کوچنۍ برخې ته پاملرنه کوو:

دا کلی مه ورانوئ!
ګورئ هلته چې لکه زرکې زموږ د کلي نجونې
ګورئ چې هلته د بامو پر سر نورسې پېغلې
کتار،کتار
دلمر تر وړانګو خپل پيکي جوړوي
او په مينو ژبو
د پېغلتوب غوږ کې د ځوان هوس سندرې بولي
دا کلی مه ورانوئ... (۶)

ننګيال ددغه ډول عواطفو په باب، له ((ډېوې)) سره په يوه مرکه کــې ويلي وو: ((هغه چې ډېر عاطفي نه وي، زما په اند نه شي کېدلی، چــې

ډېر ښه شاعر شي. دخپل ژوند کیسه درته کوم: د اوړي یوه تــوده ورځ وه، په دېره کې ناست وم. یوازې او تنها له خپلو سوچونو سره لوبېــدم، چې یو ماشوم چې په یوه لاس کې یې مړ ژواندی چرګ او په بــل لاس کې یې تېره چاړه وه، راته راغی چې چرګ یې حلال کړم.نه مې غوښتل چې خپل لاسونه په وینو سره کړم،خو چرګ ناروغه و، مــړه کېــده او هلک زارې راته کولې، چرګ مې حلال کړ، خو اوس چې له هغې ورځې نه درې کاله تېر دي، هغه چرګ مې خوب ته راځي، وسله وال وي، پــه ټوپک مې ولي، چاړه ورسره وي، حلالوي مې، په اوونۍ کــې یــو ځــل داسې خوب حتماً وینم...))(۷)

د ننګیال د عاطفې شاعرۍ یوه ډېره مشهوره بېلګه ((ښکاري تــه)) د هغه شعر دي:

... ای ښکاري اشنا درته سلام کوم
پرېږده چې دا سپینې مرغۍ والوزي
لاړې شي جوړې جوړې ګلونه شي
ښکلي شي، ښایسته شي امېلونه شي
واخلي په وزرو کې تنکي بچي
وموښي سینو کې ګلابي بچي
سپینې سرې مښوکې زرکني بچي
پام کوه
پام کوه ماشې ته ګوتې مه وروړه (۸)

د اسحق ننګيال په شعر کې دغه ډول عواطف، د هغو احساساتو په بڼه نه دي، چې ((شېبه يي)) او ((موقتي)) ارزښت ولري، دننګيال عواطف د یو شاعرانه زړه د ډېرې ژورې (انساني))مينې څرګندوی دي. لکه چې په همدغو عواطفو کې د شاعر زړه هم څاڅکي راڅڅېده او ځکه خو يې داسې ژر هغه شاعر زړه ودرېد.

دريیم: کوم بل ټکی چې دننګيال په شاعرۍ کې د پام وړ دی، هغه د اوچت شاعرانه تخيل لرل، د نويو مفاهيمو او شاعرانه ترکيبونو جوړول او د ښکليو شاعرانه تصويرونو نوښت دی. هغه په شعر کې له دغو نويو شاعرانه ترکيبونو، ژبې ته يوه نوې ښکلا وربښي او د نويو تصويرونو له لارې زموږ د معاصرې شاعرۍ تابلوګانې رنګينوي او دپاملرنې وړ يې ګرځوي. کله کله خو يې په شاعرۍ کې د اسطورو راوړنه او پر ځای کارونه هم دهېرولو نه ده او دغه راز يې شاعرانه او هنري سمبولونوته غور په کار دی.

دغه راز موږ وينو، چې د اسحق ننګيال د شاعرۍ دغه ګڼې ښکلاوې او دغه د نوي شاعرۍ بنسټيز ارزښتونه هم د هغه په غزليزه شاعرۍ کې ځان راڅرګندوي او هم په ازاده شاعرۍ کې. لومړی يې د ښکلي او روان بيان، خو اوچت تخيل ننداره، په دغو غزليزو بېلګو کې ګورو:

ويلـــي ويلـــي پــه درګـــاه کـــې د صـــنم مـــرم
پـــر ســـرو شـــونډو د ګـــلاب لکـــه شـــبنم مـــرم

د سلګو مزل مـې خدایـه چـې لنـډ نـه کـړې
سترۍ ســترۍ یـې پـه هـر ګـام او قـدم مـرم
پاتـه نـه یـم چـې پـه تـش لـوګي لمبـه شـم
لکـــه شـــمع تـــر ســـبا قلـــم قلـــم مـــرم
وچو شونډو تـه مـې سـت د خمـار څـه کـړې
ساقي! دلته چـې پـه څنـګ کـې د حـرم مـرم
د ځوانۍ شپې مـې جنـت تـه نیسـه مـه بـږدئ
زه سرکښـــه پـــه لمبـــو د جهـــنم مـــرم (۹)

او:

رون مـــې مســـتقبل شـــو خـــو تیـــارو ونیـــو
رب دپســـــــرلیو مـــــــې اغـــــــزو ونیـــــــو
مـــاوی چـــې مړونـــد بـــه یـــې زر پوشـــه شـــي
مـــات پـــه کـــې بنګـــړي شـــول هتکـــړو ونیـــو
چېرتـــــه یوســـــم جـــــام د شـــــرابي عقـــــل
ځـــای د مېکـــدو چـــې مـــې کعبـــو ونیـــو
نـــور مـــې نـــو اشـــنا پـــه پلـــو مـــه راځـــه
دلتـــه هـــر قـــدم قصـــابخانو ونیـــو.. (۱۰)

او:

بیـــا رانغلـــې لېمـــو تـــه پـــه پســـتو پســـتو وزرونـــو
زمـــا د خـــوب کـــوترې ســـتا دســـترګو لـــه بـــامونو

ځلــو وهلـــي ګـــوره څـــه خـــواره واره پـــرې ګرځـــي
دشـــوندېو بوراګـــان مـــې ســـتا د شـــوندېو پرګلونـــو
په خپل شرنګ به ويـده شــمه پـه خپـل شـرنګ بـه روايښ شـم
بنګړي مې کـــړه د لېچـــو، ګرځـــوه مـــې پـــه لاســـونو

زما مينه يـو سـيند دى او سـتا زړه ورکـوتى کلــى
دا ســـيند چېرتـــه جانـــان اوکېـــږدى د حبـــابونو
لا ښکاري چې مــوده د لېونتـــوب مـــې پـــوره نـــه ده
يو څوک راته نـاري وهـــي د غرونـــو لـــه ســـرونو (۱۱)

همدارنګه د ننګيال په ازادې شاعرۍ کې د نويو شــاعرانه مفــاهيمو او ترکيبونو او دغه راز د شاعرانه سمبولونو ســيند بهانــد دى. دننګيــال شاعري، د پښتو د ازادې شاعرۍ په عمومي مطالعه کــې هــم دپــوره پاملرنې وړ ده. په پښتو ازاده شاعرۍ کې د ننګيال هستونې ښــکلې او پياوړې دي.

دا د سپرلي د شينکي باد وزرونه چا تړلي؟
چې د تيارو په جهنم کې د اغزيو لښکر
د بلاربو بوټو له شيدو نه ډک تيونه شکوي
اود نرګسو دا موسکۍ رنګينې سترګې
د لاس په نوکو باسي...(۱۲)

اود يوبل ازاد شعر د بېلګې يوې برخې ته يې هم پاملرنه کوو:

((... بېګاه شپونکی باد ستا د څنو له غرو راغی
په پګړۍ کې یو ټکی د یوګل نه و
له نرۍ ملا نه یې د لمرهغه زرین ومستنی نه وراتاو
چاپې په تشې او ریښې ریښې بخڅۍ یو د سنورو نارنج نه و ایښی
نور مې په کلي کې باد نه چلېږي، باد هم مساپر شو ورنه
څومره تنها
څومره یوازې ده
زما دکلي ښکلې نازولې سپوږمۍ
بېګاه مې خوب لیدلی:
زموږ د کلي د چنارو تر شنو سیورو لاندې
پرهغو نویو پلنګي کتونو
یوڅوکارغان ناست دي
ږلۍ دلښتو وروي پرې،ګډوي ځانته زموږدکلي سپینې هېلۍ
زموږ دکلي په دېره کې د چلمو د کړو وړو لوګیو پر ځای
خورې ورې دي دښایسته ښایسته هیلیوتکې سرې د پېغلتوب وینې
کلي کې یوسپوری دبرېتواویوشرنګ دسپینوتورو نه شته رښتیا!
دکلي په دېره کې
دزلمیو څنورو
د اتڼ هغه سکنی ماښام در یاد شي که نه؟... (۱۳)

**ځلورم: د اسحق ننګیال په شاعرۍ کې ملنګي، شـاعرانه لېونتــوب، باغیتوب او یاغیتوب ګنې ببلګې هم راترسترګو کېږي. دغه شــاعرانه لېونتوب او یاغیتوب، د هغه شاعرۍ ته یــو جــلا رنــګ ورکــړی دی. د مستې او باغي شاعرۍ نمونې یې د لېونېو شاعرانه ولولــو ځرګندونــه کوي:**

**ملاځـــه مـــې د ورځـــې پـــه دې ډکـــو کاســـو ولـــې**
**د حـــورو لېونیـــه ماښـــامونه خـــومې خپـــل دي (۱۴)**
**دا زه د توبــو نــه یــم کــه توبــو کــې اثــر نــه شــته؛**
**توبې مــې زره کــې ســوځي کــه توبــو تــه مــې زړه ســوځي (۱۵)**

**ښـــــکل کړلـــــې ذاهـــــدو دســـــاقي ګـــــوتې**
**مـــــاتې شـــــوې تـــــوبې پـــــه هـــــوا والـــــوتې**
**دې بحرنوشـــــــــۍ خـــــو دې حیـــــران کړمـــــــه**
**شـــــېخه زنګېـــــدې پـــــه هـــــوا والـــــوتې**
**تـــــاچې کـــــړې ښـــــکاره لـــــه لـــــوپتې ســـــترګې**
**خلکـــــو نـــــه شـــــملې پـــــه هـــــوا والـــــوتې...(۱۶)**

د شاعر دغه ډول شعرونه کله کله د پښتني عنعنوي، کلتوري، اخلاقي ارزښتونو په پام کې ساتلو سره ، تر هغو هم پښه اړوي اود نمــونې پــه ډول، کله چې د ((گناه)) په نوم شعر داسې پیلوي:

ځومره نېکمرغه یم گناه کومه
تمامه ورځ وریځې د باد له ژرندو باسم
اود لمر په تناره کې پسرلي ته ترې ډوډۍ پخوم
ځومره نېکمرغه یم گناه کومه...(۱۷)

نوشعر په داسې ډول پای ته رسوي، چې د کلتوري، عنعنوي او اخلاقي ټکو په پام کې ساتلو سره یې یو لوی شاعرانه لېونتوب او یاغیتوب گڼلی شو. د داسې څرگند او بربنډ بیان بېلگې به په پښتو شاعرۍ کې ببخي لږې وي.

د ننگیال بې وخته مړینه، د پښتو پر نوي شعري بهیر، د تندر له گوزاره کمه نه وه او دغه گوزار د پښتو یو ننگیال، یو بریال شاعر له دغه بهیره واخیست او دومره په بېړه لکه چې ترې پټ کړی یې وي. لکه تښتولی چې یې وي. ننگیال، یو گل و، یو ملنگ و. دغه گل لا بشپړ غوړېدلی هم نه و، چې پاڼې پاڼې شو، دغه ملنگ لا د خپل شعر کچکول د فطرت د ښکلا او رنگینو له ډالیو بشپړ نه و را ډک کړی، چې کچکول ترې چا پټ کړ.

ننګیال به د خپلو شعرونو په کرښه کرښه کې ژوندی وي، خو کاشــکې هغه د پښتو د شعر د لا ښکلې کېدونکې ناوې د سینګار لپاره لږ څه نور وخت هم لرلای.

## دا مجموعه:

زموږ نومیالي شاعر اسحق ننګیال د روان کال (۱۳۷۷ل) کال د غــویي (ثور) پر اتمه (۱۹۹۸م د اپریل ۲۸مه) د افغانستان د معاصر تاریخ پر دغه توره ورځ له نړۍ سترګې پټې کړې. د هغه په مرګ د افغانستان ټــولې ادبي او کلتوري کړۍ غمجنې شوې شوې.د هېواد په داخل او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې افغانانو د هغه یادونه ولمانځل اود غونډو او محافلو په لړ کې یې د هغه پر مرګ خپله غمشریکي څرګنده کړه.
په همدغه لړ کې د (۱۳۷۷ل) کال د غبرګولي پر نهمه د (۱۹۹۸م) د می پر دېرشمه د جرمني د کولن ښار کــې ((دافغانســتان د کلتــوري ودې ټولنې)) له خوا د هغه په باب یوه درنه یاد غونډه جوړه شــوې وه. یــاد شوې غونډه کې د شاعر پر ژوند، شخصیت او اثارو ګڼ شــمېر مقــالې ولوستل شوې او یو شمېر شاعرانودهغه پر بې وخته مړینــه د اوښــکو څاڅکي توی کړل. په همدغه غونډه کې د (( د افغانســتان د کلتــوري ودې ټولنې)) غړیو وپتېیله، چې د ارواښــاد ننګیــال د ناچاپوشــعرونو مجموعه د همدې ټولنې په لګښت چاپ شي او د همغه نېک کار لپاره پر هماغه ورځ یو شمېر دوستانو یوولس سوه مارکه سره راټول کړل.

ځو کاله پخوا ګران ننګیال د خپلو ناچاپو شعرونو دوه کوچنۍ مجموعې زما په نوم له کابله پېښور ته رالیږلې وې او ورسره یې زما په نوم دغه لیک هم دخپلې مجموعې په پیل کې لیکلي و:

((دېر ګران انځور صیب:

هیله ده، چې ژونددېر درته بد نه وي او لکه چې پر موړ چې یې وکړل، هاسې میرځي یې درسره نه وي کړې. زموږ خو ژوند څه ژوند نه دی او باید همداسې هم وي، ځکه زما په اند ژوند پوچ دی-ژوند رنځ دی، ژوند قاتل دی او ژوند له ژونده د غچ اخیستنه ده. حتا دېر ښه ژوند هم د شرابو پیاله ده، چې د پیغمبرانو له ستوني نه تېرېږي. څښل، خوړل، کار کول او ویدېدل، دا دي هغه کلمې چې خدای (ج) د ژوند په نامه دژوندیو په ځولیو کې اچولي دي او زما ژوند خو تاته تر هر چا ښه څرګند دی، ټول عمر مې له دوو نومونو سره ژوند وکړ:

ښیښه او شعر. سره مو وژړلې او پر ژوند مو ناړې تو کړې.

ښیښه یې رانه واخیسته او اوس زه او شعر دوه په دوه سره ژوند کوو. دېر کله هغه له ما مرور وي او زه له هغه. ((درېیمګړی)) نه شته، چې سره مو پخلا کړي او که سره پخلا هم یو هغه تېره لېونۍ پخلاینه نه ده، ټوله ورځ راته د عقل او منطق ناندرۍ غړوي...

ښیښه خو لاړه مګر شعر تر اوسه راسره شه. د وخت لوبي مې وېروي، چې له ده هم خلاص نه شم. پخوا به مو هره ورځ د مرګ ننداره کوله،

اوس يې هره شېبه ننداري ته ناست یو، مرګ مو په وینو او رګونو کې ځاله کړې ده.
یوه شپه به سوچونو کې ډوب وم، چې یوه څه مې زړه ته راولوېدل، زړه مې راته وویل، چې دا خپل څو خام او نیمګړي شعرګوټي تاسو ته امانت درولېږم، چې که څه وشول ضایع نه شي. ښیښنه خو تر ما دمخه مړه شوه، وېرېږم، چې شعر مې له ما وروسته هاسې نه شي او که هېڅ هم ونه شول، راته چاڼ خو به يې کړې! څو شعرونه مې ((سپنتا)) سپین ږیري سره پاتې شول او له ما سره يې اوس کوم نقل نه شته، هغه غوښتل څه پرې ولیکي خو حالاتو وخت ورنه کړ. که مې چېرې بیا موندل نو در وبه يې لېږم.
یوه ورځ به که خدای(ج) کول سره له نږدې وګورو.

ستاسو لېونی

۱۲/۵/۱۳۷۱

کابل))

ما هغه وخت غوښتل چې دا دواړه برخې په یوه مجموعه کې چاپ کړم، خو دا به د خدای تعالی (ج) رضا وه، چې د اوږدو لارو مساپر شوم او اوس هغه مجموعه د ننګیال تر مړینې وروسته خپرېږي.
ما دخپل اوږد سفر په پیلامه کې هغه مجموعه خپل ګران ورور او تکړه شاعر او لیکوال لال پاچا ازمون ته د امانت په توګه وسپارله. له ښاغلي ازمون څخه د زړه له کومې مننه کوم، چې زما اود ننګیال هغه ګډ امانت

يې، د يو ستر ادبي يادګار په توګه دغه څو کاله په ډېر کړکېچنو حالاتو کې له ځانه سره وساته او دا دی اوس دشعر مینه والو ته وړاندې کېږي. دغه راز له خپل ګران ورور ، پیاوړي لیکوال اود پښتو له سوې ستې خدمتګار اسمعیل یون څخه هم زیاته مننه کوم، چې دغه مجموعه يې چاپ ته چمتو کړه، له هغو يادو شويو مجموعو سربېره يې د ګران ننګيال نور ناچاپ شعرونه هم ورسره يو ځای کړل، دغه راز يې دهغه چاپي شعرونو څو وتلې ببلګې هم ورسره ملې کړې اوداسې يوه ارزښتمنه مجموعه يې ترې جوړه کړه. له نورو ټولو هغو دوستانو څخه هم مننه څرګندوم، چې له ډولونو څخه په يو ډول يې ددې مجموعې په چاپ کې مرسته کړې ده.

په مینه او درنښت

زرين انځور

۱۳۷۷ل کال د وږي ۲۷مه

۱۹۹۸م کال د سپتمبر ۱۸مه

جرمني - د کولن ښار

# اخځلیک

۱- ننګیال، اسحق، ځاځکي...ځـاځکي.. کابـل، د افغانســتان د لیکوالو انجمن: ۱۳۶۸ل کال (۶-۷)م،م.

۲- همدغه اثر. (۱۸-۱۹)م،م.

۳- همدغه اثر. (۹۲-۹۳)م،م.

۴- ډیوه (مجله-لندن) ۱۳۷۴،غویی(۱۹۹۵م ،مــی) ۱۷مــه ګنــه (۲۱)مخ.

۵- ازمون، لال پاچا، پګړۍ کې کم نه یې له کاکله ګله (دنارنج ګل د دودیزې مشاعرې په ویاړ) ننګرهار (اطلاعــاتو او کلتــور لــوی ریاست) ۱۳۷۶ل کال، (۱۴۶-۱۴۷) م،م.

۶- ننګیال، اسحق، ځاځکي...ځـاځکي.. کابـل، د افغانســتان د لیکوالو انجمن: ۱۳۶۸ل کال (۶-۷)م،م.

۷- ډیوه (مجله-لندن) ۱۳۷۴،وری،(۱۹۹۵م ،اپریل) لــه اســحق ننګیال سره د ښاغلي اسمعیل یون مرکه، (۱۵)مخ

**۸- ټکور، افضل، دا ليکوال دا څېړې( د اسحق ننګيال د شـعري بېلګو يوه برخه) کابل، ۱۳۶۶ل کال،(۴۲۹-۴۲۸)م،م.**

**۹- ننګيال ځاځکي... ځاځکي (۴۷-۴۸) م،م.**

**۱۰- همدغه اثر(۸-۹)م،م.**

**۱۱- ازمون، پګړۍ کې کم نه يې له کاکله ګله. (۱۴۸)م.**

**۱۲- ننګيال ځاځکي... ځاځکي (۳۷) م،م.**

**۱۳- ننګيال، کله چې لمر شين شي. ازاد افغانســتان، جريـده (د افغانستان د مطالعاتو مرکز) پېښور، لومړی کــال، لــومړۍ ګنــه، ۱۳۷۷ل کال، وری (۱۰)م.**

**۱۴- ننګيال ځاځکي... ځاځکي (۲۶)م.**

**۱۵- همدغه اثر (۳۹)م.**

**۱۶- همدغه اثر (۶۹-۷۰)م.**

**۱۷- ننګيال، ګناه، لېمه (مجله-مسکو) لومړی کال، ۴مــه ګنــه، ۱۳۷۶ل کال سنبله (۱۹۹۷م کال، سپتمبر)، (۵۴)م.**

# ننګیال د نورو لیکوالو له نظره

- اسحق ننګیال یو رښتینی، ریالست او هیومانیست انقلابــي شاعر و او زه به یې د لارښوونې ویاړ د ژوند تر پایه په خپلــو اوښکو ساتم. پوهاندډاکټرمجاور احمد زیار.
- د اسحق ننګیال شاعري د ژوند شاعري ده، ژوندۍ شاعري ده، دموضوع او شکل دواړو له خوا د ځېړلو او ځیرلــو وړ ده. حبیب الله رفیع.
- ننګیال خپله شاعري په ژوندیو انځورونوکې پلې کړې ده، هغه یو لوی انځورګر دی، د غم دیوه شهکار تابلو یې کښــلې ده، چې انځورونه په کې ژاړي. پیرمحمدکاروان.
- ننګیال په غربت کې پیدا شو، په غربت کې لوی شــو او پــه غربت کې یې ژوند تېر کړ، هغه هېڅ نه لرل، خو یوازې شعر یې لاره او دغه شعر د هغه ټوله شتمني وه. ننګیال زموږ د لومړۍ لیکې له مخکښو شاعرانو څخه و، چــې پــه شــعر کــې یــې صمیمیت، نوښت او خوږوالی و. هغه په خپل عادي ژوند کې هم ډېر عاطفي، صمیمي او خواخوږی و، یو انتقاد منونــکی شخص و او هر څه به یې پــه وریــن تنــدي منــل. بریــالی باجوړی.

- ❖ ننګیال یوازینی عاطفي شاعر و، چې په شعر کې یې له ډېرو نوښتونو سره د ازاد شعر جنډه هسکه کړه او دهغې سیوري ته یې ډېر سترې دمه کړه. لال پاچا ازمون.
- ❖ ننګیال یو نوښتګر او پر ښکلا مین شاعر و. نورالحبیب نثار.
- ❖ اسحق ننګیال د پښتو په معاصرو ادبیاتو کې داسې یو روڼ او نه هېرېدونکی فصل دی، چې د برېښنا د یوه پړک په شانې وځلېد او ژر الونیا شو او د زړه اس یې ارمانونوله درانه بار سره د ((یوباد)) تر سر ځار شو او زموږ وطن یې له یوه لوی ویر سره مخامخ کړ. احسان الله ارینزی.
- ❖ ننګیال هغه مجنون شاعر و، چې دخپل لیلی هېواد د ښکلا لپاره د خپلې ځوانۍ او ښایست بدرنګۍ ته هم تیار ولاړ و. بادام ظریفي.
- ❖ ننګیال له ((بې ضرورته)) شعر ویلو څخه مخ واړوه، له تقلید څخه یې نوښت ته مخه کړه او دشعر اصلي جوهر ته یې پاملرنه وکړه. نورمراد.
- ❖ ننګیال د ښکلي لغمان د شاعرانو د لویې کورنۍ د سرګل، د افغانستان د ځوانې پښتو شاعرۍ سر خېل او د ازاد شعر سالار و.ډاکټرمحمدالله رازق.
- ❖ دننګیال شعري ځواک دومره پیاوړی و، چې کله ما دده یو شعر (خیبري تنده) چې د سر بیت یې دا دی:

**ټول عمر درنه ده سپکېدوته یې چې پرې نـه ږدۍ**

**خاوره پښتنه ده او پردو ته یـې چې پرې نـه ږدۍ**

**ولوست له واره یې په ولولو راوستم. ډاکټر جاوید وردګ.**

- **د ننګیال د شهرت او بریالیتوب یو راز په دې کې نغښـتی و، چې ده د واکمن ګوند فرهنګي غوښتنو او سیاستونوته یـې غاړه نه ایښوده او نه یې غوښتل، چې دستوري خبرو ته ځان تسلیم کړي او د ورځې دستور ته په پاملرنه شعر د شعار تـر سطحې راټیټ کاندي. دی په واقعي مانا یو روښانفکر و. پـه فرهنګي، اجتماعي مسایلو کې یې له یکه تازۍ او یوګونـدي استبداد څخه کرکه کوله. سرمحقق زلمی هېوادمل.**
- **که دافغانستان د پښتو د نوي نسل د شعر په حـدودو کـې یوازې دوه کسه هم تر نورو زیات ځلېـدونکي، پیـاوړي اود پاملرنې وړ وي، یو یې اسحق ننګیال دی. زرین انځور.**
- **ننګیال د جنګ په ډېرو بدو شرایطو کې د خپل ټاټوبي په غېږ ( کابل) کې فرهنګي او ادبي کارونه په پوره مینه او اخلاص پر مخ وړل، هغه شپه او ورځ پر ځان یوه کړې وه. که مبالغه ونه کړم، نو ویلای شم، چې ډېر کم وخت یـې د ارام لپـاره لاره. فرېدون.**

- ننګیال لکه څنګه چې په شعر او ادب کې یو روښانه ستوری و، همدغه شان د نېکو اخلاقو څښتن هم و. تل به یې له هر چا سره په ورین تندي چلندکاوه. دمشرانو درناوی دده پر طبعیت واکمن و. له کشرانو سره یې مینه ډېره زیاته وه او پــه نــورو ټولنیزو خېرښېګنو کې ډېر پیاوړی و. مولوي عیسی خان عالمي.
- ننګیال د یوه لوی عزت سیوری و، چې تر دې سیوري لاندې د هر لاروي دمه جوړېده، هر چاتردې سیوري لاندې د ارام ساه اخیسته او بیا یې نود خپل منزل پر لوري د یون لپاره ځــان جوړاوه. احسان الله الینګاری
- ننګیال یو هڅاند او ښه انځورګر لیکــوال او شــاعر و، هغــه دهېواد ناخوالې په ښه شان انځور کړې او هغه یې د تاریخ په پاڼو کې خوندي کړي دي. محمد حکیم.

# هغه شېبې، هغه کلونه

دا چــې لګیــا یمــه زخمونــه شــمارم
تــورو کمڅــو تــه دې ګلونــه شــمارم
تــا چــې پــرې ایښــی نــازولی قــدم
هغــه کــوڅې هغــه بامونــه شــمارم
ســتاله رښــتیا ســتا لــه درواغــو لــوګی
څــه دې وعــدې څــه دې لوزونــه شمارم
حسن یې یـو دی یې مغـروره پـه څـه
تــه چــې خالونــه زه داغونــه شــمارم
تــه لوبــوه پــه ګرېوانونــو امېــل
زه د ګرېــوان زاړه تارونـــه شـــمارم
حساب یې ورک شي راتـه راشـي خنـدا
څــومره ســاده یمــه غمونــه شــمارم
کلــه بــه راشــې پــه مــزار د ننګیــال
هغــه شــېبې هغــه کلونــه شــمارم.

۲۶/۱/۱۳۶۰

# خیبري تنده

ټول عمر درنه ده سپکېدو ته یې چې پرې نـړدئ
خاوره پښتنه ده او پردو تـه یې چې پرې نـړدئ
پرېړده خیبري تنده چې بیـا پـه وینـو ماتـه شـي
ګرمه معرکه ده سـرېدو تـه یې چې پرې نـړدئ
سره چې وړي اورونه په کمڅـو کـې د پښـتو نـاوې
ښه ده چې لمبه ده لوګېدو ته یې چې پرې نـړدئ
زلفو د جانان ته چې څو سرې وینې غـوټۍ نـه شـي
لاره تکه سره ده وچېدو تـه یې چې پرې نـړدئ
نن مې د خوشال توره چې بیا هوس د شـرنګ لـري
تاوه په شرنګ ښه ده چوپېدو ته یې چې پرې نـړدئ
ګورئ چې اسمان کې وریځ د ستورو د لار پـل وهـي
ورځ خو لا اوږده ده تورو شپو ته چې یې پرې نـړدئ
وړي یې چې غرور ته ثریـا پـه جـام د سـترګو کـې
نېغه مو شمله ده کږېدو تـه یـې چـې پـرې نـړدئ.

۱۷/۹/۱۳۶۴

# طلايي مرغان

سهر اوچت شو

دتيارو لمن يې څيرې کړله

او سپرلنيو وږمو

ددې شينکي اسمان په دښتو کې

په سرو منګولو

باغ دنارنجو جوړ کړ

او،

ددې لوی درياب په غاړه کې

دحسن په کور

د شنو اوبو د سپينو سپينو آينو د پاسه

د سرو لمرونو

طلايي ماهيانو ولامبلې.

۷/۲/۱۳۶۵

## ښکاري ته

ای ښکاري اشنا! درته سلام کوم

پرېږده چې دا سپينې مرغۍ والوزي

لاړې شي جوړې جوړې ګلونه شي

ښکلي شي ښايسته شي امېلونه شي

واخلي په وزرونو کې تنکي بچي

وموښي سينو کې ګلالي بچي

سپينې سرې مښوکې زرکني بچي

پام کوه!

پام کوه ماشې ته ګوتې مه ور وړه!

***

ای ښکاري اشنا درته سلام کوم

پرېږده چې دا شنو جلګو کې وځغلي

پېغلې د هوسيو د دامان په لور

واړوي پیکي د شنه اسمان په لور

وخاندي راتاوې شي مستي وکړي

ورغړي نخرې وکړي خوښي وکړي

پام کوه!

پام کوه ماشې ته ګوتې مه ور وړه!

❋❋❋

ای ښکاري اشنا درته سلام کوم

پرېږده د غونچو په لمن پریوځي

زموږ دکلي باغ کې د سپرلي بلبل

زموږ د خمارونو شرابي بلبل

پرېږده چې په  سرو مښوکو وبولي

زموږ د بام د پاسه د سپرلو سرود

بڼ ته د غوټیو د ښکالو سرود

ځمکې ته د وریځو بارانو سرود

پام کوه!

پام کوه ماشې ته ګوتې مه ور وړه!

❋❋❋

ای ښکاري اشنا! درته سلام کوم

ګوره دا بې ژبې مرغان مه وله

نه يې چې کوم ووړ بچی بې موره شي

ته هم ګوره پلار يې او بچی لرې

پېغله لور ښایسته زوی ګلالی لرې

درد لرې، ارزو لرې، زړګی لرې

نو!

ای ښکاري اشنا! درته سلام کوم

پام کوه ماشې ته ګوتې مه ور وړه!

۱/۳/۱۳۶۵

کابل

# ځار

باده! لږ پام کوه

ورو، ورو چلېږه.

دوير ګلان مې د سهار له اننګو ټول کړي

د وربځو سيورو ته مې ايښي دي

بې خوبه ککي

د شپو سارا کې د درواغجنو ستورو

لارې ځارم!!!

۶/۳/۱۳۶۵

کابل

# گناه

هېره دې جفا که نــور دې نــه درځــم پــه کلــي
دا ځلې خوله راکه نور دې نــه درځــم پــه کلــي
مادرتـــه نیـــازبین زړګـــی ټـــوټې ټـــوټې راوړی
دېره دې ادا کــه نــور دې نــه درځــم پــه کلــي
نن راته ســاقي د انګــوري میــو ســت مــه کــوه
شونډې دې مینا که نورې نــه درځــم پــه کلــي
خوله خودې ښېرا نه غیر دعاته جــوړه نــه شــوه
سترګو کې موسکاکه نوردې نه درځــم پــه کلــي
ټول عمر ډک نه شو تش کچکــول د ګداســترګو
نن دیدن سپواکه نــوردې نــه درځــم پــه کلــي
زه ملامت نه یم صبر مات شو ته مې ښکل کــړې
معافه مې ګناه که نور دې نــه درځــم پــه کلــي.

۱۶/۵/۱۳۶۵

کابل

# غزل

زړګیه اوښکه د لېمــو شــوې دا دې څــه وکــول
تېر د قاتلو پــه کوڅــو شــوې دادې څــه وکــول
دلته د ښکلو مینه سرغواړي د عشــق پــه بــدل
راغلې مین په داسې غلو شوې دادې څه وکــول
دلته خو لارې د جنون وې د هــوس خــو نــه وې
تاو د جنون پــه زنځیــرو شــوې داد څــه وکــول
قدم چې خوشې دلتــه اخلــې پــه اغزیــو لګــي
ته یې په خیال د پسرلو شوې دا دې څــه وکــول
ته خو پښتون وې سرټیټی دې چاته هم نه و زده
بې شرمه دلته په سجدو شوې دا دې څه وکــول.

# تشې هوجرې

ګلونـــه شـــته خـــو لـــه ورېمـــو خـــالي دي
جامونـــه ډېـــر دي لـــه نشـــو خـــالي دي
نور يې نو شرنګ نـه شـته چې پـا مـې څـوي
سـپين مړوندونـــه لـــه بنګـــړو خـــالي دي
نجـــونې ســـرتورې شـــوې بهـــر نـــه راځـــي
ځکـــه قبرونـــه لـــه ډيـــوو خـــالي دي
چـــې يـــې پيزيـــب شـــي زنـــګ وهلـــې کـــړۍ
دغـــه کـــوڅې لـــه ليونـــو خـــالي دي
چـــې مـــې رقيـــب پـــه کلـــي زغـــرده راځـــي
ښـــايي هـــوجرې لـــه پښـــتنو خـــالي دي.

۱۳۶۶

کابل

**زما د لور (اوښکې)**

**د زوکړې په شپه**

## د سرو و ینو دشپو ځانګې...

**د سپوږمۍ ټیک په وربل کې**

**دا له کوم لورې نه راغلې؟**

**د موسکا په ډکو شونډو**

**د ساړه ژوندون زندان ته!**

❋❋❋

**دلته مرګ دی، دلته وینې**

**موږ پر خپل ژوندون په تنګ یو**

**تا بې غمه جهان پرېښود**

**د ژوندو مړو مېلمه شوې.**

❋❋❋

دلته زموږ د ژوند پر ولو

زموږ د مېندو په سینو کې

د زلمیانو په ککو کې

د پېغلوټو په کمځوکې

رازنگېږي، رازنگېږي

د سور وینو د شپو څانگې...

۱۰/۲/۱۳۶۶

کابل

# شپه

تاســو پــر کمڅیــو بانــدې تېــره کــړه
موږه شــپه اغزیــو بانــدې تېــره کــړه
دا د ژونــد مروړلــې او ترخــه کیســه
ټوله مــو ســپرغیو بانــدې تېــره کــړه
یوه شپېه رودل به وو د شــپو لــه تــي
دا شپه مــو پېړیــو بانــدې تېــره کــړه
تــاخو پــه ســرور، مــا د نشــو ډولــۍ
تــورو تروږمیــو بانــدې تېــره کــړه
ډېــرو ســتمګرو مــو د وخــت تــوره
څــو ځلــې مریــو بانــدې تېــره کــړه.

۲۵/۸/۱۳۶۶

کابل

# نصیب

موږ چې له اره د شپو روږدي یو ســبا دې نــه شــي
که په څو شمعوشپې رڼېږي نــو رڼـا دې نــه شــي
خیردی زمــوږ دبــاغ ګلونــه کــه تــالا تــالا شــول
ستا د ښایست، ستا د کمڅو غرونــه تــالا دې نــه شــي
د خپل تندي تیاور کې ډوب شوم ستا وربل مې هېــر شــو
ستادبېلتون خوب مې لیــدلی دی رښــتیادې نــه شــي
خــوا مــو اغــزو،لاره اغزو،کلــی اغــزو نیــولی
داسې سپرلي کې که راځې ګلونــه رادې نــه شــي
موږ د تقدیر پر ماڼوپه وچ سمندر تــول لاهــو کــړو
دغه نصیب به وي زموږ خو د بل چــادې نــه شــي.

۱۳/۱۱/۱۳۶۶

جلال اباد

# انګازې

چوپه چوپتیا ده

لارې چوپې دي، کوڅې چوپې دي

چرګانو نارې نه کړې

ملا اذان ونه کړ.

❋❋❋

دا څه سهار دی؟

چې له یوه کوره یو غږ

د یوه ور د خلاصېدلو ونه خوت

چرګانو نارې نه کړې

ملا اذان  ونه کړ.

❋❋❋

واټونه تش دي

د سوالګرو ماشومانو

پر نازکې چغې پلنې نه شوې

چرګانو نارې نه کړې

ملا اذان ونه کړ.

❋❋❋

خو يوغږ اورم،

يو غږ وينم،

يو غږ څښم

چې مې په ذهن کې ژړېږي

انګازې کوي

**په ماته ژبه وایي راته:**

**کارغان راغلل**

**کارغان راغلل**

**کارغان تورې غاړې راغلل**

**وای! زموږ د باغ ګلونه**

**وای! دا ونې، دا فصلونه.**

**۱۳۶۷ل کال**

**کابل**

# ژوند ته ژړا

سترګې دې شته؟

ته راته ګورې؟

غږ مې اورې؟

ژوندونه! نن دې پټو سترګوته

یو غلی مساپر ناست یم

چې اسوېلیو ته مې

دباد او توپانونو

د کاروان اوښې ستمی کوي

اود غم اور ته مې

د غرونو

اود دښتو

دېرينې پښتۍ وسوځېدې

اوښکې مې بېرته خو راا.

۲۸/۲/۱۳۶۷

کابل

# درشل

چې پر اغزنــو لارو ځــو ســبا ګلونــو کــې ځــو
د عشق درشل ته په سکروټو په اورونو کې ځــو
شپو کې دلمر زړي کرو وربځې په ســتورو ولــو
پاتې منزل پورې اشنا پــه ســحرونو کــې ځــو
کړې کوڅې که د سفر څو لــه تیــارو ډکــې دي
دوینو سور مشال په لاس کې تورتمونو کې ځــو
له زړنــو پرخــې ووروو پــر جــل وهلــي فصــل
شپبې،شپبې لکه وږمې مړاوو باغونو کــې ځــو
د وصل لاره کې رقیب خیر که کوهي کینــدلی
سبا به غــاړه غــړۍ یــاره! منزلونــو کــې ځــو.

۳/۴/۱۳۶۷

کابل

# لوونه

ګډشـــول هـــر خواتـــه پـــه کرونـــدو لوونـــه
مـــورېه کـــوو د خپـــل ســـرو لوونـــه
تـــه دې ګـــلان دلـــۍ دلـــۍ وړه پـــر ســـر
مـــوږ تـــه راپـــېښ دي د غونچـــو لوونـــه
مـــوږ د لونګـــو کرونـــده کـــړې وه
اوس پکـــې کېـــږي دا غـــزو لوونـــه
خواشـــيني نـــه يـــو پـــر بـــې ســـرو تنـــو
مګـــر چـــې نـــه شـــي د شـــملو لوونـــه
خير دی کـــه نـــور راکـــې څـــه پـــاتې نـــه دي
وطنـــه! ځـــار درنـــه د زړو لوونـــه.

۳/۶/۱۳۶۷

کابل

# مات خوبونه

هېڅ نه پوهېږم،
چې سبا به مې دماتو ارمانونو
مړاوي شوي بڼ کې
د شنو اغزیو باچاهي
پر کوم ګل اوربلوي؟
هره شېبه، هره ګړۍ مې
دخوړو خوړو خوبونو
دماتېدلو اوازونه اورم.

❋❋❋

هره شېبه، هره ګړۍ
له خپله ځان تښتم
هره شېبه، هره ګړۍ مې
څوک له ځانه شړي
د یوه ځنګله پر څانګو ناست یم
یوه سیوري کې مې ځاله کړې
سیوری زما په هره ساه کې
ځغلوي د خپلې ساه تنستې؛

زه،

سیوری،

ځانګې،

لاس په لاس د تور ځنګله له پاچاهۍ نه

دغریبې مهاجرې کورنۍ په څېر

په ګډه تښتو.

❋❋❋

زه د مزل په هر یو ګام کې

د پرون شاهدان وینم

او د نن شهیدان.

زه مې د غرونو او څېړیو

د ګونګۍ ژبې اورینو افسانو ته ناست یم

چې هره ورځ کې راته ښیي

په خوني ټکو دوینو

او اورونو تاریخ.

❋❋❋

زه یې په سترګو کې

د خپل نن او پرون

ماتې هنداری وینم.

**زه په زړو هډیرو لولم**

**د نیکونو په لاسونو کې**

**د نن د زېږېدلو کیسې.**

۱۸/۶/۱۳۶۷

**کابل**

# کوټنۍ

نور مې تر دې چت لاندې

خوبه نه راځي

نور له ختېنو دېوالونو

او بامونو سترې شوې یمه

ماته له دې ځایه نه لېرې

په ځنګله کې

یوه د غوړګو کوټنۍ کوره کړئ!

۲۴/۶/۱۳۶۷

# باور

مـــنم د ژمـــي چـــې اثـــر نـــه شـــته دی
خـــو پرســـپرلي هـــم څـــه بـــاور نـــه شـــته دی
ګـــودر بـــه وي، نجـــونې بـــه ډېـــرې وي خـــو
هغـــه د ښـــکلیو مـــازیګر نـــه شـــته دی
تنهاکـــه وم مګـــر اوبـــه چـــې نـــه شـــوم
د اتشـــي ســـترګو نظـــر نـــه شـــته دی
شـــپه ســـبا شـــوې لـــه مـــودو څـنـــې پـــس
خـــو زور پـــه زړه کـــې د ســـحر نـــه شـــته دی
لـــویې دېـــرې چـــې مـــو اغـــزو ونیـــوې
جګـــې شـــملې پګـــړۍ پـــه ســـر نـــه شـــته دی

۳۱/۶/۱۳۶۷

کابل

# د مسکو پېغلې ته

زه چې ګورم ستا د زلفو دمارپېچو غرونو باغ ته

ماته یاد شي

زمونږ د پېغلو وران پیکي، ځنګل سرونه

زه چې ګورم ستا د شونډو د شرابو سره لښتي ته

ماته یاد شي

پر وطن مې د سرو وینو ډک سیندونه

زه مې خپل او هم خو ستا بخت ته حیران یم

پر ماکانې وروي، پر تاګلونه

۱۹۸۸/اکتوبر۱۳مه

مسکو

## سترې مور مې

هر څو زبېښمه ورو ورو (د بلبل اوښکې))

هر څو زبېښم د ورېښمو شونډو څاڅکي

هرڅو خېږم د نشو پر ميناورونو

لامې مینه تاوده نه وي چې راياد شي

دا زخمي زخمي وطن مې

او دا سترې سترې مور مې

هر يو ګوټ شي د شرابو

پیمانه راته د زهرو

راته یادې کړي مچکې

د ملګرو سور ټټر مې.

ای زما وطنه!

ای د مرګ او وینو کوره!

لړ مې پرېږده، لړ مې پرېږده

چې مېلمه یم پس له عمره

د یورپ د ښاپېریو.

۱۹۸۸ اکتوبر ۱۹مه

کیف

زما زوی ارش ته:

## ستړي شعرونه

زه دې له لرې نه اواز اورم

زه دې له لرې ننداري کوم

چې لټوې مې سرگردانه نا اشنا کوڅه کې

چې لټوې مې ددې سترو میخانو غاړه کې.

خو زه

د شنو ونو د لاندې له خپل سیوري سره

ښیښه د غم دمیو لاس کې

**له هرګوټ نه وروسته**

**د اورلګیدو د کوچنۍ لمبې رڼاوو لاندې**

**ستړي شعرونه لیکم.**

**هوکې!**

**د وینو شعر، د غم شعرونه**

**او ستا د ماتو مړاوو شونډو ارمانونو غزل.**

**۵/۹/۱۳۶۷**

**کابل**

# راشئ او وګورئ!

**راشئ او وګورئ!**

**زما د ژوند دا((شنې شنې)) اود ((مستو)) شاعریو شپېې**

**راشئ او وګورئ!**

**زما دغزلونو د میلاد او کوچنیوالي دغه تنګې کوڅې**

**راشئ او وګورئ!**

**زما د شعر چغې مساپر ماښام کې**

**چې په سرو وینو لامبي**

**چې سترې ساندې بولي**

**چې تورتم کې د څو وچو اورلګیدو**

**دې کوچنۍ رڼا ته**

**وینه شي،وڅاڅي او ژاړي سربداله دې کنې ځمکې ته.**

✵✵✵

**راشئ او وګورئ!**

**زما دمړو خوبونو د اسمان دا نړېدلې ځاله**

راشئ او وګورئ!

زماد غزل سترګو کې

څپې، څپې د وینو او سرو اوښکو چینې.

راشئ او وګورئ!

زما د شعر ګلونه پاڼې پاڼې

الماسي برېښنده غاښو کې دخاڼو پاتې.

❋❋❋

راشئ او ومې ګورئ!

راشئ او ومې ګورئ!

چې څنګه خلاص شم شوګیرونه د سهارله شنو بادونو سره

وایم چې  نه یې لیکم

خو پاڅم وخوځم او ګرځم

لا هماغسې له غمو ډکو شعرونو سره.

۱۰/۹ /۱۳۶۷

# شومه دم

راځه چې څــه د ســتورو د لالونــو شــومه دم دی
په څنــو د ســپوږمۍ کــې د ګلونــو شــومه دم دی

کیســـې خـــو پـــه والله چـــې د شـــرابو زړې شـــوي
جانانه! د ســرو شــونډو د جــامونو شــومه دم دی

دشمعې په رڼـا کـې بـه مـې سـتا څېـره لیدلـه
اوس راشه چې مې کور د مشــالونو شــومه دم دی

خیالونه شول څپې څپې په شنه سین د اسمان کې
تــه ګــوره چـــې اشـــنا! د غزلونـــو شـــومه دم دی

زماد انتظــار شــېبې او ســتا نــیم کښــه ســترګې
زمــا د شــوګیرو، ســتاد خوبونــو شــومه دم دی.

۶/۱۰/۱۳۶۷

کابل

**اجمل ختټک ته:**

## شمشاد شمله، زیږې خبرې

تــه رانــه ځــې او زه تنــاکې پــر ځیګــر ګرځــوم
د ذهن باغ کــې دې کــرم یــاد دې پــر ســر ګرځــوم
اشــنا! در تلــی نــه شــمه لار تړلــه اغــزو نیــولې
د زړه پــر ګــل دې لکــه پرخــه هــر ســهر ګرځــوم
څاڅکی غزل به مې لیکه تابه تــر جــوړ کــړ دریــاب
اوس به د شعر منګی خــالي پرکــوم ګــودر ګرځــوم
بې شکه کور د پښــتنو کــې لــر وبــر خــو نــه شــته
چې مې دزړه ((دالان)) نه ځې خاورې پر سر ګرځــوم
ستا دا شمشاد، شمشاد شمله او ستا زیــږې خبــرې
لکه روڼ ستوری پــه اســمان کــې د خیبــر ګرځــوم
ګوره زاري درتــه کــوم چــې درنــه نــه شــمه هېــر
ستا د ((غیرت چیغه)) خو زه پــه لــر وبــر ګرځــوم.

۳/۱۱/۱۳۶۷

کابل

# د خاورين کلي ناوې

هاغه ده وينم يې تر خاورو لاندې
يوه سپېڅلې ځېره
او يو تنکی ماشوم
چې پوست په غېږه کې نيولی دی د ځمکې ادې
تی ورکوي
او له خاورين زړه نه يې ورکړلې
دتورو تورو وينو لپې.

❋❋❋

هاغه ده وينم يې تر خاورو لاندې
يوه رنګينه پاڼه
يوه نازکه لښته
چې شنه بادونه يې خاورين کلي ته ځي
او ورته ساه ورکوي
باران يې زلفې مينځي

اوشنې وږمې یې غوږ ته بولي
د ښایست  او د شنې مینې کیسې.

❋❋❋

هاغه ده وینم یې تر خاورو لاندې
یوه د حسن ډیوه یوه ښایسته شهزادګۍ
یوه له شنو، سپینو او سرو رنګونو ډکه
نازولې انا.

❋❋❋

هاغه ده  وینمه یې
چې له خاورین کلي نه راغله
د ښایست پر اوږو.

❋❋❋

ګوره سپرلی راغی
هلته یو ګل وټوکېد.

۱۳۶۷ کب

کابل

# فصل

د خزان رټلــی ګـل یــم پــر ســپېڅلي بهــار ســوځم
د ګونګی شمعې رڼا یم د شــپې زیــړم ســهار ســوځم

ورته اوښکه شم د سترګو زمــا ســتړی ســفر ګــورئ
لاپې کوز پر شونډو نه یم چې په ښکلي رخسار سوځم
د کمڅیو د بــڼ ګــل وم لکــه روڼ د شــفق څــاڅکی
ستاد تورو زلفو غره تــه اوس تنهالکــه خــار ســوځم
د لیلې زړه کې شوې هېرې د مجنون لېــونی ســترګې
ټولو لوزونه ځوانیمرګ شول د وعدو پر مــزار ســوځم

د وفا دانې مې کښت کړې د جفا فصــل زرغــون شــو
د ژړا چم خو مې نه زده خو د زړه پــه انګــار ســوځم.

۱۳۶۷ وری

کابل

# ښکاري نظر

زده کــه دې خــوارېږه نــه دي ترخــه خــو راتــه ووایــه
مات مات دې منګی شه جنــې څــه خــو راتــه  ووایــه
زه ســـاده پـــه غـــورو د لېمـــو کلـــه پوهېږمـــه
نیمـــه راتـــه ووایـــه د زړه خـــو راتـــه ووایـــه
نــه وایمــه نــه چــې راتــه وکــړه د وصــال کیســه
خیــر دی یــو غــزل د بېلتانــه خــو راتــه ووایــه
مــا دې د الفـــت زړي د زړه پـــر ســـر کرلـــي دي
تــه پــرې د ســپرغو د بارانــه خــو راتــه ووایــه
سترګې مې باولۍ شــوې ستاښــکاري نظــر تــه کېناســتې
اوســه یــې هغــه وخــت د قتلېــده خــو راتــه ووایــه.

۱۳٦۸/ ۱/ ۱۸

کابل

# زړه سوی پر غوټۍ

نــــازولې غــــوټۍ راغلــــه
د ســـپوږمۍ امېـل پــر غـاړه
د سپرلي وینـــې پــر شــونډو
او د ســـتورو د ســرو اوښــکو
پــه چینــو مینځلــې زلفــې

✵✵✵

دا دېـــرۍ د ســــپینو واورو
د جلګــــو ســـپین کفنونــــه
یرغلونــــــه د ږلیـــــــو
د یخجنـــو بـــادو کړیکـــې
توپـــاني خـــونړۍ وریځـــې
دترخـــو ســـیلیو ژبـــې
د ګلونـــود مـــرګ چغـــې
د ویرجنـــو ورځـــو مینـــدې
د نېستۍ پر سین لاهو شــول

راته سور پسرلی شــین شــو
زمــا زړه پــر غــوټۍ ســوځي

❋❋❋

زمــا زړه پــر غــوټۍ ســوځي
چې د مرګ له پــولې راغلــه
لــه لــوخړو ډک جهــان تــه
د شرابو جــام پــه لاس کــې
خمــاري نشــې پــه ســترګو
خو شېبه پــرې تېــره نــه ده
چې بې اور او توپان ســوځي
د ثــواب بنګــړي پــر لېچــو
لــــه ګنــــاه تشــــه لمنــــه
دا زمــورږ د وينــو ســين کــې
دا زمورږ غريب سپرلي کــې!!!

۲۴/۱/۱۳۶۸

کابل

## د بې لارو لارو پل

تا وې درځم به

ما مې زړه درته باغچه باغچه کړ

زماد مړه امید انګړ کې

د نرګسو او زنبقو ګلان وغوړېدل

زماد ذهن د اسمان

د اجل وهلې دښتې

او وچې شوې چینې

لکه د شنه هسک کرونده کې

د سپوږمۍ

او رڼو ستورو د موسکاوو پټې

هاسې پر فصل راغلل

❋❋❋

ستا دراتلو د شېبو ټال کې زنګېدم زنګېدم

ستاد راتللو هر قدم ته مې د شعر پېغلې مینځې کړلې

ستاهر قدم ته مې د شعر نازولې وینې وپاشلې

خو ته رانغلې:

خو ته رانغلې د شینکي باد د کمڅیو

غورځېدلې غوټۍ

زماد بې ګله شملې ول ول کې تلپاتې شوله

او هر سهر راته په ذهن کې

دا ستا د قدمونو

دبې لارو لارو پل ښیي.

۲۹/۱/۱۳۶۸

کابل

# سیلۍ

تورې سیلۍ دي په جونګړو کې رڼا نه پرېږدي
دلته دوینو لېوني چیرته خندا نه پرېږدي
چې د اشنا خورو ورو زلفو کې نه شته ګلان
ظالم وختونه د سپرلي ستوني کې سا نه پرېږدي
پرون په کانړو نن چې داسې په سکروټو لګو
شېبې سلګۍ ته خو مو هېڅکله سبا نه پرېږدي
وینو کې زېږي، پکې لوی شي، پکې ومري بچې
قاتلې شپې دي دعا ګوی کور کې د چا نه پرېږدي
داسې مېلمه شو په وطن راته د مرګ سوداګر
چاته عزت، چاته شمله، چاته حیا نه پرېږدي.

۱۵/۲/۱۳۶۸

کابل

# دشهادت کیسې

چا مې د مات، زخمي زخمي

او مړاوي شوي خوب تعبیر ونه کړ

چې مې د اوښکو د ګلونو ننداري ته

ددې لرې وطنونو له باغونو نه

د شاتو مچۍ ولې راځي؟

***

چامې د زړه د وینو سین کې

وینې څښونکي کبان ونه لیدل

چې یې د مستو خنداګانو

او پیالو له کړنګهار نه یې

دې لوی کلي او ټول وطن ته خوب نه ورځي.

***

چا د اسمان له چاودي زړه

زخمي سینې

اوله ویرجنو سترګو ونه پوښتل

چې د سپوږمۍ ناوې

د هسک د واټ په منځ کې

د شهیدو ستورو وینو نه

پر مخ ولې خالونه ایښي؟

او شپو ته بولي

د اسمان  د طلایي بڼ

دهر ګل او سرې غوټۍ

د زړه چاودون او شهادت کیسې.

۱/۴/۱۳۶۸

# درې نومونه

زما د شتو پوښتنه ولې کوئ؟
زه مې د ژوند لپاره
درې نومونه ښکلي
اوله هر څه نه سپېڅلي لرم:
شعر،
شراب،
اود شنو ولو د شنو څانگو غرمو سیورى.

۵/۴/۱۳۶۸
کابل

# د ماضي پاڼه

د سرو وينو پرون وينم
چې دنن شفق ته ګورم
راته تېرې کيسې ښيي
د ماضي پاڼه اينه شوه.

❋❋❋

چې کې لوی سمندر وينم
په باغي څپو کې لامبم
د زمان ګلونه مينځم
د ازاد ساحل په څاڅکو
د نجات پر بېړۍ سپور يم
کله تندر کله کله اور يم
ړنګوم د سکون ځلي
ويښوم د ماڼو کلي
هر محل راته ميوند دی
هره دښته تاتره شوه.

❋❋❋

چــې کــې لویــو غــرو تــه ګــورم
تــول جهــان راتــه شــمله شـــي
دا کـــــــوږې ووږې دري مـــــــــې
راتـــه رزم شـــي، جګــــړه شـــي
هــــره تیـــږه د وطــــن مـــې
د جرګـــــو لویـــــه دېــــره شـــي
هــــره چغـــه دبابـــــا مـــــې
پـــر ((لاتیـــانو)) زلزلـــه شـــي
هـــر یـــو تـــوغ، هـــره جنـــډه مـــې
دپرنـــګ پـــر ســـر لمبـــه شـــي
هــــره پېغلــــه د وطـــن مـــې
ملالـــۍ شـــي، زرغونـــه شـــي
چـــې دا مســـته برېښـــنا وینـــم
راتـــه تـــوره شـــي تیـــاره شـــي
د پـــرون غـــرور تـــه ګـــورئ!
چـــې زمـــوږ د لاس وســـله شـــوه.

***

لا د هسک څنګو کې زانګې
دا اسمان اسمان خیبر مې
دا دننګ د کسو تورشو
دا جهان جهان سپین غر مې
لا د فتحې سرود بولي
دا میوند میوند سنګر مې
د دښمن پر مرۍ چورلي
د غازي ادې خنجر مې
لا د تورو ګوزار غواړي
د زلمي شهید ټټر مې
زېرى! زېرى! چې لا سره مو
د ننګونو معرکه شوه
دا په سرګټلې لاره
بیا زموږ په وینو سره شوه.

۷/۴/۱۳۶۸

کابل

# حاصل

**بیا مو په کلیو، کروندو کې**

**د ماتم د ماښامونو ډمې ونڅېدې**

**بیامو د ژوند واټ**

**د سرو اوښکو دماښام شفق**

**په وینو سور کړ.**

**او په دې سترېو کروندو کې**

**د غنمو او ګنیو د هر فصل پر ځای**

**هره شپېه د ځوانیمرګ ژوند**

**اود سرو وینو حاصل اخلو.**

**۲۶/۴/۱۳۶۸**

**کابل**

# دا ستوري هم تويېږ شول

دا ستوري هم تويېږ شول

دا سپوږمۍ هم بوره شوه

او ددې شپو تورو ځنګلونو کې زېږېږي

او لوېږي د شرمښو

او د دښتو د بګوو بچي.

❋❋❋

دا ستوري هم تويېږ شول

دا رڼا هم مړه شوه

او د زړو کېږديو منځ کې

دکوچنیو ماشومانو د خنداوو

او په غرو کې د زاړه شپونکي

د ((های های)) اوازونه پټ شول.

❋❋❋

دا ستوري هم توییږ شول

سبا به لمر هم مړ وي

او موږ د شپوبنده ګان خاندو

د رڼاوو د مرګونو

او شهیدو ښکلو ستورو

ډلوډلو جنازو پسې.

٤/٥/١٣٦٨

کابل

## هغه ورځ...

بیا به سره لېچې د رامبېلو

زموږ  د کلي د ګلابو

له شینکي قده راتاو، راتاو شي؟

بیا به د سرې غوټۍ ډولۍ

د پسرلي پر مرمرینو اوږو

راشي زموږ د کلي باغ ته؟

بیا به د غرونو

د زاړه شپونکي

د بین د زړه

زخمي اسویلي ساه واخلي؟

بیا به زمورِ دکېږدۍ مخه

د وریو له سپېڅلو او معصومو اوازو ډکه شي؟

هوکې!

همداسې به شي

غرونه به هست شي

او دا دښتې به

له ډېرو ترانو ستړې شي

خوهغه ورځ چې:

زما پر قبر

د پولادو شناختې هم ویلې وي؟

۱۸/۷/۱۳٦۸

کابل

# که سپوږمۍ نه وای

که سپوږمۍ نه وای

زموږ د شنه ښکلي اسمان کلي کې

زموږ د باغ خوږو انګورو به

د چاله حسنه رنګ اخیسته؟

او د کوچیانو کاروانونو به

پر کوم لورې مزلونه وهل؟

❋❋❋

که سپوږمۍ نه وای

زموږ د شنه ښکلي اسمان کلي کې

د مساپرو سلامونه به له لرې وطنونو

د اشنا سترګو ته چا رسول؟

او زموږ کېږدۍ به

د تورتم له خونړیو لاسو چا ژغورلې؟

***

که سپوږمۍ نه وای

زموږ د شنه ښکلي اسمان کلي کې

د شعر پېغلې به تنکیو اننګیو ته

د مینې خال له چاپوراوه؟

اود وختونو تروږمۍ کې به

د ژوند او دامید ګامونه چا اخیستل؟

کښت دې سمسور سپوږمۍ!

ژوند دې زرغون،

ځواني دې هسکه او ښېرازه اوسه!.

۲۴/۷/۱۳۶۸

کابل

# لمبې په دام کې

دلته غوټۍ له ډېرې تندې وسوې

دلته د باغ ډېوې سوې قتلې

د اغزو پر خونړیو لاسو

او دلته څمکه شوه د سربو

او اورونو پر غرمو بدله.

❋❋❋

دلته په کلیو کروندو کې

د ماتم د ماښامونو ډمې ونځېدې

بیامو د ژوند واټ

د سرو اوښکو دماښام شفق

په وینو سور کړ.

او په دې سترېو کروندو کې

د غنمو او ګنیو د هر فصل پر ځای

هره شپېه د ځوانیمرګ ژوند

اود سرو وینو حاصل اخلو.

❋❋❋

دلته په سترګو کې

تنکۍ اوښکې هم وچې شولې

دلته سیندونه، ګودرونه

او ویالې تږې شول

((دلته ډوډۍ وږې ده)).

❋❋❋

دلته د شنه سپرلي د ګلو د زېږېدا

او شهادت نېټه راغبرګه شوله

او زموږ په مینو او جونګړو کې

خواره لوګي

زموږ دژوند د پای ټکي شول.

❋❋❋

دلته وطن په وینو سور دی

او لګیا دی زموږ د وینو پر مدار څرخي

دلته زموږ داوښکو سین کې ملایک او شیطانان،

اوپرښتې او تور دېوان سره په ګډه لامبي

دلته غرونه غرور مات دی

او هر سین ته اتکړۍ دي پرتې

دلته د اورلمبې په دام کې نیسي.

❋❋❋

دلته اوبه، دلته اورونه، دلته خاوره

او بادونه رانه غلو وړي دي

دلته د سترګو له ککیو نه قي شوی

د شملو او لوپټو انځور

دلته زموږ د لاس تسبې او س د لولیو

او لغړو فواحشو په غوږو کې زانګي

دلته ویالې ترې دي

((دلته ډو ډې وړې ده)).

۲/۷/۱۳۶۸

کابل

# ښېرې په مالت کې

جانانه! دلته مــه راځــه لمبــې دي پــه مالــت کــې
زندۍ دي زولنې دي، غرغــرې دي پــه مالــت کــې

چې ته به لوبېدې پکې اوس هغــه ګــلان نــه شــته
ايرې دي په مالت کې، هــديرې دي پــه مالــت کــې
د مينې ګــودر وران شــو د منګيــو کتــار مــات دی
له سرو وينو نه بيا جوړې ويالې دي پــه مالــت کــې
سبابه وي مــنم خــو پــه مــاحول کــې دکــوډګرو؛
په موړه خو خورې ورې تيــارې دي پــه مالــت کــې

ذره هم ســتړې نــه شــو پــر مــوږ زور د ســتمګرو
هر څومره که ژړا وې دي ښېرې دي په مالــت کــې.

۱۴/۸/۱۳۶۸

کابل

# اس (۱)

هغلته لرې یو سپین اس ولاړ دی

لکه د ګلو پرخه

لکه د قو بڼکه

لکه دښکلي یار د سپینو غاښو سپینه برېښنا

لکه اوبو کې د ښایسته وو ښاپېریو د مړوندونو سیورى.

❋❋❋

هغلته لرې یو سپین اس ولاړ دی

لکه د ستورو اوښکه

لکه د ټولې دنیا سپینه نازولې سپوږمۍ

ورپسې منډې وهم

چغې وهم

تبښتي رانه

راځنې کرکه لري

فقط همداسې لکه ته چې رانه کرکه لرې

منډې وهې

تبښتې رانه

هلته يو اس ولاړ دی

هلته يو اس ولاړ دی

لکه د ګلو پرخه

لکه د قو بڼکه.

۱۵/۸/۱٦۸

کابل

# هيلۍ

**پانې را ورژېدې**

**ځانګې بربنډې شولې**

**کفن د سپينو واورو واغوسته**

**د ځمکې ادې**

**کنګل زمورِ په ويالو کې**

**د اوبو له ستوني ساه واخيسته**

**او ځوانيمرګ شول د سيندونو**

**نازولې کبان**

**نو ای هيلۍ!**

**وزورنه پرانېزه ورځه**

**دغه ماحول**

**ګرانې! دا ستا د اوسېدو کله دی؟**

**۲۲/۹/۱۳۶۸**

**کابل**

## سلامونه

هلته چې شنه ښکلي بادونه

غوړوي پر شنو ګنیو

د شنو پرخو امېل،

هلته چې ویالې دي

د جل په موسمونو کې

د سترېو پردیسانو د غرمو څپرې

**اودوپالو رنې اوبه دي**

**د سپوږمۍ دپېغلتوب اینې**

**اشنا! همغلته زموږ کلی دی**

**زموږ د ژوند هغه ویالې**

**او کروندې هلته دي**

**گوره! که راغلې کله زموږ**

**دغه زاړه، دغه کوچني کلي ته**

**ماته پلو کې**

**زموږ پټیو نه د تللیو**

**((قځلاخو)) سلامونه راوړه!.**

۸/۱۰/۱۳٦۸

**کابل**

# غلا

نن مې مودو نه پس په سترګو کې
د خوب پر ځنګله اور ولګېد
خو سپین سهار ړوند شو
نن مې د کور په دېوالونو کې ځنګېږي
د ځوانۍ د زړه چاودون
اودګناه یو وېرووںکی انځور
کور مې لوټ شوی خوبه!
صدف په ناړو باندې لوند دی
مرغلرې ورنه غلو وړې دي:
زما دمور دلاسو نښې ها سپېڅلې تسبې
او په انګړ کې
د انګورو دتاکونو هغه ښکلې، هغه مستې شنګلې.

۲۳/۱۰/۱۳۶۸

کابل

# مانېو ته سرود

موږه دې وینو مانېو!

موږه دې وینو بېړۍ!

مانېو! زموږه دلته یو ګودر اباد دی:

د زلمیو او د پېغلو د تنکیو زړو د وینو ګودر

دلته زموږ د وطن میندې د کوډلو

اود ورانو کلاګانو انګړونه

هر سهار په خپلو سترېو سترېو اوښکو مینځي.

❋❋❋

زموږ بوختیا: ویر سره غاړه غړۍ

زموږ ((مېلې)) پر هدیرو، ټولېدل

او ټنګ ټکور مو: د ګولیو نڅا

ژوند مو د اور او د ایرو

او دسکروټو او سپرغیو

یوه تکه سره بټۍ ده مانېو!

مړي مو کور کې مساپر

او د ځنګلونو شرمښانو خوراک.

❋❋❋

خو موږ دې وينو بېړۍ!

موږه دې وينو د توپان او ګردابونو په سرونو

د ګلونو او عمرونو لالهاندې بېړۍ!

موږه دې وينو د ياغي سين په موجونو کې

چې اوړې او را اوړې

غورځې، پرځې

او را وخوځېږې

د ځپو پر غرونو لارې باسې.

❋❋❋

موږه دې وينو مانو!

موږه دې وينو چې ((سلام)) ته دې هر ګام کې

د وختونو لېوني پېريان

د شپو له ځنګلونو وتي

موږه دې وينو چې دې ښکار ته

هر ځپک کې

دنهنګو وينې ځښونکی لښکر ناست دی

له غاښونو نه ارې جوړوي.

❋❋❋

موږه دې وینو چې د درد کومې کې ساه وباسې

موږه دې وینو چې یوه تنکاکه مړه نه وي اوبله درځي

موږه دې وینو چې د ژمي باد دې ژامو کې دېره شوله

تاوه را تاوه شوله.

❋❋❋

موږه دې وینو مانړو!

چې هره ورځ  او هره شپه، هره ګړۍ راته دا ستا

د سفرونو اومزلونو د ګامونو ښکالو

دلته راځي

موږه دې سوز، موږ دې ګداز اورو

موږ دې په لاس کې د ورغوي کرښې دلته لولو

مانړو ورځه!

مانړو وردرومه، سفرکم مزلونه لږ پاتې دي

د ستم زور اوبه دي.

❋❋❋

که چېرته تم شې مانړو!

اود ساحل پر لوري لار ونه کړې

**د وخت پر پاڼو به ورستې شي تورتمونو کې**

**د ستړیو قافلو دیون سپېڅلې کیسې**

**د ګلکځونو شنې ریښې به چېرته هم**

**د شنه ساحل پر ازادۍ باندې باور ونه کړي**

❋❋❋

**موږه د مرګ او د ژوندون پر تمځای ناست یو**

**ستا هر ګام ته موله زړونو نه**

**د وینو مشالونه ایښي**

**موږ دې هر ګام او هر قدم**

**د خپلو اوښکوپه دې ماتو، تکو سپینو مرغلرو مینځو.**

**راته هادي شه ماڼو!**

**راته هادي شه ماڼو!**

۱۰/۱۱/۱۳٦۸

**کابل**

# لاس راکوې او که نه؟

بیا د اسمان دروازې بېرته شوې

باران دی چې وربېږي پسې

خو د سرو وینو باران

څمکه شوه ټوله سرترپایه پر چینو بدله

د سرو لمبو په چینو

دنیا مو ټوله په ناپایه سمندر واوښته.

❋❋❋

((نوح)) بیا دعا د مرګ

دو خت د ګناه کارو کړې

مورږ ګناه کار چېرته یو؟

**نه خو مو چاته لېونی ویلی**

**نه موپېریان د چا د عقل غله ګڼلې چېرته**

**خوځو ډوبېږو بېګناه**

**د سرو اورونو د موجوو سین کې.**

❋❋❋

**ای د ((جودي)) پر غرونو ناستې**

**زموږ د ((نوح)) بېړۍ!**

**موږه په خپله لېوني یو**

**او پېریانو رانه عقل وړی**

**لاس راکوې او که نه؟.**

١٦/١١/١٣٦٨

**کابل**

# موسم

بې له تــا دوينوشــپې شــوې، مېلمنــه مــو شــه د کلــي
د (زيــوس) د کــال وړانگــې ((اتنــه)) موشــه د کلــي

ځو چې غار په وينو لونــد دی، گــډوي لــوگي د غوښــو
څويو سترگی دېو پاچا دی نــو وســله مــو شــه د کلــي

د تيارو اوښې گونډه دي ژوندترې ساه ايستلی نــه شــي
د ســپوږمۍ د روح اينــه شــه او ډيــوه مــو شــه د کلــي

ورته یوې لـولۍ سـترګک کړسـکندرتخت دجمشـید وسـو
دا مړژوانـدی قـوم راویښ کـړه زلزلـه موشـه د کلـي

چې دژوند هره چینه یې تر هـر پـل لاندې کـړه وچـه
دا د مرګ په سره موسم کې ته قبلـه مـو شـه د کلـي.

۲٦/۱۱/۱۳٦۸

کابل

# زما ليلا

زما ليلا د شنو نارنجو د باغچو ونه ده

چې د سپرلي باد يې د ګلو د وړمو سپينو چينو کې

د خپل ټول عمر مزلونه مينځي.

❋❋❋

زما ليلا د شنه اسمان د لويو کليو

دا سپوږمۍ پېغله ده

چې تورو شپو کې ځانګه ځانګه شي

د دښتو او ځنګلونو تورو څنوته

غونچې د مرغلرو وايي.

❋❋❋

زما ليلا د چنارونو او سپېدارو

ښايسته مرغۍ ده

چې چېرته ښاخ له ونې وزېږي

نغمې ورته دعشق او دپاکۍ غږوي.

❋❋❋

زما ليلا د هسکو غرونو د سرونو

د کېږدۍ کوچۍ ده

لکه ګوربت يې پر ژورو اوپر تړو

کرېدل نه دي زده.

❋❋❋

زما لیلا د شنو بادونو د چینو

هغه رڼه سترګه ده

چې چېرته ګرد پر رڼا پرېوزي

پرې ورېمې د ازادۍ وروي.

❋❋❋

زما لیلا د خدای دکلي د شنه باغ

دهسکې ونې سره منه ده اشنا!

چې د جنت وږي یوازې د خپل حسن

او رنګونو په کاسو مړوي

او تویولو ته یې لاس د قدرت هم نه رسي.

۳۰/۱۱/۱۳٦۸

کابل

مېرمنې ته مې:

# ستا وفا

مادې په زلفو کې

یو ګل د وفا کېښوده

تا مې شملې ته

د ځوانۍ شیبې

غونچې غونچې کړې...

# کیسې

سوړ ژمی اوبه شو د سپرلي هنګامې څېرتــه دي؟
دا زموږ دترږیــو هغــه ډکــې کاســې څېرتــه دي؟

شپو کې لګېدلې د زلمــې شــهید پــر قبــر څــې
اوس موپرشهید وطن دا ورکې ډیوې څېرتــه دي؟

**زموږه خــو يــادېږي دپرديــو هــم بېوســه مــرګ**

**سرې جنډې رپېږي پرې؛زموږهديرې چېرتــه دي؟**

**زموږ د ټنګ ټکور هوجرې، زمــوږ د محبــت کلــي**

**زموږ د شمله ورو هغه لــويې دېــرې چېرتــه دي؟**

**شته دلوپټــو غــرور او هســک دی دپګړيــو غــر**

**اوف چې دپښتواوپښتونوالې کيسې چېرتــه دي؟**

**۱۳٦۸**

**کابل**

# لکه سپېڅلی لوګوس

ته د زنبقو د تنکیو اننګیو

د شبنم څاڅکو کې

دانه دانه د پسرلي ښکالو کې وڅوکېدې

لکه سپېڅلی ((لوګوس))

لکه د وینې د زلمي شهید سوري ټټر کې.

❋❋❋

ته د باران او سپیونو واورو

له معصومې او سپېڅلې بېګناه لمنې

زما دزړه پر جل وهلې دښتې تویه شولې

لکه وړمه د سهر

لکه کوچنی ماشوم

دیوې بېوزلې مور د ویر او د دعا په بدل.

❋❋❋

**ته دلمرونو د کانونو**

**او سپوږمۍ له څاه نه**

**لویه ډیوه شوې**

**په تیارو شپو کې مې وځلېدې**

**لکه د ړوند لاسو کې ستړې امسا**

**لکه د تږي مساپر په مخ کې لویه چینه.**

# ږلۍ

په دې سپرلي څه وشول؟
سپینې وږمې څه شوې؟
سپېرو اغزوټه
لکه سترګۍ بازینګر ګډوي
دا پسرلي څه شو؟
دا زرکې چېرته لاړې؟
چې زمونږ د غرو په لاله یې درو کې
او دبادونو د پستو سینو تر سیورو لاندې
د ځوزو ډلې او دکاړو کاروان غبرګې موښي
او داسمان غبږه کې
شفق راوسوځېد
په شنو پاڼو یې
ځولۍ، ځولۍ د سرو سکروټو ږلۍ وشیندلې.

# داکلی مه ورانوئ!

دا کلی مه ورانوئ!

دا کلی مه ورانوئ!

ګورئ چې هلته د شنو ولو د شنو سیورو لاندې

ګورئ د شنې ویالې تر څنګه د جلګو د پاسه

یو کوچنی پروت دی

یو کوچنی ویده دی

او تر وړې لوپټې لاندې

دناز په غېږه کې کوچني شینکي خوبونه ویني.

دا کلی مه ورانوئ!

دا کلی مه ورانوئ!

ګورئ چې هلته لکه زرکې زموږ د کلي نجونې

ګورئ چې هلته د بامو پر سر نورسې پېغلې

کتار،کتار

دلمر تر وړانګو خپل پیکي جوړوي

او په مینو ژبو

د پېغلتوب غوږ کې  د ځوان هوس سندرې بولي

دا کلی مه ورانوئ!

**دا کلی مه روانوی!**

**ګورئ چې هلته له هغو سپېرو کوډلو څنې**

**ګورئ چې هلته ددې تورې تروږمۍ له غېږې**

**ساړه څګیروي جګېږي**

**سوزمن اواز راځي**

**او امیداورې میندې**

**د انتظار د بڼ د سرو ګلونو لارې څارې**

**دا کلی مه ورانوئ!**

**دا کلی مه ورانوئ!**

# د سفر په لاره کې

مــــامې د مینــــې نوبالغـــه څړیکـــه ولیدلـــه
چې مې دیاس او دوهمونو دتیـــارو شـــېبې یـــې
د خپلو سترګود الماسو په تېغ څیـــرې کړلـــې.

❋❋❋

مــــامې د مینــــې نـــو بالغـــه څړیکـــه ولیدلـــه
چې د سرو وینو له بسترنه یې دستورو نجـــونې
دشپو دزورله ګنهګارې غېږې خلاصـــې کړلـــې.

❋❋❋

مــــامې د مینــــې نوبالغـــه څړیکـــه ولیدلـــه
دسبایې ددې وربېښمینې ورږمې سیورو لانـــدې
چې د اسمان د وریځو سین نه دســـفرلاره کـــې
د بارانې ګلو سلام تـــه غېـــږ د ځمکـــې نیســـې.

**اهداء زما سپین ږیري شهید پلارته:**

# د میلاد په شپوکې

**ای! ددې شنه اسمان په غېږه کې خوب وړې سپوږمۍ!**

**ای! په دې شپوکې دپردیسو د سفر ډیوې!**

**ای! د ګلونو اود پېغلو، پېغلو وینو پرې!**

**ته راته ګورې؟**

**ته راته ګورې چې د کړیکو او تیارو نښه شوم؟**

**او دساړه ژمي خوني او ګنهګار ابلیس**

**زما دګلانو او نرګسو باغ کې اور وکاره!**

**ته راته ګورې!**

❋❋❋

**ته راته ګورې چې محل مې له کارغانو ډک شو؟**

**اوپه ویالو کې د هیلیو بچي وسوزېدل!**

**او زمورږ د کلي میندې**

**دمیلاد شپوکې ((بې لاسو اوپښو بچیان زېږوي))**

**ته راته ګورې؟**

**ته راته ګورې چې مې ټول کلی چاړه چاړه دی؟**

**خلک په نوکو او برچو د یو بل سترګې باسي**

**او دمالت نجونې**

**په خپلو تورو تورو څڼو کې ځوزان ټک وهي**

**آه،**

**آه نازولې سپوږمۍ!**

**آه درنا مورې!**

# د چړې په څوکه کې

دا د سپرلي د شينكي باد وزرونه چا تړلي؟

چې د سپوږمۍ شونډو كې تورو وريځو ځاله كړې

اود شيطانې شپې په لومو كې د ستورو نجونې

د مرګ له نوكو نه كترې، كترې راتويې شولې.

❋❋❋

دا دسپرلي د شينكي باد وزرونه چا تړلي؟

چې د تيارو په جهنم كې د اغزيو لښكر

د بلاربو بوټو له شيدو نه ډک تيونه شكوي

او د نرګسو دا موسكۍ، موسكۍ رنګينې سترګې

د لاس په نوكو باسي.

❋❋❋

دا د سپرلي د شينكي باد وزرونه چا تړلي؟

چې زموږ د کلي دبامو د سر سپینکۍ کوترې

د زهرجن غبار د زهرو د باران له لاسه

له ډېرې وېرې د ښکاري ګوتو کې ځاله کړې

او دچړې څوکه کې

سپینې دانې لټوي.

# د رڼا کلي ته

زه به د سترګو تخم

دغه راڼه کسي ته

د وچې ځمکې په تبجنه غېږ کې وکرمه

او،

د سینې له باغ نه

به مې د وینو څراغ

تورو کوڅو کې

د لارویو مخ ته، ونیسمه

څوچې په ګډه سره

دې لویو شپو کې

د رڼاکلي ته ټول ورسو!

# د شپې پر بام

نن مې کور له پنجرې نه
د مغرب له لوري
یوې مرورلې
خوسا شوې ورېمې سر اخیستی
او دګلانو په چوپتیاکې
دکارغانو ډلو
تیارې پر سر
دسبایي په شبنم ولامبلې
سهرله شرمه
ځان ته ونه کتل
ګلانو خپلې سرې مچکې پرې کړې
او لمر خولې، خولې
دشپې پر بام ویده پاتې شو.

# د رڼا مرګ

لا د نرګسودموسکاپه سپرلني پاڼو کې

غرمو خوړلې،

جل وهلې کربلا ویده ده

د شپو په څڼوکې

د تورو، تورو وریځو خمار

د سپوږمۍ زړه نه

د سرو وینو پیمانې اخلي

او اطلسي باغونه

د سرو ګلابو

د غوټېو جنازې پر اوږو

د پرهرونو

د باغچو داغي ګلونه پر سر

د تور خزان خوني سیلیو ته سلام کوي

او د سپېدو له باغ نه

د تورې دښتې

پر اغزنې چاودې، چاودې سینې

یوه رڼا ولوېده

یوه رڼا مړه شوه

(چې رنګ د لمر یې درلود).

**پوهاند دوکتورمجاور احمدزیار ته د هغه**

**د پنځوسمې کلیزې په مناسبت:**

# ته لکه لمر

**ته لکه لمر**

**دخپلو وړانګو**

**طلايي لمبونه**

**ذره، ذره**

**پر مړاووو شويو**

**(ګلو) وشڼېدې**

**او،**

**د شينکي ذهن**

**د هسک له رڼو ستورو نه دې**

**زمونږ رژېدلي**

**اوسرتور (بڼ) ته**

**سالو وګنډه.**

# سپرلي ته

سپرلیه راشه پردې کلي راشه

چې د ساړه ژمي قاتلو، خونړیو شپېو

زموږ دباغ د کشمالیو وینې وچې کړلې

اوماښامي سیلیو

بیا دسپوږمۍ دزړه چاودون

د مړو سلګیو شپو کې

د پېغلو ولو او سپېدارو ملاوې ماتې کړلې.

❋❋❋

سپرلیه راشه پر دې کلي راشه

چې زموږ د کلي د پېغلوټو ګودر ونړېده

دلته د شونډو په خیالي باغ کې موسکا مړه شوه

او زموږ دمیندو مهربانو مورنۍ غېږو کې

شونډې پرتیو دا کوچنې ماشومان وسوځېدل.

❋❋❋

سپرلیه راشه پر دې کلي راشه!

چې تورو دربلو کې زموږ د سفرونو سپوږمۍ

د رڼو ستورو دګلونو دمیلاد په ماښام

کترې، کترې له اسماني دښتو راولوېدله

اود شنو وږو د ځوانۍ او پېغلتوب خوبونه

د وحشي باد په قهرجن ستوني کې ونښتل.

❋❋❋

سپرلیه راشه پر دې کلي راشه

چې زموږ د پېغلو او تنکیو سرو غوټیو سترګې

دڅانګو بڼ نه د خزان په سیلۍ تویې شولې

د تورو شپو د تورو وریځو تر لمنې لاندې

د سرو رېدیو د مور بلاربه ګېډه وڅیرله!!!

# ځاځکي...ځاځکي

بیا ددې تور اسمان په غېږه کې

د وریځو هادي

په تورو شپو کې

دسپوږمۍ په وینو ولمبېده

او اورني بادونه

د شنو پستود پېغلتوب د وخت

شینکې خوبونه

تنکي، تنکي سوځوي

او په دې شنو شنو دامانو کې

د هوسیو بچي

اود زیتونو

دتنکي ذهن بې ژبې پاڼې

د خپلو وینو په بدل

ځاځکي د لمر غواړي.

# پسرلی، ږلۍ، باران

سږکال به هېڅکله سپرلی را نه شي

غوټۍ به چاته شنه موسکا ونه کړي

ځکه دا کلی، داکورونه

اودا ورانې کوڅې

خپله سپرلی، سپرلی دی

او راتوکېږي

هره ورځ په کې دښتې ګلونه

زموږ دوینو غوټۍ

سږکال به هېڅکله باران ونه ووري

**ځمکه به هېڅکله محتاجه داسمان نه شي**

**ځکه: هر ګام او هر قدم**

**راته باران نيولي**

**يوه ترپدلي باران**

**يوې ترپدلې ږلۍ**

**داسې باران چې زموږ دپېغلو د بنو له وريځو**

**له دې يتيمې ځمکې**

**ان په اسمان ووري.**

استاد واصف باختري ته:

## لیک

ته یې سپېڅلې لکه وړانگه او اروا د مرغلرو

د صدفو د سپېڅلو رڼاگانو د ښکلا کعبه یې

ته یې سپېڅلی لکه د روح د ((ادم))

او د جنت د ښکلیو حورو اننگیو او ککیو کې یو روڼ

دانطهور څاڅکی.

❋❋❋

زه دې په پاکو بې گناه سترگو کې وینم

د دنیا دبېگناهو او سپېڅلو ارواگانو فریاد

یو گونگ شوی، یو بې ژبې، یو بې وینې، بېگناهه انځور

زه دې د زړه په دې ناپایه سمندر کې هر ساعت

هره شېبه د یوې یاغي ببړۍ د ستر ماڼو د سترېو شېبو

لیکي وینم،

چې لا خوځېږي پسې، لارې وهي، منډې وهې ځي او دارمان

غاړې ته نه رسېږي.

❋❋❋

کله چې خاندي

ستا مالګینې خنداګانې ماته ویر، ماته فریاد

ماته فغان رابښي

ژړا دې نه پېژنم

کله چې ژاړې نه ژړلی نه خندلی شمه

خو دومره پوه یم چې کاتب د مخلوقاتو زماوستا

د ژوندون پاڼه  د خپل ((قار)) او له ((مستۍ))

ډکو شېبو ليکلې

چې ژړا نه پېژنو

خندامو هم نه ده زده.

ته يې سپېڅلی لکه وړانګه او ارواد مرغلرو

د صدفو د سپېڅلو رڼاګانو د ښکلا کعبه يې

ته يې سپېڅلی لکه روح د ((ادم)).

۲۸/۱/۱۳٦۹

کابل

# سیوری (۱)

دا ځو ونې

دا ځو ولې

دا ځو ځانګې

دا زموږ د وطن نه دي

دوی نه بوی ځي د پردیو.

❋❋❋

دا سپېځلې خاورې وایي:

دوی زما د غېږې نه دي

دا دباد د مور اواز دی:

چې ما تی ورکړي نه دي.

د لمر وینې وهي کوکې:

**چې دوی ما لوی کړي نه دي.**

**❋❋❋**

**کاني، غرونه راته وايي**

**دا سيندونه راته وايي:**

**پام چې ځنګ له يې ورنه شې**

**يو ساعت شي درته سيوری**

**بل ساعت درنه ساه اخلي.**

**۹/۲/۱۳۶۹**

**کابل**

# شناختې

يه ښکلې، ښکلې

يه سپېڅلې ملايکې!

دې مالت او په دې چم کې

ګناهونه هومره ډېر دي

چې تا هېڅ

د خپل وبال اوګناه غاړه کې

څوک نه ويني،

وایه! په دې لار چې راتلې

هغه زموږ د پلرو

اود نیکونو قبرونه څه رنګه وو؟

نښه یې وه؟

خاوره یې وه؟

شناختې یې وې او که نه؟

موږ خو دپلار اود نیکه هغه سپېڅلي

اودرانه قبرته نه پرېږدي څوک.

۹/۲/۱۳۶۹

کابل

# ګامونه او قدمونه

سیلۍ! د کومو اورنیو غرو له څوک دې

زموږ کلي ته لاره کړې؟

موږ چې قدم پر قدم اخلو

ستا دغېږې د اورونو پر سکروټو

او سپرغیو لګو.

چې د غنمو فصل شین شي

او دغوږګو نازولي بچي قد وباسي

ددنیا ټولې سرې لمبې مو مېلمنې شي

د کبلو او کبانو د سپېڅلو خنداګانو

د معصومو څپو ویني زبېښي.

❋❋❋

سیلۍ، له کومې نا سپېڅلې او بدبختې لارې راغلې

د ګناه اودویرونو ساز پر شونډو

زموږ د ژوند او ددعا او عبادت کلي ته؟

موږ چې قدم پر قدم اخلو

هر قدم مو د کربوړو پر قدم او پر پلونو لګي

قدم زګېروي کوي

ګامونه چغې وهي

لارې له شرمه لارې نه راکوي.

❋❋❋

سیلۍ، قدم چې دلته اخلې باغ له شرمه

خپل ورمېږ غوځوي

موږ له غوټیو او غوټۍ له موږ مخونه نیسي.

وايه ته څوک يې؟

د کوم ځای يې؟

او له کومه دې زموږه د دعا او عبادت کلي ته پېښه کړې؟

۱/۳/۱۳۶۹

کابل

# توپیر

دا دشنه اسمان ناوکۍ

څومره مینه ګر کې ده!

شپې چې د ګناه شي

هر څو ځان په خیرو ولړي

دا راته موسکۍ شي

د خپل ځان په سپینو پیو مې څادر مینځي

دلته مې د ځمکې

دا سپین سرې نیا میره شي

هر ساعت راته قبلې

د شنو ډنډونو په اوبو ولي.

۹/۳/۱۳۶۹

کابل

# کلی

لښتي وچ شول

ویالې وراني

سین د تورو کاڼو غر شو

اوس حیران یم چې دکلي

دا هیلۍ به چېرې لامبي؟

❋❋❋

نه پوهېږم، نه پوهېږم

ای د کلي مازیګره

ها زمورږد کلي چم کې

هغه سپینه کېږدۍ څه شوه؟

هغه شنې څپرې څه شوې؟

ها لوګرې جنۍ چېرې؟

❋❋❋

**تا ته یاد شي مازېګره!**

**د ګودر د غاړې لیکې؟**

**لکه باغ د ښاپېریو،**

**لکه لارې د کوترو؟**

❋❋❋

**تاته یاد شي مازیګره!**

**هغه شنې دېرې دکلي؟**

**پکې هسک د شملو غرونه**

**پکې ورېځې دچلمو.**

❋❋❋

**نه، نه ودان دی**

**کلی ودان دی**

**یوه ځاله په کې نه شته**

ها د ښکلیو توتکیو

یو نغری هم اباد نه دی

دابیو د لاس نښه.

✵✵✵

لښتي وچ شول

ویالې ورانې

سین د تورو کاڼو غر شو

اوس حیران یم چې دکلي

دا هیلۍ به چېرې لامبي!!.

۲۵/۳/۱۳۶۹

کابل

# چغه

وخت د دیدن اور شو د لمبې پــر ســر ولاړ یمــه
څه وکړم پښــتو ده د وعــدې پــر ســر ولاړ یمــه
څاڅکی څاکی راغلم ستا د حسن پر بام پرېــوتم
اوس چې پر ځان پوه شوم د ناوې پر سر ولاړ یمه
ته خو به تندی دشپې نن بیــا پــر کاســو وولــې
زه څومره کمبخت یــم د تــوبې پرســر ولاړ یمــه
لږ خودې کاږه واږه بانــه رابانــدې ســیوری کــړه
خیر دی مساپر یــم د غرمــې پــر ســر ولاړ یمــه
اوښکه د غزل مې د ساحل د غــاړې چغــه شــوه
ډوبه مــې ببــږۍ ده د څپــې پــر ســر ولاړ یمــه.

۱۴/۴/۱۳۶۹

کابل

# دپښتو خبرې

ماتــــه انکــــار تاتـــه د هـــو خبــــرې نــــه دي زده
تــا تــه د راتلــو ماتــه دتلــو خبــرې نــه دي زده
تــه خوبــه مــانۍ د وعــدو بیاراتــه ودانــه کــړې
ماتــه لــه دروغجنــو د ګیلــو خبــرې نــه دي زده
ستا خوبه امېـل لکــه ســپوږمۍ پــه تڼــر وزانګــي
ماتـــه دنـــاڅیرو ګرېوانـــو خبـــرې نـــه دي زده
ته دخم مېلمه شه، سر تر پښو د مستې څانګه شــه
ماتــه یــې د اوښــکو دنشــو خبــرې نــه دي زده
زه بې له پښتو نه په ټول ژوند پر بل څه پوه نه شــوم
ســتا لکــه مغلــه دپښــتو خبــرې نــه دي زده.

۳۱/۶/۱۳۶۹

کابل

# دویر مالت

تــه راتــه خانــده زه سلګوســره خوشــاله یمــه
تــه پســرلی شــه زه اغــزو ســره خوشــاله یمــه
د ویــر مالــت کــې دهــوس د ادا نــه شــته قــدر
د غــم موســم دی لــه غمــو ســره خوشــاله یمــه
ستوري  دې اوري پرخې پرخي پــر خــوب وړي نظــر
زه لکــه شــمعه شــوګیرو ســره خوشــاله یمــه
دزلفــو وربځــې وورو‌ه بلــې دې نــه شــي ډیــوې
د ژمــي شــپه یــم لــه تیــارو ســره خوشــاله یمــه
نــادان قاتــل راتــه پــه لاره کــې کرلــي ســپرغۍ
زه لکــه دود لویــو لمبــو ســره خوشــاله یمــه
څومره خوږه شوه په دې چم کــې د وحشــت ارتقــا
چــې یــې ښــاغلو لېونــو ســره خوشــاله یمــه.

۳۱/۹/۱۳۶۹

کابل

# پسرلی

پسرلي شو، پسرلی شو

پسرلی مې مساپر پر کاله راغی

پسرلی مې چې کړي

ګلابي حورې

پسرلی مې چې دخدای

له مهربانو سترګو ووري.

***

پسرلی شو، پسرلی شو

هره لوېشته د وطن مې

دنرګس ډکه کمځۍ شوه

هره لښته مې دکلي

تکه شنه د جنت څانګه

غنمي وړمې په زلفو

غرنۍ کوترې راغلې

د هوسیو لونې ناځي

د شنو دښتو پېغلتوب ته.

❋❋❋

پسرلی شو، پسرلی شو

د لمر سرې تورې یې ښکل کړې

لمبوي درنا ناوې

غوځوي دشپې رګونه

کري دښتو داسمان کې

د انځرو شنه باغونه

سپوږمۍ سپین رباب اخیستی

رانه ستوري نڅاګر شول.

❋❋❋

پسرلی شو، پسرلی شو

تودوي مې سرې مینې

زوړ خمار پر عقل ولم

سدمې اخلي د تاک وینې

ګناهکار ساقي ته ناست یم

راکوي جنتي ((پینې))

هره پاڼه د هر ګل مې

دې یاغي سرته پګړۍ شوه

هر یوکاڼی مې ګلاب شو

هره پرخه مې غوټۍ شوه.

۲۱/۱۲/۱۳۶۹

کابل

# کلیزه

نن مې دښکلې لور د حسن پر سپرلیو

یو بل ګل وټوکېد

نن یې دژوند پنځلسم ستوری رابرشو

د کمځو پر ماښام

نن یې د تاند عمر د لښتې پېغلتوب ته

بل ګهیځ شین شو

لور مې نن پېغله شوله.

❋❋❋

نن مې وعده وه، چې دزړه دوچې دښتې

دسمسورې غوټۍ جشن لمانځم

نن مې وعده وه چې به ناوې کړم

د کور پنځلسمه سپوږمۍ

نن مې وعده وه چې سلګۍ ورته

د شمعو دودوم

او بلومه ډیوې

خو نن د خپلې بدنصیبۍ سرې غوټۍ

موسکا ته کېنناستم

مایې د باغ د پېغلتوب

ددې تنکۍ شېبې سلام وانه خیست

ما شمعې ونه شوای راوړای

ورکې ډیوې بلې نه شوې

مایې ترخو شونډو ته

رنګ د خوږو هم ور نه کړ

مایې پر زلفو یو کوچنی پوړنی

نه کړو راخور.

❋❋❋

او نن مابښام چې ټوله ورځ

**روژه په خوله**

**دلوی الله پر عبادت بوخته وه**

**په دې ګناه چې**

**په نغري کې**

**ماښامي ټېپر ترې وسوځېدل**

**مور یې له شپې نه**

**تر سبا ورته غمبوري**

**په څپېړو شنه کړل.**

**هوا!**

**مورږ دبچو کلیزې داسې لمانځو**

**زمورږ د ستور داسې دی!!!.**

**۲۶/۱۲/۱۳۶۹**

**کابل**

# عبدالباري جهاني ته(۱)

دهغه د شعر په څواب کې:

مساپر خیالونه راغلل

مساپر له لرې غرونو

مساپر له لوی سفر نه

یادوي ((دماضي پاڼه))

رانه پوښتي دنن وینې.

❋❋❋

اوس به څنګه ورته وایم؟

اوس به څنګه ورکړم ((زېری))؟

چې یه سټریه مساپره!

هر لوښته دددې کلي

چې د خدای (ج) له خوبه شنه وه

اوس پوازې د کارغانو

**او زاړه شیطان کېږدۍ ده.**

**❋❋❋**

**اوس به څنګه ورته وایم؟**

**چې د غرونو ځنګل لوټ شو**

**د ځېږیو ځنې پرې دي**

**ځالې ډکې له کربوړو**

**د چنارو په سینه کې .**

**❋❋❋**

**اوس به څنګه ورته وایم؟**

**چې دنن مینزو کړې ماتې**

**د پرون ښکلې هندارې**

**زموږ بوډۍ مورې یې کړه بوره**

**ټول وطن شهید شهید شو**

**دلته مري د ماضي فصل**

دلته مري دسبا زړي

شمله ور غرونه مات شوي

را میراتې لوټې دي.

❋❋❋

اوس به څنګه ورته وایم؟

چې مې مري   دمستۍ کلی

دلته ویر دې خندا نه شته

د مرګي لوبه جاري ده

چا خنداراته وژلې

چامو کور پر انګار وویشت

چا مو پښو چړو باندې

دبچیو مرۍ پرې کړې.

❋❋❋

اوس به څنګه ورته وایم؟

**چې د نجونو تور وربل کې**

**سپرلی شین شو د ځوزانو**

**دلته اوس دګودر لاره**

**د اغزو لښکر نیولې**

**اوس د ښکلو دسرو شونډو**

**هغه شنې موسکاوې مړې دي**

**اوس د ښکلي ریبار ژبه**

**د اغیار پر نوکو وتې**

**دلته لوېې دېرې نه شته**

**د هجرو ټغر ټول شوی.**

**❋❋❋**

**اوس به څنګه ورته وایم؟**

**چې شهید پلو پر سترګو**

**د وطن ادکۍ ژاړي**

ړنګوي ددعا څلي

هسکوي دښېرو غرونه

((زور)) له لوړ ګرېوان نه نيسي

د سرو اوښکو په لاسونو

ترېنه غواړي د خپل فصل

ددې شنو دانو مرګونه

چې نامردو بزغليو کې

دمور څه قدر نه شته.

✵✵✵

ته دې ورک سيوري ته ژاړې

زه له خپل سيوري نه ستړی

ته له ځان سره په جنګ يې

زه فلک سره په جنګ يم

راته وايي:

ژمی درومي

توتکۍ به بېرته راشي

لکه وړانګې د سپرلیو

په وریښمین وریښمېن وزرونو.

✵✵✵

زه وایم:

ای د ټولو ربه!

که ته چېرې توتکۍ وای

ته راتلې زموږ پر کلي؟

لکه وړانګه د سپرلیو

په وریښمین وریښمین وزرونو؟

۱/۱/۱۳۷۰

کابل

# تاک

چې یې دنیا ته سترګې راکړې

او غونچې غونچې شوې

پرهغه ورځ مې د مور سرې سترګې غوټۍ شوې

بېرته ونه غوړېدې

چامې پر ترېیو او ماشومو شونډو تی کېښود،

پر هغه ورځ هم دلمر سرې وینې شوې وچې

او یوه شېبه راونه ورېدې

شپه شوه، شپونکۍ، سپوږمۍ د ستورو درمو

ورېیو وریو پسې هم ونه وتله

تمامه شپه د مړو سلګیو پرزانګو ویده شوم.

***

**سهارچې پاڅېدم**

**زموږه د کاله د سرو انګورو نرۍ ونې راته ایښې وه**

**غولانځه پر سپېرو او جل وهلیو شوندو**

**ما ورته مور وویل.**

**اوس هغه څاڅکی د انګورو مې پر زړه باندې**

**نیالګی ولاړ دی**

**څوچې لویېږم ښاخور تاک مې**

**له ژوند سره سم لویېږي**

**زه او تاک دواړه له یوې ریښې یو.**

**۱۰/۳/۱۳۷۰**

**کابل**

# دلبرۍ

هرڅومره چې پې مخې دي او ښــکلې دي دلبــرۍ
هغــــومره ســــــتمګرې او قــــاتلې دي دلبــــرۍ

پــوهېږم څــو خونخــوره مېلمنـــې وې درنــه لاړې
زړګیــــه! خپــــه نـــه شـــې نــازولې دي دلبـــرۍ

نه لوز، نه یې وعده، نه یــې رښــتیا ده چــا لیــدلې
دې چم کې د وفــا لــه غـرو لوېـدلې دې دلبـرۍ

زموږ که ځواني اورشوه د دوی ګل له ځنـو پرېـوت
دا هسې پـر خپـل حســن غولېـدلې دي دلبـرۍ

توبه! لکه دخوار فقیــر دې خپلــې غوســې وســوم
درنـــې دي، پښـــتنې دي اوښـــاّغلې دي دلبـــرۍ.

۲۹/۳/۱۳۷۰

کابل

# ازادي

دلته څوک نورد پسرلیو

دګلونو او وږمو په سوچ کې نه دي

دلته چاته نور زموږه د کورونو

دبامو سپینو کوترو ته

دانې ورکول نه زده.

✵✵✵

دلته دښتوکې د باد له کوچې هېر دي

چې بیا ښکل کړي

په پردېسو وچو شوندو

د لوګرې پېغلې څنې

دلته چت پر کاله نه شته

چې دا سترې توتکۍ پکې دمه شي.

✵✵✵

دلته وینه، مینه مړه ده

دلته فصل د لمر وچ شو

دلته قتلې دي دعشق اود ځوانۍ

او پېغلتوب ددې سپېڅلو ګناهونو

د جنت ښکلې هندارې.

❋❋❋

دلته ساه په باغ کې نه شته

دلته مات د ګل انځور دی

دلته بڼ کې زرغون شوې

د ساراوو د زړو بګوو چغې.

❋❋❋

موږ د مرګ کام کې ژوندي یو

د ښکاري ګوتو کې ناڅو

دسبا کښت یې رالوټ کړ

**دا دنن شپېو دېوانو**

**د پرون پاڼې ورستې شولې**

**دمړو اودخاڼو په لاسونو**

**ازادي خو وي همداسې**

**ژوند خو داسې وي کنه!؟**

**۱۴/۵/۱۳۷۰**

**کابل**

# څو منثور شعرونه

**مصطفی جهاد ته:**

**زموږ مړينه**

**-۱-**

**پرېوزه،**

**ارام ويده شه!**

**زموږ مړينه داسې ده**

**لکه زوکړه مو چې وه**

**او زوکړه مو**

**لکه مړينه مو چې ده.**

✵✵✵

**هغوی چې د خپلو کورونو**

**پر دسترخوانونو**

**ډوډۍ خوند نه ورته ورکوي**

**ژوندي وي.**

پرېږده!

هغوی چې د پردیو د کاروبار

د افیونو او الکولو په چینو کې

د لغړو فواحشو

دپستو او مرمرینو غولانځو پر غرونو

یوه شېبه خوب

زموږ د ټولو په ژوند نه ورکوي

ژوندي وي.

او پرېږده!

هغوی چې ویاړ ګڼي

دخپلو ناوو پېغلتوب

له هغوی نه

په پردیو کټونو کې واخلي

ژوندي وي.

او،

زه او ته

چې ژوندي وو مړه وو،

نو،

پرېوزه

ارام ويده شه!

زموږ مړينه

لکه زوکړه مو چې وه

او زوکړه مو

لکه مړينه مو چې ده.

۳۰/۵/۱۳۷۰

کابل

# درد

-۲-

د پلار مړينه مې وليده

اودورونو زړه چاودون هم

لوږې مې ډېرې وزغملې

او تندې هم

خو يوه يې دومره دردوونکې نه وه

لکه:

نشه چې نه وي پوره

او ښيښه پای ته ورسي.

۱۷/۶/۱۳۷۰

کابل

# پیغمبران هم ژاړي

-۳-

ونې! ولې ژاړې؟

ښاخونه یې رانه غوڅ کړل

چا؟

ښاخ مې،

ومې روزه، ومې روزه

چې رالوی شو

تبر ته لاستی شو.

❋❋❋

- موږې! چېرته ځې؟
- دخدای کلي ته.
- مګر دا لویه نړۍ؟
- نړۍ خو د دېوانو ده.
- مېږه دې شته؟
- رانه ورک شو.

- او زامن؟
- لرم یې: قابیل او هابیل.

❋❋❋

- مسیحه! ته او ونکې؟
- اوښکې نه، وینې.
- دچا له لاسه؟
- د یهودا له لاسه.
- ومې روزه، ومې روزه
- چې رالوی شو
- دښمن ته یې وسپارلم.

❋❋❋

- وطنه! ته؟
- او دا دی زه هم ژاړم.
- څوک دې ژړوي؟
- ملت مې.ملت مې دوه برخې شو:
- قاتل او مقتول
- درېیمګړی نه لري.

۱۸/۳/۱۳۷۰

کابل

# برخه

-۴-

هغه ورځ مې چې غوښتل

کمځۍ یې ورته له ګلونو ډکې کړم

د دښتو او بڼونو ګلان

سیلیو یووړل

او نن چې، ګلان بیا راوغوړېدل

هغه نه شته.

❋❋❋

هوکې!

زموږ برخه همداسې ده

تېر کال مو چې ویالې

له اوبو ډکې وې

زموږ دکلي ژرنده ورانه وه

او اوس چې

د کلي ژرنده بیا ودانه ده

په ویالو کې اوبه نه شته.

۱۲/۶/۱۳۷۰

کابل

# دنیا

زما زړه تر جهان لـوی دی د حهـان تنگــه ســینه ده
چې زه نه پــه کــې ځــایېږم دا دنیــا څــومره وړه ده؟

زه د جــل د غرونــو تــږی پرواگیــر نــه یــم د لپــو
ساقي! چم مې د گــوټ نــه زده زمــا بحــر پېمانــه ده

ما مسیح حیران لیدلی د خپلې مور دعفت سوال تــه
ما چې نوم دعشــق اخیســتی راتــه لښــته زمانــه ده

موږ یې څنگ ته د گورناست یو پوکوو په کــې ســاه گــانې
گنــې دا دژونــد ډېــوه خــولا پخــوا تــر ازل مــړه ده

د تقدیرکچکول پرغاړه مرگ نــه خیردهســتی غــواړو
دا دنیا څومره لــولی ده، دا دنیــا څــومره ســپېره ده.

۳/۶/۱۳۷۰

کابل

# مساپر

څه د ښکلو اوښکو ستوری مساپر پر خاورو خــوریم
د چا سترګو نه لوېــدلی یوتــوتې تــوتې انځــور یــم
اوس به چېرته پسې لاړ شم نا اشنا کوڅې دي ډېرې
دا دزړه تیر به مې څوک وي چې یې زه د شګو کور یم
چې یې تپ په سترګو ړوندکړم ترې سرو بادونو یووړم
دا د چا د نظــر دودیــم؟ دا د چــا د نغــري اور یــم؟
قتلوي مې چې خوبونه، لېونی خیال مې چـــې وژنـــي
دادکوم پښتون شملې ته د مغل دخولې پېغــور یــم
څغلوم اس په دریاب کې، ګرځــوم بېــړۍ پــه وچــه
دا دکوم جنون امسا یم، دا دچا دعشق شبکور یــم؟

۸/٦/۱۳۷۰

کابل

# پياله

دا ځواني مې صدقه شه، خو پياله مې تشه مه شه
د زړګي لپه چپه شه، خو پياله مې تشه مه شه
ښه پوهېږم چې مې وژني دا بربنډې دتاک پېغلې
عمره! يوڅاڅکی نشه شه، خو پياله مې تشه مه شه
څو يې ښېنم نه تمامېږي راته څه د زهرو سين شو
دا دژوند وچه چينه شه، خو پياله مې تشه مه شه
دا د دوه کانو دنيا چې دومره ګرانه پر موږ پلوري
لکه دود پر اور خوره شه، خو پياله مې تشه مه شه
نه په بر د عمر خوښ يم، نه په ګز د ژوند خو شاله
ټول دلوڅو پښو ناره شه، خو پياله مې تشه مه شه.

۷/۷/۱۳۷۰

کابل

# لاره

د ژوند مزي خو لنډشول هغه شــپه قــراره چېرتــه ده؟
یــاران د لارې ډېــر دي خـــو ملګـــرو لاره چېرتـــه ده؟
کاروان مو د سپوږمۍ تر څنو برشـــو، خـــو زمـــوږ مینـــه
چې تاویــل ځاروانــه! اوس دخــدای لپــاره چېرتــه ده؟
ســاقي! راځنـــې وچـــې شـــوې ډالـــۍ ورتـــه دزړه لپـــې
زمـــوږ د وینـــو تـــرږې دا ویـــده خمـــاره چېرتـــه ده؟
مـــوږه ســـاده ګـــان یـــې د دوکـــو پـــر ژرنـــده دل کړلـــو
ای عشقه! د دروغجن دیــدن هغــه ریبــاره چېرتــه ده؟
دا دومره پېړۍ شــپه کــې دســبا ســبا نــارې چــې دي
شـــیمه مـــو د نیمزالـــو ډیـــوو تـــر ســـهاره چېرتـــه ده؟

۳/۸/۱۳۷۰

کابل

# کب

سیندلا همغسې

څپاند روان دی

او ا سپین ږیری جاله وان

خدای زده

پر کومې دې شګلنې غاړې

خوب وړی دی نه ویښېږي

سترګه مې ورپېده

او ستا دکور کوتره راغله

ستا راکړی ګل یې

زما شملې نه یووړ.

زه پوهېدم چې

نن به داسې وشي

او نور به هېڅکله

در ونه رسمه:

بېګاه مې خوب کې

له لاسونو ځنې

کب لوېدلی!

۳/۱۰/۱۳۷۰

کابل

# مینه

نیمه شپه، نیمه شپه ده

د سپوږمۍ څانګو ته ناست یم

یو څوسیوري راته ناځي

لکه ډمې عربانې.

❋❋❋

د جنت پیالې یې راوړې

څه وربښمینې پرښتې دي؟

رانه اخلي تاج د عقل

دجنون جوغه يې راکړه.

❋❋❋

اوس  د زړه پر پاڼو لیکم

ستا د دوه سترګو غزلې

لکه خدای چې مینه لیک کړه

دا دحورو په لاسونو.

۱۹۹۱ جنوري

مسکو

# څانګه

د کومې شـــپې بلـــه ډیـــوه یـــې څـــانګې!
چې مې د زړه پر کور خـــوره یـــې څـــانګې!
لـــږ صـــبر وکـــړه چـــې وزګـــار خـــو شـــمه
څنګـــه بـــې صـــبره پیمانـــه یـــې څـــانګې!
شـــېبه د ژمـــي د راتلـــو خـــو نـــه ده؟
داســـې چـــې بیـــا کـــړه وړه یـــې څـــانګې!
نه چې یـــاغي شـــونډو مـــې وکـــړ تېـــری؟
له شرمه بیا چې تکه ســـره یـــې څـــانګې!
څنګه د عشق پـــر قیـــام نـــه کـــړم بـــاور؟
چې راته ســـیوری او شـــمله یـــې څـــانګې!
د وخت سیلۍ دې رانـــه وړای کلـــه شـــي
د پښـــتني کـــور مېلمنـــه یـــې څـــانګې!

۱۹۹۱ جنوري

عشق اباد

# زه او غر

تاسو مې پېژنئ؟

زما دتن هډوکی

اود خاورو په رنګ مسته وینه

زما د غرونو د هستۍ نښې دي

ما مې د غرو له تیو پۍ رودلي

زما دکور دبامبوټۍ له پاسه

غر ولاړ دی

او په انګړ کې

هر قدم ته د څېړیو ونه،

په هره یو ښاخ کې یې

د لمر د زېړدلو کیسه

او شین اسمان یې

خپلو سترګو ته

له پانو نه

رانجه پوروي.

ماته د خوب او ستړیا

چم نه دی زده

تیارو ته ستوري،

د سبا بربنډو پېغلو ته

لمنې ګندم

او کرۍ ورځ سترګې په لار تېروم.

سترګې په لار یم

خو دڅه لپاره؟

نه پوهېږم!

وه چې زما تر سیوري هاخوا

دا دنیا نن څومره ښکلې ښکاري

دریغه!

له شرمه راته پاس

د کتو وس نه لري.

۲/۱۱/۱۳۷۰

کابل

**لوی احمدشاه بابا ته:**

# د غمنو وږی

-۱-

د غنمــــو وږی زمـــا د پګـــړۍ څانګـــه
د غنمــــو وږی زمـــاد غرونـــــو ژبـــه
د غنمــــو وږی زمـــاد ماضـــي درمنـــد
د غنمــــو وږی زمـــاد ســـبا تـــوره.

❋❋❋

د غنمــــو وږی زمـــا اوښـــکو ټکـــی
د غنمــــو وږی زمـــا د موســـکا پانـــه
د غنمــــو وږی رنـــګ د ښـــاپېریو
د غنمــــو وږی زمـــا دیـــار ســـندره

❋❋❋

د غنمــــو وږی لمـــر دشـــپو د تیـــو
د غنمــــو وږی ســـیوری دغرمـــومې
د غنمــــــو وږی وږم د ســـــــپرلیو
د غنمــــو وږی تـــن دشـــنو څېږیـــو

❋❋❋

-۲-

د غنمو وږی پاس پر شــملې شــین شــو
طلایي تاج یــې نســکور کــړ لــه ســرونو
د غنمو وږی شـــنه دویــاړ جنــډه شــوه
لکه سره وینــه ایــت د پــاني پــت شــو.

❋❋❋

د غنمـــو وږی تـــوره د برېښـــنا شـــوه
د دښمنو وربځو ګېډې یې کــړې څېــرې
د غنمـــو وږی زمـــا د غرونـــو بـــاد شـــو
له هیبت نــه یــې زمــرو ګیــدړې راوړې.

❋❋❋

د غنمـــو وږی وینـــه د غیـــرت شـــوه
په ککــرو کــې یــې اور د ایمــان پــو کــړ
د غنمـــو وږی زمـــا دپـــلار شـــمله شـــوه
ټیټېدل یې لکه ستوری چېرتــه نــه زده.

❋❋❋

د غنمـــــو وږی اور شـــــو پرنـــــامردو
هره لوېشــته یــې تنــور کــړه پــر بګــوو

د لمر بڼ یې له لویدیزې سیلۍ خپل کــړ
د شمال د باد ترخه ژبــه یــې پــرې کــړه

❋❋❋

د غنمــو وږی تــول هېــواد شــو
د غنمـــو وږی تـــول ولـــس دی
د غنمــو وږی زمــا د وطــن هســک شــو
چې تر غاړې یې د بلا لاســونه لنــډ دي.

❋❋❋

د غنمـــو وږی زمـــا د پګـــړۍ ځانګـــه
د غنمـــو وږی زمـــاد غرونـــو ژبـــه
د غنمـــو وږی زمـــاد ماضـــي درمنـــد
د غنمـــو وږی زمـــاد ســـبا تـــوره.

۳/۱۱/۱۳۷۰

کابل

# کښېنت

دزلفو شپې دې راوړې خونســکورې درنــه نــه شــي
ته ګوره  هغــه کــړې وعــدې نــورې درنــه نــه شــي
بلد نه يــم پــه غبــرږ کــې د ســپېڅلې ګنــاه چېــرې
داشونډې وچې روږدې دي سمسورې درنه نــه شــي
ما څښلي کله نه دي ساقي تور شراب پــه جــام کــې
ستاسترګې تکې سرې ښې دي چې تورې درنــه نــه شــي
کمځې دې راته دارکړه چې منصورشمه ژونــدی شــم
وېرېږم له هغــې نــه چــې منګــورې درنــه نــه شــي
له ورېځو نه خير نه شته کښت مو هم لــه ســينده لېــرې
سپرلیه! څو غوټۍ دي چې کمزورې درنــه نــه شــي.

۱۴/۱/۱۳۷۱

کابل

# عبدالباري جهاني ته (۲)

**دهغه دشعر په ځواب کې:**

**مادرته نه وې چې یاغي شـــو اولــس؟**
**مادرته نــه وې چـــې ژړېـــږي وطـــن؟**
**مادرته نه وې چـــې نړېـــږي غرونـــه؟**
**مادرته نه وې چـــې ورانېـــږي وطـــن؟**

**❋❋❋**

**مادرته نه وې چې د کارغیو ســـیورى**
**تاج د شیطان شـــو لوټـــوي پرښـــتې؟**
**مادرته نه وې چـــې د حـــورو حســـن**
**پر دمـــو پلـــوري، خرڅـــوي پرښـــتې؟**

**❋❋❋**

مادرتــه نــه وې چــې دنــن ســندره
غریبه اوښکه شــوه په اور وســوه؟
مادرتــه نــه وې چــې ډیــوه د ســبا
ماته هنداره شــوه پــه کــور وســوه؟

❋❋❋

مادرته نه وې چــې هــادرنې لــوپټې
د اور او وینــو پــر ګــودر زانګــي؟
مادرته نه وې چې هاسپېځلې تسبې
د څــو لولیــو پــر ټټــر زانګــي؟

❋❋❋

مــایو زخمــي تــن د وطــن ژړلــو
اوس له وطن نه وطنونه جــوړ شــول
مــا یــې لا یــو درد دواکــړی نــه و
اوس یې له هر ټپه ټپونه جــوړ شــول

❋❋❋

تـــا ويـــل مـــه ژاړه جـــوړېږي وطـــن

زه ويم چې نه يــې نــاخبر شـــه يــې

تا ويل اور دی بيــا ګــلان دي پســـې

زه ويــم لـــه دې اوره بهـــر شـــه يـــې.

۱۵/۱/۱۳۷۱

کابل

# وینې پر کاله

اوښکې د شپېو که دکلو وې په ســر واوښــتې
لپه وې اوبه،که په نېــزو وې پــه ســر واوښــتې
تول عمر باران و، یوه شپه مــو رڼــه ونــه لیــده
پوه نه شوودژمي که سپرلو وې په سر واوښــتې
نه به وایي ژبه دغه ګونګ زړګی شاهددی خــو
لښتې د کمځوکه توپانو وې پــه ســر واوښــتې
خیرکه مو سر لاړ دپښو پل مو ژوندی پــاتې دی
څوورځې کانې په قافلو وې پــه ســر واوښــتې
ستړې نه شوې غاړې زموږ اوداپځــې چــړې ددوی
وینې پر کاله د پښــتنو وې پــر ســر واوښــتې.

۱۸/۱/۱۳۷۱

کابل

# بیدیا

سپېره بیدیا ده په کې پل د بنیادم نه شته

یو څو پېریان دي له پردیو غرو راغلي

بربنده‌پړي، ناڅي،ناڅي

چې تیاره شي بیا سینې پر خپلو میندو سړوي

پر خواږه خوب پرېوزي.

***

د زهرو ونه ده ولاړه

پر بیزو ادې یې سیوری کړی

بیزو د زهرو پرګي خوري هره ګړۍ ورځنې حمل اخلي

د ورځې دېرش،څلوېښت بچیان زېږوي

دورځې دېرش، څلوېښت ځوانان شي

بیا قتلېږي

خو بیزو ادې پرګي خوري

**او لیګا ده هره ورځ نوي بچیان زېږوي.**

**پېریان ګډېږي**

**د بیزو ادې په ویر اوپر خواریو خاندي**

**چې شپه تیاره شي**

**بیا سینې پر خپلو میندو سرېږوي**

**پر خوارېه خوب پرېوزي**

**سپېره بیدیا ده په کې پل دبنیادم نه شته.**

**۱۹/۱/۱۳۷۱**

**کابل**

# ګیله

زه دې د کومې ښې ځوانۍ په خاطر؟
ستاد نیمګړې مینې
د سمسورتیا په هیله
پیالې په سر اړوم؛
او زه دې کومو مهربانو سترګو
ته شین غزل ولیکم؟
پیالو ته شوندې
د غزل زلفو ته لاس نه ورځي
کله چې زړه کې مې یې.

۲۲/۱/۱۳۷۱

کابل

# شیخ

شیخ بې نغمې ګډېږي

شیخ د جومات کړکۍ تړلي د واټونو دېوالو ته ناڅي

شیخ د خپل عشق د باکرې مور

له ټپونو نه شراب څښلي دي.

❋❋❋

شیخ لکه سپینه پاغونده

بادونه یوسي،

ببرته راشي

او خپل مست سیوري ته ښه وخاندي

شیخ د کوکنارو ګلان وټومبي په تورو څڼو

شیخ توره شپه شي

په غلا غلا د زلیخا دمخ پوړني پسې لاس غځوي.

شیخ بې نغمې ګډېږي

شیخ د خپل عشق د باکرې مور

له تیونو شراب څښلي دي

شیخ تورو څنو کې ټومبلي

د کوکناروګلان.

۹/۳/۱۳۷۱

کابل

# ګړۍ

ګړۍ پېړۍ ده چې د نیمې شپې له ټکې څنې نه خوځېږي

ستوري سوځېږي،

شمعې مري،

د ترږمیولېونۍ د زنداني شپېو دژوندخړې آینې ته ناڅي

کانه په لارکې د مېږیود راتلو شپېو ته غوږ ایښی دی.

❋❋❋

د دوو وروستیو د کمڅو پر سر سپوږمۍ بندي ده

او مساپرې پښې د غوږګو دکاله پر لوري لاره باسي

متې زخمي دي،

بې نوکانوګوتې څنوکې د شپې پاتې دي

ړونددګلونودرنګونو تماشې ته ناست دی.

❋❋❋

ګړۍ زموږ د ژوندسپېڅلی او محکوم کلام دی

ګړۍ، پېړۍ ده چې کړه ملا سمولی نه شي

ګړۍ غریبه

د پېړیو د سکون پښتی په سر ګرځوي.

*** 

کانه په لارکې د مېړیود راتلو شېبو ته غوږ ایښی دی.

ړونددګلونودرنګونو تماشې ته ناست دی

۱۴/۳/۱۳۷۱

کابل

# پوښتنه

دومره قدری یادشي چې یوځه خــو دې پــه تلــه ووې
پوه نه شوم قسم دی چې تــا څــه ووې مــا څــه ووې
تولـه شپه رښتیا دې پټ د زړه کــور کــې ســاتلی وم؟
یــو غلچکــی خــوب و پــه کالــه مــې تېرېــده ووې
ستا دنظر تندر ته مــې ټــول خوبونــه درمنــد شــول
چاراتـــه لـــه وریځـــو نـــه خبـــر د بارانـــه ووې؟
وینې وم که ویده وم خدای زده ډېرې مودې تېــرې شــوې
مینه دې له زړه وه او که هســې دې پــه خولــه ووې؟
کړې مې وعده وه چې دې بیــا پــه کلــي نــه درځــم
هېـــره وه لـــه مانـــه خـــو ریښـــو دګرېوانـــه ووې
وپوښته رښتیاترې کوم مغل دې چم کې شته که نــه؟
څومره سپکې ســپورې مېلمانــه تــه پښــتانه ووې؟.

۱۴/۵/۱۳۷۱

کابل

# دا کلی، دا وطن

کلونه تېر شول، ځواني مري

او درنګونو پسرلي

زموږ پر سوي اوغریب مالت

ګذر ونه کړ.

وږمو د ستړي شپون

دځنو په ځنګلونو کې نڅا ونه کړه

دتورو دښتو دکېږدیو د وریو ژبې

بیاوچې شوې.

***

بیامو دکلي د چنارو

پر نیم سویو تنو اور بل شو

د شنو غنمود ورېښمین فصل کمڅیو ته یې

رنګ بیا د لوګیو ورکړ

بیایې د ستورو سره ټوکرۍ

د تورو ورېځو

د شیطان مریي ته وبښله.

❋❋❋

کلی، وطن

بیا دڅپلیو دمېخونو جنګ کې ساه وباسي

کلی، وطن مو

دڅو تورو تجمل ته

بیا له سره قربانېږي

هر قاتل یې

د زخمي ځان له هډوکو څنې

لاستی د ((بېرغ)) اخلي.

❋❋❋

زموږ سرونه،

زموږ وینې

دشنو چرسو اود بنګو هغه شنې دانې دي

چې دودوي يې ((باباقو)) ملنګ

دغم اود سترياشيبه کې.

۲۵/۳/۱۳۷۱

کابل

# جنازې

وريځو د ستورو جنازې ښخې کړې

بيا پر دې غرو

د رڼو ستورو د نارنجو ګلان نه وريږي

رانه د سترو مساپرو پښو پل ورک شو.

***

هره شېبه مې ځوانې مېړې تندورنه وژني

هره شېبه دځوانو مېړو جنازې ښخوم

خدای زده

دې لار کې چېرته روغه څېړۍ شته او که نه؟

چې راته غېږ پرانيزي

څادر مې باد وړی دی!.

۲۶/۴/۱۳۷۱

کابل

# کلی– دېره

ماته دکلي مازیگر یو ځلې بیا وخندل

دمرورو وږمو پېغلو مې د شونډوجل وهلې پانې بیا ښکل کړې

کلی مې بیا لکه د وینې د زړګي پر فصل وبهېده.

✵✵✵

د پلار هوجره لکه کنډکپر پرته ده

نور ترې د سترو بزګرانو دچلم دودونه نه راخېږي

نوریې انګړکې دښاغلومساپرو د څپلیو د ګل مېخونښې هم نه شته

له ماتې ملا یې نړېدلي د سنځلو نازولې څنې

اوپلار یوازې دکابل په هدیرو کې مساپر پروت دی.

✵✵✵

بیا مې دکلي د اذان اواز له خوبه ویښ کړم

اذان پر کلي باندې خور دی خو په غږ کې یې هماسې

د سپين ږيري ((بلال)) سوز نه شته (۱)

ټول د پکول شاته لمونځونه کوو

اود جومات محراب له مانه د((بلال))سپينه پگړۍ غواړي.

❋❋❋

کلی هماسې له دېرو ډک دی

دکلي لارې د زلميو تردرنودرنو گامونولاندې ساه اخلي

خو گودرونه ړنگ دي

د کلي پېغلې انگېرونوکې د نيا زړې څرخې تاووي

او زه لگيا يمه دپلار زړه دېره چلوم.

۱۸/٦/۱۳۷۱

۱- د شاعر منظور مشر تره مشهور ديني عالم مولوي عبدالحی دی.

# ګلونه

کرلـــي مـــې جانـــان دي پـــه اورونـــوکې ګلونـــه
زه هســـــې لټومـــــه پـــــه ګلونـــــوکې ګلونـــــه
زاهــده رانــه کېــږي چــې ماښــام کــې قضــاګانې
لیـــــدلي مـــــې د زلفـــــو ماښـــــامونوکې ګلونـــــه
وړمــې وې نابلــدې د کمڅیــو لــه غرونــو راغلــې
زرغون مــې شــول دکلــي پــه خوړونــوکې ګلونــه
هر ګوټ سره ګلاب شي تکې سرې دپیالو مــورګې
جامونــه پــه ګلونــو کــې، جــامونوکې ګلونــه
په شونډو کــې موســکا خــو یــوه وکــوه جانانــه!
سپرلی شــه غــوړوه مــې پــه زخمونــوکې ګلونــه.

۲۵/۷/۱۳۷۱

کابل

# د ((آدم)) وصیت

زه ((آدم)) یم، زه ((آدم )) یم

له جنته شړل شوی

پر دې ځمکې بادشاه شوی

ورور دې ورور پرکاني وویشت

نازولی زوی مې مړ شو.

❋❋❋

زویه! زرکاله پوره شول

یو څو ورځې دې مېلمه یم

څو خبرې درته کړمه

نن به یم سبا به ځمه.

❋❋❋

دغه سپین مزی در واخله

دپستو پستو ورېښمو

پکی حک مخ د نبیانو

د جمله ووبادشاهانو

پرښتو وو دی اودلی

له جنته دی راغلی.

✵✵✵

خو وېښته زما د ږیرې

اوهمدا جنتي مزی

په یوه تابوت خوندي کړه

ورته جوړ قفل او کلي کړه

څوچې ته او دنیا ده

پر دښمن غلبه ستا ده.

✵✵✵

دا ګوتمۍ مې هم درواخله

ورته وبه ښیې لارې

دا ((میمون)) اس مې هم ستا دی

ورسره برېښنده توره

هر بری د ستا بری دی

هر زورګیر دستا مریی دی.

***

زما نښې دستا نښې

زما لکړه ستا لکړه

زما لاره د ستا لاره

زما چاره دستا چاره

خو وروستۍ خبره واوره

وینه توی زما د زوی کړه

دمظلوم زوی په بدل کې

زویه ځه ته هم قاتل شه!

د ((آدم)) د غاړې ګل شه!

۶/۹/۱۳۷۱

کابل

# داحمق په لټون

اوربېــدلې مــې کیســه ده خــدای زده کلــه
لــه ملانــه، لــه عــامي نــه کــه لــه بلــه
یو سپین ږیری چــې یــې وخــت دځنکــدن و
پــه هوښــیارو کــې هوښــیار اوعــزتمن و
خپل زامن یې کړل پــر ځــان بانــدې چــاپېره
وې خبــره درتــه کــړم چــې نــه شــي هېــره
څه یې چې شته نیم یې په ما پسې خیــرات کــړئ
څه وېش، څه یې پخه او څه یــې ســقات کــړئ
نیم یې ورکــړئ دکــوم ځــای نــامي دلــه تــه

کــوم احمــق، نــادان، رذیــل، حرامــزاده تــه
چې په نــوم د حماقــت تــر څــوک بــر نــه وي
دغـــــه نیمـــــه برخـــــه ټولـــــه دې دده وي
ســړی مــړ شــو دخیــرات کټــوې بــار شــوې
ګېــدې ډکــې شــوې د دار او د نــادار شــوې
زامــن ټــول شــول مصــلحت یــې ســره وکــړ
د احمــق ســړي لټــون تــه یــې زړه ښــه کــړ
وې فــرض کــړی موبابــا پــر مــوږ دا کــار دی
پسې ګرځو په دې ښــار کــه پــه بــل ښــار دی
ګوندې وي چې په دې کارکې کوم حکمــت وي
د ســـپینږیرو خـــو پـــه نیکـــو مصـــلحت وي
زامــن لاړل نیمــه برخــه یــې تــر مــلا کــړه
په شپو شپو یــې خپــل زاړه کلــي تــه شــاکړه
د احمقــــــو یــــــې څارلــــــه هــــــره لاره
پســـې تلـــل لـــه یـــوه ښـــاره تـــر بـــل ښـــاره
لټــوه هغــوی احمــق چــې ښــه شــاخدار وي
احمقــان خــو ګنــې هــر چېرتــه بســیار وي
خو شــاخدار احمــق هېچېــرې پیــدا نــه شــو
څو چې سر یــې د پایتخــت پــر کوڅــو وشــو

دوی له ورځو یوه ورځ لیدل په ښار کې
چې راجوړې دي مېلې په هر بازار کې
هرې خوا نه راتول شوي ښه ځوانان دي
څوک یې پېغلې،څوک زاړه، څوک هلکان دي
دچا شوندو کې موسکاوې دي غوړېږي
څوک تندی پر زنګنو وهي ژړېږي
یو خوا ساز دی، پایکوبي ده او خندا ده
بله خوا چغې دي ناري دي او ژړا ده
چا کړه شمله پر سر ایښي خوشي کړي
چاله بربتو نه تار ایستی زبوني کړي
ورونه ګرځي په مېلو کې هورې دورې
دوی لیدل هغه کاني چې نه وې چېرې
دوی لیدل چې د مېلې په هغې خوا کې
تخت ځلېږي د رنګونو په رڼا کې
په کې ناست یو عزتمن سړی دی ګوره
چې وربېږي پرې ګلان له هره لوره
طلایي تاج یې پر سره لکه دلمر دی
تیارسی ورته سردار دی که لښکر دی
جوړ تولګی ورته ولاړ دی د ساقیانو

ښـــکلې پېغلـــې او پـــه کـــې دي دزلفـــانو
دمېلـــې پـــرې بلـــه خـــوا بلـــه کیســـه ده
دوی لیـــدل چـــې هلتـــه بلـــه هنګامـــه ده
دوی لیـــدلو یوســـړی چـــې عزتمنـــد دی
لـــه یـــوې پښـــې لـــه ونـــې نـــه ځوړنـــد دی
ځوک یې سر وهي په سر ځـوک پـه سـوکانو
نـــه زړه ســـوی د جنګـــو نـــه د ځوانـــانو
له ماشوم نه هم خیـرات د خپـل سـر غـواړي
خو وهي په کـې هـر ځـوک د لاس سـوباړي
د سپین ږیري زامن ډېـر ورتـه حیـران شـول
بیـــا پـــه لټـــه د دلیـــل اود برهـــان شـــول
لـــه یـــو چـــا ځنـــې یـــې وکـــړل تپوســـونه
چـــې راښـــیه د خـــدای پـــار دی دلیلونـــه
د یـــوه مـــو ولـــې دومـــره هرکلـــی کـــړ؟
او له بل ځنې مـو جـوړ د کـوځی سـپی کـړ؟
وی هغه چې اوس د تخت پر سر مسـتي کـړي
پـس لـه دې نـه بـه پرمـوږه پاچـاهي کـړي
او دا بـــل چـــې تالیـــده ســـر پـــه ژړا و
یـو سـاعت مخکـې زمـوږ پـر سـر پاچـا و

مــورِ دنــوي هرکلــی کــړو څــه چــې غــواړي
بیا چــې زوړ شــو نــو وهــو پــه کــې ســوباړي
د بابـــا زامنـــو ووې چـــې مـــو ومونـــد
ها احمق چې موپه ټول جهــان کــه نــه مونــد
د شاهي په باغ کــې ناســت نــه ګــوري منــي
ښـــه پـــوهېږي د ســـبا ســـوباړي وینـــي
نیمـــه برخـــه دبابـــا یـــې رابهـــر کـــړه
بیـــایې ټولـــه د بادشـــاه پـــه لاس کـــې ورکـــړه.

۷/۱۰/۱۳۷۱

کابل

# بادشاه او معشوقه

تېـــره هېـــره زمانـــه کـــې یـــو بادشـــاه و
نـــازولی پـــه هـــر ملـــک ددې دنیـــا و
خـــدای ورکـــړې دبدبـــه دتـــاج اوتخـــت وه
په هر ځـــای ورتـــه ګونـــده اوښـــه دبخـــت وه
خزانـــې یـــې وې د شـــتو وتـــې لـــه شـــماره
هـــر خـــزان یـــې ښایســـته و لـــه بهـــاره
نـــه کمـــی و د لښـــکرو نـــه د زرو
نـــه کمبـــود پـــه کـــې د مینځـــو او نـــوکرو
شـــمار یـــې نـــه و پـــه حـــرم کـــې دبیبیـــانو
نـــه د ښـــکلو معشـــوقو نـــه دســـاقیانو
هـــر محـــل یـــې د دنیـــا پـــر ســـر جنـــت و
رب ورکـــړی لـــه ازلـــه دا عـــزت و
د بادشـــاه پـــه دلبرانـــو کـــې یـــوه وه
چې په ټولـو کـې ښایســـته لکـه ډیـوه وه

***

لکـــه حـــوره هســـې ښـــکلې نـــازولې
تـــه بـــه وایـــې لـــه جنتـــه وه راغلـــې

چـا لیـدلی داسـې حسـن چېـرې نـه و
ډېر شـاهان یـې پـه لیـدو پسـې ړانـده وو
د بادشـاه ټولـه هسـتي ددې هسـتي وه
دشـپې ورځـې پـایکوبي وه بدمسـتي وه
دغـه نـورې معشـوقې، نـورې بیبیـانې
ورتـه ټـولې د پښـو خـاورې وې خـوارانې
یـو وېښـته ددې او دا ټولـه دنیـا
بـدلوه کلـه دداسـې عشـق بادشـا
یـوه ورځ یـې پـه شـېبو د بدمسـتۍ کـې
د خونـدونو او رنګونـو پـه ځـولۍ کـې
سـرې د نـاز شـونډې راپرانیسـتې ادا تـه
څو خبرې وې چـې ویـې کـړې بادشـاه تـه
وې پلانی حـاکم دې ډېـر درتـه خـاین دی
تـه پـوهېږې نـه خـو مـا تـه مبـین دی

❋❋❋

چې خبـره د مسـتۍ ټولـه شـوه سهارشـو
دمظلوم حـاکم تیـارې خـونې تـه لار شـو
پـس لـه څـو ورځـو پوښـتنو احوالونـو

پــــس لـــــه ډېـــــرو تحقیقونـــــو، تپوســــونو
شوه معلومه چــې تقصــیر د حــاکم نـــه دی
تـــش تومـــت د معشـــوقې د ترخـــه زړه دی
پس له هغــې بادشـــاه ډېـــر ورنـــه خفـــه شـــو
ســـلطان لاړو دربـاریــــانو تـــه جرګـــه شـــو
وې که څه هم ډېر پر دې ښــکلې مـــین یـــم
خو والله چې پـــر هغـــې پېښـــې غمجـــن یـــم
زه وېرېږمـــه کـــه بیـــا هـــم داســـې وشـــي
خدای خبر چې ددې ملک چارې به څه شـــي
دربـاریــــــانو ورتـــــــه وویـــــل ســــــلطانه
نـــــورېږ مـــــه منـــــه خبـــــره عالیشـــانه
بادشــــــــاه ووې ناممکنـــــــــه ده ملګـــــــــرو
چـــې ځـــان منـــع کـــړم دهغـــې لـــه خبـــرو

***

یـــوه شـــپه بادشـــاه دربـــار نـــه رابهـــر شـــو
معشـــوقې ســـره ملګـــری پـــه چکـــر شـــو
پـــر بېـــړۍ ســـواره روان وو پـــه دریـــاب کـــې
معشوقه یـــې کـــړه ګـــوزاره پـــه تـــالاب کـــې

معشوقه لاړه خو اور یـې د عشــق بـل کـړ
لگېــدلی د بادشـــاه پــر تـــش گوگــل کـړ
بیــا بادشـــاه شـــېبې پــر اوښـــکو لنـــډولې
اوښکې څه چــې یــې ســرې وینـــې بهـولې
بادشــــاه هســـې خـــواروزار او تورکمندشــــو
چې گوزار د عشق او مینې لــه ســمند شــو
درباریـــــانو ورتــــــه ووې ای امیــــــره!
ای زمـــــوږ د ســــرو ســـیوریه ای زهیـــره!
اوس چې مرې ورپسې ولې دې غرقــاب کــړه
خپله مینــه دې لاهــو پــه دې دریـاب کــړه
بادشـــــاه ووې ورتــــــه ای عالیجنابـــــــه
زه خراب ښــه یــم نــه ملــک خانــه خرابــه.

۲۹/۱۰/۱۳۷۱

کابل

# پر قبر مې

ما مې دا خپل قبر په سترګو ولید

قبر،

زما د سفر نوې بېړۍ

د وچې ځمکې سمندرکې غږوې د مساپرو مساپرې شپېلۍ

او قبر کښونکي

سترې سترې رانه پښو ځنې خپلۍ وباسي.

❋❋❋

بربندې پښې، سپینې جامې پر غاړه

زه مې دخپلې جنازې پر سر ولاړ یم

د ملا غږ ته مې غوږ نیولی

چې بلوي مې پرګناه د ثوابونو څراغ

زه ورته سرې سترګې ژړېږم

وایم درواغ دي

ملا مه یې وایه!

❋❋❋

له کور او کلي نه مې ساندې خېږې

ادې د زوی چیغې وهي

بچیان  دادا بېرته له خدایه غواړي

د چاپه خوله کې چېرته نه شته چې شاعر مړ دی

او دلته زما په جنازه کې

یو شاعر

خپلې مېرمنې سره ناځي او سندرې بولي.

۵/۱۱/۱۳۷۱

کابل

# بزګر

څنګه سېرې رلی په سر واخيستم؟

زما دلاس د خولو فصل نه يوشين بوټی راپاتې نه دی

چېرته يو ژېړ ورېی هم نه شته چې يې پاس پر پټکي کېدم

له ګودر ځنې په برېتو کې موسکی تېرشم

په مخه لاړ شم، شاته وګورم

پر ښکلي اشنا بيا د يوې بلې وعدې زېری وکړم

رليو څه ونه کړل؟

بزګر لګيا دی تر خپلې

لور سره خبرې کوي

بزګر ژړېږي

او وريو ورته غوږ نيولی.

۶/۱/۱۳۷۲

لغمان

# بنګړیواله

بنګړیواله توږی بیا پر کلي راغله
بنګړیواله شرنګ پر ولو،
دښایسته رنګونو څانګه
بنګړیواله زموږ دکلي
دزلمیو د ((طالعو)) د نازکې غوټۍ ورېم
بنګړیواله زموږ دکلي
د پېغلوټو د اختر د شپبو زېری.

❋❋❋

بنګړیواله توږی راغله
ږنګه بنګه ساه نیولې
په پستو پستو زګېروو یې
دهر کاني تپوس وکړ
خو زموږ د کلي لارو
د پردیسې بنګړیوالې
تش د خولې سلام وانه خیست
وې یې: هو! رښتیا زړه شوم

دغو سترګو رب وهلو
خدايزده چېرته
بيا پرکومو نابلدو کوڅو سر کړم؟

✵✵✵

بنګړيواله تورۍ تم شوه
حک حيرانه پښېمانه
بنګړيوالې په لستوني
دبنو دوړې جارو کړې
هر دېوال يې ددې کلي
له خواږه نظره تېر کړ
وې يې: نه،کلی همدا دی
دا کوڅې هغه کوڅې دي
خو حيرانه يم چې څنګه
نن مې پل په کې پردی شو؟

✵✵✵

بنګړيواله ړنګېدله، بوګنېدله
چې له لرې زموږ دکلي
پخوانۍ ښارو ښکاره شوه
يو اشنا سلام يې وکړ

اودانه يې دانګورو

د بوډۍ په خوله کې ورکړه

وې يې: څه نو بنګړيوالې

څه ورڅه پر مخ دې ښه شه

اوس نو هغه  کلی نه دی

او د ښکلو مړوندونه

ډېر کلونه شول چې پرې دي.

۱۱/۱/۱۳۷۲

# غچ

...خویو تریخ د زهرو جام دی

نه څه سره لري نه سپینه

نه یې رنګ شته

نه یې خوند شته

نه یې پاتې شته نه مړینه.

❋❋❋

عجیبه ډالۍ یې راوړه

پرښتو، د جنت حورو

شپېلوي راته هډوکي

قتلوي سر توره مینه

سین د زوو دی ترې څاڅي

وریتوي د زړونو وینې

❋❋❋

اوس پوهېږئ؟ څه یې وکړل؟

ها لوبګرو د باغونو؟

یوه وښوده په ګوته

بل یې دل کړه پر غاښونو.

❋❋❋

اوس یې غچ له مورِه اخلي

رِدي مو ژرندې پر سرونو

ورشه غوټه دې کړه ونه

راشه وادې خله غنمینه

نه یې رنګ شته

نه یې خوندشته

نه یې پاتې شته نه مړینه

قتلوي سرتوره مینه

وریتوي د زړونو مینه

...خویوتریخ د زهرو جام دی

نه څه سره لري نه سپینه (!)

۱۲/۲/۱۳۷۲

لغمان

# ښاپېرۍ

دغره په لوړه څوکه ګورئ

چې د ستورو د هیلیو تر بڼکو لاندې

زما دمینې ښاپېرۍ ناسته ده

چیغې وهي

تندې اخیستې پرې باران نه ووري

په تور وربل یې

د چندڼو پاڼو اور واخیست

غزل وسوځېد.

***

څومره درنه او پښتنه ده اوښکه

اوښکه دزړه له نازولې کوره راغله

زما په لپو کې راپرېوته

او زه لګیا یم لوړې څوکې ته

په لپو کې اوبه خېژوم

څوکې ته ورسم نږدې شم

بیا د ځمکې تل ته ولوېږم

اوبه اوبه شم

ښاپېرۍ تنده وژني

او زه اوبو وړی یم!.

۱۶/۲/۱۳۷۲

# سیلاني بلبلې

سیلاني بلبلې لاړې

نور د باغ د خوب په سین کې

د بلبلو سرود نه شته

د شنو چیغو تصویر تت دی

نور د باغ د سرو ګلونو

د بلبلو دسرو شونډو

نازولې مینه مړه ده

نور د پاڼو پر کمڅیو

سهارونه دسپرلیو

چېرته پرخې پرخې نه شول

((سر له سره پالنګه هسک کړه فتح خانه

لویه خدایه، سیلانې بلبلې والوتې له باغه.))

سیلاني بلبلې لاړې

نور پر اس د ننګیالیو

د پګړیو د شملو

د لوړو لوړو

اسماني غرو پته نه شته

نور د برېتو پر سرونو

هغه تاوه

د پښتون

اسرافیلي شپېلۍ کنه ده

نور هغه  ډګر مات شوی

**او پرغاړه د پردیو**

**هغه مستې**

**سپینې تورې لښتې نه شوې**

**((رابیا)) بله ناره وکړه:**

**((سره له سره پالنگه هسک کړه فتح خانه**

**رابیاگلې پونده ورته کړه سپره شوه)).**

**۳۱/۳/۱۳۷۳**

**کابل**

# روږده

زړه شړلی یم له کوره اور مې بـل دی پـه کالـه کـې
لړ مې پردېږده چې ویده شم ستادزلفو په ځنګله کې
سترګې ستا سترګو کې لامبي ملامت رابانـدې مـه کـړه
تنـــده کلــه ماتــه شـــوې د کبـــانو پـــه ویالـــه کـــې؟
ما دمات زړه له هرشرنګه د شـــنوچیغومالت جــوړکړ
نه دي نوم وځي له زړه نه،نه مې شپه کوي په خولـه کـې
دسینې پرباغ دې تلم ستادســینې قــراول تــم کــړم
اوس نوپرې چې مې زندۍ کړي ستا دغـاړې امېلـه کـې
چې په پټه دې خوله راکړه تاپه خپلو لاسو غـل کــړم
نن ستړۍ وې سبا درمند روږده داسې کوي غله کـــې

۳/۴/۱۳۷۲

کابل

# تنده

د فردوس د عیش کوربه دی

غرقوي دنیا دترکو

خو لا تشې مړی غواړي

د سوالگر ساړه نغري نه.

❋❋❋

د سوما جامونه لاس کې

زمونږ دوینو لامبوزن شول

نه سړېږي، نه ماتېږي

دمړو شومانو تنده.

۲۱/۴/۱۳۷۲

کابل

## زما د دوه ویشت کلن ځوان وراره شفیق الله متین شهادت

# ویرنه

خلکو ګورئ چې پر کور مې د غم اور لکــه غــر پرېــوت
د فلک خــونړی لاس مــې لکــه تبــر پــر ســر پرېــوت
هر یو کاڼی مو قاتل شو راتــه بېــل بېــل پــر در پرېــوت
د سرو وینو پــه کالــه کــې بیــا د وینــو ګــودر پرېــوت
څه درانه چنار ته ناست هم دمرګي پــر خنجــر پرېــوت
یو روڼ لمر مې دکالــه و، ســهر وخــوت ســهر پرېــوت
مرګــه څــومره ګناهکــار یــې ورانــوې د عــزت کلــي
لــه بــې پتــو ځنــې تښــتې ړنګــوې د عفــت کلــي

❋❋❋

خدایه څنګه به شم صبر څنګه اور مړ کړم پــه زړه کــې
زېړبېــدلی یــم لــوېږم دا دویــر پــه زنګانــه کــې
چېرته اور چېرته توپان وي راتــه ســم ووري کالــه کــې
غم زما دکور کوربه دی، مرګ مې ناست په دالانــه کــې
نه په غبرګ کې د نیا لوی شوم نه پــه غبــړه د نیکــه کــې
پرون پرې دپلارمرۍ شوه نن ســاه قتلــه پــه وراره کــې

څه د غم په ورځ پيدا يم څــه دغــم پــه ورځ بــه مرمــه
لويــه خدايــه لويــه خدايــه! دا څــه يمــه دا څــه يمــه.

❋❋❋

ټول کهول مې جارجارو واى خو((شفيق))راته پــه کــور واى
دا زلمى ستورى د کور مې د نيکه پــر درگــاه خــور واى
تل دقــام د پگــړۍ گــل واى د ټبــر د پــت انځــور واى
غم يې تل زماپرسر واى دا دژونــد پــر نيلــي ســور واى
دده درد واى زما مرگ واى دده کور واى زمــا گــور واى
زماخونـــه واى خرابـــه خـــو ودان نغـــرى د ورور واى
تولعنت زماپه غم شه زه يــې زوړکــړم دى زوړ نــه شــو
کال په کال رانه کښت ربيي خو وږ سترگى دى موړ نــه شــو

❋❋❋

لايې سيوري ته ناست نه وم ځوانيمرگ شو بهــار وســو
سم چې گل جوړشوشلمې ته، شمله وسوه گلــزار وســو
چې راخوت د سهار ستورى، ســتورى وسوســهار وســو
هغه ړنگه ځواني وسوه هغه دنگ دنــگ ســپېدار وســو
ځارېدې چې ورنه ښــکلې هــا دښــکليو ســردار وســو
گلالــى لالــى مــې وســو، وطــن وســوځېد ښــار وســو

پر هر سرباندې اوربل دی سر دې پورته کړه ((شـفيقه))
پر مزار باندې دې سـوځي لـه (يمينــه))تر ((عقيقــه)).

❋❋❋

وروره ته خو د ګور نه وې سـتاځواني دګـل ځـواني وه
ستاښايست د ګل ښايست و، سـتاثاني دګـل ثـاني وه
سـتا د خــولې د تکبيرچيغــه ددې کلــي ودانــي وه
ته دســرو يـاقوتو کـان وې خــو وطــن کــې ارزانــي وه
رورور د ورور پـه لاســو وژنــي دلتــه دا مســلماني وه
دلتــه داســې نــاداني وه، دلتــه داســې نــاداني وه
مګرتــه يــوازې نــه يــې دلتــه دنـګ غرونــه قتلېــږي
دلته سـيند پرچـړو وژنــي دلتــه ټــول وطــن نړېــږي.

۲۲/۴/۱۳۷۲

کابل

# داسې لور داسې لوونه

وریځې بیا لامبــې پــر اور ووري پــر ګلــو
دا زلمی ســپرلی خــو نــه دی د ســوځلو
لــه اســمانه د ســکروټو غــر راپرېــوت
ســوځوي مــې ښــکلی کلــی د ســنځلو
بیا د ګلــو د حیــا پرنــاموس جنــګ دی
څانګې سترې شوې د ځــان پــر قتلولــو
دباغ ســپین مړونــد رېبلــی دی اغزیــو
پرې یې نه ښود چېرته جوړ ګرېــوان د ګلــو
د سیندونو مست اوښان وسول له تندې
د هیلیــو پېغلــې بیــا لاړې لــه کلــو
دسپوږمۍ پر وربل مــري غــونچې دســتورو
لمردځــان جنــازه وړي پــر خپلــو ولــو

مـوج دوینـوگلان و کـول سـپرلی شـو
څه حاجـت شـته؟ دګـلاب اود سـنبلو
بیا لنده نه شوه ډوډۍ د ((عیسی)) جام کې
پاتې نه شول هغه سره شـراب د څښلـو
دپیالو پر شرنګار یو ویـده ویښ نـه شـو
نه ساقي شـته نـه کنـډول د کړنګولـو
یوې شمعې د شپو دېو پرتندي ونـه ویشـت
یو پتنګ نـه شـته لمبـو کـې دلامبلـو
دا ویدې سترګې دبڼ پرې رنې نه شـوې
چیغـې پرېـوتې رانجـو کـې دبلبلـو
فلک اور پسې اخیستی سـتړی نـه شـو
ددې مسـتو چتـو سـتورو پـه رېبلـو
نازولې غـوټۍ نـه شـوې پـه کـې بلـې
تور لوګي دي چې تیکري شـول د وربلـو
دماتم ډمـو بنګـړي دښـکلومات کـړل
غوڅـوي ورنـه نکریـزې لـه منګولـو
په پرهر زړه مـې لاس مـه وهـه جانانـه
دا خوسـا لوپټـه نـه ده د ګنـډلو
زرغون شوی چم په چم برسات د اوښکو

قتـــل شـــوي موســـمونه د خنـــدلو
دا چمن چمن وطن دار ته بـس نـه شـو
نه یو شـین ډېر دچنـار شـته نـه د ولـو
مني بیا ورته له سره سیخان سـره کـړل
دا لالـــه دي لـــه ازلـــه د داغلـــو
ددې خوارو پر قسمت بـه بـاران نـه وي
چې لمبې ووري پـه کـور د جـل وهلـو
یو پرې شوی رګ مو ښخ لکه تاک نه شو
یو سر نه شته په دې ښار کـې د ښـندلو
نه د عقل پر اس سـور نـه لیـوني شـته
نـه شـته ژبـه د زنځیـر نـه دویلـو
څه ایرې د بې قدرۍ وربانـدې شـنې شـوې
دا درنـې شـناختې خـو نـه دي دکتلـو
ددې کلي ښاریان مـړه لـه سـره وژنـي
غشـي ولـي بیـا پـر زړونـو د بسـملو
نه یومټ د تیارو جنګ تـه چېرتـه پـاتې
نـه یـولاس د خپـل ګرېـوان د څېرولـو
د لمبو ترخېمو یو ((ابـراهیم)) نـه شـته
پیدا نه شـو یـو ((منصـور)) د دارختلـو

بیالوېدلی دی((رستم)) د((شغاد)) څاه کــې
لاره نــه شــته دې ګړنــګ نــه دوتلــو
نه یې ګرد په تورو دښتو کې د اس شـــته
نـــه نـــارې د شهســـوارو د دانګلـــو
بیایوشین زمری دې غرونوکې لوی نـه شـو
یوه تشه جنـدړه نـه شـته پـر مورچلـو
د شنو چیغو له کــاروان ســره ســفر دی
ژبــه نښـــتې پــه تـــالو کـــې د غزلـــو
سرله تورو‌خاورو‌پورته کړه ((خوشـاله))!
لا خو غڅ د ((هجري))پاتې پر ((مغلــو)).

۹/۵/۱۳۷۲

کابل

# نه جام، نه څادر

څو تور سرې

څو سپین سرې

((یو څو اوښې))

((څو پسونه))

څه غریب سترې کاروان دی؟

باد راوړې پاڼې ریږدي.

❋❋❋

((قاف)) لمبو پرسر اخیستی

ښاپېرۍ شوې مساپرې

خدای خبر دی چې به دمه

بیا پرکومو غرونو کېږدي؟

❋❋❋

څنګه ړنګې میکدې دي

څنګه ښکلې شونډې سوځي

جانه بیا به دې ساقي شم

((که مې غم د ډوډۍ پرېږدي)).

❋❋❋

نه ترانګې د کېږدۍ شته

نه څپلۍ، نه څادرونه

لوټوي دجام ناموس مې

پر شهیدې پګړۍ پښې ږدي.

❋❋❋

**څو تور سرې**

**څو سپین سرې**

**((یو څو اوښې))**

**((څو پسونه))**

**څه غریب ستړی کاروان دی؟**

**باد راوړې پانې رېږدي.**

**۹/۷/۱۳۷۲**

**کابل**

# سیوری (۲)

ماخوتول عمر له کوچیو سره مینه کړې
کوچي لوگي،
کوچي بادونه،
کوچۍ پېغلې
او کوچۍ کېږدۍ
ماخو ټول عمر له کوچیو سره مینه کړې

***

- کله چې باد
زما دکور پر رژېدلو او ختینو بامو
د خپل ناپایه منزلونو سفرونه وهي
زه ترې مدام
د خپل ورک شوي سیوري
د ټوخي غږ اورم.
- کله چې
ما د شوگیرو د تورو غرونو ترشا
د خوب کوچۍ
زما دسترگو په رڼې کېږدۍ راپېښه وکړي

ز ه دکوچیو د کاروان
د هغه مست
خو ددې سترې اوښ
دغاړې له زنگونو ځنې
د خپل ورک شوي سیوري
سترې غزل اورم.
- کله چې
د کوچۍ پېغلې د رنگین وربل ماښام
اودکمځیود غځېدلو غرونو شپو ته گورم
زه ترې مدام
د خپل ورک شوي سیوري
د پرهرجنو وینو
د شنو غوټیو شین سلام اورم.
- کله چې
تر سترېو سترېو منزلونو وروسته
د هغو دنگو غرو تر غاړو
د وړو وړو وریو
د خندا تمځایونه گورم
زه مې خپل سیورى وینم

چې ورته لپو کې اوبه ورکوي
او له شنو سترګو يې سترړياوې مينځي
ما خوټول عمر له کوچيو سره مينه کړې.

❋❋❋

ای د بې نښو
اوبې کوره شنو بادونو په څپر
زموږ د کوچيو
لالهاند کاروانه!
- ای ددې دنګو غرونو
او د لويو دښتو
په سپينو سپينو او سپېڅلو پيو
را لويه شوې کوچۍ!
- ای ددې غرونو د څېړيو
او چندړو دباغونو
پر لندو لښتو ويده کوچيه!
ـ او ای د غرونو د شپونکيو
د شپېليو په وزرونو کې
راتاوې کېږدۍ!
سيورى مې ببرته راکړئ!

**زه مې یوازې د غم غر**

**او د خنداوو جنازې**

**پر خپلو سترګو**

**او بې کسو اوږو نه شم وړلای**

**سیوری مې بېرته راکړئ!**

**زه پر دې ارتې او پراخې نړۍ**

**ایکي یوازې**

**همدا سیوری لرم**

**سیوری مې بېرته راکړئ!**

❋❋❋

**ما خو ټول عمر له کوچیو سره مینه کړې**

**کوچي لوګي،**

**کوچي بادونه،**

**کوچۍ پېغلې**

**او کوچۍ کېږدۍ**

**ما خو ټول عمر له کوچیو سره مینه کړې.**

۲۶/۸/۱۳۷۲

**لغمان**

**مېرمنې ته لیک:**

# کورمې

**شپې شي، شپې ومري**

**او د ورځو اوښې بیا وزېږي، بیاقتلې شي**

**خو زه ژوندی یمه د شپو، ورځو د قتل انتظار ته ناست یم**

**ویې ځښم، ویې خورم،**

**ګړی، ګړۍ ویده پاتې شم، بیا پاځېږم**

**پورته شم، بیا یې وځښم، بیا یې وخورم، بیا ویده شم**

**شپې شي،**

**شپې ومري،**

**او د ورځو اوښې بیا وزېږي**

بیا قتلې شي.

***

زما د ځانګې یخ وهلي ګلان لاړل

چې د ښکلي مشرق زلفو نه

په څڼو کې د لمر ښکلي ګلونه کېږدي

او زه یوازې د پنجرې په څنګ کې ناست یم

له خپل ځانه سره ((ګاتې)) کوم

کله نانځکو ته لمنې اوبم

کله انګړ کې له خپل سیوري سره پاڅم په ((موسییو)) سر شم

خو د ((موسییو)) چم مې هم نه دی زده

کله د خدای له وېرې پاڅم

ستا لمن مخې ته واچوم پرې لمونځ وکوم

ستړی ستومان شم پر لمونځونو

خو لمانځه نه ورروسته

خولې  ته دعا نه راځي

خدای  ته دعا هم پښتنې ژبې ته سوال ښکاري

او زه د سوال او د سوالګر له نامه کرکه لرم.

شپې شي،

شپې ومري،

او د ورځو اوښې بیا وزېږي

بیا قتلې شي.

❋❋❋

زما د کور ښاپېرۍ تللې د مالت د کوه  قاف په سفر

نور مې د کور له دېوالونو نه

د عطرو ګلان نه ورېږي

هره شپېه

د سرو ګلونو د غوټیو د عطرونو پر ځای

د ورور د چرسو او د شنو بنګو دودونه  څښېمه

**څوک د ډوډۍ پر سر لګیا دی**

**نامینځلی لاس ګولۍ تاووي**

**بل د یو بل د خولې مړۍ شماري**

**بل  پخلنځی د شنو نسوارو په شنو لاړو ډک کړ**

**نور ددې کور د عادتونو په ښیښنه کې خپل مخ نه شم لیدی**

**ښاپېرۍ بېرته  راشه!**

**ګلونو راشئ!**

**زما تشه ځانګه بیا ډکه کړئ!**

**۳/۱۰/۱۳۷۲**

**کابل**

# غزل (۱)

منم چې وطن وران شو مګــر وران نــه شــو دا غــر
اسمان یې په سر کېوت خو ستومان نه شــو دا غــر
حاجت څه د بېړۍ شته دا مــې کلــی دا مــې کــور
خبر دې چېرته نوحــه پــه توپــان نــه شــو دا غــر
هــر کــانی یــې رهبــر دی هــره پرخــه یــې قیــام
بې تورې بې شملې نه شو حیــران نــه شــو دا غــر
وربـــړي دې اورونـــه پـــرې دا غـــاړه دا یـــې ســـر
ســـوزېږي خولــه هــوډه پښـــېمان نــه شــو دا غــر
قربان یې شم له ضده چې یې هېڅ نه کــړو بــدل
هماسې چې افغان وبــل افغــان نــه شــو دا غــر.

۳/۱۲/۱۳۷۲

لغمان

# رحمان

وچې خاورې  نه بهر  شو

هومره لوی شو لکه غر

هغه  ړوند سترګې  پیدا کړې

هغه ګونګ شو ژبور

په بې پوندو پښو ګرځي

دا سپوږمۍ ده که دا لمر

لویه  ځمکه یې پیدا کړه

هسک په تله برابر

دا شنې ونې دي که ځانګې

ورته ټولو ایښی  سر

هر څه پرمخې  پراته دي یادوي نوم  د رحمان

تاته  چا وې چې درواغ دي نعمتونه د سبحان؟

***

څوک یې جوړ کړ له کودړې

ځوک يې پاځوه له اوره

څه خوړېږي، تروې اوبه دي

ځي بهېږي لور تر لوره

تکه  شنه هره دانه ده

هره ونه يې سمسوره

لکه  غرونه بېړۍ ګانې

په دا شنه درياب کې ګوره

ځوک پيدا کړي  ځوک فنا کړي

ځوک تر کوره ځوک تر ګوره

یا خو وباسي له سينده مرغلرې او مرجان

تاته  چا وې چې درواغ دي نعمتونه د سبحان؟

❋❋❋

وخت د تلې رانږدې دی

نه  بقا شته نه مهلت شته

که  پېرى دی که انسان دی

نه يې زور نه يې همت شته

بې لوګیو سرې لمبې دي

نه ارام شته نه راحت شته

دا اسمان به چوي له وېرې

داسې غم داسې هیبت شته

له اسمان او ځمکې ووځه

که دې توان که دې طاقت شته

چې کرل دې اوس یې رېبه دا ده ورځ د امتحان

تاته چاوې چې درواغ دي نعمتونه د سبحان؟ ⁕

⁕ دا شعر له سوره رحمان څخه په الهام ویل شوی دی.

۱٤/۱۲/۱۳۷۲

لغمان

# سيند

پېړۍ يې تېرې شوې هوښيار نه شو

چا وې د کلي سيند مهار نه شو؟

زه به رسوا کړم بې ننګي د څپو

که جاله وان راته په قار نه شو.

۶/۱/۱۳۷۳

کابل– ماهيپر

# کرونده

ځمکه هېڅکله د سینې د سر شین شوی نازولی  زړی نه هېروي

زړی هم مور غواړي.

❋❋❋

باد ددې غره له تالا شوي کلي راغی

زمور د ښکلې کروندې په سپینو تیو کې یې پی وچې کړې

زړې له لوږې مړه شول

او زه تنها پاتې شوم

د کروندې پر وچو تیو د ماشومو شهیدانو سرې جنډې شنې شوې

کرونده بوره شوله

کرونده زړه پر شا پرته ده

د اسمان د مور پر سپینو نازولو بچو ناړې شیندي

کرونده باد نه دا د څیرې لمن پور غواړي.

❋❋❋

کرونده ژاړي راته چیغې وهي:

زویه! فقیره او ناکامه شومه

سبا به سره اورونه مړه وي

او د کلي دغه سوړ تنور به ژاړي

او له لوږې به مري

لاړ شه! د بلې کروندې د سینې زړی شه او وغوړېږه

زه به دې هله مور شم

چې ها بزګره او نهره پېغله راشي راته وخاندي

او ووایې چې ای مورې!

دادی نن بیا مړه شوم

وچه ډوډۍ مې بیا له لاړو سره تېره کړله.

***

تنور لګیا دی رانه اور غواړي.

۱۵/۲/۱۳۷۳

کابل

# کچل

یو سړی نوم یـې حســن د کونـډېږ زوی و
د کچل په نـوم مشـهور پـر کلـي، کـوی و
پیـــدا کـــړی رب تنبـــل او هـــم بېکـــار و
همېشـــه بـــه دی د مـــور پـــر اوږو بـــار و
یـــوه ورځ یـــې ابـــۍ ویوســـته لـــه کـــوره
څه په چل، څه پـه تـدبیر او څـه پـه زوره
کچل لاړه لـه خپـل ښـار ځنـې بهـر شـو
تر هغـو چـې پـر یـوې دښـتې برابـر شـو
خوار او ستړی یـوې ونـې تـه دمـه شـو
چې له لرې یـو ټـولی ورتـه ښـکاره شـو
یـو هجـوم و چـې پـرې راغـی د مچـانو
سره جګړه وه چې پرې جـوړه شـوه یـارانو
کچـل دم سـاعت پـر ټولـو بریـالی شـو
له غروره هسـې مسـت لکـه زمـری شـو
بیـا یـې ولیکـل پـر غټـو تـورو بانـدې
چـې ویـده و د هغـې ونـې د لانـدې:

((شل مې مړه، سل مې زخمي، سل مــې ازاد کــړل
دښمنان مې پــه یــوه ګــوزار بربــاد کــړل))
په دې وخت کې یو لښکر چــې د ســلطان و
پــر همــدې لاره پــه کــوم مقصــد روان و
دوی لیدل چې یــو ســړی دلتــه ویــده دی
او ترپاســه یــې یــو لیــک پــه رپېــده دی
لیک یې ولوسته لښــکر ورتــه حیــران دی
وې یــې دادی چــې رښــتینی قهرمــان دی
لښکر وخوځېد په منډو خپل ســلطان تــه
وې یــې راشــه شــاها! ګــوره پهلــوان تــه
سل ازاد، سل یې زخمي، ســل یــې وژلــي
اتــلان نــه شــته تــر ده چــې مــوږ لیــدلي
ددې شاه چې له بل شــاه ســره جګــړه وه
د بـــري او مـــاتې وېـــره ور ســـره وه
په لیدو ددغه ځوان هــومره خوشــال شــو
ته به وا چې د بــري یــې شــین نهــال شــو
حســن راغــی د دربــار د غــاړې ګــل شــو
د عیشــونو تــود بــاران وربانــدې تــل شــو
بله ورځ هغــه د جنــګ چغــه خپــره شــوه

اول ټولــو نــه حســن بانــدې نــاره شــوه
د جګړې کــالي يــې واغوســتل کچــل تــه
اوس يې بيايي د مېرانــې تــود مورچــل تــه
وې يې زين کړه هغه اس چې دې خوښېږي
مېړنـــي پــر مېړنـــو اســـو ســـپرېږي
خو کچل چې لا د خره سـپرلي يــې نــه زده
د جګــړو پــر مېړنــو اســو يــې څــه زده؟
کچل هغه اس راخــلاص کــړ لــه رســۍ نــه
چــې بېــزار ولــه ازلــه زنــده ګــۍ نــه
هغــه اس چــې نــه مــردار و، نــه ژونــدی و
پرې ســپور شــوی د ســلطان دا مېړنــی و
ټولــو ووې پــه رښــتيا چــې قهرمــان دی
پر همدې اس د جګــړې پــر لــور روان دی
کچـــل ووې اوس مـــې وتـــړئ پـــه پـــړي
چې چارپېر مې شــي تــر اس د بــدن غــړي
د کچـــــل خـــــو دا کارونـــــه و لـــــه ډاره
چې ګوزار يې نــه کــړي اس پــه ســمه لاره
خــو پادشــاه وې چــې دا کــار دی د نرانــو
نــه وېرېــږي پــه تــش لاس لــه دښــمنانو

کچــــل لاړه د جگـــړې پـــه لـــور وان شـــو
ســـر لښـــکری گـــډ د رزم پـــه میـــدان شـــو
چې یې ولیـــد د دښـــمن د لښـــکر ســـیوری
هلته جوړ شـــو لـــه کچـــل ځنـــې کربـــوړی
دی روان و چـــې تـــر مخـــې یـــې شـــوه ونـــه
هغـــه ونـــه چـــې لـــه بېخـــه وه چینجنـــه
بیا له وېرې یې تـــرې غبـــړه کـــړه چارپېره
ونـــه ووتـــه لـــه خـــاورو نـــه تـــر زیـــره
پر اس ســـپور، ونـــه پـــه لاســـو کـــې کچـــل
ښـــکارېده هغـــو دښـــمنو تـــه اجـــل
دښـــمنانو چـــې یـــې نـــوم و اورېـــدلی
خو پر ســـترگو یـــې هـــر گـــز نـــه و لیـــدلی
وې تړلی پـــر اس ســـپور پـــر مـــوړ روان دی
ونه باســـي پـــه لاســـونو دا څـــه ځـــوان دی
مـــوړه نـــه یـــو پـــر رښـــتیا د ده د زور
داســـې برېښـــي لکـــه تنـــدر، لکـــه اور
دښـــمنانو د جگـــړې لـــه لـــوري شـــاکړه
فتحه داسې رب پـــر برخـــه د پادشـــاه کـــړه
پادشـــاه وویلـــې کچـــل تـــه پهلوانـــه

مبارک شه لور مــې در کــړه درتــه ځوانــه
بیا کچل ســره لــه نــاوې راغــی کــور تــه
شهزادګۍ یې کــړه نــوکره خپلــې مــور تــه
اوس مېـــړه د مېړنیـــو حســـن خـــان دی
هم باتور دی، هم اتل دی، هم ښه ځــوان دی.

۱۹/۲/۱۳۷۳

کابل

**عبدالله پویان ته!**

# یو رنګ- یو باد

**زه د دردونــــــو رســــــېدلی فصـــــل**
**زه مـــې د ځوانـــو ارمــانونو شـــهید**
**زه مـــې د پېغلـــو ســــهرونو قاتـــل**
**زه مـــې د ســـترېو منزلونـــو شـــهید.**

❋❋❋

**زه له خپل ځانه ستړی شـوی سـیوری**
**زه له خپل ځانـه سـتړی شـوی شـاعر**
**زه هغـه هېـر، هغـه نیمګـړی غـزل**
**هغـه لــه سـترګو غورځېـدلی شـاعر.**

❋❋❋

زه رالوېدلی د موسکا له غرونو
اور راکې مړ دی هسې سکور یمه زه
زړه کې هنداره د سبا قتله ده
لکه حباب هسې یو کور یمه زه.

***

زه ددې تورو شپو کېږدۍ ته ناست یم
مانه د ورځو تاج محل هېر دی
زه د تیارو د ډمو رنګ وهلی
مانه د سرو شونډو غزل هېر دی.

***

زه د ابلیس ناوې په ښکار وړی یم
زه د بدرنګې ګناه اور کې سوځم
زما یې خوله د شپې پر تیو ایښې
زه د کمبختو ستورو کور کې سوځم.

***

زه ددې وریځو سمندر کې لاهو
او ته ساحل راته د لمر ښیې
زه د لولیو شپو په غېږ کې ستړی
ته راته غېږه د سهر ښیې.

***

مـــا د زړو بګـــوو چیغـــې وژنـــي
رانــه پېښــې څــه د بلبلــو غــواړې.
زه د بــلا ژامــو کــې شــپې تېــروم
تــه راتــه عــزم د خنـــدلو غــواړې.

***

زمــا یــې چیغــې پــه زنځیــر تړلــي
لکــه فرهــاد راتــه تېشــې راکــوې
زمــا یــې شــوندې پــه توبــو ګنــډلي
تــه ګنــا هکــار راتــه نشــې راکــوې.

***

ګــوره زه مــړ یــم تــه آیــت د ســبا
راځــه راځــه اشــنا یــه هېــر مــې کــه
رنګ مې وانخلې له دې ســوي دردمنــد
بــاد یــم راوړی پــه بــاد تېــر مــې کــه.

۲۸/۳/۱۳۷۳

کابل

# غزل(۲)

غر ځومره ښکلی دی؟

د تیږو دارام سین

د موسکا

ویښو ځپو کې ویده،

غر

ددې شګو په ټوکریو کې

د لمر  د سرو انګورو

د باران هادي.

❋❋❋

غر ځومره ښکلی دی!

د لارې د کاروان د ترېیو اوښو

هر  قدم کې

**د شنو پرخو ګړی**

**غرمو د مينو د کيسو**

**سمسوره ژبه**

**او  د ښکلو ښاپېريو**

**د کمڅو د سرو ګلونو**

**د باغچو مالي.**

**غر**

**د ښارونو**

**او  کوڅو**

**او د بامونو**

**له  تورتمو زندانونو نه د وتو**

**شنو  يادونو**

**د سفر او ازاديو ډګر.**

**غر**

د هوسیو او بازانو

ددې سترږیو سترږیو منډو

او خویونو

دغه ښکلی

زړه راکښونکی انځور.

غر ځومره ښکلی دی اشنا

دا ځومره ښکلی دی غر!

۲۷/۵/۱۳۷۳

لغمان

# غزل او خنجر

یــو روڼ د ســبا بــاد یــم تکــل شــته خــو وزر نــه شــته
دا څنگــه پســرلی دی؟ ســهر شــته مــازیگر نــه شــته
ای شــپې! تــه دې لــه ســتورو نــه دا ورېې پلــو ډک کــړه
زمــوږ د ورځــو برخــه کــې خــو څــاڅکی د لمــر نــه شــته
جنــدې نــه شــوې دېــرو کــې هغــه شــنې د چلــم وریځــې
وطــن مــې د شــملو دی، خــو یــوه هــم پــر ســر نــه شــته
یــو گــل چېرتــه کمځــو کــې لکــه ســتوری زرغــون نــه شــو
منگــولې پــر نکریــزو او منگــې پــر گــودر نــه شــته
راشــنه نــه شــوه پــر ژبــه د چــا بیــا میونــدي کړیکــه
شــپېلۍ پــر کــړو برېتــو، یــو غمــی پــر خنجــر نــه شــته
ننگیاله چې دې خوا کې نه ((خزان)) شــته نــه ((ټکــور شــته))
والله چــې پــه دې ښــار کــې غــزل نــه شــته، هنــر نــه شــته.

۱۳/۷/۱۳۷۳

کابل

# کجاوې!

څوک دی؟ د کوم ځای دی؟ او چېرې درومي؟

نه پوهېږم!

چې د سهار د شنو وږمو د شنې زېږدا شېبه  کې

د جامو غر په اوږو مات کړم

د شنه خوب د شنو اوبو په سین کې ولامبم او سترې شمه

دی شي نږدې

سپینې جامې راځنې وتښتوي.

او  د غنمو پر وریښمینې پولې  وخېږي  او چیغې کړي چې:

ای لامبوزنه،

ای د سین سپینو کبانو،

ای د باغ مرغیو!

**ما درته سرې، تورې جامې راوړي**

**راشۍ دا سپینې او خیرنې جامې وغورځوئ!**

**څه شېبه وروسته ددې کلي د مرغیو**

**او کبانو جامې نوې شي**

**سین تور شي**

**ونې تورې**

**کلی سور**

**او کلی تور غوندې شي**

**بیا کجاوه پر اوږو بار کړي**

**خدای زده چېرته به ځي.**

❋❋❋

**کله چې پاڅم**

**هغه وینم چې روان دی**

**او د دښتو پر نویو لارو منډې وهي**

او کجاوه یې زما له تکو شنو خوبو ډکه ده

بیا د کوچیو د کاروان مخې ته تم شي

او هر خوب مې

موتی موتی پر وریو او اوښانو وېشي

کجاوه بیا تشه شي

بیا درمو له مخې شنه واښه راټول کړي

کجاوه له سره ډکه شي

موسکۍ شي

بېرته وخوځېږي

شپه شي، تیاره شي

نورو ورېځو سره یوځای شي

باران شي

او له سترې کجاوې سره راوڅڅېږي

بیا د غنمو پر ورېښمینو زلفو وڅېږي

**او چیغې کړي چې:**

**جامې مو سرې**

**جامې مو تورې،**

**او خویونه مو ژېړ!**

**داسې یو زېړی راته وکړي**

**او روان شي**

**خدای زده چېرته  به ځي؟**

**۱۸/۶/۱۳۷۳**

**کابل**

# چوپتیا

زما د کور ځراغ ماښام نه تر سبا سوځي
او له ماښامه تر سبا
د خپلې ښکلې تنهایۍ له تورو زلفو سره مینه کوم
ما یې د زړه پر دښتې کور کړلی
ما د چوپتیا له سپینو تیونه
د ژوند د چینې غړپ کړی دی.

***

زما د کور ځراغ ماښام نه تر سبا سوځي
خو به مې خیال
لکه یتیمې مرغلرې
د غزل له یاقوتي شونډو راونه ځځېږي
نور به د سترګو له هندارو نه د خیال
او د غزل شنه انځورونه ټول کړم
نور مې د خیال واګې چوپتیا ته ښښم.

۲۴/۶/۱۳۷۳

کابل

**د عبدالقهار عاصي پر شهادت**

**یوه منثوره ویرنه:**

# زه هم درځم!

**مورې چې سترګې غړولې**

**او مورې چې دادی سترګې غړوو**

**د مینې کیسه مو نه ده زده**

**مورې مینه نه پېژنو**

**وینه پېژنو**

**وینه او مړینه زمورې برخلیک دی**

**وینه او مړینه زمورې تاریخ دی.**

❋❋❋

**مورې لا مینه نه ده لیدلې**

**مینه هغه کوچی باد دی چې پر غولي مو هېڅکله شین نه شو**

**موږ مینه نه پېژنو**

**زموږ نوم يې له وینې او مړینې سره تړلی دی**

**رښتیا،**

**د((حسین)) او ((یزید)) کیسه دې زده ده؟**

**پېړۍ پېړۍ کېږي چې**

**د ((یزید)) په لاس کې توره شنه ده**

**یوه توره توره**

**یوه سره توره**

**هغه توره چې ((حسین)) پرې هره ورځ وژني**

**او د ((حسین)) پر مری یې راکاږي**

**مګر تا د ((حسین)) مړینه لیدلې ده؟**

**مګر دا ((یزید)) نه دی چې هره ورځ مري؟**

**((مګر دا ((حسین)) نه دی چې هره ورځ زېږي؟))**

**هو،**

**موږ مینه نه پېژنو**

**وینه پېژنو**

**وینه او مړینه زموږ برخلیک دی**

**وینه او مړینه زموږ تاریخ دی**

**ـ خو څرنګه برخلیک؟**

**د ((حسین)) برخلیک؟**

**خو څرنګه تاریخ؟**

**د ((حسین)) تاریخ!**

**رښتیا،**

**زموږ نوم یې  د ((حسین)) له نامه  سره هم تړلی دی.**

❋❋❋

**ای تاته وایم!**

**موږ  دې په یاد یو؟**

**زموږ جونګړې دې په زړه دي؟**

**اوکله دې زموږ پر جونګړو**

**هغه بې  ییبرې لوګي  نه دي هېر؟**

**هلته  چې خاوره یې یوازې یوه لویشت ده**

**نیم یې زندان او نیمه یې هدیره**

**هغه زموږ کلی دی**

**او هلته زموږ جونګړې شنې دي**

**هلته چې د نغریو پر سرونو لوګي له لوږې مري**

**او اوبه له تندې جل وهي**

**هلته زموږ کلی دی**

**زه او ته هلته پیدا یو**

زموږ د کلي لاره پر ګلونو نه

پر اغزيو ده

پر دغو لارو زموږ يبلې او تناکې پښې

پر لوټو

پر کاڼو لګي

زموږ لارې قاتلې دي

زموږ لاروي قاتلان دي

دغه سترې او قاتلې لارې

زموږ ستړيو کاروانونو ته

اوبه نه

وينې ورکوي

زموږ د ستړيو منزلونو وينې

زموږ د ستړيو ارمانونو  وينې

هوکې!

موږ مينه نه پېژنو

وينه پېژنو

وينه او  مړينه زموږ برخليک دی

وينه او مړينه زموږ  تاريخ دی

رښتيا،

کله دې د سیندونو مړینه لیدلې ده؟
ګوره! سیندونه هم مري
او زموږ نوم یې
د سیندونو له نامه سره هم تړلی دی.

❋❋❋

ای! کله چې ټپي پرښتې
لکه د وینو څاڅکي
دانه دانه له اسمانه څاځي
تا د اسمان د زړه چاودون شېبه
ای! کله چې ورېځې
د سپوږمۍ د سپین کمیس تنۍ پرانیزي
تا د ستورو په سترګو کې
د وینو چغارې لیدلې دي؟
او کله چې ږلۍ
د غوټیو موسکۍ شونډې
په غاښونو څیري
ته د ونو او ګلبوټو د ویرجن غزل کاڼو
پر زړه ویشتلی یې؟
هوکې،

سپوږمۍ مري

او ستوري هم مري

خو ته يې چېرې هديرو ته ناست يې؟

دا تيارې دي چې هره ورځ مري

او دا

سپوږمۍ او ستوري دي چې

څو مري هومره زېږي.

✵✵✵

موږ چې رازېږېدلي يو

او موږ چې دادی ژوند کوو

له غزل سره زېږېدلي يو

او له شعر سره مو ژوند کړی دی

غزل مو د ډوډۍ مالګه

او شعر مو د کور چت دی

زموږ ژوند شعر دی

يو تريخ شعر

او زموږ شعر ژوند دی

يو تريخ ژوند

خو تا کله د غزل مړينه ليدلې ده؟

**او کله د شعر مړینې ته ناست یې؟**

**موږ مینه نه پېژنو**

**وینه پېژنو**

**وینه او مړینه زموږ برخلیک دی**

**وینه او مړینه زموږ تاریخ دی**

**رښتیا،**

**زموږ نوم یې د شعر له نامه سره هم تړلی دی.**

❋❋❋

**پوهېږې؟**

**زه او ته دواړه له یوې ونې یو**

**ته لاړې**

**خو باور لرم چې زه هم درځم**

**څو دا شلېدلې ریښه یوه شي**

**باور لرم!**

**باور لرم!**

**۲۴/۷/۱۳۷۳**

**کابل**

# مور ته مثنوي

مــورې دا غـــر د غمــو چېرتـــه یوســـم؟
دا هـــدیرې پـــر اوړو چېرتـــه یوســـم
راته میراث یو سـور ګرېـوان خـو نـه دی
دا یـو یعقـوب او یـو کنعـان خـو نـه دی
هره لوېشت ځاه ده هره څـاه کـې یوسـف
د هـر کـاروان د پښـو درزا کـې یوسـف.

❋❋❋

مــورې پـه وینـو کـې خـوټېږي چـړې
لکــه بــاران پــر مــوږ ورېــږي چـړې
دا پـر یـوه ((حســین)) ژړا خـو نـه ده
دا یـو څـو ورځـې کـربلا خـو نـه ده
راغــی پـه سـر راتـه بادشـاه شـو یزیـد
زمـــوږ د کلـــي شهنشـــاه شـــو یزیـد.

❋❋❋

موريږ په زړه کې یو پرهر خو نه دی
موريږ تنها قتل د لمر خو نه دی
دلته هر ستوری او سپوږمۍ قتله ده
دلته هر ګل، هره غوټۍ قتله ده
موريږ لوګی شو او سوزېږي وطن
موريږ په سرو تورو قتلېږي وطن.

❋❋❋

موريږ یو ویر او یو ناکام خو نه دی
دا یو خوشال او یو بهرام خو نه دی
دلته یوازې مسیحا خو نه دی
دلته یوازې یهودا خو نه دی
دلته هر کاني او انسان شو قابیل
هر یو لستوني هر ګرېوان شو قابیل.

❋❋❋

موريږ یو غر دلته اباد خو نه دی
هغه پامیر، هغه شمشاد خو نه دی
دلته کبان دلته سیندونه سوځي
دلته له تندې بارانونه سوځي

د بـــاغ نـــاموس راتـــه اغزيـــو لـــوټ کـــړ
پـــت د کېږديـــو مـــې پرديـــو لـــوټ کـــړ.

❋❋❋

مورې شملې شته خـو سـرونه  نــه شــته
دېرې مو شــته پــه کــې کټونــه نــه شــته
بادونـــه راغلـــل چلمونـــه مـــات شـــول
هغـــه د کلـــي چنارونـــه مـــات شـــول
مورې  زخمـي دی مـورې وران دی ګـودر
يـــو جـــل وهلـــی  بيابـــان دی  ګـــودر.

❋❋❋

مورې يو غم او زړه چـاودون خـو نــه  دی
مـــورې د وينـــو يـــو جيحـــون خـــو نـــه دی
دلته هر  کـــانې کـــې جيحـــون دی مـــورې
دلته په خپل کور کـې بېلتـون دی مـورې
مـــورې يـــو تنـــدر دې پـــر  کـــور  ولګېـــد
ســـتا پـــر ســـپېڅلې لمـــن اور ولګېـــد.

❋❋❋

مـــورې زړګـــی دې را چـــې ویـــې ژاړم
دا مـــات منګـــی دې را چـــې ویـــې  ژاړم
زه  دې د مـــړې ونـــې بلبـــل نـــه شـــومه
ســـویو کمځیـــو تـــه دې ګـــل نـــه شـــومه
سترګو ته  اوښکې څـــو پیـــالې خـــو راکـــه
دعـــا دې نـــه غـــواړم ښـــېرې خـــو راکـــه.

۱۹/۸/۱۳۷۳

کابل

# زېری (۱)

زړګیــه زېــری زېــری چــې وږمــه د ســبا راغلــه
زمــا د تیــارو کلــي تــه دېــوه د ســبا راغلــه
باور مې کله نه شو چــې بــه بیــا پېښــه راوکــړي
دې قتلــو پســرلیو کــې غونچــه د ســبا راغلــه
حیران وم چې ماشوم غزل به کوم غوږ کې ویده کړم؟
کانه کانــه مالــت تــه مــې نغمــه د ســبا راغلــه
کلونه پس به بیــا پــر جــل وهلــې دښــتې ووري
لــه ســپینو پرخــو ډکــه لوپټــه د ســبا راغلــه
نه مړ نه یې ژوندی کړم دې مغول یوازېتــوب مــې
ای وږیــو هــوجرو زېــری پښــتنه د ســبا راغلــه.

۲۵/۹/۱۳۷۳

کابل

# نیمګړی غزل

ولول زلفــې خــورې کــړه غــوړوه رابانــدې  شــپې
له  تورو شپو دې جــار شــم وورره رابانــدې شــپې

رمنځ دې کــړو کاکــل کــې اخــر زړه راتــه زخمــي
هر څاڅکی یې شو ستوری څڅوه راباندې شپې

ما ستا د خیال یو سیوری کړ د شــپو لــه ســپوږمۍ پــور
سپوږمۍ شه لکه خیال مــې بلــوه رابانــدې شــپې

هر خوب مې وړی وړی دی هــر خــوب وهلــی جــل
کېږدۍ مـــې د لیمـــو شـــه خـــوروه رابانـــدې شـــپې

ســـتا ســـترګې پښـــتنې دي زه یـــو ســـتړی مســـاپر
د سترګو پـــه هـــوجرو کـــې تېـــروه رابانـــدې شـــپې

بس دومره چې سپرلی شم او یو ګل شـــم د کمڅـــو
خړوب مې په دې شپو کـــړه بهـــوه رابانـــدې شـــپې

ارمان مې د نیمګـــړي غـــزل هـــېڅ نـــه شـــو پـــوره
په لېچو مـــې ســـر کېـــده زنګـــوه رابانـــدې شـــپې.

۲۷/۹/۱۳۷۳

کابل

# شپېلۍ(۱)

د غره په ذهن کـې خــوره شــوه شــپېلۍ
پــه ســرو ممــانو مېلمنــه شــوه شــپېلۍ

دا د کېـــــړدۍ پلـــــو خـــــو واړوئ لـــــړ
تللــې کــوچۍ وه راســتنه شــوه شــپېلۍ

وري زلمــي شــول، اوښــې پېغلــې شــولې
لکه ځېړۍ په غرونـو شــنه شــوه شــپېلۍ

ســــتورو جـــامې د اتـــڼ واغوســــتلې
د هســـک د دښـــتو ترانـــه شـــوه شـــپېلۍ

پښـــتني غرونـــو پـــه کـــې ساه پـــو کـــړې
ځکـــه درنـــه او پښـــتنه شـــوه شـــپېلۍ

راته یې ښـــکل کړلـــې غمبـــورې د خیـــال
بیـــا د غـــزل د کـــور ډیـــوه شـــوه شـــپېلۍ

۳۰/۹/۱۳۷۳

کابل

# د زرتشت خوب

**زرتشت تروني لاندې پروت دی**

**د ستړيا او د خولو دا خونړی سېلاب يې باد ته ايښی**

**زرتشت جل وهلی**

**زرتشت له ډېرو مودو پس د ستړيو سترګو تورو څمڅو کې**

**د خوب له پرښتو سره تر غاړې وتی**

**زرتشت ويده دی**

**زرتشت جل وهلی.**

❋❋❋

**زرتشت ويده دی**

**زرتشت جل وهلی**

زرتشت د خوب د پرښتو د وربلونو د ماښام پر ځنګله نه مړېږي

زرتشت د ښکلو پرښتو د اننګیو په هندارو کې خوبونه ویني

زرتشت ویده دی

زرتشت جل وهلی

ای د ځنګلونو

او د غرونو لویه خدایه!

نه پوهېږم

هغه مار چېرته دی؟

۱۸/۱۱/۱۳۷۳

کابل

## راته وناڅه هنداري!

نن مې اوښکې

دا د سترګو له صدف نه څڅېدلې مرغلرې

زما د څیرې اوبو وړي ګرېوانه خړې ډولۍ کې

لکه ناوې سرې منګولې د بڼو پر څنګله ایښي

د پښتون کور ناوکۍ ده

په خوله ژاړي

نن مې اوښکه ناوې شوې

راته وناڅه هنداري!

***

نن مې کب د سرو ویرونو

د غمونو د ویرجن سیند

د تورتمو، لېونیو او یاغي څپو د زړه پټې کېږدۍ نه

د ښکاري خندا د جال مزو کې کېوت

نن مې لوند ګرېوان وچ شوی

خو یو څاڅکی په کې شین دی

ته به وایې د لمر کور دی

ته به وا د سپوږمۍ شپه ده

نن مې اوښکه ناوې شوې

راته وناڅه هندارې!

۲۷/۱۱/۱۳۷۳

کابل

# درځنې لاړم کليه!

څومره ښايسته دي

زموږ د کلي چم کې

دا د شنه سين په شنو اوبو کې

د کبانو بچي.

څومره ښايسته دي دې ويالو کې

د هيليو دغه سپينې لونې

د دوی نازکې منډې

د دوی نازکې چيغې.

❋❋❋

څومره ښايسته دي

زموږ د کلي

د سپېدارو ترتيکريو

غرمني خوبونه

او مازیګر په شنو چینو کې

د کرۍ ورځې ستړیاوو مینځل.

❋❋❋

څومره ښایسته دي

زموږ د کلي په چېلو کې

د انګورو ښیښې

او د ګیلاسو د وړو وړو نیالګیو

ګنې، ګنې شنګلې

چې سرې مرۍ یې دي

زموږه د باغو

د ښاپېریو یاقوتي غوږوالۍ.

❋❋❋

څومره ښایسته دي

زموږ د کلي

د غوزانو هسکې، هسکې ونې

او د ښاخونو په هر رګ کې يې

د مست زړګي د وينو لپې

چې ترې غريبې پېغلې اخلي

خپلو شونډو ته

د حسن خدايي رنګونه.

❋❋❋

څومره ښايسته دی

دې ګودر کې

زموږ د پېغلو د شينکيو منګوټيو

د چاودون

او ماتېدلو اواز.

څومره ښايسته دی

دا زموږ د کروندګرو

د ځپرو کلی.

څومره ښایسته ده

دا زموږه د لوګرو

دا هاړ دېره.

زه درنه ځم

د خدای پامان

درځنې لاړم کلیه!

مادې د حسن په مالت کې

ددې وخت د سوداګرو

وینې څښونکې سترګې چېرته پرېږدي؟

# دروغ

ډېرو ډېرو ښکلو مې

پر دښتې د سینې، د تورو زلفو شپې زرغونې کړې

ډېره د اورنیو اننګیو د لمبو د سیند څپو کې

زما د شونډو بېړۍ تاوه شوه راتاوه شوه

شپه د تورو  زلفو

او وربمه د اننګو شوم

خو دا ګل

او دا شاعر زړګی د چا نه شو

ډېرې مودې وشوې چې مې زړه

د ستا د زلفو په ځنګله کې

د ماښام د شپېبو ستوری دی

زه د هېچا نه شومه

یوازې ایکې ستا شومه

تا هم راته دروغ ووې دروغجنې،

درواغجنې!

درواغجنې!

هغه ګل، هغه شاعر زړګی مې بېرته را!.

۱۳۷۴ل

کابل

# غزلبولې

مـــا یـــې پـــه ســـترګو کـــې کېـــږدۍ وهلـــي
خدایـــه! ګـــرداب کـــې مـــې بېـــړۍ وهلـــي

چې یې په شپو کې خپل غر هـم شـي تـرې ورک
هغـــو کمځـــو کـــې مـــې غـــوټۍ وهلـــي

دا چـــې یـــې نـــن لاره کـــې ســـم شـــین شـــومه
نیمـــو شـــپېو کـــې مـــې پېـــړۍ وهلـــي

دا د بـــاران څـــه زړه چـــاودون خـــو نـــه و
مـــا یـــې پـــر بـــام بانـــدې ســـلګۍ وهلـــي

تـــرې غزلبـــولې چغـــې هـــم نـــه وري
بیـــا یـــې پـــر تـــپ راتـــه پټـــۍ وهلـــي.

# سیند ته غزل

رژېږي پاڼې پــاڼې تــش ګرېــوان شــولې ای ســینده!
یو ښار وې د هندارو ولــې وران شــولې ای ســینده!

یوه  مســته نغمــه نــه شــوې پــه ورا کــې د کبــانو
نه دې سپینو هیلیو تــه جانــان شــولې ای ســینده!

پــرون خــو د شــېبو د نــاوې پېغلــه ښــکلا تــه وې
خو نن یې لکه  زلفــې پرېشــان شــولې ای ســینده!

سپین ږیری جاله وان د کلي نه  شته مــودې وشــوې
دا اوس ولې په سترګو کې حیران شولې ای ســینده!

اشنا ګوره چــې بیــا دې د څپــو زمــري ګــونګي دي
ارامه غلــو وهلــی یــو کــاروان شــولې ای ســینده!

یو لور وې د شنو ولو خو اوس ښکاري چې په خپلــه
کېږدیو غونــدې ونــه د بیابــان شــولې ای ســینده!.

۱۳۷۴

کابل

# غزل

د غره تر غاړې ناست یم شــپه ســپوږمۍ ســره کومــه
خبـــرې دې جانانـــه! لـــه شـــپېلۍ ســـره کومـــه

ستا سترګې خو کوچۍ شولې ایلبند په ایلبند ګرځـــي
اوس جنګ د هغـــو ســـترګو لـــه هوســـۍ ســـره کومـــه
نازونـــه خـــو تـــا وکـــول پـــر مـــا بانـــدې زوال شـــول
د خـــال پـــر ځـــای دې مینـــه تروږمـــۍ ســـره کومـــه
ماخوب درځني وړی دی خپه چـــې نـــه شـــئ ســـتورو!
ګیلـــې یـــې لکـــه وریځـــې لـــه ســـیلۍ ســـره کومـــه

یو غـــر دی او ځـــو کـــاني یـــوه شـــنه کبلـــه نـــه شـــته
بـــاران شـــوم ژړاګـــانې لـــه کیـــږدۍ ســـره کومـــه.

۲/۱/۱۳۷۴

لغمان

# شپېلۍ(۲)

شپېلۍ د پرخو پرخو شونډو په غرمو وري

شپېلۍ د سترې شپنې لارې ته کېږدۍ وهلې

شپېلۍ په للمو للمو غرو اوري.

❋❋❋

شپونکیه! ماته دې شپېلۍ مه شه

د جل موسم دې،

د جل شپې دې

او د ورېځو اوښې بیا شنډې دي

راته یو څاڅکی د باران خو شه!

باران پښتون شو

د خپل کور پر بامو نه ووریږي

باران ورغلی په پردیو ووري.

❋❋❋

**شپېلۍ پر للمو للمو غرو اوري**

**شپېلۍ د ستړې شپنۍ لارې ته کېږدۍ وهلې**

**شپېلۍ د پرخو پرخو شونډو په غرمو اوري.**

**۸/۱/۱۳۷٤**

**کابل**

# غوښتنه

مادې د تن سپینې ښیښې نه هغه سره شراب لا نه دي څښلي

ما دې یوازې دوه غوټۍ د اننګو ښکل کړې

خمار دې کړمه خو نشه دې نه کړم

د بېسدۍ هغه شېبه دې نه کړم

تندې اخیستی یم

شراب قطره قطره خو راکړه

د مرغلینو ښیښو منځ کې

د خوږې ګناه کاله ته

اجازه خو راکړه!

۱۴/۱/۱۳۷۴

کابل

# د وینو غزل

مـــادې اوړدې لارې ځـــارلې خـــو اشـــنا مـــه راځـــه
قدر دې نـــه شـــته پسـرلیه پـر دې خـوا مـه راځـه

مـــوږه د شـــپې د تیـــو روړدي یـــو ســـبا څـــه کـــوو
وړانګې دې ټولې کـړه ورځـه دلتـه سـبا مـه راځـه

مـــوږ د مرګـــي غشـــي پـــر زړه هـــر مـــازیګر خـــوړلي
د نظـــر غشـــیه پـــر دې ســـوې کـــربلا مـــه راځـــه

دلتــه ســارا د دیــدن قتلــه ده، هــر کــانی قتــل
دلته یو پل د مجنــون نــه شــته دی لــیلا مــه راځــه

د ویر پــه چــم کــې خنــداګانې اورېــدی کلــه شــم؟
یــو اســویلی شــه راتــه ډکــه لــه خنــدا مــه راځــه

د ذهن وران یو کور مې شــته پــه کــې د وینــو غــزل
دې بې قدرۍ کې د ښایســت غزلــې بیــا مــه راځــه.

۱۵/۱/۱۳۷۴

کابل

# غر (۳)

غر مې د زړه پر هره پاڼه لکه ګل شین دی

غر مې چې زړه سمسورې دښتې کې کېږدۍ وهلې

لکه د ستا چې کشمالیو کې کاکل شین دی.

❋❋❋

زړه مې کوچی دی

وینه مینه په کې غره کرلي

**کوچې بوډا شو،**

**کوچې مري،**

**خولا دغره په مينه موړ نه شو**

**کوچې دغره پر شگو ناست دی**

**دغره کاڼو ته لمونځونه کوي**

**کوچې چنار دی پاس د غره په تور وربل شين دی**

**غر مې د زړه پر وطن ټوله لکه کابل شين دی.**

**۲۵/۱/۱۳۷۴**

**لغمان**

# غر (۴)

ماته د غره د لاسو بوی راځي

مېږې وېدې دي زما ړوند سفر په خوب کې ویني.

❋❋❋

هلته به غر دشنه سپرلي د دسترخوان پرسرلګیا وي

د باران پر رڼو څاڅکو به لاسونه مینځي

غره به د ځانګو پر وربښمینو تیو خوله ایښي وي

او ګلورینې پی به څاځي څاځکي څاځکي له ګرېوانه د غره

هلته به سپین سهر ساقي وي

**د غوټیو کندوولیوکې به وېشي دوړ موشراب دغره پرجل وهلوکانو**

**هلته به سیورو د څېړیو ته شپونکی اشناشپېلۍ غږوي**

**. ماته د غره د لاسو بوی راځي**

**مېږې وېدې دي زما ړوند سفر په خوب کې ویني.**

**۲۵/۱/۱۳۷۴**

**کابل**

# آس (۲)

آس لکه بوت هسې  حيران ولاړ دی
نور يې له پوندو نه ګردونه د زلمو پر څنو نه وورېږي
آس لکه مست ښامار،
دغاړې هسک ببرغ پرخپلوشلواوخوب وړو اوبړو نه شي وړلای.

❋❋❋

آس لکه بوت هسې حيران ولاړ دی
نوريې د تورو غزلونه د ګامونو تندرونو کې زرغون نه شول
نوريې د لوړو غرو له څوکونه ارنه وړلې دشنوشنوتوپانونوکيسې
دا آس بې تورې،
بې جنډې
څومره بدرنګ ښکاري!

۱۰/۳/۱۳۷۴

کابل

# خوب

پرېږده يوه بله پياله هم په سر واړومه

❋❋❋

بېګاه مې خوب ليدلى

له سرو ګلابو پرښتو راته جامې اودلې

ستوري مې زانګې دګرېوان په ليكو

دلاس غل مې رانه ورک دى

ستا دزلفو توروشپو نه راته شپې راوړي

اود غنمو نارنجي فصل كري راته په سترګو كې

د ورو نارنجي خوبونه.

❋❋❋

پرېږده يوه بله پېاله هم په سر واړومه.

۱۰/۴/۱۳۷۴

كابل

# غر (۵)

غر،

سیند،

ځېړی،

زه له همدغو جوړ یم

غر مې هډوکي

سیند مې وینه

او هر رګ مې د ځېړیو څانګه

زما یې نوم د غره او سیند اودځېړیو په لاسو لیکلی.

❋❋❋

غر د څېړیو شنه شمله په سر د کلي پر دېرو خور دی

د خدای له شنه  تخته پرې ووري لکه سپین باران

د پېغلو پېغلو ستورو حورې

سیند تر غېږې لاندې ناڅي

او څپې څپې تیونه یې اوبه اوبه شول.

❋❋❋

سیند،

څېړۍ:

زه له همدغو جوړ یم

مور مې د غره د سرو لمرونو د توپان هغه زړه ابۍ ده

ټوله ورځ

د لمر په سرو وړانګو ډوډۍ پخوي

پلار مې دغره هغه ګوربت دی

چې تر سیورو د وزرونو یې

د وربځو د کاروان د توپاني او ښانو پل وچ دی.

❋❋❋

غر،

سیند،

څېړۍ:

زه له همدغو جوړ یم

چې د ګناه او ګناهونو میندې لنګې شي،

له خولې د جبرائیل نه د غضب څګونه لارې وکړي

نوح مې د غره پر سره کېږدۍ غوړوي

زموږه غرونه توپان نه پېژني

د ازادۍ او عشق نومونه ملایکو ته زما د غرو شملو ښوولي.

❋❋❋

مورمې د سنید څپو ته ناسته ده

په لمر راته ډوډۍ پخوي

پلار مې ګوربت دی

راته بولي د څېړیو د شنو څانګو

اود لوړو لوړو غرو د شملو سرود.

۲۰/۴/۱۳۷۴

کابل

# دا کښتونه- دا بادونه

دا ترڅو باران د اوښکو؟
دا ترڅو د تورو ورېځو چپاوونه؟
دا ترڅو قتل د لمر، قتل د سیورو؟
داترڅو زما کښتونه، ستا اسونه؟

***

دا ترڅو زګېروي د باغ، د سپوږمۍ چیغې؟
دا ترڅو د شپو په موټو کې قمچینې؟
دا ترڅو د بې حیا پردې په تورو
راته وژني پښتني پښتني مینې؟

***

دا ترڅو د مینې تور سفر ته لارې؟
دا ترڅو نېزې د باد، کمڅۍ د ګلو؟
دا ترڅو پر دې هوجرو یرغل د واورو؟
دا ترڅو تبر په غاړه کې د ولو؟

***

دا ترڅو دا خوارې ځمکې، خوارې سپارې؟

دا ترڅو دغه نهر نهر فصلونه؟

دا ترڅو زخمي ورغوي د لوګرو؟

دا ترڅو يې له تناکو نه باجونه؟

***

دا ترڅو د ريا سپين څادر پر ولو؟

دا ترڅو په رڼا ورځو کې لمونځونه؟

دا ترڅو تسبې په بنګو کې لړلې؟

دا ترڅو په تورو شپو کې ګناهونه؟

***

دا ترڅو مې بې پتې د سرو غوټيو؟

دا ترڅو د ستا اغزي زما باغونه؟

دا ترڅو په دې پردې پردي ټوپکو

قتلوې دا زما خويندې، زما ورونه؟

***

دا ترڅو وطن زموږ واک د پرديو؟

دا ترڅو وطن زموږ حکم د نورو؟

دا ترڅو زموږ د باغ پېغلې بلبلې

ګډوي راته هوجرو کې د سرزورو؟

***

دا ترځـــو بـــه نـــه اذان نـــه جوماتونـــه؟
دا ترځـــو بـــه نـــه ســـاقي نـــه يـــې جامونـــه؟
دا ترځـــو د ابلـــيس ســـره لمبـــه لاس كـــې
راتـــه ســـيزي كلـــه كـــور كلـــه ښـــارونه؟

❋❋❋

داترځـــو د ورور پـــه وينـــو كـــې منګـــولې؟
دا ترځـــو د مـــور پـــه ســـترګو كـــې كوكـــارې؟
دا ترځـــو مـــې د وطـــن ابـــۍ شـــهيده؟
دا ترځـــو مـــې د ولـــس، دا لارې لارې؟

❋❋❋

مـــا ويـــل چـــې كـــه هـــا ســـيورى دلتـــه وشـــي
زه بـــه بيـــا لكـــه انګـــور بېرتـــه زلمـــى شـــم
مـــا ويـــل چـــې كـــه هـــا لمـــر بېرتـــه ژونـــدى شـــو
زه بـــه تـــول لكـــه مـــانو ورتـــه لـــوګى شـــم.

❋❋❋

مـــا ويـــل چـــې كـــه دا شـــپه چېرتـــه ســـبا شـــوه
بيـــا بـــه نـــه زيـــړې بګـــوې لـــه تيـــارو نـــه
مـــا ويـــل چـــې د اســـمان شـــمله بـــه وچـــوي
ددې ښـــكلو ښـــكلو ســـتورو لـــه غونچـــو نـــه.

❋❋❋

مــــاویلې چـــې یـــو ځلـــې کـــه ســـپرلی شـــو
بیـــا بـــه جـــوړ شـــي پـــر کمڅـــو د ګلـــو غرونـــه
مـــا ویلـــې کـــه یـــوه څپـــه شـــوه وېښـــه
بیـــا بـــه زېـــږي لـــه لښـــتیو نـــه ســـیندونه.

✵✵✵

خـــو مـــې کښـــت دي لېونـــو اســـونو لـــوټ کـــړ
د لورونـــــو غـــــاړې یـــــوورلې زنګونـــــو
د کوچیـــو د کـــاروان مخـــې تـــه تـــم دي
دا اســـمان اســـمان اغـــزي زمـــا د غرونـــو.

۱۳/۴/۱۳۷۴

لغمان

# غزل

موســـم ومـــه د جـــل، رانـــه بـــاران شـــولې وږمـــې!
څادر مې شوې، تنۍ مـــې د ګرېـــوان شـــولې وږمـــې!

دا زه وم چـــې مغـــرب ومـــه دښـــکلو د ســـجدو
داته یې چې ســـجدوته مـــې یـــزدان شـــولې وږمـــې!

دا زه هغه زه نـــه یـــم ټـــول تصـــویر یـــم ســـتا د مـــخ
زه سیوری ستاد سترګو، ته مې ځان شـــولې وږمـــې!

یـــوه شـــمعه مـــې بـــس وه د تیـــاره کالـــه د شـــپو
تیـــارو تـــه مـــې د کلـــي چراغـــان شـــولې وږمـــې!

تـــالو کـــې ژبـــه وچـــه د غـــزل مـــې وه پـــرون
نن ټول شومه غزل چې مـــې جانـــان شـــولې وږمـــې!

۵/۵/۱۳۷۴

کابل

# اورنی پر درمندونو

دلتــه مــه راځــه اشــنا پــر کلــي جنــګ دی
هــر مالــت او هــر ګــودر پــه وينــو رنــګ دی
دلته ښکلې کمځۍ سيورې دي بـاغ نــه شــته
دلته مېشت د تيـارو زور دی څـراغ نــه شــته
دلتــه شــنه دي لــور تــر لــوري توپانونــه
دلتــه مــړه دي پــه نغريــو کــې اورونــه
دلتــه ځالــه د ګوربتــو پــه اور ســوې
دلتــه زېــږې لــه زمريــو نــه بګــوې
دلته شرنګ نــه شــته مړونــد کــې د بنګړيــو
دلتــه پــل کلــي کــې ورک دی دســړيو
دلتــه مــري لــه دېــرې لــوږې تنورونــه
دلتــه اور اخلــي لــه تنــدې نــه ســيندونه

د پردېســو ګــاولي نــه شــته پــه دېــرو کــې
د ربــاب ســتونی وچ شــوی دی هــوجرو کــې
دلتــه تیتــې د پښــتون لــوړې شــملې دي
ســپکې شــوې مــو د میـنــدو لــوپټې دي
هـــر قـــدم کـــې پـــایکوبي ده د دېوانـــو
هـــر لوېشـــته کـــې کـــورګی دی د پېریـــانو
لمـــر یـــې وواژه د شـــپو دلتـــه یرغـــل دی
قتــل شــوی مــې پــه شــونډو کــې غــزل دی
تـــاووي راتـــه پـــر ژبـــو زنځیرونـــه
ســـړوي راتـــه ککـــرو کـــې اورونـــه
درښتیا لــوریې چــې ویښــه کــړه تربــور شــو
چې د حــق نــاره یــې جګــه کــړه منصورشــو
چې یې ((نان)) ته ((ډوډۍ)) وویلې فاشست شو
چـــې رېـــره پـــرمخ نـــه وه کمونیســـت شـــو
یـــو خنجـــر دی څـــو چـــړې دي څـــو لاســـونه
راتـــه ریبـــي د وطـــن دمـــور رګونـــه
رالوېـــدلې دنیکـــه دســـر پګـــړۍ ده
خـــواره شـــوې د زړې ابـــۍ کیـــږدۍ ده

يو ((اكبـــر)) بيـــا ددې غرونـــو بچـــی نـــه شـــو
يـــو ((ايـــوب)) د ميونـــدونو ســـړی نـــه شـــو
فرهاد شته دی، تېشه شته خو غر يې نه شـــته
پښتانه هســـې ژونـــدي دي زوړ يـــې نـــه شـــته
دا چـــې نـــن د خـــونړي كـــاروان رهبـــر دی
د اوبـــــو د ژيـــــو هغـــــه ســـــوداگر دی
د زرتشت اور يـــې شـــهيد كـــړ ســـيلاب راغـــی
اورنـــــی پـــــر درمنـــــدونو دريـــــاب راغـــــی.

۲۲/۵/۱۳۷۴

كابل

# زېږدا

هغه ګړۍ خدای د جنت د ښکلو حورو

د ليمو پاڼو کې

د ښکلاګلو ته په لپو ورکولې اوبه

چې ته راوزېږېدې

او ته د خدای دباغيچو د سرو ګلونو

هغه شنه ((وږمه)) شوې.

۶/۷/۱۳۷۴

کابل

# زېرې (۲)

زما په سترګو کې یې شین فصل د ویر کړلی

د لمر زخمي زخمي کوترو ته

یو زېږی دباران خو مې شه!

کوچیان په سره وچکالۍ راغلل

دې وږو وږو وریو ته د اوښکو دسترخوان خو مې شته!

۹/۷/۱۳۷۴

کابل

# بې ننبې

پوهېږم نه،

له کومه ځایه یې پر ما باندې راپېښه کړې؟

دلته یې سیوری هم د ځمکې په سر خور نه دی

په سپینه ټنډه کې یې ښه د ټبر نه شته

د زلفو باغ نه یې دښار د بازاري ګلونو بوی نه خپږي

نه یې خو ښکلوانګوکې د شنوکلیودتاودوبادونو مچه ښکاري

پوهېږم نه،

له کومه ځایه یې پر ماباندې راپېښه کړې؟

داسې حیا د پرښتو سترګو کې هم نه شته

دا سترګې نه دي

د حیا چینې دي.

۲۶/۷/۱۳۷۴

کابل

# غر (۶)

**د باد له څنو مې د غره د هغه شنه ځنګله سلام راځي**

**باد مې د غره د سپینو کاڼو په هنداړو کې د خپل زلمیتوب خوب لیدلی**

**باد مې د کلي دتیارو شپو تورو زلفو ته د غره د رڼو ستورو کجاوې راوړي.**

❋❋❋

**که چېرې نه وای غره!**

**زما په سترګو کې نوځالې د ګربتو ځایېدلې کله؟**

**مابه دلمر تېپي تور زنو ته دپاڼو پر ورنونو طلایي خوبونه چېرې پلټل؟**

**او که ته نه وای غره!**

**ما به د خپلې هسکې غاړې دغه دنګ اس ځغلولو چېرې؟**

**۲۲/۷/۱۳۷۴**

**کابل**

# خوب ته سرود

خوبه! څادر راباندې وغوړوه

نور مې ویده کړه چې ویښتیاوو سترې کړې یمه

نور مې ویده کړه چې له ویښې نه مې کرکه راځي

زه چې ویده یم ویښ یم

خوبه! څادر راباندې وغوړوه!

خوبه قربان دې شم

نور ماته ددې ورځو دا بربنډې پېغلې مه راښیه

زه یې د سترګو په هندارو کې

**د اور اود سکروټو او لمبو ازانګۍ نه شم لیدی**

**زه خپله لاره بې له شپو په رڼو ورځو کې موندلای نه شم**

**ورځ مې د سترګو په هندارو کې اورونه کري.**

**خوبه ویده مې کړه**

**څادر راباندې وغوړوه!.**

**۳۰/۷/۱۳۷۴**

**کابل**

# تش صدف

ځانګه مې وچه ده غوټۍ نه لري

هغه کوچۍ یم چې کېږدۍ نه لري

هغه صدف یم چې ترې لوټ شوه سیپۍ

زه هغه شپه یم چې سپوږمۍ نه لري.

۱۴/۸/۱۳۷۴

کابل

**استاد رشاد ته د هغه د څلوراویایمې کلیزې په مناسبت:**

# جام جم

مشوانۍ یــې رانــه یــوړه قلــم نــه شــته
بت پرست یم خو مې ښکلی صنم نه شته
یوېې ته یې دامنې؟ چې ټـول وطـن کــې
بې له څــو تنــو نــه زوی د ادم نــه شــته
ستا درنې پګړۍ ته څه وکړم حیــران یــم
دې مالت کې بې له څوزو شړشم نه شــته
نن دې نوم ځکه په خوله اخیستی نه شــم
ما مینځلــه خــو جانانــه زمــزم نــه شــته
زه دې سترګو کې هر رګ د جهــان ویــنم
څومره دروغ دي داچې بل جام جم نه شــته.

۱۷/۸/۱۳۷٤

کابل

# له خوشاله تر ننګیاله

مــالي راشــه اغــزو د زړه پــر ګــل وهلــی یــم
((سقاو)) په زړې تــورې د((مغــول)) وهلــې یــم

رقیب به مې د زړه له وینو تشه((ژۍ))کړې ډکــه
خو سر مې د ایل نه دی که یې ســل وهلــی یــم

یو ګل څه په کمځو کې د پښـــتو دنــاوې نــه یــم
نــاره د ((انــاالحق)) یــې پــه کاکــل وهلــی یــم

حیران یم د ((اکبر)) پر مړي بیا څه پسات شــوی
پردیو مې د خپــل کــور پــه درشــل وهلــی یــم

تقدیر به مو وي داسې لــه خوشــاله تــر ننګیالــه
همدا چې کلــه غیــرو، کلــه خپــل وهلــی یــم.

۷/۱۰/۱۳۷۴

کابل

# ((یاسیر)) نه مري

((یاسیر)) روان دی دایمان بیرغ په لاس کې

د خپل ژوندد دوروستني ټکي شهیدپه خپلو وینو مینځي

((یاسیر)) له سره زیږي

((یاسیر)) په زړه د اناالحق فصل کرلی

اهریمن د توپانونوپرې ځپېږې اودتندرپرې سپرغۍ ووروي

فصل د مرګ نه پېژني

((یاسیر)) دشنه فصل د وړو پر وېښمنو کمڅو سوری کړی.

✵✵✵

((یاسیر)) دلمر له کلي ځي د زنداني ستورو خلاصون ته

تورې وربځې د شهید زړه په سرو وینو ولي

((یاسیر)) د ښکلې ځوانیمرګې سپوږمۍ غوږ کې

د مسیح دژبې دم د رغېدلو ولوست

((یاسیر))دخپلونارو ونه ددې شپو په اسماني دښتو کې کېنوله.

((یاسیر))روان دی د سفر د لارې غرونه، ځنګلونه ریبي

((یاسیر)) دېوانو ته بلنه د جګړې ورکړې

((یاسیر)) لګیا دی دمنزل مزي په پښو کې د یارانو شیندي

او ورته ښیي د فلاح سرود

((یاسیر)) دخدای (ج) د پاکې مینې د اسمان ستوری

((یاسیر)) د ((قاف))دغره د څوکودښایسته ښکلو پیریانو غزل.

۳/۱۲/۱۳۷۴

کابل

# د چغوتصویر

زمـــاد چغـــو شـــین تصـــویردې مـــات کـــړ
زمـــا نصـــیب، زمـــا تقـــدیر دې مـــات کـــړ

هغه ریبار خوب مې اوس هـــم نـــه راځـــي
څه د دیدن ښکلی زنځیـــر دې مـــات کـــړ

راتـــه پـــه برنـــدو ســـترګو ګـــوره خـــو مـــه
زمـــا د زړه  د کـــوتې تیـــر دې مـــات کـــړ

شپه شـــهرزاده وه، کیســـې وې او عشـــق
دغه دتـــول عمـــر شـــوګیر دې مـــات کـــړ

چـــې یـــې راوســـتې زلزلـــې پـــر وطـــن
ګرانې کچکول د کوم فقیر دې مـــات کـــړ.

۶/۱۲/۱۳۷۴

کابل

# غر (۷)

د غره پر کلي مې د سرو ګلونو سیند راغی
زمادغره په وینو سرې تیږې ډولۍ شوې
د سپرلي ناوې ته
غر مې د وینو او ګلونو د غه سرې سرې پګړۍ دواړه تړي.

❋❋❋

د وربځو اوښې مې د غره په تورو څنو
هر سهار څري
غر مې شپونکی دی
دشنوپاڼوپه شنولوښوکې دتوروشپوله تیو ځنې ستوري لوشي
غر مې رمو سره نارې د سرو لمرونو کوي
غر مې د وینو تار په لاس کې
له غوټیو نه جامې جوړوي.

❋❋❋

غر مې څېرې څېرې راخور دی
پر ټپي ګوربتو سیوری کوي
غر مې لاسونو د زخمي زخمي ګوربتو کې
له شپو سره جګړې ته

د رڼو ستورو لورونه کري

زما د غره ګوربت د زړه د رڼو وینود یاقوتو له دېرې نه

راته باد د ازادۍ وورويي

زماد غره نوم

دسرو وینو

او دګل

او ازادیو نوم دی

غرمې د وینو او ګلونودغه سرې سرې پګړۍ دواړه تړي.

۲۳/۱۲/۱۳۷۴

کابل

# خوب په ایینه کې

لمرشود شنو پرخو ښیښې یې راته ماتې کړلې
څه د ګلپېغلو لوپټې یې راته ماتې کړلې

ګوره ګوزار مې د پښتون اشنا څه سم ولګېد
زولنې پاتې شولې پښې یې راته ماتې کړلې

زما د زړه خم یې که تش کړ، تشوي دي خیر دی
څومره ظالمه ده پیالې یې راته ماتې کړلې

مایې د سترګو ایینې کې و یو خوب لیدلی
دې مې کور وسو ایینې یې راته ماتې کړلې

داسې سجدې سجدې چې وایې ړوندخونه یې ملا
چېرته سجدې وکړم کعبې یې راته ماتې کړلې.

۴/۱/۱۳۷۵

کابل

**ذبیح الله انیل ته:**

# له ابلیس سره

**کلونه وشول چې مې روح**

**دخدای د مینې د غوټیو په شینکۍ ځولۍ کې نه ځايېږي**

**ماد ابلیس اشنا د ښکلو سترګو پاڼوکې**

**د حسن اود مینې غوړولی څادر**

**خدای رانه کرکه لري**

**مګر شاعر ابلیس مې سترګو**

**اود شونډو جاودو دښتو کې لګیا دی**

**راته زړي د غزل کري**

**څوک مې دښکلې شاعرۍ په قدر نه پوهېږي.**

***

کله چې شپه شي

د خوږې ګناه د پېغلې د سرو شونډو جام پر سر واړوم

ابلیس د حورو د سرو شونډو د سرو پاڼو

کلیمې پټې کړي

اود غزل لونګین خور کړي زماد شونډو پر شاعرو پاڼو

کله دې خوب کې د ((حوا)) د چمبو غږ لیدلی؟

چې یې غزل ته ((آدم)) مست شي ان له شپې نه ترسبا

پورې

هغه چمبه، هغه غزل زه یم

نو ته چې ځې راپسې ژاړې ولې؟

لکه ابلیس درسره مل یمه زه.

۲۸/۱/۱۳۷۵

داستاد روهي په مړینه:

## هغه غر، هغه سیوری

ډک جـام مـیٰ لـه منګولـو د جانـان ونړېـده
یـو سـتوری لــه لمنـــې د اســمان ونړېـده
دا شپې به دکیسـو دزمـانې راتـه څـوک راوړي
ای عشـقه چـې ربـاب د ادم خـان نړېـده
یوشین قامت چې ړنګ دی اویوشین سیوری چې نـه شـته
یو ګټ مـې لـه دې غـره نـه د افغـان ونړېـده
حیران یم د غزل شبنم به خدایه چېرته تم شـي
زمـورږ چـې د شـعرونو سـایبان ونړېـده
څولیٰ بـه څنګـه ړنګـه د پښـتو دابـیٰ نـه وي
یـو غـر غونـدې روهـي د روهسـتان ونړېـده.

د ۱۳۷۵ل کال غبرګولی.

# بوير، مينه

هلته پر مړو ژاړي

خو زه او ته لکه جوړه بتکې

د غېږو غېږو څپو غرونو کې بربنډ ناڅو.

❋❋❋

هلته پر مړو ژاړي

هلته د وچې کربلا د تیږو ښار کې

د سرو وينو نالیدلې سرې غوټۍ ښکلوي

خو زه د کب په شانې

ستا دمچکو سمندر کې لامبم

ته لکه سره انګور په وينو لنده

زما د لاسو د ونې څانګو کې ټالونه وهې

موږ نه ((یزید)) او نه ((حسین)) لیدلی.

کابل

د عاشورا ورځ

۸/۳/۱۳۷۵

**پیرمحمدکاروان ته:**

# مینه او ژوند

**یوه زړه ونه خوره ده پرې**

**تر سیوري یې یو ځوان ناست دی**

**یوه سپینکۍ پیشو یې غېږ کې ویده**

**اود ورځپاڼې په هر توري کې یې سترې سترګې.**

**شونډې چلم ته ورنږدې کړي**

**ورنه واخلي د لوګیو امېل**

**ورو ورو په شونډو کې موسکی شي**

**د پیشو په غوږ کې ناري کړي او وایي چې:**

– پیشو تا مینه کړې؟

مینه د چرسو یوه شنه نشه ده

مینه ورځپانه ده

په ژوند کې یې پو ټکی د رښتیا نه شته.

– پیشو! پوهېږې چې ژوندون څه دی؟

ژوند دشنو چرسو د وریښمینې نشې شین واټ دی

چې د ارمان اس په کې وځغلي

او ستړی شي

او ومري په کې

او دکوڅو سپو ته یې تشه شان کیسه پاتې شي

پیشو! تا مینه کړې!

پیشو! ژوندون څه دی؟

۱۶/۳/۱۳۷۵

کابل

# کوچۍ په باران کې

ستورو د شپې پر تیو خولې ایښې ارام ویده دي
د شپې مانۍ نه دسپوږمۍ پېغله زلمو ونو ته نه راګوري
نری بارانووري
او د بادونو هوسۍ
د ځوانې دښتې د تیونو پرګلونو څري
هلته یو ستړی کوچۍ
دپټاسو دستمال په لاس کې د باران د طلایي مچیو
له شنې ورا تېرېږي
په لاره ځي، ځان سره وایي کوچي:
نری باران دی
له کېږدیو نه د سپو د ویښې غږ نه راځي
درخو به خوب وړې وي
دا خو به څوک ویښه کړي؟
ستورو درواغ وویل.

۲۱/۳/۱۳۷۵

کابل

# کله چې لمر ګل وکړي

کله چې ټال د شپې راوشلېږي

د سترګو په هنداروکې د لمر کوترې ځالې وکړي

کوترې سپین وزرونه پرانېزي

دخوب د شنوځنګلونوماتوڅانګو نه دانې ټولې کړي.

کله چې مخ د سهار ګل شي

اودشاتو مچۍ ټولې شي پرې.

کله چې کاڼي د ښوونځیو د تبیو تندی ښکل کړي

او ماشومه نجلۍ

له تور کمیس او سپین سالو سره په لاره کې خوره وره شي

لکه د وریځو او سپوږمۍ د ودېدلو شېبه

کله چې ووړ ماشوم د تورې تختې مخ باندې

د سپین تباشیر خال کېږدي

**او شېبه وروسته ماشوم وږی شي**

**د وور جزدان له واښکو نه د ږیو مهار لرې کړي**

**د وچې ډوډۍ ښکار وکړي**

**راشئ مین شئ پرې**

**او مینه وکړئ**

**زه چې زلمی وم هره ورځ مین وم.**

**۳۰/۳/۱۳۷۵**

**کابل**

# د باغ غزل

سپرلی شو پېغلې دښــتو تــه ورمــو کــې وایــي څــه
ای ونې! شــینکی بــاد درتــه نغمــو کــې وایــي څــه
شاعر سیند مې نن خدایزده چې لیکلــی کــوم غــزل
لړ تم شه ورتــه عشــقه! چــې څپــو کــې وایــي څــه
رمــو تــه د ګلانــو ســهار څــه ویــل شــپېلۍ؟
کوچۍ موسکا دې ګــوره چــې اینــو  کــې وایــي څــه
یو ورم دې کېــږدۍ نــه د ګرېــوان ووت څــه یــې وې
یــو خــوب دې پــه ټوکریــو د لیمــو کــې  وایــي څــه
یو باغ یې خو زرغون کــړ چــې غــوټۍ وکــړې لاســو
ستا خیال مې نور د سترګو په زانګو کــې وایــي څــه؟

۴/۴/۱۳۷۵

کابل

# یو شین انځور

له مانه څه شی غواړې؟

ماته د پلار تر مړینې وروسته

درې ځیزونه په میراث پاتې دي

اس

او هوجره

او یوه سره په وینو وللې توره.

***

له مانه څه شی غواړې؟

دغه د منډو

او د وینو

او ډوډۍ د واده شین انځور؟

۱۳/۴/۱۳۷۵

کابل

# بیه

کلونه وړاندې مې ورته ووې:

دا ستا د شونډو څاڅکی په څو دی؟

وې: ستا د پلار او د نیکه وینه

او نن مې بیا ترې، پوښتنه وکړه:

ټول پېغلتوب دې وایه په څو دی؟

راته یې ووې:

ګرانه!

یوازې یوه ډوډۍ!

۳۱/۴/۱۳۷۵

کابل

# دوه پربتې

دوه پربتې لکه جوړه بتکې

زما د کور په ایینو کې لامبي

❋❋❋

پربتې! ای پربتې!

لاس دې زرغون،

پل دې زرغون،

خو وایه نن دې راته څه راوړي؟

(( هغه زرغون ګل د سپوږمۍ څنو نه))

❋❋❋

پربتې! ای پربتې!

لاره دې سپینه،

شپې دې سپینې،

وایه تا راته نن څه راوړي؟

(( دا د سپینکي لمر د لاس سپینه توره))

❋❋❋

پر پګړۍ ګل،

لاس کې مې توره شنه شوه

پښتو! سپین آس شه

چې  د وخت د مغولو جنګ له ورځم.

۲/۵/۱۳۷۵

کابل

# ونه

سکروټې دي، لمبــې دي خــو ټــوکېږي يــوه ونــه
کلونــه پــس دې ښــار کــې زرغــونېږي يــوه ونــه

رګ رګ کې يې د پانو خير کــه وينــه پــاتې نــه ده
ريښــه يــې پــه اوبــو کــې ده غــوړيږي يــوه ونــه

د څانګو په کېږديو کې يو غږ د شــپېلۍ نــه شــته
کــوچۍ ښــارو رادرومــه چــې لــويږي يــوه ونــه

منم چې به لوګر راتــه کښــت لــو کــړي د لونګــو
تــالو نــه د لاره کلــه تېرېــږي يــوه ونــه؟

سپېرو ســپېرو شــملو تــه بــه ســبا ګلونــه راوړي
په سر مې چې نن سيورى کېږي يــوه ونــه.

۸/۵/۱۳۷۵

کابل

# دا جل، دا برسات

شوګیر چې درته شــپو پــر څنــو مــات راوړی دی
یو خوب مې درته سترګو کې ســوغات راوړی دی
دا ډک جام چې نن رېږدي په لاسو کې د فرغــون
موســی لــه کــوه طــور څنــې تــورات راوړی دی
دا چا ویل چې وږې د پښــتون شــولې هــوجرې؟
دې وږومیکائیــل تـــه هــم خیــرات راوړی دی
شېبه پر لمبــو ســره ده او شــېبه پــر ګلــو ســره
دې خــاورې کلــه جــل، کلــه برســات راوړی دی
ساعت وروسته رازېږو دا ســاعت خیــر دی چــې مــرو
تقـــدیر راتـــه بـــس دغســـې حیـــات راوړی دی
سپېڅلی مسلمان دی خو یې زده نه شوه ســجده
دې قام ته خدای دخپل غــرور زکــات راوړی دی.

۳۱/۵/۱۳۷۵

کابل

# د خوب کوترې

ما بېګاني خوبونه
د ښکلي سیند په طلايي هندارو ټول مات کړل
د خوب زخمي زخمي کوترې مې
د سترې او کوچي سیند د څپو کېږدۍ کې نه ځايېږي
کبه!
دا څه مې وکړل؟

❋❋❋

سیند مې د خوب زخمي کوترو ته یو بام نه لري
د سیند لاسونه خو د غره کاڼو پخوا پرې کړي
څوک به زما د خوب کوترو ته په لپو کې دانې ورکړي؟
کبه!
دا څه مې وکړل؟
کبه!
زما د خوب زخمي زخمي کوترو ته
یو سیوری، یو پناه خو شه!
کبه!
زما د خوب زخمي زخمي کوترو ته

**د ستړي درد دوا خو شه!**

**(( نه... نه!**

**مور مې لګیا ده له سهاره تر ماښامه په زړو ګوتو جامې مینځي**

**لور مې تمامه ورځ ایینې سره خبرې کوي**

**زما هم خوب راځي)).**

❋❋❋

**سیند لا روان دی**

**سیند بهېږي پسې**

**د خوب کوترې مې کوچۍ شوې بېرته نه ستنېږي.**

**۱۳۷۵/۶/۵**

**کابل**

# مات لمر

یو ستوری ستورو وواژه یو لمر د سبا مات شو
د غرونو په لاسونو مې یو غر د سبا مات شو

منم چې سپین سبا دی شپه کوچۍ شوه چېرته لاړه
موسم د سبا راغی خو وزر د سبا مات شو

دا بیا مې د نشو په ګناه څه نیسې زاهده؟
ساقي لاړه منصور شو او ساغر د سبا مات شو

دا شپې پرېږده اوږدې شي ان چې ستوري څانګې وکړي
کلاله! ستا په لاس کې چې هنر د سبا مات شو

موږ وړ د رڼا نه یو تښتېدلو ورېځو راشئ!
رهبر د سبا نه شته دی، لښکر د سبا مات شو.

١٣٧٥

کابل

# هغه دار- هغه چنار

پښـــــتنو وينـــــو غـــــوټۍ وکـــــړې بهـــــار دی
ســـاقي ګـوره چـې پېـړۍ وروســـته مــو وار دی
پـــوروړي څـــه د تـــاک د پېغلـــې نـــه يـــو
هــر يــو رګ يــې زمــوږ د ســرو وينــو ابشــار دی
زنــګ وهلــې تــورې غــړپ د لمبــو غــواړي
ســـاقي زار شـــم راکـــوه يـــې چـــې خمـــار دی
لا د ژيـــو ســـوداګر ســـره جګـــړه ده
لا خـــو پـــاتې جـــوړ د هغـــو اوبـــو ښـــار دی
ربـــاب ګونـــګ دی ادم هېـــرې چيغـــې غـــواړي
چـــا تـــرې وړی د درخـــو د غـــاړې هـــار دی
شـــنو زمريـــو ددې غـــرو تـــه خبـــر ورکـــړئ
چـــې ابـــاد لا د زړو بګـــوو غـــار دی
بيـــا پـــر غـــاړو د شـــملو غرونـــه اوچـــت شـــول
اور ګـــډ شـــوی د ټيکريـــو پـــر بـــازار دی

هــره پېغلــه ملالــۍ، هــر ځــوان ایــوب دی
هــر ســنگر مــو ســور میونــد د کنــدهار دی
وربځــو دا مــو د یــو څــو ســتورو نېــزې دي
لا کــاروان مــو د لمرونــو خــو پــه لار دی
ازمــوینې تــه یــې وختــه! څــه حاجــت شــته؟
یــو پــه دوو توتــو لــوی، بــل پــه انگــار دی
هــر یــو ښــاخ یــې چــې و دار د ژیــدارانو
هغــه وور نیــالگی هســک شــوی لــوی چنــار دی
تــه پــه نشــته غــوړ کــړه خــولۍ پــه ســر وړه
مــا ترلــی د خوشــال بابــا دســتار دی
اوس نــو زر لالــي د نــورو ترینــه زار کــړئ
چې مــې ځوړنــد خپــل لالــی پــر ســر د دار دی.

۳/۸/۱۳۷۵

کابل

# مینې ته...

مینې! له شرمه در کتلی نه شم

پېریان د ((قاف)) له غرونو راغلل

بیا د عشق د پرښتې د ګرېوانه غاړې ته لاس اچوي

ابلیس لګیا دی پر زمزمو، د ګناه خپله کېږدۍ غوړوي

مینې له شرمه در کتلی نه شم!

❋❋❋

مینې له شرمه درکتلی نه شم

سیلۍ الوتې زمورږ د باغ

د سرو ګلونو د ښایسته وو

پاکو میندو په کمځو کې تومتونه اوبي

مسیح تېره توره په لاس د تومتونو په

واټونو کې زنګېږي او خپل غم ته خاندي

نور په دې ښار کې لېونی د مینې پاتې نه دی

مینې له شرمه در کتلی نه شم!

❋❋❋

مینې له شرمه درکتلی نه شم

چې مو هر غر پر هوا خور شي دلته ځمکه، دلته خاوره

ترې د غرو په څېر ماران زېږوي

دلته جنده د یوه نر پر قبر هم نه شته

شیطان پر ځمکې بادشاه شوی او زمورږه پر سرونو

هغه تخت د سلیمان ګرځوي

پېریان یې حمد بولي،

مرغان پرې سیوری کوي،

اوبه زمورږ له لپو تښتي او بادونه مو په کانو ولي

دلته له زړه اسم اعظم هېر دی

مینې له شرمه درکتلی نه شم!

❋❋❋

مینې له شرمه درکتلی نه شم

نور مو د کلي د ګلونو په کاله کې

پېغلتوب د ګل غوټیو چېړته هم  نه شته

او  ابراهیم د خپلې ښکلې نازولې د جمال او د عفت

د لوټ کوځو کې د غارت قصې ته خوب وړی دی

نور مو د باغ نجونو ته ((هسکې)) او ((کړې)) شملې

دښمنې ښکاري.

مینې له شرمه درکتلی نه شم!

۱۶/۹/۱۳۷۵

کابل

# شپه

ای شپې!

راځه چې ځو د خوب په کرونده کې مې ځايېږي خونه

❋❋❋

شپه د کمڅو د غرونو ټال کې ځنګېدلې راغله

پلو د تورو وریځو

په کې پاولي د ستورو

لکه:

**کوچۍ پېغله رمه کې د ښایسته وریو**

**خو د سپوږمۍ هنداره ماته ده ای شپې!**

**ته به د خپل حسن**

**او عشق**

**د پېغلتوب تماشه چېرې وکړې؟**

**۱/۱۳/۱۳۷۵**

**کابل**

# غزل

بیــــا رانغلـــــې بنــــو تـــــه پــــه پســــتو وزرونــــو
زمـــا د خــــوب کـــــوترې ســــتا د ســــترګو لــــه بــــامونو
څلـــو وهلـــي ګـــوره څــــه خـــواره واره پــــرې ګرځـــي
د شــــونډو بوراګـــــانو مــــې ســــتا د شــــونډو پــــر ګلونــــو
په خپل شرنګ به ویده شمه، په خپل شــرنګ بــه راویښ شــم
بنګــړي مــــې کــــړه د لېچــــو ګرځــــوه مــــې پــــه لاســــونو
زمـــا مینـــــه یــــو ســــیند دی او ســـــتا زړه ووړ کــــوټی کلــــی
دا ســــــیند چېرتــــــه جانانــــــه او کېـــــږدې د حبـــــابونو
لاښــــکاري چــــې مـــوده لېونتـــوب مـــې پـــوره نـــه ده
یــــو څــــوک راتــــه نــــارې وهـــــي د غرونـــــو لــــه ســــرونو.

۱۳۷۶ ورې

کابل

# ژوند

ښايي چې ژوند يو ګنهکار وي

چې تراوسه پورې

لا د زمان د اسماني سکوت

د دنګو، دنګو غرو غاړو کې

لکه پر غز ((حنيفه))

چې د الله د مخلوقاتو د ((قاتل))

او د سرو وينو د سېلاب د بهوونکي په نوم

د خدای له شرمه

زنداني د تورې ځمځې پاتې

هاسې د خپلو سرو غچونو

په کوم خوب تللی وي

**ځکه:**

**د ژوند د بنده ګانو هغه شنه خوبونه**

**د شیطانانو**

**له تورجنو خوبو**

**تور پاتې شول.**

**۱۳۷۶**

**کابل**

# دا هوجرې او دا شملې

نه ساقي شته، نــه جانــان شــته مــازيگر دی
څـــومره تـــږی د پېړيـــو مـــې ســـاغر دی

پسرلی نه دی پـرې نـوم د سـپرلي مـه ږدئ
ډوب په وينو کې يو سـور چريـک د لمـر دی

د نـــارنجو ښـــاخ مـــنم ورتـــه بنګـــړی شـــو
خو مات شوی مې مړونـد د سـپين سـهر دی

نـــازولې ســـپوږمۍ مـــه خپـــږه شـــه تمـــه
چـــې د وريځـــو اوښ ولاړ درتـــه پـــر ســـر دی

شنه منګي مې د جنکو پـر ولـو مـات شـول
د نـــامرده مغـــل يـــون پـــر دې ګـــودر دی

رانـــه اخلـــي د رڼـــو ســـتورو نـــاموس مـــې
چې ویده د شـــپو پــه تیکــو کــې خنجــر دی

ته دې غشـــي وروره ګونـــدې چـــې ویښ شـــم
لامـــې پـــاتې ځـــای پـــه زړه کـــې د پرهـــر دی

د دېـــرو د قـــام شـــملې ورنـــه لـــوګی کـــږئ
د هـــوجرو طالـــب ختلـــی پـــه ســـنګر دی.

۱۹/۱/۱۳۷۶

کابل

# لیک

څو میاشتې وشوې چې در تللی نه شم

لارو کې ډبرې شنې دي

ګلان د اوښکو وروم پرې

ټوله ورځ د ستا د یاد ښکلې زانګو زنګوم.

✵✵✵

همدا چې لمر شین شي

زموږ د ښار هغې زړې دښته کې

زموږ د ښار مین په کاڼو ولي

زموږ په ښار کې د مینو د سنګسار پسرلی بیا راغلی

نو لوپټه دې غواړم

په کې د خپلو تورو سترګو یو انځور

د نارنجي غړ پر وریښمینو تارو واوبه

راویې لېږه

**چې ستا د ياد هغه خيالي حورې مې**

**زانگو نه باد يو نه سي**

**راته سنگسار يې نه کړي**

**څو مياشتې وشوې چې درتللی نه شم**

**لارو کې ډبرې شنې دي.**

**۱۲/۲/۱۳۷۶**

**کابل**

# مړوند

مړوند یو خوب، مړوند ستړیا نه لري

مړوند د غره د ابۍ پۍ رودلي.

❋❋❋

تا د سکندر کله ژړا لیدلې؟

یو سپین مړوند پرې د سرو تورو ګوزارونه کوي

یو سپین مړوند یې د غرور د اسویال رېبلی

❋❋❋

سکندر له لیرې لارو راغی د فیلانو له سرو تېر شوی

سکندر د پاروپامیزاد ښاپېریو شنه خوبونه ویني

یو سپین مړوند ورته جګړې ته وتی

ورباندې تندر د مړوند ووري

خو ای  د سپین مړوند ((روښانه)) پېغلې

**توريږ په ورو،**

**توريږ په پام وروه**

**سکندر په توريږ هغه سپينه ډوډۍ نيمه کړله**

**نقاب دې سپين مړوند ته اور واچاوه.**

**۱۹/۲/۱۳۷۶**

**کابل**

# د لور غزل

پلــو پــرې د مــخ خـــور کـــړه غوړېـــدلي دي ســـرونه
جانانـــه! ســـتا وربـــل تـــه مـــورې کرلـــي دي ســـرونه
دې قام ته د منصور وايه کوم دار شته دی که نه شـــته؟
لـــوګرو کـــه هـــر څـــو ورنـــه رېبلـــي دي ســـرونه
د يـــار د ســـينې دښـــته کـــې د هـــار نســـيمه وروځـــه
غمـــي نـــه دي دې تـــال کـــې زنګېـــدلي دي ســـرونه
څراغ چې شي دې دښته کې د وخت ستړي کاروان ته
پـــه لـــوړ ښـــاخ د چنـــار کـــې ځړېـــدلي دي ســـرونه
چې سرې سيلۍ شوې ګونګې او د لـــور غـــزل يـــې وچ کـــړ
هـــر ګـــل مـــو هـــرې پـــانې تـــه ښـــندلي دي ســـرونه
ايرې شول خـــو يـــو چـــم د ټيټېـــدلو يـــې زده نـــه کـــړ
الله مـــو د غيـــرت پـــر لمبـــو وللـــي دي ســـرونه
رقيب پـــر ډمـــو وپلـــوره مـــورې ســـر داو کـــړ پـــر حـــورو
يـــو چاتـــه پـــه ســـوغات کـــې مـــو لېږلـــي دي ســـرونه.

۲۵/۲/۱۳۷۶

کابل

# غزل

سپرلی که راوړی نه شــئ تــرې د ســترګو انځــور راوړئ
دې شــپو تــه ســبا نــه شــته یــوه لپــه د نــور راوړئ

منم چې یو سر نه شته دی چې غــج یــې د ســر واخلــي
دې دار ځنــــې ملګــــرو خـــو دا ســـر د منصـــور راوړئ

چې پښو لاندې کړ وریځو، چې د شپو ډمې پرې خانــدي
د لمـــر تیـــي آســـونو نـــه لویـــدلی غـــرور راوړئ

د سترگو تور مو بــار کــه د ((يعقــوب)) کــړ پــر اوښــانو
دې وربې مېلمنـــــې تـــــه لــــړ د ســــتورو انگــــور راوړئ

راځي چې تور ماښام کـې رانــه وړي چـې زلمـی عقـل
يــوه يــې لــه تــاکونو نــه پــه بــدو کــې لــور راوړئ

پــه شــوندو کــې همــت کــه د خنــدا راوړلــو نــه شــته
دې ښــار تــه خــو تــابوت د ځوانيمرگــه ســرور راوړئ.

۱۶/۳/۱۳۷۶

لغمان

# زما د چم ونه

زما د چم ونه بربنډه ده

شرمېږم ورنه

د باد رهزنو ترې د شنو پاڼو جامې وړې دي

په سپین ټټر یې یو څو څاڅکي دي د خامو پیو

څانګې یې زړه رووي،

تیونه یې ارې وړي دي.

❋❋❋

ونې! سپرلی دی

واورې نه شته چې کفن شي درته

زما د مور شنه لوپټه هم بېګاه غلو وړې ده

ما مې خيالي څادر ګرو کړ

ــ د کلو وړی وم ــ

د پلار شمله خو مې له وخته توپانو وړې ده.

❋❋❋

زما د چم ونه بربنډه ده

شرمېږم ورنه

مور مې سر توره ده

ټيکری نه لري

نه څه شمله شته

نه څه خوردی څادر

زمونږ دېرې مازيګری نه لري.

# یو سیوری، یو ګل

مرغوا! چوپ شئ ماله خوب راځي

دلته د زړونو باغچې شنډې دي

یو سیوری او یو ګل نه شته

دلته د سین سپینو هندارو کې

د لمر

د طلایي کبانو رنګ تور شو

دلته د شونډو د موسکاوو هوسۍ

قتلې شولې

غشو یووړې

او بنګړیواله سپوږمۍ

دلته د تاک پېغلو ته

د ستورو بنګړي نه اچوي

مرغیو!

چوپ شئ

ماله

خوب راځي

مرغیو چوپ شئ ماله خوب راځئ!

❋❋❋

دلته د باغ د شهزادګۍ بکارت مات دی

د سپرلي ښکلې شهۍ

د قاف دېوانو وږې

دلته پر ونو

د ((ایوب)) سیوری راخور دی

هرې پاڼې

هر اندام نه یې چینجي ووري

دلته تیارې

د شپو په بلاربو اسپو راغلې

د رڼا درمو لو کوي

**دلته کورونو ته**

**د ژوند له شوم شیروار نه د سپېدو کتموې تشې راځي**

**مرغیو!**

**چوپ شئ**

**ماله**

**خوب**

**راځي.**

**۱۲/۴/۱۳۷۶**

**کابل**

# ګناه

څومره نېکمرغه  یم ګناه کومه

تمامه ورځ وریځې د باد له ژرندو باسم

او د لمر په تناره کې پسرلي ته  ترې ډوډۍ پخوم

څومره نېکمرغه یم ګناه کومه.

✵✵✵

زما د کور دا دېوالونه

د څو خاورو

څو اوبو

او د څه لمر

څو  ترکیبونه نه  دي

زما له کوره  دېوالونه د ښیښو راتاو دي

زما او زما د کاله خته یې

د تاک

او د انګورو

او  شرابو

په لاسو ایښې ده

ما مې د سترګو د رڼه نور په وسعت

دومره شراب څښلي دي.

***

دومره مغرور یم چې

د هسک د نازولي دربار سیوري لاندې

خپله ځواني راته پېغور ښکاري

خو مانه لوی غلام د ښکلو  نه شته

یوه شېبه زما د لاس بېړۍ

د ښکلو د سینو په سمندر کې

سترې شوې نه ده

زه لکه پلار هسې یم

پلار مې تر مړینې نه یوه ګړۍ دمخه هم

د شنو غنمو وړو لاندې

زموږ د کلي د بزګر له ارتینې سره بربنډ پروت و.

۱۳/۴/۱۳۷۶

کابل

# کله چې لمر شین شي

کله چې لمر شین شي

ستادیادونوشنه ګلان مې د زړګي پرمساپرې دښتې ځانګې وکړې،

وغوړیږي

کله چې لمر شین شي.

✵✵✵

کله چې لمر شین شي

ستا دیادونو طلایي کبان په ښکلو او زرینو وزرو

زما د سترګو په چینو کې ستا د سترګو تصویرونونه خوبونه مینځي

کله چې لمر شین شي.

❋❋❋

کله چې لمر شین شي

ستا دیادونو هغه پښغله هوسۍ راشي

تر ببګاه زما د زړه په جل وهلیو کروندو کې څري

کله چې لمر شین شي.

❋❋❋

زما د زړه دښته کې څاڅکي دباران نه ووري

زمادسترګوچینه وچه ده،د اوښکومرغلرې ورنه غلو وړي دي

څوکاله وشول چې رېلۍ مې د زړګي پرفصل ووري او کېږدۍ مې

توپانونو وړې

نو ستا د یاد هغو ګلونو ته باران،

هغو کبانو ته اوبه،

اودې هوسۍ ته به شپونکی څنګه شي.

❋❋❋

بېګاه شپونکی باد ستا د څنو له غرو راغی

په پګړۍ کې يې يو ټکی د يو ګل نه و

له نرۍ ملا نه يې لمر هغه زرین وستنی نه و راتاو

چاپې په تشې او ریښې ریښې بخڅۍ کې يود ستورونارنج نه وایښی

نور مې په کلي کې باد نه چلېږي، باد هم مساپر شو ورنه

څومره تنها،

څومره يوازې ده

زما دکلي ښکلې نازولې سپوږمۍ.

❋❋❋

بېګاه مې خوب لیدلی:

زموږ دکلي دچنارو تر شنو سیورو لاندې

پر هغو لویو پلنګي کټونو

**یو څو کارغان ناست دي**

**ږلۍ د لښتو  وروي،ګډوي ځان ته زموږدکلي سپینې هیلۍ**

**زموږ د کلي په دېره کې د چلمو د کړو وړو لوګیو پر ځای**

**خورې ورې دي د ښایسته هیلیو تکې سرې د پېغلو وینې**

**کلي کې یو سیوری د برېتو**

**او یو شرنګ د سپینو تورو نه شته**

**رښتیا!**

**د کلي په دېره کې**

**د زلمیو څنورو**

**د اتڼ هغه سکنی ماښام درياد شي که نه؟**

❋❋❋

**ستا دیادونو شنه ګلان مې**

**د زړګي پر مساپرې دښتې څانګې وکړي**

**وغوړېږي،**

کله

چې

لمر

شین

شي.

۱۲/۷/۱۳۷۶

پېښور– پښتونخوا

# غزل

څه ښکلی سوداګر دی څومره ښکلی بــاران پلــوري
یو اس د ســپینو وریځــو دی د وریځــوګلان پلــوري

د ستورو په تېښــو یــې جــوړې کــړي ورتــه څنــې
نن دلته په دې چم کــې یــو کــافر دی بتــان پلــوري

یو بار یــې د رنــګ راووړ د ســپرلي جــوارګر ګــورئ
چې څومره یې ګران راووړ چې یې څــومره ارزان پلــوري

**یو شین لوګی راخــوردی یــو ســور اور دی لګېــدلی**
**یو مست زردشت راغلــی دی یــو غلــی اذان پلــوري**

**بازار يې د نور لــوټ کــړ د اســمان ســپینې کــوترې**
**له لمر څنې ټیک اخلي اود ســتورو کــاروان پلــوري**

**د باد په نیلي سپور د ســهار ســپین شــهزاده راغــی**
**د شپو بربنډې پېغلې پرې شلېدلی ګرېــوان پلــوري.**

**۱۳۷۷ کال د پسرلي لومړۍ شپه**

**لغمان**

# یو باد، یو منصور

یـــو بـــاد رالګېـــدلی مالـــه ځانـــه ســـره وړي
د زړه اس مـــې لـــه بـــاره د ارمانـــه ســـره وړي

د شپو پراوښ یو غـل دی زمـوږ کلـي تـه راغلـی
ګلونـــه او باغونـــه لـــه باغوانـــه ســـره وړي

یو پل وم چېرته لرې ســتا پـر لاره زرغـون شـوی
یـو لـوټ مـې اوس لـه بادولـه بارانـه سـره وړي

یو څوک دی ستا لاس شراب یې تهول راځنــې وڅښــل
دا سره کېږدۍ د خوب مــې لــه توپانــه ســره وړي

زموږه یې په سترګو کــې د شــپو دوړې شــیندلي
دا لوی کاروان مــو څکــه لــه څاروانــه ســره وړي

ناري د اناالحق یــې ورتــه وچــې کــړې پــر ژبــې
منصــور وطــن مــې دارتــه لــه ایمانــه ســره وړي

۱۷/۱/۱۳۷۷

لغمان


Yoon Cultural Foundation
د پښتو ادب
لرغونې دوره
لیکوال: لومړی ټولګی
کتونکی: محمد اسمعیل یون
۱۳۸۹ لمریز کال

# د پښتو ادب

# لرغونې دوره

لیکوال

لومړی ټولګی

کتونکی

محمد اسمعیل یون

۱۳۸۹ل کال

# بسم الله الرحمن الرحيم

## كتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د كتاب نوم: | د پښتو ادب لرغونې دوره |
| ليكوال: | لومړی ټولگی |
| كتونكی: | پوهندوی محمد اسمعيل يون |
| خپرندوی: | يون كلتوري يون |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | ٣٦ |
| چاپشمېر: | ١٠٠٠ ټوكه |
| چاپكال: | ١٣٨٩ل كال |
| كمپوزر: | ضياءالرحمن ضياء |

## سریزه:

# د پښتو ادب د نیمې پېړۍ

# ادبي پېښه

پوره پنځوس کاله یا نیمه پېړۍ کېږي چې (پښــتو ځانګــه) د کابــل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په چوکاټ کې د یوې ځانګړې ځانګې په توګه فعالیت کوي، همدا سږ (۱۳۸۹ل) کال یې د خپلې پنځوســمې دورې فارغان ټولنې ته وړاندې کړل. دې ځانګې ددې نیمې پېړۍ بهیر کې (دوه زره تنه) زیات و کم کادرونه ټولنې ته وړاندې کړي، چې له دې جملې څخه اکثرو یې د هېواد ژبــې او فرهنــګ تــه نــه هېرېــدونکي خدمتونه کړي دي.

د پښتو ځانګې هر فارغ د پوهنتوني اصولو له مخې د خپل فراغت په وروستي سمستر کې یو مونوګراف (پایلیک) لیکي. مونوګراف اکثــره، علمي، تحقیقي او تحلیلي بڼه لري. په پښتو ځانګه کې یو زیات شــمېر فارغانو خپل دا وروستي کارونه په ښــه ډول ترســره کــړي دي. کــوم مونوګرافونه چې په پښتو ځانګه او د کابل پوهنتون په عامه کتابتون کې موجود دي، شمېر یې تر (پنځه سو) عنوانو اوړي، ددې مونوګرافونو ډېر کم شمېر (یوازې په شمار څو مونوګرافه) چاپ شوي، خو پــه دې کــې داسې مونوګرافونه هم شته چې په بیا بیا چاپ ارزي. پر (۱۳۷۶ل) کال

ما (د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پنځوسو کلونو پښتو کتابښود) چاپ کړ او د هغه په ترڅ کې مې د ژبو او ادبياتو پوهنځي ټول ليکل شوي او يا زما لاس ته راغلي مونوګرافونه په ترتيب سره معرفي کړل، زما هـدف دا و چې يو خو دا پايليکونه خلکو ته ور وپېژنم، بل د پښتو څانګې کړی کار څرګند کړم، د تکراري مونوګرافونـو د ليکنـې مخـه ونيسـم او ددې ترڅنګ د پښتو ادب مينوالو ته د ځينو هغو پايليکونو څرک ولګوم چې د چاپ اړتيا يې احساسېږي او په چاپ ارزي.

تر هغه وروسته د پښتو څانګې هغو محصلينو، چې له مـا سـره يـې مونوګرافونه نيولي، ما ورته اکثره نوې موضوعګانې ټاکلي چې تر پخوانو هغو يې بشپړ توپير درلود او تر بشپړاوي وروسته يې ځينو د چاپ لاره هم خپله کړې ده. (يو کم شل کاله) کېږي چـې زه پـه پښـتو څانګـه تدريس کوم، سره له دې چې ما د پښتو څانګې په بېلابېلـو ټولګيـو او ناپښتو څانګو دواړو کې تدريس کړی، خو زياته هيله مې دا ده چې زه د پښتو څانګې په لومړي ټولګي کې تدريس وکړم، علت يــې دادی چــې نوي محصلين له نوې روحيې سره راځي، که د دوی هيلې په پيل کــې مړاوې شي، نو د تحصيل په بهير او تر هغه وروسته دوی د خپلې ودې او شخصيت جوړونې يوه پاموړ برخه انرژي له لاسه ورکوي. د تېـرو لســو کلونو په بهير کې زه اکثره پر همدې لومړيو ټولګيو درس لرم، د درس په پيل کې زما هيله همدا وي چې د دوی هيلې او ټولنيز شعور وده وکړي، د ليکوالۍ او شاعرۍ مهارتونه زده کړي، د جرئت وزرونه يې وغوړېږي او

لکه د طالبانو په څېر د نطق او منطق په وسله سمبال شي، دا مې هم ورته ویلي چې پښتو ژبه کې مادي امتیاز نه شته، خو ستاسو شخصیت په کې جوړیږي، خو دې کې هم شک نه شته که څوک د بل هر مسلک په شان په دې مسلک کې هم ځان ورسوي، نو د لوی خدای(ج) په فضل به په دې مسلک کې هم د ډوډۍ خاوند شي. پښتو ژبې، ملي فرهنگ او ملي هویت ته کار کول پولادي هوډ غواړي، نو که غواړئ چې ځان دنیاوالو سره سیال کړئ، د مایوسۍ او نهیلۍ یوې څپې ته به هم په زړه کې ځای نه ورکوئ. په پښتني چاپېریال کې مې د شخصیت جوړېدنې پر ستونزو او د ادبي هلو ځلو پر وړاندې د پرتو خنډونو او حل لارو په باب هم ورسره خبرې کړې، د دوی دلایل مې هم اورېدلي او په گډه مو د ستونزو حل لارې هم پیدا کړي دي. ډېر کوښښ مې کړی چې د استاد او شاگرد ترمنځ د وهم کوم حد او برید چې دی هغه له منځه لاړ شي او ځای یې صمیمیت او انډیوالي ونیسي، خو ددې ترڅنگ مې ډېره هڅه کړې چې د زده کوونکو طبیعي استعداد په طبیعي ډول وده وکړي او د چا حقوق تلف نه شي. د معمول په څېر مې د سږ کال د لومړي ټولگي په لومړي سمستر کې دوی ته داسې کورنۍ دندې یا سیمینارونه وسپارل چې دوی پرې لیکنې وکړي او بیا دا لیکنې د خپلو ټولگیوالو مخې ته ولولي او د هغوی پوښتنو ته ځوابونه هم ووایي. دا پروسه که څه هم ټکنۍ وه، خو پر ټولو تطبیق شوه، دې سره د دوی جرئت یو څه زیات شو. زه پر دې پوهېدلم چې دوی د لومړي ځل لپاره د گڼو مخاطبینو په

مخ کې ودرېږي، د هغوی پوښتنې ځوابوي، نو څومره رواني فشار به زغمي، خو دا بهیر ورځ پر ورځ ښه کېده. د دوی هغه لیکنې یوازې د ټولګي په کچه وې، خو ځینې په کې داسې هم وې چې په چاپ ارزېدلې. د همدې ټولګي په دویم سمستر کې مې ورته وویل: ((کوښښ به کوو چې رسمي درس ژر خلاص کړو او تاسو پوره وخت ولرئ چې خپل سیمینارونه برابر کړئ.)) تر امتحانونو یوه میاشت دمخه مو د کریکولم مطابق رسمي درس ختم کړ، دوی ته مې د پښتو ادب د لرغونې ادبي دورې په باب شپږ پنځوس بېلابېلې موضوعګانې وټاکلې، هر محصل ته مو یوه موضوع غوره کړه او ورته ومې ویل چې په دوو اوونیو کې درنه د یادې موضوع بشپړاوی غواړم. د پښتو ادب د لرغونې دورې په باب بېلابېل اثار لیکل شوي، خو ما چې کوم اثر عملاً تدریساوه هغه (د پښتو ادب لرغونې او منځنۍ دوره) د ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل اثر دی چې لرغونې دوره یې په ښه منظم او سیستماتیک ډول تشریح کړې او د یوه ښه تدریسي اثر په توګه ورځخه پوره ګټه پورته کېدی شي. څرنګه چې محصلین له لرغونې دورې سره اشنا شوي وو، نو ما هم د دوی د عملي تحقیق او تحلیل لپاره په بشپړ ډول همدا دوره وټاکله او د دې دورې د بېلابېلو اړخونو لپاره مې شپږ پنځوس موضوعګانې ورته غوره کړې، دا ټینګار مې هم پرې وکړ چې که چا کورنۍ دنده پوره نه کړه ازموینه ترې نه اخلم. ځینو د یوې اوونۍ، ځینو د دوو اوونیو او ځینو ان د کلنیو ازموینو تر وروستي وخته پورې خپلې دا کورنۍ دندې پوره

کړې، ما یې هم د هرې لیکنې له رارسېدو سره سم پر کمپوز پیل وکــړ، ګران ورور ضیاءالرحمن ضیاء دې کــور ودان وي، دواړو ورتــه دفتــري کارونه خوشې کړل او د عوامو په اصطلاح همدې کــار تــه اړم شــو. ده کمپوزول، ما ایډېټ کول، د دویم ایډېټ لپاره مې د پښتو څانګې فارغ التحصیل ښاغلي مجیب الرحمن امیري ته ورکړل، هغه هم وکتل، درېیم سمون بیا ما وکړ، د ټرېس د کتنې لپاره مې ګران ورور وفاالرحمن وفا ته ورکړ، د هغه له خوا په ګوته شوې تېروتنې مو بیا سمې کړې او نور نــو کتاب د چاپ مزل پیل کړ. په پای کې همدا اثر چې ستاسو په لاس کې دی، ترې جوړ شو.

دې کې شک نه شته چې په دې اثر کې څه ناڅه خامۍ او نیمګړتیاوې لیدل کېږي، خو ګټې او بریاوې یې تر خامیو او نیمګړتیاوو ډېــرې دي، ځینې مقالې په کې خورا ښې دي او د تحصیل د لومړي کال په بهیر کې د داسې لیکنو لیکل سړي ته دا هیلې په زړه کې روزي چې په نړۍ کې هېڅ داسې طاقت ددې وس نه لري چې زموږ ملت او ژبه د ژوند له بهیره او د تاریخ له حافظې څخه وباسي. څومره بختور وي هغه سړی چــې د یوه کال په بهیر کې په خپل لاس د ایښودل شویو نهالګیو مېوه او ثمر ترلاسه کړي، تراوسه پورې به داسې کم مالیاران پیدا شوي وي چې بڼ یې په یوه کال کې ثمر ته ورسي، زه ځان د لوی خدای(ج) له درباره ډېر مشکور ګڼم؛ داسې دنده یې راوسپارله چې په یوه کال کې مې مېوه ترې ترلاسه کړه.

زه بیا هم وایم چې زما د دې ګرانو محصلینو پــه ځینــو لیکنــو کــې نیمګړتیاوې شته، لکه د اخځونو ناسمه لیکنه، د مخونو نه یادونه، لــه ځینو اثارو کټ مټ را اخیستنه، په ځینو برخو کې د لیکنو ورته والی، څه ناڅه موضوعي تداخل او ځینو ځایونو کې څنګزنې څېړنه او ځینې نورې دا ډول نیمګړتیاوې، خو زه وایم چې دا ډول یو اثر له همدې ډول طبیعي نیمګړتیاوو سره خوند کوي؛ ما قصداً ونه غوښتل چې د دوی دا ډول تېروتنې چې طبیعي بڼه لري، په وچ زور سمې کړم، البته ځینــې لیکنې مې چې محتوايي ربط يې خطا شوی او لیکنه له خپــل مســیره وتله، هغه مې سمې کړې؛ ځینې جملې مې حذف کړې او ځینې نــورې مې ورسره تړلې او دا په دې نیت چې ډېرې محتوايي تېروتنې ونه شي. ځینې لیکنې دومره خوږې دي چې که د محصل نوم ترې حذف کړې، نو فکر به وکړې چې ډېرو پخو څېړونکو لیکلې دي. ددې ټولګې ښه والی په دې کې دی چې په دې لیکنو کې د تحقیق له بېلابېلو اصــولو کــار اخیستل شوی، هم د ساحوي تحقیق بېلګې په کې شته، هم د کتابتوني او هم د عملي او تحلیلي تحقیق ټول ډولونه رانغاړي.

زه چې اوس دا لیکنه کوم نو په سترګو کې مــې لــه ډېــرې خوښــۍ اوښکې ګرځي، محصلین او زده کوونکي سړي ته د خپل اولاد په څېــر وي، زه چې کله په ټولګي کې د دوی پر وړاندې ولاړ یم، نو فکر کوم چې (هیلې، سمسور، سولې او ودان) ته درس ورکوم، د دوی دا لیکنې چې ګورم نو هم فکر کوم چې زما خپلو اولادونو لیکلې؛ دومره خوند تــرې

اخلم. که د محصلۍ د تدریس زماني حــدود او زمــا خپلــې تــولنیزې، فرهنګي او سیاسي بوختیاوې نه وای، نو پوره یقین لرم چې دا اثر تر دې هم بډایه کېدی شو، خو اوس هم چې ورته ګورې د داسې یوه ډله ییــز تحقیق او تحلیل مجموعه ده چې افغانستان کې یې تر اوسه بېلګه نــه ده لیدل شوې. دا اثر که څه هم یو تدریسي کتاب نه دی، خو د پښــتو ادب د لرغونې دورې په باب د یوه ښه مرستندوی تدریسي اثر په توګه کار ورکولای شي، ان که د ژبو او ادبیاتو پــوهنځي د پښــتو ادبیــاتو د لرغونې دورې کوم مدرس، د لرغونې دورې په باب کوم ښه اثر ونه لري، نو له دې اثر څخه د یوه تدریسي اثر په توګه هم کار اخیستلای شي. زه نه غواړم د دې اثر په باب زیاتې څرګندونې وکړم، ځکه خپله اثر ستاسو مخې ته پروت دی. دا چې دا اثر مې ( د پښتو ادب د نیمې پېړۍ ادبــي پېښه) بللې، دلیل یې دادی چې ددې زماني واټن په بهیر کې داسې یو اثر نه و رامنځته شوی، چې د نظري تدریس او عملي تحقیق د امتزاج په بهیر کې دې راټوکېدلی وي؛ دا کار د پښتو څانګې په ټول عمر او نه هم تر هغې بهر ترسره شوی و، خدای(ج) دې وکړي چې زموږ د ځوان ادبي پښت له خوا نور هم دا ډول نوښتونه رامنځته شي. په پای کې غــواړم یادونه وکړم چې دا اثر لس لس ټوکه له (سي ډي) سره د محصلینو په واک کې ورکول کېږي، د انټرنېټ په څپو کې به هم د مطالعې وړ وي او د افغانستان په بېلابېلو پوهنتونو کې د ادبیاتو پوهنځیو پښتو څانګو ته به هم رسول کېږي.

د لغمان ولایت له قدرمن والي ښاغلي محمد اقبال عزیزي څخه هم ډېره مننه کوم چې زما له وینا پرته یې په ورین تندي د کتاب د چاپ لګښت ومانه، داسې وخت به راشي چې د عزیزي صیب د ولایت مقام به پاتې نه وي، خو دا خدمت به یې پاتې وي. له خپلو ګرانو ورونو وفاالرحمن وفا او ضیاءالرحمن ضیاء څخه چې اوس مهال زما د فرهنګي کارونو دوه متې دي، هم ډېره مننه کوم چې په دې لنډ او تنګ وخت کې یې ددې اثر په کمپوز او ایډېټ کې خپله ونډه واخیسته او همدارنګه له ګران ورور مجیب الرحمن امیري څخه د هغه د سمون له امله ډېره مننه، ګرانو او خوږو محصلینو ته مبارکي او کورنیو ته یې کور ودانی وایم، هیله لرم ټول د پښتو د بډاینې او ملي فرهنګ د غوړونې لپاره همداسې یو بل ته لاسونه سره ورکړو.

په فرهنګي مینه او درناوي

پوهندوی محمد اسمعیل یون

ارګ- د جمهوري ریاست مانۍ

۱۳۸۹ل کال د جدي ۶مه نېټه

محمد الیاس- د پښتو څانګې د لومړي کال محصل

# د پښتو لرغونې ادبي دورې

# کرونولوژي



۱- د لوی داریوش د اریانا پاچا پر وخت (۵۲۲ق.م) څخه تر (۴۸۶ق.م) د بېستون په غـره کـې یـوه اخلاقي حماسه رامنځته شوه.

۲- پر (۱۳۹هــق) د غور په مندېش کـې د امیـر کروړ پاچا کېدل.

۳- پر (۱۶۳هــق) کال د لویکانو د کورنۍ یو بیت د پښتو ادب ته راوړل.

۴- (۱۵۴هــق) د امیر کروړ وفات او د پښتو لـومړنی شـعر رامنځتـه کېدل.

۵- د (۲۲۳هــق- ۲۹۷هــق) کلونو حدودو کې د ابو محمدهاشم ابـن زید السرواني د ژوند دوره او له عربي ژبې څخه پښتو ته لومړۍ منظومه ژباړه.

۶- (۳۵۰هــق- ۴۰۰هــق) کال د شیخ رضي او نصر لودي پاړکي.

۷- پر (۳۵۰هــق) کال د بېټ نیکه مناجات.

۸- (۴۱۱هــق) کال حدود د اسماعیل د ژوند دوره او پښتو ادب تــه د لومړیو څلوریزو راتګ او (۴۰۰هــق) کال حدود د خرښبون د ژوند دوره او پښتو ادب ته د نورو څلوریزو راتګ او پر (۴۱۱هــق) کال د خرښبون مړینه.

۹- (۴۲۵هــق) کال حدود د شیخ اسعد سوري د ژوند دوره او پښـــتو ادب ته د قصیدې راتګ.

۱۰- (۵۵۰هــق) کال حدود د شیخ تیمن کاکړ د ژوند دوره او پښتو ته د یو بل شعر راتګ.

۱۱- د (۵۸۰هــق) په شاوخوا کې د ښکارندوی غوري د ژونــد دوره او پښتو ته د یوې شاهکارې قصیدې راتګ.

۱۲- د (۵۸۰هــق) په شاوخوا کې د ملکیار غرشین د ژوند دوره او پښتو ادب کې د یو پاړکي ویل.

۱۳- د (۵۸۰هــق) په شاوخوا کې د تایمني د ژونــد دوره او د تــایمني شعر د سلطان غیاث الدین په ستاینه کې.

۱۴- (۶۰۰هــق) کال حدودو کې د قطب الدین بختیار کاکړ د ژوند دوره او پښتو کې د قطب الدین سندره.

۱۵- له (۶۸۸- ۶۳۳هــق) کال پورې د شیخ متي د ژونــد دوره او دده کتاب ( د خدای مینه) او دده شعر.

۱۶- له (۷۴۰-۶۶۱هــق) کال پورې د باباهوتک د ژوند دوره او د مغولو په مقابل کې دده شعر.

۱۷- د (۷۴۷هــق) حدودو کې د شیخ ملکیار هوتک د ژونــد دوره او دده اشعار.

۱۸- د (۷۸۰هــق) کال په شاوخوا کې د اکبر زمینداوري د ژوند دوره او پښتو ته د لومړي غزل او مثنوي راتگ.

۱۹- له (۸۹۴-۸۵۵هــق) کال پورې د سلطان بهلول لودي د ژوند دوره او د هغه رباعي د خلیل نیازي په مقابل کې او د (۸۹۰هــق) کــال پــه شاوخوا کې د خلیل نیازي د ژوند دوره او د هغه رباعي د سلطان بهلول د رباعي په ځواب کې.

۲۰- د (۸۹۰هــق) کال په شاوخوا کې د زرغون خان نورزي د ژوند دوره او دده دېوان او د ساقي نامې شعر.

۲۱- (۹۰۰هــق) کال حدودو کې د زرغونې کاکړ د ژوند دوره او پښتو ته د سعدي د بوستان ژباړه.

۲۲- د (۹۰۰هــق) کال په شاوخوا کې د شیخ عیسی مشواني د ژونــد دوره او دده یو شعر.

۲۳- د (۹۲۰هــق) کال په شاوخوا کې د رابعــې د ژونــد دوره او ددې دېوان او رباعي.

۲۴- (۹۲۰هــق) کال حدودو کې د دوست محمد کاکړ د ژوند دوره او د هغه کتاب (غرغښت نامه).

۲۵- د (۹۶۰هــق) کال په شاوخوا کې د شیخ بستان بړیځ د ژوند دوره او دده د کتاب نوم (بستان الاولیا) او دده یو شعر.

**۲۶- علي سرور لودي د (۹۶۰هــق) کال حدود د ژوند دوره او د کتاب نوم یې (تحفة صالح) او دده غزل.**

**۲۷- د (۹۶۰هــق) کال حدود د مېرمن نېکبختــې د ژونــد دوره، ددې کتاب (ارشاد الفقرا) او ددې د نصیحت شعر.**

**۲۸- د (۱۰۰۰هــ) کال حدود د شیخ محمد صالح الکوزي د ژوند دوره او دده غزل.**

مرضیه- د پښتو ځانګې د لومړي ټولګي محصله

# د پښتو لرغوني ادب

# د کمیت کمښت علتونه



د پښتو ادبي تاریخ لومړۍ دوره لــه دویمــې هجري پېــړۍ څخــه پیلېــږي او د یوولســمې هجري پېړۍ تر اوایلو پورې دوام کوي. د پښتو کوم اثار چې په لومړۍ ادبــي دورې پــورې اړه لري، د کمیت له پلوه ډېر نه دي او د هر شاعر او لیکوال محــدودې شــعري نمــونې تــر مــوږه رارسېدلې دي. ددې دورې ډېرو شاعرانو او لیکوالو د کتابونو نومونه موږ ته ښکاره دي، خو زیاتره دا کتابونه او دېوانونه اوس ورک دي.

د پښتو ادب د لومړۍ دورې په اثارو کې یــوازې د ســلیمان مــاکو د تذکره الاولیا د بشپړ کتاب ځینې برخې مــوږ تــه رارســېدلې دي. پــه عمومي ډول د پښتو د ادبي تاریخ د لومړۍ دورې اثار بېلابېل اثــار دي. که څه هم د پښتو د لومړۍ دورې اثار د کیفیت له پلوه ډېر لوړ ارزیابي

کېدلای شي، خو د کمیت له پلوه ډېر کم دي. دا چې ولې د لومړۍ دورې اثار د کمیت له پلوه له کمښت سره مواجع شوي او څه علتونه لري، چې دا اثار موږ ته په پوره ډول نه دي رارسېدلي، کوم مهم مسایل ددې لامل شوي دي چې دغه اثار له منځه تللي؟ غواړم هغو ته نغوته وکړم:

۱- افغانان د اسلامي عصر په بېلابېلو پېړیو کې د پردیو تـر یرغلونـو لاندې راغلي دي، په دغو یرغلونو کې چې چا د پردیو په مقابل کې زیات مقاومت کړی دی، هومره ضررونه هم ورته زیات متوجې شوي او تـولې مادي او معنوي شتمنۍ یې له خاورو سره خاورې شوې دي. پښـتانه د عربو له حملو نیولې بیا د چنگېز، تېمور او نادر افشار او نورو یرغلگرو تر مستقیمو حملو لاندې راغلي دي او ډېر زیانونه یې گاللي، چې د دغـو یرغلونو په بهیر کې دغه اثار په جگړو او یـا هـم پـه قصـدي توگـه د یرغلگرو له خوا له منځه تللي دي.

د مغولو تر تاړاک او چپاول دمخه تر (۶۰۰هــق) پخوا د پښتو ژبې ادبي مرکزونه غور، هلمند، ارغنداو او د ترنک ورشوگانې وې چې دغه ادبي مرکزونه د مغولو خونخوارو لښکرو وران او د مدنیت یوه بېلگه یې هم په کې پرېنښوده، داسې ښکاري چې ډېر پښتو کتابونه او علمي اثـار هـم ورسره تباه او پوپناه شوي وي.

۲- د پښتني ټولنې د پوهې د کچې ټیټوالی او له ورته پوهنیزو چارو سره لېوالتیا نه درلودل د دغو اثارو د نه خوندیتوب باعث گرځېدلي دي.

۳- د پښتون ولس له یو بله څخه د لرېوالي او نه اړیکو له کبله هــم کېدی شي د پښتو د لومړۍ دورې اثار په بېلابېل ډول پاتې شــوي وي. بله دا چې ښایي پښتنو د مذهبي تعصبونو له پلوه له شعر ســره ډېــره مینه نه لرل او شاعرانو ته په درنه سترګه نه کتل او شعر ویلو ته ګنــاه ویل هم ددې سبب ګرځېدلي وي چې دغه اثار یې له منځــه وړي وي، چې ښه بېلګه یې د ښځو د اثارو نه موجودیت دی.

۴- د شرایطو د تنګوالي ( د چاپي وسایلو کموالي) له امله هم کېدی شي دغه اثار په لیکل شوې بڼه د لیکوال تر لیکنې محدود پاتې شوي وي.

۵- په مجموعي توګه ددغو اثارو ذخیــره کېــدو او د دې کتــابونو د خوندیتوب لپاره د ځای نشتوالی او دې کتابونو د ساتلو په طریقو د نه پوهېدلو، دغه اثار د بهرنیو د یرغلونو له وېرې ښایي په ځمکو یا دېوالونو کې ښخ کړای شوي وي او هغه اثار هماغسې ښخ پاتې وي او له خاورو سره خاورې شوي وي.

په دې لیکنه کې د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دورې) څخه ګټه اخیستل شوې، خو ځینې دلایل ما له خپل فکره لیکلي دي.

هیله- د پښتو ځانګې د لومړي ټولګي محصله

# په پښتو لرغونو ادبیاتو کې

# عرفان او تصوف



د اوومې هجري پېړۍ په دوران کــې عرفــاني افکارو پښتو شعر او ادبیاتو ته لاره پیدا کــړه او حضرت شیخ متي لومړی عرفاني شعر په پښتو کې لیکلی و.

د شیخ متي مناجات په پښتو ادبیــاتو کــې د عرفاني شعر بېلګه ده، تر دې وروسته بیا له اوومې پېړۍ نه تر لســمې هجري پېړۍ پورې مونږ په خپلو لاسته راغلو پښتو متفرقه اثــارو کــې دغسې د عرفاني فکر لرونکي اثار نه لرو، خو په لسمه هجري پېړۍ کې مونږ له افغانستان او پښتونخوا څخه لرې د هندوستان په سیمو کې چې کوم پښتانه اوسېدلي، درې پښتانه شاعران پېژنو چې درېواړه یې لوی صوفیان، عابدان او زاهدان وو او کوم اثار چې له دوی څخه پاتې دي د عرفاني افکارو بیانوونکي دي. نومړي صوفیان؛ شیخ عیسی مشوانی، شیخ بستان بړېڅ او شیخ علي سرور لودي دي.

## شیخ متي:

دا مشهور عارف او شاعر له پښتنو غوریاخېلو څخه دی چې دده لوی نیکه خرښبون هم د پښتو ادیب او شاعر و.

شیخ متي د عباس زوی و، عباس د عمر او عمر د خلیل زوی و. خلیل د غوریا او غوریا د کند بن خرښبون زوی و.

شیخ متي پر (۶۲۳هــ) کال زېږېدلی او د (۶۵) کلونو په عمر د ترنک پر غاړه پر (۶۸۸هــ) کال وفات شوی دی. د شیخ متي کورنۍ په خلیلو غوریاخېلو کې خورا مشهوره ده، شیخ د پښتو یو خورا لوی صــوفي او عرفاني شاعر دی. شیخ متي بابا د خپلې زمانې په فرهنګي حلقو کې د مسلطو فکري جریانونو تر اغېزې لاندې د خپل باطن او خپــل ذهــن د ضمیر او زړه د صفايۍ لپاره عرفان ته مخه وکړه او د خدای پېژندنې پر دې باریکه لار یې سفرونه وکړل. شیخ متي په زهد، تقــوا او د عرفــاني مدارجو په طی کولو سره دومره مشهور او محبوب شو چــې د خلکــو مرجع وه او د یوه ډېر ستر روحاني شخصیت په توګه یې د شیخ متي په نامه شهرت درلود.

شیخ متي د خپل عصر په تصوف واقف سړی و، دده شعر ثابتوي چې ده په عرفان او تصوف کې پاخه افکار درلــودل او د پښــتو د متصــوفو شاعرانو امام ګڼل کېږي.

شیخ متي خپل اشعار په یوه مجموعه ( د خدای مینه) کې کښلي وو. د (خدای مینه) یې د کلات د غونډان په سیمې کې د خپلو اشعارو کتاب بشپړ کړ. د شیخ متي اشعار پر وحده الشهود بناء دي چې د تصوف یوه طریقه ده.

دا هم د شیخ متي د شعر یوه برخه او دا یوه داسې نمونـه ده چــې د عرفاني او تصوفي شعر په دیباچه او پیل کې درېدلې.

پـــــر لویــــو غــــرو هــــم پــــه دښـــــتو کــــې
پــــه لــــوی ســــهار، پــــه نیمــــو شــــپو کــــې
پــــــه غـــــاړه ږغ او پـــــه شـــــــېلو کــــــې
یــــــاد ویرژلیــــــو پــــــه شـــــپېلو کـــــــې
تـــــول ســـــتا د یــــاد نــــارې ســـــورې دي
دا ســــــــتا د مینـــــــــې ننــــــــدارې دي

# شیخ عیسی مشوانی:

مشوانی د پښتنو یو ټبر دی، شیخ عیسی هم لـه دې ټبـره د پښـــتو د منځنیو دورو شاعر دی، شیخ عیسی مشوانی د هندوستان په (دامله) کې اوسېده او د هندوستان د افغان پاچا (شېرشاه سوري) معاصر و. دده د ژوندانه زمانه یا وخت تر (۹۰۰هــ) وروسته ټاکلای شو. شیخ عیسی په پښتو، پارسي او هندي ژبو یوه ګډه منظومه رسـاله لیکلــې وه. شـــیخ

عیسی د خدای(ج) په توحید کې په پښتو، پاړسي او هندي ژبــو ښــه شعرونه ویلي دي.

د ده د شعر نمونه په مخزن افغاني کې راغلې چې درې بیتي دي. دده له شعر څخه دا معلومېږي چې عیسی له پخو متصوفینو څخه و.

دا هم د شیخ عیسی د شعر نمونه:

پــه خپلــه کــار کــړې، خپلــه انکــار کــړې
کلــه بــادار یــې کلــه مــې خــوار کــړې
تـــه خـــو قـــادر یـــې! پـــه صـــفتونو
کلــه مــې نــور کــړې کلــه مــې نــار کــړې
((عیســـی)) حیـــران دی پـــه دې شـــیونو
کلــه مــې یــار کــړې کلــه اغیــار کــړې.

## شیخ بستان بړېڅ:

شیخ بستان د پښتنو له ادبي او روحاني مشاهیرو څخه دی. پلار یې د کندهار په ښوراوک کې اوسېده، د پلار نوم یې محمــد اکــرم و، شــیخ بستان په ځوانۍ کې هند ته لاړ او ددغه هېواد په (سامانه) نومي ځای

کې اوسېده. شیخ بستان د ((بستان اولیا) په نامه یو کتاب هم لیکلی و چې له شور نه ډک او دده له عرفاني جمال سره برابر و. د مخزن افغاني مولف نعمت الله هروي د شیخ بستان ملګری و چې په بحري (سمندري) سفرونو کې ورسره یونیم کال پاتې شوی و.

شیخ بستان د (۱۰۰۲هــق) کال د ربیع الثاني په دویمه نېټه د ګجرات په احمداباد کې وفات شو. د شعر نمونه یې داده:

د مینـــې اور دې زمــا زړګــی وریــت پــه انګــار کــړ نــا
ښې تار و نار کړ نا

خــود بــه ویلېــږم چــې مــې زړه پــر تــا مفتــون کــړ نــا
ځان مې زبون کړ نا

اوښکې مــې ځــاځي پــر ګرېــوان یــو وار نظــر کــه پرمــا
راسه ګذر که پرما

## شیخ علي سرور لودي:

علي سرور په قوم شاهدخېل لودي و. شیخ علي سرور د لسمې هجري پېړۍ په دوران کې د ملتان په (کهرور) نومې سیمه کې اوسېده او استاد حبیبي یې د ژوند زمانه د (۹۶۰هــق) حدودو کې ټــاکلې ده. پــه پټــه خزانه کې د شیخ علي سرور لودي له اقوالو او غزلو معلومېږي چې شیخ

په اسلامي تصوف کې د زیاتې مطالعې خاوند و او د لویو متصوفینو اثار یې لوستي وو. د شیخ عیسی علي سرور لودي د شعر نمونه په پټه خزانه کې راغلې. د پټې خزانې مولف د تحفة صالح په حواله دده یو صوفیانه غزل رانقلوي:

د غزل نمونه یې داده:

محبت پیاله مې نوش کړه په مجاز کې
د حق نور وینم په سترګو د ایاز کې
درست وطن راته دریاب شو بې دیدنه
دید مې نه شي مګر خدای مې سبب ساز کې

## شیخ محمد صالح اکوزی:

ډېر پورته یادو شویو دریوارو عارفو شاعرانو سربېره بل شاعر چې د کندهار په سیمو کې تېر شوی دی، هغه شیخ محمدصالح اکوزی نومېږي. دا شیخ د پټې خزانې په روایت د (جلدک) په سیمو کې اوسېده چې ډېر عالم او عابد سړی و. علامه حبیبي دده د ژوند زمانه د (۱۰۰۰هـ ق) شاوخوا ټاکلې ده.

## د لرغونې ادبي دورې تصوفي ځانګړنې:

د لرغونې دورې د دغو صوفیانو ډېر منظوم او منثور اثار زموږ په واک کې نه شته، یوازې د پخوانیو مورخینو د لیکنو او د دوی د خپلو لږو اثارو له مخې دومره ویلای شو چې دغه کسان عارفان وو او له دغې پوهې خبر او پر دې لاره روان وو.

لکه څنگه چې پر دغه وخت يا مهال تصوف پښتو ادب ته نوی راننوتی و، نو لا ډېر پېچلی شوی نه و او نه يې د روښانيانو غونــدې پېچلــې او درنې تصوفي تجربې لرلې، چې پېچلي تصوفي اصــطلاحات يــې ورتــه کارولي وای. ددغه مهال تصوف او تصوفي ادب کله دومره ساده شـــي، چې که پټې خزانې او نورو اثارو ددغو صوفيانو ژوند پېښې راخيستې نه وای، ښايي چا صوفيان نه وای بللي او پــه دې توگــه د لــومړۍ دورې تصوف د رحمان بابا د تصوف غوندې فطري تصوف دی او لــه تکلــف او سختو لغاتو او کلمو څخه پاک دی، ځکه چې پر دې مهال تصوف پښتو ادب ته نوی راننوتی او لا کوچنی و، نو د دويمې ادبي دورې د صوفيانه تجربو غوندې تجربې يې لا نه وې کړې، خو دې دورې خپل ادبي ارزښت ساتلی او تصوف يې په ښکلې، ساده او هنري ژبه راوړاندې کړی دی. بل مور ددې دورې صوفيان د راوروسته صوفيانو په څېر په زغرده د وحده-الشهود او وحده الوجود پر ډلگيو نه شو وېشلای ځکه د شيخ متي لــه شعري بېلگې پرته نور تصوفي شعرونه دا رنگ او بوی نه لري او نه دومره ژور پرمختگ کولای شي.

# اخځونه

په دې لیکنه کې د اجمل ښکلي: ((تصوف او عرفان))، د پوهاند عبدالحی حبیبي: ((د پښتو ادبیاتو تاریخ)) او د سرمحقق زلمي هېوادمل ((د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغونې او منځنۍ دوره)) له بېلابېلو مخونو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

حکمت الله ناشر- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# د پښتو په لرغونې شاعرۍ کې د ځینو متروکو او پېچلو لغتونو ماناوې



په پښتو لرغونې شاعرۍ کې ځینې داسې لغتونه کارول شوي، چې اوس یا نه استعمالېږي یا په هغه مانا نه کارول کېږي او یا په لږ تغیر سره کارول کېږي، په دې کې د لاندې شاعرانو د نظم لغتونه چې په پټه خزانه کې راوړل شوي دي، موجود دي:

۱- محمد هوتک- نثر

۲- بابا هوتک- نظم

۳- شیخ ملکیار- سندره

۴- شیخ خرښبون بابا- نارې

۵- شیخ اسماعیل سړبنی- نارې

۶- شیخ متي- شعر

۷- امیر کروړ- شعر

۸- شیخ اسعد سوري- قصیده

۹- ښکارندوی غوري- قصیده

۱۰- ابو محمدهاشم سرواني- ژباړه

۱۱- شیخ تیمن بابا- شعر

۱۲- شیخ بستان بړیخ- بدله

۱۳- شیخ رضي لودي- پاړکی

۱۴- نصر لودي- پاړکی

۱۵- شیخ عیسی مشوانی- شعر

۱۶- سلطان بهلول لودي- رباعي

۱۷- خلیل خان نیازی- رباعي

۱۸- زرغون خان نورزی- مثنوي

۱۹- دوست محمد کاکړ- نظم

**۲۰- شیخ محمدصالح- غزل**

**۲۱- شیخ علي سرور لودي- غزل**

**چې په لاندې لښتلیک کې مانا شوي دي:**

| ګڼه | لغات | مانا |
|---|---|---|
| ۱ | اوجاړ | خراب، ړنګ |
| ۲ | اودوم | علاج، چاره |
| ۳ | اتل | پهلوان |
| ۴ | اغېز | تاثیر، اثر |
| ۵ | ایواد | هېواد |
| ۶ | اوکوب | شان او شوکت |
| ۷ | اوڅار | مشهور |
| ۸ | اشلکونه | شعرونه |
| ۹ | ایلایي | اطاعت |
| ۱۰ | ایړ | کښنتې |
| ۱۱ | استاځی | استازی |
| ۱۲ | اړوته | اړول، تبدیل |
| ۱۳ | اخیسته | حمله، تېری |
| ۱۴ | اغلې | ښایسته |
| ۱۵ | بیار ته | بېرته |
| ۱۶ | بر بڼ | پورته باغ |
| ۱۷ | باړی | فایده غوښتل |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۸ | بېړۍ | زولنې |
| ۱۹ | بامي | د ګل نوم دی |
| ۲۰ | بریځر | غرمه |
| ۲۱ | برمل | ماسپښین |
| ۲۲ | بودتون | د بوتانو ځای |
| ۲۳ | بمبڼ | د هندوانو پیر |
| ۲۴ | بډ | سیال، مقابل |
| ۲۵ | برغه | مقصد |
| ۲۶ | بامم | پالم، روزم |
| ۲۷ | برل | فتحه |
| ۲۸ | پاسوال | ساتونکی |
| ۲۹ | پرتمین | د عزت خاوند |
| ۳۰ | پلور | خرڅول |
| ۳۱ | پنځ | پیدایښت، طبیعت |
| ۳۲ | پلن | پیاده |
| ۳۳ | پېر | نوبت |
| ۳۴ | پلاز | تخت |
| ۳۵ | پاړکی | د شعر ټوټې |
| ۳۶ | پسولل | ګنل، سمبالول |
| ۳۷ | پېرل | اخیستل |
| ۳۸ | تېرو | تجاوز، ظلم |
| ۳۹ | ترخ | بغل |
| ۴۰ | تون | ځای |

| | | |
|---|---|---|
| ۴۱ | ترار | وارخطا |
| ۴۲ | تېرون | زیاتی |
| ۴۳ | ترې | پول |
| ۴۴ | ترمل | ماښام |
| ۴۵ | تاخون | د زړه غم |
| ۴۶ | ترپلل | تښتېدل |
| ۴۷ | تورن | تهمتي |
| ۴۸ | ټیکاونه | راحت، ارام |
| ۴۹ | ټیکنه | عدالت، انصاف |
| ۵۰ | جنډې | ګلونه |
| ۵۱ | جوپه | قافله |
| ۵۲ | جاندم | دوزخ |
| ۵۳ | جاجي | فکر کوي |
| ۵۴ | چندې | شاعر |
| ۵۵ | چونی | بلبل |
| ۵۶ | څوری | د سفر توښه |
| ۵۷ | څوار | صبر |
| ۵۸ | څپان | څپه |
| ۵۹ | څنډونه | غاړې، څنډې |
| ۶۰ | څورنګ | زخمي |
| ۶۱ | ځری | استازی |
| ۶۲ | ځغلا | تېښته |
| ۶۳ | ځلا | برېښېدل |

| | | |
|---|---|---|
| ۶۴ | خونول | شیندل، تیت |
| ۶۵ | خاتیځ | لمر خاته |
| ۶۶ | خړ | خاکي، بد |
| ۶۷ | ختې | جامې |
| ۶۸ | درمل | علاج، دارو |
| ۶۹ | دښنه | دښمنان |
| ۷۰ | روده | لاره |
| ۷۱ | رپ | رپېدل |
| ۷۲ | روغي | سلامتي |
| ۷۳ | رامشت | ساز او سرود |
| ۷۴ | رپي | رپېږي |
| ۷۵ | رغا | بېزاره |
| ۷۶ | رښتونه | رښتیا |
| ۷۷ | ربل | پېرزوینه |
| ۷۸ | زمولوي | مړاوي کوي |
| ۷۹ | زړن | زړور |
| ۸۰ | زرغا | سمسور |
| ۸۱ | زغل | تښتېدل |
| ۸۲ | زیارنه | زحمت |
| ۸۳ | ژوبلور | جنګیالي، عسکر |
| ۸۴ | ژوبلله | زخمي کېدل |
| ۸۵ | ژبور | تېز ژبی |
| ۸۶ | ژوبله | جنګ |

| | | |
|---|---|---|
| ۸۷ | سوران | توپان |
| ۸۸ | سورې | فریاد او نارې |
| ۸۹ | سوان | ارامي، سهولت |
| ۹۰ | سوب | حاضر |
| ۹۱ | سوبمن | فاتح |
| ۹۲ | سخ | افرين |
| ۹۳ | سین | سیند |
| ۹۴ | سوځند | سوځوونکی |
| ۹۵ | سمي | سم |
| ۹۶ | سوبه | فتحه |
| ۹۷ | ستایوال | ستایونکی |
| ۹۸ | سکني | پرې کوي |
| ۹۹ | سما | انصاف |
| ۱۰۰ | سته | اساس، تهداب، بېخ |
| ۱۰۱ | سوراړ | وچه دښته |
| ۱۰۲ | سار | ساری، مثل |
| ۱۰۳ | سینګړونه | ډبریز، ډبرین |
| ۱۰۴ | ستهال | هېواد |
| ۱۰۵ | سال | میده شګه |
| ۱۰۶ | سوني | دروغ |
| ۱۰۷ | سادین | شودیاره ځمکه |
| ۱۰۸ | ساندي | ویر ماتم |
| ۱۰۹ | سور | خوښۍ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۱۰ | سود | ډاډ، اطمینان |
| ۱۱۱ | شخړه | جګړه |
| ۱۱۲ | شنار | ظلم |
| ۱۱۳ | شڼ | مست |
| ۱۱۴ | شنا | مستي |
| ۱۱۵ | ښکلل | سینګار کول |
| ۱۱۶ | ښځمنې | ښځې |
| ۱۱۷ | ښهانه | ښېګڼه |
| ۱۱۸ | غوړن | خبر |
| ۱۱۹ | غبرګون | عکس العمل |
| ۱۲۰ | کوټ | کلا، قلعه |
| ۱۲۱ | کرغه | وچه ځمکه |
| ۱۲۲ | کهول | کورنۍ |
| ۱۲۳ | کړونګی | ابشار |
| ۱۲۴ | کورول | باطلول |
| ۱۲۵ | کاوه | کول |
| ۱۲۶ | کروړ | سخت |
| ۱۲۷ | کویله | د مرغه نوم دی |
| ۱۲۸ | کړېدل | ګرځېدل، طواف |
| ۱۲۹ | ګاڼل | د زېوراتو بندول |
| ۱۳۰ | ګواښل | تهدیدول |
| ۱۳۱ | ګروهه | عقیده |
| ۱۳۲ | لته | سیمه |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۳۳ | لژند | ککړ |
| ۱۳۴ | لور | پېرزوینه |
| ۱۳۵ | لونل | شیندل، پاشل |
| ۱۳۶ | لرغونی | پخوانی |
| ۱۳۷ | لرمل | مازیگر |
| ۱۳۸ | لمانځنه | ستاینه |
| ۱۳۹ | لتاړ | خراب |
| ۱۴۰ | ملونه | ملگري |
| ۱۴۱ | مراندې | تنابونه، د زړه رگونه |
| ۱۴۲ | مېشت | پراته، ساکن |
| ۱۴۳ | میرڅی | دښمن |
| ۱۴۴ | من | اراده |
| ۱۴۵ | مخسور | بریالیتوب |
| ۱۴۶ | ملا | ملگرتیا |
| ۱۴۷ | مواس | ساتونکی |
| ۱۴۸ | منښت | قبلول |
| ۱۴۹ | نېز | سېلاب |
| ۱۵۰ | نېزوړی | خاشې، خس |
| ۱۵۱ | نمنځ | احترام، ستاینه |
| ۱۵۲ | ناره | د شعر یو ډول دی |
| ۱۵۳ | نمنځې چار | عابد، زاهد |
| ۱۵۴ | نمرې | جامې |
| ۱۵۵ | نست | نابود |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۵۶ | نغوړېده شي | واوړېدل شي |
| ۱۵۷ | نومړ | نوموړی |
| ۱۵۸ | نمزدک | جومات |
| ۱۵۹ | نتلی | غمجن |
| ۱۶۰ | ویرژلی | غمځپلی |
| ۱۶۱ | ویاړنه | فخریه |
| ۱۶۲ | ودنه | روزنه، پرمختګ |
| ۱۶۳ | ویرمن | غمجن |
| ۱۶۴ | وړنګن | وړانګې لرونکی |
| ۱۶۵ | ځلم | ځلېږم، برېښم |
| ۱۶۶ | ورمونه | نصیحتونه |
| ۱۶۷ | هېښبېږي | حیرانېږي |
| ۱۶۸ | هسک | اسمان |
| ۱۶۹ | یرغالم | یرغل کوم |
| ۱۷۰ | یون | حرکت |
| ۱۷۱ | یادي | یادول |

## د ځینو سیمو موقعیت

| ګڼه | د سیمې نوم | موقعیت |
|---|---|---|
| ۱ | اتغر | د کلات په جنوب ختیځ کې یوه سیمه ده |
| ۲ | ارغستان | د کندهار په جنوب ختیځ کې یوه سیمه ده |

| | | |
|---|---|---|
| ۳ | اولان | د شاه جوی په شمالي برخو کې یوه سیمه ده |
| ۴ | بغنین | د غور او زمینداور په منځ کې پرته سیمه |
| ۵ | پښین | په بلوچستان کې یوه سیمه ده |
| ۶ | تازی | د کلات په شمال ختیځ کې یوه سیمه ده |
| ۷ | توبه | د کندهار په جنوب ختیځ کې پرته سیمه ده |
| ۸ | جروم | د کندهار له جنوب لویدیځ نـه تـر سیســتان پورې سیمه |
| ۹ | جلدک | د کندهار په شمال ختیځ کې پرته سیمه |
| ۱۰ | داور | هلمند ته نږدې یوه سیمه ده |
| ۱۱ | دیبل | کراچۍ ته نږدې یو ښار دی |
| ۱۲ | دیراوت | د کندهار په شمال شرق کې یوه سیمه ده |
| ۱۳ | ږوب | د سلیمان د غره په شمالي لمنو کې پرته سیمه |
| ۱۴ | سور غر | د شاه جوی او اولان ترمنځ غر دی |
| ۱۵ | غرج | د هرات له شماله تر امو پورې |
| ۱۶ | غنډان | د کلات او شاه جوی ترمنځ غر دی |
| ۱۷ | قصدار | په بلوچستان کې یو ښار دی |
| ۱۸ | کسي غر | د سلیمان غر |
| ۱۹ | مرغه | د کندهار په جنوب ختیځ کې پرته ده |
| ۲۰ | وازه خوا | د غزني په جنوب ختیځ کې یوه دښته ده |

یادونه: دا لغتونه اکثره د همغو شاعرانو په شعرونو کې راغلي چې پټې خزانې معرفي کړي او د کلام بېلګې یې خوندي کړي دي.

رونا- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصله

# د قصيدې پېژندنه

# او د شيخ اسعد سوري قصيده



د قصيدې لغوي مانا قصد او اراده ده او پــه ادبــي اصطلاح کې هغه شعري فورم يا کالب دی چې تــر يوې مطلع لاندې ويل کېږي، د بيتونو شمېر يې له (۱۵) څخه تر (۷۰-۸۰) پورې او ان تر (۲۰۰) بيتونو پورې رسېدلای شي. ځينې قصيدې دوه او يــا تــر هغې زياتې مطلعې هم لري. هره قصيده مطلع، مقطع، تغزل او تشبيب لري.

## د شيخ اسعد سوري پېژندنه:

د پښتو تر ټولو پخوانۍ لاسته راغلې قصيده د اسلامي دوران د پنځمې پېړۍ په اوايلو پورې اړه لري او هغه پخوانی شاعر چې د پښتو پخوانۍ لاسته راغلې قصيده يې ويلې ده، شيخ اسعد سوري دی. د شيخ اسعد

سوري قصیده د تاریخ سوري مولف راوړې ده او له دې کتاب څخه شیخ کته متي زي په لرغوني پښتانه کې اخیستې ده او له لرغـوني پښـتانه څخه محمد هوتک په پټه خزانه کې خوندي کړې ده. شیخ اسعد سوري د محمد زوی و، په غور کې یې اسـتوګنه درلـوده او د غـور د سـوري شاهانو په دربار کې د عزت خاوند و.

شیخ اسعد د غور له سوري شاهانو څخه د امیر محمد سوري معاصر و او د غور په اهنګرانو کې د دغه سوري پاچا په دربار کې اوسـېده. شـیخ اسعد د امیرمحمد سوري تر مړینې وروسته هم ډېر کلونه ژوندی و او پر (۴۲۵هــق) کال په (بغنین) کې وفات شو.

## د شیخ اسعد سوري د قصیدې ښکلاییز اړخ:

د شیخ اسعد سوري یوه پخه او په تول پوره، په هنري ښکلاوو سـمبال قصیده زموږ په واک کې ده چې شاعر دا قصیده د غور د افغان سوري پاچا امیرمحمد سوري پر مړینه ویلې وه. په دې قصیده کې شاعر خپل غم نه ژاړي، بلکې د ملت، سوریانو او غوریانو غمونه ژاړي او هغه ملـي زیانونه چې د محمد پر مړینه د هغه وخت سوریانو او غوریانو ته متوجه وو، هغه بیانوي.

ددې قصیدې ویل له ټولو ادابو سره برابر دي او لــه فنــي پلــوه کومــه نیمګړتیا نه په کې لیدل کېږي. د هنر، ښکلا، انځور جوړونې او د طبیعت

د جمال د تصویرولو له پلوه دا قصیده په تول پوره او د هنـر پـه ګاڼـه پسولل شوې ده، په دې قصیده کې سره له دې چـې ځینــې عربــي او فارسي لغات هم په کې په څرګند ډول موندل کېږي، خو ځینې داسې پښتو لغتونه هم په کې شته چې اوس په عامه پښتو کې نه دي رواج او ښايي په ځینو غرنیو لهجو کې یـې ځینــې کلمــات رواج وي. پــه دې قصیده کې ساده ګي او رواني موجوده ده، دا قصیده موږ ته راښیي چې په پښتو ادب کې تقریباً تر دې دورې وړاندې هم شعر او نظم پاخه وو، د شیخ اسعد سوري قصیده د پښتو زاړه لغات معرفي کوي، له بـل پلــوه مرثیه ده. دا قصیده ټول (۴۴) بیته لري او (۱۱) خطابي بیتونه لري. پــه دې قصیده کې شاعر په ټولو برخو کې هغه ټکي مراعات کــړي چــې د یوې ډېرې ښکلې او د شور او جذبه لرونکې رثائیه قصیدې په لوازمو کې شمېرل کېږي او د قصیدې وروستۍ برخه شاعر پر یوه داسې اجتماعي او اخلاقي نتیجه بنا کوي، چې د پښتنو له ملي عنعناتو سره سمون لري او د پینځمې هجري پېړۍ په پیل کې د غور د سوري افغانــانو د ملــي احساساتو ښکارندويي کوي.

دا قصیده د پښتو ژبې لومړنۍ قصیده ده. د شــیخ اســعد ســوري پــه قصیدې کې د بدیع او بیان له صنعتونو نه په ښکلي ډول کار اخیستل شوی دی، لکه:

د فلک له چارو څه وکړم کوکـــــار

زمولوي هر گل چې خاندي په بهار

د کوکار او خاندي کلمې د تضاد صنعت پورې اړه لري.

## تضاد یا طباق:

هغه صنعت دی چې شاعر خپل شعر کې دوه مقابل او متضاد لفظونــه راوړي.

دویم بیت:

هر غټول چې په بیدیا غوړېده وکا

ریژوي یـــې پاڼې کاندي تار په تار

د غوړېده او رېژوي کلمې د تضاد صنعت لري.

درېیم بیت:

ډېر مخونه د فلک څپېړه شنه کا

ډېر سرونه کا تر خاورو لاندې زار

دا بیت د تشبیې صنعت لري. د زمانې گردش د فلک له څپېـړې سـره تشبیې شوی دی.

تشبیې: د تشبیې لغوي مانا د دوو وشیانو په یوه مانا کې گډون دی او په ادبي اصطلاح کې د دوو شیانو له یو بل سره هم رنگه یا یو ډول کول

دي، خو په دې شرط چې دا هم رنگه یا هم مثله کول ادعــایي وي نــه رښتیني.

څلورم بیت:

د واکمن له سره خول پرېباسي مړ سي

د بېوزلو وینې توی کاندي خونخوار

د واکمن او بېوزلو کلمې د تضاد صنعت لري.

پینځم بیت:

چې له برمه یې زمري رپي څنګلو کې

له اوکــوبـــه یـــې ډاري تیرو جــبار

برمه او اوکوبه دوه مترادفې کلمې دي.

**مترادفې کلمې:** هغو ته ویل کېږي چې په لیکلو کې سره توپیر لري او په مانا کې یو شان وي.

اتم بیت:

په یوه ګــردښت یې پرېباسي له برمه

نه یې غشی نه لیندۍ وي نه یې سپار

په دې بیت کې د مراعات النظیر صنعت موجود دی. د غشي، لیندۍ او سپار په کلماتو کې.

**مراعات النظیر یا تناسب: هغه صفت ته ویل کېږي چې شاعر پــه خپل کلام کې داسې کلمې راوړي چې یو له بله تناسب ولري، نو ځکــه دغه صنعت ته تناسب هم وایي.**

**نهم بیت:**

**څـــه تېـــرى څـــه ظلـــم کانـــدې اى فلکـــه**
**ســـتا لـــه لاس نـــدى هـــېڅ ګـــل بـــې لـــه خـــار**

**د ګل او خار کلمې د تضاد صنعت لري.**

**لسم بیت:**

**پـــه ویرژلـــو لـــور نـــه کـــړي پـــه زړه کراړیـــه**
**پـــــر نتلیــــــو اوروې د غـــــم ناتـــــار**

**د ویرژلو او لور کلمې د تضاد صنعت لري او کراړیه کلمه پخوانی پښـــتو کلمه ده چې اوس زیاته نه کارېږي.**

**دولسم بیت:**

**لـــه تېریـــو دې اوښـــې څـــاڅي لـــه وربځـــو**
**چینـــې ژاړي پـــه ورت ورت ســـتا لـــه شـــنار**

**د اوښې او ژاړي کلمې د استعارې صنعت لري.**

**استعاره:** لغوي معنا يې په سوال او امانت، رعايت يا په پور څــه شــي غوښتلو ته وايي او استعاره په اصطلاح کې يوه کلمه په غير حقيقي مانا استعمالول دي او د حقيقي او مجازي مانا ترمنځ علاقه مشابهت او ورته والى دى.

استعاره څلور رکنونه لري: مستعار، مستعار له، مســتعار منــه او وجــه جامع.

ديارلسم بيت:

نــه بــه لاس واخلــې لــه ځــوره نــه بــه لــورې
نــــه بــــه مــــلا کـــړې لـــه بېوزلـــو لـــه تـــرار

د زوره او لوري کلمې د تضاد صنعت لري.

پنځلسم بيت:

نــه بــه وصــل کــړې مــين لــه بــل مينــه
نـــــه بــــه درملــــې تپونــــه د افکــــار

د مين او مينه کلمې د مذيل زايد تجنيس لري.

**مزيل زايد تجنيس:** که د متجانسو کلمو د پای توری زيات او کم وي، مذيل زايد تجنيس بلل کېږي.

اوولسم بيت:

کله غوڅې کاندي مراندې د زړګیو

کــله تېــر بــاســي وګـــړي هوښیار

د دې بیت صنعت استعاره دی. د مراندې کلمــه د اســتعارې پــه ډول استعمال شوې ده.

شپږم ویشتم بیت:

تـــر نـــړۍ یـــې غـــوره خـــاورې هـــدیره کـــا

د زمـــــریو پـــــه بېـــــړیو کـــــله وي څـــوار

په دې بیت کې له تشبیه صنعت څخه کار اخیستل شوی دی.

اوویشتم بیت:

پـــه دې ویـــر د غـــور وګـــړي تـــورنمري ســـول

پـــه دې ویـــر رڼـــا تیـــاره ســـوله د ښـــار

د رڼا او تیاره کلمې د تضاد صنعت لري.

اته ویشتم بیت:

ګـــوره څـــاڅي رڼـــې اوښـــې لـــه دې غرونـــو

دا کړونګـــــی ســـــاندې لـــــي پـــــه شـــــورهار

دا بیت د حسن التعلیل صنعت پورې اړه لري. رڼې اوښې او ساندې پــه کلمو کې.

**حسن التعليل: د يوه وصف لپاره د يــوه نــاحقيقي مگــر لطيــف او مناسب سبب راوړلو ته حسن التعليل وايي.**

**نهه ويشتم بيت:**

**نه هغه زرغا د غرونو د بېديا ده**

**نه د زرکــيو پــه مسا دی کتهار**

**د مسا دی کلمه د استعارې صنعت لري.**

**دېرشم بيت:**

**نه غتول بيا زرغونېږي په لاښونو**

**نه بامي بيا مسيده کا په کهسار**

**د مسيده کلمه د استعارې صنعت لري.**

**دوه دېرشم بيت:**

**د پسرلي اوره تودې اوښې تويينه**

**مرغــلرې به نســيان نه کړي نثار**

**دا بيت د استعارې صنعت لري. د تودې اوښې په کلمه کې.**

**څلور دېرشم بيت:**

نه ښکارېږي هغه سور د سور په لټو

نــه څــلېــږي هغه لــمر پر دې دیار

دا بیت تجنیس صنعت لري، له لومړي سور څخه مراد امیر محمد سوري دی او له دویم سور څخه مراد سوریانو قبیله ده.

**تجنیس:** د تجنیس لغوي مانا همجنس کول دي او په اصطلاح کې که چېرې په یو بیت یا یوه نیم بیتي کې دوه یا زیاتې کلمې داســې راشــي چې په لیک او لوست کې سره یو شی او یا څه سره ورته وي او ماناوې یې سره جلا وي.

شپږم دېرشم بیت:

هغه غور په ویر ناتار د واکمن کښېوت

هغه غور سو د جاندم غوندې سور اړ

دا بیت د مرسل تشبې صنعت پورې اړه لري.

اوه دېرشم بیت:

لاس دې مات سه ای فلکه چې دې وکا

محمد غوندې زمــری د مــړینې ښــکار

دا بیت د استعارې صنعت پورې اړه لري.

**څلوېښتم بیت:**

**چې زمري غوندې اوکمن ځي له جهانه**

**چې څوک نه کړي په نړۍ باندې قرار**

**دا بیت د تشبې صنعت لري.**

**یو څلوېښتم بیت:**

**سخ په تا ای محمده د غور لمر وې**

**په نړۍ به نه وي ستا د عدل سار**

**دا بیت هم د تشبې صنعت لري، چې امیر محمد سوري لــه لمــر ســره تشبې شوی دی.**

مسعوده نیازۍ- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصله

# په لرغونو ادبیاتو کې ساقي نامه



**د ساقي نامې تعریف:** ساقي نامه د شعر معنوي ډول دی، ساقي نامه فورمونه نه دي، بلکې محتوایي شکل لري چې دا ډول اشعار د مثنوي په متقارب بحر کې ویل کېږي او د خمریه اشعارو په فروعاتو کې شامل دي.

په ساقي نامو کې به د شعراوو مطلب دا و چې دوی به له ساقي څخه د میو هیله کوله. د ساقي، جام، صراحي او میو صفات به یې بیانول. د دنیا بې وفایي او د یو څو ورځو ژوندون په خوښۍ تېرول او د بزم تودول د ساقي نامو عمومي مضمون و.

دې ډول اشعارو په عربو کې له پخوا څخه رواج درلود، بیا عجمي شاعرانو دغه ډول اشعار وویل او په همدې تقلیدي ډول په پارسي شاعرۍ کې د خمریه اشعارو ویل پیل شول او ددغو ژبو د ادبیاتو تر تاثیر لاندې په پښتو شاعرۍ کې هم ساقي نامه ویل پیل شول.

د پښتو په لرغونو ادبیاتو کې لومړی نفر چې ساقي نامه یې لیکلــې وه، (زرغون خان نورزی) دی. زرغون خان نورزی اصلاً د نــوزاد و او د قــوم مشري یې کوله، په دغو وختونو کې د ماورالنهر شیباني خان پر هرات او سیستان هجوم وکړ، نو زرغون خان د وطن له مدافعینو څخه ګڼل کېده او د متهاجمینو پر وړاندې یې سختې جګړې کړې وې.

داسې معلومېږي چې زرغون خان نــورزی یــو ملــي قایــد او د وطــن ازادیخواه مدافع او جنګیالی سړی و، سربېره پر دې د علم خاوند هم و او د علم او ادب په میدان کې پوخ او نومیالی شاعر تېر شوی دی.

نورزی د پښتو ژبې ښه شاعر او د دېوان خاوند دی، چې دده دېوان پــه کجران کې پر (۹۱۲هــق) کال له ملا ایوب تیمني سره موجود و او پــر دغه کال چې دولت محمد کاکړ هرات ته تللی و، هلته یې دا دېوان کتلی و چې (۳۰۰) پاڼې یې درلودې.

زرغون خان نورزی ډېر عمر ژوندی و او د ډېر سپین ږیرتوب پر وخت پر (۹۲۱هــق) کال په هرات کې وفات شوی دی.

د زرغون خاان نورزي ساقي نامه ټول (۳۹) بیته لري چې زه یې دلته د څو بیتونو یادونه کوم:

# ساقي نامه

ساقي پاڅـــــه پياله راکړه　　مــــــرور يار مې پخلا کړه
اوبه تويې په لـــــمبو کړه　　اور مې مړ په دې اوبو کړه
پسرلی سو غونچـه ګل کا　　زلفې تـــاوې د سنبل کا
بلبلان شور و فغان کـــــا　　کړېدن په ګـــــلستان کا
زاهد وځي صومعې څخــه　　شراب پيري ميخانې څخه
هر سړی په ميو مست دی　　دې بهار کې ګلپرست دی
په راغو کې سرې لمبې دي　　د غټولو ننــــــــداري دي
جهان ټول سور او زرغون سو　　وچ راغه ښکلی ګلګون سو
سرې ټول شور و شعـــب کا　　ياراني کاندي طــــلب کا
بهار وخت د يارانـــــــې دی　　ښه موسم د پيمـــانې دی
نو ساقي پاڅـــه بهـــار دی　　نن ژوندون سبا رفتــار دی

ددې ساقي نامې له مطالعې څخه داسې معلومېږي، چې زرغون خــان نوروزی د لوړې کچې شاعر و او د ده مثنوي لوړه هنري تومنه لري چې د پښتو په ډېرو اوچتو مثنويو کې شمېرل کېږي.

# اخځوونه

١- حبيبي، عبدالحی (پوهاند)، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دویم ټوک، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۵ل کال.

٢- هېواد مل، زلمی، د پښتو ادبیاتو تـاریخ لرغـونې او منځنـۍ دوره، لومړی ټوک، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹ل کال.

**وسیله بیان- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصله**

# پښتو لنډۍ او کاکړۍ



لنډۍ د پښتو د ولسي سندرو یوه ستره او مهمه برخه ده او د خلکو په سندرو کې ځانګړی جوړښت او لار لري. لنډۍ د انسان د غوټه شویو فریادونو ریښو ته ځان رسوي. لنډۍ له سترو زړونو څخه راوتلي چې نمونه یې هم ستره ده. لنډۍ د عشقونو او رنځونو ژبه ده او په تورو شپو کې سندرې بولي، په ګلانو کې خاندي، په غوټیو کې سپړېږي او د دښتو له بادونو سره ناڅي او ژاړي.

د پښتو لنډیو اغېز او تاثیر دومره زیات دی چې په نورو شعرونو کې ډېر کم پیدا کېږي، په تېره بیا هغه وخت چې پښتانه زلمیان او پښتنې پېغلې او یا پښتانه شپانه په دنګو غرونو کې ګرځي او دغه لنډۍ په خوږو خوږو اوازونو او طبیعي شوق او ذوق سره وایي، نو اورېدونکي ته ښکارېږي چې د خلکو د سندرو اوډل څومره خوند لري او د شعر په نړۍ کې څومره د قدر وړ دي. لنډۍ په پښتو شاعرۍ کې تر ټولو کوچنی شعري فورم دی، خو د مانا د ځواک او لېږد له پلوه نه یوازې په پښتو

شاعرۍ، بلکې په نړیواله شاعرۍ کې یې ساری لیدل شوی نه دی. لنډۍ هغه ځانګړی دایروي سر تړلی (سربسته) زنځیر دی چې هېڅ سر یې په بلې لنډۍ پورې تړل شوی نه دی، یانې هره لنډۍ پر لومړۍ مسرې پیل او پر دویمه مسرې پای ته رسېږي چې پــه دې ترتیــب یــو مســتقل او ځانګړی مطلب په لنډ ډول په کې ځای شوی او تمام شوی وي. د لنډۍ کمال په دې کې دی چې مجموعاً په (۲۲) څپو یا دوو مسرو کې درونډ مانیز بار او ښکلا لېږدوي، د لنډۍ لومړۍ مسره (۹) او دویمه مسره یې (۱۳) څپې لري، لکه:

لومړۍ مسره

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| چې | د | خا | لو | لښ | ک | رې | را | غلې |

دویمه مسره

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| زه | به | ګو | مل | ته | د | خپل | یار | دي | دن | ته | ځ | مه |

لنډۍ عموماً قافیه نه لري، خو د دویمې مسرې په پای کې یوه اهنګینه کلمه لري چې د لنډۍ ټول اهنګ بشپړوي. هره لنډۍ باید د زور (ه) په واول یا غږن اواز پایته رسېدلې وي او که په پای کې دا زور(ه) رانه شي نو اهنګ یې نیمګړی پاتې کېږي. همدارنګه د لنډۍ په پای کې ځینــې حروف او کلمې د اواز اوږدېدو لپاره او یا ځینې ردیفونه لکه (مه، ونــه،

دینه، مینه، وینه) هم راځي، لکه هغه لنډۍ چې د (مه) په تورو پای ته رسېدلې وي.

ماته ګېدۍ ګلونه راوړه

زه د وربل دپاسه څپر جوړومه

هغه لنډۍ چې د پای توری یې (ونه) وي:

په لوړو غرو د خدای نظر وي

پر سر یې واورې وروي چاپېر ګلونه

داسې لنډۍ چې په پای کې یې (مینه) راغلي وي:

خدای به په خپله مازیګر کړي

د چینارو سرو ته مه خېژه مینه

هغه لنډۍ چې وروستی توری یې (وینه) وي:

د سپینو غاښو دې برېښنا شوه

چا ویل ړلۍ ده په تیرا یې ورینه

او دا هم هغه لنډۍ چې په پای کې یې (دینه) راغلي وي:

یا دې د زلفو خوشبویي ده

یا دې د عطرو په چینه لامبلي دینه

ځینې داسې لنډۍ هم شته چې د دواړو مسریو سېلابونه یې د لنډۍ په قانون برابر وي، یانې لومړۍ مسره یې (۹) او دویمه یې (۱۳) سېلابه وي، خو پای یې له پورتنۍ قاعدې او قانون سره سمون نه خوري، یانې په پای کې یې (مه، ونه، دینه، مینه، وینه او نور) نه وي راغلي چې دغه لنډۍ

که څه هم بشپړ مطلب لري خو د لنډیو د ویلو په ټولو طرزونو ښه نه ویل کېږي، په ځانګړې توګه له اکثرو سروکو سره د ویلو په وخت کې سکته پیدا کوي او وزن له لاسه ورکوي، خو دغه ډول لنډۍ ډېرې کمې دي، لکه:

د ازل برخې یې وېشلې

د چا یې ښې کړې د چا شولې لوغړنې

د زړه له سوزه به نارې کړم

په اوسېلي به د اسمان ستوري نینې کړم

لنډۍ له سروکو سره هم ویل کېږي او ډېر زوړ او په زړه پورې دود دی، لکه:

لونګ کرمه که لو مې ګډ کړو

یاره تا به راولمه لونګ کرمه

لاس به دې وتړم په زلفو

لونګ کرمه، په لونګین به دې وهم چې مړ دې کړمه

لونګ کرمه که لو مې ګډ کړو

یاره تا به راولمه لونګ کرمه

همدارنګه د هرې لنډۍ د لومړۍ مسرې څلورمه او اتمه څپه او د دویمې مسرې څلورمه، اتمه او دولسمه څپه خجنې وي، لکه:

غم دې راځيً بې غمه نهٔ یم

بې غمه خدَای دی بنده تلَ په غم کې ویَنه

لنډۍ ته ورته د نورو ملتونو ولسي شعرونه لکه د دري ژبې دوبیتــې، د روسي ژبې چستوشکی او د اسپانیایي ژبې (Cante,Jondo) زیاتره بــې منظرې اوازونه دي، په دې اوازونو کې د انسان په تېره بیا د عاشــق او رټل شوي انسان اوازونه راغبرگ شوي دي. په دې شعرونو کې د منظرې او تصویر جوړولو لور ته پاملرنه نه کېږي، د هغو لپاره نه باران شته، نــه ږلۍ، نه توده غرمه، نه شین سحر، نه غرونه او نه بیابانونه.

لنډۍ لکه اسپانیایي(Cante,Jondo) مطلق بې منظرې اوازونه نــه دي، بلکې کله کله د انسان په څېرلو کې له طبیعت او د هغه له ښکلو منظرو څخه مرسته غواړي او د همدې موخې لپاره د منظرې په جوړولــو لاس پورې کوي، خو په دې منظرو کې نه حل کېږي او هغه د انسان د باطني غوښتنو او د ننیو شخړو د افهام د بشپړاوي لپاره استعمالوي او ښکلې منونکې مجسمه دومره رابرسېره کوي چې د لنــډۍ اصــلي موضــوع (انسان) او د هغه د احساساتو بیان د شکلونو او منظرو تر جسمه جــار کړي او فرعي موضوع د اصلي مضمون ځای ونیسي.

همدارنگه د پنجاب (ماهیا) د تحقیق له پلوه تر ډېره حده لــه (لنــډۍ) سره لگې دا دواړه صنفونه په یوه نیمه مسره کې پوره کېږي. پــه دواړو کې زیات د مینې اظهار او هم د دواړو موضوع له بنیادي پلوه یوه وي او دواړه اصناف په خپله په عوامو کې له پخوا څخه بې حده ښکلي دي. د دواړو د وینا طرز هم یو دی خو له دې سره سره په دواړو کې څه خبرې

**بېلې دي، لکه په پښتو لنډۍ کې همېشه یــوه قافیــه چلېــږي، خــو د پنجابي په ماهیا کې د قافیې هېڅ قید نه شته، دویمه د لنډۍ په یــوه نیمه مسره کې د لومړۍ نیمګړې مسرې د دویمې پوره مسرې سره پوره تړون وي، خو په پنجابي ماهیا کې په عام ډول د لومړۍ نیمګړې مسرې له دویمې پوره سره هېڅ اړیکه نه شته. په هر حال د پنجابي ماهیــا او پښتو لنډۍ د صنف له پلوه یو تربله ورته دي، خو د لنډۍ د قدامت په اعتبار دا ویلای شو چې پنجابي ژبې دا صنف له پښتو څخه اخیســتی دی، نو ویلای شو چې په کومه زمانه کې چې د پښتو د شــاعرۍ ابتــدا کېدله په هغه زمانه کې لا د پنجابي ژبې نوم او نښان نه و.**

**لنډۍ په پښتو کې په مختلفو نومونو یادېږي او په هــر چاپېریــال کــې بېلابېل نومونه ورته ایښودل شوي دي، لکه: د کندهار او پکتیا پښتانه یې لنډۍ بولي، چې دا اصطلاح د اکثریت په توګه په دوی کې موجوده ده، دا تسمیه ښایي په دې بنا وي چې لنډۍ خلک یو ډول لویشتکي مار ته هم وایي او زیاتره د پاړوګرو تر اودې لاندې نه کېږي. بل دا چې د لنډ (کوتا) په مانا دی او لنډۍ د لنډ مغز دی چې مونث ته یې لنــډۍ ویــل کېږي او هم ددې ډول نظم لومړۍ مسره په ســېلاب کــې تــر دویمــې مسرې څلور سېلابه لنډه وي:**

**قلم په لاس ګوتې مې رېږدي**

**د عاشقۍ لنډۍ (مار) په زړه وهلی یمه**

همدارنگه یوسفزي، پېښوریان او ځینې نور پښتانه مسره او ټپه ورته وایي چې دا نومونه (اصطلاح) سره له دې چې په دوی کې مروجه هم ده د هر ځای باسواده او تعلیمیافته پښتانه ورباندې پوهېږي، مسرې ځکه ورته وایي چې مسرې د یو شعر نیم بیتي ته وایي، لنډۍ ته هم پوره بیت نه ویل کېږي، ځکه پوره بیت هغه ته وایي چې دواړه مسرې یې سره برابرې وي، خو د لنډۍ لومړۍ مسره (۹) او دویمه یې (۱۳) سېلابه ده یانې د بیت له یوې مسرې سره تشبې شوې، نو ځکه ورته د مسرې نوم ایښودل شوی دی.

پښتو لنډۍ لنډه او غېزناکه ده او د پښتو د لرغوني فولکلور په زړه پورې برخه ده. څرنگه چې د پښتو فولکلور زیاتره برخه د ننگ او جنگ پېښې دي او د پخوانیو جنگونو ښه وسله توره وه او بیا مصرۍ توره چې د ډېر مشهورتیا له کبله یې د مصرۍ تورې پرځای یوازې مصرۍ بولي، نو پښتو لنډۍ چې تورې ته ورته خاصیت لري که توره یوازې څرگند تپ جوړولای شي نو لنډۍ هم تر تورې کمه نه ده، لنډۍ د پټو او څرگندو ټپونو لامل کېدی شي.

زما په زړه دې پرهار وکړ

پـه تا دې وشي د مصرۍ تورې وارونه

څرنگه چې لنډۍ د ولسي سندرو یوه په زړه پورې برخه ده، نو پښتانه هم ورته په زړه پورې اوازونه او طرزونه لري. اکثره وخت یې په لوړ،

اوچت او اوږده اواز وایي چې په دغسې ویلو اورمرو اواز ټیټېږي، نو ټــپ ورته وایي او هم دا چې لنډۍ د ټپو او څرګندو ټپونو لامل کېدلای شي، نو له همدې کبله په ټپه نومول شوې ده او همدارنګه څنګه چې مور په ټپولو خپل ماشوم ویده کوي، د دغسې ټپو په واسطه ویــونکي خپــل دردېدلی زړه قراروي او ده ته تسلي او ســکون وربښــي. پــه کورنیــو مجلسونو یا اتنونو کې له ټپو ویلو سره لاسونه هم پړکول کېــږي او لــه دغسې ټپ ټپ اواز سره چې کوم ساز پیداکېږي هغه د ټپې له روح سره ډېر لوی تړون لري.

بېلتون ټوپک شو راته ډک شو

ناڅاپه ټک شو په تندي یې وویشتمه

همدارنګه د وردګو، ننګرهار او د کابل شاوخوا پښتانه ټیکۍ ورته وایي څرنګه چې لنډۍ عموماً له ډېــرو اوږدو پېښــو، ســوچونو، خیــالونو او تصوراتو هغه د مقصد ټکی په لنډو ټکو کې څرګندوي نو له همدې امله په ټیکۍ نومول شوې ده.

ټیکۍ مې ډېرې ورته وکړې

په لا اله الا الله یې ختمومه

ډېری پښتانه چې کله د لارې ملګری ورسره نه وي او یا یوازې کار کوي، نو ښه ملګری یې همدغه د پښتو لنډۍ ده، بیا نو له ځانه سره په ورو او

ټیټ اواز لنډۍ وایي چې ځینې خلک یې غړانګې بولي. کله چې غم او اندېښنه ډېر زور پرې وکړي نو بیا د خپل غم غلطولو لپاره یې پـه یـوه خاص غمجن او ټیټ اواز ځان سره زمزمه کوي چې دې ډول ویلو ته یې غریبي وایي.

ځینې پښتانه لنډیو ته سندرې او بدلې وایي خـو سـندرې او بـدلې د لنډیو لپاره ځانګړی نوم نه شو بللی، ځکه چې دغه نومونه د پښـتو د ټولو ولسي شعرونو لپاره استعمالېږي، نو یـوازې د لنـډۍ لپـاره یـې خاصولای نه شو.

لنډۍ زیاتې د پښتنو مېرمنو د جذباتو اظهار دی او هم دوی ویلي دي، خو هر کله چې پښتنه مېرمن د خپلې حیا پړونی نه غورځـوي پـه دې وجه دا ټولې ټپې د چا نوم ته نه شي منصوبېدلای دا په دې خاطر چې د ویونکي د زړه د کیفیت له تاثر او درده څوک خبر نه شـي. د دوی پـر خولو د پښتو مهرونه لګېدلي وي، د پېغور له وجې یې د داسې قسم د خیال اظهار سره خپل نوم تړل مناسب نه دي ګڼلي. پښتنه مېـرمن د نړۍ د ټولو مېرمنو په څېر د احساس، وجدان او ذوق مېرمن ده او د ښه، مناسب او نامناسب لپاره معیارونه او قضاوت لري، خـو د فیـوډالي او ماقبل فیوډالي شرایطو چوکاټ هغې ته ددې موقع نه ده ورکړې چې د خپل وجدان حکم او قضاوت د خپل ژوند په عمل کې څرګند او اغېزمن کړي، نو د خپلو لنډیو (ښځمنو لنډیو) یوه مهمه برخه د (نرینه سالارۍ

پر ضد او د ښځې د اوږده اسارت او بېواکۍ د بیان په باره کې وایي او په بېلابېلو مواردو کې ددې ناروا (سالارۍ) د افشا کولو او رسوا کولو لپاره خاص اصطلاحات او سمبولونه استعمالوي او په دې وســیله د ازادۍ او ځانواکۍ پر لوري د خپلې تندې او تلوسې افاده ښیي. ددغو مصطلحاتو له جملې څخه یو هم د (موزي) او (موزیګي) کلمات دي، دا سمبولونه په لنډیو کې د بې غیرت، نامرد، ډارن، بې پښتو، بې وجدان، بې انصــاف، دسیسه کار او شیطان نرینه په مانا استعمالېږي او زیاتره پــه ښــځمنو لنډیو کې د استعمال موارد لري او په هغو ښځمنو لنــډیو کــې چــې د (موزي) او (موزیګي) پر ضد ویل شوي دي د محکومې او اسیرې پښتنې مېرمنې نهایي نفرت، بېزاري او حسد انعکاس مومي او په عمومي توګه د (پلارواکۍ) د ستم د پاتې شونو ضد انساني او د وحشیانه نتیجو خیرنه او ناپاکه څېره ښیي، لکه:

که مې نصیب د بدو نه وای

چېرې موزي چېرې د لګو صورتونه

همدارنګه د (ستي) د دور له احکامو سره سم به هره کونــډه ښــځه د خاوند له مړینې سره یوځای ژوندۍ اور ته اچول کېده، په ځینــو نــورو لرغونو مذهبونو کې د مړي د سوځولو پرځای د خښولو عنعنه دود وه، هغوی به ښځه له خاوند سره ژوندۍ ګور ته سپارله، دې عنعنو غالباً په هندي اریایي قبایلو او مشایرو کې زیات دوام کــړی دی. د پښــتو پــه

عامیانه شعر په تېره بیا په لنډیو کې د (ستي) د لفظ او دود انعکاس او پراخ استعمال دا اټکل منځته راوړي چې د پښتني ښځې لرغوني میندې هم (ستي) شوې دي او ددې بشري ضد منسوخ درد رنج یې ګاللی دی.

ګودر دې ونیو تومتي شوم

په اور ستي وای تومتي مه وای مینه

د ستي کېدلو او ژوندۍ ښخېدلو احکام یوازې او یوازې ښځې ته اړم وو او نرینه پر دې احکامو محکوم نه وو، خو په وروستیو پېړیو کې د (ستي) کلمې له عامیانه ادبیاتو نه خاصو ادبیاتو ته لار کړې ده. د لنډیو اساسي مضمون انسان دی، لنډۍ له (انسان) څخه ځان نه بېلوي هغه موضوع چې لنډۍ له خپل اصلي مضمون (انسان) نه بېلوي، لنډۍ هغه یسته غورځوي او نه یې زغمي. لنډۍ یوازې د انسان د غمونو، ناهیلیو، بارانونو او برېښناوو نړۍ ته پاملرنه کوي، انسان تصویروي او د هغه د هیجان توپانونه، د هغه د اوښکو بارانونه د هغه د قهر او غوسې تندرونه او د هغه د صبر او زغم سمندرونه ښکاروي، نو له همدې امله لنډۍ د انسان د احساساتو، عواطفو، دردونو، رنځونو او انګېرنو ډېره عالي او دقیقه درجه بندي کړې ده او هغه یې د ډېر خواږه او ظریف بیان په موسیقۍ کې بیان کړي دي، په لنډۍ کې د محروم انسان غم د اوښکو د ناپایه سین مساپر دی، داسې غم چې د انسان د غریزې ښکلا او دده د ازادۍ پر

خلاف پر ده باندې تېل شوې دي اوښکې د همدې اوږده او ناپایه غمونو د اسانولو او حلولو په خاطر د لنډیو څپو ته ځان سپاري او په دې توګه د پېړیو په اوږدو مزلونو کې د ځپل شویو او رټل شویو انسانانو د ژوند تراژیدي له لومړیو څخه وروستیو ته او له پېړیو نه پېړیو ته رسېږي.

زما د زړه ناپایه غمه

اور دې چې هر څو پټوم لوګی دې ځینه

لنډۍ د اهنګ یا غږ د هر ډول وزن تابع وي، په هر ډول چې یې اړوې اړول کېږي. غالباً د پښتونخوا په هر ګوټ او په هره قبیله کې بېلابېل اهنګ او وزن لري، لکه تیرایي، شلګري، ګرم سیري، پېښوري، کندهاري، وردګي او داسې نور او هم په مختلفو سیمو کې دا په بېلابېلو طرزونو ویل کېږي چې تقریباً شاوخوا (۵۰) طرزونه لري، لکه: (یکه زار)، (یاقربان)، (راځه راځه) او داسې نور، د لومړۍ مسرې د لنډوالي د دویمې مسرې له اوږدوالي سره د برابرولو لپاره ویل کېږي او دا یې یو قسم د پېژندنې لار هم ده.

په لنډیو کې (باد) شخصیت پیداکوي داسې شخصیت چې کولای شي اوږدې لارې په لنډ وخت کې پرې کړي، هغه کولای شي د ګلونو وږمې او د لونګو خوشبویي د نړۍ یوې برخې ته ولېږدوي او یا دا چې له هر ځایه هر ځای ته، له هرې خوا څخه هرې خواته د غرونو، بیابان، سین، سمندر، صحرا د لوړو څوکو له لوري زموږ خواته او زموږ د کلیو کېږدیو،

کروندو خواته تلای او راتلای شي هغه نه ستومانه کېدونکي وزرونه لري، د مینې او رفا استازی دی او د هر چا محرم ګڼل کېږي، له هغه نه هېڅوک خپل راز نه پټوي او هر څوک رښتیا ورته وایي له همدې کبله (باد) په ولسي ادب کې د انسان د ټولو اسرارو عشقونو، غمونو او خوښیو شریک او شاهد دی.

یو وارې بیا په دې لار راشه

د سهار باده غرمې مړاوي کړل ګلونه

همدارنګه د تورو شپو او بې څراغه کېږدیو او جونګړو شاعران تر هر چا د سپوږمۍ او ستورو د رڼا او ځلا په ژبه ښه پوهېږي، نو له همدې امله په عاشقانه لنډیو کې سپوږمۍ هم د باد په څېر ژوند پیداکوي او د لنډیو د بې نومه شاعرانو د عواطفو نړۍ ته لار باسي او د عواطفو لطیفو انځورګریو په افاده او شکل موندلو کې مرسته کوي.

زما او ستا ترمنځ شول غرونه

سپینې سپوږمۍ ته سلام کړه سلام به کړمه

د لنډیو د زېږېدو او مرګ د چټکتیا او پراختیا اندازه د ټولنې د اجتماعي اقتصادي بدلون په سرعت او وسعت پورې اړه لري؛ هر څومره چې اجتماعي اقتصادي وده ګړندۍ او انقلابي وي هماغومره د نویو لنډیو د راپیداکېدو او د زړو لنډیو مرګ او یا بدلون هم ګړندی کېږي، خو ددې

خبرې مانا دا نه ده چې لنډۍ په مشخص تاریخي فورماسیون کې په یوه میزان او بې بدلونه پاتې کېږي، البته دا یوه اصلي او قانونمنده خبره ده چې کله یو اجتماعي اقتصادي فورماسیون بــل اجتمــاعي اقتصــادي فورماسیون ته ځای پرېږدي، د ټولنې په روبنــايي قلمــرو کــې د ژورو انقلابي بدلونونو او تغیراتو لپاره زمینه برابرېږي، خو دا حتمي نه ده چې په اجتماعي سیمه کې دې ټول تغیرات حتی سطحي او جزيي تغیــرات یوازې او یوازې هغه وخت منځته راشي چې یوه تاریخي مرحلــه بلــې تاریخي مرحلې ته ځای پرېږدي. د فولکلور د ټولو برخو په ځانګړې توګه لنډیو په دې مشخص دوران کې د رازېږېدو له وخته بیا تر ننه پورې د یو روبنايي تابع جز په توګه پرله پسې تغیر موندلی دی. پــه دې مشــخص فورماسیون کې ډېرې لنډۍ هست شوي او ډېرې نشت شوي دي، نوي مضمونونه لنډیو ته ننوتي او ډېر زاړه اصطلاحات او لغات او ژبني علایم له لنډیو څخه لویدلي او پر دې سربېره هغه لنډۍ چې مدلول بهايې له منځه تللي او یا د خلکو له نظره لوېدلې دي په خپله هم هېرې شوي او مړې شوې دي. په دې جریان کې د ځینو لنډیو د ساقطېدو پروسه اوږده شوې او تر قطعي مرګ پورې یې اوږده لاره وهلې ده. په همدې ردیــف کې په قوي احتمال هغه لنډۍ شاملې دي چې د لنډیو هستوونکو او یا د غاړو ایجادګر اخلافو د هغو په لومړۍ یا دویمه فقره کې تغیر راوستی دی او د اصلي لنډۍ یوه مهمه برخه یې غورځولې ده، لکه:

زما د زړه صدف دې مات کړ

ځکه مې وينې په سينه وهي موجونه

زما د زړه صدف دې مات کړ

زه به تر سترګو مرغلرې تويومه

په دې دوو لنډيو کې چې واحده لومړۍ مسره لري يوه خامخا تر بلې مخکې ويل شوې ده او د دويمې لنډۍ خپله لومړۍ مسره له هغه نه اقتباس کړې ده، دا احتمال ډېر کمزوری دی چې دواړه لنډۍ دې د ويلو شاعرانو په عين وخت کې ويلي وي او که چېرې دغه مهال فرض ددې دوو لنډيو په باره کې ومنو، نو دغه دوه لنډۍ خو په خپله نوع کې يوازېنۍ دوه جوړه شوې لنډۍ نه دي، بلکې داسې لنډۍ ډېرې دي چې دوه دوه، درې درې او حتی څلور يا تر هغو زياتې په لومړۍ يا دويمه فقره کې سره يو دي. پر يادو شويو مثالونو سربېره داسې لنډۍ هم شته چې په دويمه مسرې کې سره يو شوي دي، لکه:

سترګې دې دواړه رانږدې کړه

چې په ژړا شي مرغلرې تويوينه

تر خمارې سترګو دې جار شم

چې په ژړا شي مرغلرې تويوينه

**عالمه سترګو ته يې ګورئ**

**چې په ژړا شي مرغلرې تويوينه**

**له دې مثالونو څنې معلومېږي چې دا يو تصادفي شاعرانه توارد نه دی، بلکې ددې راوړل شويو فقرو مانا داده چې د هر مثال او هرې نمونې په لنډيو کې يوه لنډۍ تر نورو پخوا ويـل شـوې ده او دويمـه، درېيمـه، څلورمه او نورې لنډۍ وروسته راپيـدا شـوي دي. د وروسـتيو لنـډيو شاعرانو د لنډۍ لومړۍ برخه راخيستې ده او د لنډۍ دويمه برخه يـې حذف کړې او په خپله يې له خپل ذوق او غوښتنې سره سـمه هسـت کړې او ور اچولې ده. ددې تصرف لپاره ډېر علتونه اټکل کېـدی شـي، مثلاً د لنډيو هستوونکو د ذوق توپير، د ټولنيز موقف توپير، د دردونو او اجتماعي کورونو توپير، د زمان توپير، د عمومي ټولنيز انکشاف توپير، د کلي او کېږدۍ، فقر او رفاه او د طبيعي چاپېريال توپير او داسې نور ددې سبب شوي چې د لنډيو په دويمه مسره کې لاس ووهـل شـي او ددې منل شوي علمي اصل پر بنا چې انسان د خپل مادي چاپېريال مخلوق او د هغو طبيعي او اجتماعي مظاهرو بيانوونکی دی چې دی يې راچاپېر کړی دی په پخوانۍ لنډۍ کې لاس وهي او هغه د خپلـې مشـاهدې او تجربې او روحي غوښتنو د بيان چوپړ ته راکاږي، کله کله د لنـډيو پـه فقرو کې توپير او بدلون د محلي او قبايلي يا داسې نـورو توپيرونـو او**

ملحوظاتو په رعایت منځته راځي او قانوني عمق نه لري، لکه په دغو لنډیو کې:

یار مې د خوست زه د تیرا یم

خدایه خوست وران کړې چې جوړه تیرا له ځونه

او یا:

یار مې د کوټ زه د تیرا یم

خدایه کوټ وران کړې چې جوړه تیرا له ځونه

په دې لنډیو کې (خوست) د (کوټ) ځای نیولی یا ددې برعکس، خو په دې راز تصرف کې د لنډیو د هستوونکو محلي تمایلات داخل دي او د داسې ترمیمونو په لړۍ کې ناسخ او منسوخ د نوي او زاړه، د راتلونکي او تلونکي د تسلسل قانونیت نه شي مطالعه کېدی. دا ډول لنډۍ ډېرې دي چې خلکو د اصلي لنډۍ په اعلامو او نومونو د خپلو محلي تمایلاتو پر بنا بدلون راوستی دی او ددغه راز بدلون د لنډیو د مرګ او ترک کېدو په چانولو او حتمي کولو کې اغېزه نه لري. ځینې داسې لنډۍ هم شته چې سره ورته مضمون لري خو الفاظ او ترکیب یې توپیر شیي، یانې داسې توپیر چې په محلي قبایلي او ټولنیزو مشخصاتو پورې اړه نه لري، بلکې داسې ښکاري چې دا توپیرونه د لنډیو د شاعرانو له ذوق، ادبي سلیقې او ذهني انګېرنو څخه راپیدا شوي او دا تغیر او بدلون که څه هم

د بشپړې فقرې (مسرې) تر بدلون محدود او جزیي دی، خو د لنډيو د تاریخي او نه درېدونکي تحول د پروسې یوه جلوه اټکل کېدی شي، لکه:

نصیب تقدیر ته ګناه نه شته

بخت چې کوته شي تندی تل دغرې خورينه

عالمه ماته ګناه نه شته

بخت چې کوته شي پاچاهان دغرې خورينه

## کاکړۍ غاړې (کاکړۍ):

کاکړۍ غاړې چې کاکړۍ لنډۍ یې هم بولي، د پښتو ولسي ادبیاتو یو خوږ ډول دی، چې راز راز موضوعات (رزم او بزم) د پښتو ټولنیز، اقتصادي شرایط، کولتوري پابندي، دیني او عقیده یي مسایل، ساده ولسي افکار، ټوکې او ټکالې او د پښتني کولتور بېلابېل اړخونه، خویونه او رواجونه په خپله لنډه غېږه کې رانغاړي.

کاکړۍ لنډۍ که څه هم له نامه څخه یې له کاکړو سره تړلې معلومېږي، خو د ټولو پښتنو اصیل مال دی او په پښتو کې داسې قبیله نه شته چې د دې لنډيو په جوړولو کې یې لږه یا ډېره ونډه نه وي اخیستي، دغه ډول له نورو ټپو څخه یو جلا او بېل شی دی، چې لومړۍ وار کاکړو

نښلولي دي او تر ننه به زيات و کم پنځوس زره کاکړۍ لنـډۍ جـوړې شوې وي. کاکړۍ لنډۍ له دوو مسرو څخه جوړې وي، چې کله کله یې د دواړو برخو سېلابونه سره برابر او کله کله توپیر سره لـري او د دواړو برخو وروستي توري یې سره یو رنګ وي. هغه کاکړۍ غاړې چــې هــره مسره یې اته اته سېلابه وي:

ښایستې که ستا رضا ده

ستا د قام بـــدي پر مــا ده

د جوړښت د څرنګوالي له مانا دغه غاړې پر پنځه ډوله وېشلای شو:

۱- کږې غاړې: دا یې هغه ډول دی چې نه ردیف، نه قافیه او نــه هــم د څپو برابروالی په کې مراعتېږي، لکه:

زه نرۍ پاتو له ځمه

د ږوب لوړې که دي لیار راکه

۲- هغه ډول غاړې دي چې د څپو شمېر یې برابر وي او ردیف هم لري خو قافیه نه لري، لکه:

**ازلي قلم مې خوار دی**

**سپینه ژوند مې په زوال دی**

**۳- هغه ډول غاړې دي چې د څپو شمېر یې برابر وي او قافیه هم لري خو ردیف نه لري، لکه:**

**په اور دي ستي کورونه**

**خدای دې ژلګي کې لوی نذرونه**

**۴- هغه غاړې دي چې قافیه او ردیف دواړه لري او د څپو شمېر یې هم سره برابر وي، لکه:**

**په ربه ارمان به مړه سو**

**که به ګډ په پښتانه سو**

**۵- ازادې غاړې دي چې پرته له وزن څخه، نه قافیه لري او نه هم ردیف، لکه:**

**تر ساړه شمال دې جار شم**

**تـــرپـی پـورته خراسانـــه**

باید ووایو چې ولسي ادب ټاکلی تاریخي بنسټ نه لري او د ژبې، کلمو، رواجونو، انځورونو او یادولو څخه یې د وخت او لرغونتوب ښــه اټکــل کېږي. لکه موږ چې په لنډیو کې نمونې لرو.

که د خالو لښکرې راغلې

زه به ګومل ته د خپل یار دیدن ته ځمه

څنګه چې خالو د غزنوي محمود یو سر لښکر و او د ګومل پر لاره هند ته تلو راتلو او د خالو د لښکر پر یوه سرتېري مینه د خپل اشنا د دیدن لپاره ګومل ته ورتله، نو له دې څخه څرګندېږي چې دا لنډۍ د غزنوي محمود په زمانه کې جوړه شوې ده. دغه ډول ولسي ادب نور ژانرونه او کاکړۍ غاړې هم په دې توګه پېژندل کېدلای شي، د بېلګې په توګه یوه غاړه:

ونـــــه کېږېـــــږي د منـــــو

تېر شول ډیلــي لــه بــر اســو

دلته د ډیلي د کلمې په یادونه کې ډیلي ته د لوی اتل احمدشاه بابــا د تګ یادونه شوې ده، یانې دا غاړه هماغه مهال ویل شوې ده. په کاکړیو غاړو کې د خبرو اترو او ډراماتیکو غاړو ترڅنګ کله کله د یوې موضوع په اړه څو غاړې پرله پسې هم راځي لکه د کاکړو د یوه اتل او د انګرېزانو په مقابل کې د تکړه جنګیالي شېرجان کیسه چې د هر کاکړ تر غوږونو رسېدلې او تر خولې وتلې ده:

چــې پاســنۍ تــې خپــژاوي

شــېرجان ســګرېټ ولګــاوي

شېرجان خوی د غازي وکــئ

د کاکړو رنــګ یــې ښــه کــئ

د نورو پښتو ولسي شعري ژانرونو په څېر په کاکړیو غاړو کې هم د ښځې ونډه ډېره ده، دا ځکه چې له یوې خوا په پښتني ټولنه کې ښځې ډېرې محکومې او خوارې دي، له بلې خوا په کاکړیو نارو کې د شاعر نوم ته د یادولو اړتیا نه شته.

مجبوري ده ناست یم

زړګی مې غوټ پرې کي ستا غم

له جانانه بېله سومه

لکه ګل ورژېدمه

په عمومي ډول ددې ډول فورم هندسي جوړښت داسې دی:

یو ډول:

=a_________________

=a_________________

بل ډول:

a_________________

a_________________

# اخځونه

۱- کوهار- د بوریوال کاکړو وېبلاګ.

۲- ستاسو نړۍ خپرونه- بي بي سي راډیو د صادق ژړک، غفور لېوال او حبیب الله رفیع مرکه.

۳- د لنډیو په هکله د هارون حکیمي لیکنه.

۴- پښتو متون- د صابرخان خویشکي اثر.

۵- د پښتو ټپې- د سلمی شاهین اثر.

۶- پښتو لنډۍ- د سلیمان لایق اثر.

۷- ښوونه- د علامه پوهاند استاد عبدالشکور رشاد اثر.

۸- د پښتو ځانتني ادب او موسیقي- د مرحوم غلام جیلاني جلالي اثر.

۹- د پښتو ادبیاتو تاریخ- د سرمحقق زلمي هېوادمل اثر.

۱۰- د پښتو شعر هندسي جوړښت- د محمد اسمعیل یون اثر.

یادونه: ما په خپله لیکنه کې د پورتنیو یادو اثارو مطالعه کړې، د هغو له بېلابېلو مخونو څخه مې مانا او مفهوم را اخیستی او بیا مې خپله لیکنه پر همغو اساساتو درولې ده.

فرزانه نوري- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصله

# په پښتو ادبیاتو کې لومړنۍ ژباړه



په لومړۍ او دویمه اسلامي پېړۍ کې د پښتونخوا غربي خواوې او د غور ځمکې د پښتو ادب د پرمختګ او ودې زانګو وه او دغه سوري کورنۍ وه چې له دوی څخه د غور د شاهنشاهي مشهوره کورنۍ پیدا شوه او ډېر مشهور شاهان او فاتحان لکه: سلطان غیاث الدین او معزالدین محمد او نور په کې راووتل او ددغې کورنۍ په وخت کې بیا غور د پښتو شعر او ادب ټاټوبی و، چې د دوی د دربار شاعران وروسته تاسې ته درپېژنو. له ټولو ادبي څېړنو څخه داسې ښکاري چې د پښتو لومړني اثار هم په دغو سیمو پورې اړه لري. محمد هوتک په پټه خزانه کې لیکلي:

((په لرغوني پښتانه کې هسې حکایت کا شیخ کته رحمه الله چې ابو محمد هاشم د هلمند په سروان کې پر (۲۲۳هــق) زېږېدلی او په بست کې یې له علماوو او فقهاوو لوستنه وکړه او وروسته ولاړ په عراق کې یې په کلو کلو د لویو امامانو څخه سمع وکړه او ابن خلاد چې څرګند و په

ابي العینا سره یې په بغداد کې عمرونه تېر کړل او له هغه یې د عربـــي بلاغت او اشعار ولوستل او په (۲۹۴هــق) کې له عراقه بېرته راغی، درې کاله وروسته په بست کې وفات شو، نقل کا: چې ابو محمد په عربـــي او فارسي او پښتو شعرونه ویل او هغه وخت چې دده استاد ابن خلاد ړوند شو، نو ده به یې خدمت کاوه او د هغه څخه به یې خواږه شعرونه په ادب کې د عربو اورېدل.

ابو محمد له عربي څخه په پښتو د خپل استاد ډېر شعرونه هم را اړولي دي.)) د لرغوني پښتانه اسناد دا بیان د ابو محمد هاشم علمي او ادبي ژوندون ښکاره کوي او داسې څرگندېږي چې د (۳۵۵هــق) تر حدودو پورې د عربو مدنیت د عربي ژبې سلطه او د عربي ادابو او علومو اثــر د پښتونخوا په اکثرو برخو کې خپور شوی و او ددې ځمکې غربي خوا تر ډېره تر دغه اثر لاندې وه، که څه هم په دغه عصر کې د برې پښتونخوا خلکو د ال طاهر (۲۰۵- ۲۵۹) تر بیرغ لاندې استقلال موند او څه ناڅه د پارسي ژبې ادب هم په دغو زمانو کې ژوندی شو، خو عربــي علمـــي، ادبي او درباري ژبه وه او پوهانو خپل اثار پر دغه ژبه لیکل. په خراسان کې د عربي ژبې ډېر لیکوال او پوهان وو، چې دوی د عربو د مــدنیت او ادب په خپرولو کې ښه خدمتونه وکړل. مثلاً صــالح بــن عبــدالرحمن سیستاني د حجاج بن یوسف په امر له (۸۱-۸۷) دواوین او دفــاتر لــه پارسي څخه عربي ته نقل کړل او ډېر علما پر عربي علومو بوخت شول، لکه ابوخالد وردان کابلي موسوم په (کنکر) چې د علي بن حسین (۴۶-

۷۴هـ) له ملګرو څخه و او د حجاج له ظلمه مکې ته وتښتېده يا شاد بن برد د عباسي دربار ړوند شاعر چې اصلاً د تخارستان او په (۱۶۷هــق) کې وژل شوی دی. پټه خزانه چې وايي په کلــو کلــو د علــم او ادب د زوکړې لپاره په بغداد کې مېشت و او د عربو د ادب له هغــه مشـــهوره استاذه يې استفاده کوله، کوم چې ابن خلاد نومېده او په ابــي العينــا معروف و.

ابو هاشم په سروان کې زېږېدلی او په بست کې يې ژوند تېراوه او هــم هورې پر (۲۹۷هــق) کال مړ دی. د پټې خزانې له ليکه ښکاري چې دا سړی دپښتو ژبې ليکوال هم و او ده په پښتو يو کتاب کښلی و چې په هغه کې يې د عربو د اشعارو فصاحت او بلاغت بيان کړی و او نوم يې د (سالو وږمه) و، متاسفانه چې دا کتاب اوس نه شته او د پښتو په منثور ادب کې چې د کوم لومړني کتاب نوم موږ ته معلوم دی، همدغه د (سالو وږمه) ده چې د (نسيم ريګستاني) مانا لري او داسې ښــکاري چـــې دا کتاب به له عربي څخه د پښتو له لومړنيو تاليفاتو څخه و.

## د ابو هاشم اشعار:

ددې عالم او اديب سړي کوم شعر چې زموږ پــه لاس کــې دی، د پټــې خزانې په واسطه له (لرغوني پښتانه) څخه رانقــل شــوی دی، لکــه دا کتاب چې تصريح کوي هاشم سرواني د درېيو ژبو شاعر و. هم يــې پــه پښتو هم په عربي او فارسي اشعار ويل، خو دده عربي يا فارسي کــوم

شعر د پټې خزانې مولف نه دی رانقل کړی. که یې فارسي شعر زموږ په لاس کې وای، نو یقیناً به ددې ژبې له لومړنیو شاعرانو څخه هم وای. پټه خزانه لیکي: ( ابن خلاد چې یو ظریف او ادیب سړی و، په یوه شعر کې یې درهم ستایلی دی او ابو محمد هاشم دغه شعر داسې په پښــتو را اړولی دی:

ژبــه هــم ښــه وینــا کانــدي چــې یــې وینــه
د خاونــــد پــــه لاس کــــې زر او درهمونــــه
ژبــــور ورلــــه ورځــــي وینــــا یــــې اوري
د درهــــم خاونــــدان تــــل وي پــــه ویاړونــــه
درهــــم ژبــــه ده کــــه څــــوک ژبــــور کېــــږي
ده وســــله کــــه څــــوک پــــه کانــــدي قتالونــــه
کــه درهــم یــې ځینــې ورک ســي ســي نتلــی
بــې درهمــو یــې وي پــه خــړو پېژوندونــه
کــــه بــــډای ســــونی وبــــولي خلــــک وایــــي
دا وینــــا ده رښــــتیانیه لــــه رښــــتونه
کــــه بېــــوزلي ووایــــي رښــــتیا خبــــره
نــــور ووایــــي دا خــــو ســــونی دی تېرونــــه
هــو درهــم ښــندي هــر چــا لــه لویــه برخــه
د درهــــم د خاونــــد هــــر ځــــای پرتمونــــه.

دا اوه بیته چې زموږ لاس ته راغلي دي، په دریېمې هجري پېړۍ کې د پښتو ادب ډول، صبغه او رنګ راښیي که موږ د عربو د ادبي تاریخ کتابونو ته رجوع وکړو، نو هلته د ابن خلاد ذکر هرو مرو ګورو.

دا سړی د عربو مشهور ادیب او ظریف سړی و، چې نوم یې محمد بن القاسم یا ابن خلاد بن یاسر بن سلیمان او نیکه یې ابو عبدالله و. دی له لویو استادانو څخه روایت کوي او ډېر مشاهیر لکه سولي او ابن نجیح او احمد بن کامل دده ادبي شاګردان دي. پر (۱۹۱هــق) کال په اهواز کې وزېږېد او پر (۲۸۲یا ۲۸۳) په بغداد کې مړ شوی دی. په ځوانۍ کې ړوند شوی و، د عربي ډېر پاخه اشعار لري او ډېر حکامي اشعار او مضامین له ده رانقلېږي. سروان دهلمند د غاړې مشهور ښار و چې اوس یې ساروان کلا بولي او د هلمند پر شرقي څنډه د یوه کلي په ډول شته. ابن حوقل وایي چې د سیستان یو وړوکی ښار دی، مېوې، خرما او انګور لري.

نثار احمد- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# په پښتو لرغونو ادبیاتو کې قصیده

## سریزه:



دا موضوع ( په پښتو لرغونو ادبیاتو کې قصیده) د نورو موضوعګانو ترڅنګ د ګران استاد له خوا ماته د کورنۍ دندې په شکل راکړل شوې او ما هم د امکان تر بریده هڅه وکړه تر څو په دې اړه معلومات راغونډ او بیا وروسته پرې خپله ارزونه وکړم. په دې هیله چې راټول شوي معلومات دقیق زما او زما په شان د نورو زده کړیالانو په ګټه وي.

قصیده چې په پښتو کې ورته بولله وایي یوه عربي کلمه ده، چې مانا یې قصد کړای شوې ده او قصیده هغه شعري فورم دی چې غزل ته ورته دی خو په دومره توپیر سره چې د غزل بیتونه کم او د قصیدې بیتونه بیا تر (۱۶-۱۷) څخه زیات او اخري حد یې معلوم نه دی. د قصیدې لومړی بیت مقفی او د نورو بیتونو لومړۍ مسره یې بې قافیې او دویمه مسره یې د مطلع قافیه تعقیبوي او د موضوع له پلوه په کې هر ډول موضوعات رانغاړل کېږي.

په پښتو لرغونو ادبیاتو کې دوه داسې قصیدې چې یوه یې د پینځمې هجري پېړۍ او بله یې د شپږمې هجري پېړۍ په اوایلو کې ویل شوي تر دې دمه زموږ لاس ته راغلي دي. دغه قصیدې د تاریخ سوري په حواله شیخ کټه په خپل (لرغوني پښتانه) او له هغه څخه محمد هوتک (پټې خزانې) ته نقل کړې چې اوس پرې د پښتو ادب چمن شین دی.

په دې قصیدو کې یوه د اسعد سوري قصیده ده چې په غور کې اوسېده او هلته یې د سوریانو د شاهي خاندان د پادشاهۍ په دوران کې ډېر عزت درلود. شیخ اسعد د محمد زوی چې وروسته بیا پر (۴۲۵هـ) کال په بغنین کې وفات شو، دغه قصیده د امیر محمد سوري پر مړینه، چې د محمود غزنوي د لښکر له خوا بندي او وروسته بیا مړ شو ویل شوې او مرثیه یې بللای شو.

د ابن اثیر په وینا دغه جنګ پر (۴۰۱هـ) په اهنګران کې واقع شوی و او شروع هم په داسې انداز کوي چې لومړی له فلک څخه شکایت کوي. د شیخ اسعد سوري دغه قصیده لومړی (۱۹) تمهیدي بیتونه لري او مطلع یې دا ډول ده:

د فلک له چارو څه وکړم کوکار
زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار

شیخ اسعد وروسته بیا فلک مخاطب ګرځوي او فلک ته دغه ډول خطاب کوي:

څــه تېــری څــه ظلــم کانــدې ای فلکــه
ستا له لاسه نه دی هېڅ ګل بــې لــه خــار
په ویرژلو، لــور نــه کــړې پــه زړه کراړیــه
پـــــر نتلیـــــو اوروې د غــــم ناتــــار

ددغو خطابي بیتونو شمېر تول (۱۱) دی او تر دغو خطابي بیتونو وروسته شیخ اسعد په ډېر ماهرانه او استادانه ډول خپل اصلي مطلب ته راځي چې هغه د امیر محمد سوري پر مړینه ویرنه او ماتم کول دي:

کلـــه غورځـــوې واکمـــن لـــه پلازونـــو
کلـــه کېنـــوې پـــه خـــاورو کـــې بـــادار
زموږ په زړونو دې نن بیا یو غشی وویشــت
ودې ژوبللـــــه پـــــه دې غشـــــي هــــزار

شیخ اسعد په دغه قصیده کې د هغه وخت د سوریانو وضعیت چــې د خپل امیر د مړینې له امله پر دوی راغلی و او دوی یې ډېر ځــورولي او کړولي وو، ډېر په لوړ او هنري انداز سره انځور کړی او ترسیم کړی:

په دې ویر د غور وګړي تــور نمــري ســول
پــه دې ویــر رڼــا تیــاره ســوله د ښــار
ګوره څــاڅي رڼــې اوښــې لــه دې غرونــو
دا کړونګــی ســاندې لــي پــه شــورهار

ددې علت داسې بیانوي:

دا په څه چې محمد ولاړ له نړیه
په ویرنه یې سو غور ټول سوګوار

شاعر په ټوله قصیده کې په ټولو برخو کې هغه نکات په ډېر ښه انـــداز سره مراعات کړي چې د یوې ښې قصیدې لپاره اړین دي.

شاعر په پای کې دغه قصیده په دعایه سره پایته رسوي:

پـــه جنـــت کـــې دې وتـــون زمـــوږ واکمنـــه
هـــم پـــه تـــا دې وي ډېـــر لـــور د غفـــار

## تحلیلي کتنه:

قصیده چې یو مشهور شرقي شعري فورم دی او پخوا ډېـــر مـــروج و او داسې نښې نښانې هم لیدل شوي چې دغه شعري فورم تر اسلام دمخه په اریایانو کې هم و او له عربي ادبیاتو څخه فارسي ته را انتقال شـــوی دی.

د پښتو په لرغوني ادب کې شیخ اسعد سوري لومړنی سړی دی چې موږ ته معلوم دی، دده شعر د پارسي د همغه وخت د همعصرو شاعرانو لـــه اثارو سره نږدېوالی، ادبي رابطه او قرابت لري.

دا خو ښکاره ده چې د (۴۰۰هـــق) په حدودو کې پارسي ادب د ساماني شاهانو په دربارونو کې ډېر ښه روزل شوی و او بیا وروســـته د ســـلطان

محمود غزنوي پر وخت قصيده ويل خپـل عـروج او د اوج نقطـې تـه رسېدلي وو او پر دغه وخت دغه ادبي فن پوخ او بشپړ شو. پر دغه وخت د عنصري او فرخي او نورو پارسي ژبو شاعرانو له قصيدو سره که د شيخ اسعد قصيده پرتله شي نو دا په ګوته کوي چې په هغه وخت کـې ددې دوو مدنيتونو يانې غزني او غور ترمنځ ضرور اړيکي موجود وو، ځکه د قصيدې ويلو اثر او ادبي ميلان په غور کې هم ليدل کېږي.

دا قصيده ډېر خصوصيات لري چې ځينې يې دلته ذکر کوو:

۱- دا قصيده د پښتو له خپلو اوزانو سره ډېر فرق لري البتــه د وزن او عروضي کيفيت له پلوه او د فارسي اوږدو قصيدو ته ورته ده.

۲- دا چې د پارسي په قصيدو کې د ګريز (اصلي مطلب ته ګرځېــدل) ځانګړنه موجوده ده. دا قصيده هم د امير محمد سوري د وير په بيانولو سره خپل اصلي مطلب ته ګرځېدلې او په لومړي سر کې يــې د فلــک غندنه کړې ده.

۳- په دغه قصيده کې که څه هم ډېر عربي او پارسي لغات په کې شته خو له دې سره سره ډېر پخواني او متروک پښتو لغاتونه هم ډېر دي چې اوس له استعماله غورځېدلي او داسې څرګندوي چې په لرغــوني دوره کې موږ په خپله ژبه کې ډېر لغات درلودل چې اوس مو له لاسه ورکړي او ځينې يې اوس هم د استعمال وړ دي.

۴- ددې قصیدې له سلاست، بلاغت او ادبي ښېګڼو څخه دا څرګندېږي چې اسعد سوري یو ډېر ښه مقتدر او زبردست شاعر و، چې د محمد د مرګ او پر هغه د خلکو د ماتم تصویر یې په ډېر ښه او لوړ هنري انـــداز ترسیم کړی او په ډېر ښه شان سره یې په قصیده کې ځای کړی دی.

۵- دا چې شیخ اسعد په دې مرثیه کې د امیر پر مړینه غم ښکاره کوي او د یو ډول ماتم څرګندونه کوي، خو ترڅنګ یې بیـــا د غـــور د هغـــې طبیعي ښکلا یادونه هم کوي چې غور یې لري او هغه طبیعت په دې غم کې د غور له خلکو سره شریک ګڼي چې غرونه یې ســـپینې اوښـــکې څڅوي او ابشارونه یې د غم او ماتم سندرې وایي او هغه زرکې چـــې د غور په شنو ورشوګانو کې به یې د خوشالۍ او نشاط نغمې ویلې هغه هم د امیر پر مړینه خپه او پر زړه سوې انځوروي او د غاټول د ګلونو د نـــه شنه کېدو خبره کوي. شیخ اسعد دغه ټول انځورونه په ډېر ماهرانه ډول انځوروي.

۶- دا چې هغه مهال به شاعرانو او قصیده سرایانو ډېر کوښښ کاوه چې د خپل ممدوح ډېره ستاینه وکړي او د خلکو په نظر د هغه مقام ډېر لوړ وښیي، نو له رنګ رنګ مبالغو څخه به یې کار اخیست، چې کله کله به داسې هم کېدل چې د زیات افراط له وجې به یې ځینې کېدونکې کړنې د معجزو درجو ته رسولې خو شیخ اسعد سوري د خپلـــې ځیرکتیـــا او هوښیارۍ په وجه له دغه ډول بې ځایه مبالغو څخه ځان ژغورلی دی.

۷- شیخ اسعد سوري که څه هم د امیر پر مړینه د خپګان څرګندونــه کوي خو د پښتو له عنعنوي او کولتوري برېده ځان نه اوباسي او د امیر مړینه د ننګ او غیرت مړینه بولي او د هغه پر نامه د افتخار خبره کوي.

۸- شیخ اسعد سوري د امیر مړینه د خلکو او وطن لپاره یــوه ضــایعه ګڼي، خو بالمقابل فرخي چې تر ده وروسته یې د غزني د تباهۍ په باب قصیده ویلې او د قصیدې په اخر کې د ځان په اړه فکر کوي چې د غزني دربار تباه شو اوس به شاعران څه کوي.

شعرا را بتو بازار بر افروخته بود

رفتی و باتو بیکبار برفت آن بازار

۹- اسعد سوري په دغه قصیده کې له غیابه څخه د مخاطب پر لور ډېر ښه التفات کوي، چې دې التفات یې دې قصیدې ته لا ښکلا ورکړې چې دا په هغه وخت کې ډېر مروج و.

په پښتو لرغوني ادب کې یوه بله مشهوره قصیده د ښکارندوی قصیده ده چې په پښتو ادب کې د یو شهکار حیثیت لري.

ښکارندوی د غور و او پلار یې چې احمد نومېده د فیروز کوه کوتوال و، په خپله ښکارندوی به کله په غور کې اوسېده او کله به په غزني او کله په بست کې اوسېده. په هر حال د ښکارندوی کورنۍ د سلطان غیــاث الدین او سلطان شهاب الدین په ستاینه کې چې ډېرې قصیدې یې ویلې

**دي او د غور د سلاطینو د دربار پښتون شاعر و او محمــد بــن علــي د تاریخ سوري مولف لیکلي دي چې ما پــه بســت کــې د ښــکارندوی د اشعارو او بوللو غټ کتاب ولید.**

**دا د پښتو قدیم قصیده ویونکی شاعر به تل د غور له سلاطینو سره په جګړو او جنګي سفرونو کې ملګری و او هم د دېوان خاوند دی.**

**دا قصیده هم هغه د سلطان شهاب الدین غوري په ستاینه او مدحه کې ویلې چې له هغه سره په یو جګړه ییز سفر کې چې د هند پر لوري یــې کړی و، ملګری و.**

**دغه قصیده د قصیدې له هغو درېیو څانګړنو څخه برخمنه ده چې پــر درېیو برخو وېشل کېږي چې لومړی تشبیب، دویم د ممدوح توصیف او درېیم یې دعایه ده.**

**ښکارندوی هم د قصیدې په لومړي سر کې د یوه قوي تشبیب په راوړلو سره قصیده پیلوي او په لومړي سر کې د پسرلي د ښــکلاوو او ښــکلو طبیعي منظرو، په غرونو کې د ګلونو او د ښېرازه دښتو تصویر انځوروي.**

**د پســـرلي ښـــکلونکي بیـــا کـــړه ســـــنګارونه**
**بیـــا یـــې ولونـــل پـــه غرونـــو کـــې لالونـــه**
**مځکــه شــنه لاښــونه شــنه لمنــې شــنې ســوې**
**طیلســــان زمــــردي واغوســــتل غرونــــه**

چې وروسته بیا په ډېر ځانګړي انداز سره د ګرېز مرحلې ته ځي:

نه به چونی په ستایه د ګلو موړ سي

نه به موړ سم د سلطان په صفتونه

او په اخر کې یې په دعایه سره پایته رسوي:

ستا په زېرمه دې خاونده لوی ځښتن وي

مــوړ خو ستا په مرسته یونه ځو چې یونه

## ځېړنه او کتنه:

ښکارندوی په خپله قصیده کې د طبیعت د ښکلاګانو ذکر کړی چې په هغو کې د غرونو، دښتو، ګلانو، بلبلانو د مستو او سرشارو سیندونو چې په دې ټولو کې یې د وطن له ښکلو او په زړه پورې منظرو څخه الهــام اخیستی او پر ده یې تاثیر کړی او بیا یې دغه ښکلاوې په خپــل قــوي تخیل او په ټول ادبي قوت له استعارو او نازکو تشبیهاتو ســره یوځــای کړي او د قصیدې په امېل کې یې اچولي دي.

د ښکارندوی د قصیدې د سلاست او بلاغت او په هغې کې له استعارو او تشبیهاتو څخه دا په زغرده څرګندېږي، چې ښکارندوی په ادبي فنونو او د بلاغت په علم پوه او یو مقتدر شاعر و.

ښکارندوی که څه هم یو درباري شاعر و او د غور د ښار اوسېدونکی و، خو شعري ژبه یې غرنی، پخه او کلکه کارولې او په قصیده کې یې ډېــر

**پخواني پېچلي لغاتونه استعمال کړي چې دا د پښتو ژبې د شــتمنوالي یوه لویه بېلگه ده.**

**ښکارندوی د پښتنو زلمیانو د غیرت او مېړانې کیسه او ددوی خدمتونه او سرښندنې چې د اسلام سپېڅلي دین لپاره یې کړي او قربــانۍ یــې ورکړي، په دې قصیده کې په ډېر ښه شکل انځور کړي او په ډېر صراحت او وضاحت سره یې بیان کړي دي.**

**په پای کې ویلای شو، دغه دوه قصیدې چې د پښتو لرغــوني ادبیــاتو پورې تړلې قصیدې دي د هغه وخت درباري احترام په کې په ډېر ښــه ډول مراعت شوی او دغه قصیدې په پښتو ادب کې داسې دوه غمي دي چې ځلا به یې تر ډېره وخته تته او کمه نه شي او تل به پرې ویاړو.**

# د پښتو لرغونو ادبیاتو ځانګړي اثار

## ((د سالو وږمه)):



ابو محمد هاشم سرواني د زيد سرواني زوی دی. دا سړی د پښتو پخوانی شاعر او عــالم هــم دی چې په ځانګړې توګه يې په عربي ادب کې لــوی لاس درلود او د عربو د مشهور استاد (ابن خلاد) شاګرد و، په کلو کلو پــه عربــي هېوادونــو کــې اوسېدلی دی.

هاشم پر (۲۹۴هــ) له عراقه راغی او په بست کې اوسېده او يو کتاب يې د عربو د اشعارو د بلاغت او فصاحت په بيان کې وکېښ چې نوم يې (د سالو وږمه) و، یانې د (رېګستان نسيم) چې په پښتو کې (سالو) (ريګ) ته وايي او (وږمه) د نسيم په مانا ده. زموږ د اوسنيو معلوماتو له مخې دا د پښتو پخوانی کتاب دی، چې تر اوسه پورې موږ ته معلوم دي.

د پټې خزانې مولف يې د لرغوني پښتانه په حواله نوم اخلي او د هاشم سرواني له مولفاتو څخه يې ګني. نور نو موږ معلومات نه لرو چې ددې کتاب نثر څرنګه و او څومره و او نظم يې څومره و، خو يوازې د پټې خزانې د مولف له دغې ليکنې څخه داسې نتيجه اخيستلای شو چې په پښتو ژبه قدماوو کتابونه ليکل او دا ډول په خپل وخت ډېر کتابونه موجود وو.

هاشم سرواني پر (۲۲۳) هـ کال زېږېدلی او پر (۲۹۷)هـ وفات شوی.

## (( تذکره الاوليا)):

سليمان ماکو د پښتو ژبې له پخوانيو ليکوالو او نثر ليکونکو څخه دی چې تراوسه معلوم شوی، دی يو لوی مقتدر ليکوال دی.

دی د بارک خان صابزي زوی و چې د کندهار په ارغستان کې اوسېده، د ماکو قوم تراوسه هم لږ تعداد هلته اوسي او په ابداليو کې دا نوم شاملېږي.

سليمان ماکو له دې قوم څخه يو پوه ليکوال راوتلی دی او د پښتونخوا په غرونو کې يې سياحتونه کړي او د خپل وخت مشهور روحاني او ادبي رجال يې ليدلي دي. دی په خپله وايي چې پر (۶۱۲)هـ تللی وم او د پښتونخوا پر غرونو او رغونو ګرځېدم او د لويانو مراقد مې ليدل او پلټل. داسې ښکاري چې سليمان تر دغه مهم او ګټور سفر وروسته موفق شو

چې د پښتو د نوموړو بزرگانو په باب یوه تذکره (تذکره الاولیا) ولیکي او د دوی ویناوې او اشعار په دې کتاب کې خوندي کړي. دا کتاب متاسفانه اوس ورک دی، خو استاد عبدالحی حبیبي یې لـومړي (۷) مخــه پــر (۱۳۱۹) هــ کال په کندهار کې موندلي وو او د هغو مخونو عکسونه یې د کابل په کالنۍ کې پر (۱۳۱۹هــ ش) او بیا په پښتانه شعرا لومړی ټــوک کې خپاره کړي دي.

سلیمان ماکو د پښتو پخوانی مورخ او نثر لیکونکی دی او دده د دغــه گټور کتاب څو مخه د پښتو ژبې او د ادبیاتو د تاریخ لپاره داسې گټــور ثابت شول چې د ادب او پښتو تاریخ یې تر ابده مرهون دی.

## (( د خدای مینه)):

شیخ متی یو زاهد، عابد او تصوفي شاعر و، ده خپل لوړ او جمالي اشعار په یوه ټولگه کې کښلي وو، چې نوم یې د (خدای مینه) و.

د محمد هوتک په قول شیخ متي دا کتاب په غونډان کې کښلی او خپل شعرونه او مناجات یې په کې راټول کړي وو. کله چې شیخ متي وفــات شو، نو دده ارادتمندانو هغه کتاب دده پر مزار کېښود چــې د کــلات د غونډۍ پر سر واقع دی.

کوم خلک چې به دده د مرقد زیارت ته ورتلل، نو له هغه زیارته به یې دا کتاب اخیسته او د شیخ متي مناجات به یې لوستل. وروسته څرگنده نه

شوه چې کتاب څه شو، خو ویل کېږي چې د مغولو د تاړاک له وجې دا کتاب ورک شو. د شیخ متي دا کتاب اوس ورک دی، یوازې یو عرفـاني شعر له هغه څخه په پټه خزانه کې موږ ته پاتې دی، له دې شعر څخـه ښکاري چې دغه کتاب د (خدای مینه) یوه مجموعه وه، چې ډېر مـوثر اشعار په کې غونډ شوي وو.

محمد هوتک وایي: ((وګړیو به هغه پاړکي غړول او هر چاته به یې چـې ویل، نو هغوی به ژړل.)) د مغولو تاړاک ډېر علمي او ادبي ذخایر زموږ له لاسه ایستلي دي، دا کتاب هم د هغه عصر له ضایعاتو څخه دی او کـه محمد هوتک په خپله خزانه کې نه وای یاد کړي نو اوس به یې نوم هم ورک و.

## لرغوني پښتانه:

دا د موفق مورخ او د پښتو ژبې لوی لیکوال شیخ کته اثـر دی چـې د مرحوم شیخ متي له علمي او ادبي کورنۍ څخه و، چې د شیخ یوسـف زوی او د شیخ متي لمسی و.

شیخ متي (کلات بابا) خپلې کورنۍ ته علم، تقوا، عرفان او ادب په ارث پرېښودل او ډېر علما، مورخان او عارفان په کې پیدا شول، چې شـیخ کته په دوی کې ډېر مشهور و.

د شیخ کته مور بي بي (مراد بخته) نومېده چــې پــه ختــه زمنــده وه، نوموړي عالم د پښتو د رجالو او مشاهیرو په تاریخ کې یو مهــم کتــاب وکښ چې نوم یې (لرغوني پښتانه) و.

دا کتاب پښتو و او د پټې خزانې مولف محمدهوتک ډېر ځله دا کتــاب یادوي او داسې ښکاري چې ددغه مورخ مهم ماخذ هم دغه و او د پټې خزانې د لیکلو پر وخت یې دا کتاب په لاس کې و.

له (لرغوني پښتانه) کتاب څخه د پټې خزانې په ذریعه دغه مغتنم مواد موږ ته پاتې دي.

۱- د امیر کروړ احوال او اشعار چې شیخ کته هم له تاریخ سوري څخه اقتباس کړي دي.

۲- د شیخ اسعد سوري احوال او اشعار چې شیخ کته هــم لــه تــاریخ سوري څڅه اقتباس کړي دي.

۳- د ښکارندوی احوال او اشعار چې شیخ کته هم له تاریخ سوري څخه اقتباس کړی دی.

۴- د هاشم سرواني احوال او اشعار.

## ((تاریخ سوري)):

ددې اثر لیکوال محمد بن علي البستي دی. احتمــالاً چــې د مغولــو د تاړاک په ابتدا کې به ژوندی و. دده په باب ډېر معلومات نه لرو. پرته له دې چې د هلمند د غاړو یو سړی و او د تاریخي بســت اوســېدونکی و، پلار یې (علي) و او ده یو کتاب لیکلی و، چې د سوریانو پاچاهانو احوال یې له قدیمه په کې ضبط کړي وو.

((تاریخ سوري)) اوس ورک دی، یوازې د پټې خزانې مولف یې د شــیخ کټه متي زي د (لرغوني پښتانه) په حواله نوم اخلي او داسې ښــکاري چې دا کتاب د شیخ کټه په لاس کې و، او په (لرغوني پښتانه) کې یــې ډېر مواد له دغه کتابه رانقل کړي دي.

د (تاریخ سوري) یو څه ابحاث او محتویات موږ ته په دوو واسطو لاسته راغلي دي؛ شیخ کټه په (لرغوني پښتانه) کې ځینې رانقل کړي دي او له (لرغوني پښتانه) د پټې خزانې مولف محمد هوتک په خپل کتاب کــې رااخیستي دي. هغه مواد او پاتې اثار دادي:

۱- د امیر کروړ احوال او دده یو قدیم حماسي سفر او ویاړنه.

۲- د اسعد سوري احوال او دده قصیده.

۳- د ښکارندوی احوال او دده قصیده.

له دغې پاتې اثارو څخه ښکاري چې محمدبن علي په تـاریخ او پښــتو ادب کې ښه او ثقه معلومات درلودل.

لکه (لرغوني پښتانه) چې له ده څخه روایـت کـوي. دی یـو ادیـب او څېړونکی سړی و او په بست کې یې د ښکارندوی د قصایدو یـو غـټ دېوان موندلی دی او له هغه څخه یې دده یو غرا قصیده په خپل (تاریخ سوري) کې رانقل کړې ده.

داسې ښکاري چې د محمدبن علي (تاریخ سوري) مشهور و او شیخ کته هم دا کتاب د غور په (بالشتان) او (الشتان) کې موندلی و او تـر دغـه عصره د (۷۵۰هـ) حدودو کې لا دا کتاب موجود و.

په پښتو لرغونو ادبیاتو کې نور ځانګړي کتابونه هم لیکل شــوي، چــې اکثره یې د زمانې ناخوالو له منځه وړي دي. دا څو یې چې ما یاد کړل، دا هغه کتابونه وو چې د زمانې بادونو یې اکثره څه برخه له منځه وړې، خو بیا یې هم تر موږه څرک رارسېدلی او یو څه برخه یې لا خوندي پـاتې شوې ده. ښه به وي چې دلته د پښتو لرغونو ادبیاتو د وتلو څېړو نومونه واخلو. دوی هر یو پر خپل وخت ځانګړي اثار لیکلي خو بېلابېلو ناتارونو یې اثار له منځه وړي دي.

## د پښتو لرغونو ادبیاتو شاعران، لیکوال او ادیبان:

۱- یر کروړ پهلوان

**۲- هاشم زید سرواني**

**۳- شیخ رضي لودي**

**۴- نصر لودي**

**۵- بېټ نیکه**

**۶- اسماعیل سړبن**

**۷- خرشبون**

**۸- شیخ اسعد سوري**

**۹- شیخ تیمن کاکړ**

**۱۰- ښکارندوی غوري**

**۱۱- ملکیار غرشین**

**۱۲- تایمني**

**۱۳- قطب الدین بختیار**

**۱۴- شیخ متي**

**۱۵- باباهوتک**

**۱۶- شیخ ملکیار هوتک**

**۱۷- اکبر زمینداوري**

**۱۸- سلطان بهلول لودي**

**۱۹- خلیل خان نیازی**

**۲۰- زرغون نورزی**

**۲۱- زرغونه کاکړ**

**۲۲- رابعه**

**۲۳- دوست محمد کاکړ**

**۲۴- شیخ عیسی مشوانی**

۲۵- شیخ بستان بړیڅ

۲۶- علي سرور لودي

۲۷- مېرمن نېکبخته

۲۸- شیخ محمد صالح الکوزی

۲۹- سلیمان ماکو

۳۰- محمدبن علي البستي

۳۱- احمد لودي

۳۲- شیخ کته

۳۳- شیخ ملي

۳۴- زرغون خان

او داسې نور شاعران او ادیبان، خو ما یې دلته د ډېرو مهمو او مطرحــو هغو یادونه وکړه.

سمیع الرحمن حبیبزی- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# په لرغونو ادبیاتو کې پښتو غزل



زموږ په پښتو ادبیاتو کې غزل نـږدې اوه سـوه کلن تاریخ لري. د پښتو لومړنی لاسته راغلـی غزل د اکبر زمینداوري دی، د اکبر زمینداوري د دېوان په لاسته راغلو پاڼو کې د پښتو دوه غزلې هم شته.

غزل د شرقي شاعرۍ ترټولو غوره او منل شوی شعري فورم دی چې د اکبر زمینداوري تر غزلو دمخه په پښتو کې موږ د غزلو بېلګه نه لرو. که چېرې موږ په پښتو ادب کې د غزل تاریخ په اړه څه لیکو، نو پیل به یې د اکبر زمینداوري له غزلو کوو، چې په اتمه هجري پېړۍ کې ویل شوی دی. د اکبر زمینداوري غزلې په ټول پوره او د شرقي غزل کره وړه لري، د اکبر زمینداوري غزلونه یو یې پنځه بیتیزه او بل یې اووه بیتیزه دی. د شرقي شاعرۍ شعر پېژندونکي عقیده لري چې زیـاترو شـرقي ژبـو د لومړنیو غزلو بیتونه کم وو او تر اوو بیتونو یې تجاوز نه کاوه. ( د پښـتو غزل) د کتاب مولف پروفیسور افضل رضا په قول د اکبر زمینـداوري د

غزلو ژبه یې خوږه او خیالات یې ژور دي، د اکبر زمینداوري له دوو لاسته راغلو غزلو څخه یو دلته راوړو:

د خپل ځان له حیرانی څه ویل کړم
د عشق ویر به تل په خپله پټول کړم
ما مدام لکه بورا پر ګلو ګشت کړ
اوس به ځم په سر تور سر فراق د ګل کړم
د غماز لړمون به زه په لمبه کېږدم
ځنې هېر به د یار بزم ګل او مل کړم
زما د یار د مینې اور په زړه کې بل دی
زه به سر او مال ښندم دید به حاصل کړم
د بېلتون له ویره ژاړم اوښکې وینې
زه اکبر په خپل اشنا د سر ښندل کړم.

تر دې مخکې په درېیمه هجري پېړی کې د ابو محمد هاشم سرواني البستي ژباړه ده چې د خپل استاد ابن خلاد شعر یې پښتو ته ژباړلی دی چې د فورم له مخې غزل او قطعې ته ورته شعر دی خو محتوا یې د غزل نه ده، ځکه چې د غزل موضوع کې عشق، مینه او داسې نور مسایل رانغښتل کېږي.

په لسمه هجري پېړۍ کې موږ له افغانستان او پښتونخوا څخه دېر لرې د هندوستان په سیمه کې درې پښتانه شاعران پېژنو چې درېواړه لـوی صوفیان، عابدان او زاهدان وو او کومې غزلې چې له دوی څخه راپاتې دي، د تصوف او عرفاني افکارو بیانوونکې دي. له دغو شـاعرانو څخـه شیخ عیسی مشواني چې د هندوستان په (دامله) کې یې ژوند کاوه د افغان پاچا شېرشاه سوري معاصر و، ده په پښتو، پارسي او هندي ژبـو یوه ګډه رساله لیکلې وه چې دا رساله منظومه وه او یـوه درې بیتیـزه کوچنۍ غزله یې دلته راوړو:

پــه خپلــه کــار کــړې پــه خپلــه انکــار کــړې
کلــه بــادار یــم کلــه مــې خــوار کــړې
تــــه خــــو قــــادر یــــې پــــه صــــفتونو
کلــه مــې نــور کــړې کلــه مــې نــار کــړې
عیســــی حیــــران دی پــــه دې شــــیونو
کلــه مــې یــار کــړې کلــه اغیــار کــړې.

له دغو څو محدودو بیتونو څخه دا راڅرګندېږي چې غـزل د مینـې او عشق له محتوا څخه د تصوف او عرفان موضوع پر لوري ګام اخیستی او د شیخ عیسی مشواني وینا د خواجه عبدالله انصاري پیر هرات مناجاتو ته نږدېوالی ښیي او بل عارف شاعر شیخ علي سـرور لـودي دی چـې

محمد هوتک په پټه خزانه کې د تحفة صالح په حواله دده یوه صوفیانه غزل را اخیستی دی:

محبــت پیالــه مــې نــوش کــړه پــه مجــاز کــې
د حــق نــور ویــنم پــه ســترګو د ایــاز کــې
درســت وطــن راتــه دریــاب ســو بــې دیدنــه
دید مــې نــه شــي مګــر خــدای مــې سبب ساز کې
کــه زه مــړ شــم هــم لــه ګــوره کــړم ســر پورتــه
ناګهانــه چــې دلبــر راتــه اواز کــي
کــه مــې ســر غــوڅ د رقیــب پــه تېــره تېــغ ســي
هــم بــه ځــم کــه دلبــر غوښــت پــه مهــرو نــاز کــي
زه ویــار مــدام ناســت وو یــو لــه بلــه
پــر غمــاز دې بــاري کــاني د غــم ســاز کــي
ګــران بېلتــون بــه د هغــو مینــو وینــه
چــې تــل ناســت وي پــه خلــوت کــې ســره راز کــي
ای (ســروره) غمــازان ســوه بــې حســابه
پــاک الله دې صــورت تــش بــې مغــزه پیــاز کــي.

په پورته غزل کې هم د تصوف او عرفان مضمون پروت دی، چې د شیخ علي سرور لودي له عرفاني اشعارو څخه بلل کېږي. د شیخ محمدصالح یو غزل دی چې د کندهار د هغــه وخــت د صــوبه دار (شــاه بېــګ د

غوښتنې په ځواب کې یې لیکلی او ورلېږلی دی، دده په غزل کــې یــو ډول عارفانه استعمال لیدل کېږي، چې دلته د شیخ محمدصالح د غزل راوړل ضروري بولم:

د لیلـــــی د مینـــــې فـــــیض هـــــر ســـــبا وړم
بېهـــــوده منـــــت بـــــه ولـــــې د بـــــل چـــــا وړم
چـــې اشـــنای د شـــپې ناڅاپـــه پـــه لاس کښـــېوت
روښـــان زړه پـــه ګوګـــل پـــټ لمـــر پـــه ســـما وړم
پـــر دنیـــا کـــه تجـــارت څـــوک د دنیـــا کـــي
زه د زړه پـــه بـــازار بـــار د عشـــق ســـودا وړم
کـــه پـــر تخـــت مـــې د ســـلیمان ســـپور کـــړې ســـړیه
عاقبـــت خـــاورو تـــه ښـــه عمـــل پیشـــوا وړم
بـــې لـــه عشـــقه خوشـــحالي پـــر مـــا حرامـــه
زه صـــالح کـــه پـــه خولـــه خـــوښ پـــه زړه ژړا وړم.

د پښتو ادب تاریخ لومړۍ دوره (لرغونې دوره) له دویمې هجري پېـړۍ څخه پیل او د یوولسمې هجري پېړۍ تر لومړیو پورې رسېږي. پـه دې دوره کې موږ په شکلي او موضوعي لحاظ د غـزل د انکشـاف څـرک ایستلای شو. د مضمون له پلوه هم غزل په دې دوره کې پوره پرمختیا موندلې ده؛ د ژوند بېلابېل موضوعات په کې بیان شوي دي، لکه د رزم او بزم خبرې، دیني او عرفاني موضوعات، عشقي او داسې نور.

عتیق الله- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# پر پښتو لرغوني ادب د عربي ژبې اغېزه



پر پښتو لرغوني ادب باندې د عربي ژبې اغېزې شته او ددې اغېزو مهم لاملونه په لاندې ډول ښودل کېږي:

الف- په هغه زمانه کې چې عربو په نړۍ کې څواکمني درلودله، نو طبعاً يې پر پښتو ژبه هم خپل تاثير لرلی دی.

ب- د عربي خلفاوو يرغلونه پر افغانستان باندې.

ج- نورې نړۍ ته د اسلام خپرېدل چې په دې کې د افغانستان پښتني سيمې هم شاملې وې.

د- عربي نړۍ ته د پښتنو شاعرانو سفرونه، چې دې هم پر پښتو اغېز لرلی دی او همدغو شاعرانو ځينې عربي کلمې زده کړي او بيا يې په خپلو ادبي اثارو کې استعمال کړې دي.

هـ- پر هغه وخت د عصري زده کړې نه شتون او د ديني زده کړې پرمختګ چې په جوماتونو او مدرسو کې نرينه او ښځينه ورباندې بوخت وو، دې هم پر پښتو لرغوني ادب باندې اغېز لرلی دی.

اوس د ځينو هغو کلمو چې له عربي څخه پښتو لرغوني ادب ته راغلې دي، يادونه کوو.

**درهم:** عربي کلمه ده او د پيسو په مانا ده، خو دلته ابومحمدهاشم بن زيد سرواني البستي چې د (۲۹۴هــق) په شاوخوا کې يــې پــه خپــل ژباړلي شعر کې راوړې ده.

**قتالونه:** دا هم عربي کلمه ده، چې ابومحمدهاشم سرواني پــه خپــل ژباړل شوي شعر کې راوړې ده.

**الحاد:** عربي کلمه ده چې نصر لودي په خپل پاړکي کې خپل تربور شيخ رضی ته ليکلې.

**ملحد:** داکلمه هم په دې پاړکي يانې د نصر لودي په پاړکي کې راغلې ده، عربي کلمه ده.

**سنتي:** دا کلمه هم په همدې پاړکي کې شيخ رضــي راوړې ده او يــوه عربي کلمه ده.

**مومن:** کلمه په همدې پاړکي کې يوه عربي کلمه ده چې د پښتو مانا يې مسلمان ده. دې ته ورځېرمه د تايمني په سندره کې چې په (۸۵۰)هـــ کال شاوخوا کې يې ليکلې وه هم ځينې عربي کلمې شته چې په لاندې ډول يې ښودلې شو.

صفت: دغه کلمه تایمني په سندره کې راوړې ده چې یوه عربي کلمه او پښتو مانا یې ستاینه ده.

ملک: دا هم یوه عربي کلمه ده چې تایمني په خپله سندره کې راوړې ده.

همدارنګه د ښکارندوی قصیده کې هم عربي کلمې شته چې باید یادوته ترې وکړو:

مسیح: عربي کلمه ده چې ښکارندوی په خپله قصیده کې راوړې ده.

همدارنګه ښکارندوی په دې قصیده کې ځینې نورې عربي کلمې هم راوړې دي لکه ( جنت، سلطان، اسلام، دین، شهاب) چې ټولې عربي دي.

پر دې قصیدې سربېره د شیخ اسعد سوري په قصیده کې چې د دریېمې هجري پېړۍ په درشل کې ویل شوې ده، هم عربي کلمې پرتې دي، لکه: (فلک، ظلم، امیر، قبر، جنت، غفار). ټولې عربي کلمې دي چې په دې قصیده کې پرتې دي. همدارنګه تر دې وروسته د خلیل نیازي او بهلول لودي په رباعیانو کې هم ځینې عربي کلمې تر سترګو کېږي، لکه: ( مرحبا، عدل) کلمې چې عربي دي.

همداراز که له نظم او شعر څخه تېر شو د پښتو لرغوني ادب په نثر کې هم ځینې عربي کلمې شته چې باید سترګې ترې پټې نه کړو، ځکه چې زموږ ادیبانو یا لرغونو ادیبانو تر ډېره حده دیني زده کړې کړې وې او زیاتره یې علما او متصوفین وو، نو ځکه یې په خپل نثر کې ځینې عربي کلمې هم راوړې دي، لکه د سلیمان ماکو په تذکره الاولیا کې هم ځینې عربي کلمې تر سترګو کېږي چې په لاندې ډول یې ښودلی شو: د (حمد، کونین، ثقلینو، رحمتونه، آل، امابعد، مراقد، اولیاء) ټولې عربي کلمې دي چې په دې تذکره کې یې راوړي.

ډېر نور داسې نثرونه هم شته چې په هغو کې له عربي کلمو څخه کار اخیستل شوی دی. په پټه خزانه کې هم عربي کلمې شته چې په لنډ ډول به ورته اشاره وکړو، ( حقیر، فقیر، مولف، معمر، علیین، مکان) چې ټولې عربي کلمې دي. همدارنګه څو نورې کلمې چې عربي دي:

(معرفت، جنت) هم عربي کلمې دي. دا چې په دې اندازه عربي کلمې په پښتو کې شاملې دي، نو په واضحه توګه ویلای شو چې پر لرغوني ادب باندې عربي ژبې خپل اغېز لرلای دی.

اکرام الله اسرار- د پښتو څانگې د لومړي ټولگي محصل

# په پښتو لرغوني ادب کې

# ملي وزنونه او فورمونه



دا چې موږ په لرغوني ادب کې پر ملي وزنونو او فورمونو خبرې کوو، باید ملي وزنونه او فورمونه تعریف کړو. څېړونکو د ملي وزنونو او فورمونو تعریف داسې کړی: ((ملي وزنونه او فورمونه هغه دي چې څانگړی طرز او طریقه لري او د عربي وزنونو تابع نه وي او دې ته ملي وزنونه هم ویل کېږي.)) په لاندې ډول ورباندې خبرې کوو:

**۱- لنډۍ:** لنډۍ د وخت په تېرېدو سره خپل اصلي ویونکي پنځوونکي له لاسه ورکړي دي، نو ځکه یې ویونکي معلوم نه دي، خو پر همغه وخت د یو چا له خوا ویل شوې ده او تر موږه رارسېدو پورې یې خپل ویونکي ورک کړي دي.

لنډۍ د پښتو د لرغوني ادب هغه بډایه برخه ده چې ټول پښتانه يې پېژني او بلدتیا ورسره لري. په لنډۍ کې دومره قوت او زور پروت دی چې په نورو ملي وزنونو کې نه شته او دا ملي نظم یوازې پښتو ژبه لري او د نړۍ نورې ژبې يې نه لري. د څېړونکو له خوا لنډۍ داسې تعریف شوې ده: ((لنډۍ یوه دوه مسریزه منظومه ده، چې لومړۍ مسره يې لنډه (نهه) سېلابه او دویمه يې دیارلس سېلابه (هجا) ده او پر هر څلورم سېلاب يې خج راځي)). لنډۍ د خلکو له خوا په (ټپه، مسره، ټیکۍ) هم یاده شوې ده، لنډۍ د مانا په لحاظ زیات ډولونه لري، لکه عشقي، پسرلنۍ، د بېلتون، مساپرۍ، حماسي، د خوشالۍ لنډۍ او داسې نورې...

لنډۍ ډېر لرغونی تاریخ لري، خو دلته موږ یوه لندۍ د نمونې لپاره راوړو چې د اریایانو په وخت کې ویل شوې ده:

سپوږمیه کړنګ وهه راخېژه

یار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبینه

۲– بګټۍ: دا هم د پښتو د ادب یوه غوره برخه جوړوي. بګټۍ د پښتو د ولسي نظم یوه خوندوره او ښکلې برخه ده. د بګټیو وزن هم د لنډیو په شان ښکلی او خوندور دی او دا داسې یو ساده، چست او روان شعر دی چې د اورېدونکي او ویونکي وجود په حرکت راولي او یو هیجان په کې پیدا کوي. زیاتره په ټیټ او تېز اواز سره ویل کېږي، د بګټیو کسر د

ځینو چاربیتو او ځینو بدلو پرخلاف اکثره یو بیت (دوه مسـرې) وي او اکثره وخت په قافیه کې هم دواړه مسرې سره برابرې وي. د بګتۍ هـر بند غالباً څلور مسرې وي چې د هر بند دوه لومړۍ مسرې یې په خپل کور کې بېله قافیه لري او څلورمه مسره یې له کسر سره موافقه وي او زیاتره بګتۍ د ولس او خلکو په سندرو کې ستره ونډه او لوړ مقام لري.

دلته به د طالب جان د بګتۍ یوه برخه د نمونې په ډول راوړو:

دا تـــورې ســــترګې ســــره تېرېــــږې
لــــه حالـــه زمـــا کلــــه خبرېــــږې
دا تـــورې ســــترګې ســــره لاســـونه
پــــه بــــام ولاړه کــــوې ســــیلونه
وربـــــل کـــــې ایښــــي تــــازه ګلونــــه
مــــوزي دلــــه ځــــان بــــه تــــرې جـــاربږې
تومـــــت د جینــــۍ کړمـــــه بیمــــار
د خیالــــه کــــوي ډول او ســــینګار
څــــرک ورپســــې ګرځــــي د پــــلار
ورځــــي طالــــب جــــان، نــــه ایســــارېږي.

**۳- بدلې:** عموماً پښتانه ورته غزلې وايي او په همدې نامه يې شهرت موندلی دی. بدلې د پښتو د ولسي نظم او د خلکو د سندرو يوه اغېزناکه او زړه وړونکې برخه ده. بدلې په ډېرې چستۍ او توندۍ سره ويل کېږي او د اواز سستي او د اهنګ اوږدوالی په کې نقصان پيدا کوي. د بدلو موضوع غالباً د مينې او محبت موضوع ده او هرومرو د مينې کلام دی.

بدلې په خپل قالب کې د مسريو د شمېر او د مسريو د اوږدوالي، لنډوالي او برابروالي پر اساس په ډېرو نورو برخو وېشل کېږي، چې مهم ډولونه يې په لاندې ډول دي:

الف- هغه بدلې چې هر بند يې دوه دوه مسرې لري، لکه د زرجان د بدلې نمونه:

تور بخمل د تورو وربځو پر سر خور کړه

د سهار شبنم وربېږي بلبل شور کړه

د خزان ګل غوندې شومه هسې مړاوی

يا مې موړ که په ديدن يا مې ځای ګور کړه

په ارمان ارمان به لاړ شم ګورستان ته

شاه صنمې نور بس له تېري زور کړه

ب- هغه بدلې چې هر بند یې څلور لنډې او په یوه وزن مسرې ولـري، لکه د خسرو یوه بدله:

مجنون په شانته گرځم

د لیلا پسې دېوانه

ځنگل په ځنگل سر شوم

هېڅ اگاه نه شوم له ځانه

ترپایه...

ج- هغه بدلې چې هر بند یې څلور مسرې وي، چې لومړۍ مسره یــې نهه یا لس سېلابه، دویمه یې همدومره سېلابه په هماغه وزن او هماغه قافیه، درېیمه مسره یې پنځه سېلابه پــه بېــل وزن او بېلــه قافیــه او څلورمه مسره یې څوارلس یا پنځلس سېلابه په بېل وزن او د کسر پــه قافیه کې وي، لکه د عبدالسلام بدله:

په دواړو لاسو مې نیولې ستا لمن محبوبا

په دواړو لاسو محبوبا

منگول به ستا په لمن کېږدم، وطن به واړه تاته پرېږدم

که مې روزي شوه

**هغه وعده چې کړې تا د انجمن محبوبا- ترپایه...**

**پېزوان دې زانګي په سرو لبانو**

**لب دې خوراک دي د میخوارانو**

**که دې رانه کړه**

**ناره به واورې په زړګي یمه خوږمن محبوبا**

**د بدلو ډولونه تقریباً پنځلسو ته رسېږي:**

**سندرې: سندرې هم د پښتو ادب یوه مهمه او غوره برخــه ده چــې زیاتره د بېسواده خلکو او وګړو له خوا ویل شوې دي. سندرې د پښتو په منظمو ادبیاتو کې راځي چې استاد حبیب الله رفیــع پــر دوو برخــو وېشلې دي:**

**۱- عامې سندرې: هغه سندرې چې ویونکي یې د وخت په تېرېــدو سره ورک او نا معلوم دي او په ګرد ولس پورې اړه لري، لکــه (لنــډۍ، سروکي، نارې، لنډکۍ، د ښادۍ بدلې او نور).**

**۲- خاصې سندرې: دا هم د بېسواده وګړو له خوا ویل شوې دي، چې شاعران یې معلوم دي، لکه چاربیتې، بدلې، بګتۍ، لوبې، داستان، مقام،**

کسرونه او نور. پرته له دغو څخه نور ډولونه هم لــري، لکــه د مینــدو سندرې، د ماشومانو سندرې.

د میندو سندرې چې اکثره وخت یې میندې د خپلو ماشومانو د روزلو، ویده کولو، کرارولو په وخت کې ورته وایي، لکه د ماشوم د ویده کولو په وخت کې:

اللو-للو، پیشو- پیشو مه راځه له غرو، پلانکی جان داسې ویده دی لکه ګوډی د رنجو.

د ماشومانو سندرې چې کله ماشومان لږ غوټکي او پر خبرو راشي نــو دوی هم یو لږ سندرې لري چې نمونه یې داده:

لادي پړی، دوه دي رخړی

څو نیسې؟ وچه، درغلم په پچه

څو نیسې؟ لنده، درغلم په بنده

او داسې نورې د میندو او ماشومانو سندرې شته.

**لوبې:** لوبې هم د پښتو نظم یوه خوږه، خوندوره او زړه وړونکې برخــه ده. لوبې هم ساده دي او هم خوږې، هم ولسي مینه تمثیلوي او هــم د ساده او کلیوال ادب غوره نمونې دي، چې لومړی یو سروکی (نیمکــی)

ویل کېږي او وروسته بیا ورپسې درې مسریزه بند ویل کېږي او په اخر کې د سروکي اخر بند ورسره تکرار راځي، لکه د محمد نور لوبه:

غمونه لرې کړه له ما عاجز غمگینه

راتاو شه لونگینه

ودې ویشتم روغه دې نه کړم

نوره یاري درسره نه کړم

او داسې نورې لوبې.

نیمکۍ (سروکۍ): نیمکۍ هم د پښتو ادبیاتو یو ډول دی چې عموماً د لنډیو په واسطه بشپړېږي، نو له دې څخه معلومېږي چې د سـروکي بشپړونکي لنډۍ دي.

سروکي د شکل او جوړښت له مخې بېلابېلې بڼې لري، ځینې سـروکي یوازې یوه مسره، ځینې دوه مسرې لري... حتی لازیاتې مسرې لري چې زموږ فولکلور څېړونکو د پاړکو په نوم هم یاد کړي دي.

د سروکي موضوع زیاتره د عشق او مینې مسایل دي، سروکي پـر دوو برخو وېشل شوي دي، چې یو یې عام سروکي دي، چې له هر ډول ساز او سرود سره په محافلو کې ویل کېږي، لکه دا سروکۍ:

پسې ورجګ کړه سره لاسونه

لنډ کړه د ټیکۍ مزی دې

خال به دې وران شي

او ځینې سروکي دي چې د خاص اتڼ په میدانونو کې ویل کېږي، لکه دا سروکی:

تا ویشتلی یمه وا بې غوره یاره

خوب خوب مې وړینه

**نارې یا غړونه:** نارې هم د پښتو شفاهي ادبیاتو یوه غوره برخه تشکیلوي. فولکلور څېړونکو نارې د پښتو شفاهي ادبیاتو د ځانګړو ډولونو په توګه معرفي کړې دي، لکه د اتڼ نارې، د هوتکو نارې، سنځرخېلې نارې، د نکلونو نارې او داسې نورې. نارې پر درېیو عمده برخو وېشل کېږي:

**الف- د اتڼ نارې:** چې په عام ډول د اتڼ په میدانونو کې د ښځو او نرو له خوا ویل کېږي او د جوړښت له مخې دوه مسریزې، درې مسریزې او څلور مسریزې وي او تر دې د زیاتو مسرو لرونکي هم وي. قافیوي جوړښت د مسریو لنډوالی او اوږدوالی او هجایي سیستم یې هم ډول ډول دی.

د ښځینه اتڼ د سندرو نمونه داده:

لونګینه، پر څنګ څنګ راوړه

چې دې شرنګ د بنګړو شینه لونګینه

د نرینه وو د اتڼ سندرې:

دا پورې په دامان توره کېږدیه

کېږدۍ مې اوبو یووړه

د ژمي شپې به چېرې تېرومه

دا نارې د موضوع په لحاظ ډول ډول دي، د ټوکو او مسخرو مطالب هم د خلکو د تفریح لپاره په دغو نارو کې ځای شوي دي.

ب- تاریخي نارې: دا ډول نارې د پښتنو له ټولنیز او سیاسي تاریخي سره اړه لري. ددې نارو جوړښت په عام ډول دوه مسریز دی چې یوه مسره یې لنډه او بله یې اوږده وي، خو د دواړو قافیه یوه وي، ددې نارو نمونه په لاندې ډول ده:

که تېری ګورجي بیا کړي تېری نارې

یو میرخان و څنې پاتې

میرخان هم اوس کندهار ته ګرګین غواړي

**ج- د نکلونو نارې:** دا نارې هم د پښتو د نا لیکلو ادبیاتو یــوه غــوره برخه تشکیلوي، دا نارې زیاتره د بیانونو او کیسو په تــرڅ کــې ځینــې منظومې ټوټې هم لري، چې دا ټوټې د نکل په بېلابېلو برخــو او ټــاکلو مواقعو کې ځای لري. دا نــارې دوه مســریزې او درې مســریزې دي. د نکلونو دوه مسریزې نارې کله هم قافیــه وي او کلــه نــه وي، پــه درې مسریزو کې په عام ډول لومړۍ او دویمه مسره یوه قافیه لري دویمه یې قافیه یې هم اهنګي نه ساتي په ځینو درې مسریزو کې قافیــه ځانتــه ځانته وي.

دا لاندې نمونې وګورئ:

سر د سره پالنګه هسک کړه فتح خانه
یاغي سوی هندوستان رعیت ملکونه

کرمیه چې غم نه وي ته غم راوړې
کرمیه که زما په دعا کېږې
کرمیه په لمر غوټه سپرو واوړې
که اور ګډ کړې د برېښو په سپین رېرو
مرور یې پخلا نه کړل
لا د لاسه ورشیي، ورشیي یاغي ملکونه

**بابولالې:** بابولالې هغو ځانګړو او ولسي سندرو ته وايي چې د ښځو له خوا جوړې شوې دي او بيا د همدوی له خوا د واده په ځانګړو ورځو او په مختلفو وختونو کې ويل کېږي. په واده کې د بابولالو د ويلو وختونه لکه ( د ستنې راوړل، د پــوښ ورځ، د مــال د حلالولــو وخــت، د ســر خلاصولو وخت، د جامو بدلولو، د نکريزو شپه، د ســرجوړولو ســهار، د ښځو ګډېدل، د ورايزو د راتګ وخت، د ناوې د رايستلو وخت، د خسر کور ته د ناوې راوړلو وخت). په دغو وختونو کې بېلابېلې بابولالې ويــل کېږي دا لاندې يوه نمونه د بابولالې ده د ستنې د راوړو وخت کې:

راغی رومال راغی- رومال پټ دی په قبو کې

د (پلانکي) په کې ايښی سر يې لوړ دی تربرو کې

روماله په جوپو- جوپو دې وړمه

روماله د لوټو په زور دې وړمه

لمر راوخوت په چنارو پورې

رومال مو راوړو کلي کې ګوري.

**چاربيتې:** چاربيتې هم د ولسي ادب غوره او مهمه برخه تشکيلوي او هره چاربيته د پښتو په موسيقۍ او ساز کې ځان ته په زړه پورې اهنګ، وزن او زړه وړونکې نغمه لري. په چاربيتو کې زياتره نکلونــه او کيســې ويل کېږي. چاربيتې عموماً پر دوو برخو وېشل کېږي:

**الف- ساده چاربيتې**

**ب- زنځیري چاربیتې**

**د ساده چاربیتو د مسرو شمېر له څلورو مسرو څخه پیل تر شلو مسرو څخه زیات دی او د زنځیري چاربیتو د مسرو شمېر له شپږو مسرو څخه شروع تر اتو مسرو، نهه مسرو او داسې نورو پورې رسېږي.**

**د ساده چاربیتو او زنځیري چاربیتو نمونې دادي:**

**ساده چاربیته:**

**تــوره ده نجلــۍ تــور یــې پــه غــاړه لــونګین دی**
**تور زړوکی کړي، تــور کمــیس یــې کمــرچین دی**
**تورې سترګې راغله تور وربل خو یــې رنګــین دی**
**تورې لېــونی کــړم، تــور د زلفــو یــې ټالونــه دي**

**زنځیري چاربیته:**

**ښــــه ســــینه، رنګینــــه، ســــنګینه د لیلــــې**
**شــین یــې خــال دی دلال دادی حــال د لیلــې**
**قلنــــدر ســــتا د دره هــــر ســــهار دی جانــــان**
**ټیــک د ســر دې ســره زر، ښــه نظــر د جانــان**
**خزانــــه، نازدانــــه، جانانــــه، کــــه ګیلــــې**
**ښــــه ســــینه، رنګینــــه، ســــنګینه، دلیلــــې**
**نن یــې شــال، دی کشــال، زانګــې خیــال د لیلــې**

**شـــین یـــې خـــال دی دلال، دا دی حـــال د لیلـــې**

**تر پایه...**

**د یادونې وړ ده چې د چاربیتو ویونکي معلوم دي.**

**کیسې: کیسې هم د پښتو د ولســي ادب یــو پــه زړه پــورې برخــه تشکیلوي، تقریباً درې نیم زره کلن تاریخ لري. د کیسو منبع د اریــایي قومونو د شمېر دوام او پیروي ده، خو د کیسو د شروع کېدو نېټه نه ده معلومه. د اکثره کیسو ویونکي معلوم دي او زیــاتره کیســې د ولســي شاعرانو له خوا په نظم شوي ډول ویل شوې دي، چې د عبدالغفار کیسه دلته د نمونې په توګه راوړو:**

**د نمرود په زمانه کې راغلی په کیسه کې**

**پیدا شو ابراهیم خلیل الله دوست د اکبر و بېشکه پیغمبر و**

**ترپایه...**

**د پښتو په ولسي ادب کې ځینې نور ملي وزنونه هم شته چــې یــوازې نومونه یې را اخلم، لکه: فالونه، نکلونه، متلونه او داسې نور...**

ملکه وزيري- د پښتو ځانګې د لومړي ټولګي محصله

# د میندو سندرې او پښتو نکلونه



پښتنې میندې چې کله لـه خپلـو کـارونو څخـه وزګارې شي، نو بیا ماشوم کله په غېږ کې او کله هم په زانګو کې واچوي او د ماشوم ویده کولو، په خبرو راوستلو او کرارولو لپاره په خپل خواږه اواز او خاص اهنګ ځینې سندرې خپل ماشوم ته وايي او په دې توګه د مورولۍ فطري مینه د سندرو په جامه کې ماشوم تـه وړانـدې کوي، ددغو سندرو له ویلو سره میندې خاص اکټونه کوي چې ماشومان یې اکټونو ته متوجه کېږي، ژړا بس کوي او پر خندا پیل کوي. د پښتني فولکلور لیکوال د میندو سندرو په باب وايي: (( د پښتنې مور مینه ناکه غېږ په حقیقت کې د شعر او ادب د زده کړې لپاره هغه ابتدايي مکتب دی چې ملاله، نازو، ایمل خان او خوشال خان په کې روزل کېږي چې بیا وروسته څوک په کې د علم او ادب اتلان او څوک پـه کـې د جګـړې باتوران شي.)) (د پښتو شفاهي ادبیات ۳۳-۳۶ مخونه.)

د میندو سندرې سپلابوتونیک او څپه ییز اوډون لري، د مسرو څپې یې لړې او ډېرې وي او جوړښت او سکښت یې له پخوانیو لرغونـو اریـایي سرودونو سره سر لګوي، په دې سندرو کې پر للوګانو سرببېره نورې وړې وړې منظومې هم شته چې کله کله ځینې کوچنۍ روزنیزې کیسې هم په کې وي.

د میندو ځینې للوګانې، اللو، ټاټۍ او ځینې نورې سندرې د لومړي ځل لپاره ډارمستټر (د پښتونخوا د شعر هارو بهار) کې خپـرې کـړې، بیـا وروسته ځینو نورو پوهانو ډېرې دغه سندرې راټولې او خپـرې کـړې، ښاغلي ډارمستټر په هارو بهار کې لیکلي: ((نقل دی چـې د سـکانو د پاچاهۍ په دوران کې یو سک له یوسفزو څخه یـوه پېغلـه لاهـور تـه وتښتوله، یو کال وروسته چې د هغې نجلۍ ورونه خبر شول، ورپســې ورغلل هلته د نجلۍ یو زوی هم پیدا شوی و. کله چې دغې ښځې خپل ورونه ولیدل څښتن یې شراب څښلي وو او نشه په کټ کـې پـروت و، دغې ښځې خپل ماشوم په زانګو کې واچاوه او ددې سندرې په ویلو یې هغوی پوه کړل چې دننه راشي.)) (پښتو شفاهي ادبیات ۳۴-۳۶ مخونه.)

ټــــاټۍ زنګـــــوټۍ مــــه راځــــئ غلـــــو
پــه کــوزې لارې مــه ځــئ، پــه بــرې لارې ورو
دننه دواړه سـپي دي هغـه مـې ترلـي پـه نـاړو
په کرونجي باندې منګی دی هغه پـټ پـه کټـورو
دننــــه پروټــــی دی هغــــه ډک پــــه اشــــرپو

ایــړ دلــې ویــده دی تاســو راشــئ پــه ورو ورو
کــافر شــراب خــوړلي خبــر نــه دی پــه راتلــو
اوس که دی خبر شي خلاص به نه شي پــه خــوارو
کــافر دی شــراب خــور، نــه خبرېــږي پــه نــارو
ماشــوم پــه دلــې پــردم نــه بــه ژاړم پــه زارو

دغه سندرې چې یوې تاریخي زمانې ته اشاره کوي او هغه پــر پښــتنو باندې د سکانو د یرغل او تېرې زمانه ده، ددغې سندرې زمان او مکان نه دی څرګند چې څه وخت او د چا له خوا په کوم ځای کې ویل شوې، خو د سکانو پرضد د پښتنو د مبارزې غږ زموږ غوږونو ته رارسوي.

د ماشوم پر کرارولو او ویده کولو سربېره بله ګټه داده چــې ماشــوم د خپلې مور له خبرو سره اشنا کوي او ژر پر خبرو راځي.

لکه دا سندره:

یو یې سپینکی مــخ دی لکــه پوڅــه د چوپــان
یــو یــې لــوړه پــوزه ده لکــه پولــه د دیکــان
دوې یې غټې ســترګې دي کــه ګــاټي د میــدان
دوې یې نرۍ وروځــې دي کــه تــوکې د کــوران
دوې یې نرۍ شــونډې دي کــه مــزي د ګرېــوان

**ميندې له ماشومتوبه خپلو ماشومانو ته د دوی د پلرونو او نيکونو د تورو ستاينه کوي او له ټوپک او وسلې سره يې بلدتيا او اشنا کــول غــواړي لکه:**

**پلانکي جانه ښايسته ښه دې توره ښه وسله**

**په ښايسته نيلي سپره چې نيلی دې تماشې کا**

**تور نازيان دي ورسره**

**اللو-اللو پلانکی جان داسې للو دی لکه ګوډی د رنجو**

**چا وهلی، چا وهلی هلکانو جنکيانو په صحرا وهلی**

**مور او پلار نيا يې په غلا وهلی**

**اللو-للو-للو خوب دې درشي په لېمو، خوږ دې لرې له هډو.**

## پښتو نکلونه:

**نکلونه د پښتو ولسي ادبياتو يو ځانګړی صنف دی، کله چې په انساني ټولنه کې د پېښو منځته راتګ د انساني ژوند ښه واړوله او انسان د ژوند له سړو تودو سره مخامخ شو او د طبيعت د معماوو په باب يې ځــان د فکر په سمندر کې ډوب وليده، نو د خپل وجود تر توان زياتې هيلې او تلوسې ورسره پيدا شوې، نو له دغو ټولو څخه يې نکلونه جوړ کړل، چې**

دغه نکلونه ځینې خوله په خوله او سینه په سینه تر موږه راورسېدل او زیات شمېر یې د نېستۍ غېږې ته لاړل، د مرګ وروستۍ سـلګۍ یـې ووهلې مړه شول او خاورې ځینې جوړې شوې او (( ځینو یـې لا بیـا د مدرسو درسونه جوړ کړل او د اووم هنر یا د سینما د ځوان هنر پرده یې ونیوله))

د هر ولس له نکلونو څخه د هغه ولس د بېلو تاریخي او کولتوري دورو د ژوندانه وضعه او ټولنیز مناسبات څرګندېږي او په هغو کې له تصویري او خیالي افسانو څخه چې د راویانو او لیکوالو له فانتازیو او فکري روشونو څخه راوځي او د ناحقیقي موجوداتو لکه ارباب الا نواعو، دېوانو، پېریانو، ښاپېریو او کله کله سحر، جادو او منتر او خیالي دنیاوو او داسې نـورو نامریي شیانو څخه نیولې بیا تر واقعي پېښو او جریاناتو پورې ټول په کې وي. په هغو زمانو کې چې انساني ټولنه، کولتور او ثقافت په لومړنیو دورو کې و، نو د داسې ټولنو طبیعي او ټولنیز شرایط ښېخي محدود و او هـر څه یې په رښتینې توګه نه پېژندل، نو له افسانو او خیالي نکلونو څخه یې د شیانو په پېژندلو کې انتباهات اخیستل.

پښتو نکلونه هم چې د پښتون ولس د حیات، تـولنیز ژونـد او تـاکلو کولتوري شرایطو استازي او د دوی د ژوندانه د ټولو تاریخي او کولتوري دورو او د ټولنیزو اقتصادي مناسباتو څرګندوی دي. مهمه ځانګړنه یې داده چې په نکلونو کې د باداری او مریتوب صحنې نه لیدل کېـږي دا

ځکه چې د ځينو پوهانو په عقيده، پښتنو د مريي ساتنې اجتماعي، اقتصادي فورماسيون نه دی تېر کړی، خو د قبايلي نظام د مېړانې، وطنپالنې او ولس دوستۍ جذبې زياتې په کې شته او له همدې امله ده چې په مېړانې، زړورتوب او رښتينولۍ او مېلمه پالنه کې يې زيات شهرت موندلی دی. ملي کولتور او ملي تاريخ پرې تر هر څه ګران دي او د تاريخ په ډېرو نازکو او حساسو مواقعو کې يې د پرديو د يرغلونو پر وړاندې درېدلي دي.

پښتو نکلونه د شکل او مضمون له مخې ازاد دي، د کوم ځانګړي ليکوال له خوا نه دي تهيه شوي چې ځانته د ليکنې او افادې خاص اسلوب او قوانين ولري او يا دې پر يوه خاص سبک روان وي، نکل د خلکو له خوا ويل شوی او د زمانې په تېرېدو سره په کې تغيرات راځي، هره تاريخي دوره او هرتمدن خپل خاص مهر او نښان ورباندې ږدي او د خلکو له ژوند سره يوځای ژوند کوي له خلکو سره يوځای حرکت کوي، مختلفې تاريخي پېښې او مختلف حالات د مختلفو ضرورتونو له مخې منظموي.

نکل کې هر څه په مجرد شکل څېړل کېږي، ښايست، زور، لښکر، پيسې، جګوالی او هر څه يې مجرد دي او د ذهني پاچا نوم اخيستل کېږي خو د دربار د عظمت په باب څه په کې نه شته.

د لښکر نوم اخیستل کېږي، خو له دې لښکر سره په کې یو کس مقاومت کوي ښایست په کې یادېږي، خو د ترسیم درک په کې نه وي.

د نکل ویونکي معلوم نه وي او د زمانې له تېرېدو سره یې سم تغیر کړی وي، وړې پېښې پر لویو اوښتې وي او کرار کرار یې د مسابقې پله درنېږي، معمولاً د تجارتي اړیکو، مهاجرتونو او یو بل ته د قومونو د نږدېوالي په نتیجه کې د یوې حوزې فولکلور او نکلونه بلې حوزې ته نفوذ کوي، د خپل سفر په بهیر کې کله خپل اصلي ټاټوبی ورک او په هره ژبه ژباړل کېږي او هرې کولتوري حوزې ته چې ننوځي هغه ژبه او هغه کولتوري حوزه یې د شکلیت دعوه کوي. همدغه ده چې هغه بله ژبه او کولتور پر دغو نکلونو اغېز ښندي او فولکلوریک نکلونه له خپل سوچه والي څخه راباسي. د بېلګې په توګه د لیلی او مجنون نکل چې هره کلتوري حوزه پرې خپله ټاپه لګوي او خپل یې بولي، خو پښتو نکلونه د ښامارانو، پېریو، دېو، جادوګرانو او نورو خارق العاده وسیلو راتګ د دې مانا نه لري چې دغه نکلونه دې پردي اوسي، دا د پښتو خپل فرهنګي میراث دی چې سینه په سینه ورته رانقل شوی. د نکلونو پېښې او ټولنیز حالات کاملاً د پښتنو د ژوند د یوې خاصې تاریخي زمانې نماینده ګي کوي، ځکه نکل که هر څومره بدلون ومومي او تر هر تاثیر لاندې راشي بیا هم پر خپل ځان باندې د یوې ټاکلې او مشخصې کولتوري حوزې مهر او نښان لري، د بېلګې په توګه د مومن خان او شرینو نکل ته که هر څه ښامار او دېوان ورداخل شي او د یوې ښاپېرۍ

پرځای سلګونه ښاپېرۍ او دېوان ورننوځي بیا هم د نکل مضمون چې پر ولور او تربورګلوۍ ولاړ دی او د پښتنو د یوه خـاص ټـولنیز اقتصـادي حالت نماینده ګي کوي پر خپل ځای ولاړ دی.

دېر داسې پښتو نکلونه شته چې د پښتني فولکلور نماینده ګي نه کوي او د نکل له مانا او وسایلو څخه له ورایه دا برېښي چې دا نکلونه باید د ګاونډیو د کولتور او فرهنګ نماینده ګي وکړي او یا دې ګاونډیانو له خوا د پښتنو کولتوري حوزو ته راننوتی وي او د پښـتنو د خپلـو ځـانګړو ټولنیزو او تاریخي شرایطو پر بنا په کې خپل ټولنیز مسایل څرګند کړي او د خپل فولکلور مشخص اتلان یې ورباندې تپلي خو ددې خبرې مانا دا نه ده چې موږ دې فولکلوریک نکلونه تصفیه کړو او یا دې په خپـل لاس فرهنګي میراث نورو ته ور وبښو، ځکه دغو نکلونو د پښتنو د ژوند په خاصو ټولنیزو او اقتصادي شرایطو کې ټاکلي رولونه درلـودلي دي. پښتنو په خپل وار د دغو نکلونو په بشپړولو کې رول درلودلی دی، دې نکلونو د ژوند د همسفر په توګه له دوی سره یوځای ژوند کړی دی او د دوی د ادبیاتو اصطلاحاتو، ټولنیزو هدفونو، د بیان طرز، لهجـو او ژبـې څخه یې اوبه څښلې دي. د بېلګې په توګه د فرهاد او شیرینو کیسه، د لیلی او مجنون کیسه، د سیف الملوک او بدرۍ جمالې کیسه ټولې هغه کیسې دي چې پښتنو د خپل کولتور اغېزې باندې ښـندلي دي، چـې هېڅوک به دا فکر ونه کړي چې دا دې ګوندې د بلې کولتوري حـوزې څخه دلته راغلي وي دا خبره به سمه او رښـتیا وي چـې فولکلـوري

نکلونه د اوسنیو ریالیستیکو نکلونو او داستانونو او لنډو کیسو پر سبک نه وي ترتیب شوي چې بېلابېلو ټولنیزو نیمگړتیاوو او ستونزو تــه پــه منطقي توگه گوته ونیسي او د بېلابېلو ټولنیزو پېچلو مسئلو ریښې دې وښیي او د حل منطقي لاره دې ورته پېشنهاد کړي. نکلونه د ټولنیزو نا انډولیو، د زمانې له ناخوالو، استبداد او تېري څخه د خلکو د خلاصون لپاره مهمې او له خوشبینیو څخه ډکې لارې پېشنهادوي.

ښاغلی سلطان محمد صابر وايي: ((نکلونه ځکه چې زموږ د خپلو اذهانو پیداوار دي او موږ د خپلو پخوانیو عاداتو، خیالاتو، روایاتو او مــزاج پــر اساس تخلیق کړي او تراشلي دي ځکه نو په هغو کې زموږ د ژوند یــوه فلسفه پټه ده، هغه ساده او صفا فلسفه کومه چې زمــوږ پــه ســاده او سوچه او اسانه ژبه بیانېږي، زموږ روحي تنده داسې ماتوي لکه د اوړي د روژه دار تنده چې په سړو اوبو ماتېږي او له همدغه امله زموږ مخصوص قومي ذهنیت پخېږي کوم چې د یو قوم د بقا لپاره ضروري دی.

نکلونه چې اکثره یې د یوه خاص منظور لکه خیر او شر ترمنځ د مبارزې په منظور منځته راغلي، خو هېڅ وخت د خیر د بریــالیتوب لپــاره لــه منطقي وسیلو څخه کار نه اخلي، نکل ویونکی د خیر او شر ترمنځ پــه مبارزه کې هېڅوخت بې طرفه نه وي، که د شر د ماتولو لپاره منطقــي وسایل په لاس کې نه وي، نو بیا هغه دي چې نکل ویونکی د ملنگ دعا، د زمریانو مرستې، د سیمرغ دوستۍ او نورو ته مخه کوي، لکه د سیف

الملوک او بدرۍ په کیسه کې چې سیف الملوک د ښامار لــه پنجــو د سیمرغ بچي ژغوري او بیا یې همدغه سیمرغ د ډېرو غرونو ګړنګونو او سیندونو څخه پورې باسي او مزل یې ورلنډوي، د پښتو نکلونو یو ستر او ځانګړی خصوصیت دادی چې د نکل اتل پــه کــې تــل د مېړانــې او حماسې د سمبول او ښځه په کې د وفا د سمبول په توګه ستایل شوې او ښځې تل یا خو د خپل ملګري او مېړه په نامه سر سپین کــړی او یــا ورپسې مړه شوې ده.

بل خصوصیت یې دادی چې پښتو نکلونه تل د هلک او نجلۍ په مېړانه په ډېره تراژیدیکه بڼه پای ته رسېدلې دي. حال دا چې د نورو ولســونو نکلونه او یا پېښې زموږ کولتور ته له نورو حوزو څخه راغلــي. نکلونــه اکثره د هلک او نجلۍ په یوځای کېدو او وروسته تر ډېر اخــو ډب پــه بریالیتوب پای ته رسېږي. لکه د ســیف الملــوک او بــدرۍ، جــلات او محبوبې نکلونه چې په پای کــې یــې کامیــابي حاصــلېږي او د ادم او درخانۍ، مومن او شرینو، رابیا او فتح نکلونه چې اصیل پښتو نکلونه دي او د مین او مینې په مړینه پایته رسېږي، البته استثنائات بــه وي مګــر پښتو اکثره نکلونه تراژیدیک دي او د اتل او اتلې په مړینه پایته رسېږي.

بل دا چې پښتني نکلونه د پښتني ټولنې د کولتوري اصولو پر اســاس ترتیب شوي او هغو سوالونو ته ځواب وایي چې ټولنه یې غواړي.

پښتو نکلونه په لومړي سر کې پر دوو برخو وېشل کېږي؛ یوه برخه یې هغه نکلونه دي چې زموږ د ولس له زړه څخه یې الهام اخیستی او رامنځته کوونکي او اتلان یې ددې خاورې بچي دي او بل هغه چې د نړیوال فولکلور د لړۍ په سلسله کې بېلابېل ملتونه سره نښلوي. د بشري نړۍ ګډ فولکلوري میراث دی او زیاته برخه یې د دېوانو او پېریانو الوتنې او د کوه قاف او باغ ارم لیدنه د سترګو په رپ کې وهي.

د موضوع له مخې د پښتو خپل نکلونه چې اکثره واقعي دي او د نکل په بڼه راپاتې دي پر دوو برخو؛ رزمیه او بزمیه باندې وېشل کېږي او په خپله ارته لمن کې د پښتنو د مینې، ننګ، غیرت، مېړانې، پښتو او د افغاني ټولو ویاړونو او پښتني قانون ډېرې ښې بېلګې رانغاړي. اکثره د فیوډالي نظام عکاسي کوي، موږ ته زموږ زوړ او پخوانی تهذیب راښیي او ددغو نکلونو په واسطه موږ د خپل ولس ذهني وده په ډېره ښه توګه معلوملای شو او په زړه پورې تاریخي مواد را په ګوته کوي او زموږ د ملت ټول روایات، عقیدې، دودونه او ملي عنعنات خوندي کوي، خو ځینې نکلونه بیا خیالي او وهمي مطالب او موجودات ډېر لري.

د جوړښت له پلوه پښتو نکلونه کله اوږده وي او کله د نننی ناول غوندې په کیسه کې کیسه راځي او ځینې یې بیا لکه د اوسنیو لنډو کیسو غوندې خصوصیات لري.))

ښاغلی سیال کاکړ (د پښتو نکلونه) نومي کتاب په یوه برخه کې د پښتو نکلونو په باب لیکي: (( ځینې وایي چې د پښتو ادبیاتو اوسني شکلونه لکه ناولونه، ډرامې او افسانې د نکلونو پرمختللي بنې او بېلابېل شکلونه دي او له ولسي نکلونو څخه زېږېدلي دي. پښتو نکلونه له پښتني محیط څخه رنګ اخلي او د پښتني ټولنې ډېر ښه استازي یې بللای شو، دغه نکلونه د خلکو په ژبه جوړ شوي، په زړه پورې ربط، لوړ تخیل او خوندور تنظیم په کې په نظر راځي او زیات شمېر فولکلوري پانګې لکه اصلاحات، محاورې، پښتني نومونه او تکیه کلامونه په خپله ارته لمن کې رانغاړي. دغه نکلونه له فني نظره ځای ځای نارو ته هم ځای ورکوي چې په ملي اوازونو جوړې شوې دي.)) (پښتو شفاهي ادبیات، ۱۱۰-۱۱۹ مخونه)

د نکلونو د ټولولو په برخه کې استاد محمدګل نوري لومړی پښتون دی چې پښتو نکلونه یې په کتابي بڼه خوندي کړي. ده ددغو نکلونو لومړی ټوک د (ملي هنداري) د لومړي ټوک تر سرلیک لاندې پر (۱۳۱۷ل) کال د پښتو ټولنې له خوا، دویم ټوک یې هم د (ملي هنداري) تر سرلیک لاندې پر (۱۳۲۵ل) کال خپور کړ او درېیم ټوک یې هم د (ملي هنداري) تر سرلیک لاندې پر (۱۳۵۲ل) کال هغه وخت چې دده د ژوند وروستۍ شپې ورځې وې، د کندهار د احمدشاه بابا د کتاب چاپولو موسسې له خوا خپور شو.

**بیا نو دلته پر (۱۳۶۳ل) کال ښاغلي میراحمد گربز په (۱۷۵) مخونو کې (د گوربزو کولتور او فولکلور) ترسرلیک لاندې مجموعې په یوه برخه کې یو شمېر کیسې خپرې کړې. ښاغلی گوربز اوس هم د نکلونو پر راټولولو لگیا دی، هیله منه یم چې دغسې سلسلې ته دوام ورکړي.**

ضیاءالاسلام شیراني- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# په لرغونې دوره کې د افسانوي کیسو اخلاقي بڼه

## سریزه:



دا لنډه لیکنه یا مقاله مې د محترم استاد اسمعیل یون په لارښوونه چې د کورنۍ دندې لپاره یې راته کړې وه، د لرغونې دورې د افسانوي کیسو پر اخلاقي بڼه ترتیب کړې ده. افسانوي کیسې به د ساعت تېرۍ لپاره ویل کېدې او په رښتیا او دروغو پسې یې چا سر نه ګرځاوه، په دې کیسو کې ډېر مبالغه امېز مسایل شته، خو اخلاقي او روزنیزه برخه یې هم د پام وړ ده. په دې ډول کیسو کې د پېریانو، ښاپېریانو، دېوانو، جادو، مداریتوبونو، غرېدونکو ځناورو، مارانو، مرغانو او داسې نورو شیانو په باره کې زیات مواد او معلومات شته او د خلکو پر ذهنونو یې ډېر ښه او مثبت اثر کاوه.

مخکې تر دې چې په لرغونې دوره کې د افسانوي کیسو پر اخلاقي بڼه خبرې وکړو، باید لومړی د افسانو او کیسو په اړه یو څه پوه شو. افسانې او کیسې هغه فولکلوري مواد دي، چې د اړوندې ټولنې کولتوري ایډیالونه او ژور عمومي احساس په کې ځلېږي او د ایډیالوژۍ هینداره

یې ده. له هنري لیکنو سره یې توپیر دادی، چې افسانې او کیسې لــه عمومي دودونو او دستور سره سم متن، موضوعګانې او سبک کاروي او زیار باسي، چې د ښکلا په غرض پر ژبه باندې یو خاص شــکل تحمیــل کړي.

له تاریخ سره څلور توپیرونه لري:

لومړی دا چې تاریخ د څرګندو نېټو په ترتیب پر زماني تسلسل ولاړ بیان دی، خو افسانې او کیسې زیاتره نېټې نه لري.

دویم دا چې د تاریخ کرکټرونه معقول او د افسانې او کیسې کرکټرونــه ډېر ځله نامعقول وي.

درېیم دا چې تاریخ لیکنه نوې ده او په مدني مرحلې پورې اړه لري، مګر افسانې او کیسې زیاتره تر مدني مرحلې پخوا د وحشت او بربریت پــه مرحلې پورې اړه لري.

څلورم دا چې په تاریخي لیکنه کې د پېښو ترمنځ اړیکــي جوخــت او ټینګ وي، خو په زیاترو افسانو او کیسو کې د پېښــو تــرمنځ اړیکــي سست او ډېر ځله شلېدلې وي.

افسانې او کیسې د یوې ټولنې د معلوماتو هغه مجموعه ده چــې د یــو منشور حیثیت لري او ډېر ځله له کوډو او جادو، دودونو، غیر اســلامي مذهبي مراسمو، ټولنیز جوړښت او داسې نورو شیانو څخه د مخابراتي

وسیلې او عملي لارښود په توګه دنده سرته رسوي. افسانې او کیسې د خلکو عقیدې بیانوي، ټینګوي او سمبالوي یې، تقوا او فضیلت بابوي او څاري یې، مذهبي دودونه او عقاید تبلیغوي، ځکه نو د بشري مــدنیت ارزښت ډېر ارزښت ناک توکي بلل کېږي.

افسانې او کیسې د ځینو خلکو د فکر او عقیدې پر خلاف هېڅکله بې ارزښته مواد نه دي، بلکې هره افسانه او کیســه د انســاني ژونــد پــه ارګانیزم کې یوه فعاله قوه ده که څه هم د یو روښنفکرانه او هنري تخیل زېږنده به نه وي، خو د لرغونو انسانانو د ایمان او عقیــدې او اخلاقــي حکمت ډېره ښه نمونه یې بللای شو.

په زیاتره افسانو او کیسو کې یو لړ ابهامونه، بې ربطۍ او ځینې چټیات موجود وي، خو سره له دې هم دا افسانې او کیسې کوښښ کوي چــې نړۍ ته یو شکل او صورت او انساني ژوند ته یوه مانا او مفهوم ورکړي.

په لرغونې دوره کې به کیسې او افسانې په کلیو کې د نکل چیانو له خوا خلکو ته اورول کېدې او خلکو به په ډېره مینه اورېدلې، خصوصاً د ژمي په لویو شپو کې. دې کیسو او افسانو که څه هم واقعي بڼه نه درلــوده، خو بیا هم د خلکو پر ذهنونو یې ډېر مثبت اثر کاوه، دا ډول کیســې د یوې ټولنې ارزښتونه بیانوي او فرد د خپل کولتور له هدفونو او معیارونو سره اشنا کوي، دا کیسې په دې غږېږي چې سړیتوب او مېړانه څه شی ده، ستر شخصیتونه څنګه زېږي، څنګه ژوند کوي او څنګه مــري. پــه

همدې توګه انسانانو ته لارښوونه کوي، ژوند ته مانا ورکوي او د حرکت سمت يې ټاکي.

## اخځونه

۱- د فولکلور تاریخچه، حبیب الله جاج پښتون زوی.

۲- د پښتو ادبیاتو تاریخ، لرغــونې او منځنــۍ دوره ســرمحقق زلمــی هیوادمل.

خاطره حیا- د پښتو څانگې د لومړي ټولگي محصله

# په لرغونو ادبیاتو کې ملتپالنه



ملتپالنه یا ولسپالنه داسې روحیـه ده چـې پـه طبیعي ډول په هر چا کې وي، خو په ځینو کې لږه او په ځینو کې ډېره. له نېکه مرغه د پښتو ادب په ټولو دورو کې د ملتپالنې روحیه زموږ په لیکوالو او شاعرانو کې لیدل کېږي. څنگه چې ماته ملتپالنه د پښتو ادب په لرغونې دوره کې د کورنۍ دندې په هکله راکړل شـوې ده، نو ما هم په همدغې دوره کې ملتپالنه چې په کومـو اشـعارو کـې ځلېدلې ده، راټوله کړې او څېړلې چې په لاندې ډول یې وړاندې کوم:

هغو شاعرانو چې په لرغونې دوره کې په خپلو اشعارو کې ملت پاللی دی په لاندې ډول دي:

**۱- بېټ نیکه:** بېټ بېټنی او بټن د بېټ نیکه له نامه سره تړلي نومونه دي. په تذکره الاولیا کې دا څرگندېږي چې ممکن بېټ نیکه دده د هغه شعر چې (لویه خدایه) نومېږي، د تحلیل له مخـې نومـوړی ښـایي د

**(۳۵۰هــق) په شاوخوا کې مړ وي او دده دا مناجات د ویدا او اوستا له سرودونو سره پرتله کېدی شي، دده مناجات داسې دي:**

**لویـــــه خدایـــــه لویـــــه خدایـــــه**
**ســـــتا پـــــه مینـــــه پـــــه هرځایـــــه**
**غـــــر ولاړ دی درنـــــاوي کـــــې**
**تولـــــه ژوي پـــــه زاري کـــــې**
**دلتـــــه دي د غـــــرو لمنـــــې**
**زمـــــوږ کېـــــږدی دي پـــــه کـــــې پلنـــــې**
**دا وګـــــړي دېـــــر کـــــړې خدایـــــه**
**لویـــــه خدایـــــه لویـــــه خدایـــــه**
**دلتـــــه لـــــږ زمـــــوږ اور بـــــل دی**
**ووړ کـــــورګی دی ووړ بورجـــــل دی**
**مینـــــه ســـــتا کـــــې مـــــوږ مېشـــــته یـــــو**
**بـــــل د چـــــا پـــــه ملـــــه تلـــــه نـــــه یـــــو**
**هســـــک او مځکـــــه نغښـــــته ســـــتا ده**
**د مـــــړو وده لـــــه تـــــا ده**
**دا پالنـــــه ســـــتا ده خدایـــــه**
**لویـــــه خدایـــــه لویـــــه خدایـــــه.**

که څه هم دا یو مناجات دی خو بیا هم په حقیقت کې دا ملتپالنــه ده، یانې ببېټ نیکه د خپل اولاد او ملت لپاره دعا کړې ده چې په حقیقــت کې دا دعا او ملتپالنه ده.

**۲- د امیرو کروړ ویاړنه:** کروړ د سهاک له پښته دی، دده مشر نیکه شنسب نومېده، د شنسب د پلار نوم خرنګ و، د شنســب د زوی نــوم امیر پولاد و چې امیر پولاد د امیر کروړ پلار دی. امیر کروړ پر (۱۳۹هـــ ق) د غور په مندیش کې پادشاه شو او پر (۱۵۴هــ ق) کال د پوشنج په جنګ کې شهید شو.

زه یـــــم زمری په دې نړۍ له ما اتل نسته
په هند و سند و پر تخار او په کابل نسته
بل په زابل نسته          له ما اتل نسته
غشی د من مې ځي برېښنا په میرڅمنو باندې
په ژوبله یونم یرغالم په تښتېدونو باندې
پر ماتېدونو باندې          له ما اتل نسته
زما د بریو پر خول تاوېږي هسک په نمنځ په ویاړ
د اس له سو مې مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ

کړم ایوادونه اوجاړ                    له ما اتل نسته

زما د تورې تر شپول لاندې دي هرات و جروم

غرج و بامیان و تخار بولي نوم زما په ادوم

زه پېژندوی یم په روم                    له ما اتل نسته

پر مروه زما غشي لوني ډاري دښن راځخه

د هریو رود په څنډو ځم تښتي پلن راځخه

رپي زړن راځخه                    له ما اتل نسته

د زرنج سوبه مې د تورې په مخ سور و کړه

په باداری مې لوړاوی د کول د سورو کړه

ستر مې تربور وکړه                    له ما اتل نسته

خپـــلو وګـــــړو لرده لور پیرزوینه کوم

دوی په ډاډینه ښه بامم ښه یې روزنه کوم

تل یې ودنه کوم                    له ما اتل نسته

**پر لویو غرو مې وینا درومي نه په ځنډو په ټال**

**نړۍ زما ده نوم مې بولي پر دریغ ستایوال**

**په ورځو شپو میاشتو کال له ما اتل نسته**

**د امیر کروړ دا شعر ویاړنه ده چې په حقیقت کې یې د خپل ملت ستاینه کړې ده، د خپل ځان د مثال په ورکولو سره یې همغه د خپل ملت د شجاعت، دلاورۍ او ټینګې ارادې ستاینه کړې ده.**

**۳- د بابا هوتک سندره: هوتک بابا د غلجي کړوسی دی، د پلار نوم یې (بارو) او د نیکه نوم یې (تولر) دی او شجره یې بېټ نیکه پورې رسېږي. پر (۶۶۱ )کال په اتغر کې زیږېدلی دی.**

**پر سور غربل راته نن اور دی**
**وګړیه جوړ راته پېغور دی**
**پر کلي کور باندې مغول راغی**
**هم په غزني هم په کابل راغی**

*******

**غښتلیو ننګ کړئ دا مو وار دی**
**مغل راغلی په تلوار دی**
**په پښتنخا کې یې ناتار دی**
**پر کلي کور باندې مغل راغی**

*******

آ دمرغـــــــې غښـــــتليو راســــئ
پـــر ننـــگ ولاړ د پښــــتنخا ســـئ
تـــورې تېـــرې غشـــي تـــر مـــلا ســـئ
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی

***

زلمـــو پـــه غشـــيو کـــړئ وارونـــه
د تېــــرو تـــــورو گوزارونــــــه
ور وړانـــدې کـــړئ خپـــل ټټرونـــه
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی

***

زمــــا د زلمــــو وينـــــې بهيــــږي
ځمکـــې او غرونـــه پـــه ســـره کېـــږي
ميرڅــــــی ځغلــــــي او ترهيــــږي
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی

***

پښـــتنو هلـــئ پـــه غـــره جنـــگ دی
ســـور غـــر پـــه وينـــو د دوی رنـــگ دی
مهـــال د تـــورې دی د ننـــگ دی
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی

***

زلمـــو پـــر ننـــگ ځانونـــه مـــړه کـــړئ
دښـــن پـــه غشـــيو مـــو پييـــه کـــړئ
د پښـــتنخا ځمکـــې ســـاته کـــړئ
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی.

**د بابا هوتک دا سندره په حقیقت کې د خپل ملــت او خپــل ملــک د ستاینې او ساتنې لپاره ویل شوې ده، چې د خپــل ملــت احساســات راوپاروي او خپل ملت او خپله خاوره له نورو څخــه وژغــوري چــې دا پخپله ملتپالنه ده.**

**۴- ملکیار غرشین:** **د ښکارندوی او د شیخ ابوبکر طوسي همعصر دی. غرشین د پښتنو یو مشهور ستانه قوم دی چې پخوا یې یو وچ غر سرسبز او اباد کړی و، نو ځکه دی غرشین بولي.**

**ښتن مو مل دی اوس مو یرغل دی ایواد د بل دی**

**غــازیــانــو گـــــورئ ښتن مو مل دی**

**تورې تېرې کړئ دښن مو پرې کړئ منگولې سر ې کړئ**

**ښــه لـــه بـــــه تبښــتو ښتن مو مــل دی**

**که تېنگ کړو زړونه پـــر بــري یــونــه چې زمري یونه**

**اســلام راڅخــه دی ښتن مو مل دی**

**غازیانو راسئ تــــول شاوخوا سئ د شهاب په ملا سئ**

**ښتن مو مل دی**

**ملکیار غرشین دا شعر د ملتپالنې یا ولس پالنې لپاره ویلی دی چې د خپل ملت د جرئت د ډېرولو او د هغوی د رزمي روحیې د تقویه کولو لپاره یې ویلی دی.**

## اخځونه

**۱- د پښتو ادبیاتو تاریخ، شهسوار سنګروال نیازي اثر**

**۲- لرغونی متون، د پوهندوی ډاکتر محمداجان حقپال اثر**

**۳- د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغونې او منځنۍ دوره، د سرمحقق زلمي هېوادمل اثر.**

غفران الله شمس- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# پښتو غزل د خپل پیدایښت او پایښت په لوړ و ځوړ کې



غزل د شرقي شاعرۍ یو ډېر منلی او پېژندلی شوی ډول دی، چې د شرقي شاعرۍ د زیاترو دېوانونو یوه درنه برخه په غزلو پورې اړه لري.

زموږ په ادبیاتو کې هم غزل کابو اووه سوه کلن تاریخ لري. د پښتو لومړی لاسته راغلی غزل د اتمې هجري پېړۍ دی.

د پښتو لاسته راغلې غزلې همغه د اکبر زمینداوري غزلې دي چې د پښتو ادبیاتو په لومړۍ دورې پورې اړه لري، خو زه غواړم د همدغې لومړۍ دورې په امتداد د پښتو غزل لوړې ژورې وڅېړم. که څه هم زموږ بحث او کورنۍ دندې اکثره پر لرغونې دورې راڅرخي، خو څرنګه چې غزل تر بل هر شعري فورم په پښتو کې زیات مطرح دی، نو غواړم چې تر لرغونې دورې وروسته هم د غزل پر څرنګوالي او څومره والي رڼا واچوم.

په دویمه ادبي دوره کې چې د پښتو ادبیاتو منظم اثار زموږ په واک کې دي او پښتو ادبیات چې په دې دوره کې تر بېلابېلو فکري او ادبي جریانونو لاندې ایجاد شوي او وده یې موندلې ده په دې ټولو جریانونو

کې چې څومره ادبي اثار ايجاد شوي دي، په هغو کې د غــزل ونــډه او برخه درنه ده. پښتو غزل په دغو جريانونو کې ډېرې لــوړې او ځــوړې ليدلي دي، چې په دې برخه کې موږ د پښــتو غــزل هغــه پــالونکي او روزونکي يادوو چې د پښتو ادبياتو تر لومړۍ دورې وروسته يې غزلونه ليکلي دي.

موږ دغسې غزل ويونکي ډېر زيات لرو، چې يــوازې د نومونــو لړليــک راوړل يې خبره اوږدوي، خو زه به په دې برخــه کــې د پښــتو ددغــه کټګورۍ ويونکو ځنې ډېر عمده کسان دلته ياد کړم:

**۱- شيخ فريد:** د پښتو يو غزل ويونکی شاعر دی. دده په باب زيات معلومات نه شته، يو غزل يې په ((تېر هېر شاعران)) نومي تذکره کــې خوندي دی، دده غزل عرفاني رنګ لري او هنري پرداخت يې هم بد نه دی. د ده غزل مقطع داده:

نـــور عــالــم دې حـــورې جــنتونـــه غـــواړي

دا شيخ فريد دې طمعدار ستا له ديداره ګـــرځي

دده غزل په خوند او رنګ کې د روښانيانو د معاصرو صوفيانو غزلو تــه پاتې کېږي.

**۲- امیرخان هجري:** دا سړی د دېوان خاوند شاعر دی، دېوان یې په دوو جلدو کې ترتیب شوی دی، دا دېوان تراوسه پورې نه دی چاپ شوی، په خپلو اشعارو کې یې هجري تخلص کړی دی، دی د دولسمې هجري پېړۍ شاعر معلومېږي. دده غزل هنري ښېګنې لري او عالي تخیلات روزي، دا یې هم دوه ښکلي بیتونه:

ګل په لړه ژړا وخاندي شبنم ته
یار مې ونه ښود د اوښکو په باران مخ
چې زما د زړه آهونه ورته رسي
ځکه هسې رنګ کبود شه د اسمان مخ

**۳- قنبرعلي خان اورکزی:** د سرور خان زوی و، د تیرا په کلایه کې اوسېده، صوفي مشر او عالم سړی و، د انور شاه مرید و، قنبرعلي خان پر (۱۲۰۷هـ ق) کال د رجب پر میاشت په پېښور کې وفات شوی او هملته ښخ شوی دی. دی د اشعارو دېوان او د (اشک قنبر) په نامه یو ځانګړی اثر لري. په دې دویم کتاب کې یې د کربلا ډېرې سوزناکې پېښې راوړې دي. د قنبرعلي خان اورکزي غزلې او نور اشعار ډېر خواږه او سوزناکه دي. دده غزل او نور اشعار د هنر لوړه مایه او ځینې اشعار یې لوړ فکري ارزښتونه هم لري، ده د پښتو د ډېرو شاعرانو په څواب کې

غزلې ویلې دي او د پښتو اشعارو د مطالعې خاوند سړی و، د رحمان بابا د یوې غزلې په ځواب کې یې داسې ویلې دي:

کړی چې رحمان مومند سوال ددې غزل و

دا ښکلی غـــــزل مې په ځواب راسره یووړ

**۴- محتشم:** د دولسمې پېړۍ غزل ویونکی شاعر دی، دده په بـاب ډېر معلومات نه دي ترلاسه شوي، د غزل نمونه یې ترلاســه شــوې ده، دومره ښکاري چې د غزل په ویلو کې یې روانه طبعه درلوده. د ترلاسه شوي غزل مقطع یې داده:

پاځه وخت د صبحدم شه محتشمـــــه

مــحبوبـا خــو تــه بللی په چربـانګ یې

**۵- سرورشاه:** د ده حالات هم معلوم نه دي، (د پښتو غزل) مولف یې یو غزل موندلی دی. غزل یې رنګیني او جــذابیت لــري، دده د غزلــې مطلع داده:

چې مې نوش کړله پیاله د عشق له جامه

خبر نــه یمه هر ګــز له صــبح و شــامــه

**۶- شاه غریب:** د میا حبیب ګل په بیاض کې یې شعرونه راغلي دي، د دیارلسمې پېړۍ د اواخرو غزل ویونکی شاعر دی.

**۷- غلام محمد ختټک:** دا شاعر د پښتونخوا د جهانګیرې په سیمو کې اوسېده، پر (۱۹۱۹م) کال مړ دی. د اشعارو مجموعه یې د (رموزختټک) په نامه چاپ شوې ده، ده قصیدې او غزلې ویلې دي.

**۸- امګل جان ختټک:** دا شاعر د پښتونخوا د سیمو شاعر او د څوارلسمې پېړۍ په لومړیو لسیزو کې ژوندی و، د شعر مجموعه یې د (ګلشن امګل جان) په نامه چاپ شوې ده.

**۹- محمد نصین:** دی هم د دیارلسمې هجري پېړۍ غزلبول شاعر و، ځینې غزلې یې په (ګلزار روه) کې چاپ شوي دي، د یوې غزلې مطلع یې داده:

چې مدام مې فریادونه کړه اغاز
الوتلی مې طوفان دی په شهناز

**۱۰- روشن الدین ختټک:** د ختکو په اکوړه کې یې ژوند کړی دی، د ژوند زمانه یې د څوارلسمې پېړۍ اوایل اټکل شوي دي. د پښتو غزلبول شاعر و، غزل یې د قدماوو د غزل رنګ اوخوند لري. په (ګلزار روه) کې یې ځینې غزلې چاپ شوې دي، د یو غزل مطلع یې داده:

همېشه د یار له غمه په کوکار ګډ
چېرې نه شوم د وصال په نوبهار ګډ

**۱۱- شېرمحمد:** د پښین د سیمو دېوان لرونکی شاعر و، په غزل کې یې د نشې سوز لیدل کېږي، د ژوند زمانه یې دیارلسمه هجـري پېـړۍ ښودل شوې، دېوان یې تر اوسه نه دی چاپ شوی، د یوې غزلې یو بیت یې دادی:

الهي د حـقیقت په شنه پیالـه کـــــې

دا رنګین شراب د عشق په میخانه کې

**۱۲- حمدالله کاکړ:** دی هم غزلبول شاعر تېر شوی دی، د جنــوبي پښتونخوا بلوچستان د سیمې د پښــین اوســېدونکی دی، د ((رســاله دلنشین)) په نامه د شعر مجموعه لري چــې شــپږ ســوه بیتــه ده، دا مجموعه نه ده چاپ شوې او په دې بیت پیل شوې ده:

منور په نور د ځان دی یار زما

لمر ختلی پر جهان دی یار زما

**۱۳- جام محمدکاکړ:** د دولسمې پېړۍ د اواخرو او دیارلسمې پېړۍ د اوایلو شــاعر و، دی د ږوب د شــامزو پــه کلــي کــې اوســېده. تــر (۱۲۵۰هــق) دمخه تېر شوی دی. د اشعارو دېوان یې پاتی دی. په دېوان کې یې غته برخه د غزلو ده، غزلې یې زیاتره د مینې اخلاقي رنګ لري. د وعظ او نصیحت خبرې هم په کې شته. پر ځینو غزلو یــې د عرفــان

مالګه دوړېدلې ده، د ده دېوان نه دی چاپ شوی، دا یې د یوې غزلې یو بیت دی:

بـــې حـــسابه یم په مینه د خپل یار خوښ

داسې شان به بلبل نه وي په ګلزار خوښ

## د غزل دې بهیر ته یوه کتنه:

موږ د همدې بحث په مقدمه کې ولوستل، چې پښتو غزل په پښتو کې کله پیدا شو او د پښتو ادبیاتو د تاریخ په لومړي پړاو کـــې یـــې څنګـــه پایښت وموند. په دویمه ادبي دوره کې غزل له نویو تمایلاتو سره څنګه ځان په روښاني اثارو کې څرګند کړ.

په دویمه ادبي دوره کې موږ ته تر (۱۰۰۰) زیاتو پښتو شـــاعرانو نومونـــه څرګند دي، دا به مبالغه نه وي که ووایو چې له زرو تنو څخه اتوسوو تنو په پښتو غزل ویلی دی. په دغو غزل ویونکو کې د ځینو بشپړ دېوانونه او د ځینو متفرقې غزلې تر موږه رارسېدلې دي. ددغو غزلبولو غزلې د بېلابېلو فکري او ادبي هنري جریاناتو تر اغېزې لاندې ایجاد شوې دي، لکه: د پیر روښان غزل، د اخوند دروېزه د پیروانـــو غزلیـــات، د هنـــدي سبک تابع غزل، د احمدشاهي عصر پورې مربوطې غزلې.

په پورته ټولو یادو شویو جریانونو کې پښتو غزل د فکر او هنر له پلوه یو ډول انکشاف نه دی کړی، بلکې له لوړو ځوړو سر مخ و، د بېلګـــې پـــه

توګه په روښاني اثارو کې ډېر محدود غزلونه د هنر مالګه لري، زیاتره غزلونه یې یوازې تبلیغي اهدافو ته وقف شوي دي.

د درويزه په پیروانو کې غزل سره له دې چې عرفاني او تبلیغي اهداف هم لري، خو ورسره شریعت په کې د روښانیانو د زیاترو غزلو په پرتله په اوچت معیار کې ځای لري. د صوفیانه حلقو غزل تر یوې داسې جذبې لاندې ویل شوی ښکاري چې خاصه روحاني جذبه او خاص کشش لري او پر لوستونکي او اورېدونکي اغېزه کوي.

د خوشال بابا او دده د پیروانو په اثارو کې غزل د موضوع له پلوه وسعت وموند، هر ډول مسایل په کې بیان شول او هنري ښېګڼې یې هم د توجه وړ دي. د رحمان بابا په دېوان او دده د پیروانو په اثارو کې پښتو غزل د خپل انکشاف لوړو پوړیو ته وخوت او د هندي سبک په پیروۍ ویل شویو غزلو کې پښتو غزل نوي هنري کړه وړه خپل کړل.

د پښتو د دغو متفرقو غزلو ویونکو په باب باید ووایو، کوم پښتو غزلونه چې دغو غزلبولو ایجاد کړي دي، د پښتو د ادبي تاریخ په کوم خاص ادبي جریان پورې اړه نه لري. د دغو خلکو په غزلو کې هغه که د دولسمې پېړۍ دي او که د دیارلسمې او څوارلسمې د اوایلو ډېری محدودې غزلې هنري او فکري ارزښتونه لري، زیاتره غزلې هغه شور، مستي او کشش نه لري چې د پښتو غزل د یوولسمې پېړۍ د دویمې نیمایي او د دولسمې پېړۍ د خوشال، رحمان او حمید په سبکونو پورې اړوندې غزلې یې لري.

په دیارلسمه پېړۍ کې د غزل پرځای په پښتو ادبیاتو کې داســتان تــه زیاته پاملرنه لیدل کېږي. د دیارلسمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې، زیاتره شاعران د شرقي ادب ځینې داستانونه او حکایات په پښتو نظموي، دا کار په هند او پښتونخوا کې د چاپ د وسایلو په پرمختیــا ســره زیـات بابېږي او په سلګونو داستانونه پښتو تــه اوړي او د تــاجرانو لــه خــوا چاپېږي او خلکو ته وړاندې کېږي. ددې کار یو علــت دادی چــې عــام خلک له داستاني اثارو سره زیاته علاقه ښیي، نــو ځکــه تــاجرانو بــه ددغسې اثارو له چاپ سره زیاته مینه ښودله او شاعرانو هم د غــزل او دېواني ادبیاتو پر ځای داستاني ادبیاتو ته پاملرنه کوله.

شفیع الله حسني- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# د سلیمان ماکو تذکره الاولیاء



په دې لیکنه کې لومړی د سلیمان ماکو پېژندنه او بیا په ترتیب سره د تذکره الاولیا معرفي او د هغې محتوا په تفصیل سره شرحه شوې ده. اول تذکره الاولیا په دوو برخو وېشل شوې ده، چې یوه د نثر برخه ده یانې د سلیمان ماکو خپله لیکنه او دویمه د نظم برخه ده چې د شاعرانو شعرونه او نظمونه دي. همدارنګه د سلیمان ماکو نثر په ترتیب سره، په هغو کې د پښتو، عربي او فارسي ژبې لغاتونه او اغېزې چې په دې نثر کې دي، تفصیل او تحلیل شوي دي. همدارنګه د سلیمان ماکو د نثر ممیزات هم تشریح شوي دي.

## سلیمان ماکو او تذکره الاولیاء:

د پښتو ژبې له پخوانیو لیکوالو څخه یو هم سلیمان ماکو دی، دی د بارک خان صابزي ماکو زوی دی، چې د کندهار په ارغستان کې

اوسېده، د ماکو قوم تر اوسه هم په لږ تعداد هورې اوسېږي او په ابدالیو (درانیو) کې شاملېږي. سلیمان ماکو له دې قومه یو پوه لیکوال راوتلی دی او د پښتونخوا په غرو کې یې سیاحتونه کړي او د خپل عصر مشهور روحاني او ادبي رجال یې کتلي دي.

دی په خپله وایي چې پر ۶۱۲هـ تللی وم او د پښتونخوا په غرو او رغو ګرځېدم او د لویانو مراقد مې لیدل او پلټل، داسې ښکاري چې سلیمان تر دغه مفید او ګټور سفر وروسته بریالی شو چې د پښتنو د نومورو بزرګانو د حال او احوال په باب یوه تذکره ولیکي او د دوی ویناوې او اشعار په دې کتاب کې خوندي کړي.

په خواشینۍ سره چې دا کتاب لا تر اوسه ورک دی، خو لومړي مخونه یې چې اته مخه دي، هغه پوهاند عبدالحی حبیبي پر (۱۳۱۹ل) کال په کندهار کې وموندل او د هغو مخونو عکسونه یې د کابل په کالنۍ (۱۳۱۹ل) او پښتانه شعرا لومړي ټوک کې خپاره کړل.

د تذکرې یو څو پاڼې چې پیدا شوې دي، یاني څلور پاڼې چې اته مخه کېږي او اووه ډک مخونه دي، ځنې معلومېږي چې سلیمان د پښتنو مشاهیرو احوال په داسې ډول لیکل چې د هغو د ژوندانه وقایع ثبت شي او دا خبره هم څرګنده شي چې پلاني سړي څنګه ژوند کاوه، چېرې اوسېده، پلار نیکه او کورنۍ یې کومه او چېرې وه او له هغه سړي څخه د خلکو په خولو او زړو کې کومه وینا او کوم شعر پاتې دی؟ دی په خپل سفر کې د کاملاتو حضور ته رسېدلی او کوم مشاهیر چې مړه وو د

هغو مراقد یې موندلي او لیدلي دي او د تاریخي وقایعو په ضبط کې یې ډېر دقت کړی دی چې د تذکرې په دیباچه کې دی په خپله وایي:
((په سنه دولس او شپږ سوه د هجري تللی وم او د پښتونخوا په راغو او کلیو ګرځېدم او مراقد د اولیاوو او واصلینو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل او د دوی په خدمت خاکپای وم او هرکله په سلام ورتـه ولاړ چې له دې سفره په کور کېناستم او تناکې وچـاودلې د پښـو بیـا پاځېدلم او د ځښتنه مې مرستون شوم چې احوال د هغو کاملانو وکاږم او دوی چې هغه ویناوې پاتې کړي دي او پښتانه یې لولي.)) اوس له دې ځخه ښکاري چې سلیمان ماکو په تذکره کــې خپـل مشـاهدات او د سیاحت لیدل شوي او کتل شوي معلومات کښلي دي. د سلیمان ماکو تذکره الاولیا د پښتنو پخوانیو شاعرانو په احوال او اثارو کې زمـوږ یـو پخوانی تاریخي او پوخ ماخذ دی. هغه اوه مخه چې له دې تذکرې ځخه زموږ لاسته راغلي، ددغو شاعرانو احوال په کې راغلی دی: بېټ نیکه، ملکیار غرشین، شیخ تیمن، قطب الدین بختیار. دا خبره باید هم له یاده ونه باسو چې سلیمان د پښتنو رجالو په تاریخ لیکلو کې هغه سبک نه دی تعقیب کړی چې د شیخ عطار په تذکره الاولیا کې ټاکلی شـوی و، ځکه چې شیخ عطار یوازې د اولیاوو د زهد او تقوا حکایات راټول کړي دي، خو سلیمان د رجالو د ژوندانه احوال او د دوی اخلاق او کورنۍ او هم ادبي موقعیت ښیي او په دې ډول پـوه سـړی او سـترګور مـورخ ښکاري. د تذکره الاولیا د موندلو په اړه راغلي دي چې تذکره الاولیا د

هلمند د ناوې د ادم خان په کلي کې د زړو کتابونو د پلټلو پر مهال د پوهاند عبدالحی حبیبي صاحب لاسته ورغله، چې پر مخنیو چاپونو سربېره پر (۱۳۶۱ل) کال د استاد حبیبي د تعلیقاتو شرحې او سریزې او له اصل متن سره یوځای د سرمحقق زلمي هېوادمل په زیار چاپ شوې او دغه راز پر (۱۳۷۹ل) کال یوځل بیا د علامه حبیبي د څېړنو د مرکز له خوا د هغې د انګلیسي متن سره یوځای چاپ شوې ده، خو تر دې دمخه هم چاپ شوې ده. تذکره الاولیا په لومړي ګام کې مور پر دوو برخو وېشو:

الف- د سلیمان ماکو خپله لیکنه چې نثر دی او د شاعرانو ژوندلیک په کې راغلی دی.

ب- په تذکره کې د شاعرانو راغلی کلام چې په نظم دی.

**الف- د سلیمان ماکو نثر:** تر سلیمان ماکو دمخه د پښتو نثر کومه نمونه زموږ لاسته نه ده راغلې، چې پخوا به د پښتو نثر څنګه و او څه ډول سبک یې لاره، خو د سلیمان ماکو د نثر پوخوالی دا څرګندوي چې ددغه عصر نثرونه به دغسې پاخه وو او له دې نثر څخه څرګندېږي چې د پښتو نثر د ماشومتوب پړاو تېر کړی او د پوخوالي مرحلې ته رسېدلی دی.

د سلیمان ماکو نثر که په تحلیلي سترګه ولیدل شي، تر دغو لاندې درېیو عواملو لاندې یې نشونما راته ښکاره کېږي او په هغه چاپېریال کې چې دې نثر وجود موندلی و هم دا درې عوامل موجود وو:

۱- د پښتو ژبې خپل اثر چې سلیمان پښتون و او د پښتو ژبې ویونکی و، نو طبیعي ده چې دغه لامل به دده د نثر په ادبي بنه او جوړښت پوره اثر درلود او ښایي چې تر ده دمخه چې کوم نثاران موجود وو د هغو د لیکلو سبک به هم پر ده دروند اغېز درلود.

۲- په فارسي ژبه کې چې کوم ادبي حرکـت موجـود و او د سـلیمان چاپېریال یې نیولی و، ضرور به یې دده پر نثر هم اثر کړی وي.

۳- په دغه عصر کې فارسي نثر رشد موندلی و، هم په غزنـي هـم پـه خراسان او هم په هند کې خپل عروج ته رسېدلی و، تاریخ بیهقي او زین الاخبار او د محمد عوفي لباب الالباب او نور کتابونه ددغه عصر مهـم منثور اثار دي، ځکه پښتو هم ددغه ادبي چاپېریال په منځ کـې ژونـد کاوه، نو یې اغېزې هم طبیعي دي.

په دغه عصر کې عربي ادب او عربي ژبې هم پوره او بشپړ اثر کړی و، په خپله فارسي نثر هم په ابتدا کې تر دغه اثـر لانـدې نشـونما وکـړه. د (۵۰۰هــ) په شاوخوا کې چې کوم فارسي منثور کتابونه ولیکل شول، د عربي ژبې اغېزې په کې څرګندې دي، ځکه پښتانه هم له عربي ژبـې سره په دغه زمانه کې پوره اړیکي لري، پر پښتو هم د عربي ژبـې اثـر شوی دی. د سلیمان ماکو په حیاتي چاپېریال کـې دغـه درې سـایقه موجود وو چې هر یو په ادبي تحول او د لیک او نثر پر ډول باندې طبعاً اثر کوي او زه هم تر دغه درې عواملو لاندې د سلیمان نثر تحلیلوم:

**الف- د سليمان د نثر پښتو لغتونه:** که په عمومي ډول سليمان ماکو نثر ارزول کېږي، نو دا تقريباً په نړه پښتو نثرونو کـې حسـابېدلی شي، ځکه د پرديو ژبو تاثيرات پرې ډېر کم دي او ان که څوک اوس هم پښتو نثر ليکي، نو د نورو ژبو دومره کلمې به ضرور په کـې کـاروي. د سليمان ماکو له نثر څخه داسې ښکاري چې هغه وخت د پرديـو ژبـو (عربي او فارسي) تاثيرات پر پښتني ادبي چاپېريال وو، خو دومره زيات نه وو چې ټول نثر متاثر کړي، دلته به د ده د نثر سوچه پښتو لغاتونو ته اشاره وکړم: لوی، استازی، روښان، وياله، هوسېږم، خاورې، راغه، کلی، پلټل، لوری، موندل، څښتن، پاڅېدل، وينا، لولي، شپه، سـتانه، کـول، سندرې، يرغل، غرشين، ملگری، ستر، واکمن، بری، مـرورل، پـاړکی، څرگند، مېشت او داسې نور. د سليمان ماکو په نثر کې کارول شوي دي، اکثره پښتو لغتونه اوس هم په خپله هماغه پخوانۍ مانـا او مفهـوم او هماغه شکل کارول کېږي. د سليمان ماکو د نثر له پوخوالي څخه داسې ښکاري چې پښتو نثر به تر دې پخوا ښه اوږد مـزل کـړی وي چـې د سليمان ماکو د مهال داسې پخې مرحلې ته رسېدلی دی.

**ب- د سليمان ماکو په نثر کې عربي لغتونه:** د سليمان ماکو په نثر کې يو شمېر عربي لغتونه هم شته، خو دا اکثره داسې لغتونـه دي چې مذهبي او عقيده يي مفاهيم لري، دا ډول لغتونه اکثره اوس هم د مذهبي اصطلاحاتو په بڼه موجود دي او ترجمه يا اړولونه يې ډېر ممکن نه برېښي.

عربي ژبې د اسلام تر راتګ وروسته په افغانستان کې خپلــې اغېــزې وښندلې دا اغېزې لومړی پر فارسي ژبــه او وروســته پــر پښــتو ژبــې محسوسې شوې، خو د پښتو په اندول يې پــر فارســي ژبــه اوس هــم تاثيرات زيات دي، دلته به څو عربي لغتونــو تــه اشــاره وکــړو: قــدوه الواصلين، مراقد، حمد، برکت، نصيب،صلی الله عليه وســلم، غريــب، هجري، اوليا، آل، امابعد، نقل، عبادت،مبارک، واقع، قبول، کفر، شيخ او ځينې نور...

**ج- د سليمان ماکو په نثر کې فارسي لغتونه:** د سليمان ماکو په نثر کې د عربي په نسبت فارسي لغتونه ډېر کــم دي خــو د اســتاد عبدالحی حبيبي په نظر د سليمان ماکو په نثر کې د فارسي ژبې د هغه وخت د نثر څه اغېز شته. د سليمان ماکو تر عصر نږدې دوه سوه کالــه دمخه د غزنويانو په عصر کې فارسي نثر ډېر پرمختګ کړی و، ډېر روان، ساده او عام فهمه و، لنډې لنډې جملې يې لرلې او له ابهــام او تکلــف څخه خالي و. د سليمان ماکو نثر هم ساده سليس او روان دی، جملــې يې هم لنډې دي، ابهام، تصنع او تکلف هم نه لري، د فارسي نثر د هغه وخت د خوړلنيو د څه ناڅه اغېزمنۍ ترڅنګ يو شمېر فارسي لغتونــه هم د سليمان په نثر کې ليدل کېږي، لکه: ســپاس، خاکپــای، بــزرګ، روزګار، مهربان، درخواست او ځينې نور...

**د- د سليمان ماکو د نثر ګرامري جوړښت:** سره له دې چې د سليمان ماکو په نثر کې زياتره ســوچه پښــتو لغتونــه کارېــدلي دي او

**لیکنی متن یې هم سړي ته ډېر خوند ورکوي. له دې سره سره یې لیکنۍ بڼه له عامې محاورې او همدارنګه د پښتو ژبې له اوسني ګرامري جوړښت سره اړخ نه لګوي. د نثر دا حالت کېدی شي د دوو عواملو له امله رامنځته شوی وي، کېدی شي د هغه وخت د پښتو محاورې ژبه همدا شان یا دې ته ورته وه، یا هم نثر په دې بڼه لیکل کېده او یا هم د عربي ژبې تاثیر پر فارسي او د فارسي پر پښتو پرېوتی وي. د سلیمان ماکو د نثر په ځینو جملو کې مبتدا او خبر، فاعل او فعل، مضاف او مضاف الیه سره وړاندې وروسته دي، دا کار د پښتو له اوسني ګرامري جوړښت سره توپیر لري، کېدی شي د لرغونې دورې نثر همدا بڼه درلوده، خو بیا هم د سلیمان ماکو نثر، د پیر روښان او د هغه د پلویانو او همدارنګه د اخوند درویزه او د هغه د پلویانو تر نثر ډېر زیات خوږ، سوچه او روان دی؛ تکلف، تصنع او ابهام په کې نه شته، دلته به د سلیمان ماکو د نثر ځو ترکیبونه راوړو او بیا به د پښتو ژبې د اوسني ګرامري جوړښت اصله بڼه هم ورسره ولیکو:**

| **د سلیمان ماکو نثر** | **اوسنی ګرامري جوړښت** |
| --- | --- |
| **وایم حمد وسپاس د لوی خاوند** | **د لوی خاوند حمد و سپاس وایم** |
| **چې دی بادار د کونینو او رحمت د ثقلینو** | **چې د کونینو بادار او د ثقلینو رحمت دی** |
| **په وياله د ارغستان هوسېږم** | **د ارغستان په وياله هوسېږم** |
| **مراقد د اولیاو او واصلینو مې پلټل** | **د اولیاو او واصلینو مراقد مې پلټل** |
| **او تناکې وچاودلې د پښنو** | **او د پښنو تناکې مې وچاودلې** |
| **سړبن نه درلودل زامن** | **سړبن زامن نه درلودل** |

او هر کله به ویل خپل ورور ته          او هر کله به یې خپل ورور ته ویل

او داسې نور ترکیبونه او نورې جملې. دلته موږ د سلیمان ماکو په نثر کې ګورو چې نثر له عامې محاورې څخه لرې شوی دی. په پښتو کې عامه قاعده همدا ده چې اول فاعل راځي بیا فعل، اول مبتدا ده او بیا خبر،خو د سلیمان ماکو په نثر کې دا قاعده تر ډېره حده معکوسه ده.

**هـ- د سلیمان ماکو په نثر کې پخواني لغتونه:** د سلیمان ماکو په نثر کې پر هغو سوچه پښتو کلمو سربېره چې اوس هم په پښتو کې استعمالېږي، ځینې داسې نور پښتو لغتونه هم شته چې یا اوس نه کارېږي او یا هم په لر شانې لفظي تغیر او تحول سره کارېږي یانې متروکې کلمې په کې شته، دلته به دې ډول کلمو ته هم اشاره وکړو.

| په تذکره الاولیا کې کارېدلې بڼه | اوسنۍ بڼه |
|---|---|
| پښتنخا | پښتونخوا |
| مرستون | مرسته غوښتونکی (په پخوانۍ بڼه اوس متروکه ده) |
| لولي | ویلې |
| جوبله | جنګ پخوانۍ بڼه یې مترکه ده |
| پپنا | پوپنا |

| | |
|---|---|
| دښنه | دښمن |
| کتاړو | تورې (پخوانۍ بنه یې متروکه ده) |
| ډېرزښت | ډېر زیات |
| ګڼوڼ | شمېر |
| کول | نسل |
| بما (بومیا) | لاربښود (اوس متروکه ده) |
| وګروهېد | متعقد شو (دابڼه هم اوس متروکه ده) |

او ځینې نورې کلمې چې اوس یا متروکې دي او یا یې هم بڼه کې بدلون راغلی دی، په تذکره الاولیا کې د دغسې مړو او پخوانیو کلمو شــتوالی ددې ادبي تذکرې لرغونتیا او ځانګړتیا په ګوته کوي.

## د سلیمان ماکو د نثر ځینې ممیزات:

اوس چې د پښتو د لومړي نثر اساسي عناصر (د پښتو، فارسي او عربي اغېزې) وڅېړل شول، یو څو نور مهم ادبي ممیزات هــم لانــدې ذکــر کېږي، چې په دې نثر کې لیدل کېږي.

۱- ایجاد: د سلیمان ماکو د نثر یو عمده او څرګند مزیت د جملو ایجاد دی چې دغه ممیزه یې د فارسي له قدیمه نثــره ســره شــریکه ده تــر

غزنویانو دمخه تر (۴۰۰هـ) پخوا د فارسي نثر نهایت موجز او جملې یې لنډې لنډې دي.

**۲- توصیف او توضیح:** د سلیمان ماکو په نثر کې ځینې جملې داسې هم شته چې یوازې د توصیف او ښو څرګندولو لپاره راوړل شوي دا مزیت د فارسي په ساماني سبک کې لږ و، خو د غزنوي دورې لیکوالو ښه پسې ډېر کړ او د مطلب د روښانولو لپاره یې ځینې پرله پسې جملې راوړلې چې مقاصد ښه پسې واضح شي، د مثال په ډول ( په ویاله د ارغستان هوسېږم او په دې ځمکو یادېږم) بل مثال (( شیخ بېټنی هوسېد په غره باندې او هلته دېره و)) بل مثال (( د دوی په خدمت خاکپای وم او هر کله په سلام ورته ولاړ)) چې په دغو مثالونو کې دویمې جملې د توصیف او توضیح لپاره راغلې دي.

**۳- د افعالو تکرار:** د فارسي پخواني لیکوال تر غزنوي دورې دمخه د هرې جملې لپاره د فعل ذکر لازم ګڼي. که څه هم یو فعل په څو جملو کې مسلسل تکرار هم شي. د افعالو تکرار چې وروسته یو ادبي عیب هم وګڼل شو د ساماني عصر په نثر کې عیب نه و، بلکې د الفاظو تکرار او د جملو تکرار هم کېده او دغه تکرار په اوستا او پهلوي ژبو کې هم و چې فارسي ژبې ته راغلی و او دا یو قدیم ادبي سنت ګڼل کېده. د مثال په ډول سلیمان په خپل نثر کې داسې لیکلي: (( بختیار په پښتو سندرې کړېنه، اوښې تویوینه خدای ته نارې کړېنه، غلبلې کړېنه، پاړکی لرینه))

وګورئ پنځه فصله په یوه لیکه کې سره یوځای دي چې دوه کټ مــټ تکرار هم دي. دلته دا باید هېر نه شي چې د ژبې دغه طبیعــي او روان سبک ډېر ښه دی او د افعالو د حذف او عطف ناروا دود وروســته رواج شوی دی، چې کله کله د کلام رنګ او خوند وراړوي، موږ باید په اوسني نثر کې دغه د افعالو د حذف بدعت رواج نه کړو او د قــدیم طبیعــي او خواږه سبک پیروي وکړو.

## اخځونه


۱- د پښتو ادب تاریخ، پوهاند عبدالحی حبیبي، ۱۳۸٤ل کال.

۲- د تذکره الاولیا په اړه د پوهندوی محمد اسمعیل یون مقاله.

هدایت الله  شیرانی- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# په لرغوني ادب کې د نظم او نثر انډول ؟



نثر او نظم د ادبیاتو دوه مهم ستونونه دي چې ټول ادبیات پرې استوار دي  او د یوې ژبې استوارتوب هغه مهال لا ټینګ او قایم وي چې دواړه یې پرخپل ځای برابر او ټینګ وي، که یوه خوا زیاته قوي وي او بله خوا کمزورې وي، نو بیاهم شرایط د ډاډ وړ نه دي، نو که ولیدل شي د نظم پله تر نثره له پخوا راهیسې درنده وه یانې نظم ته زیات کار شوی او نثر ته وروسته کار پیل شوی دی، ددې تر شا مختلف لاملونه شتون لري.د پخوانیو اریایانو او د اکثرو قومونو زاړه ادبي اثار منظوم وو او منثور یې ډیر کم او یا لږ پاتې دي.

(ویدا) او (اوستا) کتابونه دواړه منظوم وو او د سانسکریت زاړه کتابونه هم اکثره منظوم دي ، نو له دې سببه د اریایي اقوامو د نظم تاریخ تر نثر دمخه دی، په دې کې هېڅ شک نشته چې د ژبې اساس پر نثر اېښودل

کېږي، څرنګه چې بشر خپل پخواني ادبي اثار په حافظه کې ساتل او د لیک او تحریرفن لا نه و ایجاد شوی، نو د حافظې د ساتلو لپاره نظم تر نثر اسانه و او هر وخت به اریایي اقوامو( شاعرانو ) خپل دیني او ټولنېز مطالب په نظم کول او حماسي شاعرانو به خپـل جنګـي او حماســي اشعارپه منظم ډول جوړول. د ویدا قدیم اثار د دغو ریشانو د ذوق نتایج دي . اوستا هم د زردشت او د دده د اتباعو ګیتونه (( سندرې)) دي ، د لرغوني یونان ((ایلیاد او اوډیسې )) هم د (هومر) حماسي سرودونه دي . د پښتو ژبې په ادبي تاریخ کې هم موږ ته تر اسلام را وروسته لـومړني منظم اشعار لاسته راغلي او د قدماوو په دوره کې تر (۶۰۰ هـ ق) دمخه د کوم منثور اثر درک نه لرو، فقط د محمد هاشم بـن زیـد سـرواني د (سالو وږمه) یوکتاب موږ ته معلوم دی، مګر منظوم اشعار خورا زیات دي . لکه څرنګه چې پخواني اریایي متون سینه په سـینه رانقـل شـوي، وروسته په کتابونو کې ثبت شوي او تر موږ رارسیدلې دي، ځکه پښــتو ژبه دپخوانیو منظوماتو په شهادت موجوده وه ، نو طبعاً به یې نثر هــم درلود مګر د لیک او تحریر د نه موجودیت په سبب به نثر نه وي ثبــت شوی او که وو هم هغه به د زمانې د ناوخوالو څپو له ځانه سره وړی وي، نو ځکه موږ له قدماوو او پخوانو راوروسته د منځنیو لیکوالو په دوره کې چې څلور پېړۍ رانغاړي، د نثر نمونې په لاس کې لرو او نثـر لیکـونکي پښتانه موږ پېژنوچې کتابونه یې تالیف کړي دي. د مغولو تـر تـاړاک او چپاول دمخه (( ۶۰۰ هـ ق )) پخوا د پښتو ژبي ادبې مرکزونـه د غــور،

هلمند، ارغنداو او د ترنـک ورشـوګانې وې. دغـه مرکزونـه د مغولـو خونخوارو لښکرو وران کړل او د مـدنیت یـوه بېلګـه یـې هـم پکـې پرېنښوده. نو داسې ښکاري چې د پښتو ډېر کتابونه او علمي اثار هـم ورسره تباه او پوپناه شوي دي. یو کلک او مظبوط دلیل شـته، چـې د (۶۰۰ هـ ق) په حدودو کې چې د نثر کومه نومونه او بېلګه موجوده ده هغه ډېره پخه او خوږه ده ، د یوې ژبې نثر چې دې درجې ته رارسېږي نو طبعا یې باید دمخه ابتدایي مرحلې تېرې کړې وي چې د وړکتـوب لـه مرتبوڅخه د زړښت او پوخوالي درجې ته راغلی وي، نو له دې خبـرې څخه داسې استدلال کوو، چې باید ډېر مخکې لږ تر لږه دوه درې پېړۍ پر پښتو نثر تېرې شوې وي،چې د اومې پېړۍ (۶۰۰ هـ ق) کلونو متانت او پوخوالی یې موندلی وي. له همدې کبله ویلای شو چې د نظم پله تر نثر ځکه درنده ده چې په پخواوختونو کې له یوې خوا د نثر لپاره د املا او انشاء زمینه نه وه مساعده او بل خلکو تر نثـر نظـم ژر یـادولای او حافظې ته سپارلی شو او نثر ورته مشکل و شاید له همدې امله له منځه تللی وي، نو ځکه یې د نظم په شان ډېرې بېلګې نه شته.

نصير احمد (( تائيد ))- د پښتو څانگې د لومړي ټولگي محصل

# په پښتو لرغوني ادب کې ويرنه



په پښتو لرغوني ادب کې لومړنۍ ويرنه شيخ اسعدسوري د محمد سوري زوی د قصيدې په چوکاټ کې د غور د پښتون پاچا امير محمد سوري، چې د سلطان محمود غزنوي په واسطه د ((اهنگرانو )) په کلا کې کلا بند کړای شو او د گرفتارۍ په حال کې يې زهر وخوړل، مړ شو، ويلې ده، د قصيدې څو بيتونه په دې توگه دي:

د فلک له چارو څه وکړم کوکار
زمولوي هرگل چې خاندي په بهار
هرغټول چې په بيديا غوړېده وکا
رېژوي يې پاڼې کاندي تار په تار
ډېر مخونه د فلک څپېړه شنه کا
ډېر سرونه کا ترخاورو لاندې زار

د واکمن له سره خول پرېباسي مـړ سـي
د بېوزلـو وینـې تـوې کانـدي خونخـوار

***

سخ پـه تـا ای محمـده د غـور لمـر وې
په نـړۍ بـه نـه وي سـتا د عـدل سـار
ته پر ننګه وې ولاړ پـه ننګـه مـړ سـوې
هم په ننګه دې په ننګـه کـا ځـان جـار
که سوري دې په تګ وېر کانـدي وېـرمن سـول
هم به ویاړي سـتا پـه نـوم سـتاپه ټبـار
په جنـت کـې دې وتـون زمـوږ واکمنـه
هـم پـه تـا دې وي دېـر لـور د غفـار.

شاعر په دې قصیده کې د فلک له جبر ، جفا او بـې پروایـۍ څخـه سرټکوي، ژاړي فلک ظالم معرفي کوي او شکایت ورڅخه کوي، داځکه چې فلک امیر محمدسوري له منځه وړی، د هغه پاچاهي، تاج اوشتمني یې له خاورو سره برابر کړي. د طبیعت منظرې، د مرغانو نغمې او نورې زړه کشوونکې ښکلاوې د امیر محمدسوري په نشتون کې هېڅ بولي، د هغه مړینه د ملت او وطن لپاره وير او ماتم بولي. له بلې خـوا د امیـر محمد مېړانه او غیرت بیانوي او د هغه د دورې نظم، ابـادي او ارامـي خلکو ته څرګندوي. لنډه دا چې د امیـر محمدسـوري ټـولې بریـاوې

روښانوي او په پای کې د نوموړي مړینه  د وطن او قوم لپاره لویه ضایعه بولي.

دا په پښتو لرغوني ادب کې د ویرنې لومړنۍ او بشپړه بېلګه ده، البته تر دې وروسته ځینې شعرونه هم شته چې غمجن حالت بیانوي، خو د شیخ اسعد سوري د ویرنې په شان پوره ویرنې نه دي.

حبیب الله (( پوپل ))– د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# په پښتو ادبیاتو کې نکلونه او ملي هنداره اثر

## سریزه:



د لومړي کال د دویم سمستر د (پښتو ادب تاریخ) مضمون ګران استاد ښاغلي پوهندوی محمد اسمعیل یون له خوا تدریسېږي، استاد یون تل د پښتو او پښتونولۍ لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، په دې موخه چې موږ خپل ادبي فعالیت جاري ساتلی وي، نو یې ټول ټولګي ته کورنۍ دندې ورکړې، دا کړنه محترم استاد ځکه وکاروله چې له یوې خوا زده کړیالان له ادبي څېړنې سره بلد شي او بله مهمه موخه یې دا وه چې ټولو راغونډو شویو موادو ته کتابي بڼه ورکړل شي او په پښتو کې یو بل نوی اثر چې هغه هم د یوې ادبي دورې په اړه وي، لوستونکو ته وړاندې شي.

ماته د نورو ملګرو په شان یوه ځانګړې موضوع چې عنوان یې (په پښتو ادبیاتو کې نکلونه او پر ملي هنداري کتاب تبصره) راکړل شوه، ما هم پر

یاد عنوان تر خپل وسه کار کړی دی، هیله ده چـې د پـاملرنې وړ مـو وګرځي.

په پایله کې زه له یون صاحب د دغه ادبي فعالیت له امله زیاته مننه کوم او له الله(ج) څخه یې تل په ژوند او پر خپلو سیالانو بری غواړم.

## نکلونه

د پښتو د شفاهي ادبیاتو ډېره خوندوره برخه نکلونه دي. دا نکلونه له پېړیو راهیسې د ولس په حافظه کې پاتې شوي او ځینې اشکال یې تر نن ورځې پورې رارسېدلي دي .

نکلونه د پښتو د بېلابېلو سیمو په کلیو او بانډو کې موجود دي، که یو نکل په یوه سیمه کې ایجاد شوی هم وي ، په هماغې مشخصې سیمې پورې مربوط نه دی پاتې شوی، بلکې نورو سیمو ته هم ور انتقال شوی او عام شوی دی. په نکلونو کې د انتقال پـه دې جریـان کـې ځینـې محیطي اصطلاحات، جغرافیایي نومونـه او روایـات تبـدیل شـوي او پرځای یې د بلې سیمې اصطلاحات او نومونه راغلي دي.

د زمان په تېرېدو سره د نکلونو په ژبه کې هم تغیر راغلی دی او همدا راز د نکلونو په ځینو روایاتو کې هم تغیرات واقع شوي دي.

د پښتنو په سیمو کې موجود نکلونه پر دوو برخوو وېشلای شو:

( ۱ ) د پښتنو خپل نکلونه: چې قهرمانان ، محیط او ټول کړه وړه یې پښتني دي او د پښتنو د اجتماعي ژوندانه په څېړنه کې له دې ډول نکلونو څخه ډېره استفاده کېـدی شــي او د دوی د فرهنــګ د ډېــرو پخوانیو خصوصیاتو ځینې څرکونه هم ځنې ایستل کېدی شي.

په دې پښتني نکلونو کې بیان شوي حکایات او پېښې د پښتـنو لـه هماعه وختني اجتماعي فرهنګي ژوند څخه رنګ اخلي .

پښتني نکلونه ځینې ډېر اوږده دي. په دغسې نکلونو کې په کیسـو کې کیسې بیانېږي، خوځینې یې بیا ډېر اوږده نه دي او د شرقي ادبیاتو حکایتي اثارو ته ورته دي.

ددغو نکلونو اوسني اشکال د خلکو له خبرو او ویناوو سره سم اوډل شوي دي، په دې نکلونو کې ځای ځای ځینې نارې هم شته، چې نکل چیان یې د نکل د بیان په ترڅ کې په مخصوصو ځایونو کــې د نکــل د کرکټر له خولې وایي.

په پښتو نکلونو کې د دغسې نارو موجودیت ځینې څېړونکي په دې باوري کړي دي ، چې دغه نکلونه به په لومړي سر کــې منظــوم ایجــاد شوي وي او بیا به یې د وختونو په تېرېدو سره منظوم اشکال هېر شوي وي او د نکل خاکه به د خلکو په حافظو کې پاتې وي او بیا به د همدغې خاکې له مخې د ولس له عامې محاورې سره سم د نکلونو اوسنۍ بڼې

عيارۍ شوې وي او کومې منظومې چې د نکل له لومړنيو اشکالو څخه د خلکو په حافظو کې پاتې شوې دي، هغه يې د نارو په توګه د نکــل پــه اوسني شکل په خپلو خپلو ځايونو کې ځای کړې دي .

د پښتنو په خپلو ملي نکلونو کې ادم خان درخانۍ، دلۍ شهو، مومن خان شيرينو، طالب جان او ګل بشره، ولي جان او تانو، موسی جــان او ګلمکۍ، فتح خان او رابيا، ښادي او بيبو، جمال خــان او زيــب النســا، ظريف خان او مابۍ، جلات خان او شمايله او نور ډېــر مشــهور دي، د پښتنو خپل نور ملي نکلونه هم شته.

( ۲ ) له نورو ولسونو څخه راغلي نکلونه: د بېلا بېلــو ولســونو ترمنځ دود دي، په شفاهي ډول ولس اخيستي دي، په ځينو کې يې له خپلو محيطي او اجتماعي، فرهنګي شرايطو سره سم څه ورزيات کړي او يالړ کړي دي په دې کټګورۍ نکلونو کې شهزاده بهرام او ګلندامــه، سيف الملوک او بدرۍ جماله او نور د دېوانو ښاپېريانو ډېر نکلونه شامل دي.

د پښتنو په کليو او باندېو کې اوس هم نکلچيان شته، دا نکلچيان هغه خلک دي، چې دا نکلونه يې په خپلو حافظو کې ساتلې او د کال پر بېلا بېلو وختونو په تېره د ژمي په اوږدو شپو کې يې کليوالو ته وايي.

د پښتنو ځینو خواخوږو لکه مرحوم ګل محمد نوري، عابد شاه عابد، پروفیسورولي محمد جان سیال کاکړ، پروفیسورمحمد نواز خان طایر، عبدا لکریم پتنګ دا ډول نکلونه له اوله راټول کړي او چاپ کړي دي.

په ورستیو وختونو کې : نورالله ولسپال، محمد مومن پتــوال، غــوټۍ خاورې، میراحمد ګربز او علي محمد منګل هم له خپلو ســیمو څخــه ځینې پښتو نکلونه راټول کړي دي.

## ملي هنداره

دا کتاب چې چمتو کوونکي او راغونډوونکی یې مرحــوم محمــد ګــل نوري دی، د پښتو د شفاهي ادب غوره او خوندوره ټولګه ده چې ښکلي او هنري نکلونه په ځان کې رانغاړي او د پښتو ژبــې لپــاره د مرغلــرې ارزښت لري ، په کتاب کې د ولس په خوله حقیقي نکلونه او د کرکټرونو په اوازونو باندې نارې او لنډۍ شته او همدا راز د پښتنو د سیمو دود او دستور یانې د پښتنو سپېڅلې مینه، پر ژمنو ولاړ او د غیرت او مېړانې کیسي د غوره او ښکلو کرکټرونو په نظر کې نیولو سره لیکل شوي دي، چې هر ه کیسه یې د یادونې وړ ده . پخوا هم په کلیــو او بانــډو کــې د اناګانو، نیکه ګانو او نورو مشرانو له لوري په ځانګړي وخت کې دا ډول کیسي او نکلونه کېږي او زیات مینوال لري، ځکه دا په ځــان کــې یــو ځانګړی خوند لري، په نکلونو کې هر ډول کیسې شته یانې حماســي،

عشقي او حکایتي خو زیاتره خلک د عشقي نکلونو په اصطلاح عملیان دي. دا کتاب هم زیاتره عشقي نکلونو ته ځانګړی شوی دی، چې څرنګه پښتانه سپېڅلي عاشقان تر کومه حده پورې وفادار دي او د غیــرت او ننګ لپاره حتی پښتانه د سر سودا کولو ته راځي دي. بله مهمه خبره د کتاب دا ده چې د فولکلوري ادبیاتو بډایه پانګه؛ نارې او لنــډۍ پکــې زیاتې دي، لکه :

سر د سره پالنګه هسک کړه فتح خانه
یاغي سوی هندوستان رعیت ملکونه

❖

دروازه ژر کړئ راخلاصه ګوریانو
راپسې د زرغونو توتیانو سیل دی

❖

دا کاروان د شمس الدین په طلا بار دی
دا تــــول د برېښانو ککی ښــــکار دی

❖

که اور ګډ کړي د برېښانو په سپینرېرو
مرور یې پخلا نه کړل
لا د لاسه ورښیي ، ورښیي یاغي ملکونه

❖

کرمیه چې غم نه وي ته غم راوړې

**کرمیه که زما په دعا کېږي**

**کرمیه په لم غوټه په سپرو واوړې**

په اوسني وخت کې لیدل کیږي چې د ډراماتیکو ادبیاتو مینوال ډیر زیات دي، د نړۍ اقتصاد پرې چلیږي چې له دې له ډلې څخه د هالیوډ او بالیوډ یادونه مهمه ده، ځکه چې دوی په سلګونه زره خوشــوونکي لري او که داسې ووایو چې د بالیوډ یا هنــدي ســینما د هندوســتان د اقتصاد د ملا تیر جوړ کړی دی، نو مبالغه به مو نه وي کړي، ولــې مــوږ تاسو یې وینو چې دوی څــومره فلمونــه او ســریالونه جــوړوي. فلــم جوړونکي اوس په کیسو پسې ګرځي چې یو څه ځانګړې وي، خو نــه ورته پیداکیږي. که دوی زموږ ( ملي هنداره) کتاب ولولي نو تاسو یقین وکړئ چې پر هغه ورځ به فلم شروع کړي. موږ تاسو خو په نورو ډګرونو کې د پردیو تر یرغل لاندې وو، خو له کله چې نــوی دولــت راغلــی او مطبوعاتو ازادي موندلې ده بس د نورو هېوادونو سریالونه او ډرامې یې پر موږ را ایله کړي دي او کورنۍ یې یوې بلې خواته سوق کــړې دي. دا دوه لاملونه لري:

۱- لومړی لامل: دا چې موږ تر دې مهاله پورې له خپلو ارزښتناکو اثارو څخه خبر نه یو او یا هم د نورو کره وړه خوند راکوي.

۲- دویم لامل: دا کېدلای شي چې دلته خارجي لمسون دی او زموږ ځینې شخصي تلویزونونه د پردیو په پیسو چلېږي، او دا واضح خبره ده چې هر څوک چې دوی ته پیسي ورکوي د هغوی ګوډاګیان دي.

پکار دا ده چې پر دغو خوندورو نکلونو باندې بایـد ښـکلي هنـري فلمونه جوړ کړل شي او نورو ژبو ته وژباړل شي او خلکو ته د لاسرسي لپاره وېبپاڼو ته پورته شي ترڅو عام شي. دا کار به د ادبي یرغلګرو پـر مخ څپېړه وي. د بېلګي په توګه به د ملي هنداري له کتاب څخه یـوه ښایسته کیسه را واخلم:

## جلات خان او شمایله

و نه و یو سړی و، دده دوه زامن او یوه ښځه وه، د مشر زوی نوم یــې خنکار او د کشر زوی نوم یې مسلم و. د سړي روزګار ســم نــه و او دوو زامنو یې په دام کې چوغکۍ نېولې او کورته به یې راوړلې او په اصطلاح د ژوند چارې یې پرې پرمخ بیولې.

یوه ورځ دغه سړی راولاړ شو او له ځانه سره یې دا پرېکړه وکړه چې نور نو دغسې ژوند خوند نه کوي ځم غره ته یا به څه پیدا کړم او یا به مړ راشم . ښاغلی غره ته لاړ او زیاته ستړیا یې وګاللــه چې بلا خره یې یوه دانه هګۍ ومونده او کورته یې راوړه، ماینې یې ورتــه وویـل چــې

بازارته یې یوسه خرڅه یې که او په بدل کې یې خوراکي تــوکي راوړه . سړی بازار ته راغی او هگۍ یې پر صراف باندې پــر درې ســوه افغــانۍ خرڅه کړه او په ډېرې خوشحالۍ یې پیسې کورته راوړې او ژوند یې پرې سم شو.  یوه ورځ یې ښځې مشوره ورکړه چې دغــه مرغــه ونیســه او کورته یې راوړه، سړي دام مرغه ته پټ کړ او مرغه یې ونیو او کورته یې راوړ او په کور کې هگۍ ورته اچوې، څه دې سر درگرځوم ، دوی خانان شول او غټه کلا یې جوړه کړه. دغه سړی مړ شو  مرغه او پیســې یــې زامنو ته پاتې شوې. یوه ورځ  د هلکانو مور خپلو زامنو ته وویل چې یوه ورځ دغه صراف مېلمه کړئ چې زموږ هگۍ هر وخت رانیسي، دوی هم ورغلل او صراف یې مېلمه کړ، صراف شرط پرې کېښود چې ماتــه بــه همدغه مرغه چې هگۍ یې تاسو ماته راوړئ راتــه حلالــوئ او درســت چرگ به ماته پخوئ، دوی هم ورته وویل: سمه ده. وینځې چرگ پوخ کړ او د چرگ څخه یې سر یوه هلک ته ورکړ او زړه یې بل هلک تــه ورکــړ چې  و یې خوري ځکه دوی  وږي وو، دا دی صراف راغی گوري چــې د چرگ سر او زړه نشته ، صراف ورته وویل تاســو پرخپلــې ژمنــې و نــه ختلاست او بسته چرگ مو نه دی راته راوړی، وینځه په موضوع خبــره شوه او هلکانو ته یې وویل چې ځئ تېښتئ چې مور مو وهي، دواړو ورونو له وېرې تېښته وکړه او لرې د صحرا خواته لاړل، د یــوې ونــې لانــدې خنکار بې حسه ویده و او مسلم یې زیات وارخطا کړی و، ځکه له یــوې خوا صحرا وه او له بلې خوا دوی هم څه نه وو خــوړلي. خیــر مســلم د

کومک په هیله له هغه ځایه یو څه راتېر شو او تپې ته وخوت چې ګوري یوه غټه اجتماع راغونډه شوې ده او پاچا یې مړ شوی دی باز یې ایلـه کړی دی چې نوی پاچا پیدا کړي، دی هم ورغی باز راغی دده پـر سـر کېناست خلکو سره وویل چې باز خطا ووت خیر باز یې بیا وشړه باز بیا راغی د مسلم پر سر کېناست خلکو بیا باز وشړه چې بـاز درېـیم ځـل راغی او د مسلم پر سر کېناست، خلکو وویل نو همدا مو پاچادی مسلم هم ورسره ولاړ او خپل ورور یې هېر شو. دا کمال دهغه چرګ و چې ده یې سر خوړلی و، مسلم ته پرېږده، خنکار پسې راواخله ، خنکار پـروت دی تر ونې لاندې درې مرغۍ راغلې په خپلو منځو کې سره ګـډې دي چې دغه ښایسته ځوان ولې همدغسې مړ پروت دی. یوې مرغۍ وویل چې دی مړ نه دی که دغه د ونې پاڼه دده په خوله کې ولوېږي او او به یې دی تېرې کړي، نو جوړ به شي، مرغانو له ونې پاڼې ورېږولې او یوه پاڼـه راغله او د خنکار په خوله کې پرېوته هغه هم د پاڼې اوبه تېرې کړې روغ رمټ شو او راپورته شو چې ګوري مسلم نشته، د هغه په تلاش پسې د غونډۍ سرته وخوت چې ګوري هلته هم د پاچا موندنې لپاره باز خوشې شوی دی. خنکار هم ورغی د مسلم په شان باز درې ځلـې دده پرسـر کېناست او خلکو هم دی د خپل نوي پاچا په حیث قبول کړ. خیر دغه دي وختونه تېرېږي مسلم خان په یوه ځای کې پاچا دی او خنکار په بل ځای کې. د مسلم خان اوه زامن دي او د خنکـار هـر وارې لـونې پیداکېږي او د پیدا کېدو سره یې سم وژني اخره د اووم ځـل لپـاره د

خنکار لور پیدا شوه داځل یې ښځې لور خپلې یوې وینځې تــه ورکــړه چې پالنه یې پټه وکړي او خرچه یې ورکوله، شپې او ورځــې تېرېــږي وختونه تېرېږي شمایله پېغله شوه او داسې ښکلې ده چې سترګې نــه پرې رونیږي، وینځې یې ومور ته وویل چې دغه ده نو شمایله نوره پېغله شوه او همدلته اوسیږي خو داسې نه وي چې پلار یې راخبر شي او یـا ناخبره له دې سره ناروا شروع کړي بیابه نو څنګه کېږي. دشمایلې مور شمایله راوغوښته اوکورته یې راوبلله. شمایله بام ته وختله سیل کوي چې دهغه خوا خنکار راغی اوسترګې یې پرې ولګېدې او پرې مین شو، خو ښځې یې ټوله کیسه ورته وکړه چې داسې او داسې .... دا ستا لــور ده...

خنکار هم داپرېکړه وکړه چې دا د وژلو نه ده خو مېړه ته به یــې پــه شرایطو ورکوم او چاچې شرایط پوره نه کړل سر به یې غوڅوم ..

خلکو ته د شمایلې دښایست اوازې رسي او په شرطونو کې پاتې راځي او سرونه یې غوڅیږي. هلته دغه اوازې د مسلم شپږو ځوانانو زامنو ته هم ورسېدلې او هغوی هم بې دیدنه عاشقان کېږي او د شرطونو لپــاره راځي .

پاچا ته وایي چې شرطونه دې کوم دي؟ هغه ورته وایي چې ښایسته زلمي یاست مه کوئ دوی یې نه ورسره مني، نو وروسته شرطونه ورتــه وړاندې کېږي چې په لاندې ډول دي:

**۱- د اوسپنې کونده به د لرګۍ په تبر ماتوئ**
**۲- د شمایلې ژېړه غوا به لوشئ**
**۳- لوشل شوې شیدې به په زینو کې څلور واره پورته او کښته کوئ**
**۴-په کلا کې به د شمایلې خونه او ځای پیداکوئ**
**۵-په یوه خونه کې چې نیمایي له غنمو او شګو ګډه ده سره جلا کوئ.**
**۶- د پاچا له زمري سره به خپل زمري جنګوئ.**
**خو که چېري مو له پورته شرایطو نه یو هم پوره نه کړ نو سربه مو پرې کېږي.**

**دا دي وروره یو یو ځوان ورمخته کېږي او په اول شرط کې ناکامېږي او جلاد یې سر غوڅوي، شپږ سره ورونه وژل کېږي.**

**مسلم خپل اوم او روستی زوی چې جلات نومېږي په حال نه خبروي او وخت تېرېږي جلات لا ماشوم دی په کوڅه کې د یوه کور له ماشوم سره بجلي کوي او هغه ماشوم بجلي ورڅخه ګټي او جـلات پـه زوره بجلي واپس ورڅخه اخلي او ماشوم په ژړا کورته راځي اومور یې بېرته راضي کوي، خو د جلات هر وخت دغه کار دی یوه ورځ د ماشوم مور په تنګه شوه او خپل زوی ته وايي چې که جلات ووهلې نو ورته ووایه چې که دومره نر یې نو ورشه هغه د خپلو ورونو غچ دې واخله، سبا بیا جلات بجلي بایلي او له ماشوم څخه یې په زوره اخلي خو ماشوم ورته د مور څخه زده ځواب جلات ته ورکوي او هغه هک پک کېږي چې زما ورونه بیا چېرې وو او چا ووژل.**

جلات کورته راځي او خپله مور مجبوروي چې حقیقت ورتــه ووایــي هغه بلاخره ورته ټول حقیقت وړاندې کوي ، دی له کوره راوځي او ځي د خنکار ښار ته، پر لاره یو ملنګ ویني او هغه ته خپله ټوله کیسه کوي او هغه ورته وایي چې تا له موراو پلار څخه اجازه اخیستې ده هغه ورته وویل چې نه ! ملنګ ورته وویل چې ته باید اجازه واخلې جلات بېرته کورته راغی او د مور او پلار څخه یې رخصت واخیست . ملنګ ورته یو لیک ورکړ چې د خنکار ملا زما شاګرد دی هغه ته ورسه او دغه لیــک ورکړه، دی ورته ښه کوي او لیک را اخلي په لا ره کې ځنګــل دی او راځي چې ګوري یوه زمرۍ په یــو دام کــې نښــتې ده او ځــان نســي خلاصولای او فریاد کوي جلات ورځي او ورته وایي چې زه تا خلاصــوم ولې ته به هم ژمنه کوي چې مابه نه خورې هغه ژمنه ورسره کوي. کله چې جلات دا ازادوي پر پښه یې زور راځي او چغې کوي چې له دې سره سم یې پښه ازادېږي ولې نور زمریان راځي جلات وارخطا کېږي دا ورته وایي چې مه وارخطاکېږه زه ددوی ټولو مشره یــم . وروســته زمریــان جلات ته د هر راز همکارۍ ټینګ دبوي او خپل یو وېښته ورکوي چــې د خطر پرمهال یې ومږه موږ به ځان درته رارسوو. خیر جلات را رهي شي ځي ځي چې یوه کلي ته رانږدې کېږي هلته ګــوري چــې یــوه بزګــر پرخپلې ځمکې اوبه ایله کړي دي خو یو کورد یا برخه کې د میږیانو غار دی او هغه ټول بربادۍ سره مخ دي جلات له بزګر سره خبري کوي او هغه پیسې ورکوي چې دا ځای پر ما خرڅ کړه او دا ځــای رانیســي او

مېړیان هم خوشحالېږي او له ده نه مننه کوي او د مشکل په صورت کې ورته خپل یو وېښته ورکوي چې تاو یې کړي موږ به درته حاضر شو. خیر جلات راځي د خنکار ځای ته او هلته د ملنګ له شاګرد سره اړوي څه وخت چې تېرشو جلات یو داسې زمری جوړوي چې په نس کې یې انسان پټېدلای شي البته له باندې طرفه سمدم د زمري غوندې شکل لري . له ملا څخه هیله کوي چې ما وپاچا ته بوځي او ورته ووایي چې دا داسې زمری دی چې بازي هم کوي او ښه ساعت تېري پرې کیږي، خوپس له څو هفتو مې بیرته له پاچا نه راوړه کورته ..

ملا هم زمری کوم چې جلات یې په نس کې پټ دی راوړي پاچا یې خوښوي او ساعت یې پرې تېر دی. داخبره تر شمایلې رسي چې له پلاره سره یې داسې فرعي زمری دی چې بازي هم کوي ، دا و پلار ته نفر ور لېږي چې دا زمری موږ ته هم راواستوه چې ساعت پرې تېر کړو هغه هم زمری د شمایلې کورته رالېږي، چې شمایلې ته یې بیایي زمري بازي ورته وکړه دا د شمایلې مجلسیانې څوک پرې سپرېږي څوک یې تر لکۍ کشوي تر نیمو شپو یې ساتېری کاوه. وروسته ټولې ستړې شوې راغلې ډوډۍ یې و خوړه بیدې شوې زمری یې و تړه. چې ټولې بیدې شوې شمایله هم بیده شوه جلات ځان د زمري څخه راوویست راغی د شمایلې پالنګ ته د شمایلې د پالنګ سره چراغان لګېږي جلات خان یې د سر چراغ وپښو ته او د پښو څراغ یې و سرته کېښود خپلې ګوتې

یې ددې پر ګوته کړې او ددې ګوته یې په خپله ګوته کړله. ددې دسمال یې څنې واخیست خپل دسمال یې ورپرېښود نو بېرته زمري کې ننوت.

شمایله چې سهار را ویښه شوله اریانۍ واخیستله چې همدا څه نقل دی دا سړی د کمې خوا راغلی ولې دا ګوتمۍ خو د نارینه دي نو یې ناره وکړه

که کرار دی نن زما زړګی کرار دی

تاسې کېنئ سهېلو دا په لاس ګوتمه زما ده که د یار ده

خیر سهېلۍ هم اریانۍ واخیستلې خو دغه ورځ یې په چورت تېره کړه ږغ یې ونه کړ بیا یې په هغه زمري بازۍ کولې، بیا ماښام شو بیـا بیـده شوه جلات خان بیا له زمري څخه راووت شمایلې ته راغی خو دا واریې مچه څنې واخیسته بېرته په زمري ننوت دا چې راویښه شوله مخ یـې لوند دی دوباره یې ناره وکړه

که کرار دی نن زما شوی کرار دی

تاسې کېنئ سهیلو چې پرمخ مې د خوني زمری پرهار دی

خو شمایله پوه شوه چې په زمري کې علت دی خو ږغ یـې ونـه کـړ خپلې سهیلې یې رختصې کړې او وینځه یې د خپلې خـونې دبانـدې

ودروله چې څوک راپرې نږدي. شمایلې ځان پر خوب واچاوه په زمری یې ناره کړه:

که کرار دی نن زما زړه ناکرار دی

ته را اوزه د زمریه که غوبه یې که چمیار یې زما یار دی

جلات چې دا اواز واورېده فکر یې وکړ چې څوک نشـــته او شـــمایلې پېغور ورکړ نو ده پرې ناره کړه:

نه غوبه یم نه چمیار یم لویه خدایه

ښایسته جلات مې نوم مسلم مې پلار دی

نو جلات له زمري څخه راووت سره غېږ په غېږ شو ســره کېناســتل جلات ورته ویل څنګه به شي دا شرطونه زه به پرځای کړم .. شمایلې د شرطونو جوابونه ور وښودل چې اول شرط داسې حل کړه چې دغه زما د پېکي تار واخله او د اوسپنې پر کوندې یې وتړه او په تبر یې وواهــه ماتېږي. بل شرط دغه زما د سمال به ورته وښوروې نو بــه غــوا درتــه ودرېږي وبه یې لوشې. دریېم دغه زما ګوته به د هغې غوا په شیدو کې ووهې هغه به پوه شي بام ته به یې په تاخت وخېژوې. څلورم زما د ځای لار زما د پلار ترتخت لاندې ده، دی به ترلاس ونیسې چټک به یې ولاړ کړې ته به راشې او هغه دوه نور شرطونه مې نه دي زده، ده ورته وویل هغه زما زده دي چاره به یې وکړم. سهار شو ملا پاچاته راغی چې زمــا زمری راکه بسته نور به دې سات پرې تېرکړی وي. پاچا هم زمری ملا ته ورکړ.

ملا زمری کورته راوست او جلات ورځخه راووت، جلات درېشي وکړه او پاچا ته راغی چې شرطونه. شرطونه یې ورته وړاندې کړل جلات خان لومړي څلور شرطونه د شمایلې په لارښونه حل کړل، وختې چې پنځم شرط یې په ځای کوه نوراغی د شپې په هغه غنمواوشگو خونه کې یې هغه مېږي بریت یې ومورېږ یو گړۍ چې وشوه هغه مېږیان چې د بزگره یې خلاص کړي وو ټول راحاضرشول ویل خدمت! جلات خان حکم پرې وکړ چې ترسهاره پورې به دغه شگې او غنم سره داسې جلا کوئ چې یوه دانه سره گډه نه شي مېږیانو هم دا کار صفا وکړ او دا شرط یې هم وگاټه، شپږم شرط بیا پاچا زمری راوست چې د جلات له زمري سره یې وجنگوي نو جلات د زمرو بریت لمس کړ او یوغټ زمری یې راویستی د پاچا زمری یې ورمات کړ او دا شرط یې هم وگاټه او شمایله یې په نوره توره وگټله.

نو پاچا هم شمایله و جلات ته ورکړه پاچاه فکر وکړ چې دغه ټول کار د ملا د زمري له لاسه خراب شو نو د هغه د وژلو امر یې وکړ کله یې چې ملا د اعدام لپاره بیوه نو ملا پر جلات ناره وکړه:

جلات خانه وروره ولې دې مورږ هېر کړو

جلات خانه : لاس تړلي یې تر تاتېر کړو

نو جلات خان خنکار پاچا څخه د اوو ورځو پاچاهي یې وغوښتله هغه ورکړه نو یې ملا خپل وزیر کړ او خنکار یې په دوو سترگو ړوند کړ. کیسه ولاړه پورته زه ولاړم کورته.

بریالی علي خېل- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# د پښتو لرغونې دورې د شاعرۍ عامې ځانګړنې



ددې دورې اثار د خپلو ځانګړو خصوصیاتو له امله دغه لاندې ارزښتونه لرلای شي:

۱- د پښتو کوم اثار چې په لومړۍ ادبي دورې پورې اړه لري د کمیت له پلوه ډېر نه دي او د هر شاعر او لیکوال محدودې شعري نمونې تر مـوږ رارسېدلې دي. ددې دورې د ډېرو شاعرانو او لیکوالو د کتابونو نومونه موږ ته ښکاره دي، خو زیاتره دا کتابونــه او دېوانونــه اوس ورک دي. د پښتو د لومړۍ دورې په اثارو کې یوازې د سلیمان ماکو د تذکره الاولیا د بشپړ کتاب ځینې برخې موږ ته رسېدلې دي، په عمومي ډول د پښتو د ادبي تاریخ د لومړۍ دورې اثار متفرق اثار دي.

۲-که څه هم د پښتو د لومړۍ دورې اثار د کمیت له پلوه لږ دي، خو د کیفیت له پلوه ځینې دغه ډول اثار ډېر لوړ ارزیــابي کېــدلای شــي. د غوري دورې قصیدې، د شیخ متي مناجات، د اکبر زمینداوري اشعار، د شیخ تیمن، شیخ بستان بدلې او هم د علي سرور او شیخ محمد صالح الکوزي غزلې د خپلو فکري ارزښتونو ترڅنګ لوړه هنري مایه هم لري، ددې دورې ځینې نور اشعار که څه هم ساده دي، خو په سادګۍ کې یوه

ابتدايي ښکلا هم ورسره مله ده، ددې دورې ځینې اثار تش نظمونه دي، چې ناظم نیغ په نیغه خپل هدف په منظومو او وچو الفاظو کې بیان کړی دی.

۳- ددې دورې اثار سره له دې چې په کمي لحاظ لږ دي، خو له دغو لږو اثارو هم موږ په شکلي او موضوعي لحاظ د انکشاف ځرک ایستلای شو.

الف- ددې مهال اثار موږ ته راښيي چې ددې دورې ادبي پدیدې پر یوه حال ولاړې نه دي او نه یو ډول شعري انواع موږ په دې اثـارو کــې ګورو، بلکې په دې دوره کې پښتو شاعري پر خپلو عنعنه يي ملي اوزانو سربېره په دربیمه هجري پېړۍ کې قطعه بیا په پرله پسې پېړیــو کــې قصیده ورپسې غزل او مثنوي چې د شرقي شاعرۍ عمده شعري ډولونه دي، خپل کړل. د پښتو د ولسي شاعرۍ له ژانرونو ځڅـه چـاربیتې او بدلې هم په همدې دوره کې خپله بنه خپله کړې ده او د پښتو د لرغونو سندرو او شعري انواعو ځای يې نیولی دی.

ج- د شعر ځینې ځانګړي معنوي ډولونه، لکه ویاړنه (فخریه)، ساقي نامه او حکایتي اثار هم په همدې دوره کې په پښــتو شــعر کــې ځــان ځرګندوي. د امیر کروړ سوري ویاړنه، د زرغون خان نورزي ساقي نامه او د دوست محمد کاکړ د غرغښت نامې ځینې حکایات ددې دورې د شعر د معنوي اقسامو ډېرې ښې نمونې دي.

د امیر کروړ ویاړنه او د زرغون خان ساقي نامه د خپل جوړښت ادبي قوت او شعري ځانګړنو له امله د پښتو ادبي تاریخ په وروستیو دورو کې هم بل ساری نه لري، دا ډول اشعار موږ وروسته هم لرو، خو کوم قوت او شور چې د امیر کروړ او زرغون خان په ویاړنه او ساقي نامه کې شته په وروستیو دې ته ورته اثارو کې نه لیدل کېږي.

د- پښتو ادبي پدیدې او پښتو اثار په دې دوره کې مجرد نه دي راپیدا شوي، بلکې د سیمې له ژبو او ادبیاتو سره په ارتباط کې یې وده موندلې ده. د درېیمې هجري پېړۍ په دوران کې له عربي ژبې څخه پښتو ته ژباړه پیل شوه او د ابن خلاد شعر ابومحمد هاشم په پښتو نظم ترجمه کړ او بیا را وروسته له فارسي ادب سره د پښتو ادبیاتو نږدې اړیکي پاتې شوې دي. پښتو ادبیاتو په دې دوره کې ځینې معنوي ارزښتونه له فارسي ادب څخه خپل کړي دي، دا خبره طبیعي هم ده، ځکه فارسي دغه مهال په منطقه کې مسلطه فرهنګي ژبه وه، ډېر شاعران او فرهنګي اثار یې درلودل، نو ددغسې یوې ژبې اثرات د منطقې پر نورو ژبو حتمي دي. له فارسي اثارو نه پښتو ته ترجمه هم دغه مهال پیل شوې ده، د لسمې هجري پېړۍ په لومړیو کلونو کې یوې پښتنې مېرمنې د سعدي بوستان په پښتو نظم واړاوه.

هـ- ددې دورې متفرق اثار د سیمې په لحاظ هم په یوه ځای کې نه دي ایجاد شوي، بلکې له غوره نیولې ان د هندوستان تر سیمو پورې پرتو ځمکو کې ایجاد شوي دي او دا خبره پر دې دلالت کوي چې پښتانه دا وخت د غور او سلیمان پر غرو سربېره د افغانستان او (روه) او هندوستان په لتو کې خپاره وو.

۴- په دې دوره کې موږ ځینې داسې متفرق اثار هم لرو چې د دربارونو له خواو ورته د توجه او پالنې څرک هم ځنې ایستلای شو، لکه د غور د شاهانو په دربارونو کې د شاعرانو موجودیت او د دوی اثار او دغه راز د هندوستان د افغان پاچا سلطان بهلول لودي دربار هم لرو او ډېر دغه ډول خصوصیات درلودل.

ددې دورې کوم اثار چې زموږ په واک کې دي زیاتره د پښتو دوو لرغونو تذکرو؛ پټې خزانې او تذکره الاولیا خوندي کړي دي، د ځینو لکه تایمني او اکبر زمینداوري اثار په متفرق ډول ترلاسه شوي دي، دغه اثار د منبع پېژندنې له پلوه کومه خلا نه لري او له کره او باوري اسنادو څخه ګڼل کېږي.

۸- دغه لاسته راغلي اثار د ژبې د لغاتو، ترکیبونو او نورو ګرامري ژبنیو خصوصیاتو او له نورو ژبو سره د امېزش یو سیستماتیک تحول په لاس راکوي، ددې دورې لومړني اثار تر زیاته حده د پښتو خپل زاړه لغات او ترکیبونه لري، خو په وروستیو پېړیو کې له نورو ژبو په خاص ډول فارسي او عربي سره نږدېوالی ښیي.

د پښتو د ادبي تاریخ لومړۍ دوره د پورتنیو خصوصیاتو په لرلو سره پایته رسېږي او پښتو ادبیات له نورو تمایلاتو او نویو فکري ارزښتونو او تازه ادبي جریانونو سره یوې پرمختللې بلې دورې ته داخلېږي.

یادونه: په دې لیکنه کې د پښتو ادبیاتو لرغونې او منځنۍ دوره، د ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل له اثر څخه زیاته ګټه اخیستل شوې ده.

سونیا سعیدي- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصله

# پښتو ادب کې متلونه



## متلونه دوه ډولونه لري:

۱- منثور متلونه

۲- منظوم متلونه

چې بیا هره برخه یې پر څو برخو وېشل کېږي.

## منثور متلونه:

متلونه هغه لنډې، خو پخې تللې او کوټلې جملې دي، چې په ډېره خوږه او اغېزمنه بڼه په کې لوی لوی مفاهیم ځای شوې وي او ډېره ژوره مانا لري.

متلونه د یوې ټولنې او ولس د خلکو د زرګونو کلونو تجربو نتیجه او انځور دی، چې د دوی د عقل او منطق ښکارندویي کوي. د متل د کلمې

د لغوي تحلیل په هکله ځینې پوهان په دې عقیده دي، چې متل د عربي ژبې د کلمې د مثال او مثل مفغن شکل دی. منثور متلونه هم د منظومو متلونو په څېر ځانګړې اهنګ د ادا طرز، خوږه او پسته ژبه او د الفاظو د جوړښت او ترکیب له مخې ادبي او هنري ښکلا لري، د ژوند تجربې په کې له یو نسل څخه بل ته په اغېزمنه توګه لېږدي او انتقالېږي. دا له پند او حکمت څخه ډکې خبرې چې د وینا د ټینګښت لپاره ویل کېږي یو بشپړ مبتدا او خبر لري، منثور متلونه د شمېر له مخې د منظومو متلونو په پرتله څو ځله ډېر دي او بېلابېلې بڼې لري:

کیسه یي متلونه: چې یوې کیسې یا یوې پېښې ته اشاره په کې شوې وي.

عادي متلونه: چې د عام ولس فلسفي افکار او ژور مطالب په کې بیان شوې وي، لکه:

د ښې غوښې ښه ښوروا وي
د ژمي په توده او د دښمن په خوږه مه غولېږه
وګټه فیل وخوره

د منثورو متلونو یو څو نمونې:

اوښ چې لاړه، مهار یې زه څه کوم
اوښ که غټ دی د شیدو تمه ترې مه کوه
پنځه ګوتې سره برابرې نه دي

**تر بې عقل دوست هوښيار دښمن ښه دی**

**له مزده يې شكرانه ډېره شوه**

**ترخه خوره خو ترخه مه وايه**

**د مړو به لا څه ښادي وي**

**د مجبور يو نوم صبر دی**

**د مړو پرده خدای کوي**

**بد زوی نه زوی**

**بد بوټی بلا هم نه وهي**

## منظوم متلونه:

**منظوم متلونه هغه متلونه دي، چې د شعر او نظم غوندې وزن او قافيه ولري او دا متلونه د نظم په شان ځانګړی اهنګ، د ادا طرز، پخه، خوږه او پسته ژبه او د الفاظو جوړښت او تركيب له مخې ادبي او هنري ښكلا ولري.**

**لومړی دلته يو څو منظوم متلونه راوړو:**

**د لرې دې ليدی نه شم د نږدې درته كتی نه شم.**

**د كور غم د ګور غم**

**د ښكار غوښې د ځان غوښې**

**متل د پښتو فولكلوري ادب د يوې ارزښتمنې برخې په توګه:**

**چې اور يې بل شي خدای يې مل شي**

چې بد کوي کارونه، هغه بد ويني خوبونه

چې بې قامه شي، بې مقامه شي

چې پردي کور ته يې تمه شي، يو من غوښه يې کمه شي

چې په ځان کې يې ويني، په جهان کې يې ويني

چې پير وي فقير وي

چې چم لري چمتو دی، چې چم نه لري هندو دی

چې سم د چا ويل شي، په هر چا يې منل شي

چې د دوو ښځو څښتن وي، سخت به يې ځنکدن وي

چې ډب نه وي ادب نه وي

چې دې زده کړه په طفلۍ، هېر به يې نه کړې تر پيرۍ

چې زور تېر شي، عقل هېر شي

چې سر و مال ترې جار کړې، نو هر سړی به يار کړې

چې سبا شي غم پيدا شي، چې بېګاه شي غم پنا شي

چې ګل کرې ګل به رېبې

چې لاس په خوشيو نه شي، خوله به په غوړو نه شي

چې مېلمه شي، اسوده شي

چې مېړونه وي، هلته کورونه وي

چې مشر يې قمبر وي، اختر يې مازيګر وي

چې مړ شو، هغه پړ شو

چې مړی لرې مېلمه څه دی، چې ايمان لرې مرګی څه دی

چې لوی غاپي کوچنی تراپي

چې مور لرې ادکه، په صفت به يې واده که

چې دا ملا کيسې لرې، ما به غوندې ورپسې لرې

چې تورې چلېږي، وينې بهېږي

ابا په کور نه شته، له ادې ډار نه شته

ارمان به کړې هلکه، بیا به نه مومې ادکه

اسمان چې ګرزېږي، هومره نه ورېږي

اسمان چې ولاړ وي، لات به مردار وي

اس يې په خره بار کړ، خر يې پرې مردار کړ

اسان يې په سووګتي، مېړونه يې په خولو ګټي

اصيل خطا نه لري، کم اصل وفا نه لري

امير چې ظلم کار وي، اور بل په ټول ديار وي

اوبه په اوبو شيدې په شيدو

اوښ دې هوښيار کړ، نو دې په لار کړ

اوګره چې سړېږي، بلا پرې لګېږي

اول سلام پسې کلام

اول ځان پسې جهان

اول زده کړه، بیا کوزده کړه

اول نام پسې کلام

بابا ويل، ادې منل

بابا ګیلې کوي، ادې پېرې کوي

بخشش په لک، حساب په کک

بد به دې په زړه کړم، سلام به دې په خوله کړم

بد عادت چې زورور شي، عقل مرور شي

بده ماینه پرېښودل کېږي، بد کښت نه پرېښودل کېږي

بر یې شته، برکت یې نه شته

بنده اریان، خدای مهربان

بې ډوډۍ اوسې، بې کوره مه اوسې

بې زحمته راحت نه شته

بې عقل جمال خوښوي، عاقل کمال خوښوي

پاک اوسه، بې باک اوسه

بر دی خر دی، په شاه زورور دی

پک نه په سر تار لري، نه په چا کار لري

پلار یې ګټي، زوی یې څټي

په اوړي یې ګټه، په ژمي یې څټه

په خوله صاف، په زړه خلاف

په رنګ ښایسته، په عمل خوار خسته

په زړه هوښیار، په خوله بې کار

په عمر کشر په عقل مشر

په لاس کار، په زړه یار

په مسجد کې لمونځ او کتاب، په چوک کې چلم او رباب

څنګ چې دې کور دی، هسې یې زړه تور دی

څوک چې دې طلب کار وي، هغه به دې یار وي

څوک مه وهه په ګوته، تا به نه وهي په لوټه

خپل عمل د لارې مل

خوار خدای کړې، نو دوس چا کړې

دروغجن، هېرجن

د پلار ګټه د امبار ګټه، د زوی ګټه د زړه غوټه

د سر نه چې تېر شي، قلندر شي

د کور ګټه، د لاهور ګټه

دوه سره ورونه، هغه سره تربوره

دولت دې د ځان دی، عزت دې په جهان دی

دوست به دې وژړوي، دښمن به دې وخندوي

ډوډۍ که د بل وه، نس خو دې خپل و

زامن خواره دي، غشي یې کاږه دي

سخت ساعت، یو ساعت

عاشق سر نه لري، غم لښکر نه لري

عقل چې یې کم وي، پر کور به یې تل غم وي

عقل عقلمندي غواړي، هنر هنرمندي غواړي

کار اسان دی، پیل یې ګران دی

غل هم وايي خدايه، مل هم وايي خدايه

کار د بابا، خوراک د لالا

کام کام ته ځي اوبه خپل مقام ته ځي

که يار نادان وي، نو کار گران وي

لکه ځان هسې يې جهان

له ما پيدا شو، راته بلا شو

مور و پلار چې زاړه شي، که شکر و لا خواږه شي

مه کوه په چا ، چې وبه شي پر تا

ناسته ښځه کار کوي، ولاړه ښځه څار کوي

نن پر ما، سبا پر تا

ورانول اسان دي، خو جوړول ډېر گران دي

ورور چې سپور شي، د خپل کور شي

هر چېرې چې خورې، هلته به مرې

هر څوک چې وزگار شي، يا غل شي يا بيمار شي

يا د خدای قدرت دی، يا د مېړو غيرت دی.

ضیاالحق ضیاء- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# د پښتو لرغونې دورې ادبي شخصیتونه



څرنګه چې د محترم استاد اسمعیل یون له خوا ماته د پښتو د لرغونې دورې د ادبي شخصیتونو په باره کې مقاله راکړل شوې وه، نو ما هم کوښښ وکړ چې مقاله د پښتو د لرغـونې دورې د ادبـي شخصیتونو په اړه ولیکم، څنګه چې د پښتو ژبې لومړی لاس ته راغلی شعر د (۱۳۹ه . ق) حدودو کې ویل شوی دی، نو له همدې ځایه د پښتو لرغونې ادبي دوره شروع کېږي او په(زرم هـــ.ق) کال پای ته رسېږي، نو ما هم د (۱۳۹هـ.ق) کال په شـــمول او لــه دې څخه راپدېخوا تر (۱۰۰۰) کاله پورې چې کوم شاعران او د نثر لیکونکي تېر شوي دي د دوی نومونه د شعر یو بیت او یو څو کرښې نثر د خپــل وس مطابق د خپلې مقالې د ښکلا لپاره دلته راوړم:

۱- د پښتو د لرغونې ادبي دورې لومړی ادبي شخصیت چې تر موږ یې لومړی شعر رارسېدلی، امیرو کروړ دی چې د امیر پولاد سوري زوی دی، پر (۱۳۹هـ.ق) کال په غور کې امیر شو او پر (۱۵۴هـ.ق) کال د فوشنج په جنګ کې مړ شو او جهان پهلوان هم ورته ویل کېده. موږه ته راپاتې

**شعر چې محتوایي فورم یې ویاړنه ده، پټې خزانې د تاریخ سوري په حواله خوندي کړی دی، چې یو بند یې دلته د بېلګې په توګه راوړم:**

**زه یم زمری په دې نړۍ له ما اتل نسته**

**په هند و سند و پر تخار او پر کابل نسته**

**له ما اتل نسته بل په زابل نسته**

**۲- ابو محمد هاشم ابن زید سرواني البستي د پښتو د لرغونې دورې ادبي شخصیت دی. د پټې خزانې له لیکنې ښکاري چې سرواني په پښتو ژبه کې یو کتاب لیکلی دی، چې د (سالو وړمه) نومېږي، د سالو وږمې د کتاب یوازې نوم موږ ته پاتې دی او کتاب مو لیدلی نه دی او هم لومړی ژباړن دی چې له عربي څخه یې پښتو ته یو شعر راژباړلی. دلته یې د همدې ژباړل شوي شعر یو بیت راوړم:**

**ژبه هم ښه وینا کاندي چې یې وینه**

**د خاوند په لاس که زر او درهمونه**

**۳- شیخ رضي لودي او شیخ نصر لودي دوی دواړه د پښتو د لرغونې دورې ادبي شخصیتونه دي، چې د یو او بل په مقابل کې یې شعرونه ویلي دي، پټې خزانې د خپلو قوي اسنادو په مټ د دغو دوو تنو مشرانو اشعار موږ ته سپارلي، چې دلته یې د نمونې په توګه راوړم:**

**د شیخ رضي لودي شعر یو بیت:**

**د الحاد په لور دې ترپلل ګروه دې زموږ وکوراوه**

د نصر لودي شعر یو بیت:

د الحاد په تور تورن سوم زه لرغون خو ملحد نه یم

۴- بېټ نیکه هم د پښتو ادب ادبي څېره ده چې په تاریخ کې یې نوم بېټني او بټن هم راغلی دی. سلیمان ماکو په خپله تذکره کــې د بېــټ نیکه د مناجاتو یو ټوټه هم راوړې ده چې زه یې دلته یــوازې یــو بیــت راوړم، چې د بېټ نیکه پر شاعرۍ دلالت کوي.

لویه خدایه لویه خدایه ستا په مینه په هرځایه

۵- اسمعیل هم د پښــتو د لرغــونې دورې ادبــي شخصــیت دی. د اسمعیل په اړه د پښتو مورخینو او اسماع الرجال خاوندان لیکي چــې اسمعیل د بېټ نیکه زوی او د خپل تره سړبن په کور کې لوی شوی دی، نو ځکه په سړبني مشهور دی او شعر یې مــورږ تــه د ســلیمان مــاکو د تذکرې په واسطه رارسېدلی دی، زه یې دلته یو بیت د بېلګې په توګــه راوړم:

تېښته وکړه له ابلیسه چې ابلیس لعین ښکاره شي

پټه خزانه هم د اسمعیل په باره کې زیاتوي چې یو وخــت اســمعیل، خرښبون او بېټ نیکه د کسي غره پــر ســر مخــامخ ناســت وو چــې خرښبون له پلار او تره څخه رخصت شو، نو اسمعیل نیکه داسې نــاره وکړه:

**که یون دی یون دی مخ کې بېلتون دی**

**له کسي غره څخه ځي خرشبون دی**

**۶- خرشبون هم د پښتو د لرغوني ادب ادبي څېره ده، د اسمعیل سړبن زوی او د بېټ نیکه وراره و، د پټې خزانې لیکوال هغه داستان رانقلوي چې مخکې د اسمعیل په باره کې ذکر شو، نو خرشبون د اسمعیل د نارې په مقابل کې یوه څلوریزه وویله، خو زه یې دلته یو بیت راوړم:**

**بېلتانه ناره مې وسوه په کور باندې**

**نه پوهېږم چې به څه وي پېښ په وړاندې**

**۷- د پښتو د لرغوني ادب ادبي ګل شیخ اسعد سوري درپېژنم چې د محمد زوی او د امیر محمد سوري د دربار شاعر و او د دې ترڅنګ د پښتو ژبې قصیده ویونکی شاعر هم و، زه یې دلته د قصیدې یو بیت رانقلوم:**

**د فلک له چارو څه وکړم کوکار**

**زمولوي هر ګل چې خاندي به بهار**

**۸- شیخ تیمن کاکړ د پښتو د لرغونې دورې ادبي شخصیت د محمد هوتک په حواله راځي چې وایي زما پلار داودخان په ((بستان الاولیا))**

کې دغه لاندې شعر لوستلی او ما له خپل پلار څخه اورېدلی دی، زه یې دلته یو بیت راوړم:

ګهیځ رڼا د لمر خپره سوه

زما پر کور د ویر ناره سوه

۹- ښکارندوی غوري هم د پښتو د لرغوني ادب سینګاروونکی بلل کېږي او د پښتو پخوانی قصیده ویونکی شاعر هم و. ښکارندوی به تل د غور له سلاطینو ((شهاب الدین محمد سام شنباني غیاث الدین)) سره په جګړو او جنګي سفرونو کې ملګری و. زه یې دلته د قصیدې یو بیت راوړم چې د ښکارندوی د شاعرۍ ښکارندویي کوي:

د پسرلي ښکلوونکي بیا کړه سینګارونه

بیا یې ولونل په غرونو کې لالونه

۱۰- خلیل خان نیازی د پښتو د لرغوني ادب د شاعرانو په کتار کې راځي چې د سلطان بهلول لودي د دربار شاعر هم دی، رباعي لیکونکی هم دی. پټې خزانې دده یوه رباعي راوړېده چې د سلطان بهلول لودي په دربار کې یې ویلې ده، زه یې دلته کټ مټ راوړم:

خړې وریزې ژاړي لــــــه پاسه کویله رغ کا بېلتون له لاسه

په هغه لوني ګوهر په خول ستا دا مرحبا که ستا زموږ مواسه

۱۱- زرغون خان نورزی د پښتو د لرغونې دورې ادبي شخصــیت دی. زرغون خان د نورزيو په قبيله کې يو لوی اديب سړی تېر شوی دی، چې يو دېوان هم لري. دوست محمد کاکړ يې دېوان کتلــی دی چــې (۳۰۰) پاڼې يې درلودلې او په خپل کتاب ((غرغښت نامه)) کې يې د هغه لــه دېوانه ((مثنوي)) رانقل کړې ده چې د پټې خزانې مولف هم د هغه لــه کتاب څخه راخیستې ده. زه يې دلته يو بيت راوړم چــې ســاقي نامــه سرليک لري:

ساقي پاڅه پياله راکړه　　　　مرور يار مې پخلا کړه

۱۲- زرغونه کاکړ هم د پښتو ادب د لرغونې دورې شخصيتونو په ليکه کې راځي چې د پښتو د شعر په تاريخ کــې لــومړنۍ ښــځه ده چــې د شاعرانو په صف کې ودرېږي. د پټې خزانې په روايت زرغونې غزليات او د اشعارو نور اقسام هم درلودل، خو متاسفانه کومه نمونه يې نه لرو، خو يو حکايت د زرغونې له بوستانه پاتې دی، زه يې دلته يو بيت راوړم:

اورېدلې مې قيصه ده　　　　چې د شاتو نه خوږه ده

۱۳- رابعه د پښتو ژبې له ښځينه شاعرانو څخه ده چې د پټې خزانې مولف رابعه په لنډ ډول داسې معرفي کوي؛ حال ددې شاعرې ماته نــه دی معلوم شوی خو لږ څه چې ښکاره ده هغه داسې ده چې دا شاعره د کندهار وه په دوران د محمد بابر بادشاهي کې يې ژوند کــاوه. رابعــه

دېوان هم لري، خو متاسفانه ورک دی خو د محمد طاهر جمریـانې لــه خولې دغه رباعي رانقلوم:

ادم یې مځکې وته راستون کا　　　په اور د غم یې سوی لړمون کا

دوزخ یې روغ کا پرمخ د مځکې　　　نوم یې د هغه دلته بېلتون کا

۱۴- مېرمن نېکبخته هم د پښتو د لرغونې دورې له شاعرو مېرمنــو څخه ده. پټه خزانه د (اولیاء افغان) په حواله لیکي چې نېکبختــې یــو کتاب د (ارشاد الفقراء) په نامه وکېښ، زه یې دلته یو بیت راوړم:

د خدای حق ته غاړه کښېږده　　　نورې نورې وینا پرېږده

۱۵- دوست محمد کاکړ د پښتو د لرغونې دورې ادبي شخصیت دی او د بابرخان کاکړ زوی دی، له خپل پلار څخه ورته ادب په میراث کې پاتی شوی او د خپل پلار ورک شوی کتاب یې دوباره نظم کړ او د (غرغښت نامې) په نوم یې یاد کړ. غرغښت نامه کتاب تر بوستان راوروسته دېــر پخوانی کتاب دی او د هغه لاندې حکایت پټې خزانې رانقل کړی دی:

له نیکانو روایت دی　　　هسې توګه حکایت دی

۱۶- شیخ محمد صالح الکوزی د پښتو په ادبي دوره کې اهم دور تېر کړی دی. شیخ صالح مور د پټې خزانې په مرسته پېژنو او شیخ صالح د اشعارو نمونه مور ته پټې خزانې رارسولې ده، زه یې دلته یو بیت راوړم:

د لیلی د مینې فیض هر سبا وړم　　بېهوده منت به ولې د نور چا وړم

۱۸- شیخ متي د پښتو د لرغوني ادب ادبي څېره ده چې د ((خـدای مینه)) په نامه یو کتاب یې هم درلود، خو اوس ورک دی. شیخ متي په پښتو کې لوړ اخلاق او عرفاني شهرت لري او د بابا لقب هم لـري، پـه پښتو کې د شیخ متي کورنۍ په ((متي زي)) شهرت لري، د پټې خزانې مولف د شیخ متي بابا یوه خوږه منظومه له خپل پلاره اورېدلې او موږ ته یې رانقل کړې ده، زه یې یو بیت دلته راوړم:

پر لویو غرو هم په دښتو کې　　په لوی سهار په نیمو شپو کې

۱۹- بابا هوتک د پښتو د لرغونې دورې له ادبي شخصیتونو څخه دی چې هم د عرفان او هم د مشرتوب صفات یې درلودل. د پښتو شعر پـه ادبي تاریخ کې بابا هوتک لومړی شاعر دی چې د مغولو پر خـلاف یـې شعر ویلی دی.

په سور غر بل راته نن اور دی　　وګړیه جوړ راته پېغور دی

۲۰- شیخ ملکیار هوتـک هـم د پښـتو د لرغـونې دورې یـو ادبـي شخصیت دی چې د بابا هوتک مشر زوی دی، ادب، توره او مشرتوب یې له پلار څخه په میراث کې رسېدلي دي. پټه خزانه د ملکیار هوتک یوه عشقي سندره رانقلوي چې په پښتو اشعارو کې د وزن او مضـمون لـه پلوه ډېر قیمت لري، زه یې د سندرې سروکی دلته راوړم:

ترنک بهېږي ترنک بهېږي غاړې تر غاړې

زمـا زړګــــی خــــو خپل لالی غواړي

۲۱- د پښتو د لرغونې دورې یو بل ادبي ګل درپېژنم چې هغــه اکبــر زمینداوري دی چې ډېر لږ اشعار یې د زمانې له انقلابه ساتلي پاتې دي، یوازې له څو زړو پاڼو څخه موږ یقین کولی شو چې د دېوان خاوند و او په شعرو کې یې د لومړي ځل لپاره غزل او مثنوي موږ ته راپاتې ده، زه یې دلته د غزل یو بیت راوړم:

د خپل ځان له حیرانۍ څه ویل کړم

د عشق ویر به تل په خپله پټول کړم

۲۲- سلطان بهلول لودي د پښتو ژبې د لرغونې دورې د شاعرانو پــه لیکه کې راځي چې متاسفانه نور اثار یې ورک دي او یوازې یوه ربــاعي یې د یوې یتیمې مرغلرې په ډول په پټه خزانه کې مومو چې د خلیــل خان نیازي د رباعي په مقابل کې یې ویلې ده، هغه داده:

ملک به زرغون کړم په ورکړه راسه     ګوره وریځې د داد له پاسه

خول مې د عدل پــــه درو روڼ دی    جهان به زېب مومي زما له لاسه

۲۳- سلیمان ماکو د پښتو د لرغونې دورې یو ادبي ګل دی او د پښتو ژبې له پخوانیو لیکوالو او نثر لیکونکو څخه دی، یو کتاب یې د تــذکره

الاولیا په نامه لیکلی دی، خو دا کتاب متاسفانه ورک دی، خو لومړي اوه مخه یې په کندهار کې د حبیبي صیب لاس ته ورغلي دي چې ددې نثر لوستل تاسو ته پرېږدم او نمونه یې دلته نه راوړم.

۲۴- شیخ عیسی مشوانی د پښتو لرغوني ادب ادبي څېره ده چې د ژوندانه وخت یې پس له (۹۰۰ه.ق) څخه تاکل شوی دی. د شیخ عیسی احوال د پټې خزانې مولف له مخزن الافغاني څخه نقل کړي دي او وایي چې دی لوی ولي و، په پښتو، فارسي او هندي ژبو یې شعرونه هم ویلي دي. پټې خزانې د مخزن الافغاني څخه یو شعر رانقل کړی چې په لاندې ډول دی:

په خپله کار کړې په خپل انکار کړې

کـــــــله بادار یم کله مې خوار کړې

۲۵- احمد لودي د سعید زوی او د لودیانو له لیکوالو او ادیبانو څخه دی او هم د پښتو د لرغونې دورې ادبي شخصیت دی چې د اخبارلودي لیکوال هم دی. د پټې خزانې له ذکر څخه دومره نتیجه اخیستلای شو چې (۶۰۰) ه څخه وروسته د پښتو نثر د لیکوالو سلسله شروع کېږي او ددغه قرن تر اخره پورې جاري وه، چې کتاب یې تراوسه نه دی موجود، خو د کامران سدوزي تر یوولسمې پېړۍ پورې کتاب موجود و.

۲۶- شیخ کټه د شیخ متي له کورنۍ څخه دی چې د پښتو د لرغونې دورې یو ادبي شخصیت دی، یو کتاب یې د (لرغوني پښتانه) پــه نامــه لیکلی دی، اوس کتاب نه شته خو یوازې یې موږ ته نوم رارسېدلی دی. نعمت الله هروي د ده د اولاد په باره کې معلومات راکوي او لیکي چــې اته زامن یې درلودل.

۲۷- شیخ ملي د پښتو د لرغونې دورې له ادبي شخصیتونو څخه دی چې د (دفتر) په نامه یې د نثر یو کتاب هم لیکلی دی، خــو متاســفانه زموږ په لاس کې نه شته، خو خوشال خټک هم ددې کتاب شهرت ته په یوځای کې اشاره کوي.

په سوات کې دي دوه څیزه که جلي دي که خفي

((مخزن)) د درویزه دي یا ((دفتر)) د شیخ ملي

۲۸- شیخ علي سرور لودي هم د لرغونې دورې یو ادبــي شخصــیت دی. استاد حبیبي وایي دی د هند د ملتان په (گمرو) نومي ځای کــې اوسېده، نعمت الله هروي یې په مخزن افغان کې یاد لیکلي دي.

محبت پیاله مې نوش کړه په مجاز کې

د حـــق نور وینم په سترگو د ایاز کې

۲۹- شیخ بستان بړېڅ: پلار یې محمد اکرم نومېده له بړېڅانو څخه و، په ځوانۍ کې هندوستان ته ولاړ او دغه هېواد سامانه نومي ځای کــې اوسېده. د بستان الاولیا په نامه یې یو کتاب هم لیکلی دی.

۳۰- کجوخان رانیزی: راروټي د پښتو ډکشنرۍ په مقدمه کې لیکلي، چې ما سره د خان کجو رانیزي یو پښتو تاریخ شته چې په هغه کې یې د پښتو تاریخي حوادث لیکلي دي. د خان کجو کتاب موږ نه دی لیدلای خو دومره ویلی شو چې د شیخ ملي په څېر یو قانوني کتاب یې لیکلی دی خو اوس متاسفانه ورک دی، کېدی شي د لندن په موزیمونــو کــې پیدا شي، ځکه چې د راروټي راټول شوي کتابونه تراوسه نه دي ضــایع شوي.

۳۱- بابړخان د پښتو یو شاعر هم دی چې د تذکره غرغښت په نــوم یې یو کتاب په شعر کې لیکلی دی او د بابړخان له وفات سره سم ضایع شو.

۳۲- شیخ قاسم هم د پښتو ژبې ادبي شخصیت دی چې مور یې بي بي نېکبخته نومېده، شیخ قاسم د خپل ژوند پر یو وخت په شیخ قاسم سلیمان مشهور شو او د تذکره الاولیا په نامه یې یو کتاب ولیکه چــې اوس ورک دی.

۳۳- الله یار چې د ژوندانه دوره یې تر (۱۰۰۰) څخه دمخه ده، د تحفة صالح په نامه یې یو کتاب ولیکه چې په دې کتاب کې یې د خپل استاد

شیخ صالح د ژوند احوال او اشعار راټول کړي دي، تراوسه دا کتاب تــر موږه نه دی رارسېدلی، خو د پټې خزانې ماخذ دی.

## اخځونه

۱- د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی او دویــم ټــوک، پوهانــد عبــدالحی حبیبي، بېلابېل مخونه.

۲- د پښتو ادبیاتو تاریخ، لرغونې او منځنۍ دوره، ســرمحقق زلمــی هېوادمل، بېلابېل مخونه.

۳- عرفان او تصوف، استاد اجمل ښکلی، بېلابېل مخونه.

سونیا- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصله

# د پښتو لرغونو ادبیاتو محتوايي فورمونه

## پښتو لرغوني ادبيات د محتوا له مخې:



۱- وياړنه: د پښتو لرغـوني ادبيـات لكـه څنګه چې د فورم يا شكل له مخې ګڼ شـمېر اقسام لري، د محتوا له مخې هم مختلف ډولونه لري اوګڼ شمېر موضوعات او مفاهيم په كـې ځای شوي دي.

د پښتو په خورا زړو او پخوانيو ادبي اثارو کې چې تراوسه کوم اثر زموږ لاسته راغلی دی، هغه د امير كروړ سوري يو فخريه شعر دی چې پټـې خزانې د تاريخ سوري په حواله خوندي كړی دی، هغه وخت د عباسـي دعوت په جنګونو کې چې امير كروړ ډېرې سوبې وكړلې، نو يې دا بيتونه وويل چې وياړنه يې بولي، هغه شعر شيخ كته عليه الرحمه لـه تـاريخ سوري نه رانقل كړی دی.

دا شعر د شاعر لوړ حماسي مقام او دده د تورې غلبــه او بــرى ښــه تصويروي. شاعر د خپل پاخه شعر او غښتلې قريحې په مرسته خپلــه وياړنه په داسې ډول ويلې ده چې يو توانا او مقتدر شاعر ته ښــايي لــه دغې وياړنې څخه د امير كــروړ ملــي مينــه او د خپــل ټبــر د پــالنې احساسات ښه څرگندېږي او هغه وياړنه يې په دې ډول ده:

زه يم زمرى پر دې نړۍ له ما اتل نسته

په هند و سند و پر تخار او په کابل نسته

بل په زابل نسته            له ما اتل نسته

۲– ساندې (ويرنه): د پښتو په لرغونو ادبياتو کې د ويرنې لاســته راغلی شعر د شيخ اسعد سوري دی. کله چې سلطان محمود غزنوي پر غور حمله وکړه او له امير محمد سوري سره يــې جگــړه وكــړه او پــه اهنگرانو يې محصور کړ، پر دې وخت اسعد هم د اهنگرانو په کوټ کې و، هغه وخت چې سلطان محمود اميرمحمد سوري ونيو او بنــدي يــې غزني ته يووړ، نو اميرمحمد سوري چې خورا زړور، مهربانه او عادل امير و له غيرته په بند کې ومړ او شيخ اسعد چې دوست يې و، د اميــر پــه مرگ يې دا ساندې وويلې:

د فلــک لــه چــارو څــه وكــړم كوكــار

زمولوي هر گل چــې خانــدي پــه بهــار

هر غټول چې په بیدیا غوړېده وکا
رېژوي يې پانې کاندي تار په تار
ډېر مخونه د فلک څپېړه شنه کا
ډېر سرونه کا تر خاورې لاندې زار

دا د ویرنې قصیده په سلاست او بلاغت کې د پښتو له لومړۍ درجې اشعارو څخه ده. په مرثیه قصیدو کې د غزنویانو له عصره دا رسم و چې شاعر به کوښښ کاوه د خپل مړ ممدوح صفات او ښېګڼې په داسې ډول وښيي چې د هغه مقام د خلکو په نظر کې ډېر لوړ ثابت شي او د ده مرګ د ویر اسباب او علل هم وښيي.

۳- ستاینه: د پښتو په لرغونو ادبیاتو کې د ستاینې په برخه کې د ښکارندوی غوري قصیده د یادونې ده. ښکارندوی غوري دا قصیده د محمدسام په ستاینه کې ویلې ده او د هغه سلطان د هند یو سفر تصویروي چې څنګه د سلطان لښکر هند ته ځي او څنګه پر اټک تېرېږي. د ښکارندوی دا قصیده لومړی یو غرا، ډېر لوړ او خوندور تشبیب لري، د بهار مناظر د غرو او رغو زړه راکښونکي او ښکلي تصاویر په دغه تشبیب کې ترسیموي او وروسته بیا د سلطان معزالدین (شهاب الدین غوري) ستاینې ته ګرېز کوي او دا قصیده د پښتو ادب یو شهکار ګڼل کېږي:

د پســـــرلي ښـــــکلونکي بیـــــا کـــــړل ســـــینګارونه
بیـــــا یـــــې ولونـــــل پـــــه غرونـــــو کـــــې لالونـــــه
مځکـــــه شـــــنه لاښـــــونه شـــــنه لمنـــــې شـــــنې ســـــوې
طیلســـــان زمـــــردي واغوســـــته غرونـــــه
د نیســـــان مشـــــاطې لاس د مچېـــــدو دی
مرغلـــــرو بانـــــدې وښـــــکلل بڼونـــــه.

بله د ستاینې سندره چې لاسته راغلې او موجوده ده هغه د تـایمني سندره ده چې د سلطان غیاث الدین غوري په ستاینه کې یې ویلې ده چې ډېره روانه او ساده ده او لږ څه حماسي رنګ هم لري:

نـــــن زه ږغېـــــږم پـــــه صـــــفت د ســـــلطان
چـــــې دی بـــــادار غـــــازي ملـــــک د جهـــــان
د فیـــــروز کـــــوه او غـــــور رڼـــــا لـــــه ده ده
هـــــم د تېـــــرو تـــــورو برېښـــــنا لـــــه ده ده
چـــــې تـــــوره وکـــــاږي چړتـــــون کـــــې خـــــالي
غلـــــیم یـــــې کلـــــه کـــــړي پـــــه تـــــوره ســـــیالي
غیـــــاث الـــــدین د غـــــور زمـــــری عالیشـــــان
د اســـــلام دیـــــن دده پـــــه تـــــوره روښـــــان.

**۴- تصوف او عرفان:** د پښتو ژبې په لرغونو ادبیاتو کې د تصوف او عرفان په برخه کې چې کوم شعر موجود دی هغه د شـیخ متـي بابـا تصوفي اوعرفاني شعر دی. شیخ متي بابا خورا لوی صوفي او عرفـاني شاعر دی، ده په غونډان کې یو کتاب کښلی و چې نوم یې و (د خـدای مینه) او په دې کتاب کې اکثره عرفاني اشـعار او مناجاتونـه وو او پـه داسې ډول ویل شوي وو چې پر خلکو به یې ډېر اثر کاوه، خو د شـیخ متي بابا اشعار متاسفانه زموږ په لاس کې نه شته، خو د پټـې خزانـې مولف یې دغه یوه عارفانه، خوږه او ښکلې منظومه رانقل کړې ده:

پـــر لویـــو غـــرو هـــم پـــه دښـــتو کـــې
پـــه لـــوی ســـهار پـــه نیمـــو شـــپو کـــې
پـــه غـــاړه ږغ او پـــه شـــپیلکو کـــې
یـــا د ویرژلـــو پـــه شـــپېلو کـــې

د شیخ متي بابا دا شعر په پښتو اشعارو کې خورا ډېر اهمیت لـري او یوه داسې نمونه ده چې د عرفاني او تصوفي شعر په دیباچه او پیل کې درېږي او دا شعر له هغو شعرونو څخه دی چې پښتو شعر تـه یـې یـو ښکلی فلسفي رنګ ورکړی دی.

**۵- عشق او محبت (Lyric):** په پښتو لرغونو ادبیاتو کې چې کوم شعر عشقي یا لیریک رنګ لري او موجود دی هغه د تـایمني عشـقي

**سندره ده، چې د وزن، الفاظو او کلماتو له پلوه خالص او سوچه پښــتو شعر ګڼل کېږي:**

**ګهـــيځ رڼـــا د لمـــر خپـــره ســـوه**
**زمـــا پـــر کـــور د ويـــر نـــاره ســـوه**
**د بېلتـــون ورځ تـــوره تيـــاره ســـوه**
**ږغ ســـو ناڅاپـــه چـــې بېلتـــون راغـــی**
**زړه مـــې لـــه دې ويرنـــې شـــين دی**
**پـــه ژړا ژاړم څـــه نـــاورين دی**
**زرغـــون لـــه اوښـــو مـــې ســـادين دی**
**پـــه نـــول نـــولېږم چـــې تـــاخون راغـــی**
**نـــه بـــه بيـــا يـــم نـــه بـــه بيـــا راســـي**
**نـــه بـــه تيـــاره شـــپه زمـــا رڼـــا ســـي**
**نـــه بـــه شـــهۍ راتـــه پخـــلا ســـي**
**بېلېـــږي پېـــر يـــې اوس د يـــون راغـــی**
**د څښـــتن پـــار دی هېـــر مـــې نـــه کـــړې**
**آغليـــه مـــخ چـــې پـــه يانـــه کـــړې**
**اور بـــل دې پرېښـــوی واتـــه کـــړې**
**پـــر مـــا د بـــل اور کـــړاوون راغـــی.**

دا شعر له هغو اشعارو څخه ګڼل کېږي چې غنايي يا د موسيقيت خوا لري او لکه د پښتو اکثره عوامي اشعار په خواږه او خاص غږ ويل کېږي.

له دغه شعر څخه ښکاري چې تايمني به يو عاشق مشربه سړی و او کله به يې د خپلو عاشقانه جذباتو په شور او هيجان کې خواږه شعرونه غږول. ددې شعر ژبه سپېڅلې، پاکه او سپينه ده. بله عشقي يا ليريک سندره چې موږ ته رارسېدلې ده هغه د قطب الدين بختيار سندره ده، د مينې او د مين د زړه احساسات يې په ښه ډول څرګند کړي دي. دا شعر لکه اوسني عاميانه اشعار تکرارېدونکی کسر هم لري او داسې ښکاري چې قطب الدين د مينې په دنيا کې تاوده جذبات لرل:

ویر مې زړه سوری سوری کړ راته وګوره ملوکې

په بېلتون کې دې وباسم له خوږمنه زړګی کوکې

راته وګوره ملوکې راته وګوره ملوکې

بله ليريک سندره چې پښتو لرغونو ادبياتو ته ښکلا او رنګيني وربښي، هغه د شيخ ملکيار هوتک سندره ده، شيخ ملکيار هوتک د مينې ډک زړه درلود او د عشق او مينې پر لاره يې قدم او قلم وهلی دی. پټه خزانه دده يو داسې عشقي سندره رانقلوي چې په پښتو اشعارو کې د وزن، بحر او مضمون له پلوه ډېر قيمت لري او د يوه ساده عشقي پښتني فکر استازيتوب کوي.

ده دا شعر د طبیعت په ښکلې لمن کــې د رود پــر غــاړه د ســپینې سپوږمۍ په ښکلې رڼا کې غږولی دی.

ترنک بهیږي ترنک بهیږي     غاړې تر غاړې

زما زړګی خو     خپل لالی غواړي

۶- مناجات: د پښتو ژبې په لرغونو ادبیاتو کې د مناجاتو په برخــه کې لومړنی لاسته راغلی اثر د بېټ نیکه دی چې دده د ژونــد زمانــه د څلورمې هجري پېړۍ په شاوخوا کې ټاکل کېدی شــي او دا شــعر یــې (۳۵۰) ه په شاوخوا پورې اړه لري. ( خدای د ژوندون واکمن دی مالک الملک دی، دی ښاغلی کورنۍ سړو ته ورکوي نو خدایه موږ ستا مریي یو) او د بېټ نیکه هغه شعر دادی:

لویـــــه خدایـــــه لویـــــه خدایـــــه

ســــتا پــــه مینــــه پــــه هــــر ځایــــه

غــــــر ولاړ دی درنــــــاوي کــــــې

ټولــــــه ژوي پــــــه زاري کــــــې

دلتــــــه دي د غــــــرو لمنــــــې

زمــــوږ کېــــږدۍ دي پکــــې پلنــــې

دا وګــــړي دېــــر کــــړې خدایــــه

لویـــــه خدایـــــه لویـــــه خدایـــــه

**۷- رزم، جنګ او ننګ:** د پښتو په لرغونو ادبیاتو کې لومړنی لاسته راغلی اثر د رزم په برخه کې د ملکیار غرشین شعر دی، چې د (۵۸۰) ه کال په حدودو کې یې لیکلی دی. ملکیار یو غښتلی او توریالی سړی هم و او د تورې او ادب له څښتنانو څخه و چې له سلطان سره یې په جهاد او جګړو کې ملګري کوله، داسې ښکاري چې ملکیار پر جنګیالیتوب او توریالیتوب علاوه ادبي ذوق هم درلود، په خپله هم شاعر و او د نورو پښتو شاعرانو اشعار یې هم تل لوستل، په هغه میدان کې چې ملکیار د سلطان معزالدین له لښکرو سره یوځای جنګېږي او نرېږي و چې د سلطان لښکر ماته وکړي، نو دې توریالي ادیب او عارف یوه د ننګ او جنګ سندره وویله او لښکریان یې همت او شجاعت او توریالیتوب ته تشویق کړل، تر هغه چې بریالي شول او د جنګ پر ډګر یې سوبه په برخه شوه. سلیمان ماکو لیکي چې په جګړه کې ملکیار دا پاړکی ووایه چې غاریان وپارېدل او په څېر د زمریو ورتوی شول. د ملکیار دا شعر چې د قدیمو اقوامو د حماسیو رنګ لري له هغو سندرو څخه دی چې پخوانیو پښتنو به د جګړې پر میدان ویلې او مقصد یې دا و چې د زلمو احساسات تاوده کړي او پر جنګ یې ښه وپاروي:

ښتن مو مل دی		اوس مو یرغل دی		هېواد د بل دی

غازیانو ګورئ		ښتن مو مل دی

بله د مقاومت یا رزم کومه سندره چې لاسته راغلې ده هغه د باباهوتک رزمي یا د مقاومت سندره ده چې د مغولو له لښکرو سره د جنګ پر وخت یې ویلې ده او هغه سندره داده:

پر سور غر بل راته نن اور دی
وګړیه جوړ راته پېغور دی
پر کلي کور باندې مغل راغی
هم په غزني هم په کابل راغی
غښتلیو ننګ کړئ دا مو وار دی
مغل راغلی په تلوار دی
په پښتونخوا کې یې ناتار دی
پر کلي کور باندې مغل راغی.

۸- اخلاق: په پښتو لرغونو ادبیاتو کې لاسته راغلی اخلاقي شعر د زرغوني کاکړ دی، چې غالباً به د نهمې هجري پېړۍ په دویمه نیمایي کې زېږېدلې وي. دا مېرمنه د شاعرانو په ډله کې په لومړي صف کې درېږي.

که موږ په پښتو ادب کې د اخلاقي شاعرانو لپاره یوه ځانګړې ډله ومنو، نو زرغونه به له خپل بوستان سره د هغو په سر کې ولاړه وي، ځکه چې تر دې دمخه کوم اخلاقي شاعر موږ ته نه دی معلوم او زرغونه

د شیخ سعدي د بوستان په منظومه ترجمه د اخلاقي شاعرانو له ډلــې څخه بللای شو.

د زرغونې یو حکایت چې د پتې خزانې په واسطه مورږ ته رارســېدلی دی، هغه دادی:

اورېدلـــــې مې قیصه ده　　چې له شاتو هم خوږه ده
د اختر پـــــه ورځ سهار　　بایزید چـــــې و رویدار
له حمامه راوتـــــــلی　　په کوڅه کې تـــــېرېدلی
ایرې خاورې چا لـــه بامه　　راچپه کړلې ناپـــــامه
مخ او سر یې سو کـــــکړ　　په ایرو په خاورو خـــــړ
بایزید په شکر کښنو ســـو　　د خپل مخ په پاکېدو ســـو
چې زه وړ یم د بــــــل اور　　چې په اور کې سم نسکور.

بله مېرمنه چې په لرغونو ادبیاتو کې یې لویه برخه اخیستې ده، هغــه مېرمن نېکبخته ده چې د هغې اشعار هم اخلاقي، د نصایحو او د پند او تبلیغ رنګ لري. د نمونې په ډول د هغې یو شعر دادی:

په زړه ښاد شې ای مومنه　　په ظاهر په باطن سپینه
ظاهر زهد په اخلاص کړه　　په زړه ټینګ شه له یقینه
شکر صبر په هر حال کړه　　خودنمای مه شه خود بینه.

نو له دې څخه دا نتیجه اخیستلای شو چې په لرغونې دوره کــې هــم شاعران د لوړ شعري او ادبي ذوق خاوندان وو او د خپل ذوق، تخیل او

**جذباتو په مرسته یې د مختلفو موضوعګانو لکه: ویاړنه، ساندې یا ویرنه، ستاینې، تصوفي او عرفاني، عشقي یا لیریک، مناجات یا راز و نیاز پــه برخه کې او د رزم یا د جنګ او ننګ او بلاخره د اخلاقو او نصایحو پــه برخه کې یې اشعار ویلي دي.**

حسن الله همت- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# په پښتو لرغونې شاعرۍ کې څلوريزه (رباعي)



څلوريزه هغه شعري فورم دی چې له عربي څخه پښتو ته راغلی دی. د يوې بلې پېژندګلوۍ لــه مخې لرو چې د پښتو نظم ليريک ډول پخــوانی ادبي ژانر دی، چې په پښتو نظم کې ډېر لرغونی او غوره ځای لري. په پښتو کې رباعي ته څلوريزه وايي، لکه څنګه چې يې له نامه څخه معلومېږي، دا فورم څلور مسرې لري، له ځينو استثنايي حالاتو پرته چې په هغــې کــې کېــدی شــي د درېيمې مسرې يوه څپه د قافيه والو مسرو تر څپو کمه يا زياته شي،په ټوليز ډول د ټولو څلور واړو مسرو د څپو شمېر يې سره مساوي وي. د رباعي لومړی بيت مقفی، درېيمه مسره يې قافيه نه لري او د څلــورمې مسرې قافيه يې د مطلعې قافيه تعقيبوي. مخکې له هغې چې په پښتو ژبه او ادب کې عربي عروض خپلې اغېزې وښندي په پښتو ادب کې يو ډول رباعي موجوده وه چې په ملي وزنونو به ويل کېده.

رباعي د پښتو ژبې او ادب د نورو نظمي ژانرونو پــه څېــر د یــوه اوږده تاریخي بهیر نتیجه ده. دغه ژانر نه یوازې په کلاسیک پېر، بلکــې پــه لرغوني پېر کې هم پېژندل شوی ادبي ډول دی، چې ډېرو شاعرانو پــه همدې جولې کې شعرونه او نظمونه ویلي دي.

په کلاسیک پېر کې ددې ژانر بېلګې ددې مهال د شاعرانو په لیکنو او شعرونو کې ډېرې زیاتې ګورو. په پښتو کې د بېلابېلو څپــو پــه شــمېر څلوریزې ویل شوي، خو لس څپیزې څلوریزې په کې زیــاتې دي او دا اکثره په تول تللې دي.

هغه رباعي چې لس څپیزې دي، هره مسره یې د اهنګ له مخې تقریباً پر دوو برخو وېشل کېږي. پنځه څپې یوه خوا او پنځه بله خوا، د رباعي تکنیک او جوله د پښتو ژبې د نورو ادبي نظمونو په څرنګوالي او څومره والي کې د ارزښت وړ مقام لري. د رباعي په جوله کــې لنــډې- لنــډې موضوعګانې ددې ژانر منځپانګې جوړوي.

دغه لنډې- لنډې موضوعګانې چې د ټولنیزو غوره مطالبو د څرګندولو په خاطر د شاعر له فکر او اندېښنې رازېږېدلي، لیکل شوې دي. دغــه ډول ځېل د هغه مهال ټولنیزو ستونزو د حلولو او ښې لارښــوونې پــه برخه کې ستره دنده سرته رسولې ده. څلوریزه د غزل په شان ده، خــو توپیر یې دادی، د څلوریزې د بیتونو شمېر دوه بیتونه وي، چې د غزل د جولې په څېر لومړی بیت یې مقفی وي یانې په وزن او قافیه کې سره یو

وي. همدارنګه د رباعي څلورمه مسره د وزن او قافیې له پلوه د مطلع په شان وي.

په ((فرهنګ ادبیات)) کې زهرا خانلزي څلوریزه داسې راپېژني: ((رباعي څلور مسرې وي، چې لومړۍ، دویمه او څلورمه مسره یــې د واحــدې قافیې لرونکې وي. رباعي په فارسي ادب کې د (ه،ق) له لرغونو پېړونو څخه ددې ژبې او ادب په شاعرانو کې دود شوې ده. ددې ډول شعرونو او نظمونو ریښې د فارسي ادبیاتو په تاریخ کې آن څلورمې هجري پېړۍ ته رسېږي.)) ډاکټر ذبیح الله صفا په (تاریخ ادبیات ایران) کې لیکي: (( ددې مهال شاعرانو د شعر په بېلابېلو څېلونو کې د مثنوي، قصــیدې، غزل، رباعي او نورو په هکله لیکنې کړې دي.))

له پورته لیکنې څخه جوتېږي چې رباعي په فارسي ادب کې په څلورمه هجري پېړۍ کې د نظم د پورتنیو یادو شویو ډولونو په څنګ کې د یــو ښکلي ادبي ډول په توګه پېژندل شوې او کارول شوې ده.

اصله خبره داده چې په پښتو ژبه او ادب کې دغه ډول ادبي نظــم پــه لرغوني پېر کې هم شتون درلود، چې د پښتو په ملي وزنونو ویل کېده، په کلاسیک پېر او له دې مهاله مخکې عربي عروضو ته نږدې د دېواني نظمونو په ډله کې د رباعي د نظم ډول هم لیدل کېږي. د پښتو ژبــې او ادب لومړنۍ رباعي چې د پټې خزانې له لارې لاسته راغلې، خلیل خان

نیازي ته منسوبه ده، چې سلطان بهلول (۸۹۴ه) ته یې ویلې وه او پــه لاندې ډول ده:

خړې وربځې ژاړي له پــــــــاسه          کویله رغ کا بېلتون له لاسه

یه هغه لوني ګوهر په خول ستا          دا مرحبا کا ستا زمورِ مواسه

سلطان بهلول ددې رباعي له اورېدو سره سم په ځواب کــې دا لانــدې رباعي ویلې ده:

ملک به زرغون کړم په ورکړه لاسه

ګـــــــــــوره وربځې د داد له پاسه

خـــــول مې د عدل په درو روڼ دی

جــــهان به زېب مومي زما له لاسه

هندسي شکل یې:

+__________________

+__________________

__________________

+__________________

د رباعي یو بله بېلګه د دېواني ادب له رامنځته کېــدو لــږ مخکــې پــه کلاسیک پېر کې (۹۲۰ه) د رابعې نومې یوې پښتنې شاعرې یوه څلوریزه

ده چې د منځپانګې له مخې ددې مهال د رباعي د نظم څرنګوالی ترې پوره څرګندېدی شي.

هغه داده:

ادم یـــې مځکـــې و تـــه راســـتون کـــا
پـــه اور د غـــم یـــې ســـوی لړمـــون کـــا
دوزخ یـــې روغ کـــا پـــرمخ د ځمکـــې
نـــوم یـــې د هغـــه دلتـــه بېلتـــون کـــا

بله خبره داده چې رباعي له موضوعي پلوه د پند و حکمت په باب وي او هم عشقي او ټولنیزې خواوې لري، له دغو څرګندونو څخه معلومېږي چې څلوریزه په کلاسیک او لرغوني پېر کې د یو غوره ادبي ژانر په توګه کارول شوې ده او د شاعرانو د شاعرانه احساساتو پـه څرګنـدولو او د ټولنیزو موضوعګانو په انځورولو کې یې کارنده مقام درلود.

## اخځونه

کلاسیک ژانرونه: د محبوب شاه ارزومند لیکنه.

د پښتو شعر هندسي جوړښت: د پوهندوی محمداسمعیل یون اثر.

د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی او دویم ټوک: د پوهاند عبدالحی حبیبي اثر.

حمیدالله وفا- د پښتو څانگې د لومړي ټولگي محصل

# په لرغونې دوره کې پر پښتو ژبه او شاعرۍ مذهبي تاثیرات



پر پښتو شاعرۍ باندې په لرغونې دوره کې مذهبي تاثیرات لږ وو، ځکه په هغه وخت کې د پښتو سوچه او پاک لغاتونه کارېدل او مذهبي تاثیرات لا د هېواد گوټ گوټ ته دومره نه وو خواره شوي چې پر ادبیاتو دې پراخ تاثیر وکړي.

تر لرغونې دورې وروسته پر پښتو شاعرۍ باندې مذهبي تاثیر ډېر شول او د پښتو له پخوانیو اثارو څخه هم داسې ښکاري چې پښتانه د اسلام په اوایلو کې مشهور وو او د دوی ژبه هم په دغه وخت کې یوه داسې ادبي ژبه وه چې ډېر ښه او پاخه اشعار یې درلودل، لکه د امیر کروړ په وخت کې شعر له مذهبي تاثیراتو څخه لرې و، ځکه هغه د پښتو له سوچه او خپلو لغاتونو څخه کار اخیستی دی، چې وروسته د روښانیانو په وخت کې پر پښتو شعر باندې مذهبي تاثیرات ډېر شوي دي.

د پښتو په خورا زړو او پخوانیو اشعارو کې چې تراوسه زموږ لاسته راغلي دي، د امیر کروړ سوري یو فخریه شعر دی او له دې شعر څخه داسې ښکاري چې په سوریانو کې د پښتو شعر د اسلام له ابتدا څخه

موجود و، څکه د امیر کروړ د ژوند وخت له (۱۰۰هـ ق) څخه وروسته شروع کېږي او بیا موږ وینو چې په سوریانو او هم د غور په اوسېدونکو کې د سلطان محمود تر عصره (۴۰۰هـ) پورې هم د پښتو شعر ښېګنې پورته وې، نو له دې څخه ثابتېږي چې د اسلامي دورې په لومړیو څلورو سوو کلونو کې غور او سوري قبایل د پښتو د شعر او ادب زانګو وه او په دغه وخت کې پښتو ژبې پاخه اشعار او ادبي اثار درلودل او د امیر کروړ له شعر څخه څرګندېږي چې په لومړۍ دوره یانې اوله او دویمه هجري پېړۍ کې پښتو ژبه په غور کې د نورو ژبو له اختلاطـه سـوچه وه او دا سوچه توب او خالصوالی یې تر (۴۰۰هـ) پورې هم ساتلی دی.

څومره چې په اسلامي دوره کې پېړۍ پـرې تېرېـږي، هغـومره ژبـه او شاعري له سوچه توب نه لرې کېږي او نور عناصر پرې ګډېږي.

په دویمه هجري پېړۍ کې پښتو ژبه او شعر سوچه او خالص و، خو پـه درېیمه پېړۍ کې د عربي ژبې لغوي او ادبي اغېزې پرې شـوې دي او د عربي فکر او ادب اثر په هغو ځایونو کې غالب شوی دی چې د عربـو د حکومت اثر هلته ډېر و.

شیخ رضی او نصر لودي د شیخ حمید له کـورنۍ څخـه دي، رضـی د حمید وراره او نصر لودي یې زوی دی. شیخ رضي خپل تربور ( تره زوی) ته داسې لیکلي دي:

د الحاد په لور دې ترپلل
گروه دې زمور وکوراوه

مــــورږ رونلی په زیارنه
تــــــا په تور و توراوه

نصر لودي د شیخ رضي په غبرگون کې وایي:

د الحاد په تور تورن سوم
زه لرغون خو ملحد نه یم

زما د ښنه هسې توراکړې
که ملحد یم د دښنه یم.

د لودیانو په وخت کې که څه هم تر هاشم سرواني وروسته دی، خــو د پښتو سوچه توب او ژبې نړه والی قوي دی، د مذهب او د عربي اثر لــږ ښکاره کوي. له (الحاد) او (سنتي) څخه ښکاري چې مذهب او عربــي ژبې اثر په دغو وختونو کې تش په دیني اصطلاحاتو پورې محدود و او لا ډېر عربي اصطلاحات په ژبه او ادب کې ننوتلي نه وو.

د لودي کورنۍ د اسلام سوچه خدمتگاران وو او غوښــتل یــې چــې د پښتونخوا په بېلابېلو سیمو کې د اسلام رڼا خپره کړي. نصر لــودي پــه خپل نظم کې له ځانه ښه دفاع کړې ده او خپل عقاید یې د پخوانیو په ډول د (سنت) تابع بللي دي. تر دې وروسته ان تر روښاني دورې چــې کوم شعرونه لیکل شوي، په پام وړ شمېر شعرونو کې مذهبي تاثیرات او د عربي ژبې اغېزې څرگندېږي، خو د لرغونې دورې په اندول بیــا پــه روښاني پېر کې دا اغېزې زیاتې څرگندېږي.

زبیر حمیدي- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# د پښتو لرغوني ادب په پرمختیايي بهیر کې د ښځو ونډه



که چېرې موږ د پښتو شفاهي ادبیـات مطالعـه کړو، نو ددغو شفاهي سندرو په جوړولـو کـې د ښځو برخه د یادونې وړ ده او ډېرې زیاتې دغـه ډول شفاهي سندرې پښتنو کلیوالو او مېرمنـو جوړې کړې دي، خو څنګه چې ددغـو شـفاهي سندرو ویونکي زیاتره نه دي معلوم، نو پر دې اساس موږ ددغسې هنري ذوق خاوندانو ډېرو ښځو له نامه څخه نه یو خبر، خو کله چې د پښـتو تحریري ادبیات مطالعه کوو، نو د نهمې هجري پېـړۍ پـه اواخـرو او د لسمې پېړۍ په اوایلو کې موږ د ځینو پښتنو ښـځو لـه نومونـو سـره مخامخېږو، چې په پښتو ژبه ترې اثار پاتې شوې دي.

ددغو ښځو اثار موږ ته دا هم راښیي، چې دغه وخت د پښتنو په ځینو کورنیو کې د ښځو باسواده کېدلو ته توجه کېده او داسې ښکاري چـې دغه مهال ځینو پښتنو ښځو ته دا حق ورکړل شوی و، چې سـواد زده کړي، د دیني علومو زده کړه وکړي او د مدارسو ځینې نصابي منظوم او منثور کتابونه ولولي. په دغو باسواده ښځو کې چې به که کومې یوې د

لیکوالۍ او شعر ویلو استعداد درلود، نو دې خواته به یې هم پاملرنه کوله او په پښتو به یې ځینې اثار یا ژباړل او یا به یې نظمول. دغه اثار زیاتره اخلاقي او دیني تبلیغي رنګ لري. ددغو ښځو له خوا ددغه ډول اثـارو تالیف او ترجمې ته توجه به د دوی د همدغه دیني تعلیم نتیجه وي او د همدغو تعلیماتو تر فکري اغېز لاندې به یې د دیني، تبلیغي او اخلاقي اثارو ایجاد او ترجمې ته هڅه کړې وي. که نه وي د پښتنو کلیوالو ښځو له خوا چې کوم شفاهي ادبیات ایجاد شوي دي، زیاتره لیریک او غنایي رنګ لري، اوس هم دا ثابته شوې ده چې ښځې له نرینه سـره یوشـان استعداد لري، هغه ښځې چې اثار یې د پښتو په لرغوني ادبې دوره کې د مطالعې ځای لري په دغو ښځو کې لومړنۍ یې زرغونه کـاکړ ده، چـې غالباً به د نهمې هجري پېړۍ په دویمه نیمایي کې زېږېدلې وي.

دا مېرمن د کندهار په پنجوایي کې اوسېده، پلار یې ملا دین محمد کاکړ نومېده او دا خپله د سعدالله خان نـورزي ماینــه وه، دې مېرمنــې پــر (۹۰۳هــ.ق) کال د سعدي بوستان په پښتو نظم ترجمه کړی دی. د پټې خزانې روایت دی، چې دغې مېرمنې د بوستان پر ترجمې سربېره نـور اشعار هم ویلي وو، د زرغونې د پښتو بوستان یو حکایت پټــې خزانــې راوړی دی، چې زه یې څو بیته دلته را اخلم:

| | |
|---|---|
| اوربېدلې مې قیــصه ده | چې له شاتو هــم خــوږه ده |
| د اختر په ورځ سهـــار | بایزیـــد چـــې و رویـــدار |

له حـــمـــــامه راوتلی | پــه کوڅــه کـــې تېرېــدلی
ایرې خاورې چا لـــه بامه | راچپـــه کړلـــې ناپامـــه
مخ او سر یې سو کـــکړ | پــه ایــرو پــه خــاورو خــړ
بایزید په شکر کښو سو | د خپل مخ په پاکېــدو ســو
چې زه وړ یم د بـــل اور | چې په اور کې سم نســکور

د ادبپوهانو په وینا دا ترجمه ډېــره غښــتلې ده او زرغونــه د ســعدي بوستان له ترجمې بریالۍ راوتلې ده.

د پښتو ادبیاتو په لرغونې دوره کې د زرغونې پښتو بوســتان لــومړنی اخلاقي اثر دی او تر دغه اثر دمخه موږ په پښتو ادبي اثارو کې د اخلاقي مفاهیمو لرونکي دغسې اثار نه لرو. د استاد حبیبي خبره چې که چېرې موږ په پښتو ادب کې د اخلاقي ویناوو خاوندان سره بېلوو، نو زرغونه له خپل پښتو بوستان سره ددې ډلې په سر کې درېږي.

پر دې سربېره له فارسي ژبې نه پښتو ته د ادبي اثارو د ترجمې تاریخ هم د زرغونې کاکړې له خوا د بوستان له همدې ترجمې څخه پیلېږي، تــر دې ترجمې دمخه موږ ته بل داسې اثر نه دی معلوم، چې له فارسي ژبې څخه دې پښتو ته ترجمه شوی وي.

زرغونه کاکړ سربېره پر دې چې د پښــتو شــاعره او مترجمــه وه، ددې ترڅنګ یې بل هنر هم درلود او هغه دا چې نوموړې ډېره ښه خطاطه هم وه.

بله مېرمن چې موږ یې باید په زرغونې کاکړې پسې اثار په دې ځای کې مطالعه کړو، هغه رابعه ده. رابعه د پټې خزانې لــه لیکنــو ســره ســم د ظهیرالدین محمد بابر (۹۳۷هــ.ق) د زمانې شاعره ده، په کندهار کــې اوسېده، د اشعارو دېوان یې درلود، ددې شاعرې دغه لاندې رباعي پټې خزانې راوړې ده:

ادم یې مځکې و ته راستون کا
په اور د غم یې سوی لړمون کا
دوزخ یې روغ کا پرمخ د مځکې
نوم یې د هغه دلته بېلتون کا

له دې یوې رباعي پرته ددې نور اثار موږ ته نه دي معلوم، خو له دې یوې رباعي څخه یې هم د وینا قدرت ښکاري او دا راښیي چې رابعې به پــه خپل دېوان کې عشقي موضوعات په خورا ادبي نزاکت او لطافت بیــان کړي وي.

دریمه مېرمن چې په لرغوني ادب کې د مطــالعې ځــای لــري، هغــه نېکبخته ده. مېرمن نېکبخته د شیخ الله داد لور وه، چې پلار نیکه یې په اشنغر کې اوسېدل. نېکبختې پر (۹۵۱هــ.ق) کال له شیخ قدم سره واده وکړ، مېرمن نېکبختــه زاهــده، پرهېزگــاره او عالمــه مېــرمن وه. نېکبختې پر (۹۴۹هــ.ق) کال د (ارشاد الفقرا) په نامه یو کتاب لیکلی و، چې درې ټوټې ترې محمد هوتک په پټه خزانه کې را اخیســتي دي، د یوې ټوټې څو بیته یې دادي:

پـــه زړه ښـــاد سې ای مومــنه　　پـــه ظاهر په باطن سپینه
ظاهـــر زهـــد په اخلاص کړه　　په زړه ټینګ سه له یقینه
شـــــکر صبر په هر حـــال کــړه　　خودنمای مه سه خود بینه

د مېرمن نېکبختې لاسته راغلې منظومې ټوټې تبلیغي رنـګ لـري او نصایح او پندونه یې په دې اثر کې وړاندې کـړي دي، کـه څـه هـم د نېکبختې کتاب له اوسنیو ادبیاتو سره ډېر سمون نه لري، خو مخکـې داسې کتاب نه و.

د پښتنو په تاریخي فرهنګي بهیر کې بله شاعره او ادیبه نازو انـا ده. د پټې خزانې په قول: ((مېرمن نازو د سلطان ملخي توخي لـور ده او پـر (۱۰۶۱ه) کال په تازي نومې سیمه کې زېږېدلې ده، سلطان ملخی پر هغه وخت د غزني تر جلدکه د اقوامو مشر و او په استقلال یې حکومت کاوه، معاوض او ساری یې نه درلود او نازو په کوچنیوالي له پښتنو مېرمنو او سپین ږیرو علماوو څخه لوست کړی و، مېړه مخې ارتینه وه چې نارینه یې مېړانې او شجاعت او سخاوت ته حیران وو. له ثقه روایاتو څخه یـو روایت دی چې سلطان ملخی سور غره ته نږدې په جنګ کـې ومـړ او حاجي عادل چې د نازو ورور و، د پلار په انتقام جنګ ته ولاړ، کلا او کور یې نازو ته پرېښودل او په هغه وخت کې نازو توره پــه مــلا کــړه او لــه جنګیالیو ځوانانو سره یې کور او کلا د دښمنانو له تاړاکه وساتل.

نازو انا په مېلمستیا، غریبانو او مسافرانو په پالنه مصروفه وه او هر وخت به چې په ژمي کې د مسافرو قافلې راغلې د نازو پر کلا يې اړول او دوی به ورته ډوډۍ ورکوله، د سخاوت نوم يې له خیبره تر کوسانه خپور شو، نازو په حباله د ښالم خان هوتک وه چې د کریم خان زوی و او مېـرمن نازو څلور زامن درلودل چې مشر يې حاجي میرخان او نور عبـدالعزیز خان، یحیی خان او عبدالقادر خان دي.

نازو انا سربېره پر سخاوت، شجاعت او عبادت هسې ارتینـه وه چـې د خدای تعالی څخه په مناجات يې ډېر اشعار وویل او یو دېوان يې درلود چې دوه زره بیتونه پکې وو او هلته يې ښه نکات ادا کړي وو. داسې يې ویلي وو چې نارینه يې هم نه شي ویلای، دغه رباعي چې د نازو انا وه په لاندې ډول ده:

سـحرګه وه د نرګـس لیمـه لانده
څاڅکي څاڅکي يې له سترګو څڅېده
ما ویل څه دي ښکـلی ګله ولې ژاړې؟
ده ویل ژوند مې دی یوه خوله خندېده

مېرمن حلیمه حافظه بله لیکواله او شاعره مېرمن ده چې تر لرغـونې دورې وروسته په کلاسیکې یا منځنۍ دورې پورې اړه لـري. حلیمـه د خان علیین مکان خوشال خان ختک لور وه چـې د عبـدالقادر خـان ختک سکه خور کېده او د خپل پلار پر ژوند يې مروج علوم ولوستل او

بیا د شیخ سعدي لاهوري مریده شوه. د خپل پلار عبدالقادر خان پــه لاس یې بیعت وکړ، چې هغه هم د شیخ دوران خلیفه و، روایت کا چې، حلیمه بي بي فاضله او عارفه ښځه ده او مېړه یې نه دی کــړی، قــرآن عظیم الشان یې هم په یاد و، په پښتو یې اشعار هم ویلي دي. د حلیمې په اشعارو کې مجازي عشق نه ښکاري، بلکې ټول شعرونه یې د حقیقت په لاره کې دي او د حقیقي محبوب حقیقي صــفت کــوي، د بــي بــي حلیمې غزل دا دی:

د اشـــنا پـــه فکـــر خوښـــه هســـې شـــان شـــوم
نـــه پـــوهېږم چـــې ممتـــاز کـــه نورجهـــان شـــوم
چـــې یـــې کړمـــه ســـتا پـــه مینـــه ســـرفرازه
ثناخوانـــه پـــه څـــو رنګـــه د رحمـــان شـــوم
چـــې مجـــاز مـــې د ایـــاز ولاړی زړه نـــه
ســـربلنده تـــر محمـــود غونـــدې ســـلطان شـــوم
و هـــر چـــا وتـــه چـــې ګـــورم واړه دی دی
د جمـــال پـــه ننـــدارو یـــې شـــادمان شـــوم
د غیـــر فکـــر مـــې لـــه زړه نـــه رابهـــر شـــو
پـــر خلیـــل و پـــر عـــدو بانـــدې یکســـان شـــوم
حلیمـــې د غمـــاز مکـــر زیـــات لـــه حـــد شـــو
چـــې دې ببـــل لـــه یـــاره نـــه کـــا بـــدګمان شـــوم.

تمنا افضلي- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصله

# په پښتو ادبیاتو کې ساندې

# او د ښادۍ سندرې

## ساندې:



څرنګه چې ولسي سندرې په ولس کې په شفاهي بڼه منځته راځي او هر یو فورم یې په ولس کې ځانته د ویلو خاص ترتیب او اهنګ لري، نو ښایي چې په لیکلې بڼه زیاتې ولسي سندرې سره ورته والی او نږدېوالی ولري، خو د ویلو له مخې بیا بېخي بېل او ځانګړي صنفونه جوړوي، دا ځکه چې د دغو سندرو ارزښت او جوړښت شفاهي دی او خلک یې د اورېدلو له لارې سره بېلوي او لیکلې بڼه یې یوازې د ثبت او تلپاتې کېدلو وسیله ده.

د بېلګې په توګه په لوی سر کې خو د ښادۍ بدلې، د اتڼ نارې، غړونه، د بي بي دستې سندرې او چغیان د سره ورته سکښت درلودونکي

ښکاري او په عمومي توګه دا ټولې يادې شوې سندرې درې مسره ييزې دي، چې د لومړيو او درېيو مسريو قافيه يې سره يوه ده او د دويمې يې ازاده ده، خو د ويلو پر وخت داسې سره بېل اهنګونه او طرزونه لــري، چې هېڅ امکان نه لري چې د ښادۍ بدلې دې د اتڼ د نارو په څېر، يــا دې ساندې د لنډيو په څېر او يا دې هم تاريخي نارې د چغيانو غوندې وويل شي، بلکې هر فورم ځانته بېل سُر او تال لري.

نو له همدې امله موږ هم ساندې په فورمي لحاظ د يوه ځانګړي صنف او ژانر په توګه تر څېړنې لاندې نيسو. ساندې چې د عامو ولسي سندرو يو صنف دی، د ښځو له خوا پر مړي باندې ويل کېږي. ځينې خلــک يــې ستاينې، ځينې يې کرېکې او ځينې نور يې غږانګې هم بــولي. ځينـــې ساندې په خپله لنډۍ وي چې په خاص وزن او اهنګ په کې د مــړي د محاسنو او نېکيو، دده د نيمه خوا هيلو، پاته شويو کوچنيو ماشومانو او ناوې، يا که ځوان مړ وي، نو دده د هيلو د نــه ترســره کېــدلو او نــورو ارمانونو وير په کې کېږي. زه دلته هغه لنډۍ چې خلک يې د ساندو په بڼه وايي، ډېرې څکه نه راوړم چې پر لنډيو باندې په خپله د لنډيو پــه برخه کې پوره خبرې شوې دي او يوازې د يو دوه درېيو لنډيو په راوړلو بسنه کوم.

که نور دې هر څه ميراتېږي

ميرات دې مه شه دا د غاړې تاويزونه

که نور دې هر څه میراتېږي

میرات دې مه شه لوی پټی واړه ورخونه

بې وروره خور په کوڅه راغله

ناره یې وکړه شپه به چا کره کومه

هغه ښځه چې ساندې کوي، نو د ساندو دویمه مسرې نورې ښځې ورسره غبرګوي او په ګډه د (وای او وئ) په ویلو سرونه او ځانونه وهي.

دا یې هم څو نورې بېلګې:

پلانکیه په سر دې کېنه یوه مرغۍ

چې درته ووایي د پلانکۍ د سلامتګۍ

خدایه پخې کړې د غره ممانې

پلانکی شاوو کړې ښځه یې ناوې

پلانکی رانه وړه ډولۍ

وی دې (...) ونه واله پګړۍ

ساندې عموماً دوه مسره ییزې دي، ما په خپله درې مسره ییزې او تـر دې زیاتې مسرې والا ساندې نه دي اورېدلي، خو (د خلکـو سـندرې) نومي مولف د درې مسره ییزو ساندو یوازې یوه نمونه لیکلې ده:

پلانکیه مه شپې کړه مه کلونه کور ته دې رادرومه

پر خیالي جامو دې پرېوتل ګردونه

## ب- د ښادۍ سندرې:

د ښادۍ بدلې چې د واده سندرې یې هم بولي، لکـه د ولســي عــامو سندرو د نورو فورمونو غوندې خاص ویونکي نه لري او د عامو سندرو په کتګورۍ کې مطالعه کېږي. دغه سندرې چې ځانګړی جوړښــت لــري غالباً د ښځو له خوا جوړې شوي او په خپله د همدوی له خوا له هوکې او کوژدې څخه نیولې، بیا د واده د درېیمې او اوومې ورځې تر مراسمو پورې دوام مومي. ښځې د واده، کوژدې، هوکې او واده د بېلابېلو وختونو او شپو ورځو لپاره بېلابېلې سندرې لري. دغه سندرې په اکثرو پښتني سیمو کې د بابولالو په نامه پېژني او زیاتو پوهانو او څېړونکو هم بابولالې بللي، خو د زریني ځانګې مولف وایي: (( څرنګــه چــې بــابولالې ددې سندرو یوه ډېره وړه څانګه ده، نو دا نوم جامع او مانع نه دی، نو ځکــه ځینې محققین د واده سندرې یا د ښادۍ سندرې ورته وایي او الحــق

چې سم نوم دی)) دی زیاتوي: د واده ځینې سندرې د ښځو له خوا د نڅا په ترڅ کې ویل کېږي.

دغه سندرې ډېرې لرغونې دي او داسې نښې نښانې له ځانه سره لري چې تر اسلامي دورې مخکې ښکاري، د بېلګې په توګه په څو سندرو کې د چندنو، استعمال ته اشاره شته چې دا کار د اریایانو بودایي دوره کې دود و او هندوانو اوس هم ساتلی دی، هغه دا چې د چندن، سندل، سندرله بوټي څخه د سپېڅلتیا او خوشبویي لپاره کار اخلي او په تندي یې موښي.

د (زرینې ځانګې) لیکوال د خبرو د بشپړتابه لپاره باید دومره ووایم چې همدا اوس هم په ځینو پښتني سیمو کې د سندر استعمال رواج لري، د ننګرهار ولایت د روداتو په ولسوالۍ کې همدا اوس هم د زوم کورنۍ د نورو جوړو جامو سره یوځای سندر هم د ناوې پلارګنۍ کره وړي، د واده پر ورځ د ناوې له کورنۍ څخه یوه ښځه سندر جوړوي او په بل لوښي کې (سور لرګی) په زېړو غوړیو کې ټکوي، په سندر کې سلایي ږدي او کله چې د زوم کور والا د ورځې له خوا په ناوې پسې راشي، نو هغه ښځه لومړی پېغلو او ښځو ته پېکی او یا پیچه غوړوي او بیا په سلایي ورته سندر وهي چې هلته په هغه سیمه کې یې ((دړی بولي))، نو څرنګه چې دغه دود همدا اوس هم په پښتنو کې شته، نو ځکه هغه سندرې چې د سندر نوم پکې راغلی وي، لرغوني بلل زما په نظر د تامل وړ برېښي، د محتوا له نظره د واده سندرې کله د جنګ او د پېغور

مطالب، کله د خوښۍ او خوشالۍ مطالب کله د ستاینې او غندنې مطالب او کله هم ټوکې ټکالې احتوا کوي.

د واده د سندرو د ویلو ترتیب او طرز د اتڼ له نارو سره جوت توپیر لري، خو د شعري جوړښت له پلوه دا هم دوه مسره ییزې، درې مسره ییزې او کله هم څلور مسره ییزې وي.

دا یې هم څو بېلګې:

کله چې د نکریزو په شپه د زوم د کاله ورا د ناوې کور ته لاړه شي، نو لومړی د زوم یوه خپلوانه چې ډېر زامن ولري او په کورني ژوند کې ښه خوشاله وي، ناوې ته نکریزې کېږدي، بیا نو ښځې چمبې را واخلي او دا سندره وایي:

د کونج مېرمنې پاڅه که دې زړه شي

هومره خو پانه څې چې پلانکی خان لونګۍ په لاس درته رانه شي

یا دا سندره:

| | |
|---|---|
| که د بر بنګو ونه یې | اوس به ګلونه نیسې |
| که د دادا د کوره یې | اوس تړېنه ووتلې |

که د (پلانکي) د کوره یې د غولي منځ به نیسې

**کله چې د ورا ښځې غواړي چې ناوې په ژړا کړي نو داسې سندره ورته وايي:**

**زموږه ناوې تیله داره ده نه ژاړي**

**چې د (مېره نوم یې اخلي) لغتې وخوري دا به ښه ژاړي**

**یا: کله چې ورا نوې د ناوې کور ته ځي په دروازه کې دا سندره وايي:**

**درځم که نه درځم شالونګینې**

**ولاړه شم که ځمه**

## اخځ

**د پښتو شفاهي ادبیات، غوټۍ خاورې، ۱۳۶۶ل کال، بېلابېل مخونه.**

سودابه رمز- د پښتو ځانګې د لومړي ټولګي محصله

# د پښتو ادبیاتو فالونه او چیغان



**الف- فالونه:** د پښتو د شفاهي سندرو په لړ کې یو ډول سندرې د فالونو په نامه ښودل شوي، چې زموږ د عامو ولسي سندرو یو ځانګړی ډول دی، ویونکي یې نه دي معلوم او د ټول ولس ګډ مال دی. دغه ولسي منظوم فالونه غالباً د ښځو له خوا جوړ شوي او داسې سوچه پښتو لغات هم په خپله لمن کې رانغاړي، چې تراوسه لا پښتو قاموسونو نه دي خوندي کړي. د فالونو د جوړښت په برخه کې باید وویل شي، چې کوم ټاکلي اوزان نه لري، اکثره لومړۍ مسره یې لنډه او دویمه یې اوږده وي، کله یې دویمه مسره هم لنډه او کله یې د دواړو مسرو سېلابونه سره یو شان وي، خو په هر حال خوږ اهنګ لري او هیڅ ډول سکتګي او بندښت په کې نه راځي.

فالونه کله دوه مسریز او کله څلور مسریز وي، لکه دا فالونه چې څلور مسرې لري:

د جنت په منارې سور چرګ وهي نارې

شېر د خدای تېرېږي    خلکو کاندئ ننداري

دوه مسريز فالونه لکه:

د پاسه مسله راله    پر کلي عالم خوره راله

فالونه د ښځو له خوا د شعبان المعظم پر پنځلسمه شپه چې د برات مبارکه شپه ده، د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې ویل کېږي، داسې چې د کلي پېغلې او ښځې سره ټولې شي دوی یوه پېغله نجلۍ پاکه ولمبوي بیا یې په بړستن کېنوي او په اصطلاح ناوې یې کړي او څو ټکري ورته پر سر واچوي، یوه ښځه منګی له پاکو اوبو څخه ډک کړي او نجلۍ مخې ته یې کېږدي، دلته نو هره ښځه او پېغله خپله ګوته، ګوتمه، بودلۍ او یا کوم بل شی د خپل ځان او یا هم د خپلې کورنۍ د کوم بل غړي په نامه منګي کې واچوي فال ویونکې ښځه د منګي ترڅنګ کېني او فال وایي، د شیانو د را ایستلو ترمخه هره ښځه د منګي ترڅنګ کېني درې وارې کلمه طیبه وايي او بیا ورپسې فال وايي:

واچوئ فالونه    چې خدای ټینګ کړي تناوونه

فال ویونکې ښځه د فال د هرې غزلې په پای کې وايي: ((لیلو د کاره کنګړ)) بیا نو هغه پېغلوټې نجلۍ منګي ته لاس کړي او یو شی ترې

راوباسي دلته نو هره ښځه متوجه وي چې زما د کنګړ به څرنګه غزله په برخه شي، دا هم څو فالونه:

د جومات په مخ ریشکه ده

بي بي اودس پرې کړی بې بارانه زرغونه ده

لیلو وکاږه کنګړ

د غره په سر کې خوش خمیره

که موزي شل اورتې وکړي زه بې امیره

په دې توګه ټوله شپه تر سهاره ښځې او پېغلې چمبه وهي، په مجلس کې ټوکې ټکالې او په کړس کړس خنداګانې وي. دغه مبارکه شپه پښتنو پېغلو او مېرمنو ته د خوشالۍ، نېکمرغۍ او په عین حال کې د مېلې شپه هم وي.

په ځینو پښتنو کې، پښتنې مېرمنې د دغه منګي اوبو ته ډېره عقیده لري او له همدې امله د خپل ټیکري پیڅکه په همدې اوبو لمدوي او بیا ګنډه(غوټه) ور اچوي، د دوی داسې عقیده ده؛ کله چې دا ګنډه خلاصه شي، حتماً به یو وېښته په کې پیدا شوی وي که دا وېښته سپین و دا مانا لري چې ددې ښځې ژوند به اوږد وي او که وېښته تور و، نو دا مانا

لري چې دغه ښځه به ښايي په ځوانۍ کې مړه شي، داسې چې وېښتان به يې لا نه وي سپين شوي.

د برات پر شپه د ټولو پښتنو په کورونو کې ښه خواړه پخېږي، ځکــه د دوی ترمنځ داسې عقيده ده؛ څوک چې پر دغه شپه ښه او ډېر خــواړه برابر کړي، نو تر کال همدې شپو ورځو پورې بيا همداسې خواړه خوري، د برات پر شپه ماشومان پټاکۍ ولي او اور لوبې کوي.

فالونه هر ډول مذهبي، اخلاقي، اجتماعي، انتقادي او ټوکي مطالب په خپله لمن کې رانغاړي، دا هم څو فالونه:

د کلي په سپين بامونه

پنې وکاږه را درومه

په دا غره کې ورېښم بوټی

د زدې مور سي چې پر واچوي مخ پوټی

چاودي چاودې پښې

يومن ايرې پکې

او خر خر پر له اوړي

که دې صبر ورته وکو لعل به څنډې له در واوړي

**شین دې پرتوګ شین دې خت**

**پر مکه دې اج (حج) قبول**

**د پښتو ددغه ډول سندرو پر ټولولو استاد حبیب الله رفیع، پروفیسور سیال کاکړ، علي محمد منګل او نورو کار کړی دی.**

**ب- چغیان (انګۍ): د پښتو د شفاهي سندرو په لړ کې د ولسي سندرو یو ځانګړی فورم دی چې ځانته خاص شکلي او موضوعي خصوصیات لري. دغه سندرې چې تراژیدیکه بنه لري ناوې یې د ژړا په څپو کې په خاص اهنګ او وزن وایي.**

**څرنګه چې په پښتنو کې واده د نجلۍ په خوښه نه دی شوی، نو نجلۍ نا راضه وي او پر زړه یې غوټې وي چې د خپل زړه د غوټو د خلاصولو لپاره د ژړا په ترڅ کې همدغه احتجاجیه سندرې (چغیان) وایي. د چغیان ملتیا ناوې د ساز پر ځای په خاص او اهنګ واره ژړا کوي چې ټولې همزولې او خپلوانې ورسره ژاړي، چغیانو ته په ځینې پښتني سیمو کې د (هوی) سندرې وایي او په ځینو ځایونو کې ځینې نور محلي نومونه هم لري.**

د کاکړستان په سندریزه سیمه کې دغو سندرو ته د (اله مور) سندرې وایي، خو مورې ته راوړل شوې سندرې د انګـــۍ او چغیـــان پـــه نومونـــو رارسېدلې دي.

لکه دا سندرې:

وروره لاس که په کځوړه

یو اصیل غمی راباسه

خور دې ځي د بابک له کوره

خورې هوی که غاړه لوی که

اکاګان درته ولاړ دي

اکاګانو زړونه لوی دي

چغیان لکه د اتڼ نارې او د واده د سندرو په څېر سکښت لري او ځینې یې دوه مسره ییز، درې مسره ییز، څلور مسره ییز او تر دې زیـــات وي چې د مطلب تر بشپړېدو پورې مسرې ډېرېږي او د هـــر بیـــت مســـرې معمولاً په خپلو منځو کې برابرې دي، دا یې هم څو بېلګې:

زه په خپل کور وم په راحت

بابک کړم خرڅه په ډېر دولت

په پردي کور کې مې نسته عزت

خود به ژړا کړم په هر ساعت

***

شینکۍ کوتره وم ښورېدمه

نه چا نیومه نه چا کتمه

په هر یو ټکي به پرېوتمه

نن ناولده یې کېنستمه

باید یادونه وکړم چې ځینې څېړونکي چغیان په فورمي لحاظ د ښادۍ په سندرو کې مطالعه کوي، حال دا چې چغیان ځانته خاص فورمي او موضوعي جوړښت لري، چې د پښتني فولکلور په نورو اصنافو کې نه مطالعه کېږي. دغه سندرې چې خاص د ناوې او پېغلو له خوا ویل کېږي، په ټولنه کې د ناوړو شرایطو او د ډېرو زیاتو ټولنیزو بې عدالتیو، د ښځو او نرو د حقوقو نه برابرتیا او ښځې ته د انتخاب د حق نه ورکولو زېږنده دي.

چغیان د لومړي ځل لپاره پروفیسور ولي محمد خان سیال کاکړ په خپله یوه وړه رساله کې چې (۴۸) مخونه لري، خوندي کړل، چې دغه رساله پر (۱۹۷۰م) کال په کوټه کې خپره شوې ده.

# اخځونه

۱- هېوادمل زلمی (سرمحقق)، د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دوره) لومړی ټوک، ۱۳۷۹ل کال.

۲- یون محمد اسمعیل، (پوهندوی)، د پښتو شعر هندسي جوړښت، ۱۳۷۷ل کال.

۳- خاورې غوټۍ، د پښتو شفاهي ادبیات، شکل او مضمون، ۱۳۶۶ل کال.

عبدالسمیع اتل- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# په پښتو لرغونو ادبیاتو کې مشاعرې



د پښتو منظمو مشاعرو لومړی څرک د پښتو ادبیاتو په لرغونې دوره کې کتلای شو، خو دا مشاعرې د اوسنیو هغو په شان ډله ییزې نه دي او یا هم کېدی شي د ډله ییزو مشاعرو بېلګې تر موږ نه وي رارسېدلي، خو په کلاسیکه دوره کې بیا د ډله ییزو مقیدو مشاعرو بېلګه هم لرو. په لرغونې ادبي دوره کې د ځینو شاعرانو ترمنځ مشاعرې شوي، هغه دا چې یوه بل ته په شعر سره ځواب ورکړی دی. شعر ته په شعر ځواب هم د مشاعرې یو ډول دی، چې د دوو افرادو ترمنځ ترسره کېږي، دلته به ددې ډول مشاعرو څو بېلګې وړاندې کړو:

## د اسمعیل سړبني نارې:

اسمعیل سړبنی د پښتون بابا د کسي د عبدالرشید لمسی و، الله(ج) ده ته ښکاره کمالات او کرامات ورکړي وو، د خدای(ج) په عبادت به بوخت

و او دی به د کسي غره ته ته، نو په کال کې به یو ځل د خپل نیکه (بېټ نیکه) لیدنې ته راته او پس له مرګه یې بیا د هغه زیارت ته د زیارت کولو لپاره ورته. ده د خرښبون بابا د یوه سفر په باب ژوره اندېښنه څرګنده کړې او هغه سفر ده ته د زغملو نه دی، نو ځکه یې دا سوې نــارې لــه خولې ووتلې:

کـــه یون دی یــون دی　　مخکـــــې بېلتـــــون دی

لـــه کســـي غره څخه　　ځــــي خرښـــــبون دی

کـــــــه وروره وروره　　خرښـــــــــبون وروره

ته چـې بېلتـــون کړې　　زمـــا ویـــر تـــه ګـــوره

چې ځـــې مرغې لـــــه　　تـــورې کرغـــې لـــــه

همزولي پــــــاتـــــه　　ځـــې څـــه برغـــې لـــه

د خــــــدای د پـــاره　　خرښـــــبون پــــاره

چې هېر مو نه کــــړې　　زمــــــورِ کهــــــول واړه

زړه مــــــې ویلېـــــړي　　یـــــار مـــــې بېلېـــــړي

بېـــــلتون یـــــې اور دی　　ځـــان پـــه ســـوځېړي.

د اسمعیل سړبني په غبرګون کې د خرښبون بابا ناره داده:

بېلتانــه نــاره مــې وســوه پــه کــور بانــدې
نه پوهېږم چــې بــه څــه پــېښ وي پــه وړانــدې
لــه خپلوانــو بــه بېلېــږم پــه ســرو ســترګو
دواړه ســـترګې مـــې پـــه وينـــو دې ژړانـــدې
اســمعيله ســتا نــارو مــې زړګــی سُــری کــئ
بېلتانــه خرښــبون بيــا لــه تــا پــردی کــئ
نــه هېرېــږي کــه مــې بيــا نــه ســتا يــادی کــئ
پــه چــړو د ويــر بــه پــرې ســي دزړه مرانــدې
ځمــه ځمــه چــې اوږد يــون مــې دی و مــخ تــه
ديــا نــه څــوری بــه اچــوم و تــرخ تــه
ستاســې يــاد بــه مــې وي بــس د زړه وســخ تــه
که دا مځکــه غرونــه تــول ســي لانــدې بانــدې.

## نصر لودي ته د شیخ رضی پاړکی:

شیخ رضي او نصر لودي دواړه د تره زامن وو او پس د تره له مرګه شیخ رضی د سلیمان غرونو ته لاړ، هلته یې د خدای عبادت کاوه او خلک به یې د اسلام دین ته دعوتول، نو بیا خلکو د دوی ترمنځ شیطاني وکړه او دوی یې سره بې اتفاقه کړل، نو شیخ رضی لودي نصر لودي ته دا پاړکی ولیکه چې ته کافر شوی یې او د اسلام دین دې پرې ایښی دی:

د الحـــاد پـــه لـــور دې ترپلـــل
ګـــروه دې زمـــوږ وکـــوراوه
مـــوږ رونلـــی پـــه زیارنـــه
تـــا پـــه تـــورو تـــوراوه
لرغـــون ولـــې ګروهېـــدلې
چـــــې دې ګوښـــــې اړاوه
هغـــه ګـــروه دې اوس اړه کـــړ
چـــې پلـــرو دې رڼـــا وه
لـودي ســتا پـه نامـه سـپک شـو
کـــه هـــر څـــو مـــو درنـــاوه
نصـــره نـــه مـــو يـــې لـــه کهالـــه
لـــودي نـــه يـــې پـــه کـــاوه
زمـــوږ رغـــا ده ســـتا لـــه ګروهـــه
د ورغ لـــــوی پـــــه رغـــــاوه.

خو نصر لودي هم شیخ رضی لودي ته یو پاړکی ولیکه او ورته یې وویل چې زه له خپلې عقیدې نه یم اوښتی دا هسې د دښمنانو تورونه دي او ته به باید د هغوی تورونو ته غوږ کېنږدې:

د الحــاد پــه تــور تــورن ســوم
زه لرغــون خــو ملحــد نــه یــم
زمــا دښــنه هســې تــوراکړي
کــه ملحــد یــم د دښــنه یــم
لــــه اســلامه نــــه ترپلمــــه
تورانــو څخــه پــه ترپلــه یــم
ګــروه مــې هغــه لرغــونی دی
اوس هم کــروړ پــه لرغونــه یــم
د لـــودي زوی ســـنتي یـــم
د حمیــد لــه لــوړ کهالــه یــم
تــوراني دښــن چــې وایــي
زه لــه ګروهــه پــه اړه یــم
دا یــې تــور تاســې دروهــوي
زه مــومن ستاســې پــه تلــه یــم
د دښــنو ویناــوې مــه غــرږه
زه لــودي یمــه څــو زه یــم.

## د خلیل خان نیازي رباعي:

په لودي دربار کې پښتو ادب او ژبې ته پاملرنه کېدله او شاعران هم ښه پالل کېدل. یوه ورځ خلیل خان نیازي د سلطان بهلول لودي په ستاینه کې یوه څلوریزه وویله:

خرې وربخې ژاړي له پـــاسه کویله رږغ کا بېلتون له لاسه
یه هغه لوني گوهر په خول ستا دا مرحبا کا ستا زمورږ مواسه

سلطان بهلول سم لاسي د خلیل خان نیازي په ځواب کـې دا لانـدې رباعي انشاء کړه:

ملک به زرغون کړم په ورکړه راسه گوره اوربخې د داد له پاسه
خـــول مې د عدل په درو روڼ دی جهان به زېب مومي زما له لاسه

د پښتو ادب په لرغونې دوره کې دغه شپږ شعرونه چې د شپږو بېلابېلو شاعرانو له خوا ویل شوي او دوو تنو په خپل منځ کې یوه بل ته ویلي د پښتو لومړنیو مشاعرو بېلگې دي. البته وروسته مشاعرو بله بڼه خپله کړې چې سربېره پر دوو یا څو تنو، ان لسگونو تنو په کې گډون کـړی، هم مقیدې مشاعرې جوړې شوي او هم ازادې، خو په لرغونې دوره کې یې دا څو بېلگې وې چې پورته یې یادونه وشوه.

پاکيزه شينوارۍ- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصله

# په پښتو ادبياتو کې سروکي او نارې

## الف- سروکی (نیمکۍ):



سروکی يا نيمکۍ يو ډول مرکب يا ولسي شعر دی، چې بېلابېل فورمونه يا شکلونه لــري. دا چې د وخت په تېرېدو سره يې بندونه د خلکو له حافظو وتلي دي، يوازې سر يې پاتی دی نــو ځکه ورته سروکي وايي او بيا د ولس له خوا په لنډيو بشپړ شوي، چې په پښتني سيمو کې ډېر رواج لري، ځيې ورتــه سروکي وايي او د پکتيا په منګلو کې ورته پامونه (پام) وايي. په سروکي کې د موضوع له پلوه زياتره د عشق او مينې مسايل منعکس کېږي او د پښتني سيمو د خلکو داجتماعي، ملي او روحي ځانګړنو عکاسي په کې شوې ده. سروکي سره له دې چې زيــاتره برخــه يــې د پښــتو ولســي سندرې پاتې شوي دي، ځينې داسې سروکي شته چې ذوقيــانو جــوړ کړي دي، دا په پښتو ادبياتو کې په عام ډول سروکي بلل کېږي.

سروکي په ټولیزه توګه یو بیت لري، د بیت یوه مسره یا نیم بیتـــي یـــې اوږده او بله لنډه وي. دا چې سر یا سروکی یې بولي سر زیاتره د مقفی بیت په بڼه وي کله د سر اوږده مسره په اول کې او لنډه مسره په اخـــر کې راځي او په ځینو نیمکیو یا سروکو کې لنډه مسره اول او اوږده پـــه پای کې راځي.

کله کله دواړه مسرې متحدالوزنه او متحدالقافیه وي. د ویلو ترتیب یې دا دی چې په منځ کې یې لنډۍ یا ټیکۍ راځي او د لنـــډۍ لـــه لنـــډې مسرې سره د سروکي لنډه مسره برابرېږي.

دغه لنډه مسره که د سروکي په اول کې وي یا په اخر کې او د لنډۍ له لنډې برخې سره د سروکي هغه جوله چې دواړه مسرې یې سره برابرې دي، دویمه مسره تکرارېږي او د لنډۍ د اوږدې مسرې بیا هماغه د سر لنډه مسره او د هغه سروکي چې دواړه مسرې یې برابـــرې وي، دویمـــه مسره یا (نیم بیتي) تکرارېږي، وروسته بیا ټول سروکي تکرارېږي.

هغه سروکي چې لومړۍ مسره یې اوږده، دویمه یې لنډه وي، بېلګه یې داده:

سورکی پېزوان دې په کنډو ختلی لمر دی

چا ویل چې مازیګر دی

د لنډۍ اچول:

موسم بهار وخت د ګلزار دی

چاويل چې مازيګر دی

په ما انګار دی چې پردي وطن ته ځمه

چا ويل چې مازيګر دی

سورکی پېزوان دې په کنډو ختلی لمر دی

چا ويل چې مازيګر دی

هغه سروکي چې لومړۍ مسره يې لنــډه وي او دويمــه يــې اوږده وي، بېلګه يې داده:

خانه راځه دلبره

ډکې لارې د جينکو لندن ته ځينه

د لنډۍ اچول:

د جينکو قدر يې کم که

امان الله ته دې خدای لوښې ورکوينه

درې مسره ييز سروکي:

پسې ورجګ کړه سره لاسونه

**لنډ کړه د ټیکۍ مزي دې**

**خال به دې وران شي**

**سروکي په دوه ډوله دي: عام او خاص**

**الف– عام سروکي: دا ویل شوي سروکي هم په عامو کې راځي.**

**پورې د جانان کډې بارېږي**

**ځم ورسره ځمه**

**کله مې مین زړګی صبرېږي**

**۲– خاص سروکي: هغه سروکي دي چې یوازې د اتڼ میــدانونو کــې ویل کېږي، لکه دا:**

**تا ویشتلی یمه وا بې غوره یاره**

**خوب خوب مې وړینه**

**درځم له ګلو**

**اوس به لمن ډکه دروړم د ګلو**

د سروکو په برخه کې ځینو ښاغلو د پام وړ کارونه کړي او د سروکو په راټولولو کې یې زحمتونه ګاللي، لکه، ښاغلي حبیب الله رفیع، پروفیسور محمد نواز خان او داسې نور.

اوس د پښتو ټولنې د فولکلور څانګې د سروکو یوه لویه مجموعه د چاپ لپار تیاره کړې ده.

## ب- نارې یا غړونه:

نارې ملي اشعار او هغه برخه ده چې په کیسو (افسانو) کې راځي او دا اشعار عموماً د بیت په ډول وي؛ ځینې اوږده او ځینې لنډ وي.

د هرې کیسې د نارې یا غړ سېلابونه کله په خپل منځ کې برابـر وي او کله نه وي او په کوم شعري بحر پورې مقید نه وي.

نارې پر درېیو غټو برخو وېشل شوې دي:

الف- د اتڼ نارې

ب- تاریخي نارې

ج- د نکلونو نارې

الف- د اتڼ نارې: دا نارې په عام ډول د اتڼ په میــدانونو کــې ویــل کېږي. دا نارې په ناسته نه ویل کېږي یوازې په اتڼ کې ویل کېږي او که وویل شي خوند نه لري. دا نارې یوازې د اتنچیانو له خوا ویل کېــږي، د اتڼ نارې د اتڼ له سروکو څخه بېلې دي. دا نارې د ښځو په ښادۍ کې هم ویل کېږي او د نرینه وو په محفلونو کې هم ویل کېږي، خو د ښځو د اتڼ نارې بېلې دي، نرینه هغه په خپلو محفلونو یا اتڼونو کې نه وایي. د اتڼ نارې ډول ډول دي په بېل بېل وزن د اتنچیانو له حرکتو سره سمې ویل کېږي.

لکه ورو اتڼ، یو بغله اتڼ، دوه بغله اتڼ، چپه اتڼ، راسته اتڼ، په ناســته اتڼ، غلی اتڼ او داسې نور...

د دې هر ډول اتڼ له حرکاتو سره سم ناره له خپل وزن څخه اوړي او په نوي وزن یې وایي. د اتڼ نارې د خپل جوړښت له مخې دوه مسره ییزې، درې مسره ییزې او څلور مسره ییزې وي، خو کېدی شي تر دې زیــاتې مسرې هم پیدا شي. د قافیې جوړښت، د مسریو لنډوالی، اوږدوالی او هیجایي سیستم یې همډوله دی. په درې مسریزو او څلور مسریزو نارو کې د مسریو د څپو شمېر سره مساوي نه وي، په درې مسریزو نارو کې لومړۍ او درېیمه مسره سره هم قافیه یا هم اهنګــه وي، وروســتۍ یــا درېیمه مسره معمولاً لویه وي او دویمه مسره یې تر ټولو کــوچنۍ وي، بېلګه یې داده:

**لونگینه پر ځنگ ځنگ راواوړه**

**چې دې شرنگ د بنگړو شینه لونگینه**

*******

**چتې چې په پښو دې کړې چوتې**

**ځوانان دې لېوني کړل**

**زاړه خواران دې وایستل له گتې**

**په دې ناره کې (چوتې یا گتې) د قافیې کلمې دي، لومړۍ مسره یې لس دویمه مسره یې اووه دریېمه مسره یې یوولس څپې ده.**

**ب- تاریخي نارې: دا یو ډول نارې دي چې د پښتو له اجتماعي، سیاسي تاریخ سره اړه لري، دا ډول نارې د هوتکو د پادشاهۍ په واقعاتو، د نادر افشار د راتگ او بیا د لوی احمدشاه بابا د دوران په پېښو پورې اړه لري. دا نارې د ډېرې پخوا زمانې تر پېښو وروسته له همغه وخت څخه په خلکو کې خورې شوې دي، دا نارې ځینې مهمو واقعیتونو او تاریخي نکلونو ته اشاره کوي.**

**نارې د جوړښت له پلوه په عام ډول دوه مسره ییزې دي چې یوه مسره یې لنډه وي او بله اوږده وي، خو قافیه یې یوه وي.**

**بېلګه یې داده:**

**زمری دی شاه ولي د جنګ زمری دی**

**د سنګرو یې ویستلی مرهتی دی**

**د فتح کرنګه نال به دې زرین کړم**

**که دې دا وار فتحه راوړه خپل امېل به ستا د غاړې لونګین کړم**

**ج – د نکلونو نارې: په پښتو نکلونو کې زیاتره د نکل د بیانولو او کیسو په ترځ کې ځینې منظومې ټوټې هم ویل کېږي چې دا ټوټې د نکل نارې بلل کېږي.**

**دا نارې دوه مسریزې او درې مسریزې دي او دا کله هم قافیه وي او کله نه وي. لومړۍ او درېیمه مسره یې یوه قافیه لـري، دویمــه قافیــه یــې هماهنګي نه ساتي. په ځینو درې مسریزو کې درې واړه یوه قافیــه نــه لري.**

**بېلګه یې داده:**

**سر د سره پالنګه هسک کړه فتح خانه**

**یاغي شوی هندوستان رعیت ملکونه**

# اخځونه

**۱- پښتو متون، د پوهنوال محمدصابر خویشکي اثر، بېلابېل مخونه.**

**۲- د شعر هندسي جوړښت،د پوهندوی محمداسمعیل یون اثر، بېلابېلو مخونه.**

**۳- د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغــونې او منځنـــۍ دوره، ســرمحقق زلمــی هېوادمل اثر، بېلابېل مخونه.**

**۴- قافیه او د پښتو نظم شکل یا ډولونه، پوهنوال جــلال الــدین اثــر، بېلابېل مخونه.**

ميوند قاضي- د پښتو څانگې د لومړي ټولگي محصل

# په لرغوني ادب کې سياسي پېښې



په پښتو لرغوني ادب کې يو زيات شمېر پېښې چې په هغه مهال کې واقع شوي، نه يوازې په پښتو شعر کې د هغو يادونه شوې، بلکې ځينې شعرونه له هغو څخه متاثر شوي دي او يا هم د شعر د ټوکېدو سبب شوي دي. دلته به دې ډول ځينو پېښو ته په لنډيز سره اشاره وکړو.

## ۱- د بابا هوتک سندره کې سياسي پېښه:

کله چې مغولو پر اتغر يرغل وکړ، نو باباهوتک قومونه سره راټول کړل او په سره غره کې يې ورسره مقابله وکړه او هغوی ته يې ماته ورکړه، نو بابا هوتک دغه سياسي او پوځي پېښه په سندره کې داسې څرگنده کړې ده:

پښتنو هــلـئ پــر غـــــره جــنـګ دی

سور غر په وینو د دوی رنګ دی

مهال د تورې دی د نـــنګ دی

پر کلي کور بــــاندې مغــــل راغی

ځلمو پر ننګ ځانونه مړه کړئ

دښمن پــه غشــیو مو پېیه کړئ

د پښتونخوا مځکې ساته کړئ

پر کلي کور باندې مغل راغی

## ۲- د امیر کروړ ویاړنه کې سیاسي پېښه:

کله چې د ابوالعباس سفاح له بني امیه سره جګړه وه، نو امیر پولاد او امیر کروړ په کې هم ګډون کړی و، چې امیر کروړ په کې ډېــرې ســوبې وکړې. امیر کروړ ددې جګړې په پای کې ځو بیتونه وویل چې سیاســي پېښه یې په لاندې بیتونو کې ځرګندېږي:

د زرنج سوبه مې د تورې په مخ سور وکړه

په باداری مې لوړاوی د کول د ســور وکړه

ستر مې تربور وکړه　　　　له ما اتله نسته

خپلو وګــــړو لــــره لــــور پېـــــرزوېــــنه کــوم

دوی په ډاډېنه ښه بامم ښه یې روزنه کــــــوم

تل یې ودنه کوم　　　　له ما اتل نسته

## ۳- د شیخ اسعد سوري له خوا د امیر محمد ســوري پــه اړه ویرنه کې سیاسي پېښه:

کله چې محمود غزنوي پر غور باندې یرغل وکړ او امیر محمد سوري یې بندي کړ، نو هغه له ډېر غیرته په بندیخانه کې مړ شو، نو شــیخ اســعد سوري دغه سیاسي پېښه په ویرنه کې داسې څرګندوي:

د محمــــــــــود د ژوبلـــــــــورو پـــــــــه لاس کښـــــــــېوت

چـــــــې غــزنـــــــه تـــــــه یـــــــې بـــــــاتلې پـــــــه تلـــوار

ننګیالـــــــیو لـــــــره قـــــــید مــړیـــــــنه ده ځـــــــکه

ســــــاه یــــــې والــوتلـــــه هســـــک تـــــه پــــر دې لار

تـــــــر نــــــــړۍ یـــــــې غــــــــوره خـــــاورې هـــدیره کـــــا

د زمـــــــریو پـــــــه بـــــــیړیو کلـــــــه وي څـــــــوار

## ۴- د ښکارندوی له خوا د سلطان شهاب الدین په اړه ستاینه کې سیاسي پېښه:

کله چې سلطان شهاب الدین پر هند یرغل کاوه، نو ښکارندوی به هم ورسره د جنګ ډګر ته تلو، نو د سلطان شهاب الدین دغه سیاسي پېښه یې په لاندې بیتونو کې څرګنده کړې ده:

د اسلام د دین شهاب د نړۍ لمر دی
تورستهان یې کړ رڼا په جهادونه
هره پلا چې دې پر هند و سند یرغل کا
رڼوي توره نړۍ په شهابونه

## ۵- د خلیل خان نیازي رباعي کې د سلطان بهلول لودي په اړوند سیاسي پېښې:

کله چې سلطان بهلول لودي له ډېرو جنګونو وروسته هندوستان ونیو او ۳۸ کاله پادشاهي یې هلته وکړه، نو خلیل خان نیازي د هغه د عدل په اړوند داسې رباعي وویله:

خرې وربځې ژاړي له پاسه
کویله رِغ کا بېلتون له لاسه
یه هغه لوني ګوهر په خول ستا
دا مرحبا کا ستا زمور مواسه!

**لیمه- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصله**

# د امیر کروړ د شعر لغوي څېړنه



## لومړی د امیر کروړ پېژندنه:

امیر کروړ سوري چې په جهان پهلوان یې شهرت درلود، د دویمې هجري قمري پېړۍ د اولې دورې شاعر دی. امیر کروړ د امیر پولاد سوري زوی دی او امیر پولاد په غور کې د ملک شنسب له زامنو څخه و، چې په غور کې یې پادشاهي کوله. امیر کروړ پر (۱۳۹هـ ق) کال د غور په مندېش کې پاچا شو، دی یو تکړه، غښتلی، کلک او مضبوط سړی و، په یوه تن به له سلو تنو سره جګړه، نو ځکه کروړ او جهان پهلوان بلل کېده.

پټه خزانه د تاریخ سوري په حواله لیکي: ((... دا امیران له پېړیو پېړیو څخه په غور کې اوسېدل او د هغه سور اولاده ده چې د سهاک له پښته و.)) امیر کروړ د پښتو یو زبردست شاعر تېر شوی دی. داسې ویل کېږي چې یو عادل، ضابط او ښه کلک سړی و او د ښې وینا څښتن و او هر

وخت به یې شعرونه ویل، کوم وخت یې چې جنګونو کې ډېرې فتحې وکړې، نو یو ښه شعر یې ووایه چې ویاړنه یې بولي. دغه شعر او دې ته ورته اشعارو ته رزمي او فخریه شعرونه هم ویل کېږي. امیر کروړ شاعر پر (۱۵۴هــق) کال د فوشنج په جنګ کې وفات شوی دی.

اوس به د امیر کروړ سوري ویاړنه وګورو چې څومره خوږوالی، روانوالی او پوخوالی لري.

زه یــم زمــری پــر دې نــړۍ لـــه مـــا اتـــل نســـته
پـــر هنـــد و ســـند و پـــر تخـــار و پـــه کابـــل نســـته
بـــل پـــه زابـــل نســـته     لـــه مـــا اتـــل نستـــه

غشــی د مــن مــې ځــي برېښـــنا پـــر میرڅمنـــو بانـــدې
پـــه ژوبلـــه یـــو نـــیم یرغـــالم پـــر تښـــتېدونو بانـــدې
پـــر ماتېـــدونو بانـــدې لـــه مـــا اتـــل نســـته
زما د بریو پر خــول تــاوېږي هســک پــه نمــنځ و پــه ویــاړ
د اس د ســوو مــې ځمکــه رېــږدي غرونــه کانــدم لتــاړ
کړم ایوادونه ویجـــاړ          له ما اتل نسته

زمـــا د تـــورې تـــر شـــپول لانـــدې هـــرات و جـــروم
غـــرج و بامیـــان و تخـــار بـــولي نـــوم زمـــا پـــه اودوم
زه پېژندوی یم په روم          لـــه مـــا اتـــل نســـته

په مرو زما غشي لوني ډاري دښن راڅخه
د هریرود پر څنډو ځم تښتي پلن راڅخه
رېي زړن راڅخه له ما اتل نسته

خپلو وګړو لره لور پېرزوینه کوم
دوی په ډاډینه ښه بامم ښه یې روزنه کوم
تل یې ودنه کوم له ما اتل نسته

د زرنج سوبه مې د تورې په مخسور وکړه
په باداری مې لوړاوی دکول د سور وکړه
ستر مې تربور وکړه له ما اتل نسته

پر لویو غرو مې وینا درومي نه په څنډو په تال
نړۍ زما ده نوم مې بولي پر دریځ ستایوال
په ورځو شپو میاشتو کال- له ما اتل نسته

## لغتونه:

زه- من، د مفرد متکلم ضمیر خپل طرف ته اشاره

په- د ربط توري

نړۍ- جهان، دنیا، دارالفنا

له- سربل

اتل- قهرمان

هند- یو اسیایي هېواد

سند- په هند کې د یو ځای نوم

تخار- د افغانستان یو شمالي ولایت

کابل- د افغانستان پلازمېنه

زابل- د افغانستان ولایت

من- عزم، اراده، تصمیم، نیت

میرڅمنو- میرڅمن، دښن، دښمن

ژوبله- جنګ، جګړه، یو بل ژوبلول

یونم- متصل ضمیر دی، یون په مانا د حرکت، حرکت کوم، تلل کوم

یرغالم- یرغل کوم، تخت و تاز

ماتېدونو- ماتې خوړلي

بریو- د بري، کامیابی، کامیابیو، فتحې، سوبې

خول- تاج، جنګي خولۍ

هسک- جګ، بلند، اسمان

نمنځ- افتخار کول، لمانځل

ویاړ- افتخار

سو- پوندې

لتاړ- ګډوډ، تخریب، خرابېدل، له منځه تلل

ایوادونه- هېوادونه، ممالک

ویجاړ- خراب، ړنګ

**شپول- حلقه، احاطه**

**هرات- د افغانستان یو ولایت دی**

**جروم- د بدخشان ولسوالۍ، ګرمسیر، تراوسه پورې هم د افغانستان سهیلي خواته ویل کېږي.**

**غرج- غور، د غور پخوانی نوم و**

**بامیان- د افغانستان مرکزي ولایت دی**

**اودوم- چاره، علاج، درملنه**

**پېژندوی- پېژندل شوی، اوڅار**

**روم- د یو هېواد نوم دی اوس د ایټالیا پلازمېنه ده**

**مرو- ماورالنهر، د آمو سیند پورې غاړه**

**لوني- شیندي، لونل، شیندل، پاشل، تیتول، مصدر دی**

**پلن- پیاده ، پلی**

**هریرود- په هرات یا هري کې د یو سیند نوم دی**

**رپي- رپېدل، لړزېدل**

**وګړو- وګړي، خلک**

**لور- مهرباني، شفقت، رواداري، پېرزوینه**

**ډاډینه- اطمینان**

**بامم- (بامل یې مصدر دی دا یې متصل ضمیر دی) روزم، تربیه کوم، پالم**

**روزنه- تربیه کول**

**ودنه- وده ورکول، روزنه، نشو ونما ورکول**

**زرنج- د نیمروز مرکز**

**سوبه- فتحه**

**مخ سور- سرخرويي، برياليتوب**

**کول- نسل**

**سور- د سور کورنۍ**

**ستر- لوی، مشر، بزرگ**

**دریځ- منبر، د درېدو ځای**

**ستايوال، مداح، ستايونکی**

رحمن الدین- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# د پښتو ادبیاتو پر پراختیایي بهیر کورنۍ او بهرنۍ اغېزې



په ټولنه کې چې هره پېښه رامنځته کېږي، که هغه سیاسي پېښه وي، که اجتماعي، که سیاسي او پوځي، ټول په خپل خپل وار پر ادبیاتو او ادبي بهیر تاثیر کوي. په پښتو لرغونو ادبیاتو کې موږ ګورو چې افغانستان ته د اسلام تر راتګ وروسته، سیاسي، مذهبي او جنګي پېښو پر پښتو ادبیاتو خپل خپل تاثیرات پرې ایښي دي. د امیر کروړ له شعره نیولې، ابو هاشم سرواني، شیخ رضی لودي، نصر لودي، اسمعیل او خرښبون، شیخ اسعد سوري، ښکارندوی غوري، شیخ تیمن، بېټ نیکه، شیخ متي، ملکیار هوتک او نورو ټولو په شعرونو کې ټول هغه مسایل بیان شوي چې د بېلابېلو اجتماعي، مذهبي او سیاسي کورنیو او بهرنیو پېښو په نتیجه کې رامنځته شوي دي.

د امیر کروړ شعر د افغاني ټولنې د داخلي تعاملاتو او تحولاتو نتیجه ده. د ابو هاشم سرواني منظومه ژباړه افغانستان ته د اسلام تر راتګ وروسته د مذهبي اخلاقي تاثیراتو نتیجه ده. د شیخ اسعد سوري

قصیده بیا د کورنیو جګړو او د پاچایي اوښتون د پېښو عواقبو له امله رامنځته شوې ده. د ښکارندوی غوري قصیده بیا هم هند ته د افغانانو د فتوحاتو، سیاسي او مذهبي پېښو انځور- ګري کوي، د ملکیار هوتــک سندره بیا د مغولو د بریدونو پر وړاندې یو عکس العمل دی، بېټ نیکه په خپلو مناجاتو کې د خدای(ج) دربار ته خپل لاسونه پورته کوي چې د پښتون په نغري کې اور بل کړې او د پښتون قام وګړي زیات کړي. لنډه دا چې په لرغونې ادبي دوره کې چې هره پېښه رامنځته شوې، په یو نه یو ډول یې په ادبیاتو کې انعکاس موندلی او ځینې پېښې بیا داسې دي چې خپله د ادبیاتو د راټوکېدو سبب شوي دي. دا سیاسي، ټولنیزې او پوځي پېښې بیا منځنـــۍ دورې او وروســـته معاصـرې دورې تــه هــم راغځېدلي او هرې پېښې په خپل وخت کې خپل خپل تاثیرات پرېښي دي او ادبیاتو کې یې انعکاس موندلی دی.

د رنسانس تر پیلېدو وروسته په نړۍ کې ځینو اقتصــادي او فرهنګـــي تحولاتو یو په بل پسې د بریالیتوب پړاوونه ووهل. په اتلسمه پېړۍ کې ډېره مهمه پېښه چې په نړیوال ډګر کې یې زیات ارزښت درلود هغــه د فرانسې لوی انقلاب و او بیا وروسته په انګلستان کې د صنعتي انقلاب اغېزو هم په ټوله نړۍ کې ځینې اساسي او بنسټیز بدلونونه رامنځتــه کړل.

کله چې د فرانسې لوی انقلاب (۱۷۸۹ز) بریـالی شــو، د افغانســتان د حکومت واګي د تېمورشاه په لاس کې وو، که څــه هــم د فرانســې او افغانستان د ټولنو ترمنځ د اقتصادي او ټولنیزې قانونمندۍ له مخې ډېر توپیر او تفاوت موجود و، تېمورشاه یو مطلق العنان پاچا و، د فیوډالیزم د له منځه وړلو لپاره د فرانسې انقلاب بریالی شو، دغــه انقــلاب لکــه څنګه چې پر ټوله نړۍ یې اغېزه وکړه همدا راز افغانستان هم ترې بــې تاثیره پاتې نه شو.

په هغه وخت کې افغانستان د ځــانګړي ارزښــت لــه مخــې د ځینــو پرمختللیو هېوادونو پام ځانته راوګرځاوه، روسیې او فرانسې په ګــډه (۷۰) زره کسیز پوځ ترتیب کړ، بیا یې د زمانشاه دربار ته یــو اســتازی واستاوه، دواړه دې نظر تــه رســېدلي وو چــې د افغانســتان لــه لارې بریالیتوب ترلاسه کړي او د سند له لارې پر هند ورودانګي، خو څنګــه چې په خپله زمانشاه د (۵۰) زرو په شاوخوا کې پوځ درلود، ځکه یې د ناپلیون غوښتنه ونه منله.

انګلیس له فرانسې او روس نه وېره نه درلوده، خو له شازمان څخه یې وېره ځکه درلوده چې د احمدشاه بابا په زمانه کې یې د افغانانو د ننګ او جنګ توره او مېړانه لیدلې وه، نو ځکه یې له یوې خوا قاجاریان او له بلې خوا سکان د هغه پر وړاندې لمسول. د انګرېزانو د همدې مخالفت په نتیجه کې زمانشاه ماتې وخوړه او شامحمود د پردیو او فتح خان په

مرسته پاچا شو. د زمانشاه تر ماتې وروسته ر نجیت سنګ د پنجــاب د استقلال اعلان وکړ او د شلو کالو په موده کې یې اتــک کــلا، ملتــان، کشمیر، ډېره غازي خان، ډېره اسمعیل خان او پېښور یو په بــل پســې لاندې کړل. تر دې وروسته بیا مشهد او نیشاپور قاجاریانو ونیو د افغان حکمران میرزا نادر د کورنۍ (۳۸) غړي یې پرته له یوه ماشومه ووژل.

له دې ناوړو حالاتو سره بیا هم پښتانه که له یوې خوا تــوره پــه لاس د دښمن پر وړاندې جنګېدل، خو له بلې خوا به عوامي سندرې په دېرو و هوجرو کې د قومي ننګ، پښتونولۍ، تورې او مېړانې په خاطر د اسلام لپاره د قربانۍ په جذبه ویل کېدلې. ددې تر څنګ د ختیــزې کمپنـــۍ (شرق الهند) اهداف هم خلکو ته څرګندېدل، دا ځکه چې دغه کمپنۍ اوس یوازې یوه تجارتي او اقتصادي کمپنۍ نه، بلکې یــوه سیاســي او نظامي کمپنۍ هم وه.

دې کمپنۍ پر پښتنو هر اړخیزه اغېزه وکړه، هم له سیاسي پلوه او هم له اقتصادي پلوه. دغه دواړه عناصرو د خلکو د عامه شعور د بیدارولو لپاره بې تاثیره نه وو.

نامتو مستشرق ((ډار مستټر)) لیکي: (( پښتو چــاربیتې د پښــتو یــو لیکلی تاریخ دی، چې د دوی د جنګونو او غزاګــانو کــړه وړه پــه کــې خوندي شوي دي.))

پر حماسي او رزمي چاربيتو سربېره نيمکۍ او لنډۍ هم په دغه دور کې د ولسي پاځون لپاره ويل شوې دي او ددې چاربيتو ډېره برخه مشهور فرانسوي ((ډارمستټر)) په خپل کتاب (( د پښتونخوا د شعر هار و بهار)) کې راټوله کړې ده. په دغه ملي سندرو کې يوازې د ننګياليو ستاينه نه ده شوې، بلکې د هغو کسانو غندنه هم شوې چې د پښتنو د دښمنانو ترڅنګ درېدلي دي.

مګر ددغو سندرو روح حماسي رنګ لري او يو ټاکلی زمان په ګوته کوي.

پښتنو که له يوې خوا توره چلوله، نو له بلې خوا يې قلم هم چلاوه او د ځوانانو د احساساتو او جذباتو د يادولو لپاره يـې چـاربيتې غږولـې او کښلې، زه دلته يوه چاربيته د بېلګې په توګه راوړم:

قاصـــده پادشـــاه راغـــی يوســـفزی ولړزېـــدو
پـــه نيـــت د غـــزا لاړو پـــه نوښـــار ورژېـــدو
قاصـــده پادشـــاه راغـــی رالېږلـــی عظـــيم خـــان
د اولـــه يـــې جرګـــه کـــړل ملايـــان او ملکيـــان...

د پښتنو په سياسي سياليو او اتلوليو کې د ولسي ادب اتلولي د هېرولو نه ده، نو ځکه زموږ د تاريخ په زړه کې دغه حماسې، قربانۍ او اتلولۍ نه هېرېدونکې او نه پناه کېدونکې دي. د بېلګې په توګه د هغه وخت يـو شعر لولو:

پـــه وطـــن قربـــاني ورکـــړه زمـــا وروره
رنــګ پــه وینــو پنځــه ســوه ځوانــان ګــوره
چې یې ځــه قربــاني ورکــړه پــه میــدان کــې
ننګیـــالي پښـــتانه هســـې وي هـــر کـــوره
غل مې تل د ژوندون مــرګ وي کــه پــوهېږي
که پښتون یې ځان خلاص کړه لــه دې پېغــوره
په دښمن چــې د ځــان وینــه تویــه نــه کــړي
واکـــداري د وطـــن مـــه غـــواړه ای وروره
خپلـــواکي همـــېش پـــه تـــوره حاصـــلېږي
جنـــت هـــم د تېـــغ د ســـیوري لانـــدې ګـــوره
کـــه پـــه عـــیش او راحـــت ازادي غـــواړې
شـــرمنده او خـــالي لاس بـــه ځـــې لـــه کـــوره.

په پښتو لرغوني، منځنۍ او اوسنۍ ادبي دورو کې په لســګونو داســې سیاسي، اجتماعي او نورې پوځي پېښې لیدلای شو چې هــم یــې پــر ادبیاتو مستقیم تاثیر کړی دی او هم یې زموږ په ادبیاتو کــې انعکــاس موندلی دی.

صالحه عثمانزۍ- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصله

# په پښتو لرغونو ادبیاتو کې حکایت



حکایت د نړۍ د اکثرو ژبو په ادبیاتو کې مطرح دی، خو د فارسي ژبې د کلاسیکو ادبیاتو پــه بهیر کې په دې ژبه کې زیات ښــکاره کېــږي، چې د لنډې کیســې، داســتان پــه مانــا دی. حکایت د مظومې یا منثورې کیسې لــه ډلــې شمېرل کېږي، هغه څه چې په حکایت کې وي ممکن هغه واقعیت ولري او یا هم له واقعیت څخه خبرې وکړي. یــا دا چې خیالي یا ناواقعي وي. یانې هر څه چې بیــانوي خیــالي وي هــېڅ واقعیت ونه لري. د نړۍ کابو هر ولس ځانته خپل نکلونه او حکایات لري او خلک هم نسبت نورو ادبي اثارو ته د حکایاتو له اورېدو او لوستو سره ډېره مینه ښیي.

زموږ په ولس کې هم له ډېرې پخوا زمانې دغه نکلونه موجود دي، چې په کلیو او بانډو کې یې خلک د تفریح د یوې وسیلې په توګه له ویلو او اورېدلو څخه خوند اخلي، اما د پښتو په تحریري (لیکنیو) ادبیاتو کــې

موږ حکایتي منظوم اثار په لسمه هجري پېړۍ کې مومو. په دغو حکایتي اثارو کې تر ټولو پخوانی اثر د زرغونې پښتو بوستان دی، دغه اثـر لـه فارسي څخه پښتو ته راژباړل شوی، چې زه یې د حکایت یوه نمونه دلته راوړم:

اورېــــدلـــــې مـــې قیصه ده　　　　چې له شاتو هــم خــوږه ده

په پښتو کې نظم شوی حکایتي اثر د دوست محمد کـاکړ (غرغښــت نامه) ده، د حکایت نمونه یې داده:

لـــه نـــېکانـــو روایــــــت دی　　　　هســې توګــه حکایــت دی
نورمحـــــمد کــــاکــــړ راوي دی　　　　چې یې فیض تل جاري دی

دلته به ددې حکایتونو د شاعرانو د ژوند او بیا د حکایتونو پوره برخــه تاسو ته وړاندې کړو.

محمد هوتک په پټه خزانه کې وايي: ((زرغونه د ملا دین محمد کاکړ لور وه، په پنجوایي کې اوسېده او له پلاره یې وکـا تحصــیل د علومــو او د فصاحت احکام یې زده کړل، د فصحاوو اشعار یې ولوستل. زرغونه پــه حباله د سعدالله خان نورزي وه، چې توریالي زامن یې درلودل او ټول د علم او هنر خاوندان وو، ماته هسې نقل وکا زما پلار چې زرغونې د شیخ مصلح الدین سعدي رحمة الله علیه کتاب د بوستان ټول په پښتو شعر نظم کا او نوم یې و ((بوستان د پښتو)) چې دا کتاب یې پر (۹۰۳هــق)

**کال پایته ورساوه او ټول نکات عارفانه او نصایح حکیمانه یې په پښــتو کړل، سربېره پر دې زرغونې نور اشعار او غزلونه هم وویل او په زمــره د فصحاوو یې شهرت وکا، هسې چې موزونانو د روزګــار بــه یــې اشــعار لوستل او د پښتو په بوستان یې سیر کا او ګلونه د پند او نصیحت به یې ټولول. هسې وایي: چې زرغونه کمالداره ښځه وه، خط یې خورا ښه و او کاتبانو به یې له حسن خط، اقسام د خط زده کول. زما پلار هسې وویل: چې په سنه (۱۱۰۲) هجري ما د زرغونې په خــط ((بوســتان د پښــتو)) ولید، چې خپل اشعار یې په خپل ښه خط هسې کښلي وو، چې مغلرې یې خط ته عاجزې کا او دغه حکایت له هغه کتابه زما پلار په یاد و چې زه یې په خزانه کې کاږم:**

**حکایت له بوستانه د پښتو**

**اورېـــــدلې مې قیصه ده — چې لـــه شاتو هم خوږه ده**

**د اختــــــر په ورځ سهار — بایزید چــــــــې و رویدار**

**له حمامه راوتــــــــلی — په کوڅه کې تېــــــرېدلی**

**ایرې خاورې چا لـــه بامه — راچپه کړلې ناپـــــــامه**

**مخ او سر یې سو کـــــکړ — په ایرو په خاورو خـــــــړ**

**بایزید په شکر کـــښو سو — د خپل مخ په پاکېدو ســو**

**چې زه وړیم د بـــــــل اور — چې په اور کې سم نسکور**

**له ایرو به څه بد وړمــــــه — یا به لږ شکوه کومــــــــه**

هو پوهانو ځان ایـــرې کړ      لـــه لوینې یې ځان پرې کړ
څوک چې ځان ته ګوري تل      خــدای ته نه سي کړای کتل
لویي تل په ګفتار نـــــه ده      لو خـــــــبره په کار نه ده
تواضع به دې سر لوړ کـــــا      تکبر به دې تـــــــل څوړ کا.

د پښتو ژبې بل حکایت ویونکی شاعر ملا پیرمحمد دی. په پښتو ادبي تذکره کې دده ذکر داسې کېږي: ((ملا پیرمحمد هوتـک د مـلا سـرور مغفور زوی دی چې ملا سرور له میا فقیرالله صاحب څخه زده کړه کړې ده او ملا پیرمحمد له خپله پلاره فیض وموندده. د علیین مکان حـاجي میرخان سره په جنګو کې ملګری و، چـې د شـاه ظـل الله ورور شـاه محمود ادام الله دولتهم اصفهان ته ولاړ، ملا پیرمحمد هـم یـې هلتـه وغوښت او له انفاس میمون یې استفاده کا او خلک د خدای شریعت او امام اعظم صاحب مذهب ته رابولي، نقل کا: چې میـاجي صـاحب لـه روافضو سره مباحثې کا او په دلایلو علمي دوی ملامت کـا چـې لکـه علمای روم چې په اصفهان کې دي هم د ملا پیرمحمد صاحب عزت کا او ((پیر افغان)) یې لقب کا، میاجي صاحب له علم اخلاق کې یو کتاب دی چې (القرایض فی رد الروافض) یې نوم دی په افضل الطرایق کې یې دا حکایت کښلی دی چې زه یې له هغه کتابه دلته ثبت کاندم چې پـه دې کتاب کې یادګار وي.))

## حکایت

شیخ متـــــي چې خلیلي و
دی لـــــــه آر لوی ولي و

یوه ورځ روان پـــــــر لار و
لوی ښښتن په اســـتغفار و

کړ ده ذکر د غفــــــــــار
یو شېبه نه و وزګـــــــار

پر دې لار وې تیرې ګتـــــې
لارې مځکې وې په بتـــــې

ډېرې شپې راغلې رویـــدار
چې یې صافه کړلـــــــــه لار

یو دهقان به ابیاري کـــــړه
شپه په شپه به یې خواري کړه

ده به لید په توره شـــــــپه
شیخ متي په زیار اخـــــــته

له راحته په بېــــــــــزار و
توله شپه به هم بیـــــــدار و

یوه شپه راتېر ملیــــار سو
شیخ متي ته په ګفتار ســـــو

ای د خدای رویداره څه کړې
دومره زور زحمت پر څه کړې؟

ته بادار یې د ولیـــــــانو
ته قدوه د صالحــــــــــانو

ستا د خاورې ســـره زر دي
د هر چا کجل البـــــصر دي

په شپو شپو یې ته بېخواب
په زحمت په اضطـــــــــراب

پا کوې د لارې ګـــــــــتې
په دې خاورو څــه دي ګتې؟

داسې ووې شیخ مـــــــتي
د مولا په عشـــق پـــــــتي

چې خدمت د خـــــلق الله
یو ګړی په یـــوه ســـــــاه

تر هر څه بهتـــر دی وروره
زده کړه دا خبـــره ګـــوره!

ولې پاته له تا نــــــــور دي
شپې او ورځې دې په کور دي

څه جهاد کړه پر تا فرض دی
دا هم ستا د غاړې قرض دی

| | |
|---|---|
| یـــــوه ورځ جهاد افضل | تر کلو کلو لمــــــــــانځل |
| څوک چې تل لمونځ و روژه کا | په جهاد به یــــــې پوره کا |
| لومړی شــرط د دین همدا دی | بیا خدمت د خلـــــق الله دی |
| له تا پاتــــــه دواړه دي نه | ځان خبر کړه ښه له دینــــــه |
| توره واخله مجـــــاهد شه | د لوی خدای د دین قــاصد شه |
| د خدای نور پر جهان خـپور کړه | دا خدمت یې په ځـــان پور کړه |
| چې دې بشپړ عبادت شـــي | ځان دې خلاص له مصیبت شي |
| چې له خوبه ویښ کاکړ ســو | د غزا پر خوا نـــومړ ســـو |
| زغره خول یې اراســـته کړل | د غزا غشي تېره کـــــــړل |
| هرات خواته په تلو تلو ســـو | د سلطان غیاث له مـــــلو سو |
| وېکړه هورې جهادونــــــه | د سلطان مل شو په مــــلونه |
| څو هورې تر دنیا تېرســـــو | د غازیانو په ټول شمېر ســـــو |
| چې یې هلته هم وفات ســـو | ښخ په خاورو د هرات ســـــو |
| مېره هسې ژوندون کانـــدي | مري د خدای په رضا بــــانـدې. |

د پښتو ادبیاتو مشهورې او مهمې ادبي تذکرې پټې خزانې لیکوال محمد هوتک وایي: ((د بابرخان زوی و، چې د کاکړ بابا د زیـارت لپاره په کال (۹۱۲) هجري ولاړ هرات ته او بیا چې راغی ړوب ته په کال (۹۲۹) هجري یې یو کتاب په شعر نظم کړ، چې نوم یـې دی (غرغښت نامه) دا کتاب چې ما ولیدی، شیرین بیتونه په مثنوي

لري او د غرغښت بابا قدس الله سره الكريم حكايـات دي او لــه رښتينو خلقو يې روايات راجمع کړي دي. دغه کتاب زما پلار پــه توبه کې ميندلی و او زموږ کهول کې مو کوچنيو او ژنيو په ســبق لوست.))

دوست محمد عليه الرحمه په خپل کتاب کې کښلي: چې زما پلار بابړخان هم يو کتاب په شعر کښلی و، چې نــوم يــې و ((تــذکره غرغښت)) هغه وخت چې بابرخان وفات شو او زه پر کور نه وم، نو هغه کتاب ورک شوی دی او چا ضايع کړی، زه چې راغلم، د خپل پلار په ماتم هسې ويرجن شوم، لکه چې کتاب ورک و، ما خــو د هغه کتاب خبرې اورېدلې او په وارو وارو ويلې او هم مې يو څه له هغو څخه په ياد وې، نو ما پر خدای توکل وکا او هغــه قيصــې او روايات مې بيا په شعر وويل، خدای تعالی دې زمــا د پــلار ســعې مشکوره کا:

## حکايت له غرغښت نامې څخه

لــــه نېکـــــانو روايـــت دی ‌ ‌ ‌ هســـې توګـــه حکايـــت دی
نورمحمـــد کـــاکړ راوي دی ‌ ‌ ‌ چې يې فـيض تـل جـاري دی
د نيکونــو لــه خــولې وايــي ‌ ‌ ‌ چې منښـت يـې راتـه ښـايي
چــې کــاکړ نيکــه زاهــد و ‌ ‌ ‌ لــوی څښـتن لـه تـل عابـد و
تــل تــر تــل يـې عبـادت کـا ‌ ‌ ‌ پـر دې ليـار يـې رياضـت کـا
شپې يې روڼې په لمانځوې ‌ ‌ ‌ پـــه ژړا و پـــه نـــارو وې
نه يې خوب نه يې خوراک و ‌ ‌ ‌ عبـادت يــې ژونــدو ژواک و
چې بـه کېناسـت پـه لمانځنـه ‌ ‌ ‌ يابـــه کېـــوت پـــه ســـتاينه
ورځ يــې ټولــه پــه قعــده وه ‌ ‌ ‌ شــپه يــې هــم يــوه ســجده وه
تــل يــې ســير د لاهــوت کــا ‌ ‌ ‌ بـد يـوه ګولـه يـې قـوت کـا
غــرق بــه تــل پــه ذکــر الله و ‌ ‌ ‌ هـــر ســـبا او هـــر بېګـــاه و
يــوه شــپه يــې عبــادت کــا ‌ ‌ ‌ پـــر ګنـــاه يـــې نـــدامت کـــا
سترګې پټې سوې لـه خوبـه ‌ ‌ ‌ پـه شپو شپو يې و ويښتوبه
هسې خوب يـې وليـد ګرانـه ‌ ‌ ‌ چـې غرغښـت ښـيي پنهانـه
وايــــې ای کــــاکړه زويــــه ‌ ‌ ‌ لـه تـا خـوښ يمـه نېکخويـه

**دغه راز د پښتو لرغونې ادبي او بيا تر هغې وروسته په منځنـۍ ادبـي دوره کې نور حکايتونه هم شته چې ما يې هغو مشهورو ته اشاره وکړه.**

محمداسمعیل سنگر– د پښتو څانگې د لومړي ټولگي محصل

# په پښتو لرغونو ادبیاتو کې نړه پښتو کلمې



په پښتو لرغونو ادبیاتو کې داسې سوچه پښتو کلمې شته چې ځینې یې د وخت په تېرېدو سره له استعمال غورځېدلي، خو ځینې یې لا هم په همغه بڼه او شکل تر اوسه کارول کېږي، زه دلته یوازې د همدغو نړه یا سوچه پښتو کلمو یادونه کوم:

| گڼه | کلمې | مانا |
|---|---|---|
| ۱ | من | اراده، عزم، نیت |
| ۲ | میرڅمن | دښمن، غلیم |
| ۳ | ژوبله | جنگ، یو بل ژوبلول |
| ۴ | یرغالم | یرغل کوم، هجوم کوم |
| ۵ | ماتېدونو | ماتې خوړونکیو، شکست خوړلیو |
| ۶ | خول | د جنگي جامو خولۍ، اوسپنیزه خولۍ |
| ۷ | نمنځ | احترام، تعظیم، ستاینه، درناوی |

| | | |
|---|---|---|
| ۸ | ویاړ | افتخار، فخر |
| ۹ | ویاړنه | فخریه |
| ۱۰ | سو | سومان |
| ۱۱ | لتاړ | برهم، خراب، اخته |
| ۱۲ | اوجاړ | خراب، ویجاړ، ړنګ |
| ۱۳ | شپول | احاطه |
| ۱۴ | اودوم | علاج، چاره، درملنه |
| ۱۵ | پېژندوی | پېژندل شوی، شناسا، اوڅار |
| ۱۶ | لوني | وروي، خپرېږي، ویشتل کېږي |
| ۱۷ | دښن | دښمن، غلیم |
| ۱۸ | پلن | پلی، پیاده |
| ۱۹ | رپي | رپېږي، رېږدي |
| ۲۰ | زړن | زړور، شجاع |
| ۲۱ | مخسور | سرخرویي، بریالیتوب |
| ۲۲ | کول | خاندان، نسل |
| ۲۳ | لور | پېرزوینه، رواداري، مهرباني |
| ۲۴ | بامم | روزم، تربیه کوم، پالم |
| ۲۵ | ودنه | وده ورکول، روزنه، نشو نما ورکول |
| ۲۶ | ټال | ځنډ، ځنډېدنه |
| ۲۷ | بولي | یادوي، ګڼي |
| ۲۸ | دریځ | د درېدوځای، منبر |
| ۲۹ | ستایوال | ستایونکی، مداح |
| ۳۰ | ژبور | سخنوران، ژبغړاندي، تېز ژبي |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۱ | نتلی | زبون، محزون، غمجن |
| ۳۲ | خړو | مجازاً د بدو په مانا |
| ۳۳ | سونې | دروغ |
| ۳۴ | وبولي | ووايي |
| ۳۵ | تېرون | تجاوز، ظلم، زياتی، تعرض |
| ۳۶ | پرتم | شوکت، مهابت، دبدبه |
| ۳۷ | پاړکي | د شعر ټوټې، سرودونه |
| ۳۸ | ترپلل | غورځېدل، تېښته کول |
| ۳۹ | گروهه | اعتقاد، عقیده |
| ۴۰ | وکوراوه | باطل کړ |
| ۴۱ | زيارنه | کوښښ، زيار، زحمت |
| ۴۲ | وتوراوه | تور ورپورې کړ، تومتي کړ |
| ۴۳ | گوښې | يوازې، وروسته |
| ۴۴ | اړه | د اړول له ريښې څخه، تبديل |
| ۴۵ | کهاله | خاندان، کورنۍ |
| ۴۶ | رغا | د رغولو په مانا |
| ۴۷ | تورن | تهمت زده، تهمتي |
| ۴۸ | کروړ | ټينگ، محکم، کلک |
| ۴۹ | مه غړه | مه اوره، مه منه |
| ۵۰ | دروهوي | غولوي، دوکه کوي |
| ۵۱ | ناورين | غم، ماتم، مصيبت |
| ۵۲ | سادين | شدياره کړې ځمکه، اړول شوې ځمکه |
| ۵۳ | نول | پرېشاني،غم |

| | | |
|---|---|---|
| ۵۴ | تاخون | ځیگرخوني، د زړه غم، د زړه نول |
| ۵۵ | شهۍ | معشوقه، محبوبه |
| ۵۶ | پېر | نوبت، دور، گردش، حالت |
| ۵۷ | اغلې | ښکلې، ښایسته، گلالۍ، منلې، ډولي |
| ۵۸ | اوربل | کورنۍ، مسکن، ځای |
| ۵۹ | کړاوون | وریتول، کبابول، کړه ول |
| ۶۰ | کوکار | فریاد، چیغه، کړیکه، کریړه |
| ۶۱ | زمولوي | پژمرده کوي، مړاوي کوي |
| ۶۲ | اوکوب | شان او شوکت |
| ۶۳ | سکني | غوځوي، بیاتي کوي |
| ۶۴ | ژوبلور | جنگي، سپاهي، عسکر |
| ۶۵ | ځغلا | تېښته، منډه |
| ۶۶ | ویرژلی | غمجن، ویرغاړی |
| ۶۷ | کراړ | سخت، کلک، مضبوط |
| ۶۸ | ناتار | تاراج، تاړاک |
| ۶۹ | شنار | شوم، نامبارک، خرابي |
| ۷۰ | ترار | ناکراره، وارخطا، ترهور |
| ۷۱ | ټپونه | زخمونه |
| ۷۲ | زگېروی | د ناروغ فریاد، نالښت |
| ۷۳ | مراندې | د خېمې تنابونه |
| ۷۴ | ټکه | صاعقه، تندر، اسماني افت |
| ۷۵ | پلاز | تخت |
| ۷۶ | سما | اصلاح، انصاف، سمونه |

| | | |
|---|---|---|
| ۷۷ | تېکنه | عدالت |
| ۷۸ | اوڅار | ظاهر او ښکاره، څرګند، معروف |
| ۷۹ | بېړۍ | زولنې |
| ۸۰ | چړتون | قاش یا د تورې پوښ |
| ۸۱ | ساندې | ویر، ماتم، په مړي پسې ژړا |
| ۸۲ | زرغا | سرسبزي، زرغون، سمسور، غوړېدلی |
| ۸۳ | لاښ | د غره کمر، پاڼ |
| ۸۴ | جوپه | قافله، ډله |
| ۸۵ | تون | ځای |
| ۸۶ | جاندم | جهنم، دوزخ |
| ۸۷ | ټبر | قوم، خاندان |
| ۸۸ | سوراړ | وچه او توره دښته |
| ۸۹ | ویرمن | غمجن |
| ۹۰ | نیلی | آس |
| ۹۱ | لونل | شیندل، پاشل، خپاره کول |
| ۹۲ | جاجي | فکر کوي، سوچ کوي |
| ۹۳ | رامشت | ساز او سرود |
| ۹۴ | بربڼ | لوړ باغ، بر باغ |
| ۹۵ | چندي | شاعر، ناظم |
| ۹۶ | پیودی | نظم کوي، ځېلوي، ځلوي |
| ۹۷ | اشلکونه | اشعار، منظوم کلام، شعرونه، نظمونه |
| ۹۸ | وړنګن | وړانګې لرونکی |
| ۹۹ | شڼ | مست |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۰ | سهان | ځمکه، ځای، هېواد |
| ۱۰۱ | شهابونه | ځلانده ستوري |
| ۱۰۲ | تېرون | د تېرېدل له مصدر څخه تېرېدنه، عبور |
| ۱۰۳ | پرتم | دبدبه، شان، شوکت |
| ۱۰۴ | ایلایي | اطاعت، متابعت |
| ۱۰۵ | ایړ | کښتۍ، د کښتیو یا سمندري پوځ یوه ډله چې د یوه تن تابع وي، کتار |
| ۱۰۶ | سال | میده شګه، سرمه رېګ |
| ۱۰۷ | ختې | البسه، جامې، کالي |
| ۱۰۸ | بټ بېدیا | تود بیابان، سوځنده دښته، میره |
| ۱۰۹ | څنډونه | څنډې، غاړې، افقونه |
| ۱۱۰ | برېځر | ضحی، څاښت، غرمه |
| ۱۱۱ | برمل | ماسپښین، برمهال |
| ۱۱۲ | لرمل | مازیګر، لرمهال |
| ۱۱۳ | سرمل | ماښام، تیاره مهال |
| ۱۱۴ | ورمېږ | مغزی، څټ |
| ۱۱۵ | بمبڼ | د هندوانو پیر، پنډت، برهمن |
| ۱۱۶ | بودتون | بتکده، د بتانو ځای، بتتون |
| ۱۱۷ | نمزدک | مزګټ، مسجد، جومات |
| ۱۱۸ | نست | نابود، نشت |
| ۱۱۹ | زېرمه | ذخیره |
| ۱۲۰ | پاسوال | ساتونکی، محافظ |
| ۱۲۱ | پلور | خرڅول، قیمت |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲۲ | ځرى | قاصد، استازى |
| ۱۲۳ | پنځ | خلقت، پيدايښت، زياتېدل |
| ۱۲۴ | سورې | كړيكې، چيغې، نارې |
| ۱۲۵ | باړې | د ګټې غوښتنه، مزد، اجوره |
| ۱۲۶ | ميرځي | دښمني |
| ۱۲۷ | سود | اطمينان، تسلي، ډاډ |
| ۱۲۸ | سوب | حاضر |
| ۱۲۹ | سوان | سهولت او رعايت |
| ۱۳۰ | نېز | سېلاب، لوى سېلاب |
| ۱۳۱ | اپوته | پرېشان، پرمخ، لالهاند، ځپلى، سرچپه |
| ۱۳۲ | څورنګ | زخمي، ژوبل، وهلى شوى، ټپي |
| ۱۳۳ | مواسه | محافظ، نګهداره، ساتندويه |
| ۱۳۴ | څرخ | ننوتل، څرخېدل، جګېدل |
| ۱۳۵ | ربل | رواداري، پېرزوينه، لورېينه |
| ۱۳۶ | ښهانه | خوبي، نېكي، ښېګنه |
| ۱۳۷ | نومړ | نامزد، نوموړى |
| ۱۳۸ | ملونه | د مل جمع، مله، ملګري |
| ۱۳۹ | بوللــه | قصيده |
| ۱۴۰ | مكېز | ناز |
| ۱۴۱ | ايواد | اوسنى چې موږ ورته هېواد وايو |
| ۱۴۲ | يون | تګ، حركت، پرمختګ |
| ۱۴۳ | مټ | بازو |
| ۱۴۴ | ستر | لوى، واكمن، مختار |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۴۵ | ټاټوبی | قرارگاه، کلی، کور |
| ۱۴۶ | کټاره | نېزه |
| ۱۴۷ | کوکې | د ژړا نارې |
| ۱۴۸ | پېلوځې | د اور بلولو خاشې |
| ۱۴۹ | ملوکه | محبوبه |
| ۱۵۰ | هسک | اسمان |
| ۱۵۱ | ستهه | بېخ |
| ۱۵۲ | سوبمن | فاتح |
| ۱۵۳ | لوینه | تکبر، لویوالی |
| ۱۵۴ | گواښل | منع کول، وېرول |

## اخځونه


۱- د پښتو ادبیاتو تاریخ، پوهاند عبدالحی حبیبي، بېلابېل مخونه.

۲- د پښتو ادبیاتو تاریخ، لرغونې او منځنۍ دوره، سرمحقق زلمی هېوادمل، بېلابېل مخونه

۳- د پښتو لرغوني متون تدریسي چپټر، د پوهندوی محمداجان حقپال اثر.

فرحناز حیدري- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصله

# د پټې خزانې پېژندنه



پټه خزانه د هوتکي پاچا اعلیحضرت شاه حسین هوتک د پېر نامتو لیکوال محمد هوتک د داود خان هوتک زوی هغه تذکره ده چې په (۱۱۴۱-۱۱۴۲هـ ق) کلونو کې لیکل شوې او د پنځوسو پښتنو شاعرانو او لیکوالو ژوندلیکونه یې د تاریخ د خاورو په زړه کې ساتلي دي.

دغه اثر پر (۱۳۲۲ل) کال لوی استاد علامه پوهاند عبدالحی حبیبي وموندو او وروسته یې بیا له پارسي ژباړې سره خپور کړ د پټې خزانې له برکته د پښتو ادبیاتو تاریخ ډېرې ورکې خو نامتو څېرې رابرسېره شوې. دا اثر دا زباتوي چې پښتو ژبه لرغوني ادبیات لري، خو د وخت ناخوالو، پېښو او جګړو ورڅخه ډېر څه خوړلي دي، که څه هم د پټې خزانې تر خپرېدو کلونه وروسته یو شمېر پښتو دښمنو او پردیپالو عناصرو پر دغه کتاب بې مانا او بې منطقه نیوکې هم وکړې او ځینو خو لا دا کاذبه دعوه هم کړه چې دغه کتاب ګواکې (جعلي) دی.

علامه حبيبي د محمدهوتک د پټې خزانې پر رابرســېره کولــو ســره د پښتو ادبياتو په تاريخ کې د يوې داسې څېرې په توګه وپېژندل شو، چې د پښتو ژبې لرغونی تاريخ يې راژوندی کړ او ټولو پښتنو د لوی اســتاد عبدالحی حبيبي دغه هڅه ډېره وستايله. د پټې خزانې تر خپرېدو پورې داسې ګومان کېده چې پښتو ادب له بايزيد روښــان، خوشــال بابــا او رحمان بابا څخه راپيلېږي، په داسې حال کې چې پټې خزانې ثابته کړه پښتو ادب ډېر پخوانی تاريخ لري. د شلمې پېړۍ له پيله چې د پښــتو ژبې او ادب د پرمختګ لپاره يو ملي غورځنګ راپيل شو او يــو شــمېر فاضلو استادانو ددغې ژبې د ادب د تاريخ تياره ګوټونــه وروڼــول، دې مسئلې د ګاونډيو فرهنګونو يو شمېر متعصبو کړيو ته خوند ور نه کړ، د هغوی په نظر پښتو د غرو د خلکو يوه وحشي ژبه ده او که د فرهنــګ نړېدلی څلی يې ودان شي، نو پښتانه به مدني ژوند ته متوجه شــي او بلاخره به يې ملي شعور لوړ شي، چې په پای کې به سياسي واک هــم ترلاسه کړي. ددې پروسې د مخنيوي لپاره ايرانيانو او پنجابيانو په يــو شمېر دسيسو جوړولو پيل وکړ چې يوه يې هم د پټې خزانې د جعلــي والي ډنډوره وه،، له بده مرغه يو شمېر پښتانه ليکوال هم يا مخامخ يا په ناسيده ډول د دغو ډنډورو ښکار شول، خو له دې هر څه سره سره (پټه خزانه) د ځينو متعصبو او ناروغو کړيو که بهرني وي او که کــورني پــه بابولالو نه شي کېدی چې جعلي وبلل شي. دا هم اړينه ده وويل شــي

**چې پټه خزانه، د افغانستان پښتون قام، پښتو ادب او کولتور به تلپاتې وي او هېڅوک به يې د پرمختګ او ودې مخنيوی ونه کړای شي.**

## د کتاب نوم:

**ددې کتاب په باب راغلي: (( د دې کتاب نوم دی پټه خزانه ځکه چې دلته هغه احوالونه راغلي دي چې پټ وو او نه وو ښکاره.))**

**دا کتاب یا اثر درې برخې یا درې خزانې لري:**

**دويمه خزانه د محمدهوتک د معاصرو شاعرانو د احوال په باره کې ده چې د هغو احوال د محمد هوتک په زمانه کې هر چاته یا لږ تر لږه هغو خلکو ته د چا لپاره چې دا کتاب لیکل شوی، معلوم وو، د کتاب په لومړۍ برخه یا لومړۍ خزانه کې يې د (۲۲) شاعرانو احوال راغلی دی او د هغوی بیت (فرد) سندره، نارې، څلوريزه، شعر، وياړنه، سانده، بولله (قصیده)، غزل هغه ټول اصناف يې ليکلي. په دوی کې اسمعيل، خرښبون، شيخ متي، شيخ بوستان بړېڅ، علي سرور لودي، حميد لودي، عيسی مشوانی، سلطان بهلول لودي، خوشال بابا او رحمان بابا شامل دي.**

**د کتاب درېيمه حصه (درېيمه خزانه) کې د مېرمنو ذکر راغلی دی، يوه مهمه خبره دا هم ده چې د محمدهوتک په زمانه کې هره قلمي نسخه**

پټه خزانه وه، ځکه چې هغه وخت چاپخونې نه وې د اکثرو کتابونو یوه یا څو محدودې نسخې موجودې وې.

## د محمد هوتک د پټې خزانې د نثر بېلګه:

حمد و ثنا هغه خدای(ج) ته چې انسان یې په ژبه او بیان لوړ کا او عزت یې ورکا له نورو حیواناتو په نطق او وینا سره او خپل کلام پاک کې نازل کا په افصح بیان سره چې هغه ابلغ دي لــه کلامــه د کولــو بلغــاوو او فصحاوو.

ستاینه او سپاس دی هغه خاوند سره چې بې له ده نشته بل خاوند او نه بل بادار د وګړیو څښتن دی دی چې انسانان په خوږو خبرو پــالي او د هرې بلیغې وینا ملهم دی.

درود نا محدود پر هغه پیغمبر، علیه الصلواته و السلام چې موږ ته یــې راوښووله سمه لار.

بیت:

دی رهبر د کایناتــو تــر ده جــارسم

دی نامور د مخلوقاتو تر ده جار سم

پټه خزانه له یوې خوا ادبي اهمیت لري، خو له بلې خوا تاریخي اهمیت هم لري، ځکه چې په دغه اثر کې یو شمېر پېښې او حوادث داسې دي چې هغه د افغانستان د تاریخ په باب ځانګړی تاریخي اهمیت لــري. د علمي او تاریخي تحقیقاتو په برخه کې دا هم باید په ګوته کړو چې پټه خزانه هم د تاریخي مطالعاتو او هم د تحقیقاتو په برخه کې ډېره مهمه ونډه لري.

محمد هوتک د پټې خزانې په قید یو ادبي علمي او تاریخي کتاب ولیکه چې په پښتو ادبیاتو کې ساری نه لري، دا کتاب راتلونکي نسل ته د ډېر ښه ماخذ او سند حیثیت لري په یوه ځغلنده نظر ویلای شم که چېرې دغه ادبي او تاریخي شهکار په بله ژبه کې وای نو اوس به یــې نړیــوال شهرت درلود، خو له بده مرغه چې د پټې خزانې اهمیــت، ارزښــت او ماهیت لا اوس زموږ له ډېرو خلکو پټ دی او ډېرو لا ددې کتاب له ګټو ګټه نه ده پورته کړې.

ضیاالله- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# د امیر کروړ د شعر ویپانګه



امیر کروړ د امیر پولاد سوري زوی دی. امیر پولاد د ملک شنسب له زامنو څخه و، چې په غور کې یې پاچاهي کوله. امیر کروړ پر (۱۳۹هـ- ۷۵۶م) د غور په مندیش کې پاچا شو. دی یو تکړه، غښتلی، کلک او محکم سړی و، په یوه تن به له سلو تنو سره جنګېده، نو ځکه کروړ او جهان پهلوان بلل کېده.

پټه خزانه د تاریخ سوري په حواله لیکي: (( چې دا امیران له پېړیو څخه په غور کې وو او د هغه (سور) اولاده ده چې د (سهاک) له پښته و.)) امیر کروړ د پښتو یو زبردست شاعر دی. وایي، چې دی یو عادل، ضابط سړی او د ښې وینا خاوند و او هر کله به یې شعرونه ویل، هغه وخت چې په جنګونو کې یې ډېرې فتحې وکړې، نو یو زبردست شعر یې ووایه، چې ((ویاړنه)) یې بولي.دا شعر په دې ډول دی:

زه یـــــم زمری په دې نړۍ له ما اتل نسته

پر هـــــند و سند و پر تخار او په کابل نسته

بل په زابل نستـــــــه له مـــــــا اتل نـــــسته

غشی د من مې ځي برېښنا پر میرځمنو باندې

پـــــه ژوبله یونم یرغالـــــم پر تښتېدونو باندې

پر ماتېدونو باندې لـــــه مـــــا اتـــــل نسته

زما د بریو پر خول تاوېږي هسک په نمنځ په وياړ

د اس له سو مې مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ

کړم ایوادونه اوجاړ لـــــه مـــــا اتـل نسته

زما د تورې تر شپول لاندې دي هرات و جروم

غرج و بامیان و تخـــــار بـــــولي نوم زما په ادوم

زه پېژندوی یم په روم له ما اتل نسته

پر مروه زما غشي لوني ډاري دښمـــــن راڅخه

د هریرود پر څنډو ځم تښتي پلـــــن راڅخه

رپې زړن راشــــخه لـــه ما اتل نسته

خپلو وګــــړو لـره لور پـــېـــرزوینه کـــوم

دوی په ډاډینه ښه بامم ښه یې روزنه کوم

تل یې ودنه کوم لــــــه ما اتل نسته

پر لویو غرو مې وینا درومي نه په ځندو په تال

نړۍ زما ده نوم مــــې بــولي پـــر دریـځ ستایوال

پـــــه ورځو شپـــو میاشتــو کال- له ما اتل نسته

دا شعر د پښتو یو ډېر قیمتي، پوخ او متین شـعر دی. د پښــتونولۍ د زړورتیا او شجاعت اصلي خیالات په کې ښکاره او ځرګند دي. وزن یې هم ملي او د پښتو له خالصو اوزانو څخه دی.

د امیر کروړ د شعر له پوخوالي او متانت څخه ثابتېږي، چې پښتو به تر اسلام دمخه هم ښه پوخ شعر او ادب درلود، مګر تر څو پورې چې بلــه پخوانۍ نمونه نه وي پیداشوې، نو دا شعر د پښتو لومړی شعر او امیــر کروړ د پښتو لومړی شاعر ګڼل کېږي. شیخ کټه په خپل کتاب (لرغوني پښتانه) کې لیکلي دي، چې امیر کروړ په (۱۵۴هـ) کې مړ شوی دی.

په دې شعر کې د پښتو ډېر پخواني لغات راغلي دي، لکه:

**اتل- نابغه او پهلوان**

**من- اراده، عزم، نیت**

**میرځمن- دښمن، غلیم**

**ژوبله- جنګ، یو بل ژوبلول**

**یونم- حرکت کوم، ځم**

**یرغالم- یرغل کوم، هجوم کوم**

**اودوم- علاج، درملنه، چاره**

**دښن- دښمن**

**پلن- پیاده، پلی**

**زړن- زړور، شجاع**

**لور- پېرزوینه، رواداري، مهرباني**

**بامم- روزم، تربیه کوم، پالم**

**دریځ- د درېدو ځای، منبر**

**ستایوال- ستایونکی، مداح**

ماتېدونو- ماتې خوړونکیو، شکست خوړلیو

خول- د جنګي جامو خولۍ، اوسپنیزه خولۍ

نمنځ- احترام، تعظیم، ستاینه، درناوی

ویاړ- افتخار

ویاړنه- فخریه

سو- سومان

لتاړ- برهم، خراب، اخته

اوجاړ- خراب، ویجاړ، ړنګ

شپول- احاطه

جروم- د جرم جمع، ګرمسېر، تراوسه پورې هم د افغانستان سهیلي خواوو ته ویل کېږي، چې د کندهار سهیل لویدیځ او د هغه له شګلنځي نه پیل بیا تر سیستان او چخانسور پورې رسېږي.

غرج- غرجستان، چې د غور او هرات له شمال نه پیل تر آمو پورې او په لویدیځ کې تر مرغاب او ماورالنهر پورې رسېږي او په ختیځ کې له بلخ سره نښلي.

پېژندوی- پېژندل شوی، شناسا، اوښار

**لوني– اوري، خپرېږي، ویشتل کېږي**

**رپي– رېږدي، رپېږي**

**مخسور– سرخرويي، برياليتوب**

**کول– کهول، کورنۍ، خاندان، نسل**

**ودنه– وده ورکول، روزنه، نشو نما ورکول**

**ټال– څنډ، وخت**

**بولي– يادوي، ګڼي.**

**سوبه– فتحه، فتح**

**برى– کاميابي**

**بادار– ښاغلی**

**لوړاوی– لوړ، جګ**

**ډاډينه– اطمينان**

**هسک - اسمان**

**زرنج– د نيمروز مرکز دی.**

عزیزالرحمن تسل- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# د پښتو ژبې شعري فورمونه



دلته هغه ډول شعري فورمونو ته اشاره کوو چې له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلي دي او یا هم اوس په پښتو او عربي دواړو کې مشترک ګڼل کېږي.

۱- غزل: د ښځو له خبرو نه خوند اخیستل او یا هم له ښځو سره مخامخ خبرو کولو ته غزل وایي. له عربي ژبې څخه پښتو ادب ته د راغلو (۱۳) جوړښتونو څخه یو غوره فورم هم دی. غزل مطلع لري یانې د سر بیت یې مقفی او د دویم هر بیت مسره یې قافیه لري او د مطلعې قافیه تعقیبوي.

غزل دوه ډوله خبرې کوي، ډېرې داسې غزلې راغلي چې لومړي بیتونه یې د مستۍ او خوشالۍ سترګک وهي، خو د منځ بیتونه یې د ویر نارې وهي، د غزل بیتونه له (۵-۱۵) پورې وي.

د عربي (۱۳) شعري جوړښتونه په دې نومونو يادېږي، غزل، مســتزاد، مثلث، مربع، مخمس، رباعي، قطعه، قصيده، مثنوي، مسدس، تــرجيح بند، ترکيب بند، معشر او...

بشپړ ازاد شعر: په دې شکل کې يوه ټاکلې موضــوع انځــورېږي هــر څومره چې زيات ليکل کېږي يا کم، قيد نشته ورته خو شرط دادی چې وزن بايد ولري.

۲- مثنوي(دوه ييز): دغه جوړښت په خپل منځ کې ګډه قافيه لري، وزن او څپې يې برابر دي، ډېرې اوږدې موضوعګانې پــه کــې نغښــتل کېږي، د مومن خان او شېريني، يوسف خان او... داســتانونه هــم پــه همدې فورم کې نظم شوي دي.

۳- مثلث(درې ييز): هر بيت يې (۳) مســرې لــري د لــومړي بيــت درېيواړه مسرې يوه قافيه، يو وزن لري او د نورو بندونو هر لومړي بيتونه په خپل منځ کې قافيه لري او د درېيمې مسرې قافيه يې له مطلعې سره يوشان وي.

۴- رباعي: په سپين مخ کې د زنې په منځ شــين خــال وار لــه واره د سترګو ځير ورکش کوي، رباعي هم همداسې تل جذابه وي، له عربــي ژبې څخه پښتو ادب ته راغلې او په پښتو کې ورته څلوريزه ويل کېږي. ددې فورم څلورواړو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي. د څلــوريزې

لومړی بیت مقفی وي، درېیمه مسره یې قافیه نه لري، د څلورمې مسرې قافیه د مطلع قافیه تعقیبوي، د غزل په شان یې ردیف اختیاري وي.

۵- قطعه: دا شکل هم له عربی څخه راغلی، د څلوریزې په شان څلور مسرې لري توپیر یې یوازې دا دی چې په رباعي کې لومړی بیت مقفی وي یانې دواړه مسرې سره خپلو کې قافیه لري او یو ډول قافیه تعقیبوي او د درېیم بیت دویمه مسره ورسره قافیه کې ګډه وي، خو په قطعه کې د لومړي بیت لومړۍ مسره او د دویم بیت وروستۍ مسره سره یوه قافیه لري او دواړه لومړۍ مسرې قافیه نه لري.

۶- قصیده(بولله): د قصد کولو مانا لري او همدارنګه د قصد له مصدره جوړه شوې، مانا یې استقامت، اتصال، سموالی، برابري او سپېڅلتوب ده، د بیتونو شمېره یې له (۱۵) څخه کم نه وي او تر دوه سوه هم زیات بیتونه لري. د غزل په څېر د سر لومړی بیت یې مقفی او د نورو بیتونو دویمه مسره یې د مطلعې قافیه تعقیبوي، پخوا قصیدو درې برخې درلودې، ګریز، حسن تعلیل او دعایه. هره قصیده چې دا درې برخې ولري په تول او وزن پوره قصیده بلل کېږي. په پښتو کې لومړۍ قصیده شیخ اسعد سوري لیکلې ده.

۷- مستزاد: دا شکل د رباعي، غزل یا قصیدې پر هره مسره باندې چې یوه لنډه مسره ورزیاته شي مستزاد ګڼل کېږي او لویه مسره د مانا په

لحاظ کوچنۍ مسرې ته اړتیا نه لري، ځکه چې ټوله مانا په لومړۍ مسره کې بشپړه وي.

۸- مخمس(پنځه پیز): په دغه شعري جوړښت کې هــر بنــد پنځــه مسرې لري، د لومړي بند پنځه واړه مسرې یوه قافیه لري، د نورو بندونو څلور مسرې خپل منځ کې یوه قافیه تعقیبوي، خو پنځمه مسره باید د لومړي بند قافیه تعقیب کړي.

۹- مسدس(شپږیز): د شعر دا فورم شپږ مسرې لري، د سر لومړی بند یې ټول ټال یو شان قافیه لري د نورو بندونو پنځه مسرې په خپل منځ کې هم قافیه او هره شپږمه مسره یې په قافیه کې د لومړي بند د مسرو د قافیې تابع ده او سېلابونه یې مساوي وي.

۱۰- مسبع(اوه پیز): له نوم څخه یې معلومېږي چې اوه مسرې لري، د لومړي بند ټولې مسرې یې په قافیه کې یو شان وي او د نــورو بنــدونو شپږ مسرې یې یو ډول قافیه لري، خو د پای مسره یې د لومړي بنــد د مسرو د قافیې تابع وي.

۱۱- مثمن(اته پیز): هر بند یې اته مسرې لري، اته واړه مسرې یې پــه خپل منځ کې یو ډول قافیې لري ردیف په کې په خپله خوښــه دی، د نورو بندونو اتمه مسره یې د لومړي بند قافیه ګوري، خو نور بندونه یې په خپل منځ کې یوه قافیه لري.

**۱۲- معشر(لسيز):** دا جوړښت لس مسرې لري، د لومړي بند لس واړه مسرې يې په خپل منځ کې مقفى وي، د نورو بندونو(۹) مسرې يې پــه خپلو منځو کې هم قافيه وي او لسمه مسره يې د لومړي بند مسرو لــه قافيو سره يوشان وي، ټولې مسرې يې يو واحد وزن تعقيبوي.

**۱۳- ترجيح بند:** دا هغه نظم دى چې لومړى څو بيتونه وويل شي بيــا ورپسې يو مقفى بيت ورلوېږي او په دې ډول يو بند جوړوي. همدا ډول بيا بېل بند پيلېږي او بيا ورپسې همدا مقفى بيت تکرارېږي. په ترجيح بند کې د هر بند لومړى بيت مقفى وي او د نورو بيتونو دويمې مســرې يې قافيه لري او لومړۍ مسره يې بې قافيې وي، د بندونو د بيتونو شمېر يې سره مساوي وي.

**۱۴- ترکيب بند:** ترکيب بند دى چې څو مقفى مسرې سره يــو بنــد جوړوي بيا وروسته يو بل مقفى بيت ورلوېږي چې ددغه وروستي بيت قافيه د لومړي بند له قافيو سره يوشان وي همدا شــان وروســته نــور بندونه راځي چې هر بند ځانته قافيه لري او په پاى کې چې کوم مقفى بيت راځي د هغه قافيه هم خپلواکه وي او د لومړي بند د وروستي بيت سره قافيه کې يوشان وي او نه يې هم قافيه د خپل بند تابع وي، خو د څپو شمېر يې بايد تر پايه توپير ونه لري.

**۱۵- ټول قافيز نظم:** دا هغه ډول شعري چوکاټ دى چې هره مسره يې قافيه ولري او ټول مسرې يې يوه قافيه تعقيبوي. کوم فورمونه چې

**له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلي دغه فورم په کې نه ښکاري، شـــايد چې دغه فورم په عربي کې نه وي.**

## اخځونه

**۱- د پښتو شعر هندسي جوړښت، د پوهندوی محمداسمعیل یون اثر، بېلابېل مخونه.**

**۲- یو شمېر بېلابېلې وېبپاڼې.**

رحیم الله وردګ- د پښتو ځانګې د لومړي ټولګي محصل

# په پښتو لرغوني ادب کې ویاړنه



هره ژبه او ادبیات ځانته تاریخ لري، نو پښتو هم یوه لرغونې ژبه ده او اوږد تاریخ لري، چې زیاتو شاعرانو او ادیبانو په کې خپلې خوږې ملغلرې پېیلي، هر ډول نظم او نثر یې په کې ویلی او لیکلی دی او د خپل زړه او قلم تنده یې په کې ماته کړې ده. ما د دوی له لیکنو او ویلو څخه تاسو ته د ویاړنې په باب یو څه معلومات راټول کړي چې په لاندې ډول دي:

## ویاړنه:

ویاړنه د پښتو نظم له مانیزو (معنوي) ډولونو څخه ده. ویاړ د ویاړل له مصدر څخه دی چې د افتخار او فخر کولو په مانا دی. ویاړنه هغه ادبي کلام دی چې شاعر د خپل ولس، خلکو، وطن او ژبې د سرلوړی، پرمختګ او لوړوالي په برخه کې ویلی وي او یا دا چې شاعر داسې شیان، الفاظ، موضوعات او کلمات په خپل کلام کې بیان کړي چې

**وویاړي او افتخار پرې وکړي، نو په پښتو لرغوني ادب کې ویاړنه همغه د پښتو لومړنی شعر دی، یانې د امیر کروړ سوري غوري شعر دی چــې د اسلامي دورې تر لومړیو کلونو (۱۳۹هــق) څخه وروسته ویل شوی دی. کله چې د عباسي دعوت په جنګونو کې امیر کروړ سوري ډېرې سوبې وکړې نو همدا ویاړنه یې وویله چې پټې خزانې تر موږ پورې رارسولې ده. پټې خزانې دا متن د شیخ کته متي زي له لرغوني پښتانه نومي کتــاب څخه اخیستی چې د هغه ماخذ محمدهوتک د محمدبن علي البستي کتاب (تاریخ سوري) ښودلی دی، خو د تاریخ سوري ماخذ معلوم نه دی. په هر صورت تاریخ سوري چې پر (۶۵۰هــق) کال په خپلو پاڼو کې ځای ورکړی دی، کېدی شي په شفاهي ډول د خلکو په منځ کې خور راغلی وي او د راویانو حافظو تر محمدبن علي البستي پــورې رارســولی وي، چې دا عنعنه تراوسه پورې په موږ کې موجوده ده او د پښتو ډېر اشعار په کلیو او باندو کې په پېړیو پېړیو سینه پــه ســینه انتقــال شــوي او انتقالېږي.**

**استاد حبیبي دې ته یو مستند متن ویلی دی، وایي: ((چې د انتقال او ضبط روش یې د شرقي څېړنو له معمولو روشونو سره سل په سلو کې موافق دی.)) دا ویاړنه د خپل زمان له روحیې سره برابره ایجاد شــوې ده، ددې ویاړنې شکلي جوړښت نه د شرق له دېواني شعري ډولونو لکه قصیده، غزل، ترکیب بند، ترجیح بند، مخمس او نورو سره یوشان والی لري او نه سل په سلو کې د پښتو شاعرۍ له خپلو ملي ډولونو سره لکه**

چاربیته، بدله، بګتۍ، لوبو او کسرونو یوشان والی لري، نو ځکه اســتاد حبیب الله رفیع دغه ډول سندرې د پښتو لرغونې سندرې بللي دي او وايي: (( دا ډول سندرې د زړو اریايي سندرو او د پښتو د ولسي سندرو ترمنځ د اتصال یوه کړۍ ده.)) خو استاد محمد صدیق روهي وايي: (( دا ویاړنه د اوستا، زامیادیشت، مهریشت او د ریګویدا له ځینو سندرو سره پرتله کېدی شي.)) همدارنګه په دې سندره کې داسې لغات او ترکیبونه شته چې هغه یوازې د پښتو ژبې دي او د نورو ژبو لکه عربي او پارسي تر تاثیر لاندې نه دي، دا چې دا ویاړنه څه دپاسه دولس نـیم سـوه کالـه مخکې ویل شوې ده، نو ځینې هغه لغات په کې دي چې په عامه پښتو کې اوس متروک دي او امکان شته چې د پښتو په ځینو غرنیو لهجو کې لا تراوسه موجود وي او دا ویاړنه خپله رواني ژبه لري چې ببلګه یې شته او له دې ویاړنې څخه د علامه حبیبي په وینـا د امیـر کـروړ مینــه او لېوالتیا له خپل ټبر سره څرګندېږي، نو زه ددې ویاړنې یو څو بیتونه د نمونې په ډول له پټې خزانې څخه ستاسو مخ ته ږدم:

زه یــــم زمری پر دې نړۍ لـــه ما اتل نسته

په هند و سند و پر تخار او پـــــه کابل نسته

بــل په زابل نسته　　　　له مـــا اتل نســـــته

غشی د من مې ځي برېښنا پر میرځمنو باندې

پر ژوبـــــــله یونم یرغالم پر تښتېدونو باندې

پر مـــاتېدونو باندې      له ما اتـــــل نــــسته

زما د بریو پر خول تاوېږي هسک په نمنځ په ویاړ

د اس له سو مې مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ

کـــــړم ایـــوادونه اوجا     لــــــه ما اتل نسته

تر دې ویاړنې وروسته په پښتو ادب کې بله ویاړنه د ملکیار غرشین ده چې پر (۵۷۱هــق) کال کله چې سلطان شهاب الدین غوري پر ملتــان حمله کړې وه، نو دغه ویاړنه هم زموږ د ادبي مورخانو په اثارو کې د هغه وخت ویاړنه ګڼل شوې ده، چې دا ویاړنه د اسلام د خپرېدو او اسلامي فتوحاتو په ملاتړ کې ویل شوې ده. د اسلامي فتوحاتو ستاینه یې کړې ده او د اسلامي لښکرو د هڅولو، یادولو او د دوی د روحیــې د لوړولــو هڅه په کې شوې ده او د کروړ د ویاړنې غونــدې د پښــتو پــه لرغونــو سندرو کې راځي. د ملکیار غرشــین دا ویاړنــه د پخوانیــو قومونــو د حماسیاتو او رزم رنګ لري، د هغو سندرو له ډلې څخه ده چې پخوانیو پښتنو به د جګړې پر میدان ویلې او مقصد یې د زلمو د احساساتو تاوده ساتل وو، چې ښه جنګ وکړي. دا ویاړنه د پښتو ســوچه لغـات لــري. همدارنګه لکه نور ګړني اشعار یو تکرارېدونکی غبرګون لري چې د هر بند په اخر کې ویل کېږي او دا د پښتو یو ځانګړی خاصیت دی چې په

نورو ژبو کې نه شته. په دې ویاړنه کې شاعر ځان یو مبلغ راپېژني چې دده وینا پر اورېدونکو باندې اغېزه وکړي او د سندرې مقصد حاصل شي او دا ویاړنه د کروړ تر ویاړنې وروسته لومړنی جنګي اثر دی. دا سندره د سلیمان ماکو په تذکره کې راغلې ده. زه غواړم ددې سندرې یوه برخه راوړم:

| | | |
|---|---|---|
| ځښتن مو مل دی | اوس مو یرغل دی | ایواد د بل دی |
| | غـــازیـــانـــو ګـــورئ | ځښتن مو مل دی |
| تورې تېرې کړئ | دښن مو پرې کړئ | منګولې سر ې کړئ |
| | ځــه له به تښـــتو | ځښتن مو مــل دی |
| که ټینګ کړو زړونه | پـــــر بـــري یـــونـــه | چې زمري یونه |
| | اسلام راځخــــه دی | ځښتن مو مل دی |
| غازیانو راسئ | ټــول شاوخوا سئ | د شهاب په ملا سئ |
| | ځښتن مو مل دی | |

د ملکیار بابا تر ویاړنې وروسته زموږ په لرغوني پښتو ادب کــې بلـــه د هوتک بابا هغه سندره ده چې کله چنګېزي یرغلګرو پر سور غره یرغل وکړ، نو د هوتک بابا ډېر خپلوان په کې مړه شول نو ده دا سندره په لوړ اواز وویله او پر غشو یې د مغولو ټټرونه څیرې کړل، همدارنګه دا سندره

چې غښتليو مېړو اورېدله په جنګ تويېدل تر څو چې سور غــر يــې د مغولو په وينو رنګ کړ او ټول يې پوپناه کړل. همدارنګه باباهوتک لومړی سړی دی چې د مغولو په مقابل کې يې دا وياړنه پــه خونــد ويلــې ده. هوتک بابا ته د وخت د ټولو شاعرانو پېشوا ويل کېږي. ددې وياړنې ژبه خوږه خو ډېره زاړه لغات نه لري او د شعر شکل په کې حماسي او ساده دی. له دې وياړنې څخه د شاعر او د هغه وخت پښتنو وطني احساس او د مينې د ساتنې تاوده احساسات ښکاري، چې دغه افکار هم د مغولي دورې د پښتو شعر ځانګړنې دي او تر (۱۰۰۰هــق) پورې په پښتو شــعر کې خوندي شوې دي. دا وياړنه په پټه خزانه کې راغلــې ده او د پټــې خزانې مولف محمدهوتک له خپل پلار څخه نکل کړې ده چې زه به يې څو بيتونه په دې ځای کې راوړم:

آ دمرغــــــــــې غښــــــــتليو راســـــــــئ
پـــــر ننـــــګ ولاړ د پښـــــتونخوا ســــئ
تـــــورې تېـــــرې غشـــــي تـــــر مـــــلا ســـئ
پـــــر کلـــــي کـــــور بانـــــدې مغـــــل راغـــــی

زمــــا د زلمــــو وينــــې بهېــــږي
ځمکــــې او غرونــــه پــــه ســــره کېــــږي

میرخـــــــــی ځغلــــــــــي او ترهېــــــــــږي
پـــــر کلـــــي کـــــور بانـــــدې مغـــــل راغـــــی

زلمـــــو پـــــر ننـــــګ ځانونـــــه مـــــړه کـــــړئ
دښـــــن پـــــه غشـــــیو مـــــو پیيـــــه کـــــړئ
پـــــر پښـــــتونخوا ځانونـــــه مـــــړه کـــــړئ
پـــــر کلـــــي کـــــور بانـــــدې مغـــــل راغـــــی.

دا وې د پښتو په لرغوني ادب کې ویاړنې چې ما بیان کړې، کېدی شي چې نورې هم موجودې وي. دا هم څرګنده ده تر دې دورې راوروسته په منځنۍ او همدارنګه په معاصرو دورو کې هم زموږ زیاتو شاعرانو ویاړنې ویلي دي. لکه خوشال بابا، د هغه د کورنۍ شاعرانو او نورو، خو ما یوازې د لرغونې دورې ویاړنو ته اشاره وکړه چې ګران استاد پوهندوی محمد اسمعیل یون راته د کورنۍ دندې په توګه راسپارلې وه.

# اخځونه


۱- هوتک محمد، پټه خزانه، ۱۳۸۹ل کال، مومند خپرندویه ټولنه.

۲- حبیبي عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، ۱۳۸۴ل کال.

۳- هېوادمل زلمی، د پښتو ادبیــاتو تــاریخ لرغــوني او منځنــۍ دوره، ۱۳۷۹ل کال.

۴- ارزومند محبوب شاه، د پښتو نظم کلاسیک ژانرونه، ۱۳۸۹ل کال، ګودر خپرندویه ټولنه.

اسد الله رحیمي- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# د پښتو ادب د لرغونې دورې پیل او پای

## لرغونې دوره:



پخوانۍ دوره چې په هغې کې قبیلوي نظام مسلط ښکاري تر شپاړسمې میلادي پېړۍ پورې دوام کوي. د تحریري اسنادو له مخې په ادبي تاریخ کې دغه دوره له امیر کروړه پیلېږي او د بایزید روښان تر ظهور او پاځون پورې رسېږي. په شپاړسمه میلادي پېړۍ کې د پښتونخوا په ختیزه برخه کې د هند مغلي سلطنت په زمانه کې فیوډالي تولیدي مناسبات منځته راځي او په ادبیاتو کې هم بدلون لیدل کېږي. پخوانۍ دوره د ټولنیزې ارواپوهنې او فرهنګي عنعنې له پلوه د ریګویدا او اوستا له سندرو او ګاڅونو سره ورته والی لري، د ځینو ادبپوهانو په عقیده د ریګویدا او اوستا د سندرو او کاڅونو او د پښتو د لرغونو سندرو موضوعګانې او قالبونه سره ورته دي، د پخواني دورۍ عمده موضوعګانې د نمانځنې سندرې، وياړنې، ویرنې، مینه، ښلتون او اخلاقي ښوونې دي چې په هغو کې سپېڅلي تخیلات او

لفظي صنایع نه لیدل کېږي. د غوریانو د واکمنۍ په دوره کې د قصیدې جوړونه یو نوی پړاو ګڼل کېږي، ځکه چې په دغو قصیدو کې د شــپنو شعر سره فاصله منځته راغلې ده، که څه هم قصیدې له دربــاري ادب سره نږدېوالی لري، خو په هغو کې د کوچیانو سندرو روحیه هم ســاتل شوې ده. د پښتو قبیلو مشران او واکمنان د یووالي او قبیله یي قدرت د سمبولونو په توګه ستایل شوې دي، که دغه قصیدې د هغه وخــت لــه عربي او فارسي قصیدو سره پرتله شي، نو د هغوی تــرمنځ د قالــب او محتوا له پلوه جوت توپیر لیدل کېږي، د پښتو واکمنان د قومي یووالي د سمبولونو او خواخوږو دوستانو په توګه ستایل شوي دي، شاعر نه د صلې او انعام د اخیستلو لپاره شعرونه وایي او نه په ستاینه کې له اغراق نه کار اخلي په داسې حال کې چې د فارسي ژبې شعر د عربي شــعر د وزن پیروي کوي، د پښتو شعر د لرغونو اریایانو د ســندرو وزن ســاتي، تراوسه پورې پښتو شعر همدغه خصوصیت ساتلی دی، یانې د شعر وزن د څپې او د هجاوو د شمېر پر اساس ټاکل کېږي.

د امیر کروړ شعر چې لرغونې دورې پورې اړه لري یو قدیم شعر دی، چې له پټې خزانې څخه موږ ته لاسته راغلی دی.

د امیر کروړ شعر چې وایي:

زه یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نسته

پر هندو سندو پر تخار او پر کابل نسته

دا د پښتو زوړ شعر دی چې د دویمې هجري پېړۍ له لومړۍ برخې څخه راپاتې دی، له ظاهري پلوه یانې د ژبې، ادا، لغاتو او کلمــاتو لــه مخــې مخصوص رنګ او زموږ د اوسنۍ ژبې له محاوروي جریان سره توپیر لري. ډېر داسې لغات په کې راغلي چې اوس متــروک او مهجــور دي او پــه عمومي محاوره کې نه استعمالېږي. ددې شعر له لساني پلټنــې څخــه سړی دا نتیجه اخیستلای شي چې په دغه لومړنۍ دوره یانې په هجري دویمې پېړۍ کې پښتو ژبه په غور کې د نورو ژبو له اختلاطه سوچه وه، په دغه شعر کې یو عربي او فارسي لغت هم نه شــته. د روښــانیانو لــه تحریک سره سم د پښتو ادبیاتو دویمه دوره پیلېږي، پر پښتو ژبه ګــڼ شمېر مذهبي تاثیرات او د عربي ژبې ژبنۍ اغېزې لیدل کېږي.

## اخځونه

د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغونې او منځنۍ دوره، دویم ټوک، د ســرمحقق زلمي هېوادمل اثر.

د پښتو ادبیاتو تاریخ، دویم او لومړی ټوک، د عبدالحی حبیبي اثر.

فرید الله وفا- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# د پښتو لرغونو ادبیاتو فزیکي جغرافیه



کله چې سړی د موجودو او لاسته راغلو پښتو ادبي اثارو پخواني اسناد مطالعه کوي، نو ښکاري چې دغه لومړني اثار په ځینو داسې مرکزونو کې ایجاد شوي دي، چې هلته د پښتنو خپل محلي حکومتونه او قبیله یي نظامونه وو او پښتانه هلته د خپل ملي هویت او سیاسي اقتدار خاوندان وو.

په دغو مرکزونو کې لرغونی مرکز او د پښتنو پخوانی ټاټوبی غور دی، بل مرکز یې د کسي غره لمنې دي او درېیم یې هم ملتان دی، خو مخکې تر دې چې په دغو درېو مرکزونو کې د پښتو پر ایجادي ادبیاتو خبرې وکړو، بهتره به وي دا خبره له یاده ونه باسو چې د دویمې هجري پېړۍ شاوخوا په غزني کې د لویکانو شاهي کورنۍ موجوده وه چې تر ګردېز او زابلستان پورې سیمې یې په ولکه کې وې او د منطقې له سیمه ییزو شاهي کورنیو سره یې روابط هم درلودل. د غزني د لویکانو د کورنۍ د یوه لویک یو پښتو بیت موږ ته رارسېدلی دی.

**غور:** غور د افغانستان یوه لرغونې او تاریخي سیمه ده چې د پاچاهیو سلسلې په کې تېرې شوي او ددې سیمې پاچاهانو د اسلام د مقــدس دین د خورولو په چارو کې هم لویه برخه درلودلې ده، نو لومړی لاسته راغلی شعر د غور په مندېش کې و، دغه د غور سوري شاهي کورنۍ په تاریخونو کې د شنسبانیانو په نامه هم مشهوره ده او دا ځکه چې ددې کورنۍ یو مشر نیکه شنسب (شن اسپ) نومېده، چې د پلار نــوم یــې خرنک و، دا شنسب د حضرت علي(رض) په زمانه کې مسلمان شوی او د غور پاچا منل شوی دی.

د شنسب زوی امیر پولاد و، چې د خپلو پلرونو نوم یې بیا راژوندی کړ، د امیر پولاد د پاچاهۍ مرکز د غور په مندېش کې و. کله چې دی وفات شو نو پاچاهي یې زامنو ته ورسېده، امیر کروړ د امیر پولاد سوري زوی چې پر (۱۳۹هــق) کال د غور په مندیش کې پاچا شو، د امیر کروړ کوم شعر چې پټې خزانې راوړی دی هغه دادی:

زه یم زمري پر دې نړۍ له ما اتل نسته

پر هندو سندو پر تخار او په کابل نسته

بل په زابل نسته لــــه مــــا اتــل نسته

**د کسي غر:** د پښتنو په لرغونو استوګنځایونو کې یوه ډېره مشهوره او تاریخي سیمه د سلیمان د غرونو لمنې دي. ددې غرونو لمنــې د شــپږ

سوو کیلو مترو په شاوخوا کې اوږدوالی لري. د سلیمان غر په لمنه کې شیخ بېټني، شیخ اسمعیل او خرښبون د اسلامي عصـر د درېیمــې او څلورمې پېړۍ په شاوخوا کې د کسي په غره کې اوسېدلي دي او بېټ نیکه به دکسي په غره کې تل د الله(ج) ثنا او صفات ویل، د ورځې بــه روژه و او د شپې به یې د الله(ج) عبادت کاوه او دا مناجات یــې زمــوږ لاسته راغلي دي:

لویـــه خدایـــه لویـــه خدایـــه
ســـتا پـــه مینـــه پـــه هرځایـــه
غـــر ولاړ دی درنـــــاوي کـــــې
تولـــــه ژوي پـــــه زاري کـــــې
دلتـــــه دي د غـــــرو لمنـــــې
زمــوږ کېــږدی دي پــه کــې پلنــې
دا وګـــړي ډېـــر کـــړې خدایـــه
لویـــه خدایـــه، لویـــه خدایـــه.

**ملتان:** د مورخینو او د تاریخي کتابونو له لیکنو معلــومېږي، چــې د لومړیو دورو اسلامي پېړیو په شاوخوا کې پښتانه پــه کــافي تعــداد د سلیمان د غرو له لمنو او د پښتونخوا له سیمو د سند او پنجاب سیمو ته ورغلي او مېشت شوي وو، په هندوســتان کــې لــودي کــورنۍ پــه څلورمې او پینځمې پېړۍ کې حکومت کړی دی. پــه دې کــورنۍ کــې

تاریخونو د دوو تره زامنو (شیخ رضی لودي) او (نصر لودي) دوه پاړکي خوندي کړي دي.

(۱) د الحاد په لور دې ترپلل          ګروه دې زموږ وکوراوه

(۲) د الحاد په تور تورن شوم          زه لرغون خو ملحد نه یم

ددې ترڅنګ په لرغونې دورې کې د پښتو ادب نورې وړې وړې حوزې هم شته خو ما په لنډیز سره دې لویو حوزو ته اشاره وکړه.

نورالرحمن حقمل- د پښتو څانگې د لومړي ټولگي محصل

# د لنډيو لرغونتوب



داسې ولسي او ملي بڼ چې په هغه کې زرگونو زرگونو مختلفو باغوانانو د خپلو سليقو له مخې رنگارنگه گلان، لکه مرسل، گلاب، نرگس، پتوني، انتري، فرشي، ملکي شب، فلاکس، نوري شبو، ژېړ گل، جريبن، رامبېل، چامبېل او نور يې کېنولي او کرلي دي، چې هر يو يې خاصه ښکلا، رنگ او بوی لري، خلک ورڅخه خوند اخلي، د هر رنگ او بوی څخه په خپله اندازه لذت وړي او ورڅخه متاثره کېږي. ددې ولسي او ملي باغ گلان همدا زموږه لنډۍ دي چې هر شاعر په خپله خوښه او سليقه پښتون قام ته بې له کومې توقع او امتياز څخه د سوغات په توگه ښښلي او هديه کړي دي.

لنډۍ د پښتو د ولسي ادب او فولکلور اساس او تهداب تشکيلوي او داسې فولکلوريک، ساده، روان او ښکلی شعر دی چې د قيمتي ډبرو کان ته پاتې کېږي. داسې کان چې د سرو زرو، لاجوردو او نورو ډېرو قيمتي منرالونو څخه ډک دی چې په امېلونو، غاړکيو، پېزوانونو، د گوتو

په غمیو، په تومانچو، ټوپکو او توروکې، ځان په خاصو رنګونو، مفهومونو، ځلاوو او ښکلاوو کې راښيي، لکه عشقي، حماسي، اجتماعي، اصلاحي، انتقادي او نور.

دا د ګران هېواد د ادیبانو، لیکوالانو، شاعرانو او نورو دنـدو ده چـې دا کانونه ولټوي، پیدا یې کړي، وه یې څېړي، تفحص او اکتشاف یې کړي او بیا یې د ولس د ګټې اخیستنې لپاره استخراج کړي، تر څو چې خپـل رسالت یې د اوسني او راتلونکي نسل لپاره سرته رسولې وي.

تر کومه ځایه چې معلومه ده لنډۍ له دوو بندونو (دوه ویشت سېلابونو) څخه جوړه ده چې لومړی بند یې نهه (۹) سـېلابه او دویـم بنـد یـې دیارلس(۱۳) سېلابه لري. د هېواد په بېلابېلو برخو کې لنډۍ په مسرۍ، ټپې، ټیکۍ او نورو نومونو هم یادوي چې بېلابېل تعریفونه ورکول کېږي، لکه:

لنډۍ: د یوه وړوکي لنډ مار نوم دی چې سـترګې یـې لـه رڼـا سـره حساسیت لري، نو ځکه د شپې له مخې راوځي او ډېر زهرجن دی، زهر یې پر بدن باندې داسې اثر کوي چې نور د خلاصېدو توان او مجال یې نه وي، نو لنډۍ هم په همدې دوو لنډو بندونو کې ډېـر لـوي مفهـوم او مضمون ځایوي چې اغېز یې خورا زیات دی، د همدې تاثیر له مخې یې لنډۍ بولي.

مسره: مسره د یوې تېرې تورې نوم دی چې په مصر کې جوړېدله او د پخوا وختو په جګړو کې خورا موثره وسله وه چې پښتنو ورڅخه زیاتــه استفاده کوله، د تاثیر له مخې لنډۍ ته مسره هم وایي.

ټپه: ټپه له ټپ (زخم) څخه اخیستل شوې ده، څنګه چې ټپ پر انسان اثر کوي همداسې لنډۍ هم پر اورېدونکي اغېز کوي، نو ځکه لنډۍ ته ټپه هم ویل کېږي.

د لنډۍ شروع، شمېر او شاعر معلوم نه دی، مګر په ټول ولــس پــورې مربوط شعر دی. د پښتو ګرامر لیکوال لیکي چې: (( ټول په دې په یوه خوله دي چې د پښتو لنډۍ، سروکي،... د ویدي سندرو پیــل دی خــو څوک په هغې پسې نه دي ګرځېدلي.)) ویل کېږي چې لنډۍ له ویدي سندرو سره پیل شوي دي چې لږ تر لږه څلورنیم یا پینځه زره کلونو ته یې عمر رسېږي.

سپوږمیه سر وهه راخېژه

یار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبینه

دا هغه زړه لنډۍ ده چې عمر یې زرګونو کلونو ته رسېږي. ښاغلي حبیب الله رفیع د یوه بهرني څېړونکي (جون زانولسونیو) له خولې د پــورتنۍ لنډۍ په هکله وایي چې: (( دا د هغه وخت لنډۍ ده چې اریایان بــه د شپې له خوا د (سوما) د بوټي د لو کولو لپاره غره ته تلل او بیا به انتظار

وو تر څو د څوارلسمې سپوږۍ ( د څوارلسمې شپې سپوږمۍ) راوخېږي او دوی د سوما بوټی لو کړي، ځکه که دا په لمر کې لو شوی وای شیره یې خرابېدله، نو دوی به د سپوږمۍ د شپې انتظار ویســت او ټــول بــه راټول وو بیا به یې ددې بوټي لو کاوه او له هغه به یې شیره ایستله، لــه هغه به یې مشروب جوړول چې دوی ته ډېر مقدس وو او له هغو به یــې استفاده کوله. دا لنډۍ یا تر څوارلسم (د څوارلسمې شپې) وړاندې ویل شوې یا په داسې ځای کې ویل شوي چې غرونه لوړ دي او سپوږمۍ ژر نه راخېږي یا هر څه چې دي د مینې له خوا دا لنډۍ ورته ویــل شــوې ده.)) نوموړی دوام ورکوي چې:

مازیګری دی ښېرې مه کړه

تـه بـه د ناز ښېرې کوې رښتیا بـه شینـه

دا د لمر پالنې د وخت لنډۍ ده، کله به چې لمر لویده نو په دې وخــت کې به لمرپالونکو عبادت کاوه دوی باور درلود چې په دې وخت کې هره دوعا قبلېږي، نو پر همدې اساس ګوري چې مینه (معشوقه) ښېرې کوي او هلته مازیګر دی، نو وایي چې: مازیګری دی ښېری مه کړه، ته به د ناز ښېرې کوې رښتیا به شینه. دا دواړه زړې لنډۍ دي مګر یقیناً کلمې یې بدلې شوې دي، ځکه د هغه وخت د کلمو پــه اســتعمالولو ســره اوس څوک پوهېدی نه شي، نو د وخت په بدلېدو سره کلمات هــم اوســني

حالت ته رارسېدلي دي، خو یوازې فکـر او مطلـب یـې تـر دې دمـه رالېږدېدلي دي.))

په لنډه توګه ویلای شو چې د لنډیو شاعر معلوم نه دی، مګر د شاعرانو له زړونو نه راوتي دي او د خلکو د پراخو پرګنو پر زړونو یې چنګ وهلی دی. له یوې سینې نه بلې سینې ته او له یوه نسل څخه بل نسل ته یې انتقال کړی دی، لنډۍ ژوندۍ دي او د تل لپاره به ژوندۍ پـاتې شـي، ځکه دا د ولس شعر دی او په ولس پورې اړه لري او همدا ولس یې، تـر څو چې دا نړۍ نړۍ ده د تل لپاره ژوندۍ ساتي.

لکه چې معلومه ده د لنډۍ اساسي موضوع انسان او د هغه چاپېریـال دی او هر څه چې په انسان پورې اړه لري د ټولو خصوصیاتو سره یې په ساده، روانه، ښایسته او ظریفانــه بڼــه بیــانوي، پــر همــدې اســاس د حقیقتونو او خیالونو د مینې او محبت د عشــق او وفــا د دیــدنونو او وصلت د حماسو، ننګ، غیــرت، مېړانــې، زړورتیــا او ځــان تېرېــدنې همدارنګه د بې غیرتۍ، پېغور، موزیتوب، غم، غماز، هجران د سختیو او محرومیتونو د هیلو او نا هیلیو د وفا او بې وفایۍ د باور او بې بــاوریو د توبو او تشبهاتو، لنډه دا چې د ژوندانه له ټولو برخو څخه بحث کوي او هغه څه چې د انسان په محیط او ماحول کې قرار لري او راڅرګندېږي، هغه هم ورڅخه پټ نه پاتې کېږي لکه غرونــه، ســیندونه، ســېلابونه،

باغونه، ګل، بلبل، سپوږمۍ، باد، باران، تندر، ستوري او اسـمان او پـه خاصه توګه ګودر، مازیګر، چنارونه او نور.

په لنډیو کې ښځو ته ځانګړی او مهم ځای ورکړل شوی دی او همدا یې وجه ده چې د ښځو په وجود کې زلفې، وربل، بانه، وروځې، مـړاوې او تورې سترګې، شونډې، اننګي، زنه، غاړه، قد، موسکا، په ناز کتل او تلل، خالونه، ټیک، پېزوان، چارګل... زیات ستایل کېږي او له بلې خوا نرینه چې د سکې بل مخ دی، هم په خاصو الفاظو ستایل او رټل کېږي. کـه نرینه پښتونولي او افغاني ارزښتونو ته په درنه سترګه وګوري او عمـل پرې وکړي، نو هغه ستایل کېږي، لکه:

جانان مې سر په وطن کېښود

په تار د زلفو به کفن ورته ګنډمه

نن په خیبر د زلمو جنګ دی

خوشاله پاڅه چې مغول راغلي دینه

د اکبر خان غازي په توره

وطن رڼا شو دښمنان په ماتې ځینه

دا هره مور به زامن راوړي

د احمدشاه په شان به لړ لړ پیداشینه

**د توریالي اکبر له برمه**

**ځوانان د ننګ تورې وهي سر ورکوینه**

**د هندوستان پیرنګۍ ژاړي**

**که ژېړ ایوب په دنیا و کونډې به شونه**

**او چا چې پښتونولۍ ته شا کړې ده، هغه رټل شوي او رټل کېږي، لکــه جنګ څخه تېښته، موزیتوب.**

**عالمه راشئ مخ راتور کړئ**

**ما د بې ننګو یاري کړه وشرمېدمه**

**جانان له جنګه په شا راغی**

**په پرونۍ ورکړې خوله ښېپمانه شومه**

**موزي په مینه څه پوهېږي**

**په نس یې مور کړه تر سهار کوي خوبونه**

**خدایه بې ننګه اولاد ورک کړې**

**چې ننګ ناموس د مور او پلار بربادوینه**

سره له دې چې د لنډيو عمر معلوم نه دی مگر له ځينو لنډيو څخــه د لنډۍ عصر او زمان (نه دقيق تاريخ) چې په محيط او مــاحول کــې لــه خاصو پېښو او تغيراتو سره تړاو لري، معلومېدی شي، لکه:

د مومن خان چيغه شوه پورته

د شيرينو شرط به په سربلندې گټمه

چې رامدادخان دې وويشتلو

نامرده نه کړي پښتانه داسې کارونه

مومن په جگه غونډۍ کېږدی

چې بوره مور يې هر سهار زيارت کوينه

په پورتنيو لنډيو کې د مومن خان، رامداد خان له يادولو څخه د لنډيو عصر يا زمان معلومېدی شي، خو دقيق تاريخ يې نه.

**احمدپردېس- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل**

# په پښتو لرغوني ادب کې سیاسي څېرې

## ۱- امیر کروړ د جهان پهلوان:



امیر کروړ سوري چې پــه جهــان پهلــوان يــې شهرت موندلی دی، د دویمــې هجــري قمــري پېړۍ د اولې دورې شاعر دی. امیر کروړ د امیــر پولاد سوري زوی دی او امیر پولاد په غور کې د ملک شنسب له زامنو څخه و، چې غور کې يې پاچاهي کوله.

امیر کروړ پر (۱۳۹هــق) د غور په مندیش کې پاچا شو، دی یو تکــړه، غښتلی، کلک او مضبوط سړی و، په یو تن به له سلو تنو سره جنګېده، نو ځکه کروړ او جهان پهلوان بلل کېده او د پښــتو ژبــې یــو تکــړه او زبردست شاعر تېر شوی دی.

امير کروړ پر (۱۵۴هــق) کال د فوشنج په جنګ کې وفات شوی دی.

## ۲- نصر لودي:

نصر لودي د شيخ حميد لــودي زوی، د لوديــانو دويــم حکمــران و، د (۳۹۰هــق) په شاوخوا کې يې حکومت کاوه، دی تر حميد وروســته د هغه پرځای کېناست چې په ملتان کې دده واکمني د سند تر غاړو او د سليمان تر غره پورې رسېده او د پښتو ژبې شاعر هم و.

## ۳- شيخ رضی:

شيخ رضی د شيخ حميد لودي وراره دی چې شيخ حميد څخه وروسته د (۳۸۰هــق) په شاوخوا کې حکمران او په اخباراللودي کې د حميــد لودي په وينا د پښتو ژبې له شاعرانو څخه و، چې د حميــد لــودي پــه وخت کې يې د افغانانو په غرو (سليمان غره) کې د اسلام تبليغ کاوه.

## ۴- سلطان شهاب الدين غوري:

سلطان شهاب الدين د خپل ورور سلطان غياث الدين تر مړينې وروسته پاچا شو او دی د خپل ورور په وخت کې د لښکر مشر و او د غياث الدين د وخت ډېرې کاميابۍ او بري د هغه په وسيله ترلاسه شوي وو. دده په زمانه کې د غوريانو پاچاهي د شمال له خوا تر خوارزم او ماورالنهر او په هند کې د هند په لويو برخو کې جاري وه. دا لوی پاچا پر (۶۰۲هـــق)

کال د اباسین په غاړه د هند د اړو دوړو کرارولو لپاره هغې خواته روان شوی و، د یوه ناپېژندل شوي سړي له خوا ووژل شو.

## ۵- سلطان محمود غزنوي:

د سبکتګین تر مړینې (۳۸۹-۴۲۱هـ) وروسته د هغه له وصیت سره سم اسمعیل د سبکتګین کوچنی زوی پر تخت کېناست. په دې وخت کې محمود د خراسان حاکم و. کله چې سلطان محمود د خپل پلار له مرګه او د ورور له پاچاهۍ خبر شو، له اسمعیل څخه یې وغوښتل چې له حکومت څخه لاس واخلي او دغه چارې ده ته وسپاري، خو اسمعیل مخالفت وکړ په نتیجه کې د لږ اخ و ډب څخه وروسته اسمعیل د غزني په شاوخوا کې ماتې وکړه او غزني د محمود لاس ته ورغی.

محمود پر (۹۹۸م) کال د غزني پر تخت کېناست، محمود د سیستان علاقه ونیوله او د بغداد د خلافت له خوا په رسمیت وپېژندل شو او د یمین الدوله لقب ورکړل شو. سلطان محمود غزنوي (۱۷) ځلې پر هندوستان یرغل کړی دی او د سلطان محمود لویه جګړه د سومنات جګړه ده، چې پر (۴۱۶هـ) کل پېښه شوې ده.

## ۶- سلطان بهلول لودي:

سلطان د ملک کالاشا هوخېل لودي زوی دی پر (۸۱۴هـق) کال د ملتان په کمانګرانو کې دنیا ته راغی، د ځوانۍ په وخت کې سپاهي و، بیا

ملک شو، سوداګرۍ ته يې مخه کړه او د خپل لياقت، مهارت او بهادرۍ په وجه د ډيلي پاچاهۍ ته ورسېده. ډيلی، پاني پت، ديبـالپور، لاهـور، هاني، حصار، جونپور، بهرايچ، ناګور او د ملتان تر څنډو پـورې هنـدي ځمکې ټولې د ده په پاچاهۍ کې شاملې وې. د تاريخ داودي له وينا سره سم سلطان بهلول لودي پر (۸۵۰هـ‌ق) کال د ربيع الاول د مياشتې پر اوولسمه نېټه په هندوستان کې پاچا شـو او تـر (۴۴) کالـه پاچـاهۍ وروسته پر (۸۹۴هـ‌ق) کال د هندوستان د عاليګړ د ضلعې د جلالې په قصبه کې وفات شو. سلطان بهلول لودي د هندوستان عادل او عـالم پاچا و چې په دربار کې به يې شاعران او عالمان پالل او خپله هم د پښتو ژبې شاعر و.

## ۷- شيخ اسعد سوري:

په پټه خزانه کې راغلي دي: ((شيخ کته په لرغوني پښتانه کې له تاريخ سوري هسې نقل کا چې اسعد سوري په غور کې اوسېده او هلته سوري خاندان په پاچاهۍ کې ډېر عزتمند و، شيخ اسعد د محمد زوی و چې پر (۴۲۵هـ‌ق) کال په بغنين کې وفات شو، شيخ اسعد سوري ډېـر ښـه اشعار ويل، نقل کا چې سلطان محمود غزنوي پر غـور بانـدې د امیـر محمد سوري سره جګړه وکړه او په اهنګرانو کې يې محصور کا پـه دې وخت شيخ اسعد هم د اهنګرانو په کوټ کې و هغه وخت چې سـلطان محمود امير محمد سوري ونيو او بندي يې غزني ته بوت، نو امير محمد

**سوري چې خورا زړور او عادل او ضابط امیر و، له غیرته په بند کې مــړ شو او شیخ اسعد چې دوست و د امیر محمد سوري پر مرګ یې ساندې وویلې.))**

**پر پورتنیو سیاسي او فرهنګي شخصیتونو سربېره ګڼ شمېر نور سیاسي شخصیتونه هم په لرغونې دوره کې تېر شوي چې په مستقیم ډول یې پر پښتو ژبې او ادب خپل خپل تاثیرات پرې ایښي دي، خو ما یې هغــه ډېر مشهور او مطرح کسان د بېلګې په توګه دلته معرفي کړل.**

محمد مصطفی باور- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# په لرغونې ادبي دوره کې قطعه



قطعه په هغو فورمونو کې شمېرلی شو، چې له عربي ژبې څخه په درییمه هجري پېړۍ کې پښتو ته راغلی او په پښتو شاعرۍ کې اوډل شوې ده.

قطعه لکه د څلوریزې (رباعي) په څېر څلور مسرې لري، خو له رباعي سره یې توپیر دادی، چې په رباعي کې لومړی بیت مقفی وي، یانې دواړه مسرې یې قافیه لرونکې وي او د یو شان قافیې پیروي کوي او د دویم بیت دویمه مسره ورسره هم قافیه وي. په قطعه کې د لومړي بیت لومړۍ مسره او د دویم بیت لومړۍ مسره له قافیې څخه ازادې وي او د دواړو بیتونو دویمې مسرې په خپل منځ کې یوشان قافیه جوړوي، خو بل پلو ځینې کسان بیا دا دوه بېلابېل فورمونه یو له بل سره مغالطه کوي، قطعې ته څلوریزه او څلوریزې ته قطعه وایي. دوی په دې کې تېروتنه کوي چې دواړه یوشان دي، د دواړو مسرو شمېر یو برابر دی، خو د رباعي یا څلوریزې دواړه بیتونه ضرور مقفی وي یانې د سر دواړه مسرې یې یوشان قافیه

لري، خو د قطعې لومړی بیت بیا یو شان قافیه نه لري، البته د لـومړي بیت دویمه مسره او د دویم بیت دویمه مسره په قافیه کې یو شان دي. همدارنگه د اهنگ له پلوه هم دواړه شعري فورمونه توپیر لري.

قطعه په دوه ډوله ده:

۱- هغه قطعه چې ردیف نه لري

۲- هغه قطعه چې ردیف لري

دا چې موضوع پر لرغوني دوره څرخېږي، نو غواړم چې دلته د لرغوني دورې ځینې قطعې یا پاړکي ستاسو په چوپړ کې وړاندې کړم او خپـل بحث به هم ورباندې وکړم.

د اسلامي عصر په درېیمه او څلورمه پېـړۍ کـې د دې سـیمې د دوو شاعرانو پاړکي چې له پښتو تذکرو څخه لاسته راغلي دي، چې یو یـې شیخ اسمعیل دی چې د ده دوه پاړکي زموږ په لاس کې دي یو یې پـه تذکره الاولیا او بل یې په پټې خزانې کې خوندي دی.

د شیخ اسمعیل هغه دوه پاړکي دادي:

تـــــښته وکـــړه لـــه ابـــلیسه چې ابلیس لعین ښـکاره سـي
هـــلته ورکــــه پـــلوشــه سي تول نـړۍ تـوره تیـاره سـي
سړی وران سي له ابلـــــیسه غوځ د پس پـه کتـاره سـي

که هر چا ابلیس خـــرڅ کــړ　　نـــو یـــې هلـــه ننـــداره ســـي
که سړی ابلیس ته پړ ســـــو　　نو پـــر کـــور د ویـــر نـــاره ســـي

که څه هم دا پاړکی د وزن له پلوه کومه ستونزه نــه لــري، خــو د قطعې اصلي جوړښت سره یو څه توپیر لري. د دویم بیت لــومړۍ مسره باید د لومړي بیت د دویمې مسرې له قافیې سره یو شان نه وای، یوازنۍ ستونزه په کې همدا ده چې له قطعې اصلي جوړښت سره مطابقت نه لري.

سلیمان ماکو په تذکره الاولیا کې د بختیار یو پاړکی خوندي کړی چــې دلته یې تاسو ته وړاندې کوم:

ویـــر مـــې زړه ســـوری کـــړ
راتـــــه وګـــــوره ملـــــوکې
پـــه بېلتـــون کـــې دې وباســـم
لـــه خوږمنـــه زړګـــی کـــوکې
***

د بېلتـــــون اورونــــه بـــــل دي
هـــر ګـــړۍ مـــې زړګـــی ســـوځي
لېـــــونی یمـــــه د مینـــــې
ســـــوځم زه لکـــــه پلـــــوځې
***

غوړېـــــــدلی دې اوربـــــــل دی
اور زمـــا پـــه زړګـــی بـــل دی

زه بختیـــار خـــاورې ایـــرې ســـوم
پـــه اوری ســـوی مـــې ګوګـــل دی
راتـــــه ګـــــوره ملـــــوکې
راتـــــه وګـــــوره ملـــــوکې

دلته ددې شعر لومړي دوه بندونه قطعې ته ورته دي، که له ټول شـعر پرته یې په مستقل ډول ولولې، نو د قطعې شکل درکوي.

د کسې د غره په لمنو کې د پښتو د لومړنیو شاعرانو ایجاد شوي پاړکي د خپلو جوړښتي خصوصیاتو له مخې د پښتو لرغونو سندرو په جملـه کې راځي، خو د شیخ بختیار پاړکی یا سندره چې عشقي سندره ګڼـل کېږي، د سر لومړی او دویم بند یې د قطعې خصوصیات لري، ځکه چې د هر بند دویمه او څلورمه مسره یې په خپل منځ کې همقافیه دي.

عتیق الله خاکسار- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# په لرغوني ادب کې د مثنوي ارزونه



په دې لیکنه کې د مثنوي له ارزونې څخه زموږ موخه د هغې د ارزښت معلومول دي. یانې د مثنوي ښه اړخونه او نیمګړتیاوې څېړو. لومړی باید پر مثنوي پوه شو چې مثنوي څه ته وایي.

مثنوي: هغه شعري فورم دی، چې له عربي څخه پښتو ته راغلی دی، هر بیت یې ځانته ځانګړې قافیه لري، یانې دوه مسرې په خپل منځ کې سره هم قافیه وي او ردیف په هر بیت کې اختیاري دی. کېدی شي چې ځینې بیتونه ردیفونه ولري او ځینې یې ونه لري، د هر بیت د مسرو شمېر یې په خپل منځ کې سره مساوي دي، خو د ټولو بیتونو د مسرو د څپو شمېر یې د یو یا دوه څپو په شمېر توپیر او بدلون موندلای شي. البته تر اکبر زمینداوري دمخه مثنوي ته ورته شعرونه وو، خو بشپړه مثنوي اکبرزمینداوري لیکلې ده.

دلته یې د مثنوي څو بیتونه را اخلو:

زه عاشـــق یـــم یـــار هـــم نیـــز
نـــور څـــه نـــه لـــرو تمیـــز
یـــو پـــر بلـــه عاشـــقان یـــو
په خپل عشق کـې صـادقان یـو
یـو پـر بـل پسـې رنځـور یـو
چې نـړدې نـه یـو مهجـور یـو
عشق کـه ښـه دی کـه بـلا دی
پیـــداکړی زمـــورږ مـــولا دی

په پورتنیو بیتونو کې اول بیت ردیف نه لري او دوه نور یـې لـري. پـه لرغوني ادب کې د مثنوي ځینې ځانګړنې دادي.

۱- زاړه ویونه لري ۲- زړه پانګه په کې پاتې ده.

۳- پښتو یې سوچه ده ۴- د پردیو ژبو اغېز په کې کم دی یا هېڅ نه شته. ۵- ویاړنه او افتخار په کې موجود دی. ۶- عشق او دوستۍ په کې ښکاري. ۷- ټولنیزه مینه او محبت په کې لیدل کېږي.

تر اکبر زمینداور وروسته زرغون خان نورزي مثنوي لیکلې:

ساقي راشه پیاله راکړه مرور یار مې پخلا کړه

**د نورو بېلګو په توګه د بابوجان بابي او د بي بي نېکبختې مثنوي هـم یادولای شو.**

**د بابوجان بابي مثنوي:**

**عشق یو هسې توريالی دی چې په هر ځای یې برى دی**

**عشق اور هسې سوزان دی چې سوځلی یې جهان دی**

**د بي بي نېکبختې مثنوي:**

**په زړه ښاد شې ای مومنه په ظاهر په باطن سپينه**

**ظاهر زهد په اخلاص کړه په زړه ټينګ شه له يقينه**

## اخځونه

**۱- خوشال په خپل ایډیال، محمد اسمعیل یون.**

**۲- پټه خزانه، محمد هوتک، دویم چاپ.**

محمد داود رحیمي- د پښتو ځانګې د لومړي ټولګي محصل

# د هند لودي واکمنان او پښتو لرغونی ادب



لودي قبیله د پښتنو د مشهورو اونومیالیو قبیلو له جملې څخه ده چې دهند په ملتان یا ختیـزه پښتونخوا کې یې استوګنه کوله. دنوموړې کورنۍ دنسب په هکله تـاریخ پوهـانومختلفې نظریـې ورکړې دي، دځینوتاریخ پوهانو پـه انـد لـودي کورنۍ دمتوزي پښتنو له جملې څخه ده اومتـو بي بي دبیټ نیکه لوراودشاحسین مېرمن وه. متـوبي بـي دوه زامـن درلودل چې دابراهیم اوغلجي په نومونویادېدل چې تر دې وروسته بیا په لودیانو باندې مشهورشول.

دلودي کورنۍ نورې ځانګې له سیانې، نیازي، پرانګي، لواني، دوتـانې، سوري اومروتو څخه عبارت دي.ددي کورنۍ لومړنی پاچا سلطان حمید لودي نومیده چې د(۳۷۰هـ ق) په شاوخوا کې دلاهور اوپنجاب دراجا له خواقدرت تـه ورسـېدچې دواک سـیمه یـې دملتـان شـمال لورتـه دپښتونخواځینې سیمې ترلغمانه پـورې اوپـه سـهیل کـې دپنجـاب

یوشمیرسیمې وې چې پلازمېنه یې ملتان و. سلطان حمیدلودي چې یوزړوراوپښتون سړی و اودهمدې زړورتیا اوپښتونولی له امله یې له راجا سره پر جیپال باندې د لویدیځ له لورې دبریدونومخنیوی کاوه.

سلطان حمید لودي په داسې وخت کې واک ته ورسېد چې په پښتونخوا کې دغزنوي کورنی پاچاهان د واک پر ګدۍ ناست وو اوځوځلې په جګړوکې هم ورسره ښکېل شوي دي. مګرکله چې سبکتګین دواک چارې په لاس کې واخیستې نوحمید لودي ورسره سوله وکړه.

تر سلطان حمید لودي وروسته دده زوی نصر پاچا شوکله چې نصرمړشونوپر ځای یې داود قدرت ته ورسېد،چې په دې وخت سلطان محمود غزنوي په غزني کې پاچاهي کوله چې له داودسره یې په (۳۹۵ــ۳۹۶ه ق) کې جګړه وکړه اوپه(۴۰۱ه ق) کې یې داود ونیواوغزني ته یې راوست اوبندي یې کړ چې هلته وفات شو.

دې سره دلودیانودپاچاهي لمن ټوله شوه.مګر په (۸۵۵ه ق) یانې ځلورنیمې پېړۍ وروسته لودیان یوځل بیا په هند کې قدرت ته ورسیدل.ابوالمظفربهلول شاه یوځل بیاد لودي کورنی نوم راژوندي کړ اودپښتنوحکومت یې په هندکې جوړ کړ، دده تر مړینې وروسته سلطان سکندرلودي اوبیا سلطان ابراهیم لودي پر هند باندې حکومتونه کړي دي.

لودي کورنی نه یوازې یوه شاهي کورنی وه بلکې دپښتوادب پرمختګ لپاره یې هم دقدروړخدمتونه کړي دي.که څه هم داکـورنۍ لـه خپـل ټاټوبي یانې پښتونخواڅخه لـرې اوسـېدله، خوبیـاهم دوی پښـتني فرهنګ، ژبه، دود او دستورهېرنه کړل، ددې کورنۍ ځینوشاهانودشاهي تاج ترڅنګ دادب تاج هم پر سر ایښی و، خپله یې هم شعرونه ویل اوپه دربارکې به یې ادبي مشاعرې او غونډې جوړولې.

ددې لپاره چې دلودي کورنۍ له دې شخصیتونوسره بلـدتیا پیـداکړو نوددغوشاعرانولنډه پیژندنه( بیوګرافی)او دشعرنمونې تاسې ته وړاندې کوو.

## الف: شیخ رضی لودي اونصرلودی:

دلودي کورنۍ دمشهوروشـاعرانوله جملـې څخـه دي، شـیخ رضـی دحمیدوراره اونصرېې زوی و، چې ددوی له جملـې څخـه نصـرلودي دخپل پلار تر مړینی وروسته پاچاهۍ ته هم رسېدلی دی.

دشیخ رضی  احوال پټې خزانې په لاندې ډول ذکر کړي دي ((پوه سـه پدی چی کامران خان ابن سدوخان په ښهرصفا کی پـه سـنه (۱۰۳۸) هجری کې یوکتاب وکېښ چی (کلید کامراني) نومېږی په دې کتاب کې کامران له کتابه دشیخ احمد بن سعید الودي چې په سنه (۶۸۶) هجري کښلی دی او نوم یې (اعلام الوزی فی اخبارلودی ) دی هسی نقل کـا:

چی شیخ رضی لودي دشیخ حمید لودي وراره وه، شیخ رضی یو کلک اومعتقد مسلمان و له همدی امله دی داسـلام ددیـن دخپرولولپـاره پښتونخوا ته ولاړ، دوه کاله یی هلته تېرکړه اوډېرخلک یی داسلام پـه سپېڅلي دین باندې مشرف کړل نصرلودي چې کله دخپل پلارله مړینې څخه وروسته په تخت کېناست نوموړی دملاحده له استازوسره اړیکې ټینګې کړې اودهغوی سره به کېناست اوبلاخـره لـه دوی څخـه یـې داسماعیلیې فرقې عقاید زده کړل اوملحد شو.

شیخ رضی چې کله له دې پېښې څخه خبرشونو له پښتونخوا څخه یې نصرلودي ته دالاندی پاړکی راولېږه:

دالحادپــــــه لــــــوردې ترپلـــــــل
ګــــــــروه دې زمونږوکــــــــــوراوه
مـــــــونږروڼلې پــــــــه زیارنــــــــه
تاپــــــــــه توروتـــــــــــــوراوه
لرغونــــــــوولې ګروهېــــــــــدلې
چـــــــــې دې ګوښــــــــــې اړاوه
هغــــــه ګـــــــروه دی اوس اړه کـــــــړه
چـــــــې پلــــــــرو دې رڼــــــاوه
لــــودي ســــتاپه نامــــه ســــپک شــــو
کـــــــــه هرڅومودرنـــــــــاوه

نصـــــره نــــه مـــــویږ لــــه کهالـــــه
لــــــودي نــــــه یـــــږ پــــه کــــــاوه
زمـــــونږ رغــــا ده ســــــتاله ګروهــــــه
د ورځ لـــــــــوی پــــــــه رغــــــــاوه.

کله چی نصرلودي داخبرې واورېدې نوله دې خبری څخه یې انکار وکړ چې ګنې دی ملحد شوی دی نودشیخ په ځواب کې یې دالاندې پاړکې وویل.

دالحادپــه تورتـــورن ســـوم        زه لرغون خوملحــد نــه یــم
زما دښنه هســې تــورراکړي        که ملحـد یـم د دښـنه یـم
لــه اســلامه نــه ترپلمـــه        تورانوڅخــه پــه ترپلــه یــم
ګروه مــې هغــه لرغــونی ده        اوس هم کروړ په لرغونــه یــم
داسلام په هســک بــه ځلــم        وتورانوتــــه تیــــاره یــــم
دلــودي ځــوی ســنتي یـم        د حمید لــه لــوړ کهالــه یــم
تــورانی دښــمن چــې وایــي        زه لــه ګـــروه پـــه اړه یـــم
دایــی تورتاســې دروهــوي        زه مومن ستاسې په تلــه یــم
ددښـــــنو وینـــاوې مغـــړه        زه لــودي یمــه څــوزه یــم.

که چیری مونږ دنصرلودي اوشیخ رضي لودې اشــعاروته متوجــه شــو نوداشعاردشکل له مخې دغزل بڼه لري البته هغه غزلونه دي چې مطلع نه لري. دمحتوا له مخې دیني بڼه لــري همدارنگــه یــو څــه قــافیوي نیمگړتیاوې هم لري یوه بله ځانگړتیا یی داده چې د عربي اوفارسي ژبې له اغېزې څخه خالي ده، د( سنتي، مومن اوالحاد) یو څو کلمې په کې عربي دي اونورټول سوچه پښتو لغاتونه دي چې ځینې یې اوس له منځه تللي دي.

## ب : سلطان بهلول لودي :

کله چی پر ( ۴۰۱ هــ ق) کال دسلطان محمود غزنوي له خــوا د لــودي کورنی پاچاهي له منځه یووړل شوه، نو تر(۴۵۰) کلونو پورې دلودیانونوم په هندکې کم اوریدل کېده. مگردسلطان بهلول لــودي پــه راتلوســره دلودي کورنی نوم یوځل بیاراژوندی شو. دپښتو ژبې باوري سرچینه پټه خزانه دبهلول لودي په هکله لیکي:((په مخزن افغاني کــې نعمــت الله هسې کښلي دي چې ملک بهلول دملک کالازوی و په هندوستان کې یې دسلطنت لوا هسکه کړه اودغه ملک له لودي طایفې څخه و له ډېرې زمانې دې لودي ټبرسلطنت کاپه هندکې ملک بهلــول پــه ســرهند د اسلام خان تر وفات راهیسې استقلال وموند او تر جنگو په وروسته یې پر ډهلي خطبه او سکه ووهله پانی پت او لاهور او هانسي او حصــار او

ناګور يې د ملتان تر څنډو پورې ونيول او د هندوانو د راجګــانو ســره سخت جنګونه وکړل اواته ديرش کاله يې په هندوستان سلطنت وکا)).

بهلول لودي اصلا شاهوخېل دی دده مور اوپلار دملتان پــه کمــانګران سيمه کې اوسېدل پر (۸۱۴هـ ق) کال د بهلول په مور باندې کوټه راړنګه شوه چې موريې مړه شوه اودی دمور له مرګ څخه څوشــېبې مخکــې پيدا شو.

په(۸۲۱) هـ ق کال کې د بهلول تره سلام خــان، چــې دســرهند حــاکم ودبهلول له پلار څخه پرته چې دملتان د دوروالې دسيمې حاکم و نــور ټول ورونه سرهند ته وروغوښتل.

کله چې دبهلول پلار دنيازيو سره په يوه جګړه کې ووژل شــو نوســلام خان بهلول هم سرهند ته وروغوښت اوهلته يې له خپل تره سره د ژوند شپې اوورځې سبا کولې، بهلول په کوچنيتوب کــې هــم هوښــيار،پوه اوځيرک و له همدې امله دده تره هم ډېره پاملرنه کوله او په خورا مينه يې را لوی کړ.

کله چې سلام خان وفات شو نو ملک بهلول په (۸۵۵هـ ق) کــال کــې پاچاهي ته ورسېد، ده لومړی په هند کې خواره واره پښتانه سره يوموټی کړل اودخپلوپښتنو ورونو په مرسته  يې په هندکې يــې ډېرفتوحــات وکړل بلاخره په (۸۹۴هـ ق) کال کې يې له دې فاني نړۍ څخه ســترګې پټې کړې.

سلطان بهلول لودي دپښتو ژبې یو تکړه شاعرهم و، له ادیبانو اوشاعرانو سره یې زیاته مینه درلوده، دده په دربار کې به هر وخت ادبې مشاعرې اوغونډې جوړېدې.

دده دربار یو مشهورشاعر اوادیب چې خلیل خان نیازی نومېده سلطان ته په یوه څلوریزه کې داسې خطاب کوي.

خـــــړې وربــــځې ژاړي لــه پــاسه      کـــویــله غـــړ کــا بېلتون له لاسه

یه هغه لــوني ګوهرپه خول ســـــتا      دامرحبا کا ستا زمونږ مواسه

ددې څلوریزې په ځواب کې سلطان بهلول دا لانــدې څلــوریزه ورتــه وویله.

ملک به زرغون کړم په ورکړه راســـه      ګـــوره وربځې د داد لــــه پاسه

خول مې د عـــدل پــــه درو رون دی      جهان به زېـــب مومي زما له لاسه

دسلطان بهلول لودي همدغه یوه څلوریزه پټې خزاني تر مـــونږ پـــورې رارسولې ده اودده نور اثار په واک کې نه لرو.

## ج:علي سرورلودی:

اوس هم دلودي کورنۍ یوبل ادیب،شاعر اوصوفي تاسې ته درپېژنو:

نوموړی شیخ هم دشاهوخېلو له ټبر څخه دی او د(۹۶۰) هـ ق کال په شا او خوا کې یې ژوند کا وه.شیخ علي سرور یـــو لـــوی شـــیخ او روحـــاني شخصیت و دتدریس حلقه یې هم درلوده اوزیات مریدان یې وو.

**نوموړی شیخ شاعر هم وچې دیني اوعرفاني شعرونه به یې ویل، مــوږ دلته دده یو شعر تاسو ته وړاندې کوو.**

## غزل

**محبــت پیالــه مــې نــوش کــړه پــه مجــاز کــې**
**دحـــق نـــور ویـــنم پـــه ســـترګو دایـــاز کـــې**
**درســـت وطـــن راتـــه دریـــاب شـــو بـــې دیدنـــه**
**دید مې نه شې مګر خـدای مـې سـبب سـاز کـې**
**کــه زه مــړ شــم هــم لــه ګــوره کــړم ســر پورتــه**
**ناګهـــان چـــې مـــې دلبـــر پورتـــه اواز کـــې**
**کــه مــې ســرغوڅ درقیــب پــه تېــره تېــغ شــي**
**هم به څم کــه دلبــر غوښــت پــه مهــر ونــاز کــې**
**زه ویـــــار مـــــداماً ناســـــت یولـــــه بلـــــه**
**پړغمـــاز دی بـــاری کـــانی دغـــم ســـازکې**
**ګـــران بېلتـــون بـــه دهغـــو مینـــو وینـــه**
**چې تل ناســت وي پــه خلــوت کــې ســره راز کــې**
**اې (ســـروره) غمـــازان ســـوه بـــې حســـابه**
**پــاک الله دې صــورت تــش بــې مغــزه پیــاز کــې.**

**محمد حامد حسن زی- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل**

# په پښتو لرغوني ادب کې عشقي روحيه



له استاد څخه په مننې چې موږ ته يې دا وخت راکړ، تر څو د خپلې ژبې د لرغونتوب په اړه معلومات ترلاسه کړو، په دې برخه کې څېړنه وکړو، په راتلونکي کې ددې جوګه شو، چې خپلې ژبې ته خدمت وکړو او خپله ژبه د نورو پرمختللو ژبو په کتار کې ځای کړو. کوم معلومات چې ما ددې موضوع په اړه وړاندې کړي، کېدی شي هغه ډېر کم، املايي او انشايي غلطي هم له ځان سره ولري، خو زه ددغو نيمګړتياوو بښنه غواړم.

د پښتو د لرغونو ادبياتو په لاسته راغلو نمونو کې موږ د شپږمې هجري پېړۍ په دوران کې ځينې داسې نمونې هم ترلاسه کوو، چې په هغو کې يوه سپېڅلې خو سوځنده مينه انګازې کوي.

د دغسې اورنیو عشقي احساساتو لرونکې ادبي نمونې موږ تــه یــوه د سلیمان ماکو له تذکره الاولیا او بله له پټې خزانې څخه ترلاسه شــوې دي، چې په لاندې ډول به پرې خبرې وکړو.

له دغسې سندرو څخه یوه سندره د شیخ تیمن کــاکړ ده، دا ســړی د سلطان علاوالدین حسین سام معاصرو او د (۵۵۰هــق) کال شاوخوا یې د ژوند زمانه وه. دی په ږوب او د پخواني غور د کجران په ســیمو کــې اوسېدلی دی. دده یوه سندره د پټې خزانې مولف رانقل کړې ده چــې دلته یې وړاندې کوم.

ګهـــیځ رڼـــا د لمـــر خپـــره ســـوه
زمـــا پـــر کـــور د ویـــر نـــاره ســـوه
د بېلتـــون ورځ تـــوره تیـــاره ســـوه
ږغ ســـو ناڅاپـــه چـــې بېلتـــون راغـــی
زړه مـــې لـــه دې ویرنـــې شـــین دی
پـــه ژړا ژاړم څـــه نـــاورین دی
زرغـــون پـــه اوښـــو مـــې ســـادین دی
پـــه نـــول نـــولېږم چـــې تـــا خـــون راغـــی
نـــه بـــه بیـــا یـــم نـــه بـــه بیـــا راســـي
نـــه بـــه تیـــاره شـــپه زمـــا رڼـــا ســـي
نـــه بـــه شـــهۍ راتـــه پخـــلا ســـي

ببلېـــړي پېـــر يـــې اوس د يـــون راغـــی
د څښـــتن پـــار دی هېـــر مـــې نـــه کـــړې
اغليـــه مـــخ چـــې پـــه يـــا نـــه کـــړې
اور بـــل دې پرېښـــووئ واتـــه کـــړې
پـــر مـــا د بـــل اور کـــړاوون راغـــی.

دغه سندرې د هغو بدلو ابتدايي شکلونو ته پاتې کېږي چې په کندهار او ددې سيمې په شاوخوا سيمو کې په خاص شور او جذبه او ځـانګړې غاړه ويل کېږي او په دې سيمو کې يې سپرې بدلې بولي.

د شيخ تيمن په دې بدله کې يوه مينه او يوه سپېڅلې پښـتني مينــه ځپې وهي او په خورا پرېولو الفاظو کې يې خپله مينه بيـان کـړې ده، لوستل يې اوس هم پر لوستونکي او اورېدونکي خاص اغېز ښندي.

د پښتو بله عشقي سندره چې تر موږ رارسېدلې ده هغه د قطب الدين بختيار کاکي خوندوره زړه سندره ده. قطب الدين د احمد زوی د موسی لمسی دی، کورنۍ يې له بختيارانو څخه سند ته تللې او د سند په اوج کې اوسېدلې ده. بختياران د پښتنو يوه ستانه قبيله ده، چې د پښتنو د انسابو په کتابونو کې يې يادونه شوې ده او کـورنۍ يــې اوس هــم پــه کندهار او د سليمان د غره پـه لمنــو کــې اوســي. قطـب الــدين پــر (۵۸۰هــق) کال زېږېدلی دی، د اسلامي معارفو او عرفان لوی مراتب يې

ګټلي وو او په هندوستان کې شهرت ته رسېدلی و. په مرات الافاغنــه کې یې قطب الدین بختیار د (قطب افغان) په لقب ستایلی دی.

د قطب الدین بختیار د مړینې کال (۶۳۳ -۶۳۴هـــق) د ربیـع الاول څلورم ښودل شوی دی. د قطب الدین بختیار کاکي یوه د مینې سندره سلیمان ماکو په تذکره الاولیا کې راوړې ده چې دلته یې را اخلو:

ویر مې زړه سوری سوری کړ　　راتـــه وګـــوره مـــلـــوکـــې
پــه بــېلتون کې دې وبــاسم　　له خوږمنه زړګي کـــــــوکې
راته وګوره ملوکې
راته وګوره ملوکې
د بــېلتون اورونــه بــل دي　　هر ګړۍ مې زړګی سوځي
لـــېونـــی یمه د مـــینې　　سوځم زه لکــه پېلــوځي
راته وګوره ملوکې
راته وګوره ملوکې
غــــوړولی دې اوربـــل دی　　اور زما پـــه زړګــي بل دی
زه بختیار خاورې ایرې سوم　　په اور سوی مې ګوګل دی
راته وګوره ملوکې
راته وګوره ملوکې

د بختیار دا سندره که څه هم ډېره ساده ده، خو د استاد الفت خبره یو موثر شعر او ښه نغمه ده او له یوه خوږمن زړه څخه راوتلې ده.

**د پښتو د زړو عشقي سندرو ځانګړنې:** د عشق او محبت د دغو دوو زړو ترلاسه شویو پښتو سندرو له مطالعې څخه دا دواړه سندرو ته دغه لاندې خصوصیات ټاکلای شو:

۱- د عشق او محبت دغه دوه سندرې چې شاعران یې په شپږمې پېړۍ کې اوسېدلي او د یوې شاعر حتی د اوومې پېړۍ د لومړۍ نیمايي ډېر کلونه هم ژوندی و، د خپلو شکلي خصوصیاتو له پلوه یوه سندره د پښتو بدلې لومړنی شکل دی، د بدلې دغه ابتدایي بڼه موږ ته دا خبره هم راښیي چې زموږ د ولسي شعر د معمولو ژانرونو، لکه بدلې او د چاربیتې د شکل زړی همدا وخت زرغون شوی دی، خو د قطب الدین بختیار کاکي سندره خپل لرغوني شکلي خصوصیات لري او موږ یې په خپلو لرغونو سندرو کې حسابوو.

۲- د دغو دواړو سندرو ژبه ډېره ساده او روانه ده، خو ځینې داسې لغات په کې راغلي چې د پښتو په ځینو لهجو کې ښايي موجود وي، خو په عامه پښتو کې نه شته.

۳- په دواړو سندرو کې عشق او مینه بیان شوې ده، دا مینه سوځنده ده، ښايي ځینې خلک یې د یوه معشوق مینه وبولي او ځینې بیا په دې عقیده دي چې په دې سندرو کې د الهي سوځندې مینې انګازې خورې دي، په هر صورت د دواړو ډوله مینې احساس ځنې کېدی شي.

دلاور ایوبي- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# د امیر کروړ او ملکیار هوتک د شعرونو تاریخي ارزښت



**الف- امیر کروړ:** امیر کروړو د امیر پولاد سوري زوی دی چې پر (۱۳۹هـق) کال د غور په مندېش کې د واک پر ګدۍ کېناست. امیر کروړ یو تکړه او پهلوان ځوان و چې په یوازې ځان یې له څو تنو سره جګړه کوله، امیرکروړ د خپل واک په موده کې خیسار، کمران، برکوشک، بالشتان او همدارنګه د غور کلاوې د خپل سلطنت تر سیوري لاندې راوستلې. نوموړی د ابو مسلم خراساني خورا کلک ملګری و او په هغه جګړه کې هم ورسره مل و چې له ابوالعباس سفاح او بني امیه سره یې وکړې، امیر هم خپل لښکر د جنګ لپاره ورولېږه په پایله کې د بني امیه کورنۍ ماتې وخوړه او عباسیان بریالي شول، عباسیانو سره یې په نورو جنګونو کې هم همکاري کړې ده.

امیر کروړ واک ته په رسېدو سره د خپل قوم (سوریانو) نوم بیا راژوندی کړ، د خپل قوم لپاره یې هم خدمت وکړ، ده د خپل واک په وخت کــې دوه مرکزونه درلودل، چې په ژمي به په مندېش کې او په اوړي کې به په زمینداور کې مېشت و او هلته یې د ژوند شپې او ورځې تېرولې.

امیر کروړ ددې ترڅنګ چې یو تکړه جنګیالی و د پښتو ژبې په شعر کې هم مخکښ و او پښتو اشعار به یې ویل. د پټې خزانې مولف د لرغــوني پښتانه چې د شیخ کته تالیف دی د امیر کروړ د شعر نمونه تــر مــوږه رارسولې ده چې دلته یې تاسې ته وړاندې کوم.

زه یـــــم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نسته

پر هند و سند و پر تخار او په کابل نسته

بل پر زابل نسته له مـــا اتــل نسته

غشی د من مې ځي برېښنا پر میرڅمنو باندې

پـــــر ژوبـــله یـــونـــم یــرغالــم پــه تښتېدونــو باندې

پر ماتېدونو باندې لـــه مـــا اتـــل نستـــه

زما د بریو پر خول تاوېږي هسک په نمنځ په ویاړ

د اس له سو مې مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ

کړم ایوادونه اوجاړ          له ما اتل نسته

زما د تورې تر شپول لاندې دی هرات و جروم

غرج و بامیان و تخار بولي نوم زما په ادوم

زه پېژندوی یم په روم          له مـــا اتـــل نـــستـــه

پر مروه زما غشي لوني ډاري دښن راڅخه

د هـــریـــرود پـــر څـــنډو څـــم تښتي پلن راڅخه

رپي زړن راڅخه          له ما اتـــل نسته

د زرنج سوبه مې د تورې په مخ سورو کړه

په باداری مې لوړاوی د کول د ســور کـــــړه

ستسر مې تربور وکړه          لـــه مـــا اتـــــــل نســـته

خـــــپلو وګــــړو لـــره لـــور پـــېرزوینـــه کـــــوم

دوی په ډاډینه ښه بامم ښه یې روزنه کوم

تل یې ودنه کوم          له ما اتل نسته

پر لویو غرو مې وینا درومي نه په څنډو په تاڵ

نړۍ زما ده نوم مـــې بــــولي پـــــر دريـځ ستايوال

په ورځو شپو مياشتو کال          له ما اتل نسته

د امير کروړ پورتنی شعر د پښتو لومړنی لاسته راغلی شعر دی چې تــر دې دمخه موږ بل شعر په لاس کې نه لرو، البته له دې څخه به وړاندې نور اشعار هم موجود وو، خو زموږ تر ګوتو نه دي رارسېدلي، له دې امله دا لومړنی شعر بلل کېږي.

دا شعر د فخر کولو او وياړ بنه لري او نوموړي د خپل ځـواک، شـان و شوکت، مېړانې او خپل قوم ته د خدمت اظهار په کې کړی دی او دا د ده د جنګياليتوب ښکارندويي کوي.

د شکل او جوړښت له مخې نه د پښـتو د ملـي نظمونـو لکـه لنـډۍ، چاربيته، بګتۍ... په ډول دی او نه هم له عروضي نظمونـو لکـه غـزل، قصيدې... سره سرخوري نو له همدې امله زموږ پوهانو لکه استاد حبيب الله رفيع دا شعر د پښتو د لرغونو سندرو په جمله کې حساب کړی دی. ددې شعر يوه بله ښېګنه داده چې ټول لغتونه يې سوچه پښتو دي او د نورو ژبو لغات په کې نه دي کارول شوي، په داسې حال کې چې زموږ په زياتره لرغونو منظومو او منثورو اثارو کې د عربي او پارسـي لغـات تـر سترګو کېږي، خو بيا هم په دې شعر کې داسې لغات کارول شـوي دي

چې په اوسنۍ پښتو کې ښېخې نه شته او يا هم ډېر کم تر سترګو کېږي چې هغوی هم خپله اصلي بڼه له لاسه ورکړې ده. د امير کروړ پــر دې شعر څه باندې دولس نيم سوه کاله تېرېږي او له تاريخي پلوه دا شــعر پښتو ادب ته ډېر زيات ارزښت لري.

**ب- ملکيار هوتک:** ملکيار هوتک د بابا هوتک زوی او د پارو لمسی دی چې پر (۷۱۵هــق) کال زېږېدلی دی، دده پلار په هغه وخت کــې د خپل قوم مشر و، نوموړی يو تکړه، زړور او جنګيالی پښتون و. څرنګــه چې مغولو جنګياليو د پښتنو پر سيمو باندې زيات يرغلونه کړي وو، د دوی پر سيمه يې هم يرغل کړی و او د دوی ترمنځ سخت جنګونه هــم پېښ شوي وو، ګڼ شمېر پښتانه او مغول پــه دې جنګونــو کــې ووژل شول.

کله چې بابا هوتک پر (۷۴۰هــق) کال وفات شو له دې امله چې دی د پلار مشر زوی و، نو د قوم مشرتابه او مسوليت د ملکيار پر غاړه شو. په دغه وخت کې ملکيار (۲۵) کلن زلمی و، ده هم د خپل پلار غونــدې د قوم مشري په ښه توګه وکړه، دی يو پياوړی، باغيرته او واکمن ځوان و، همدارنګه دی يو هېوادپال سړی و. په خپله سيمه يانې سيوری کې يې د کورونو، کارېزونو او نور رغونيز کارونو کې خپل رول ترسره کړ. کله چې مغول له دې کارونو څخه خبر شول، د هغوی وحشي لښکرې دې سيمې ته راغلې او د دې ځای ټوله ابادي يې ويجاړه کړه او دوی هم مرغــې او

ږوب ته په تللو اړ شول، تر څه مودې وروسته یې له خپلې سیمې څخه مغول بېرته وشړل او مېشت شول.

ملکیار د رزم ترڅنګ د بزم خاوند هم و، د پښتو ژبې یو تکړه شاعر تېر شوی، ډېر خواږه اشعار یې ویلي چې اکثرو یې غنـایي او عشـقي بنـه درلوده، دده د شعر نمونه په لاندې ډول ده:

ترنګ بهېږي ترنګ بهېږي غاړې تر غاړې

زما زړګی خو خپل لالی غواړي

که روده روده د ترنګ روده خاوند دی وچ کا

چې زړګی مومي زما خپله سوده

که نېز دی نېز دی نېز د بېلتون دی زړه نېزه وړی

په ویر ژړلی په غم زبون دی

که اور دی اور دی په زړه یې اور دی دا اور به وچ کا

د ویر نېزونه بل ډېر په زور دی

نمنځه یوسه سپینې سپوږمیه ورته وایه

چې ترنګ ټال کړم ستا له خولګیه

که خړو خړو    اوبو سوان کړۍ    ببل ملکیار دی

پاتې له یار دی    سوب يې جانان دی.

که د ملکیار هوتک پورتنۍ سندرې ته په ځير سره وګورو، نو دا سندره تقريباً عشقي بڼه لري. شاعر د خپلې مينې اظهار په ډېره ښه توګه کړی دی او د شکل له مخې هم د پښتو د لرغونو سندرو له جملې څخه دی، په دې سندره کې شاعر د زمانې او همدارنګه د طبيعت له ناخوالو څخه سر ټکولی دی، چې دده او معشوقې او وصال پر وړاندې خنډ ګرځېدلی دی، چې د ترنک سيند يې د ببلګې په ډول ويلای شو.

د ملکيار هوتک دا سندره په ډېر خلاص زړه ويل شوې ده، ژبه يې ډېره ساده او روانه ده او د هر لوستونکي لپاره زړه راښکونکې ده. همدارنګه د هنريت خيال هم په کې ساتل شوی دی، نوموړې سندره د هماغه وخت د شرايطو، دود او دستور او همدا ډول د پښتني افکارو نماينده ګي کوي او په ډېر لوړ ذوق سره بيان شوې ده.

د يادولو وړ ده چې د ملکيار هوتک پورتنۍ سندره د پښتو د لرغوني ادب د لړۍ وروستۍ کړۍ ده، چې تر موږ رارسېدلې ده او عشقي يا غنايي مسايلو ته په کې اشاره شوې ده.

ګل محمد پښتون- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# د پښتو ادبیاتو په لرغونې دوره کې نثر



په دې دوره کې نثر لکه څنګــه چــې بایــد وای دومره په لاس نه لرو، دا ددې مانا نه لــري چــې پښتو به په نثر کې اثار نه درلودل، بلکې دا ویلای شو چې پښتو یوه لرغونې ژبه ده، لکه څنګه چې یې په نظم کې ډول ډول اثار درلودلې دي، دغه رنګه به یې په نثر کې هم اثار درلودل او پښتو نثر هم تاریخي ریښې لري، ولې هغه به هم لکه د پښتو نور اثار چې د زمانې ناوړو سېلابونو له ځان سره وړي دي، نثر به هم په دې ســېلابونو کــې ورک شوی وي. دغه وجه ده چې تر (۶۰۰هــ) څخه دمخه موږ هېڅ کوم کتاب نه لرو، یوازې د هاشم زید السرواني (۲۲۳-۲۹۷هــ) د سالو وږمه کتاب چې په نثر یې لیکلی دی او د هغه هم یوازې نوم راپاتې دی چې دا کتاب د عربي ژبې د شعرونو د فصاحت او بلاغت په بیان کې په پښــتو نثر لیکل شوی دی.

د مغولو تر تاړاک (۶۰۰هـ) دمخه د پښتو ژبې ادبي مرکزونه غور، هلمند، ارغنداب او د ترنک ورشوګانې وې، څرنګه چې دغه مرکزونه د مغولـو خونخوارو لښکرو وران کړل او د مدنیت یوه بېلګه یې هم پرېنښوده، نو ښایي چې د پښتو کتابونه او اثار هم ورسره تباه شوي وي، یو پوخ دلیل شته چې تر (۶۰۰هـ) دمخه هم د پښتو نثر موجـود و او د پوخـوالي او متانت درجې ته رسېدلی و، ځکه د (۶۰۰هـ) په شاوخوا کې چې د نثـر کومه نمونه موجوده ده هغه ډېره پخه، متینه او خوږه ده، د یوې ژبې نثر چې دې درجې ته رارسېږي، طبعاً یې باید لومړني پړاوونه تېر کړي وي چې د کوچنیوالي له مرحلې څخه د پوخوالي درجې ته رارسېدلی وي. د مغولو چپاوونو، نه یوازې دا چې پخواني اثار یې له منځه یـوړل، بلکـې راوروسته دورو اثار یې هم په خپلو سېلابونو کې لاهو کړل. دغه وجه ده چې تر (۶۰۰هـ) څخه وروسته هم د کلونو کلونو په بهیر کې موږ د نثـر کوم پوره اثر په لاس کې نه لرو، یوازې د سلیمان ماکو د (تذکره الاولیا) چې ټولې څلور پاڼې دي یا اته مخه او ډک اووه مخه کېږي د هلمنـد د ناوې د ادم خان په کلي کې د زړو کتابونو د پلټلو پر مهال د لوی استاد پوهاند علامه عبدالحی حبیبي ګوتو ته ورغلې چې دا اووه مخونه هم له کلتوري، تاریخي، ادبي، عرفاني او ژبني پلوه د زیات ارزښت وړ دي، چې لومړی دا پر دوو برخو وېشلای شو:

الف- د سلیمان ماکو خپله لیکنه چې په نثر ده او د شاعرانو ژوند لیک په کې راغلی دی.

ب- په تذکره الاولیا کې د شاعرانو راغلی کلام چې په نظم دی. سلیمان ماکو د پښتو پخوانی مورخ او نثر لیکونکی دی. دده دغه تذکره د پښتو مشاهیرو او ادبي رجالو یو مفصل تاریخ دی، چې دی د هر سړي احوال بیانوي. د هغه علمي او روحاني مقام ښيي او بیا یې د شعرونو بېلګې او څه ویناوې رانقلوي. دا نثر د پښتو پخوانیو شاعرانو په احوال او اثارو کې زموږ یو پخوانی تاریخي او پوخ ماخذ دی، چې دی د هغو د ژوندانه احوال، اخلاق، کورنی او هم ادبي موقعیت ښيي، نو ویلای شو چې دا د تصوف کتاب نه دی، بلکې د شعر او ادب یو قیمتي تذکره ده.

د سلیمان ماکو نثر ته که په تحلیلي نظر وکتل شي، نو په هغه ادبي چاپېریال کې چې دا نثر رامنځته شوی دی، حتمي به ددغو شرایطو تابع و.

۱- د پښتو ژبې خپل اثر چې سلیمان ماکو پښتون و او د پښتو ژبې ویونکی و، نو طبیعي ده چې دغه عامل به دده د نثر لیکنه کې موجود وو د هغو د لیکلو سبک به هم پر ده دروند اثر درلود.

۲- په پاړسي ژبه کې چې کوم ادبي حرکت موجود و او د سلیمان چاپېریال یې نیولی او ضرور به یې دده پر نثر هم اثر کړی وي.

۳- په دغه وخت کې عربي ادب او ژبې هم پوره او بشپړ اثر کړی و، پخپله پاړسي نثر هم په لومړیو وختو کې تر دغو اغېزو لاندې ووده وکړه (۵۰۰هـ) په شاوخوا کې چې کوم پاړسي منثور کتابونه ولیکل شول د

عربي ژبې اغېز په کې څرګند دی، ځکه چې پښتانه هم له عربي ثقافت سره د دغې زمانې په بهير کې اړيکي لري، نو پر پښتو هم د عربي اثـر شوی دی.

په لفظي لحاظ د سليمان ماکو نثر خوږ، ساده، روان او له ځانګړي اهنګه ډک دی، په خاصو ځايونو کې يې سجع کارولې چې نثر تـه يـې زياتـه ښکلا وربښلې ده او له عمومي محاورې څخه لرې نـه ده، جملـې يـې لنډې دي، مقصد لنډ بيانوي او په معنوي لحاظ د اسلام او مذهب تاثير په کې ښکاري. په دې دوره کې نور داسې کتابونه نه لرو چې هغه هم په نثر کې ليکل شوي وي، خو يوازې نومونه او ځينې محتويات يې د ځينو تذکرو په حواله لاسته راغلي دي.

د سليمان ماکو تذکره له ژبني پلوه د درېو ژبو له لغتونو څخه جوړه ده: الف- پښتو، ب- عربي او ج- فارسي. دا نثر د ګرامر له پلوه سره توپير لري او همدا ډول ځينې متروکې او ورکې کلمې هم لري.

تر دې نثر وروسته نور نثرونه چې دي، هغه په (۶۵۰هـ) کې تاريخ سوري هغه کتاب دی چې د پټې خزانې مولف يې د شيخ کټه د لرغوني پښتانه په حواله نوم اخلي او دا کتاب د شيخ کټه په لاس کې و او په لرغـوني پښتانه کې يې ډېر مواد له دغه کتابه رانقل کړي وو، ددې کتاب ليکوال محمد بن علي البستي دی چې په بُست کې اوسېده.

پټه خزانه داسې څرګندوي چې دا کتاب په پښتو لیکل شوی او په هغه کې یې د سوریانو د کورنۍ حال او احوال بیان کـړي. د هغـو کورنیـو، سیاسي او ادبي شخصیتونو همدارنګه د تاریخي او سیاســي پېښــو د پېژندنې تر څنګ یې ادبي رنګ هم درلود، ددې خبــرو ښــه ثبــوت د (تاریخ سوري) هغه محتویات دي چې موږ ته پــه دوو واســطه لاســته راغلي دي.

الف- شیخ کته ((لرغوني پښتانه)) کې له تــاریخ ســوري څخــه مــواد اخیستي دي.

ب- د پټې خزانې مولف ((محمدهوتک)) له ((لرغوني پښتانه)) څخه په خپل کتاب کې ځینې مواد را اخیستي دي، هغه اثار دادي:

۱- د امیر کروړ احوال او دده ویاړنه.

۲- د اسعد سوري احوال او قصیده یې.

۳- د ښکارندوی غوري احوال او قصیده یې.

تر تاریخ سوري څخه راوروسته د پښتو نثر بل کتاب چې ((اعلام الوزی فی اخبارلودی)) نومېږي او پر (۶۸۶هــ) کال احمد لودي لیکلــی دی، ددې کتاب پته هم نه شته او دا کتاب هم د لودي پاچاهانو د احــوال او اشعارو یوه ټولګه ده چې تر یولسمې هجري پېړۍ پورې لا موجود و، تر دې راوروسته د (۷۵۰هــ) په شاخوا کې د یوه بل تاریخ د نامــه څــرک

لګېږي دا کتاب (لرغوني پښتانه) نومېږي چې شیخ کته متي زي لیکلی دی او اوس هغه ورک دی خو داسې څرګندېږي چې دا کتاب تر (۱۱۴۲هـ ق) پورې د پټې خزانې د مولف محمد بن داود سره و ځکه چې محمد هوتک ددې کتاب ډېره یادونه کړې ده او د شاعرانو ډېر احوال یې له دې کتاب څخه راوړي دي او دا د پټې خزانې لوی ماخذ دی.

دا کتاب په نثر او نظم کې د پښتنو پوهانو، شاعرانو او جنګیالیو مهمه ذخیره ده چې نثر یې ښه پوخ، خوږ او روان دی.

د شیخ ملي دفتر هم په دې دوره کې د نثر هغه کتاب دی چې د (۸۳۰هـ) په شاوخوا کې لیکل شوی دی، چې په دې کتاب کې د یوسفزو د یون او فتوحاتو احوال، د پېښور او سوات په سیمو کې د دغه ولس تاریخي پېښې او د ځمکو د وېشلو د قانون بیان په کې لیکل شوی و.

(د پښتنو تاریخ) هم هغه منثور تاریخي او قانوني اثر و چې کجوخان رانیزي پر (۹۰۰هـ ق) کال د دفتر د تکمیل لپاره لیکلی و، دا کتاب هم اوس په لاس کې نه لرو.

# اخځونه

۱- حبیبي عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی او دویم ټوک، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل کال.

۲- هوتک محمد، پټه خزانه، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۹ل کال.

۳- زېور ډاکتر زېورالدین، د پښتو ادبیاتو تاریخ، لرغونې دوره، مومنـــد خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۹ل کال.

۴- یون محمد اسمعیل مقاله ( د تذکره الاولیا ځانګړتیا او لرغونتیا)).

**حمیدالله- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل**

# د لرغونې او منځنۍ دورې د ادبیاتو ترمنځ توپیرونه



**د پښتو لرغوني ادبیات زموږ ګران هېواد په څو مهمو مرکزونو (غور، ملتان او د کسي غر) کې لږ او ډېر لاسته راغلي. دا درې هغه مرکزونــه دي چې پښتنو په کې خپل محلي حکومتونه کړي او یا یې د خپلې قبیلې تر نظام لاندې ژوند کــړی دی، د پښتونخوا او د افغانستان په نورو ســیمو کې پښتانه خواره وو او د سند او پنجاب تر لمنو رسېدلي وو.**

**د پنجاب په یوه خورا لرغوني ښار ملتان کې یې حکومت هم جوړ کړی و. په دې مرکزونو کې چې کوم ادبیات منځته راغلي دي هغه ادبیات دا لاندې خصوصیات لري:**

**۱- د اسلام په لومړیو پېړیو کې د پښتو ایجاد شوي ادبیات د خپل شکل او جوړښت له مخې له زړو اریایي ادبیاتو سره نږدېوالی لري او د پښــتو**

خپل شعري اوزان دي چې د اسلام د لومړیو څلورو پېړیو په دوران کې په دغو مرکزونو کې ایجاد شوي. پښتو اشعار به په خپلو دغـو لرغونـو ملي اوزانو کې ویل کېدل.

۲- په دغو سندرو کې ډېر پېچلي موضوعات نه، بلکې د هغـه زمـان د پښتنو موقف ته پاملرنه د مناظرې، جنګي او حربي کارنامو ویاړ، له خپل قوم او کورنۍ سره مینه ددې سندرو اساسي موضوع ده او د اسـلامي اساساتو حمایت په دغو سندرو کې شامل دی.

د پښتو ادبیاتو لومړۍ دوره له دویمې دورې سره کامل توپیر لري، په هر لحاظ په دې دوره کې پښتو ادبیات د افغانستان او پښتونخوا او هند په سیمو کې له ځینو ملي، مذهبي او پښتني احساساتو سره په ارتباط کې ایجادېږي.

د منطقې مسلط فرهنګي او ادبي جریان پر پښتو ادبیاتو خپل پوره اغېز کوي او د همدغو جریاناتو په پیروۍ کې خپل ځانګړي سبکونه پیداکوي او ځانته خپل خاص اورېدونکي او پیروان مومي.

ددې دورې ځانګړی توپیر په دې کې هم دی چـې ددې دورې ځینـې بشپړ اثار په لاس کې لرو او د لومړۍ دورې ځینې اثار له مونږ سره شته، خو یو شمېر زیات یې زمونږ په لاس کې نه شته، یا ورک شـوي او یـا د وخت په تېرېدو سره له منځه تللي دي. د هرې دورې د شاعرانو سبک

توپیر کوي، د لومړۍ دورې د شاعرانو سبک د دویمې دورې د شاعرانو له سبک سره ډېر توپیر لري.

د لسمې هجري پېړۍ په دوران کې بایزید روښـان د خاصـو سیاسـي، اجتماعي، فرهنګي شرایطو او تمایلاتو تر اغېـزې لانـدې یـو عرفـاني حرکت پیل کړی. د پیرۍ او مریدۍ سلسله یې جاري کړه او خپل مبادي او لارښوونه یې په ډېرو ښکلو الفاظو کې په پښـتو، پارسـي، عربـي او هندي اثارو کې تنظیم کړه، نو دغه مهال د نظم او نثر یوه غټه زېرمه په پښتو کې پیدا شوه.

۳- د اسلام د مقدس دین د لومړیو پېړیو پاړکي لکه چـې د شـکل او جوړښت له پلوه خپله ملي بڼه لري، د نورو ژبو د شاعرۍ اغېزې پر دې شعرونو زیاتې نه لیدل کېږي او د نورو ژبو اثرات په کې کم لیدل کېږي. هغه یو نیم د عربي ژبې او نورو ګاونډیو ژبو لغتونه په کې شتون لري، دا ډول اخیستنې د پاک اسلام د دیـن راتـګ او لـه نـورو ژبـو سـره د ګاونډیتوب له امله یا د راشې درشې له امله یو طبیعي عمل دی.

۴- په دغو مرکزونو کې ایجاد شوي اشعار ساده او هنري رنګیني دومره نه لري، ویناوالو یې سیده د خپل مطلب پر ویلو پیل کړی دی او د هنري رنګینیو خیال یې نه دی ساتلی.

دویم- د کسي غر: دا هم یوه لرغونې سیمه ده چې پښتانه له ډېرې پخوا زمانې څخه هلته مېشت دي او دې غر ته اکثره خلک د سلیمان غر هم وایي، چې په پوره اندازه پښتانه هلته اوسېږي.

ځنګه چې د کسي په غره کې پښتانه اوسېدل نو هماغسې د خپلې ټولنې له شرایطو سره سم برابر ادبیات یې هم درلودل. هغه ادبي اثار ددې غره د خلکو په منځ کې او د ټولو لرو او برو پښتنو په منځ کې په شفاهي او تحریري بڼه تر اوسه هم شتون لري او په لسګونو پښتانه شاعران په دې غره کې زېږېدلي او روزل شوي دي، چې له هغې جملې څخه یو هم شیخ بیټني بابا دی چې تر ټولو معلوم او پخوانی کس دی چې د کسي د غره په لمنه کې روزل شوی او د ژوند دوره یې د درېیمې هجري پېړۍ په شاوخوا اټکل کېدی شي.

درېیم- غور: غور زموږ د ګران هېواد افغانستان یوه لرغونې او تاریخي سیمه ده چې د پاچاهیو سلسلې په کې تېرې شوي او د پښتنو په لرغونو استوګنځایونو کې یوه هم د غور سیمه ده چې د پښتنو قبیلو په منځ کې د غوریانو یا غوریاخېلو په نامه یادېږي.

دې قبیلې هم د پښتو لرغونو ادبیاتو په برخه کې زیارونه ایستلي دي او له هغه وخت سره سم یې خپل ادبیات درلودل او پښتو ته یې خدمت کاوه، شفاهي او تحریري ادبیات دواړه یې درلودل. له دې جملې څخه یو هم امیر کروړ دی چې ډېر پخوانی شاعر دی د هغه یو شعر لاسته راغلی دی چې ویاړنه یې بولي، ښه روان شعر دی او سوچه پښتو لغتونه یې کارولي دي.

نېک محمد کټوازی- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# په پښتو لرغونو ادبیاتو کې جغرافیایي نومونه



دا چې هر هېواد لرغوني جغرافیایي نومونه لري، نو زموږ هېواد افغانستان چې پنځه زره کلــن تــاریخ لري، ډېر لرغوني جغرافیایي نومونه لري. زه دلته د ځینو هغو مشهورو سیمو نومونه اخلم چې د پښتو د لرغونو ادبیاتو د نظم او نثر په بېلګــو کــې یــې یادونه شوې ده:

۱- بالشتان: د جنوبي غور مشهور ښار و، چې ځینو مورخینو والشتان هم لیکلی دی.

۲- مندېش: د غزنویانو او غوریانو په وخت کې مندیش مشهور ښار و، چې بیهقي او ګردیزي او جوزجاني یې هم نوم اخلي.

۳- د خیسار کلا: دا کلا په غزنوي او غوري دورو کې د مغولو تر تاړاکه مشهوره وه، اوس قیصار په ممبي پورې اړه لري.

**۴- تمران:** د تيموري قبيلې ځای دی چې د غور شرق خواته پروت و.

**۵- برکوشک:** يانې دغه لوړه مانۍ وه چې فيروزکوه کې پرته وه.

**۶- پوشنج:** د ياقوت په قول له هراته لس فرسخه لرې يو ښار و.

**۷- غرجستان:** غرجستان چې د غور او هرات له شمال نه پيل تر امو پورې او په لويديځ کې تر مرغابه او مروالرود پورې رسېږي او په ختيځ کې له بلخ سره نښلي.

**۸- قصدار:** په اوسني بلوچستان کې يو ښار دی چې اوس يې خخدار بولي.

**۹- هلمند:** په اوستا کې د هلمند يادونه د هنرمند په نوم شوې دا سيمه تر ميلاد (۳۰۰۰) کاله وړاندې تاريخ لري چې د بست ښار يې مهم دفاعي ښار و.

**۱۰- پکتيکا:** دا هم يو لرغونی جغرافيايي نوم دی، ځکه د يونان يو مشهور تاريخ ليکونکي هيروډوټ (۴۸۴- ۴۲۵ق.م) هم په خپله مشهوره جغرافيه کې د پښتنو ذکر کوي، دی د پښتنو هېواد (پکتيکا) په نامه يادوي او په پکتيکا کې د سليمان غر، د جرکني غر او د ګومل سيند، د سه ګاني غونډۍ تاريخي ځايونه دي چې زه به د ګومل د سيند په باره کې لږ څه معلومات درکړم.

**۱۱- ګومل سیند:** ګومل سیند د پکتیکا ولایت د جنوب خواته د سلیمان له غره سره مستقیم تېر شوی چې ان تر جنوبي وزیرستان پورې امتداد لري، دایمي اوبه نه لري، خو د بارانونو په موسم کې په کې اوبه ډېرې وي.

د ډیورنډ کرښه هم یو ځل د یو څو هئیتونو له خوا څو ځله لاسلیک شوه د ګومل او کرمې د سیندونو ترمنځ خو دا مسئله حل نه شوه ځکه چې یو طرفه بڼه یې لرله.

**۱۲- غور:** دا یو تاریخي ولایت دی، دا ولایت ډېرې دفاعي کلاګانې لري تر ټولو مشهوره کلا یې د قیصر کلا ده چې سلطان علاوالدین اباده کړې وه او بل د (مینار) جام دی.

**۱۳- هرات:** هرات د هېواد له شمال غربي ولایتونو څخه دی چې ډېر تاریخي ولایت دی. سکندر مقدوني د هرات ښار د ((اتاکان)) یا ((ارتکایا)) په نوم یاد کړی دی. پر دې خاوره یونانیانو، کوشانیانو، یفتلیانو، ساسانیانو او تیموریانو واکمنۍ ترسره کړې دي.

**۱۴- بخدي (بلخ):** د پخواني اریایانو مرکز و چې بل نوم یې د بیرغونو ښار و چې دا هم یو لرغونی ښارګوټی و.

۱۵- سور غر: دا غر ډېر مشهور غر دی چې د کــلات شــمال شــرقي خواته واقع دی. کله چې به په هغه وخت کې هر ځل مغولو د ارغنداو پر غاړو لوټ کاوه اتغر، بولان او کلات به یې تالا کول باباهوتک خپل قومونه راټول کړل او په سره غره یې حمله وکړه، په دې جګړه کې مغول تــالا شول. د بابا هوتک په یوه جنګ کې چې پښتانه د مغولو په مقابل کې لږ څه کمزوري شول، نو ده د ځوانانو د احساساتو د راپارولو لپاره دا لاندې سندره وویله:

پـــر ســـور غـــر بـــل راتـــه نـــن اور دی
وګړیـــه جـــوړ راتـــه پیغـــور دی
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی
هـــم پـــه غزنـــي هـــم پـــه کابـــل راغـــی
غښـــتلیو ننـــګ کـــړئ دا مـــو وار دی
مغـــل راغلـــی پـــه تلـــوار دی
پـــه پښـــتونخوا کـــې یـــې ناتـــار دی
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی

۱۶- مهمند: دغه کلی اوس هم په دې نامه یادېږي، په کندهار کې دی.

۱۷- قصرنارنج: دا قصر په کندهار کی دی.

**۱۸- لغمان: د دې ولایت پخوانی نوم (لمپاکا) و چې بطلیموس یاد کړی او بیا د وخت په تېرېدو سره لقمان او بیا لغمان شو.**

**۱۹- بامیان: دا ولایت هم لرغونی دی چې د بودا مجسمې هم په دې ولایت کې دي.**

**۲۰- دیبل: د عربو سمندرګي پر غاړه یو ښار و چې اوسنۍ کراچۍ ته نږدې دی.**

## اخځونه


**۱- پټه خزانه، دویم چاپ، ۱۳۳۹ل کال.**

**۲- افغانستان پېژندنه، اورنګزېب ارشاد، ۱۳۸۴ل کال.**

سیداکرام الدین- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# په پښتو لرغونې شاعرۍ کې رزمي روحیه



که موږ پښتو ادبیاتو ته نظر وکړو، څه په لرغونې دوره کې، څه په منځنۍ دوره کې او څه هم په اوسنۍ دوره کې، ټولو کې رزمي روحیه لیدل کېږي، ددې یو مهم علت دادی چې پښتانه همېشه او یا یې زیات وخت له جنګونو سره مخامخ شوي، جګړې پرې تپل شوي او جګړو ته یې ځواب ویلی دی. نو په دې خاطر رزمي روحیې پر پښتو ادبیاتو په مستقیم او نا مستقیم ډول اغېز کړی دی. تصادفي نه ده چې پښتو لومړنی لاسته راغلی شعر هم فوق العاده رزمي روحیه لري.

د پښتو د ادبي تاریخ یوې مهمې منبعې پټې خزانې په حواله امیر کروړ د امیر پولاد سوري زوی و، چې پر (۱۳۹هــق) کال د غور په مندیش کې پاچا شو.

امیر کروړ د غور کلاوې، بالشتان، خیسار، تمران، برکوشــک او نــورې ونیولې. دده پاچاهي دوه مرکزه درلودل، امیر کروړ ډېر غښتلی پهلوان و چې په یوازې ځان به له سلو تنو سره جنګېده. ده د عباسي دعوت په جنګونو کې هم ګډون درلود او ډېرې بریاوې یې ترلاسه کړې وې.

امیر کروړ عادل پاچا و او پر دې سربېره ده په پښتو اشعار هم ویل. امیر کروړ پر (۱۵۴هــق) کال د پوشنج په جګړو کې مړ شو او پرځای یې دده زوی امیر ناصر پاچا شو.

د امیر کروړ کوم شعر چې پټې خزانې راوړی دی دادی:

زه یــــم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نسته
پر هند و سند و پر تخار او په کابل نسته
بل په زابل نسته له ما اتل نسته
غشی د من مې ځي بریښنا پر میرڅمنو باندې
پر ژوبله یونم یرغالم پر تښتېدونو باندې
پر ماتېدونو باندې له ما اتل نسته
زما د بریو پر خول تاوېږي هسک په نمنځ په ویاړ
د اس له سو مې مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ
کړم ایوادونه اوجاړ له ما اتل نسته

زما د تورې تر شپول لاندې دي هرات و جروم

غرج و بامیان و تخار بولي نوم زما په ادوم

زه پېژندوی یم په روم          له ما اتل نسته

پر مروه زما غشي لوني ډاري دښن راڅخه

د هریرود پر څنډو ځم تښتي پلن راڅخه

رپي زړن راڅخه          له ما اتل نسته

د زرنج سوبه مې د تورې په مخسور و کړه

په باداریٔ مې لوړاوی د کول د سورو کړه

ستر مې تربور وکړه          له ما اتل نسته

خپلو وګړو لره لور پېرزوینه کوم

دوی په ډاډینه ښه بامم ښه يې روزنه کوم

تل يې ودنه کوم          له ما اتل نسته

پر لویو غرو مې وینا درومي نه په ځنډو په تال

نړیٔ زما ده نوم مې بولي پر دریځ ستایوال

په ورځو شپو میاشتو کال          له ما اتل نسته

دا لوړ شعر د پښتو تر ټولو پخوانی لاسته راغلی شعر دی چې د اسلامي عصر په دويمه پېړۍ کې د غور يوه پښتون پاچا امير کروړ سوري ويلی دی. تر دې شعره بل پخوانی شعر لا تر اوسه نه دی ترلاسه شوی، امکان لري په راتلونکي کې د امير کروړ تر شعر ډېر پخواني پښتو اشعار کشف شي.

د امير کروړ د شعر ژبه لا تراوسه خپله رواني لري، سـره لـه دې چـې ځينې لغات يې په عامه پښتو کې نه استعمالېږي، خو بيا هم دا ژبه ډېره سخته او نا اشنا نه ده او کېدی شي چې ځينې لوستونکي دا پوښـتنه وکړي چې په دې څه دپاسه دوولس نيم سوو کلونو کې په پښتو کې ډېر زيات ژبنی تحول نه دی راغلی؟

د امير کروړ پورتني شعر ته په کتو سره ويلای شو، چې پښتو لـومړنی لاسته راغلی شعر هم په رزمي روحيه پيل شوی دی.

د اوومې پېړۍ د دويمې لسيزې په دوران کې ( ۶۱۷هــق) د چنګېــز د تالانګرو لښکرو حملې د افغانستان پر ځينو ښارونو او اسلامي فرهنګي مرکزونو پيل شوې، د دغو تباه کارو لښکرو د جنګونو خونريزيو او تالان په نتيجه کې ښارونه پر کنډوالو بـدل شـول، انسـانان ووژل شـول او فرهنګي مرکزونه خراب شول، عالمـان، شـاعران او د فرهنـګ لـوی شخصيتونه يا ووژل شول او يا د خپلو ټاټوبو پرېښـودلو تـه اړ شـول، کتابتونونه او کتابونه له منځه لاړل. دغه وخت زموږ پـه هېـواد کـې د

غزنویانو او غوریانو شاهي کورنیو اقتدار ختم شوی و، پر شمالي برخــو یې خوارزم شاهانو حکومت کاوه، پر سیستان او شاوخوا سیمو د نیمروز محلي حکمرانان مسلط وو، په هرات کې آل کرت کورنۍ حکومت درلود او د افغانستان په شرقي برخو کې ځینې داسې کسان حاکمان وو چې پخوا غوریانو ګومارلي وو. چنګېز اودده اولادې د اوومې پېړۍ په جریان کې زمونږ د هېواد پر بېلابېلو برخو حاکمیت درلود او په ډېره بې رحمۍ یې ددې هېواد بېوزلي ولسونه وژل.

د چنګېز، دده د اولادې او پاتې شونو، د لښکرو پر وړاندې د مقاومــت موضوع د پښتو په لرغونو ادبیاتو کې منعکس شوې ده.

محمد هوتک په پټه خزانه کې د بابا هوتک یوه داسې سندره راوړې ده چې د مغولو د تالانګرو لښکرو پر وړاندې د افغانستان د یوې ســیمې د پښتنو د مقاومت څرکونه ځینې ایستل کېږي، هغه سندره داده:

پــــر ســـــور غربـــل راتــــه نــــن اور دی
وګړیـــــه جـــــوړ راتــــه پېغـــــور دی
پـــر کلــــي کـــور بانــــدې مغـــول راغـــی
هـــم پــــه غزنــــي هـــم پـــر کابـــل راغـــی
غښـــتليو ننـــګ کـــړئ دا مـــو وار دی
مغــــل راغلــــی پــــه تلـــــوار دی
پـــه پښـــتونخوا کـــې یـــې ناتـــار دی
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی

آ دمرغـــــــې غښـــــتلیو راســـــئ
پـــر ننـــگ ولاړ د پښـــتونخوا ســـئ
تـــورې تېـــرې غشـــي تـــر مـــلا ســـئ
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی
زلمـــو پـــه غشـــیو کـــړئ وارونـــه
د تېـــرو تـــــورو گوزارونـــــه
ور وړانـــدې کـــړئ خپـــل تېرونـــه
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی
زمـــا د زلمـــو وینـــې بهېـــږي
ځمکـــې او غرونـــه پـــه ســـره کېـــږي
میرڅـــــی ځغلـــــې او ترهېـــــږي
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی
پښـــتنو هلـــئ پـــه غـــره جنـــگ دی
ســـور غـــر پـــه وینـــو د دوی رنـــگ دی
مهـــال د تـــورې دی د ننـــگ دی
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی
زلمـــو پـــر ننـــگ ځانونـــه مـــړه کـــړئ
دښـــن پـــه غشـــیو مـــو پیپـــه کـــړئ
د پښـــتونخوا ځمکـــې ســـاته کـــړئ
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی.

د پټې خزانې له بیان سره سم هر کله به د مغولو لښکرو د ارغنداو پـر غاړو لوټ کاوه د اتغر او بولان سیمې به یې تالا کولې، نو ددې سندرې

ویونکي باباهوتک خپل خلک راټول کړل او سره غره ته نږدې یې له مغولو سره جنګونه وکړل، په دې جګړه کې د پښتنو قوت لږ و او غلیم ډېر و، خو کله چې باباهوتک په لوړ اواز دا سندره وویله، نو زلمي به په جګړه کې تودېدل او سوبه د پښتنو په نصیب شوه. دا سندره د خپل شکلي جوړښت له پلوه زموږ ادبپوهانو د پښتو په لرغونو سندرو کې حساب کړې ده، د مضمون له پلوه یې محتوی رزمي ده چې د پردو لښکرو او تالانګرو په مقابل کې له وطن نه د دفاع مفکوره په کې منعکس شوې ده او خلک یې د پردو د تسلط پر وړاندې مقاومت ته رابللي دي.

رزمي روحیه له پښتو لرغونو ادبیاتو څخه همداسې منځنۍ او معاصرې دورې ته راغځېدلې ده، د روښانیانو د تحریک په ادبیاتو کې د مذهبي روحیې ترڅنګ رزمي هم لیدل کېږي، خوشال او د هغه پیروان خو بېخي د بزم او رزم شاعران دي او په معاصره دوره کې بیا د انګرېزي یرغل پر وړاندې موږ د رزمي ادبیاتو ډېرې بېلګې لرو، خو څرنګه چې زما موضوع په پښتو لرغونې شاعرۍ کې رزمي روحیه وه، نو ځکه مې په لنډیز سره یو دوو بېلګو ته اشاره وکړه.

محمدهارون محمدي- د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل

# د پښتو لرغوني نظم قافیه یي څرنګوالی



د پښتو ادبیاتو په لرغونې دوره کې د نثر په اندول د نظم برخه درنه ده، نظم هغه کلام دی چې وزن ولري، قافیه هم د نظم یو رکن دی، خو اساسي رکن یې نه دی، له قافیې پرته یو نظم جوړېدلای شي، خو له وزن پرته د نظم جوړېدنه ممکنه نه ده، نو ځکه ویلای شو چې وزن د نظم اساسي عنصر دی او قافیه یې فرعي، خو اکثره نظمونه قافیه لري، ځینې یې ردیفونه لري خو ځینې یې نه لري، بیا تر ردیفه قافیه په نظمونو کې ډېره کارول کېږي، هغه شعري فورمونه چې له عربي څخه پښتو ته راغلي هغو کې د قافیې استعمال حتمي دی، قافیه په لغت کې وروسته، شا، څټ او وروستې تلونکي ته وایي او په اصطلاح کې هغه پوهنه ده چې د بیتونو د دورونو د پای کلمو له غږونو څخه بحث کوي. قافیه تر دوو زیات مشترک اوازونو ته ویل کېږي، یانې داسې کلمې چې په خپل منځ کې لږ تر لږه دوه مشترک غږونه ولري. پوهان قافیه پر څو ډوله وېشي، ازاده یا مطلقه

قافیه، مقیده یا تړلې قافیه، یوه ستوې قافیه، غبرګه قافیه او ځینې نور ډولونه. په پښتو ادبیاتو کې د امیر کروړ نظم یو قافیوال نظم دی، دلته به زه په ترتیب سره په پښتو لرغونې دوره کې د ځینو قافیه والو نظمونــو ځینې برخې د بېلګې په توګه یادې کړم:

زه یم زمـــری پـــر دې نړۍ له ما اتل نسته

پر هنـــــدو سندو پر تخار او پر کابل نسته

بل پـــــر زابل نسته لـــه مـا اتل نســـته

دلته (اتل، کابل او زابل) د قافیې کلمې دي، ( نسته نسته) یې ردیفونه دي (ل) (ل) او تر هغه دمخه حرکتونه یې مشترک غږونه دي.

لویـــــه خدایـــــه لویـــــه خدایـــــه
ســــتا پـــــه مینــــه پـــــه هرځایـــــه
غـــــر ولاړ دی درنــــاوي کـــــې
تولـــــه ژوي پـــــه زاري کـــــې
دلتـــــه دي د غـــــرو لمنـــــې
زمـــوږ کیـــږدۍ دي پـــه کـــې پلنـــې
دا وګـــړي ډېـــر کـــړې خدایـــــه
لویـــــه خدایـــــه لویـــــه خدایـــــه

په لومړي بیت کې (خدایه او ځایه) د قافیې کلمې دي، ردیف نه لري، په دویم بیت کې (درناوي او زاري) د قافیې کلمې دي (کې کې) ردیف دی. په درېیم بیت کې (لمنې او پلنې) د قافیې کلمې دي ردیف نه لري.

کـــه یـــون دی یـون دی مخکې بېلتون دی
لـــه کـسي غـره څـخـه ځي خــــرښبون دی

(یون، بېلتون او خرښبون) د قافیې کلمې دي، (دی دی) ردیف دی.

د فــلک لــه چــارو څه وکړم کوکار

زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار

(کوکار او بهار) د قافیې کلمې دي ردیف نه لري.

د پسرلي ښکلونکي بیا کړه سینګارونه

بــیا یــې ولونل پــه غرونــو کــې لالونه

(سینګارونه او لالونه) د قافیې کلمې دي.

تر دې ځایه چې په نظمونو کې قافیه یې څرنګوالي ته ګورو، نــو اکثــره نظمونه په تول برابر دي، خو یو نیم ځای په کــې قافیــه نیمګړتیــاوې ښکاره کېږي، لکه:

ژبه هم ښه وینا کاندي چې يې وینه

د خاوند په لاس کې زر او درهمونه

په دې کې (وینه او درهمونه) قافیه شوي چې سسته غونډې قافیه جوړوي او مشترکات يې کم دي.

یا هم د شیخ اسعد سوري په قصیده کې چې (اوجاړ) کلمه له (کوکار، بهار، تار، خونخوار) او نورو سره هم قافیه شوې ده.

څښتن مو مل دی، اوس مو يرغل دی، هېواد د بل دی

دلته (مل، یرغل، بل) د قافیې کلمې دي ( دی دی) ردیف دی.

نن زه غړېږم په صفت د سلطان

چې دی بادار غازي ملک د جهان

جهان او سلطان د قافیې کلمې دي.

ګهیځ رڼا د لمر خپره سوه

زما پر کور د ویر ناره سوه

دلته (خپره او ناره) د قافیې کلمې دي، (سوه، سوه) ردیف دی.

پر لویو غرو هم په دښتو کې

په لوی سهار په نیمو شپو کې

په غاړه ږغ او په شپېلکو کې

یا د ویرژلیو په شپېلو کې

تول ستا د یاد ناري سوري دي

دا ستا د مینې ننداري دي

په پورته درېيو سربيتونو کې (دښتو، شپو، شپېلکو او شپېلو) د قافيې کلمې دي او (کې کې) رديف دی. په وروستي بيت کې (سورې او نندارې) د قافيې کلمې دي او (دي دي) رديف دی.

زه عاشق يم يار هم نيز
بل څه نه لرو تميز

(نيز او تميز) د قافيې کلمې دي رديف نه لري.

ساقي پاڅه پياله راکړه
مرور يار مې پخلا کړه

(را او پخلا) د قافيې کلمې دي (کړه کړه) رديف دی.

اورېدلې مې قصه ده چې له شاتو هم خوږه ده

(قصه او خوږه) د قافيې کلمې دي ( ده ده) رديف دی.

همداسې ترپايه پورې د پښتو لرغونو ادبياتو په نظمي برخه کې قافيه په ښه ډول مراعت شوې خو ځای نيم په کې ځينې نيمګړتياوې هم ليدل کېږي.

**هیلۍ- د پښتو څانگې د لومړي ټولگي محصله**

# د شیخ اسعد سوري د قصیدې هنري او فني ارزښت

## سریزه:

اصلي موضوع چې زما په تحقیق او څېړنې پورې اړه لري هغه د شـیخ اسعد سوري د ویرنې هنري اهمیت په گوته کول دي، خو مخکې تر دې لازمه بولم چې د قصیدو د ادبي او هنري صنف پر تاریخي پس منظر رڼا واچوم او هغه په دې ډول.

بوللـه (قصیده) د ختیزو ادبیاتو په دایره کې یوه ډېره بـا ارزښـته او د سرو زرو په تول برابره برخه تشکیلوي، چې په خاص ډول د عربي، دري، پښتو او اردو ژبو د ادب یوه ډېره ښکلې او منلې زېرمه او سـرمایه پـه حقیقت کې همدغه قصیده گڼل کېږي.

قصیده په عربي اصطلاح کې هغه متوصل او بې عیبه اصلاح شوي کلام او موزون شعر و چې د بیتونو شمېر به یې له (۱۶) نـه تـر (۱۷) بیتونـو پورې و او له دې څخه به کم نه وو او دا نوم له اره د قصد له مخـرج او مصدر څخه جوړ او مرتبط شوی چې مانـا یـې اسـتقامت، اصـالت او

سموالی دی او له بل پلوه د برابرۍ او سوچه والي مالګه ورسره هم ګډه وه.

قصیده په عربي ادب کې تر اسلام وړاندې هم موجوده وه، نو له دې نه داسې معلومېږي چې قصیده په موجوده بڼه او ګانه کې د پورته لیکــل شوي تعریف او پېژندنې له مخې د نورو ملتونو ادبپوهانو او څېړونکو له عربي ادب نه کټ مټ یا په لږ او ډېر تغیر تر ګوتو کړې وي. د عربــو لــه جاهلي او شدېل ادب څخه موږ ته هغه اوږدې او په عین حال کې روانې او ساده قصیدې د نمونې په توګه راپاتې دي، چې د عربي ادبیــاتو پــه اصطلاح کې ورته (معلقات سبعه) وايي او دغه شاعران تر اسلام دمخه په عربو کې تېر شوي دي. د څېړونکو د وینا او لیکنې له مخې ویلای شو چې عربي قصیده په شګلنو دښتو کې د مېشتو پرګنو د قبیلوي ژوند یو زړه راښکونکی او ښایسته تصویر و.

د دغو عربي قصیده ویونکو قصیدې به په مجموع کې لــه (۱۶) څخــه نیولې تر (۱۰۰) بیتونو پورې غزېدلي وې، که زه په دې اړه د کتابونو پــه مرسته وغواړم چې د قصیدې ادبي ناوې د ښکلي مخ نه پلو نــور هــم پورته کړم او ددې ادبي ناوې ښکلا او ښایست لوستونکو او د ادب مینه والو ته نور هم وځلوم، انشاالله د خپلې مطالعې او ژورې پرله پسې هڅې په رڼا کې په ډاډه او زغرده توګه دا کار کولای شم، خو اوس راته ناشونې ښکارېږي، ځکه چې زه د یوې ښځې او بیا خاصتاً د مور په حیث چې له

یوې خوا راته ماشومان را په غاړه دي، د کور اخلی پخلی او د ورځنـــي ژوند کړاوونه او له بلې خوا د خپلو زده کړو په چاپېریال کې لالهانــده، سرگردانه او د کتابونو د نشتوالي معضله هم ده، د امتحانونو د پرله پسې څپو هم په سر اخیستې یمه، د داسې موضوع لیکنه که له یــوې دړدې ډېره دلچسپه او ښکلې هم ده، خو له بلې خوا د پورتــه لیکــل شــویو عذرونو او مجبوریتونو له مخې ما غوندې نا وزگارې ښــځې تــه ډېــره سخته او مشکله ده چې په دې اړه لکه څنگه چې د موضوع حــق دی ډېر څه ولیکم، هیله ده زما خپل استاد به دا معذرت قبول کړي.

## د شیخ اسعد د قصیدې هنري ارزښت:

د شیخ اسعد سوري قصیده هم لکه د نورو قصیدو په شان یو مخصوص او ځانگړې هنري او فني اهمیت لري او ددې قصیدې هنــري ارزښــت ددې قصیدې په شروع او ترتیبولو کې پروت دی او هغه په دې ډول په گوته کوو:

شاعر په لومړي سر کې د خپلې ویرنې په جوړولو کې د اسمان له چپه گردش نه شکایت کوي او دی د فلک د ناخوالو او گردش تــاثیرات پــه کایناتو کې په گوته کوي. ددې قصیدې لومړۍ برخــه دا راښــیي چــې خوښۍ او خوشالۍ د قصیدې د بدیعې صنعتونو په لړۍ کې د تشــبیب

مقام نیولی دی، دلته شاعر د خپـل اصـلي هـدف د ښـکاره کولـو او ځرګندولو په ادا کې د خپل فکري قدرت او سرشاره اسـتعداد، زور او قوت لوستونکو ته ښيي، په څو بیتونو کې دا قدرت رانغاړي، د اسمان د تېري، ظلم، ناخوالو او حرکاتو منظرې موږ ته په ګوته کوي او د خپلـې قصیدې تهداب او بنسټ په ډېره هوښیارۍ او د یو مجرب اسـتاد پـه حیث داسې ږدي:

د فـلـک لـه چـارو څـه وکـړم کوکـار
زمولـوي هرګـل چـې خانـدي پـه بهـار
ډېـر مخونـه د فلـک څپېـړه شـنه کـا
ډېـر سـرونه کـا ترخـاورو لانـدې زار
چې يې ملاوې نـه کږېـږي پـه غښـتليو
دا فلـک پـرې وکـا څـه کـاري ګـوزار.

بیا تر دې وروسته د قصیدې اساس په تدریجي ډول تر خپل هدف پورې رارسوي، نو بیا دغه شاعر غواړي چې ددغو ظلمونو تر رابرسېره کولو او ځرګندولو وروسته په خپله نېغ په نېغه له فلک سره وینا وکړي، په دغو پورته بیتونو کې شاعر غایبانه حکایت او شکایت کـوي، مګـر تـر دې وروسته د غایب نه مخاطب ته متوجه کېږي او دا يې بل فنـي اهمیـت دی، چې اول د ګیلې او شکایت شروع له غایـب نـه کـوي او داسـې

انځورنه کوي چې هغه نه شته او دده شکایت نه اوري او شاعر هــم نــه غواړي چې خپل شکایت د هغه غوږ ته ورسوي، مگر کله چې دده تاثیر نور هم زیاتېږي او زغم له لاسه ورکوي، نو لکه په یو غشي د ویشــتلي زخمي انسان په ډول پر اصلي ویشتونکي باندې په ډېر جرئــت گــوزار کوي او بیا فلک له غیابت نه حضور ته راولي، له هغه سره خپلې گیلې مخامخ شروع کوي او فلک ته په څرگند ډول او جرئــت ســره خطــاب کوي، لکه چې وایي:

څــه تېــرى څــه ظلــم کانــدې اى فلکــه!
ستا له لاسه نه دى هېڅ گــل بــې لــه خــار
پــر ویرژلــو لــور نــه کــړى پــه زړه کراړیــه
پــــــر نتلـــــو وروې د غــــــم ناتــــــار.

دغه نېغ په نېغه باجرئته مخاطبه تقریباً تر یوولسو بیتو پورې رسېږي، په ډول ډول د فلک نارواوې او جفاگانې ښکاره کوي او په اخره کې په ډېره استادۍ او پوره مهارت خپل مقصد ته مخه او خلاصه کوي او دا مرحله په ډېر ادبي ډول په کې رانغاړي چې په ادبي اصطلاح کې ورته حســن تخلیص ویل کېږي، نو ځکه بیا داسې وایي چې:

کلــــه غورځـــوې واکمـــن لـــه پلازونـــو
کلـــه کښـــېنوې پـــه خـــاورو کـــې بـــادار
زموږ پر زړونو دې نن بیا یــو غشــی وویشــت
و دې ژوبللـــــه پـــــه دې غشـــــي هـــــزار
پــر ســوریو بانــدې ویــر پرېــوت لــه پاســه
محمـــد واکمـــن چـــې ولاړئ پـــه بـــل دار

په پورته بیتونو کې شاعر د خپل واکمن او بادشاه عدالت او ښه کردار په ګوته کوي دا یې بل هنري ارزښت دی، خو له دې ســره ســره د خپــل واکمن پر اسارت او مړینې افسوسونه کوي، لکه چې وایي:

په دې ویر د غــور وګــړي تــور نمــری ســول
پـــه دې ویـــر، رڼـــا تیـــاره ســـوه د ښـــار
ګـــوره څـــاځي رڼـــې اوښـــې لـــه دې غرونـــو
دا کړونګـــی ســـاندې لـــي پـــه شـــور هـــار.

دلته نو شاعر په مهارت او هنریت سره طبیعت ته مخه کــوي، د غــور ښایسته منظرې په دې ویرجنه واقعه کې هم نــه بــې برخــې کــوي او چاپېریال د شاعر پر طبیعت داسې جلوه او رڼا پرېباسي، لکه چې وایي:

نـــه هغـــه زرغـــا د غرونـــو د بیـــدیا ده
نـــه د زرکیـــو پـــه مســـا دي کتهـــار
نـــه غتـــول بیـــا زرغـــونېږي پـــه لاښـــونو
نـــه بـــامي بیـــا مســـېده کـــا پـــه کهســـار

همدلته ده چې شاعر د طبیعي شعر ښېګنې ښه ترا څرګندوي. د شاعر تکیه او باور پر طبیعت باندې معلومېږي، خپل نظر پر طبیعي منـــاظرو باندې څرګندوي او په درد او ویر کې هم خپل چاپېریال او محیط له یاده نه باسي.

شاعر یو ځل بیا د قصیدې بل اړخ انځوروي او له فلک سره داسې د زړه له سوزه ډکه وینا کوي، لکه چې وایي:

لاس دې مات شه ای فلکه! چې دې وکا
محـــمد غـــونـــدې زمـــری د مړینې ښکار

په لاندې بیتونو کې شاعر نور هم له ډېره قهره وینا تونـــدوي او د ویـــر اورني او توند احساسات او جذبات په خپل ادبي هنر او مهارت داســـې ښکاره کوي:

شیــــن زرگــــی فلــــکه! ولــــې لا ولاړ یــــــــې
ای د غــور غـــــرونو پــــه څــه نــــه ســــوئ غبــار
چـــې زمـــري غونــــدې واکمـــن ځـــي لــه جهانــه
چـــې څـــوک نـــــه کـړي پـر نـړۍ بانــدې قــرار

وروسته بیا شاعر خپله قصیده په بل ډول پای ته رسوي او بله نتیجــه ورنه اخلي چې یو ډول ملي غرور، پښتني ننگ، غیرت او ټولنیز شعور ورځنې ښکاري، لکه چې وايي:

ســـخ پـــر تـــا ای محمـــده! د غـــــور لمـــر وې
پــــــر نـــړۍ بــــه نـــه وي ستا د عــدل ســار
ته په ننگــه وې ولاړ پـــه ننـــگ کـــې مـــړ ســـوې
هــم پـــر ننگـــه دې پـــر ننگـــه کـــا ځـــان جـــار
که سوري دې په مرگ ویر کاندي ویرجن ســـول
هــم بــه ویـــاړي ســـتا پـــه نـــوم ســـتا پـــه ټبـــار.

دا وه د شیخ اسعد سوري د قصیدې شننه او هنري اړخونه چې په لنډیز سره مو ورته نغوته وکړه.

**یادونه: ددې مقالې په لیکلو او ترتیبولو کې چې مې له کومو کتـــابونو ګټه اخیستې، په لاندې ډول دي:**

**۱- د پښتو ادبیاتو تاریخ، د پوهاند عبدالحی حبیبي اثر.**

**۲- عرفان مجله، د پوهندوی وسیع الله احسان مقاله.**

**۳- پښتو ادب کې قصیده، د مرحوم پوهاند عبدالحی حبیبي لیکنه.**